فتاویٰ دار العلوم زکریا

افادات

حضرت مولانا مفتی رضاء الحق صاحب دامت برکاتہم

شیخ الحدیث ومفتی دار العلوم زکریا، جنوبی افریقہ

زیر اہتمام لاندی

حضرت مولانا شبیر احمد سالوجی مدظلہ

مہتمم دار العلوم زکریا، جنوبی افریقہ

تہذیب وتحقیق

محمد الیاس شیخ عفی عنہ

رفیق دار العلوم زکریا، جنوبی افریقہ

ناشر

مکتبہ رشیدیہ

ارگ بازار
کندھار
افغانستان

فتاوی دار العلوم زکریا

جلد شپږم

کتاب البیوع • کتاب الهبة

کتاب الاجارة • کتاب الشرکة • کتاب الشفعة

افادات

حضرت مولانا مفتی رضاء الحق صاحب دامت برکاتهم

استاذ الحدیث ومفتی دار العلوم زکریا، جنوبي افریقا

تر اهتمام لاندي

حضرت مولانا شبیر احمد السالوجي مدظله

مهتمم دار العلوم زکریا، لینیشیا جنوبي افریقا

تهذیب وترتیب

حضرت مفتی عبد الباری ومحمد الیاس شیخ

ناشر

مکتبه رشیدیه

ارګ بازار، کندهار-افغانستان

تلیفون: ۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم	**فتاوي دار العلوم زکریا**
تالیف	افادات شیخ الحدیث حضرت مفتي رضاء الحق صاحب
ژباړونکي	مولوي عبد الرحمن المظفر الارغستاني کندهاري
تصحیح	مولوي عبد الرحمن المظفر الارغستاني کندهاري
جلد	شپږم
کمپوز او ډیزاین	عبد الصمد
د چاپ کال	(۱۴۳۵ هـ ق، ۱۳۹۳ هـ ش)
د خپرونو لړ	(۱۴)
ناشر	مکتبه رشیدیه ارګ بازار، کندهار-افغانستان
ټلیفون شمېره	۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹، ۰۷۰۰۳۸۸۶۷۴

فهرست

شمېره	عنوان	صفحه



عن عائشة رضي الله عنها عن النبي ﷺ قال: « من أعمر أرضا ليست لأحد فهو أحق بـها»، قال عمروة قضى به عمر في خلافته. (رواه بخاري شريف).

وقال رسول الله ﷺ « من سبق إلى شيء لم يسبق إليه مسلم فهوأ حق به». (رواه ابو داؤد شريف).

اووم .... باب

د بيع الحقوق بيان

د حق شرب د خرڅولو حكم

سوال: له ولي (لښتي، نهر) څخه د كښت خړوبولو له پاره د اوبو خرڅولو څه حكم دئ عام ډول خلك دا اوبه رانيسي حال دا چې په حديث كې چې كومه خبره ده « الناس شركاء في ثلاث الـماء والكلأ والنار» دا د هغې څخه خلاف دئ؟

الجواب: باغونه او نورو ته چې كومې اوبه وركولو كيږي هغه عامةً حكومت له طرفه برابرېږي او حكومت هغه اوبه له مختلفو ځايو څخه په خپلو حوضو (reservoir) يا تـالابو او ډمو كې جمع كوي چې زموږ او ستاسو په اصطلاح كاسه هم ورتـه ويـل كيږي او د دې حوضـو قيـمت تـر لكونو تيرېږي بيا په هغه حوض كې د (chemical) په ذريعه هغه صافې سوي اوبه ذخيره كيږي لهذا د دغو بنيادي او اساسي وجوهاتو له امله چې د حكومت مصرف او زيار دئ د دې اوبو رانيول او خرڅول روا دي ځكه چې علماء صراحةً فرمايلي دي چې كوم شخص په خپل حوض كې اوبه جمع كړي او حوض مجصص يعني ګچ كړل سوى وي نو دا شخص د دې اوبـو مالـك ګرځي او هغه خرڅولاى سي.

وګورئ په فتاوى عالمګري كې راځي:

وأما بيع ماءٍ جمعه الإنسان في حوضه، ذكر شيخ الإسلام المعروف بـ خواهر زاده في شرح كتاب الشرب: أن الحوض إذا كان مجصصًا أو كان الحوض من نحاسٍ أو صفرٍ جاز البيع على كل حالٍ وكأنه جعل صاحب الحوض محرز الماء بجعله في حوضه. (الفتاوى الهندية:۳/ ۱۲۱، باب بيع الماء – وكذا فى المحيط البرهانى :٦/ ٣٦٩، فصل فيما يجوزو مالايجوز).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وكذا السقاءون يبيعون المياه المحروزة في الظروف، به جرت العادة في الأمصار وفي سائر الأعصار من غير نكيرٍ فلم يحل لأحدٍ أن يأخذ منه فيشرب من غير إذنه. (بدائع الصنائع: كتاب الشرب:٦/ ١٨٨، سعيد).

مگر کومي اوبه چي له دريابو ځخه دولو او نهرو په شکل راکش سوي وي د هغو له پاره کوم دم يا کاسه نه وي کندل سوې او د کيندني يا صاف والي انتظام يې حکومت کړی وي نو د دې اوبو پلورل هم حکومت ته روا دي همدارنگه دا د بيع الشرب له قبيلې ځخه ده، بيع پکښې روا ده خو چي مقدار (اندازه) يې معلومه وي او دا هم معلومه وي چي په دې کي څومره اوبه بهيږي او که مقدار يې معلوم نه وو مگر مفضى الى النزاع نه ده يا هم د تعامل په سبب دا بيع روا ده.

په فتاوى شامي کي راځي:

قوله لا بيع مسيل الماء هذا أيضًا يحتمل بيع رقبة المسيل وبيع حق التسييل .... وأما المسيل فمجهول لأنه لا يدري قدر ما يشغله من الماء، قال في الفتح: ومن هنا عرف أن المراد ما إذا لم يبين مقدار الطريق والمسيل أما لو بين حد ما يسيل فيه الماء أو باع أرض المسيل من نهر أو غيره من غير اعتبار حق التسييل فهو جائز بعد أن يبين حدوده. (فتاوى الشامى:٥/ ٧٩، مطلب فى بيع المسيل، سعيد – وكذا فى فتح القدير:٦/ ٤٢٩، دار الفكر).

وفی العنایة في شرح الهداية: بخلاف الشرب حيث يجوز بيعه تبعًا للأرض باتفاق الروايات، ومفردًا في روايةٍ ، وهو اختيار مشايخ بلخي رحمهم الله لأنه حظ من الماء لوجوب الضمان بالإتلاف فإن من سقى أرض نفسه بماء غيره يضمن، ولأن له حظاً من اللثمن ذكره فی کتاب الشرب .... وانما لم يجز بيع الشرب وحده في ظاهر الروية للجهالة لاباعتبار أنه ليس بمال. (شرح العناية بهامش فتح القدير:٦/ ٤٢٨، دار الفكر).

وقال المحقق ابن همام رحمة الله عليه: جوزه مشايخ بلخ.... لأن أهل بلخ تعاملوا ذلک لحاجتهم إليه، والقياس يترک بالتعامل كما يجوز السلم للضرورة والاستصناع للتعامل.

(فتح القدير:٦/ ٤٢٨، باب البيع الفاسد، دار الفكر).

په مبسوط کي راځي:

قال : وكان شيخنا الإمام يحكي عن أستاذه أنه كان يفتي بجواز بيع الشرب بدون الأرض ويقول : فيه عرف ظاهر في ديارنا بنسف ، فإنهم يبيعون الماء) فللعرف الظاهر كان يفتي بجوازه . (المبسوط للامام السرخسی:١٤/ ١٣٦، باب الشفعة الارضين والانهار، ادارة القران – وكذا فی :٢٣/ ١٧١).

په فتاوی سراجیه کي راځي:

بيع الشرب تبعاً للأرض جائز، مقصوداً كذلک في رواية، وبه أخذ مشايخ بلخ. (الفتاوی السراجية، ص ٤١٥، كتاب البيوع باب مايجوز بيعه ومالايجوز).

همدا ډول وګورئ: (شرح المجلة، لمحمد خالد الاتاسی:٢/ ١٢١ –وجديد فقهی مباحث، جلد سوم).

اشکال او جواب:

اشکال: مګر که څوک اشکال وکړي چې د تعامل په سبب خو قياس پرېښودلای سي مګر نص او حديث خو نه پرېښودل کيږي او دلته خو د ممانعت دليل نص دئ نه قياس د دې څه جواب دئ؟

الجواب: د دې د جواب وطرف ته د هدايې مصنف اشاره کړې ده چې دا بيع الماء نه ده بلکې دا بيع د خط الماء ده يعني د اوبو يوه برخه بېله او جلا کيږي او د هغه له پاره د ولې کندلو او د پايپ لګولو ضرورت پيدا کيږي بيا د هغه پايپ او کندني معاوضه اخيستل کيږي نو او به خو خود بخوده نه دي جمع سوي بلکې د هغو له پاره انتظام کيږي نو دا ده نهري انتظام د حق معاوضه اخيستل کيږي او هغه روا ده او د دې له حديث شريف سره هيڅ تعلق نه سته. والله تعالى اعلم.

د ګډول او ټايډ مارک پلورلو حکم

سوال: ايا په شريعت کې د تجارتي نوم (Goodwill) او د تجارتي علامې (Trade mark) خرڅول روا دي او که نه؟

الجواب: په اوسنۍ زمانه کې له تجارتي ترقۍ سره د تجارتي علاماتو مسئله هم را پيدا سوه يو تجار يا يوه کمپنۍ خپل مال تيار وي او پر تيار کړل سوی مال خپله علامه لګوي چې د دې مقصد دا وي چې په بازار کې وپېژندل سي چې دا د فلانۍ کمپنۍ مال دئ چې مرغوب تمام سي او شهرت پيدا کي او د عمده مال له تيارولو سره کراز کراز کمپنۍ يوه مقام ته ځان رسوي بيا چې کله په عوامو کې د دوکې خوړلو مسئله پيدا سوه نو د حکومت له طرف ټايډ مارک او د ګوډول رجسټريشن لګولو دنده شروع سوه او تجاران يې د رجسټر سوو نومونو او علامو له استعمال څخه منع کړل که چيري بل څوک دغه علامه استعمال کړي نو له تجارتي لحاظه او د کاروباري اعتبار له کبله دا يو غټ غرر او خدع ده او له خريدارانو سره دوکه ده د شريعت مطهره له قوانينو څخه يعني له قانوني معاملاتو څخه يو اهم قانون دا دئ چې يو داسې کار دې نه کول کيږي چې هغه د نورو له پاره د دوکې باعث وګرځي له هم دې سبب رجسټريشن کول عيناً د شريعت مطابق دئ، اوس نو څنګه چې دا يو محفوظ حق دئ او د هغه د شهرت په سبب له هغه سره معاشي مفادهم وابسته دي لهذا دې ته د مال حکم ورکول کيږي او فقهاء د هغه ورانيولو او خرڅولو ته اجازه ورکوي، فقهاوو د مال مختلف تعريفونه کړي دي.

وګورئ په فتاوی شامي کې راځي:

المراد بالمال ما يميل إليه الطبع ويمكن ادخاره لوقت الحاجة ، والمالية تثبت بتمول الناس كافةً أو بعضهم ، والتقوم يثبت بها وبإباحة الانتفاع به شرعًا.... وفى البحر عن الحاوى القدسي: المال اسم لغير الآدمي خلق لمصالح الآدمي، وأمكن إحرازه والتصرف فيه على وجه الاختيار. (فتاوى الشامى:٤/ ٥٠١، مطلب فى تعريف المال، سعيد) .

په مجمع الانهر کې راځي:

والمراد بالمال عين يجري فيه التنافس والابتذال. (الدر المنتقى بهامش مجمع الانهر:٢/ ٣). ب

علامه ابو بکر کاساني رحمة الله عليه فرمايي:

منها أن يكون مالاً.... وسواء كان المال عيناً أو منفعة عند عامة العلماء. (بدائع الصنائع:٧/ ٣٥٢، كتاب الوصايا، سعيد – وكذا فى كتاب الصلح:٦/ ٤٢، سعيد).

په پورتني عبارت کې ملک العلماء ابو بکر کاساني منفعت ته هم مال ويلی.

شيخ مصطفی زرقاني د مال په تعريف کې له ډېر تعميم څخه کار اخيستي. وګورئ:

والتعريف الصحيح يمكن أن يستنبط من مجموع ماذكره الفقهاء عن المال وخصائصه في مختلف المناسبات، فقد قالوا: إن المال اسم لغير الآدمي.... الخ.

(المدخل الفقهى العام:٣/ ١١٥).

شيخ مصطفی رزقاني رحمة الله عليه فرمايي، د فقهاوو ټولو اقوالو ته په کتو سره همدارنګه په مختلفو مواقعو د خصوصياتو په نظر کې نيولو سره چې د مال صحيح تعريف وکړل سي نو داويل کيږي چې مال د هر هغه شي نوم دئ چې له انسان څخه ماسوا وي يعني له انسان څخه پرته ټول شيان مال دي، مولانا خالد سيف الله وايي، د شی د مال کېدو له پاره درې اساسي عناصر دي.

١ـ دا چې هغه به شرعاً مباح وي.

٢ـ دا چې هغه شی به قابل الانتفاع وي.

۳_ عنصر دا دئ چي په عرف کي به د هغه شي رانيول او خرڅول مروج وګرځي، هغه مال دئ او دا وينا به مبالغه نه وي چي د فقه څلور سره مذاهب پر دې متفق دي. (جديد فقهى مسائل: ٤/ ١٧١).

حقوق اور ان كي خريد وفروخت نومي کتاب کي مولانا عمر عابدين قاسمي ليکي:

نو د دې پوره بحث حاصل دا دي:

١_ چي د جمهورو په نزد له مال څخه علاوه د منافعو او حقوقو هم پېر او پلورل کول کيږي او کېداى سي.

٢_ که چيري د بيع کولو له پاره يوازي د مبيع مال کيدل ضروري سي نو د فقهاوو په عباراتو کي د غور کولو څخه معلوميږي چي په خپله په مال کي حقوق او منافع هم شامل دي دا نه صرف د ائمه ثلاثه وو مسلک دئ بلکي د احنافو په نزد هم د دغه نظائر موجود دي.

وګورئ: (فتح القدير: ٦/ ٤٢٩، بيع الطريق وهبته....، دار الفكر – والدر المختار: ٤/ ١٣٢، سعيد وفتاوى الشامى: ٥/ ٨٠، وصح بيع حق المرور.... الخ، سعيد – والعناية بهامش فتح القدير: ٦/ ٤٢٩، دار الفكر – والفتاوى الهندية: ٣/ ١٣١، ٦/ ٢٩٤ – وتبيين الحقائق: ٤/ ٥٢، ملتان – ومنحة الخالق: ٥/ ٢٣٤ - ٢٣٥، كوئته).

٣_ د شي په ماليت کي عرف او رواج اساسي اهميت وجود لري.

۴_ د قابل ادخار (ذخيره کول) کېدو له پاره يو صورت نه دئ تعين کړل سوى.

په قانوني ډول د يو شي محفوظ کېدل هم د قابل ادخار له پاره کافي دي. (حقوق اور ان كى خريد وفروخت، از مولانا عمر عابدين قاسمى، ص١٤١).

حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه فرمايي:

پر خپل کار وبار د نوم ايښول د هر شخص خپل شخصي حق دئ او دا حق ورته حاصل دئ مګر که چيري يو شخص پر خپل کار وبار عطرستان يا ګلشن ادب کښېښود او له دې نوم سره د ده تجارتي مفاد وتړل سو نو دوهم شخص ته دا حق نه سته چي دغه نوم پر خپل کار وبار کښېږدي او

چي كله په يوه خاص نامه سره په اينده كي د مال حصول او تجارت مقصود وي نو د دغه نامه معاوضه اخيستل روا دي. (امداد الفتاوی:۳/ ۱۲۰).

حضرت مفتي محمد تقي وايي:

د حقوق بيع دلاندي شرطو په محلوظ ساتلو سره په كار ده چي روا سي:

۱_ هغه حق به فی الحال ثابت وي او په راتلونكی كي به متوقع نه وي.

۲_ هغه حق به د حق وخاوند ته اصالةً ثابت وي لكه قصاص او ميراث او نور يوازي د ضرر د رفع له پاره به ثابت نه وي لكه حق د شفع يا خيار د مخيري او داسي نور.

۳_ هغه حق به و دوهم كس ته د انتقال صلاحيت لري.

۴_ قابل تحديد يعنی غرر يا وجهالت ته به مستلزم نه وي.

۵_ د تاجرانو په عرف كي به د معاملاتو په سلسله كي د دې حق د مال او عين حيثيت وي.
(فقهی مقالات:۱/ ۱۹۲).

ځيني متاخرين علماء فرمايي مناسبه دا ده چي د رانيولو او خرڅولو پر ځای پر لاس اخيستنه عوض واخيستل سي او دوی دا مسئله پر نزول علی الوظائف والا مسئله قياس كړې ده.

وګورئ په الاشبا والنظائر كي راځي:

وفي الأشباه: لا يجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة كحق الشفعة، وعلى هذا لا يجوز الاعتياض عن الوظائف بالأوقاف ، وفيها في آخر بحث تعارض العرف مع اللغة: المذهب عدم اعتبار العرف الخاص، لكن أفتى كثير باعتباره، وعليه فيفتى بجواز النزول عن الوظائف بمالٍ. (الدر المختار:٤/ ٥١٨ -٥١٩، سعيد – وكذا فی الاشباه:١/ ٢٨٦).

وفی « الفقه الحنفي في ثوبه الجديد» : فالسوال الآن: هل يجوز بيع الاسم التجاري أو العلامة التجارية؟

وظاهر أن الاسم والعلامة ليس عيناً مادياً، وإنما هو عبارة عن حق استعمال هذا الاسم أو العلامة، وهذا الحق ثبت لصاحبه إصالة بحكم الأسبقية والتسجيل الحكومي، وهو حق ثابت فی الحال، وليس متوقعاً فی المستقبل، وهو حق يقبل الانتقال إلی آخر، ولكنه ليس حقاً ثابتاً في عين قائمة، فعلى ضوء القواعد التي استخلصناها من كلام الفقهاء ينبغي أن يجوز الاعتياض عنه عن طريق التنازل دون البيع. وبهذا أفتى شيخ مشايخنا العلامة أشرف على التهانوي رحمه الله وقاسه على مسألة النزول عن الوظائف بمال، وحكى فيه عبارة ابن عابدين رحمه الله التي نقلها في مسألة النزول عن الوظائف. (الفقه الحنفی فی ثوبه الجديد:٤/ ٣٧، بيع الاسم التجاری والعلامة التجارية، دمشق).

په امداد الفتاوی کي راځي:

او د کار خانې نوم هم مشابه له حق وظائف سره دئ خو چي ثابت على الاصاله وي نه د دفع ضرر له پاره او دواړه بالفعل له امور ضافيه وو څخه دي او په راتلونکي کي دواړه د مال حاصلولو ذريعه دي نو له دې څخه پر دې د عوض اخيستلو ګنجائش معلوميږي که څه هم د اخيستونکی له پاره خلاف تقوی ده مګر د ضرورت په وخت کي د دې هم اجازه کيږي. (امداد الفتاوي:٣/ ١١٩).

د هدايې د مصنف له يوه عبارت څخه هم د دې وطرف ته اشاره په لاس راځي. وګورئ:

وإذا أقعد الخياط أو الصباغ في حانوته من يطرح عليه العمل بالنصف فهو جائز لأن هذه شركة الوجوه في الحقيقة فهذا (الخياط أو الصباغ) بوجاهته يقبل (أی العمل من الناس) وهذا (أی من يطرح عليه العمل) بحذاقته يعمل فينتظم بذلك المصلحة فلا تضره الجهالة فيما يحصل .(الهداية:٣١٧، كتاب الاجارة).

یعنی څنګه چې د وجاهت، شهرت او رغبت ذریعه ده حتی چې په عوض کې یې اجرت یعنی مال اخیستل روا دي همدارنګه تجارتي علامې او تجارتي نوم هم دیوه شهرت او رغبت ذریعه ده لهذا د هغه په عوض به هم مال اخیستل روا دي.

لنډه دا چې تجارت علامت (ټایډ مارک) او تجارتي نوم (کوډ ول) چې د حکومت له طرفه څخه باقاعده رجسټر کړل سوی وي نو د هغه رانیول او خرڅول یا د هغه په عوض کې مال اخیستل دواړه روا دي.

دنور تفصیل له پاره وګورئ: (جدید فقهی مسائل: ٤/ مال کی حقیقت اور حقوق کی خرید وفروخت، از ۱۵۷ تا ۱۹۰ – وجدید فقهی مباحث: جلد۳ – وفقهی مقالات، حقوق مجرده کی خرید وفروخت: ۱/ ۱۵۹ تا ۲۲۸ – ورساله حقوق اور ان کی خرید وفروخت از مولانا عمر عابدین قاسمی – ونظام الفتاوی: ۲/ ۳۱٤ – وفتاوی حقانیه: ٦/ ٦٧). والله ﷻ اعلم.

د حق سکني یا پګړۍ شرعي حیثیت

سوال: د هدایې مصنف وبیع حق المرور ته جواز ورکړی او بیع د حق السکني یا د حق السکني عوض اخیستل د هدایې په حاشیه کې ناروا بلل سوی دي او نن سبا بیع د حق السکنی عامه سوې نو دا رواده او که نه؟

الجواب: پګړي هم د حقوق او منافع د رانیولو او خرڅولو یو ډول دئ دي رواج خو اوس له ښارو څخه کلو او بانډو ته هم سرایت کړي په ځانګړي ډول په نوو ښارو کې خو د دې بازار ډېر ګرم دئ په ځینو ځایو کې ((سلامي)) ورته ویل کیږي او په عربي ژبه کې ((جلسة)) او ډېر د خلو لفظ استعمال سوی کوم دوکان یا کور چې کله په کرایه ورکول کیږي نو د دوکان مالک له میاشتني اجرت څخه پرته څه رقم یو ځای له کرایه دار څخه اخلي د دې رقم تر اداء کېدو وروسته کرایه دار کولای سي چې تر خپله ژونده پوري په دې سرای یا کور کې واوسیږي، کرایه دار ته هم یو لوی مشکل وي چې ناڅاپه خبر ورکړل سي چې نور دي کور خالي کړه یا دوکان واپس کړه مثلاً د کرایې په دوکانو کې چا کار وبار شروع کړئ اوس چې دوکان ورخالي کړي کاروبار په هغه ساعت جام دئ بیا په ډېر

وخت سره دومره مشتریان په دوهم ځای کي نه سي برابرېدای لهذا د خالي کولو په غوښتنه کي کرایه دار له مشکلاتو یا مالي نقصان سره مخامخ کیږي.

قاضي مجاهد الاسلام قاسمي رحمه الله فرمایي:

که څیري له دغه عرف څخه تعبیر وکړو نو د دې مطلب دا دئ چي مالک د کرایې لګولو پر وخت پګړی واخیسته ګویا هغه د خپل مالکانه حق برقرار ساتلو سره د سکونت حق وپلوری او دا حق د کرایه دار داسي حق دئ چي د مکان مالک یې له هغه څخه غصب کولای نه سي او د کرایه دارو میراث خورو ته همدا حق نقل کیږي او کرایه دار دا حق پلورلای هم سي. (مجله فقهی اسلامي: ۱/ ۸۳، اسلامک فقه اکیدمی هند).

د علامه ابن نجیم مصري رحمه الله نقطه نظر هم د جواز وطرف ته دئ لکه چي فرمایي:

سلطان غوري په غور کي د جملون دوکانونه په خپله تعمیر کړل او بیا یې تجارانو ته له حق خلو سره سکونت ورکړ او پر هر دوکان یې یو مقدار معلوم مقرر کړ چي هغه سلطان خپله وصول کړي او بیا یې د وقف په کتاب یا رجستر کي ولیکلي.

وګورئ په الاشباه والنظائر کي راځي:

والحاصل أن المذهب عدم اعتبار العرف الخاص، ولكن أفتى كثير من المشايخ باعتباره؛ فأقول على اعتباره: ينبغي أن يفتى بأن ما يقع في بعض أسواق القاهرة من خلو الحوانيت لازم، ويصير الخلو في الحانوت حقا له؛ فلا يملك صاحب الحانوت إخراجه منها ولا إجارتها لغيره، ولو كانت وقفًا وقد وقع في حوانيت الجملون بالغورية أن السلطان الغوري لما بناها أسكنها للتجار بالخلو، وجعل لكل حانوتٍ قدرًا أخذه منهم، وكتب ذلك بمكتوب الوقف. (الاشباه والنظائر: ۱/ ۲۸۶-۲۹۱، تحت القاعدة: العادة محكمة، ادارة القرآن – وكذا فی فتاوی الشامی: ٤/ ۵۲۱، مطلب فی خلو الحوانیت، سعید).

وفی رد المحتار: قال البدر القرافي من المالكية: إنه لم يقع في كلام الفقهاء التعرض لهذه المسألة، وإنما فيها فتيا للعلامة ناصر الدين اللقاني المالكي بناها على العرف وخرجها عليه وهو من أهل الترجيح فيعتبر تخريجه، وإن نوزع فيه وقد انتشرت فتياه في المشارق والمغارب وتلقاها علماء عصره بالقبول.... وفی الخيرية (للشيخ الرملی الحنفي ما يفيد أن الخلاف في هذه المسألة معتبر يعني خلاف الذي أفتى به من المالكية وهو الشيخ ناصر الدين اللقانی ومن تابعه) قال: ليقع اليقين بارتفاع الخلاف بالحكم حيث استوفى شرائطه من مالكي يراه أو غيره صح ولزم وارتفع الخلاف خصوصاً فيما للناس إليه ضرورة لا سيما في المدن المشهورة كمصر ومدينة الملك (إستانبول) فإنهم يتعاطونه ولهم فيه نفع كلي ويضر بهم نقضه وإعدامه .... ألا ترى ما فعله الغوري كما مر.... وممن أفتى بلزوم الخلو الذي يكون بمقابلة دراهم بدفعها للمتولي أو المالك العلامة عبد الرحمن أفندي العمادي صاحب هدية ابن العماد، وقال فلا يملك صاحب الحانوت إخراجه ولا إجارتها لغيره ما لم يدفع له المبلغ المرقوم، فيفتى بجواز ذلك للضرورة قياساً على بيع الوفاء الذي تعارفه المتأخرون احتيالاً على الربا. (فتاوی الشامی:٤/ ٥٢١، ١٢٣،١٢٢، ملخطاً، سعید).

ځو شبهې او د هغو جوابونه:

۱_ ځينو فقهاوو ناروا بللې او د ناروا والي سبب يې دا بيان کړی چې دا مال نه دئ او د غير مال يعنی د حقوق عوض اخيستل روا نه دي همدارنګه په دې کي د منفعت حصول هم ناممکن دئ لهذا دا ناروا دئ مګر اصلي خبره دا ده چې په مال کېدو او نه مال کېدو کي د عرف او تعامل لويه ونډه وجود لري د عرف پر بناء د شی تقويم وي او منتفع به ګرځي چې د دې بيلګي په فقهه کي ډېر پيدا کېدای سي لهذا زموږ په زمانه کي حقوقو ته ديوه قيمتي سرمايې حيثيت ثابت دئ او د هغه په عوض کي

مال اخيستل عام رواج دئ بناء پر دې چې مال متقوم سي د هغه په مقابل کې عوض اخيستل يا رانيول او خرڅول يې روا ګرځي.

په شرح مجله کې ليکلي دي:

إن البيع مبادلة المال بالمال، وليست الحقوق المجردة مالاً متقوماً حتى يصح بيعها، وإنما هو نزول عن ذلک الحق الثابت له للغير بمال معلوم، أفتى بعض المتاخرين من العلماء بجوازه، فمنهم من استند في جوازه إلى أنه قد تعورف ذلک في بعض البلدان، والعرف الخاص قد اعتبره كثير من العلماء، ومنهم من استند فی ذلک إلى إلحاقه بنظائره المنصوص على جواز أخذ البدل فيها كحق القصاص وحق النكاح وحق الرق فإنه قد جاز أخذ البدل فيها مع أنهما حقوق فألحق بها النزول عن الوظائف. (شرح المجلة:۲/ ۱۲۰، تتمة).

وفي العرف والعادة فی رأي الفقهاء: والذي يشهد له إطلاق أدلة الشرع أن المنافع قسم من المال، ثم ذكر بعد أسطر:

والحاصل أن كل مالا ينتفع به فليس بمال، أما مايجري فيه البذل والمنع وينتفع به ولو بحسب المآل فإنه يصح بيعه متى قومه الشرع وأباح الانتفاع به، ولهذا جوزوا بيع النحل ودود القز والعلق مع أنها من الهوام للانتفاع بها.... ومن هذا يتبين أن مقايس المالية تعارف الناس أن هذا الشيء مرغوب فيه ومنتفع به أو عدم تعارفهم، ذلک ولاريب أن هذا أمر يتجدد على مر العصور واختلاف الأمكنة، فكثير من الأشياء لم تكن له فی القديم فائدة فكان محقراً بين الناس.... ثم تموله الناس وقابلوه بالأثمان، وكثيراً مانرى الشيء في مكان تافهاً لاينتفع به ولاقيمة له وفي مكان آخر من العزة والنفاسة بمقدار، ثم أن العرف العام والخاص

في تعريف المالية سواء ولهذا قال البخاري في كشف الأسرار: وتثبت المالية بتمول الناس كافة أو بتمويله البعض، وهذا لأن العرف المثبت للمالية من العرف الذي يرجع إليه في تطبيق الأحكام الكلية. (العرف والعادة، للاستاذ احمد ابو سنة، ص ۱۸۰-۱۸۱).

۲_ شفيع د شفع له حق څخه د لاس پر سر کېدو عوض نه سي اخيستی او داسي د پګړي حکم کول په کار دي.

الجواب: د پګړي مسئله د شفع پر حق قياس کول صحيح نه دي له دې سببه چي حقوق پر دوه ډوله دي ځيني هغه دي چي د حق وخاوند ته له نقصان او ضرر څخه د خلاصېدو په خاطر ورکول کيږي چي د شفعي حق له دې جملي څخه دئ د داسي حقوقو په اړه د شريعت مطهره حکم دا دئ چي له دوی څخه د لاس پر سر کېدو په صورت کي عوض اخيستل روا نه دي او ځيني حقوق هغه دي چي اصحاب الحقوق ته دبر او وصيلي په ډول ورکول کيږي د دې عوض اخيستل کېدای سي لکه د نکاح د حق عوض بدل خلع ده او بدل خلو (پګړي) هم له دې جملي څخه ده.

۳_ ځيني حضراتو داويلي چي د بدل خلو حقيقت ته په کتو سره رشوت دئ چي حرمت يې ظاهره خبره ده.

الجواب: که غوره وکړل سي نو د هغه رشوت بلل محال معلوميږي ولي رشوت داسي رقم دئ چي د کوم حق په مقابل کي نه وي او دلته د پګړی رقم د خلو په عوض کي اخيستل کيږي لهذا دا د ناحقه پيسو د اخيستلو له جملي څخه نه دئ.

علامه شامي رحمه الله تر لوی تفصيل وروسته فرمايي.

وهذا كلام وجيه لا يخفى على نبيه وبه اندفع ما ذكره بعض محشي الأشباه من أن المال الذي يأخذه النازل عن الوظيفة رشوة، وهي حرام بالنص، والعرف لا يعارض النص وجه الدفع ما علمت من أنه صلح عن حق كما في نظائره والرشوة لا تكون بحق. (فتاوى الشامي: ٤/ ٥٢٠، سعيد).

د دې سلسلې یو نظیر د سیدنا حضرت حسین رضي الله عنه عمل هم دئ چې هغه خپل روا حق چې خلافت وو د حضرت معاویه رضي الله عنه په حق کې د لاس اخیستلو په عوض د خصوصي وظیفې په شکل واخیست.

وګورئ علامه شامي رحمه الله فرمایي:

واستدل بعضهم للجواز بنزول سیدنا الحسن ابن سیدنا علي رضي الله تعالی عنهما عن الخلافة لمعاویة رضي الله عنه علی عوض، وهو ظاهر أیضاً وهذااولی من عدم الجواز. (فتاوی الشامی:٤/ ٥٢٠، سعید).

د پورتني عبارت پر بناء دې ته رشوت ویل صحیح خبره نه ده.

(فتاوی الشامی:٤/ ٥١٩-٥٢٠، سعید - وحقوق اور ان کی خرید وفروخت:ص ١٩٤-٢٠٣).

۴_ ځینې حضرات دا اشکال کوي چې یو ځایي رقم حاصل کړي او دا رقم په عوض د سکونت او انتفاع د حق کې دئ نو میاشتنی کرایه د څه شي اخلي یعنی د کوم شی په عوض کې میاشتنی رقم وصول کوي د د دې اشکال څه جواب دئ؟

الجواب: د دوکان مالک د مالک په حیث سره خپل دوکان هر وخت چې وغواړي اخیستی سي مګر دیوه ځای یا هغه رقم چې په پګړی سره نومول دي د هغه د اخیستو په سبب د مالک د واپس اخیستلو حق دائماً یا موقتاً ختم کړل سو بیا څرنګه چې مځکه او یا دوکان د هغه په ملکیت کې دئ نو په همدې سبب خپل مالک د نفع عوض کرایه اخلي لهذا په دې کې د کوم اشکال خبره نه سته.

په جدید فقهي مسائل نومي کتاب کې راځي:

که یو دوکان په کرایه ورکړل سي او د دوکان مالک د مروجه پګړی په نامه پر اصل میاشتني رقم علاوه زیات رقم له کرایه دار څخه وصول کړي داسي به ګڼو چې د دوکان مالک د مالک په حیث د خپل دوکان له کرایه دار څخه د واپس کېدو د حق څخه د لاس اخیستو عوض وصول کړ. (په ساده الفاظو یې مطلب دا کېږي چې مالک ته خو د واپس کېدو حق ثابت وو مګر هغه حق د لږ یا د هر وخت له پاره وپلورئ) دا رقم و ده ته د دې حق پر بیناد روا دي.

په راتلونکي کي که مالک له کرایه دار څخه دوکان واپس اخلي نو کرایه دار د دې خبري حق درلودونکی دئ چي دی به د دوکان د خالي کېدو په عوض کي له مالک څخه هغه رقم په رضایت د طرفینو سره وصول کړي، په دې صورت کي به کرایه دار د دوهم کرایه دار په حق کي د دوی په خپل منځ کي د فیصله سوو پیسو په عوض کي د خپل هغه حق څخه چي ده د خپل اصلي مالک څخه د عوض په مقابل کي تر لاسه کړي وو له دغه حق څخه به دی تېر سي. (جدید فقهی مسائل:٤/ ١٥٣).

والله تعالی اعلم.

د حق خیار د پلورلو حکم

سوال: د حق خیار رانیول او خرڅول روا دي او که نه، همدارنګه د متقرر او غیر متقرر حق په منځ کي څه فرق دئ؟

الجواب: د حق خیار رانیول او خرڅول روا نه دي.

قال في الهداية: إن لخيار ليس إلا مشيئة وإرادة لايتصور انتقاله. (الهداية:٣/ ٣٢).

قوله لا يجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة على الملك قال في البدائع الحقوق المفردة لا يحتمل التمليك ولا يجوز الصلح عنها.... قوله كحق الشفعة.... ولو صالح المخيرة بمال لتختاره بطل ولاشيء لها. (رد المحتار:٤/ ٥١٨، سعيد).

فقهاوو د حق متقرر او حق غیر متقرر په منځ کي فرق کړی دئ د حق متقرر عوض اخیستل کېدای سي او د حق غیر متقرر عوض نه سي اخیستل کېدای کومي ښځي ته چي پر دې د طلاق واقع کېدلو اختیار حاصل سو که چیري دا د هغه عوض تر لاسه کي نو دا ښځه پر پخواني حالت ښځه پاتیږي او دې ته حق غیر متقرر ویل کیږي چي تر عوض اخیستلو وروسته هم هغه مخکني حالت نه بدلیږي، د قصاص د حق عوض اخیستلای سي ځکه چي قصاص حق متقرر دئ تر عوض وړاندي قاتل مباح الدم وو او تر عوض وروسته محفوظ الدم وګرځېدئ همدارنګه د حق متقرر یو مطلب حق المالک فی ملکه دئ او د خیار حق په خپل ملکیت کي نه وي.

په هدایه کي راځي:

لأن حق الشفعة ليس بحق متقرر في المحل بل هو مجرد حق التملک فلا يصح الاعتياض عنه. (الهداية: ٤/ ٤٠٦، باب ما تبطل به الشفعة).

د هدايې په حاشيه کې اعظمي صاحب ليکلي دي:

ليس بحق متقرر کحق الاصطياد فی الصيد والحق المتقرر کالملک فی المملوک. (حاشية الهداية: ٤/ ٤٠٦، رقم الحاشية: ٦).

اکمل الدين بابرتي رحمه الله په خپل کتاب عنايه کې ليکي:

والفاصل بين الحق المتقرر وغيره أن ما يتغير بالصلح عما كان قبله فهو متقرر وغيره غير متقررٍ، واعتبر ذلك في الشفعة والقصاص، فإن نفس القاتل كانت مباحةً في حق من له القصاص، وبالصلح حصل له العصمة في دمه فكان حقا متقررًا، فأما في الشفعة فإن المشتري يملك الدار قبل الصلح وبعده على وجهٍ واحدٍ فلم يكن حقا متقررًا. (شرح العناية بهامش فتح القدير: ٩/ ٤١٦، مايبطل به الشفعة، دار الفكر).

په شرح مجله کې راځي:

عدم جواز الاعتياض عن الحقوق المجردة ليس على إطلاقه، بل فيه التفصيل: وهو أن ذلک الحق المجرد إن کان الشرع جعله لصاحبه لأجل رفع الضرر عنه، کحق الشفعة، وحق القسم للزوجة، وحق الخيار للمخيرة، فالاعتياض عنه بمال لايجوز، لأن حق الشفعة للشفيع، وحق القسم للزوجة، وكذا حق الخيار في النكاح للمخيرة، إنما ثبت لدفع الضرر عن الشفيع والمرأة، وما ثبت لذلک لايصح الصلح عنه، لأن صاحب الحق لما رضي علم أنه لايتضرر بذلک، فلا يستحق شيئاً وإن کان ذلک الحق قد ثبت لصاحبه أصالة لاعلى وجه رفع الضرر کالو ظيفة في وقف من إمامة وخطابة وأذان وفراشة وبوابة، فإن صاحبها قد ثبت له

هذا الحق بتقرير القاضي على وجه الأصالة، لا لأجل رفع ضرر عن صاحبه، فينبغي أن يصح الاعتياض عن تلک الوظيفة بمال يأخذه الفارغ، وهو صاحب الوظيفة، من المفروغ له، لأنه صلح عن حق إلحاقاً بالاعتياض عن القصاص بمال، وبالاعتياض عن النكاح بمال، وما أشبه ذلک. (شرح المجلة للاتاسی:۲/ ۱۱۹-۱۲۰).

همدا ډول وګورئ: (رد المحتار:٤/ ٥١٨ - ٥٢٠، مطلب لايجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة، سعيد – وحاشية الطحطاوی على الدر المختار:۳/ ۹، کوئته – وعطر هدايه:ص ۳۳۲ – فقهی مقالات:۱/ ۱۶۳ – وجديد فقهی مسائل:٤/ ۱۷٦ – وجديد فقهی مباحث، جلد سوم – وحقوق اور ان کی خريد وفروخت:ص ۱٤۷). والله ﷻ اعلم.

د تصنيف پر حق د معاوضې اخيستلو حکم

سوال: د تصنيف پر حق معاوضه اخيستل روا دي او که نه؟ په عام ډول د دغه درې ډولونه دي:

۱_ ناشر يا کتاب پلورنکی پر يوه موضوع کار کول غواړي او د دغه له پاره د علماوو خدمتونه برابروي همدارنګه د دغو د معاوضې پرېکړه کوي کوم چي د دې تصنيف، تالف، ترتيب، يا کوم بل علمي خدمت په بدله کي ورکول کيږي، دا طريقه ډېره د نړۍ والو مشهورو مطابعو په منځ کي مروج ده.

۲_ مصنف د کتاب د اشاعت او خپرېدو حق وناشر ته ورکوي البته د دوی په منځ کي دا پرېکړه کيږي چي پر هر نوي طباعت به ناشر يو معين رقم ومصنف ته ورکوي او دې ته (Royaty) رائلټي ويل کيږي.

۳_ مصنف د همېشه له پاره د کتاب د اشاعت حق وناشر ته د يوه لوی رقم په عوض کي ورکوي. په دې صورت کي د طباعت او اشاعت ټول حقوق له مصنف څخه وناشر ته نقليږي، البته په دې صورتو کي ناشر اخلاقاً او قانوناً د دې خبري پابند دئ چي په اصل کتاب کي هيڅ ډول تبديلي، زيادت او کمښت نه کوي په دې صورتو کي شرعاً کوم صورت روا دئ او کوم ناروا دئ؟

الجواب: د تصنيف پر حق معاوضه اخيستل روا ده په سوال کي له ذکر سوو صورتو څخه د لومړی صورت حکم دا دئ چي د هغه په جواز کي هيڅ خبره نه سته او د دې حکم هغه حکم دئ چي هغه د امامت، درس وتدرس کولو په مقابل کي معاوضه ده همدارنګه هغه تصنيف د ناشر يا کتاب پلورنکي ملکيت وګرځېدئ ځکه هغه يې اجرت اداء کړی البته د مصنف د کار او عمل اجرت اداء کړل سو.

او په _۲_۳_ صورتو کي مخکي د علماوو اختلاف او پخوا اکثرو علماوو هغه ته ناروا ويلي مګر په ننۍ زمانه کي د اکثرو علماوو رجحان او ميلان د جواز وطرف ته دئ او په عام ډول تصنيف وتاليف حق د لاندي وجوهاتو پر اساس دِ مصنف حق منل کيږي:

۱_ په اوسنۍ زمانه کي د عرف او رواج له مخي د تصنيف او تاليف له حق سره لکه مال داسي معامله کيږي په بازار کي د هغه رانيول او خرڅول په لويه پيمانه سره رائج وي او د شی په مال شمېرلو کي د خلکو تعامل ډېر دخل لري او د دې تفصيل مخکي تېر سوی دئ.

۲_ فقهاوو، قرآن کريم، احاديثو، فقه پر تعليم د اجره اخيستلو جواز ورکړي او د هغه چي يې کوم علتونه بيان کړي هغه په دې مسئله کي هم موجود دي او د مصلحت پر اساس مثلاً که داسي ونه کړل سي د تعليم او تعلم سلسله بې اغېزه او متاثره ګرځي همدارنګه له ډېر محنت سره سره که مصنف ته حق ورنه کول سي نو د هغه حوصله ختميږي چي استعداد به يې موقوف پاته سي ځکه چي مصنيف په دې کار کي خپل قېمتي وخت، دماغ او فکري قوت صرف کوي، همدارنګه د دين حفاظت او اشاعت او د تحقيق کار هم متاثر کيږي نو دا داسي مصلحتونه دي چي د نظر څخه غور ځول کېدای نه سي.

۳_ دا حق د وړاندي والي دئ کوم چي د شريعت د نظره معتبر دئ د ابو داؤد شريف روايت دئ:

من سبق إلى مالم يسبقه إليه مسلم فهوله». (رواه البيهقى فى سننه الكبرى:٦/ ١٤٢، كتاب احياء الموات – وابو داؤد:٢/ ٤٣٧، باب فى اقطاع الارضين).

۴_ د يو شي د ماليت مقرر کولو له پاره د هغه قابل احراز يعنی د حفاظت لايق کېدل ضروري او د يادو حقوقو احراز د هغه د قانوني رجسټر کېدو په سبب کيږي.

۵_ د مال کېدو له پاره یو دا شرط هم دئ چي هغه به قابل انتفاع وي او له دې حق څخه به په پراخه پیمانه گټه پورته کېږي.

۶_ د حقوقو د قانوني کېدو له پاره د محنت او مشقت سره سره لویه سرمایه مصرفول ضروري دي لهذا هغه د کسب ذریعه گرځي.

د نور تفصیل له پاره وگورئ: (حقوق اور ان کی خرید و فروخت: ص ۲۰۸-۲۱۵ – وجدید فقهي مسائل: ٤/ ۱۷۸-۱۸٤ – فقهی مقالات: ۱/ ۲۲۳-۲۲۷ – وعطر هدایه: ص ۳٤۳-۳٤٤ – وجدید فقهی مباحث، جلد سوم). والله تعالی اعلم.

پر هر نوي طاعت د عوض اخیستلو حکم

سوال: یو مصنیف خپل کتاب وطابع ته د چاپ کولو له پاره ورکئ او له دې سره یې شرط ولگاوه چي تر طباعت وروسته به ما ته (۲۵۰) نسخې راکوې او نوري نسخي ستا دي په کوم قیمت چي یې خرخوي ستا خوښه ده ایا دا معامله روا ده او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي که چیري مؤلف د طباعت حق د همېشه له پاره وطابع ته ورکئ نو دا (۲۵۰) نسخې دا د هغه مسودي یا کتاب قیمت وگرځېدئ او د طباعت حق د همېشه له پاره طابع ته حاصل سو او که یې چیري د یوه ځل له پاره یې ورېل بیا دا (۲۵۰) نسخې د یو وار د طباعت د حق عوض گرځي او د طباعت حق له هغو حقوق څخه دئ چي عوض یې اخیستل کېدای سي چي تفصیل یې وړاندي تېر سو او که چیري مؤلف د یو ځل یا همېشه ذکر سوی نه وي کړی بیا وعرف ته اعتبار ورکول کیږي او زما د معلوماتو له مخي صرف د یوه ځل د طباعت حق عوض ورکول کیږي، البته په دې صورت کي چي د یو وار یا همېشه ذکر سوی نه وي لهذا مؤلف ته به د بل وار له پاره دوهم ځل اجازه وي چي دوباره یې چاپ کړي او که یې په مخکني مطبعه دوباره چاپوي نو بیا دي نوې معامله وکړي او د دې دوهمي معاملې مطابق نسخې دي ورڅخه واخلي. والله تعالی اعلم.

د تجارتي لائسنس او پنشن خرڅولو حکم

سوال: د تجارتي لائسنس او پېنشن او نورو پېر او پلور روا دي او که نه؟

الجواب: د کار وباري سهولت او اسانۍ د رامنځ ته کېدو له پاره تجار یا کمپنۍ له حکومت څخه لائسنس تر لاسه کوي د دې لائسنس په سبب د مال په صادر ولو (امپورټ) او وارد ولو (ایکسپورټ) کي له دولتي مشکلاتو څخه حفاظت کوي مګر لائسنس کوم مادي شی نه دئ بلکي له بله ښاره یا مارکېټه څخه د سامان منتقل کولو یا له بله هیواده د سامان منتقل کولو د حق نوم دئ او دا داسي حق دئ چي په تر لاسه کولو کي یې کافي کوښښ او مالي لګښت کولو ته ضرورت هم سته لهذا دلاندي وجوهاتو په اساس د لائسنس رانیول او خرڅول روا دي.

۱ _ د قانوني لوري به د هغه رانیول او خرڅول روا وي که چیري قانوناً د هغه پېر او پلور روا نه وونو بیا روا نه دئ مثلاً د کوم ځانګړي شخص یا د کمپنۍ نوم وي او قانون د هغه د منتقل کولو اجازه نه ورکوي نو د دې لائسنس بیع روا نه ده.

۱ _ په مارکېټ کي به د هغه خرڅول رواج کیږي او د تجارانو په عرف کي به له تجارتي لائسنس سره د مال په ډول سلوک کیږي لهذا دا د مال په حکم کي دئ.

۳ _ د شریعت له نظره به دا قابل انتفاع وي له هغه څخه به ګټه پورته کول منع نه وي.

۴ _ دا حق د حق وخاوند ته اصالة حاصل دئ د ضرر د دفع له پاره نه دئ او فی الحال موجود هم دئ.

۵ _ قابل اذخار (ذخیره کولو لائق دئ) ځکه چي تجارتي لائسنس تحریر (لیکل سوی) سرټیفکټ (سند) یا د ثبت نامې په ذریعه په قانوني ډول محفوظ کیږي.

د نور تفصیل له پاره وګورئ: (فقہی مقالات: ۱/ ۲۲۲ – وجدید فقہی مسائل: ٤/ ۱۸۸ – وحقوق اور ان کی خرید وفروخت، ص ۱۹۳ – وایضاح النوادر: ۱/ ٤۳ – ونئی مسائل اور علمائی هند کی فیصلی، ص: ۱۰۵).

د پنشن د خرڅولو حکم

پنشن هغه تنخوا ته ويل كيږي چې فوجي افسر تر له تقاعد كېدو وروسته مياشتانه وظيفه يا تنخوا وركول كيږي. (ژباړن).

۲_ د پينشن د بيع دوه صورتونه كېداى سي:

۱_ پر حكومت باندې پلورل او دا حقيقتاً بيع نه ده بلكي د تبرع مؤجل معجل گرځول دي په شرعي لحاظ د حكومت په خوښه روا ده.

۲_ له حكومت څخه پرته پر بل چا پلور صحيح نه دي، اول خو حكومت په خپله راضي نه وي دوهم په دې كي څو خرابۍ رامنځ ته كيږي مثلا د يوه هيواد سكه (كرنسي) د همدغه هيواد په كرنسۍ سره په پور وركول روا نه ده او داسي نور.

په احسن الفتاوى كي راځي:

پينشن يو ډول انعام او ډالۍ ده تر كومه وخته چې د ملازم په قبضه كي راغلې نه وي تر هغه وخته د هغه مالك كېداى نه سي، لهذا بيع هم روا كېداى نه سي، البته په خپله له حكومت سره د هغه بيع كول په حقيقت كي بيع نه ده صرف په نامه او صورت كي بيع ده اصل حقيقت د دې دا دئ چې حكومت د كوم لوى مقدار انعام چې هغه په قسط واره ډول وي وعده كړې وه او د هغه انعام يا ډالۍ يو كم مقدار په يو ځايي ډول نقدي وركوي لهذا د حكومت سره د دې معامله كول روا ده. (حسن الفتاوى:٦/ ٥٢١).

په امداد الفتاوى كي راځي:

پر حكومت يې د خرڅولو په صورت كي فرمايي دا صورتاً بيع دئ كه نه نور د حكومت له طرفه په حقيقت كي مستقله تبرع ده ځكه نو د حكومت په خوښه سره روا ده. (امداد الفتاوى:٤/ ٥٨٠، مسائل شتى).

(آپ كى مسائل اور ان كا حل:٦/ ٥٣ – واسلام اور جديد معاشى مسائل:٤/ ١٦٨ – وفتاوى حقانية:٦/ ٣٩). والله ﷻ اعلم.

د حق متقره او غير متقرره په اړه د علماوو نظر

سوال: د فقهاوو په نظر د حقوقو څه تفصيل دئ همدارنګه د حق متقرر او حق غير متقرر په منځ کي څه فرق دئ او د کومو حقوقو عوض اخيستل روا دي او د کومو حقوقو عوض اخيستل روا نه دي مثلاً د پګړي او نور څه حکم دئ؟

الجواب: په دې مسئله کي دعلماوو ډېر بحثونه او اختلافات دي مګر نن سبا د حقوقو عوض اخيستل په عوامو کي عام رواج ګرځېدلی دي.

فقهاوو د حقوقو دوه ډولونه بيان کړي دي:

۱_ حق متقرره.

۲_ حقوق مجرده.

۱_ حق متقرره وهغه حق ته وايي چي تر صلح کولو وروسته هغه حق بدل سي او د ده په تغير سره د ده حکم هم بدل سي.

۲_ حق مجرد: دا وهغه حق ته ويل کيږي چي تر صلح کولو وروسته پر خپل حال الآن کما کان وي او هيڅ ډول تبدلي نه وي پکښي راغلي.

د حق متقرر مثال قصاص دئ چي تر صلح کولو وړاندي قاتل مباح الدم وو او تر صلح کولو وروسته هغه محفوظ الدم وګرځېدئ د داسي حقوقو عوض اخيستل يا په هغه کي صلح کول روا ده د پګړي حق همدارنګه معلوميږي چي تر عوض اخيستلو وړاندي و مالک ته حق د سکونت حاصل وو اوس تر عوض اخيستلو او صلح کولو وروسته مشتري ته دا حق حاصل سو ګواکي مشتري ته همېشه منفعت حاصل دئ.

د حق مجرد مثال د شفعي حق او د خاوند و ښځي ته دا وينا. « اختار ينى بألف » يعني لومړی وښځي ته د طلاق اختيار تفوض کړي او بيا ورته ووايي چي په زر (۱۰۰۰) روپۍ ما خوښ کړه دواړه حقوق مجرده دي او له دوی سره هيڅ منفعت تړلی نه دئ.

د شفعي حق حق مجرد په دې سبب دئ چي تر صلح وړاندي ځمکه د مشتري حق وو او تر صلح وروسته هم ځمکه د مشتري په ملکيت کي پاتيږي، همدرانګه مخيره تر صلح وړاندي د خاوند

ښځه وه او تر صلح وروسته هم د هغه ښځه ده په دې صورت کې مخکنی حالت بدل سوی نه دئ لهذا دا حق مجرد دئ او د دې عوض اخیستل روا نه دي.

د هدایې په ابواب الشفعه کي ذکر سوي دي:

وإن صالح من شفعته على عوض بطلت شفعته ورد العوض لأن حق الشفعة ليس بحق متقرر في المحل، بل هو مجرد حق التملك، فلا يصح الاعتياض عنه،.... بخلاف القصاص لأنه حق متقرر. (الهداية:٤/ ٤٠٦).

په العنايه شرح الهدیه کي راځي:

والفاصل بين المتقرر وغيره أن ما يتغير بالصلح عما كان قبله فهو متقرر، وغيره غير متقررٍ ، واعتبر ذلك في الشفعة والقصاص ، فإن نفس القاتل كانت مباحةً في حق من له القصاص ، وبالصلح حصل له العصمة في دمه، فكان حقا متقررًا ، فأما في الشفعة فإن المشتري يملك الدار قبل الصلح وبعده على وجهٍ واحدٍ فلم يكن حقا متقررًا . (شرح العناية بهامش تكملة فتح القدير:٩/ ٤١٦، مايبطل به الشفعة، ط: دار الفكر).

تر دې اصل لاندي ډېر نظائر او مثالونه ذکر کېدای سي چي په هغو کي هغه حقوق دي چي د هغو عوض اخیستل یا صلح کول روا دي او هغه حق متقرر دئ مثلاً نزول عن الوظائف فقهاوو قابل عوض مقرر کړی یعنی چي یو شخص خپله وظیفه او ملازمت دوهم کس ته ورپرېږدي او هغه پر مقرر کړي او د دې عوض واخلي دا هم حق متقرر دئ ځکه چي تر صلح وړاندي یو شخص پر دې رتبه فائز وو او تر صلح وروسته دوهم شخص و دې رتبې ته ورسېدئ.

په درمختار کي راځي:

وعليه فيفتى بجواز النزول عن الوظائف بمالٍ. وفي الشامي: قال العلامة العيني في فتاواه ليس للنزول شيء يعتمد عليه، ولكن العلماء والحكام مشوا ذلك للضرورة، واشترطوا

إمضاء الناظر، لئلا يقع فيه نزاع، ملخصاً من حاشية الأشباه للسيد أبي السعود. (الدر المختار مع فتاوى الشامي: ٤/ ٥١٩، سعيد).

وللاستزادة انظر: (فتاوى الشامي: ٤/ ٥٢٤، سعيد – والاشباه والنظائر مع الحموى: ١/ ٢٩١ – ومنحة الخالق على البحر الرائق: ٥/ ٢٣٤-٢٣٥، كوئته).

همدارنگه مځکي ته داوبو ورکولو حق چي هغه ته حق الشرب وايي د دې عوض اخيستل هم د ځينو فقهاوو په نزد روا دي ځکه چي مځکي داوبو ورکولو حق حاصل نه وو ځکه چي دا شرب خاص دئ او اوس وده ته د خپل مځکي داوبولو حق حاصل سو.

په هدايه کي راځي:

بخلاف الشرب حيث يجوز بيعه تبعاً باتفاق الروايات، ومنفرداً في رواية وهو اختيار مشايخ بلخ، لأنه حظ من الماء. (الهداية: ٣/ ٥٦).

مبسوط کي علامه السرخسي ليکلي دي:

وكان شيخنا الإمام يحكي عن أستاذه أنه كان يفتي بجواز بيع الشرب بدون الأرض، ويقول: فيه عرف ظاهر في ديارنا بنسف، فإنهم يبيعون الماء، فللعرف الظاهر كان يفتي بجوازه (المبسوط: ١٤/ ١٣٥، دار الفكر).

پر دې علامه سرخسي رحمه الله ليکلي دي چي د دې عرف اعتبار نه کيږي ځکه چي دا غرر له نص څخه خلاف دئ مګر وروسته ده خپله په کتاب المزارعة کي په ډېر تفصيل دا مسئله بيان کړې ده او د بيع شرب د عرف کېدو په سبب يې د جواز ورکونکو مشائخو اقوال ذکر کړي دي او د هغو پر قول يې هيڅ تنقيد نه دئ کړی لکه چي ليکي يې دي.

وبعض المتأخرين من مشايخنا رحمهم الله أفتى أن يبيع الشرب وإن لم يكن معه أرض للعادة الظاهرة فيه في بعض البلدان، وهذه عادة معروفة بنسف، قالوا: إنما جوز الاستصناع

للتعامل، وإن كان القياس يأباه، فكذلك بيع الشرب بدون الأرض. (المبسوط للامام السرخسي:۲۳/ ۱۷۱).

وفى الفتاوى السراجية: بيع الشرب تبعاً للأرض جائز، ومقصوداً كذلک في رواية وبه أخذ مشايخ بلخ. (الفتاوى السراجية: ۳۷۲، كتاب البيوع، مايجوز بيعه ومالايجوز).

۞ همدارنګه د حق مرور عوض اخیستلو ته يې جواز ورکړي ځکه چي دا هم د حق متقرر غوندي دئ ولي مخکي د مرور اجازه نه وه اوس پيدا سو.

په هدايه کي راځي:

أما حق المرور يتعلق بعين تبقى، وهو الأرض فأشبه الأعيان.

او د حق المرور د بيع د جواز روايت له ابن سماعة څخه روايت سوی دئ.

قال في العناية: وبيع حق المرور، وهو حق التطرق دون رقبة الأرض جائز في رواية ابن سماعة. (العناية فى شرح الهداية بهامش فتح القدير:٦/ ٤٢٩، دار الفكر - وكذا فى الفتاوى الهندية:۳/ ۱۳۱ - و٦/ ۲۹٤ - وتبيين الحقائق:٤/ ٥٢، ملتان).

په درالمختارکي راځي:

وصح بيع حق المرور تبعًا للأرض بلا خلافٍ، و مقصودًا وحده في روايةٍ، وبه أخذ عامة المشايخ. وفى الشامية: قوله وبه أخذ عامة المشايخ، قال السائحاني: وهو الصحيح، وعليه الفتوى، مضمرات انتهى. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:٥/ ۸۰، سعيد).

۞ همدارنګه په خلعه کي ښځه د خپلي خلاصون له پاره مال ورکوي دا مال هم د کوم عين په مقابل کي نه دئ بلکي د خپل ځان د خلاصولو له پاره دا مال اداء کوي، په نکاح کي هم مال د زوجيت د حق د صول له پاره دئ او په شرح مجله کي د حق علو بلکي د نورو حقوق مجرده وو عوض اخیستل پر سبيله د صلح روا بلل سوی دئ.

قال الأتاسی في شرح المجلة : وعلى ما ذكره من جواز الاعتياض عن الحقوق المجردة بمال، ينبغي أن يجوز الاعتياض عن حق التعلى، وعن حق الشرب، وعن حق المسيل بمال، لأن هذه الحقوق لم تثبت لأصحابها لأجل دفع الضررعنهم، بل تثبت لهم ابتداءً بحق شرعي، فصاحب العلو إذا انهدم علوه، قالوا : إن له حق إعادته كما كان جبراً عن صاحب السفل، فإذا نزل عنه لغيره بمال معلم ينبغي أن يجوز ذلک على وجه الفراغ والصلح، لا على وجه البيع، كما جاز النزول عن الوظائف ونحوها لاسيما إذا كان صاحب حق العلو فقيراً قد عجز عن إعادة علوه، فلو لم يجز ذلک له على الوجه الذي ذكرناه يتضرر فليتأمل، وليحرر، والله سبحانه أعلم. (شرح المجلة للاتاسی:۲/ ۱۲۱).

حاصل دا سو چې د حق متقرر عوض اخيستل په هدايه او د هدايې په شرح کې ذکر سوی دي او حق مجرد لکه د تعلی عوض اخيستل که رواج وو نو دې ته هم شرح مجله جواز ورکړی.

په فتاوی حقانيه کې راځي:

د تصنيف حق اگر چې له حقوق مجرده وو سره تعلق لري مگر د حقوق مجرده ووهم دوه ډولونه دي:

۱ـ يو هغه دئ چې له هغو سره مالي منفعت تړلی وي لکه د وظيفې او نورو.

۲ـ هغه حق دئ چې مال منفعت ورسره تړلی نه وي لکه د شفعي حق او داسې نور په شريعت اسلاميه کې د مالي منفعت لرونکو حقوقو څخه د تېرېدو په عوض کې مال اخيستل روا دئ د تصنيف د حق سره په اوسني زمانه کې څنګه چې مالي منفعت تړلی دئ لهذا بيع او شراء يې روا ده. په فقهی اصطلاح کې ودې ته حق اسبقيت ويل کيږي. (فتاوی حقانيه:٦/ ۱۱۱).

او دا مضمون په نظام الفتاوی(۲/ ۳۱٦). کې راغلی.

موږ وايو چي له دوكان او مكان سره هم مالي منفعت تړلی دئ لهذا د هغه عوض اخيستل هم روا دي.

په فتاوى شامي كي راځي:

فإنهم قالوا: يجوز أخذ العوض على وجه الإسقاط للحق. (فتاوى الشامي:٤/ ٥٢٠، سعيد).

په ياده مسئله هم مالک خپل د سكونت حق ساقط كړ او په مقابل كي يې عوض واخيست چي بايد روا سي.

په فتاوى شامي كي راځي:

وحاصله: أن ثبوت حق الشفعة للشفيع وحق القسم للزوجة، وكذا حق الخيار في النكاح للمخيرة إنما هو لدفع الضرر عن الشفيع والمرأة، وما ثبت لذلك لا يصح الصلح عنه، لأن صاحب الحق لما رضي علم أنه لا يتضرر بذلك، فلا يستحق شيئاً، أما حق الموصى له بالخدمة فليس كذلك، بل ثبت له على وجه البر والصلة فيكون ثابتاً له أصالة، فيصح الصلح عنه إذا نزل عنه لغيره، ومثله ما مر عن الأشباه من حق القصاص والنكاح والرق حيث صح الاعتياض عنه، لأنه ثابت لصاحبه أصالة لا على وجه دفع الضرر عن صاحبه ولا يخفى أن صاحب .... الخ. (فتاوى الشامي:٤/ ٥٢٠، سعيد).

په هدايه كي راځي:

ومن ادعى على آخر مالاً فافتدى يمينه أو صالحه منها على عشرة فهو جائز.

(الهداية:٣/ ٢٠٩).

كه چا په دوهم كس دعوه وكړه بيا مدعي عليه له مدعي سره صلح وكړه او ومدعي ته يې څه رقم وركړ نو دا خو درسته خبره ده دلته هم د حق يمين په بدل كي عوض واخيستل سو كوم چي روا دئ.

دنور تفصيل له پاره دمفتي محمد تقی عثماني کتاب حقوق مجرده کي خريد او فروخت ته مراجعه وکړي.

دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (حقوق مجرده کی خريد وفروخت، از مفتی محمد تقی عثمانی - والمدخل الفقهی العام، ج ۳، للشيخ مصطفى الزرقا - وشرح المجلة - والموسوعة الفقهية الكويتية - وجديد فقهی مباحث، ج ۳ - والفقه الاسلامی وادلته، ج ٤).والله ﷻ اعلم.



عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: « الذهب بالذهب، والفضة بالفضة، والبر بالبر، والشعير بالشعير، والتمر بالتمر، والملح بالملح مثلاً بمثل، سواء بسواء يدا بيد، فإذا اختلفت هذه الأصناف، فبيعوا كيف شئتم إذا كان يداً بيد». (روه مسلم فی باب الربا).

شپږم .... باب

د بيع صرف بيان

له کمښت او زياتوب سره سره د اوسنۍ کرنسۍ د تبادلې حکم

سوال: که چيري زاړه نوټونه (لوټونه) دنوو روپيو په بدل کي سره له زيادت ورکړل سي څه حکم لري، ځيني مفتي صاحبانو دناروا حکم کړی، دوی وايي چي بيع الفلس بالفلسين ده خو فلوس قطع نظر له ثمنيت څخه قيمت درلودونکی شی دئ مګر مروجه کاغذي نوټ قطع نظر له ثمنيت څخه هغه هيڅ ارزښت نه لري بلکي يو بېکاره شی دئ، لهذا نوټ پر روپيو پيسو قياس کول صحيح خبره نه ده په دې سلسله کي ستا محترمو د دار الافتاء څه تحقيق دئ؟

الجواب: په شريعت مطهره کي اصل او خلقي ثمن دراهم او دينارونه دي فلوس نافقه يعنی مروجه کرنسۍ ثمن عرفي دي ثمن خلقي نه دي، البته د ثمن خلقي مشابه دي له همدې کبله د ثمن خلقي ټول احکام پر جاري کېدلای نه سي ځکه چي د ثمن خلقي او ثمن عرفي په منځ کي ډېر تفاوت دئ

د ثمن خلقي ثمنيت د همېشه له پاره وي او ثمن عرفي د حکومت د ثمن مقرر کېدو تر وخته وي کوم وخت چي يې د ثمنيت د بطلان اعلان وکړ هغه کوټه او ثمنيت يې ختميږي بناء پر دې د مروجه کرنسۍ په خپل منځ کي تبادله کول له زيادت او کموالي سره سره دګنجائش وړ ده.

وګورئ د بحر الرائق مصنف رحمه الله فرمايي:

أن الأموال ثلاثة ثمن بكل حالٍ وهو النقدان صحبه الباء أو لا.... وثمن بالاصطلاح وهو سلعة فى الأصل كالفلوس فإن كانت رائجه فهي ثمن وإلا فسلعة. (البحر الرائق:٦/ ٢٠٣، كتاب الصرف، كوئته – وكذا فى تبيين الحقائق:٤/ ٩٠، ملتان – والمحيط البرهانى:٧/ ١٧١).

او د مروجه کرنسۍ سره له زيادته د تبادله کولو درې صورتونه دي:

۱_ له جانبينو څخه غير متعين وي چي له يوه جانب څخه تعين نه وي کول سوی دا معامله بالاتفاق حرام او ناروا ده، د بيع الكالى بالكالى په سبب.

۲_ يو طرف يې تعين کړی وي او دوهم طرف غير متعين وي نو که غير متعين مؤجل وو بيا هم بالاتفاق ناروا ده مګر که غير متعين غير مؤجل وو او دعقد په مجلس کي قبضه نه وي کول سوې نو د دې په جواز کي اختلاف دئ ځيني علماوو په نزد روا ده او د ځينو په نزد ناروا ده.

۳_ که له جانبينو څخه پيسې معلومي وي په دې مسئله کي اختلاف دئ د شيخين په نزد روا ده او د امام محمد رحمه الله په نزد ناروا ده، دا ځکه چي امام محمد رحمه الله د ثمن خلقي او ثمن عرفي په منځ کي د فرق قائل نه دئ.

وګورئ په محيط برهاني کي راځي:

وإذا باع فلساً بفلسين حالة الرواج، فهذه المسألة على ثلاثة أوجه: ـ أحدها: أن يبيع فلساً بغير عينه بفلسين بغير أعيانهما، وفي هذا الوجه، البيع فاسد لوجهين: أحدهما: أن هذا بيع الدين بالدين. والثاني: أن الجنس بانفراده محرم للنساء عندنا....

الوجه الثاني: إذا باع فلساً بعينه بفلسين بأعيانهما وفي هذا الوجه البيع جائز في قول أبي حنيفة رحمة الله عليه وأبي يوسف رحمة الله عليه، وقال محمد رحمة الله عليه: لا يجوز.

الوجه الثالث: إذا كان أحد البدلين عيناً والآخر ديناً وفي هذا الوجه إن كان ما في الذمة مؤجلاً لا يجوز البيع لما ذكرنا أن الجنس بانفراده يحرم النساء عندنا، وإن كان ما في الذمة غير مؤجل لا شك أن على قول محمد رحمة الله عليه: لا يجوز؛ لأن عنده لو باع فلساً بعينه بفلسين بأعيانهما لا يجوز، فإذا كان أحد البدلين بغير عينها اولٰى.

وأما على قول أبي حنيفة رحمة الله عليه وأبي يوسف رحمة الله عليه: فقد اختلف المشايخ بعضهم قالوا: يجوز؛ لأن الفلوس عندهما تصير بمنزلة العرض حال مقابلته لجنسه، قالوا: لو باع فلساً بعينه بفلسين بأعيانهما يجوز فإذا صار الفلس المعين على مذهبهما بمنزلة العرض كان بمنزلة ما لو باع عرضاً بعينه بفلسين في الذمة. ومنهم من قال: لا يجوز؛ لأن الفلس عندهما إنما تتعين بالتعيين حال تعيين أحد البدلين فلا يجوز وهذا لأن الفلوس الرائجة لها حكم العرض من وجه. (محيط برهاني:۷/ ۲۷۰).

وفي البحر: وليس مرادهم خصوص بيع الفلس بالفلسين بل بيان حل التفاضل حتى لو باع فلساً بمائة على التعيين جاز عندهما. (البحر الرائق:٦/ ١٣٢، باب الربا، كوئته).

وفی الفتاوى الهندية: ولو باع فلسا بعينه بفلسين بغير أعيانهما أو على العكس لايجوز مالم يقبض ما كان ديناً فی المجلس. (الفتاوی الهندية:۳/ ۱۰۳).

وفي البحر : لو قبض ما كان ديناً فی المجلس جاز. (البحر الرائق:٦/ ١٣١، كوئته).

وفي فتح القدير: وأصله (الخلاف مبني على) أن الفلس لايتعين بالتعيين ما دام رائجاً عند محمد رحمه الله عليه وعندهما يتعين. (فتح القدير :۷/ ۲۱، دار الفكر).

د هدايې مصنف رحمه الله عليه او محقق ابن همام رحمه الله عليه او علامه ابو بكر كاساني رحمه الله عليه د شيخينو قول مختار بللی دئ او شمس الائمه حلواني رحمه الله عليه فرمايلي دي چي په دې مسئله كي فتوى د شيخينو پر قول ده. د فتح القدير لاندي عبارت وګورئ:

وتأخير دليلهما بحسب عادة المصنف رحمه الله عليه ظاهر في اختياره قولهما. (فتح القدير:۷/ ۱۵۸، كتاب الصرف، دار الفكر).

په فتاوي عالمګيري كي راځي:

قال الشيخ الإمام الأجل شمس الأئمة الحلواني رحمه الله عليه: كل جوابٍ في الفلوس فهو الجواب في الدراهم البخارية أعني بها الغطارف، وكذلك الجواب في الرصاص والستوق، قالوا: ويجب أن يكون في العدالي كذلك كذا في الذخيرة، حتى لو باع واحدًا منهما باثنين يجوز بعد أن يكون يدًا بيدٍ، هذا هو المختار للفتوى كذا في الغياثية . (الفتاوى الهندية:۳/ ۱۰۳).

د دې معاملي د جواز بل اړخ:

كه يې له ثمنيت څخه نظر قطع سي په دې معامله كي دوهم جانب ته وكتل سي بيا هم په دې معامله كي د عدم جواز هيڅ وجه نه معلوميږي، همدارنګه چي د پيسويو بل سره په بدلولو كي كه څه هم دواړو جانبو كي جنس متحد دئ مګر قدر (كيل او وزن) نه سته او د سود ثابتېدو له پاره قدر مع الجنس كېدل ضروري دي ځكه د فلوس بيعه په عددياتو كي حسابيږي او په عددى شى كي د هم جنس بدلول سره له تفاوته روا دئ په دې شرط چي د عقد په مجلس كي دواړه عوضونه موجود او معلوم وي.

وګورئ: محيط برهاني كي راځي:

وإن قلنا: إن الثمنية لا تبطل إلا أن ربا النقد إنما يجري بالجنس والقدر وهو الكيل أو الوزن وههنا إن وجد الجنس لم يوجد القدر، أما الكيل فظاهر. وأما الوزن؛ فلأن الناس تعارفوا بيع الفلوس عدداً إلا وزناً، ولهذا، قلنا: إذا باع فلساً بعينه وأحدهما أثقل من الآخر وزناً إنه يجوز، ولو كان موزوناً لكان لا يجوز كما إذا باع درهماً بدرهم أثقل من الآخر وزناً وههنا لما جاز علمنا أن الوزن ساقط الاعتبار في الفلوس فلم يوجد إلا الجنس فلا يجري الربا. (المحيط البرهانی:۷/ ۲۷۰).

وفى البدائع: ويجوز بيع العدديات المتقاربة من غير المطعومات بجنسها متفاضلًا عند أبي حنيفة رحمه الله، وأبي يوسف رحمه الله بعد أن يكون يدًا بيدٍ كبيع الفلس بالفلسين بأعيانهما. (بدائع الصنائع:۵/ ۱۸۵، سعید).

وفي فتح القدير: قوله ويجوز بيع البيضة بالبيضتين .... أن ذلك كله مشروط بكونه يداً بيدٍ أو هي من مسائل الجامع الصغير، صورتها فيه: محمد عن يعقوب عن أبي حنيفة رحمه الله في بيع بيضة ببيضتين وجوزة بجوزتين وفلس بفلسين وتمرة بتمرتين يداً بيدٍ جاز إذا كان بعينه وليس كلاهما ولا أحدهما ديناً. (فتح القدیر:۷/ ۲۰، دار الفکر).

وفى العناية: بيع العددي المتقاب بجنسه متفاضلًا جائز إن كانا موجودين لانعدام المعيار، وإن كان أحدهما نسيئةً لا يجوز ؛ لأن الجنس بانفراده يحرم النساء . (شرح العناية على هامش فتح القدیر:۷/ ۲۰، دار الفکر).

په فتاوی شامي کي راځي:

ثم اعلم أن ذكر النساء للاحتراز عن التأجيل، لأن القبض في المجلس لا يشترط إلا في الصرف وهو بيع الأثمان بعضها ببعض أما ما عداه فإنما يشترط فيه التعيين دون التقابض.

(فتاوی الشامی:٥/ ١٧٢، باب الربا، سعید).

پر پورتنۍ مسئله څو سوالونه او جوابونه:

۱_ سوال: ځيني مفتيان حضرات دا سوال کوي چي نوټ پر سکه قياس کول صحيح نه دي، ځکه که د کسو قيمت ختم سي بيا هم يو قيمتي فلز دئ، حال دا چي د نوټ هيڅ قدر نه سته؟

۱_ الجواب: د دې جواب دا دئ چي کاغذي نوټ هم فی نفسه مال متقول دئ او د ثمنيت څخه پرته هم په مختلفو ځايو کي مثلاً سوځول، بنايست، په غاړه کي غاړکي او ري سايکل (Recycle) کول. دوهم وار استعمالولو له پاره کارېږي بلکي کله زوړ نوټ زيات قيمتي وي ځکه خلک يې د بنايست له پاره ايږدي يا يې حکومت په زياتو پيسو رانيسي.

همدا ډول وګورئ: (جدید فقهی مباحث:٢/ ٨١).

۲_ جواب: دا دئ چي د ثمنيت په باب کي دا ډول فرق تاوان نه لري ځکه چي فقهاوو د پيسو کوم تعريف کړی دئ هغه ونوټ ته هم شاملېږي او خاص د معدني پيسو سره مخصوص نه دئ.

وګورئ شيخ احمد زرقاني، په شرح القواعد الفقهيه کي ليکلي دي:

والذي يظهر أن الورق النقدي .... الرائج في بلادنا الآن ونظيره الرائج في البلاد الأخرى، هو معتبر من الفلوس النافقة، وما قيل فيها من الأحكام السابقة، يقال فيه لأن الفلوس النافقة هي ما كان متخذاً من غير النقدين الذهب والفضة،.... والورق المذكور من هذا القبيل، ومن يدعي تخصيص الفلوس النافقة بالمتخذ من المعادن فعليه البيان. (شرح القواعد الفقهية، للشيخ أحمد الزرقا، ص ١٧٤).

بلکي د حضرت امام مالک رحمه الله د قول پر اساس پيسې د (پوست) څخه هم کېدلای سي:

لو أن الناس أجازوا بينهم الجلود حتى تكون لها سكة وعين لكرهتها أن تباع بالذهب والورق نظرة. (المدونة الكبرى:۳/ ۹۰، التأخير في صرف الفلوس، دار الفكر).

وفي المصباح المنير: الفلس الذي يتعامل به. (المصباح المنير:۲/ ۴۸۱، بيروت).

دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (جديد فقهی مباحث:۲/ ۱۳۳).

که نسي نوټ که څه هم کاغذي ټوټې دي خو بيا هم د پيسو په حکم کي دي او د هغو يو د بل سره بدلون د تفاضل سره هم روا دئ په فتح القدير کي د دې صراحة موجود دئ.

لو باع كاغذة بألف يجوز ولايكره. (فتح القدير:۷/ ۲۱۲، كتاب الكفاية، دار الفكر – وكذا في رد المحتار:۵/ ۳۲۶، سعيد).

نو کوم حضرات چي وايي چي د ثمنيت څخه پرته د دې څه حيثيت نه سته او دا خبره صحت نه لري.

سوال او جواب:

۲_ سوال: ځيني علماوو د هدايې د مصنف له لاندي عباراتو څخه استدلال کړی دئ او منع يې کړې ده وګورئ لاندي عبارت.

ومشايخنا رحمهم الله لم يفتوا بجواز ذلك في العدالى والغطارفة لأنها أعز الأموال في ديارنا فلو أبيح التفاضل فيه ينفتح باب الربا. (الهداية:۳/ ۱۰۹).

يعني نوټونه يې پر عدالی او غطارفه باندي قياس کړي دي او منع يې فرمايلي ده د دې جواب څه دئ؟

الجواب: **د عدالی او غطارفه د ممانعت اصل لامل دا وو چي په هغه زمانه کي په هغو کي سپين زر موجود وه چي ثمن خلقي دي هغه هم په لوړه کچه سره د موجود والی په سبب خلکو ورسره د زرو په شان معامله کول او دغه رنګه په دې کي د قيمتي فلزاتو د ګډون په سبب يې د سپينو زرو سره قيمت کي دوسره فرق نه وو.**

وګورئ محيط البرهاني راځي:

أن الفضة وإن كان أقل فهي قائمة للحال حقيقة، فإنها ترى وتشاهد، فإن اللون لون الفضة ومتى أذيبت تخلص الفضة وتخرج بيضاً خالصةً.... فكانت الفضة قائمة باعتبار الحال والمآل .... فلأن الفضة لا يجعل في الصفر لترويج الصفر بالفضة ولهذا سموه دراهم، ولهذا جعلوا النضة ظاهراً والصفر باطناً، فكانت الفضة معتبرة وإن كان أقل من الصفر. (المحيط البرهاني:۷/ ۲۷٦).

د دې سببه فقهاء دغه بيعه په صرف کې شمارلې او پر عوضينو يې قبضه ضروري بللې ده.

وګورئ: فتح القدير:

ولكنه مع هذا صرف حتى يشترط القبض قبل الافتراق.... لوجود الفضة من الجانبين. (فتح القدير:۷/ ۱۵۲، كتاب الصرف، دار الفكر).

حضرت مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله هم د شيخينو مذهب راجح بللی دئ او د پيسو په بدلولو کې يې د زياتوالي او کموالي سره روا بللی دئ.

وګورئ د فتاوی رشيديه راځي:

معلومه سوه چې فلوس عددي دي، که د خپل مثل سره سودا سي صحيح ده ځکه اتحاد جنس موجود دئ خو (کيل)، پيمانه او تول نه سته نو تفاضل صحيح دئ مګر نسيه يعني پور حرام دئ او دغه مذهب د شيخينو دئ او دا قوي دئ. (فتاوی رشيديه: صـ ۵۳۷، مکتبه رحمانيه).

په مجموعة الفتاوى کې راځي:

سوال: د دين علماء او مفتيان په دې اړه څه فرمايي چې نوټ يعني کاغذ د زرو چې په نيولا کې رائج دئ دې خرڅول او رانيول يې په کموالی او زيادت سره روا دي او که نه؟

الجواب: خرڅول او رانيول د ذکره سوي کموالي او زيادت سره روا دي ځکه چې حکومت مال بللی دئ او هر شی چې د قوم په اصطلاح او رواج کې مال بلل سوی وي که څه هم په هغه کې

ثمنیت او مالیت ثابت نه وي مګر فقط د قوم د ثمنیت او مالیت په بللو سره یې ثمنیت ثابتیږي.

قال في الهداية: ويجوز بيع الفلس بالفلسين.... الخ.» هر کله چي په نوموړي لوټ کي چي کاغذ دئ مالیت ثابت سوی وي د هغه خرڅول او رانیول هم د کموالی او زیادت سره روا دئ. په ردالمختار کي باب بیع العینه کي راغلی دي. حتى لوباع كاغذة بألف يجوز ولا يكره، انتهى.

والله أعلم وعلم أتم، العبد المجيب محمد رياست على عفى عنه. **جواب صحیح دئ** محمد ارشاد حسین احمد، الجواب الصحيح، محمد اعجاز حسين، **هو خرڅول او رانیول یې روا دي.** فقط، العبد محمد عبد القادر عفى عنه، الجواب صحيح كتبه حامد حسين عفى عنه الجواب صواب محمد حسين.

مذکور، بېشکه لوټ په اصطلاح کي مال بلل سوی دئ نو په پورتنۍ ډول یې خرڅول او رانیول روا دي. فقط العبد ابو القاسم محمد مزمل عفى عنه.

د صحت په اړه صحیح ده، العبد محمد عنايت الله عفى عنه، الجواب هو الجواب، محمد نظر علي، الجواب صواب محمد عبد الجليل بن محمد عبد الحق خان. (مجموعة الفتاوى على هامش خلاصة الفتاوى: ۳/ ٦۲، كتاب البيوع).

همدارنګه مفتي نظام الدین اعظمي او مفتي فرید صاحب هم روا بللي ده وګورئ: (منتخبات نظام الفتاوى: ۲/ ۳۷٤، - وفتاوى فريديه: ۲/ ٦۷۷).

د خبري حاصل:

نوټ لاس په لاس په تفاضل سره بدلول شاذ او نادر دي کله کله د اختر په موسم کي خلک د زړو نوټو په بدل کي نوی نوټونه رانیسي او په عامو وختو کي دا کار دومره نه کیږي او هغه چي د بانک مالک د سود پیسې جمع کوي بیا د وخت په تېرېدو سره د دې په مقابل کي زیادتي پیسې ور کوي دا سود دئ او یقیني حرام دئ او دې ته قراني سود وایي:

﴿ وإن تبتم فلكم رءوس أموالكم لا تظلمون ولا تظلمون ﴾. (سورة البقرة، الآية: ۲۷۹).

نتیجه دا سوه چي د وخت په تیرېدو سره د قرض د پیسو زیاتوالی بالکل ناروا دئ.

دوهم ځيني علماء وايي مثلا مفتي کفايت الله، مولانا عبد الحی، مفتي تقی عثماني او داسي نورو رايه دا ده چي په زيادت سره بيع کول ناروا دي، او دا رايه پر احتياط بناء ده که نه د پورتنيو دليلونو په رڼا کي په تفاوت سره د خرڅولو او رانيولو امکان سته.

د کرنسۍ د بدلون په اړه د اسلامک فقه اکيډمي فيصله

په اوسني وخت کي د لوټو بدلون چي په پوره توګه سره د خلقي زرو پر ځای استعماليږي او يو د بل سره معاملات د نوټو په ذريعه کيږي نو ځکه د پيسو نوټ په احکامو کي د ثمن حقيقي سره متشابه دئ، نو د يو هيواد پيسه بدلول د هغه هيواد په پيسو په کموالي او زياتوالی سره نه نقداً روا ده او نه په پور سره. (اهم فقهی فيصلی:صـ ۲٤، اسلامک فقه اکيډمی انډيا). والله تعالیٰ اعلم.

رسيد يا د بانک چيک خرڅول او د پيسو د کمولو حکم

سوال: زيد د عمر څخه د يو لک روپيو سامان په افغانيو رانيوئ چي دوې مياشتي وروسته به زيد پيسې ورکوي او پر رسيد دستخط وسو چي عمر يې دوې مياشتي وروسته لاس ته راوړلای سي مګر عمر ته اوس د پيسو ضرورت دئ ايا دی پر بکر يا بانک هغه رسيد په (۹۸) زره خرڅولای سي او دوې مياشتي وروسته به بکر ته يو لک افغانۍ په لاس ورځي ايا دا معامله روا ده او که نه؟

الجواب: په نوموړي صورت سره دا سودی معامله ده ځکه بکر يا بانک (۹۸) زره ورکړې او يو لک لاس ته راوړي مګر خو که چيري زيات ضروري وي عمر دي پر بکر يا بانک د (۹۸) زرو په عوض کي يو سامان خرڅ کي او (۹۸) زره دي تر لاسه کي، بيا دي رانيونکی پر دغه سامان قبضه وکړي او دا دي بيا پر عمر باندي په يو لک د دوو مياشتو مؤجلو باندي خرڅ کي دا يو حيله او تدبير دئ او ضرورت په وخت کي يې امکان سته.

دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (جديد معاملاتو شرعی احکام:۱/ ۱٤۷، - واسلام اور جديد معيشت وتجارت:صـ ۱۲۳، اسلام اور جديد معاشی مسائل:۷/ ۲۵۱، بل اف ايکينجچ – وغرر کی صورتين: ۳۳٤- ۳۳۷). والله تعالیٰ اعلم.

د خلاف جنس د پیسو د بدلون حکم

سوال: یو ځای ته د پیسو د استولو دوې لارې دي یو دا چې دلته په (جنوبي افریقا) کې یو بانک یا یو شخص ته زر ډالر یا اته زره افغانۍ ورکې او د دې په بدل درې ورځې وروسته په کراچې یا ډهلي کې متعین سوې روپۍ وصول کړي په دې طریقه کې په ظاهره خرابي سته ځکه ثمن د ثمن په مقابله کې سودا کولو کې د دواړو طرفو د پیسو قبض کول د عقد په مجلس کې ضروري ده چې دلته وجود نه لري؟

۲_ **دوهمه طریقه یې دا ده**: چې د کراچې څخه لاهور ته د بانک یا بل شي په واسطه سره پنځوس زره (۵۰) روپۍ واستوي بعینه دغه روپۍ نه رسیږي بلکې دومره روپۍ په ذریعه د بانک هلته (مرسل الیه) ته ورکول کیږي د دې په اړه ځینې خلکو ته شک ورلوېږي چې دا بعینه سفتجه ده چې د فقهي کتابو ناروا بللې ده دغه ته (هنډي یا بل آف ایکسیچنج) ویل کیږي د دې د دواړو صورتو شرعي حکم څه دئ؟

الجواب: په اول صورت کې د ډالر په عوض کې روپۍ حاصلیږي او د دواړو هیوادو پیسې مختلف الجنس بلل کیږي نو د دې وجې څخه په کموالي او زیاتوالي سره بیع کول روا ده او همدارنګه دا ثمن عرفي دي او حیقیقي نه دي نو ځکه په دې کې په مجلس کې تقابض او قبضه کول ضروري نه ده، خو د یوه طرفه څخه قبضه کول ضروري ده ځکه د بیع الکالی بالکالی څخه ځان ساتل ضروري دي، ثمن عرفي د ثمن حقیقي په حکم د نه کېدلو فتوی په تفصیل سره تېره سوې ده.

۲_ **دوهم صورت**: په ظاهر سره سفتجه ده او په دې کې یو څه تفصیل سته سفتجه د سفتن څخه ده یعني سورې کول او پیودل لکه څنګه چې په پخوا زمانه کې درهم او دینار له غلو څخه د محفوظ ساتلو له پاره په لرګي یا بل شي کې سوری کاوه او دغه پیسې یې پکښې اچولې او بیا یې رسولې نو ځکه ودې ته سفتجه وایي، د سفتجې حقیقت دا دئ چې یو کس زر درهمه یو چا ته د قرض په ډول ورکړي او دا شرط یې کېښېنوئ چې زه ستا څخه په فلاني ښار کې یا ستا د وکیل څخه زر درهمه اخلم، فقهاوو دا صورت ناروا بللی دئ او دې ته یې مکروه ویلي دي ځکه دا د ((کل

قرض جرنفعاً فهوربا)) په حکم کي دئ او د دې قرضو ورکولو په سبب مقرض (قرض ورکونکي) د ځان له پاره د لاري سلامتيا لاس ته راوړله ځکه دا ناروا ده، خو که چيري په دې کي دا دوه شرطونه وه چي قرض وو خو که چيري د امانت په ډول يې ورکي نو بيا هيڅ پروا نه لري او که امانت بيا هلاک سو نو د امانت د خاوند يو شی هلاک سو.

۲_ شراط دا دئ چي د قرض په عقد کي شرط ولګوي چي په دې شرط قرض درکوم چي ته په فلاني ښار کي يو چا ته ليک وليکه چي هغه وما ته دغه پيسې هلته راکي او که يې بېله شرطه ورکړي او مستقرض (قرض اخيستونکی) د دوهم ښاره و يو چا ته وليکل نو په دې کي کراهت نه سته.

شيخ اسعد صاغرجی فرمايي:

فشرط الكراهة أو عدم الجواز شيئان: الأول أن يدفع المال في بلده قرضاً لمن يكتب له، فلو دفعه أمانة لم يكره ولم يفسد. والثاني: أن يشترط عليه في عقد القرض أن يكتب له به إلى البلدة الأخرى فلو لم يشترط لم يكره، عن عطاء بن أبي رباح أن عبد الله بن الزبير رضي الله عنه كان يأخذ من قوم بمكة دراهم، ثم يكتب بها إلى مصعب بن الزبير رضي الله عنه بالعراق فيأخذونها منه، فسئل ابن عباس رضي الله عنه عن ذلک، فلم ير به بأساً، فقيل له: إن اخذوا أفضل من دراهمهم، قال: لابأس إن اخذوا بوزن دراهمهم، وروي في ذلک عن علی رضي الله عنه.

فإن صح ذلک عنه وعن ابن عباس رضي الله عنه فإنما أرادا والله أعلم إذا كان ذلک بغير شرط.

«اللسنن الكبرى للبيهقى» : (٥/ ٣٥٢، دار المعرفة، بيروت). (الفقه الحنفى وادلته « فقه المعاملات، القسم الاول» حكم السفتجة، ص ١٣٤).

په فتح القدير کي راځي:

والقرض بهذا الشرط فاسد ولو لم يكن مشروطاً جاز وصورة الشرط ما في الواقعات رجل أقرض رجلاً مالاً على أن يكتب له به إلى بلد كذا فإنه لا يجوز، وإن أقرضه بغير شرط وكتب جاز . (فتح القدير:۷/ ۲۵۱، كتاب الحوالة، دار الفكر).

که چیري بانک یا یو سړی ته دراهم د قرض په ډول ورکي او د استولو مزدوري ورکي او بیا په عقد کي شرط ولګوي چي فلاني ښار کي زه قرض غواړم نو بیا روا ده ځکه چي د لاري د سلامتیا چي کومه ګټه لاس ته راغله (بلکي دلته مقصد د لاري سلامتیا نه ده فقط پیسې رسول دي) داد قرض له کبله نه دي بلکي د هغه بدله مزدوري اداء سوې ده او بانک وکیل په مزدوري سره وکیل سو، ډېر وختونه د بانک د استولو مزدوري اداء کیږي نو په دې سودا کي کومه ستونزه نه سته. مولانا فتح محمد لکنوي د شرح وقایې په حاشیه کي روا ورته ویلي دي. (تكملة عمدة الرعاية:۳/ ۱۱۹) **باندی دا تفصیل موجود دئ. والله تعالی اعلم.**

د پیماني شیانو تولي جوړولو حکم

سوال: **په صحرا کي ښځي د ضرورت په وخت کي له کلیوالو دړې کېلو وړه د قرض په ډول اخلي بیا بل وخت دړې کېلو بېرته ورکوي د فقهي په کتابو کي لیکلي دي چي غنم او وړه د مکیلاتو څخه دي او مکیلي د موزوني جوړلو اجازه نه سته، ځکه په وزن کي د برابرۍ سره سره په کیل کي د کموالي او زیادت امکان سته، په شریعت کي د دې څه حکم دئ؟**

الجواب: دا معامله د قرض ده او په قرضو کي مثل ورکول ضروري دي او دړې کېلو د دړې کېلو مثل دئ نو ځکه دا معامله روا ده، همدارنګه په بیع کي دړې کېلو وړه د دړې کېلو په بدل کي ورکول غیر مؤجل سودا کوي هم روا ده، ځکه اوس (وړه) وزني سوي دي او د امام ابو یوسف رحمه الله په نزد چي کله په عرف کي کیلي وزني جوړ سي نو د وزن سره برابره سودا کول روا دي او پر دې قول فتوی ده.

وګوري: شرح القواعد الفقهیه په شرح کي مصطفی زرقا فرمایلي دي:

وقال مصطفى أحمد الزرقا: خلافاً لأبي يوسف رحمه الله الذي يعتبر المقياس المتعارف فيهما مطلباً في كل زمن بحسبه، ويتبدل مقياس التساوى بتغير العرف تبعاً له حيث يعلل

النص بالعرف الذي كان قائماً وقت وروده، فلا يكون اتباع العرف عند أبي يوسف رحمة الله عليه مخالفاً للنص، بل يراه هو الموافق للنص، وأن الثبات على المقياس القديم الذي ورد فى النص هو المخالف للنص، فهو يعتبر هذا النص نصاً عرفياً، بمعنى أنه ذكر فيه المقياس الذي عينه النص، لأنه كان هو المتعارف حين وروده النص، ولو كان المتعارف مقياساً آخر لورد النص بذلک الآخر، لأن مقاييس الكميات تتبع الأعراف، ولتنظر رسالة « نشر العرف فيما بنى من الأحكام على العرف »، لابن عابدين رحمة الله عليه. وقد أوضحت هذا المسألة في كتابى المدخل الفقهى العام. (حاشية شرح القواعد الفقهية، ص ۲۲۱، تحت القاعدة: « العادة محكمة »). والله تعالى اعلم.

فوروډ ایکسچینج کونتر کټ حکم

سوال: ایا دا معامله صحیح ده او که نه؟ لنډه پېژندګلوي يې دا ده چي فی الحال د یوه نوټ د ټاکلي قیمت په عوض کي د مختلفو مملکتونو نوټونه په خپل منځ کي تبادله کول چي په هغه کي یو نوټ مثلاً ډالر په اتنده کي پر یوه ټاکلي تاریخ اداء کیږي دې ته (F.E. RATF) ویل کیږي په اینده کي ټاکلي تاریخ په عام ډول درې میاشتي وي او د نغدو پیسو د پور د پیسو سره په قیمت کي فرق راځي، یعني یو څه زیاتوالی راځي د مثال په ډول یوه افریقایي کمپنی د امریکایي کمپنی څخه دیو لک ډالرو سامان رانیسي په دواړو خواوو کي د سواد وعده وسول چي درې میاشتي وروسته به مبیعه ورسپارل کیږي او ثمن به هم یعني یو لک ډالر پر هغه وخت اداء کیږي، اوس په دې درو میاشتیو کي د ډالرو د قیمت د زیاتوالي ډېره اندیښنه سته چي د دې زیاتوالي پر بناء به افریقایي کمپنی ته د ډېر تاوان اندیښنه وي په دې ډول دې ته به د ډالرو په عوض کي زیات رېند مصرفول وي د دې تاوان څخه د ځان ساتلو له پاره افریقایي کمپنی له بانک یا بل شی سره فورډ ایکسیجچ کوي چي دی به د رېند په بدل کي ډالر د نن ورځي په قیمت باندي رانیسي د رېند اداء کول به اوس وي خو ډالر به درې

میاشتي وروسته لاس ته راځي چي د امریکایي کمپنۍ د ډالرو اداء کولو وخت راسي په شریعت کي د دې معاملې حکم څه دئ؟

الجواب: که چیري د یوې کرنسۍ پیسو په نورو پیسو سره د راتلونکي له پاره سودا وسي دې، مسئلې درې صورتونه دي:

۱_ صورت دا دئ که چیري ډالر د رینډ په عوض کي د راتلونکی له پاره رانیسي او ټول رینډ دې له پاره ورکي چي درې میاشتي وروسته به په فلاني تاریخ باندي ډالر لاس ته راوړي دا سودا په سلم کي داخلېدلای سي که چیري د سلم ټول شرطونه موجود وي د سلم په ډول به دا سودا صحت ولري

د سلم شرطونه په دې جمله کي ((مص جنا مرأة)) یو ځای سوي دي یعني.

۱_ له میم څخه مراد د مسلم فیه (مبیعې) اندازه ده.

۲_ د ص: څخه د صفت معلومېدل.

۳_ د جیم: څخه جنس معلومول.

۴_ د ن: څخه نوع معلومېدل.

۵_ د الف: څخه د وخت اجل معلومېدل.

۶_ میم او راء، مقدار د رأس المال.

۷_ په تاء کي تسمیه مکان وطرف ته اشاره سوې ده.

زما په خیال پیسې د فلوس نافقه په حکم کي دي، یعني رواجي پیسې دي حقیقي ثمن نه دي ځکه ثمن حقیقي سپین او سره زر دي.

د سلم له پاره پر رأس المال قبضه کول لازم دي او د قبضې له پاره قدرت ورکول (تخلیه) او قبضه حکمي هم کفایت کوي او همداسي د یو چا اکاونټ ته لېږل هم کفایت کوي، که چیري سلم عقد ونه کړي بیا هم اجازه سته چي یو پیسې اوس ورکي او بله کرنسي وروسته واخلي.

وګورئ په فتاوی عالمګیري کي دي:

ویجوز السلم فی الفلوس عدداً في ظاهر الروایة کذا فی الینابیع وهو الصحیح هکذا فی النهایة. (الفتاوی الهندیة: ۳/ ۱۸۳، فصل فی بیان مایجوز السلم).

په فتح القدير كي راځي:

وكذا في الفلوس عدداً أي يجوز السلم في الفلوس عدداً هكذا ذكره محمد رحمه الله في الجامع من غير ذكر خلاف فكان هذا ظاهر الرواية عنه. (فتح القدير:۷/ ۷۵، دار الفكر).

۲_ صورت دا دئ چي رب السلم هيڅ ورنه كړي دا صورت ناروا دئ، دا بيع الدين بالدين (پور په پور) ده همداسي په سلم كي د رأس المال وركول لازمي دي.

قال فى الهداية: ولايصح السلم حتى يقبض رأس المال قبل أن يفارقه فيه أما إذا كان من النقود فلأنه افتراق عن دين بدين وقد نهى النبي ﷺ عن الكالئ بالكالئ. (الهداية:۳/ ۹۶)

۳_ صورت دا دئ چي يو څه راس المال وركي او يو څه ورنه كي نو چي په كومه اندازه يې رأس المال وركړى وي په هغه حصه د مسلم فيه كي به رواسي او په پاته حصه كي ناروا دئ خو كه په (۲) او (۳) صورت كي وعده وكي خو سودا ونه كي د دې د روا والي امكان سته، خو چي وعده د تعليق په صورت وي نو واجب الوفاء وي مثلا چي دا ووايي كه په فلاني تاريخ كي زه ډالر دركم ته به په دغه قيمت (فونډ) راكوي.

په قواعد الفقهه كي دي:

المواعيد في صورة التعليق تكون لازمة مثلاًن يقول بع هذا الشيء من فلان بكذا فإن لم يعطك الثمن فأنا أعطيه. (شرح المجلة، للاتاسى:۱ / ۲۲۸، بشرح القواعد الفقهية:۲۶۳).

ملا علي قاري رحمه الله په شرح النقايه كي ليكلي دي:

.... المواعيد قد تكون لازمة، قال رسول الله ﷺ: العدة دين فيجعل هذا الميعاد لازما لحاجة الناس إليه. (شرح النقاية:۳/ ۲۵۳، قبيل فصل الاقامة، بيروت)

او همداسي دا د (هنډى) يو ډول دئ چي په هغه كي د تاجيل اجازه سته ځكه چي دا ثمن عرفي دي خو په ثمن حقيقي كي د تاجيل امكان نه سته. والله تعالى اعلم.

د مختلفو هيوادو د پيسو د بدلون حکم

سوال: كه چيري پنځه سوه (۵۰۰) افغاني ورکي او ورته ووېل چي درې مياشتي وروسته د دې په عوض کي ما ته دومره ډالر راکه دا صورت روا دئ او كه نه؟

الجواب: د دې صورت پيسې حقيقي ثمن نه دي بلکي عرفي ثمن دي او د مختلفو هيوادو پيسو ته مختلف الجنس وايي نو تقابض په مجلس کي ضرور نه ده، نسيه (پور) هم روا دئ.

وګورئ په فقهي مقالات کي دي:

په تجاراتو او عامو خلکو کي دا رواج دئ چي هغه ديوه هيواد پيسې بل چا ته په دې شرط ورکوي چي ته به د دې په بدل کي دومره زمانه وروسته د فلاني هيواد پيسې پر فلاني ځای راکوې د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد دا سودا کول روا ده ځکه چي د هغه په نزد د پيسو په بيع کي د بيع په وخت کي د سودا کوونکي له پاره د هغه په ملکيت کي د ثمن کېدل ضروري نه دي، نو چي جنسين مختلف سي نو پور کول هم روا سوه.

او همدارنګه شمس الائمه سرخسي رحمه الله ليکلي دي:

وإذا اشترى الرجل فلوساً بدراهم ونقد الثمن ولم تكن الفلوس عند البائع فالبيع جائز لأن الفلوس الرابحة ثمن كالنقود، وقد بينا أن حكم العقد في الثمن وجوبها ووجودها معا ولا يشترط قيامها في ملك بائعها لصحة العقد كما لا يشترط ذلك في الدراهم والدنانير. (المبسوط السرخسي: ١٤/ ٢٤، باب البيع بالفلوس، ادارة القرآن).

په جديد معاملات پر شرعي احکامو نومي کتاب کي دي:

د دوو هيوادو پيسې چي مختلف الاجناس دي ځکه يې نو د واحدونو نومونه مختلف دي نو چي د دواړو جنسونه مختلف سول نو ديوه هيواد د پيسو سره په کموالي او زياتوالي سره روا دي او دا کار وبار کول هم روا دي، خو دا ضروري ده چي د عقد په مجلس کي د دواړو جانبو څخه ديوه جانب پر متبادلو پيسو (بدل سوي پيسو) قبضه وکي او كه ديوه فريق پر متبادلو پيسو د عقد

په مجلس کي قبضه ونه کي که و وعده يې وکړله او عقد يې وکي پر هغه وعده سره جلا سوه دا روا نه ده ځکه چي دلته افتراق دين بدين لازميږي چي د حديث له نظره ناروا ده.

قال العلامة برهان الدين المرغيناني: وإذا عدم الوصفان الجنس والمعنى المضموم إليه حل التفاضل والنساء لعدم العلة المحرمة والأصل فيه الإباحة وإذا وجدا حرم التفاضل والنساء لوجود العلة وإذا وجد أحدهما وعدم الآخر حل التفاضل وحرم النساء .(الهداية:۳/ ۷۹، باب الربا، دار الفكر). (جديد معاملات كي شرعي احكام:۱/ ۱۳۹). والله ﷻ اعلم.

د رواج سوي پيسو په عوض کي سپين يا سره زر د ورکولو حکم

سوال: يوه سړي د زرګر څخه د پنځوسو زرو افغانيو ګېڼي رانيولې او د رانيوونکي سره هغه وخت شلو ښت زره افغانۍ موجود وي نو د ګېڼو رانيولو په وخت کي يې شلو ښت زره روپۍ ورکړې او پاته لس زره روپۍ يې تر يوې هفتې وروسته د ورکولو وعده وکړل ايا دا سودا صحت لري او که نه؟ په داسي حال کي چي بيع الصرف کي لاس په لاس سودا کول لازمي ده؟

الجواب: په دې صورت کي کاغذي نوټ يعنى هغه رواجي پيسې حقيقي ثمن نه دي بلکي عرفي ثمن دي نو ځکه په دې تجارت کي به د صرف د بيع احکام نه چليږي پر دې بناء په پور سره خرڅول او رانيول روا دي، نو د دواړو عوضو څخه پر يوه د عقد په مجلس کي قبضه کول ضروري ده چي بيع الدين بالدين رانه سي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

عقد الصرف بيع الثمن أى ما خلق للثمنية ومنه المصوغ جنساً بجنس أو بغير جنس كذهب بفضة. (الدر المختار:۵/ ۲۵۷، سعيد).

په بدائع الصنائع کي راځي:

فالصرف في متعارف الشرع اسم لبيع الأثمان المطلقة بعضها ببعض وهو بيع الذهب بالذهب والفضة بالفضة. (بدائع الصنائع:۵/ ۲۱۵، سعيد).

وفی رد المحتار: سئل الحانوتي عن بيع الذهب بالفلوس نسيئة فأجاب بأنه يجوز إذا قبض أحد البدلين. (فتاوى الشامی:۵/ ۱۸۰، باب الربا، سعيد).

وفي المبسوط للإمام السرخسی: إذا اشترى الرجل فلوساً بدراهم ونقد الثمن ولم تكن الفلوس عند البائع فالبيع جائز لأن الفلوس الرائجة ثمن كالنقود وبيع الفلوس بالدراهم ليس بصرف. (المبسوط:۱۴/ ۲۴).

وللاستزادة انظر: (المحيط البرهانی:۷/ ۲۶۸ – والفتاوى الهندية:۳/ ۲۲۴).

په فتاوي عثمانيه كي رائحي:

أما الذهب سواء كان تبراً أو مصوغاً فقد أجمع الأئمة الأربعة على أنه لايعامل معاملة البضائع، وإنما يعمل أحكام النقود في جميع الأمور، لكن « الأوراق النقديه » قد وقع فيه خلاف بين العلماء المعاصرين، وإن كثيراً من علماء البلاد العربية جعلوها في حكم الذهب سواء بسواء، ولكن خالفتهم فی رسالتي « أحكام الأوراق النقدية» وذكرت أنها ليست قائمة مقام الذهب في جميع الأمور، فلا تجري فيها أحكام لصرف، ولذلک يجوز عندی أن يشتري الذهب أو الفضة بالنقود ويجوز أيضاً أن يشتري الذهب نسيئة بالأوراق النقدية ولكن يجب أن يكون تقابض أحد البدلين فی المجلس إذا كان ذهباً خالصاً، وأن يعرف الأجل عند العقد وقد قبل هذا الموقف معظم علماء الهند وكثير من باكستان، والتفصيل فی رسالتي « أحكام الأوراق النقدية». (فتاوى عثمانی:۳/ ۱۵۹، كتاب البيوع).

په جديد معاملات كي شرع احكام نومي كتاب كي رائحي:

سپين يا سره زر داسي په پور خرڅول مثلاً چي د سرو زرو ګهڼي رانيسي او پيسي يو څه اوس ورکړي او ديو څه بيا وروسته د ورکولو وعده وکړي يا ټولي پيسي پور وي په شريعت کي ددې

حکم داسي دئ لکه څنګه چي د کاغذي نوټ په ذریعه سپین او سره زر سره سودا کول د صرف د بیع په حکم کي نه دي، نو ځکه په پور رانیول او خرڅول یې روا دي، شرط دا دئ چي دواړو عوضو څخه به پر یوه باندي د عقد په مجلس کي قبضه وسي چي بیع الکالي باالکالي رانه سي.

وفی الهندية: قال: وروى الحسن عن أبي حنيفة رحمه الله إذا اشترى فلوسًا بدراهم وليس عند هذا فلوس ولا عند الآخر دراهم ثم إن أحدهما دفع وتفرقا جاز، وإن لم ينقد واحد منهما حتى تفرقا لم يجز كذا في المحيط. (الفتاوى الهندية:٣/ ٢٢٤، الفصل الثالث فی بيع الفلوس).

(جدید معاملات کی شرعی احکام:١/ ص ١٢٨).

په احسن الفتاوي کي راځي:

دغه رواجي نوټ او سکې د سرو او سپینو زرو په حکم کي نه دي، نه د سرو او سپینو رسېد دئ نو په دې سره بیع د سپینو او سرو زرو په هر ډول سره صحت لري. تفاضل او نسیه هم روا ده. (احسن الفتاوی:٦/ ٥١٨ – وکذا فتاوی حقانیه:٦/ ١٢٤).

څنګه چي ځیني علماء ورته ناروا ویلي دي نو احتیاط دا دئ چي د زر ګر څخه قرض واخلي او لاس په لاس سودا وسي. (فتاوی حقانیه:٦/ ١٢٤). والله تعالیٰ اعلم.

د فوریکس ډول او د هغه حکم

سوال: د فوریکس څه طریقه ده او په شریعت کي یې حکم څه دئ؟

الجواب: د فوریکس بیان دا دئ چي زید د زر و ډالرو اکاونټ په بانګ کي پرانیستئ نو کمپن نوي زره ډالر نور د پور په ډول ورسره یو ځای کي بیا دغه سړی د یوه لک ډالرو کار وبار کولای سي تر دې وروسته دغه سړی د یو بانګ څخه د کمپنی په ذریعه د یوه لک یو جریب مځکه (فلاټ) رانیولای سي ګواکي د ده په ضمانت کي یو لک ډالر راغلل بیا د یو څو ورځو په تېرېدو سره د ډالرو قیمت لوړ سي نو دا سړی دا یو لک ډالرد (پوند) په بدل کي د کمپنی په کومک د خرڅولو له پاره ټلیفون کوي او کمپنی ډالر د (پوند) په بدل کي خرڅوي کمپنی په منځ کي دا لاندي اسانتیاوي پیدا کوي.

١_ د ټیلفون په وسیله اړیکه.

۲_ د هغه مارکېټ پیدا کول چې ته ناست او کاروبار دې چا لاندوي.

۳_ دانټرنیټ اسانتیا.

۴_ نوې زره د ضمانت پر ډول او د دې څخه پر ته څو نورې اسانتیاوې بیا چې کله یو وار د پیسو خرڅول او رانیول کیږي نو کمپنی یو څو خاص پیسې په د مزدورۍ د کمیش په ډول اخلي او که د پیسو رانیولو وروسته په خرڅولو کې ځنډ راسي نو دورځې کمپنی د دې د حساب په برابر یو څه مزدوري اخلي.

زموږ د فکر په اساس دا کاروبار په ښکاره صحت لري، خو پر دغه کاروبار یو څو سوالونه کیږي:

۱_ **سوال:** دا دئ چې دلته پر پیسو قبضه نه کیږي حال دا چې د پیسو په رانیولو او خرڅولو کې قبضه کول ضروري ده یعنی د خرڅولو او رانیولو په وخت پیسې د هغه سړي یا د هغه دوکیل سره نه وي بلکې د هغه په (اکاونټ) کې لیکل کیږي؟

الجواب: د دې جواب دا دئ چې کله زید په هغو پیسو چې د ده په (اکاونټ) کې دي خرڅول او رانیول کولای سي نو دا داسي بلل کیږي لکه حکمي قبضه که څه هم حقیقي قبضه خو نه سته، د معاییر شرعیه په نوم کتاب چې اوو پښتو (۲۷) محققینو د فتوی خاوندانو ترتیب کړی دئ په هغه کې داسي لیکلي دي:

يتحقق القبض بحصوله حقيقة أو حكماً وتختلف كيفية قبض الأشياء بحسب حالها واختلاف الأعراف وبما يكون قبضاً لها، إذا أودع في حساب العميل مبلغ من المال مباشرة أو بحوالة مصرفيه إلى آخر ما قال.... (معايير شرعيه، ص ۱۲۲).

د دې عبارت څخه معلومیږي که دیو چا په اکاونټ یا کاته کې د پیسو داسي راتلل یا نقلول چې دی په هغه سره تجارت کولای سي حکمي قبضه ده.

په شرح عنایه کې دي:

إن الفائدة المطلوبة بالعقد إنما هي التمكن من التصرف وذلك يترتب على التعيين فلا يحتاج إلى القبض. (شرح العناية على هامش فتح القدير: ۷/ ۱۸، دار الفكر).

دعصر حاضره کي پیچیده مسائل نومي کتاب کي يې ليکل دي:
دبانک په کتابچه کي نوشته کول سړی په حق کي د قبضې د حکم ثابتولو له پاره داعتبار وړ وي چي يوه (روپی) دبلي (روپی) په مقابل کي بدلول وغواړي بنايي که دغه سودا د ده مقصد وي چي دغه سړی يې بانک ته ورکوي يا دبانک په جمعه سوي پیسو کي وي. (عصر حاضر کی پیچیده مسائل کا شرعی حال، مرتب قاضی مجاهد الاسلام قاسمی صاحب:صـ ۲۳۲).

۲_ سوال: چي د کمپنی شخه اخیستل سوي پیسې د زيد پر ذمه قرض دي ځکه چي يوازي دغه روپی د زيد په (اکاونټ) کي نوشته کيږي او کم پونډونه چي ده رانيولي دي هغه هم د ده په کاونټ کي ليکل کيږي يعنی پور دئ نو د (بيع الدين باالدين) په سبب دا سودا ناروا ده.

الجواب: کله چي دا خبره معلومه سوه چي په (اکاونټ) کي د پيسو حکم دا دئ چي دې ته قبضه حکمي ويل کيږي او په دې سره دی خرڅول او رانيول هم کولای سي يعنی تصرف کولو باندي پوره بر لاسي دئ نو بيا دا ځنګه بيع الدين بالدين سوله، بلکي ډالر خو مخکي لا د ده په (اکاونټ) کي ليکل سوی وو او حکمي قبضه حاصله وه اوس د (پونډ) د درج کولو څخه هغه هم په قبضه کي راغلل نو بيع الدين بالدين صورت نه راغلئ او د ناروا ويلو هيڅ دليل يې نه سته.

۳_ سوال: دا دئ چي کومه مزدوري کمپنی اخلي په ظاهره هغه د دغه پور په سبب اخلي چي کمپنی ورکړی دئ نو ځکه دا سودي معامله ده او ناروا سوله؟

الجواب: د دې جواب دا دئ چي دا د دلالی مزودري سوه چي د دواړو طرفو څخه اخيستل کيږي او د دواړو خواوو څخه مزدوري اخيستل روا ده، ځکه کمپنی خرڅول او رانيول او داسي نوري اسانتياوي رامنځ ته کوي نو ځکه د خپل خدمت مزدوري اخلي او د دې اجازه ورته ورکول په کار دي بنايي د فقهې په کتابو کي دا مسئله ذکر سوې ده چي له دواړو خواوو څخه د فيصدی په حساب سره مزدوري اخيستل روا ده.

وګورئ په احسن الفتاوی کي دي:

سوال: د دلالی مزدوري د دواړو خواوو څخه اخيستل روا دي او که نه؟

الجواب: ومنه الصدق والصواب: روا دي په دې شرط چي په صاف ډول مزدوري سره معلومه کړي.

په فتاوی شامي کي وايي: قال فی الشامية:من البزازية إجارة السمسار والمنادي والحمامي والصكاك وما لا يقدر فيه الوقت ولا العمل تجوز. (ردالمحتار، كتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة، ٦/ ٤٧). (احسن الفتاوی:٧/ ٢٧٢).

دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (ردالمحتار:٤/ ٥٦٠، سعيد، فتاوی محموديه:٢٥/ ٢٨٦، نظام الفتاوی:١/ ٢٩٧، ومحمود الفتاوی:٣/ ٨٥).

نو ځکه دا مزدوري اخيستل په سود او قمار کي داخل نه دي، بلکي د دلالی د مزدوری په ډول روا ده.

۴_ او بل دا چي کمپنی دا شرط لګوي چي زيد دې د پور مال په خپله کوم مارکيټ کي استعمال کي دا روا دئ لکه د قرض د ساتني له پاره رهن اخيستل يا کفيل اخيستل چي روا دي د قرض له پاره حواله او کفاله د قرضو د ټينګوالی له پاره وي؟

۵_ او همداسي يو سوال دا هم کيږي چي کمپنی د خرڅونکي او رانيوونکي له پاره وکيل وي اوس په ښکاره مسئله دا ده چي يو سړي د خرڅونکي او رانيوونکي دواړو په يوه وخت کي وکيل نه سي کېدلای؟

الجواب: **د دې جواب دا دئ چي د مؤکل په اجازه سره يو سړی د بايع او مشتري د دواړو وکيل کېدلای سي.**

وګوري علامه شامي رحمه الله عليه فرمايي:

وفيه الوكيل بالبيع لا يملك شراءه لنفسه لأن الواحد لا يكون بائعاً ومشترياً فيبيعه من غيره ثم يشتريه منه، وإن أمره الموكل أنه يبيعه من نفسه أو أولاده الصغار أو ممن لا تقبل شهادته فباع منه جاز. (فتاوی الشامی:٥/ ٥٢٣، باب الوكالة بالبيع والشراء، سعيد – وكذا فی البحر الرائق:٧/ ١٦٧، فصل فی الوكيل بالبيع، كوئته).

٦_ که چیري زید د پیسو په خرڅولو کي څند وکړي نو دی به هره ورځ یو څه ورکوي او دا سود دئ او د دې څخه ځان ساتل ضروري دي، که دا خبره لیري کړي معامله به صحیح سي. والله ﷻ اعلم.

د سپینو زرو ګتمۍ د غمي سره د خرڅولو حکم

سوال: که چیري یو چا د سپینو زرو ګتمۍ خرڅه کړله او په ګتمۍ کي غمی وو او دواړه یې د سپینو زرو په عوض د دوو سوو درهو نغدو او یو څه پور خرڅه کړله نو دا سودا به صحیح وي او که نه؟ او په دې کي به د جلا کېدلو د امکان او نه امکان څخه څه تاوان پیدا کیږي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي چي په ګتمۍ کي کومه اندازه سپن زره دي د هغو په اندازه ثمن د سودا په مجلس کي قبض کول ضروري دي، که یې اداء نه کړي او بېله ضرره غمې له ګتمۍ څخه جلا کېدئ نو صرف په غمي کي سودا صحیح کیږي او که بېله ضرره نه سوای جلا کېدلای نو په دواړو کي به بیع فاسده وي، یعني که چیري یو چا ګتمۍ خرڅه کړه چي په هغې کي غمی وو په دو سوه درهمه او یو څه نغدي او یو څه پور، نو که چیري د دوو سوو درهمو د سپیو زرو اندازه د ګتمۍ د سپینو زرو تر اندازې زیات وه او رانیوونکي ټولي پیسې اداء کړې یا یوازي د ګتمۍ پیسې اداء کړلی او هغه نوري پیسې یې پور وې نو په دې دواړو صورتو کي بیع روا ده او که مشتري هیڅ پیسې اداء نه کړې او دواړه سره جلا سول نو که غمی د ګتمۍ څخه په اسانۍ سره جلا کېدلای سوای نو یوازي د غمي بیع صحیح ده د ګتمۍ د کړی بیع فاسده ده او که جلا کېدل یې امکان ونه لري نو په دواړو کي بیع فاسده ده.

وګورئ په فتاوي عالمګیري کي راځي:

وإذا باع الرجل من آخر حلي ذهبٍ فيه لؤلؤ وجوهر بدنانير وقبض المشتري الحلي ....فإن كانت الدنانير التي هي ثمن أكثر من الذهب الحلي فإنه يجوز البيع في الذهب والجوهر ثم بعد ذلك إن نقد الثمن كله قبل أن يتفرقا فالعقد ماضٍ على الصحة وكذلك إن نقد حصة الذهب الذي في الحلي ، وإن لم ينقد شيئًا حتى تفرقا فالعقد فيما يخص الحلي من الذهب

يفسد وفيما يخص الجوهر إن كان الجوهر بحيث لا يمكن تخليصه إلا بضررٍ يفسد ، وإن أمكن تخليصه من غير ضررٍ لا يفسد العقد في الجوهر هكذا في المحيط . (الفتاوى الهندية:٣/ ٢٢٢، الفصل الثانى فى بيع السيوف المحلاة، كتا الصرف).

درمختار كي راځي:

من باع سيفاً حليته خمسون.... فباعه بمائة وقد نقد خمسين فما نقد فهو ثمن الفضة.... فإن افترقا من غير قبضٍ بطل في الحلية فقط وصح في السيف لعدم اشتراط قبض ثمنه فى المجلس إن يخلص بلا ضرر وإن لم يخلص إلا بضرر بطل أصلاً لتعذر تسليم السيف بلا ضرر كبيع جذع من السقف، نهر.(الدر المختار مع الشامى:٥/ ٢٦٢، سعيد).

په هدايه كي راځي:

لو باع سيفاً محلى بمائة درهم وحليته خمسون ودفع من الثمن خمسين جاز البيع .... فإن لم يتقابضا حتى افترقا بطل العقد في الحلية لأنه صرف فيها وكذا في السيف إن كان لا يتخلص إلا بضرر وإن كان يتخلص بغير ضرر جاز البيع في السيف وبطل في الحلية . (الهداية:٣/ ١٠٦، كتاب الصرف).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (المبسوط اللامام السرخسى:١٤/ ١٨، كتاب الصرف، ادارة القرآن، والمحيط البرهانى:٨/ ٢٣٢، كتاب الصرف: مكتبه رشيديه). والله تعالى اعلم.

د حكومت ټاكل سوي قيمت په خلاف د پيسو خرڅولو حكم

سوال: كه څيري د حكومت د ټاكل سوي قيمت څخه زياتوالى يا كموالي سره افغانى د ډالر په عوض كي خرڅ كړل سي نو څه حكم يې دئ؟

الجواب: په دې صورت كي په روا كېدلو كي يې هيڅ خبره نه سته ځكه چي خلاف جنس په سودا كي كموالى او زياتوالى سره روا دئ خو د قانون خلاف كار وسو او د خپل ځان ابرو ساتل هم ضروري

ده که چیري د عزت تاوان وي نو داسي کار نه کول په کار دي او دلږ پیسو له پاره د ځان عزت په خطر کي اچول ښه او معقوله خبره نه ده.

وګورئ په فقهي مقالات کي راځي:

د حکومت د ټاکل سوي قیمت پر خلاف کمبود او یا زیادت کول سود نه دئ ځکه چي دواړي پیسې د جنس په اعتبار سره مختلفي دي او د مختلف الاجناس پیسو په بدلولو کي کمبود او زیادت روا دئ.

او د دې کمبود او زیادت په شریعت کي څه اندازه نه ده ټاکل سوې او دا د دواړو خواوو په خپل منځ کي په خوښۍ باندي موقوف ده خو پر دې د تسعیر احکام جاري کیږي نو د کومو فقهاوو په نزد د حکومت له طرفه د شیانو قیمت ټاکل روا دي په پیسو کي به هم روا وي، نو ده ته به د حکومت د دې امر مخالفت کول روا نه وي (په دې شرط چي اسلامي حکومت وي او په اسلامي اصولو باندي روان وي او د اوسنیو د حکومتونو په ډول نه وي) خو دوهم طرف ته ودې ته سود ویل او حرام بلل روا نه دي. (فقهی مقالات:۱/ ٤٠).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (فتاوی محمودیه:۱٦/ ١٤٨، فاروقیه او فتاوی رحیمیه:۹/ ۲۲۲، کفایة المفتی:۷/ ۳۵٦). والله تعالی اعلم.

د بهرني هیواد د پیسو د تجارت حکم

سوال: د بهرني هیواد د پیسو (foreiqn currency) خرڅول او رانیول څنګه دي؟ که چیري یو مسلمان دا تجارت کوي او نورو مسلمانانو ته په دې تجارت کي (investment) معنا دا چي د پیسو مصرفولو حکم ورکوي نو په داسي ځای کي د پیسو مصرفولو ته په حلال ځای کي مصرفول ویل کیږي او که نه؟

الجواب: د بل هیواد پیسې (foreiqn currency) خرڅول روا دي او په دې کي تفاضل (زیادت) هم روا دئ ځکه د مختلفو هیوادو پیسو ته مختلف الجنس ویل کیږي او زموږ په زمانه کي د پیسو نوټ ثمن حقیقي نه دئ بلکي ثمن عرفي دئ نو دا کار وبار روا دئ پر دې اساس چي په

دې کاروبار کي (investment) يعني پيسې مصرفول هم صحيح دي او دا پيسې به په حلال ځای مصرفول بولو. د نوموړي مسئلې دليلونه مخکي په تفصيل سره تېر سوي دي. والله تعالیٰ اعلم.

د پنځو رېند د سکو د کمبود او زيادت سره د خرڅولو حکم

سوال: څنګه چي زموږ پخوانی باچا (نيلسن منديلا) نوي (۹۰) کالو ته رسېدلی دئ (نو د زرو)، (Reserve) بانک خاوندانو د رېنډ د پنجي پر سکه د هغه تصوير جوړ کړ دغه سکي يې په يوه خاص اندازه سره راکښلي دي که دغه پيسې د جنوبي افريقا د بانکو څخه را واخلي نو د هغو قيمت به هغه پنځه رينده وي خو په نورو هيوادو کي د دې په بدل کي زر رينده هم لاس ته راځي ځکه پر هغو عکس او هغه مشهور دئ او خلک داسي شيان جمعه کوي نو ايا زه دغه پيسې دلته رانيسم او بل ځای يې خرڅولای سم؟ ايا دا روا ده او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که د دې رېند څخه پرته د نورو پيسو په بدل کي کمبود او زيادت سره خرڅ سي بالکل روا او صحيح دئ او که د زيات رېند په مقابل کي سودا سي نو په دې کي د علماوو اختلاف دئ ځيني مفتيان يې روا بولي ځکه چي دې ته د حقيقي ثمن حيثيت حاصل نه دئ، نو د امام ابو حنيفه رحمه الله او امام ابو يوسف رحمه الله په قول د دې ګنجائش سته.

په هدايه کي راځي:

ويجوز بيع الفلس بالفلسين بأعيانهما عند أبي حنيفة رحمه الله وأبي يوسف رحمه الله وقال محمد رحمه الله لايجوز.... ولهما أن الثمنية في حقهما تثبت باصطلاحهما إذ لا ولاية للغير عليهما فتبطل باصطلاحهما وإذا بطلت الثمنية تتعين بالتعيين .(الهداية:۳/ ۸۱، باب الربا).

په فقهي مقالات کي راځي:

امام ابو حنيفه رحمه الله او امام ابو يوسف رحمه الله د قول پر برابر په دې پيسو کي عمل کېدلای سي چي په ذاتي ډول يې دغه ماده مقصد وي لکه تا به ليدلي وي چي د ځيني خلکو دا خوښ وي چي د نورو هيوادو سکي او د پيسو نوټونه د خپل ځان سره ساتي او د دې جمع کولو څخه يې مقصد بدلون يا سودا يا په دې سره نوري فائدې لاسته راوړل نه وي خو يوازي د يوه يادګار په شکل د دې له پاره جمع کوي چي که په راتلونکي زمانه کي دا پيسې بندي سي نو دغه پيسې به د ده سره د يوه يادګار

په شکل پاته سي، په ښکاره سره په دې ډول پیسو کي د دوی دواړو په قول په عمل کولو سره په کمبود او زیادت سره د (خرڅولو) بدلون ته د روا ویلو امکان کېدلای سي. (فقهی مقالات:١/ ٣٧).

او که یې چیري په حیثیت د ثمن هم رانیسي لکه د زاړه نوټ په بدل کي د نوي نوټ کمبود کله کله راځي دا هم د ځیني مفتیانو کرامو په نزد روا دئ .

وګورئ: په نظام الفتاوی کي راځي:

نوټ نه کیلي دئ او نه وزني بلکي عددي دئ نو ځکه یې په کمبود او زیادت سره پېرودل روا دي. (نظام الفتاوی: کتاب المعاملات:١/ ٢٩٩).

په فتاوی فریدیه کي راځي:

سوال: که چیري یو سړی (د زړو لوټ) د لسو روپو د لوټ سره سودا کي نو ایا دا روا ده؟

الجواب: څنګه چي دا دواړه د کاغذ نوټونه دي نه د سپینو زرو او سرو زرو نو دغه سودا په شریعت کي ناروا نه ده او سود نه دئ څنګه چي د دوی دواړو ذاتي قیمت رواجي دئ او اعتباري او دولتي (حکومتي) قیمت غیر معمولي وي نو بیا یې دغه بدلون عرفاً ممنوع وي نه چي شرعاً همدارنګه ډالر ریزه، ټکټ او کاغذي روپۍ بدلونه په زیادت سره عرفي ممنوع ده نه شرعي ممنوع. (فتاوی فریدیه:٢/ ٦٧٧). د دې مسئلې تفصیلي بیان مخکي تېر سوی دئ هلته یې کتلای سئ. والله تعالیٰ اعلم.

د سپینو زرو په کمبود او زیادت سره د خرڅولو حکم

سوال: زید سره دوویشته (٢٢) کیرټو او پنځه (٥) تولي سرو زرو زړه ګېڼه ده او و زرګر ته ورغئ او هغه ته یې وویل چي ما ته فلانی ماډل نوې ګېڼه د پنځه تولو سرو زرو راجوړه کړه زرګر ورته وویل ته به د خپلي ګېڼي سره زیات نور دري زره افغانۍ ما ته راکوي ایا دا معامله صحت لري او که نه؟

الجواب: دا معامله سودي ده او ناروا ده، خو مشتري دي خپل ګېڼه مثلاً په پنځوس زره باندي وپلوري او درو پنځوس زره باندي دي نوې ګېڼه رانیسي دا معامله به صحیح او روا وي.

وګورئ د مسلم شریف په شرح کي راځي:

قوله ﷺ: « لا تبيعوا الذهب بالذهب ولا الورق بالورق إلا سواء بسواءٍ » قال العلماء: هذا يتناول جميع أنواع الذهب والورق من جيد ورديء، وصحيح ومكسور، وحلي وتبر، وغير ذلك، وسواء الخالص والمخلوط بغيره، وهذا كله مجمع عليه. (شرح الامام النووى لصحيح مسلم:١١/ ١٢، بيروت).

وانظر للمزيد: (المؤطا، ص ٥٢٨، نور محمد كتب خانه – والمصنف لعبد الرزاق:٨/ ١٢٥، ادارة القرآن والعلوم الاسلامية).

په مبسوط کي راځي:

حديث أنس بن مالكٍ رضي الله عنه قال: أتي عمر بن الخطاب رضي الله عنه بإناءٍ خسرواني قد أحكمت صنعته فبعثني به لأبيعه فأعطيت به وزنه وزيادةً، فذكرت ذلك لعمر رضي الله عنه فقال: أما الزيادة، فلا، وهذا الإناء كان من ذهبٍ أو فضةٍ وفيه دليل على أنه لا قيمة للصنعة في الذهب والفضة عند المقابلة بجنسها؛ لأنه لم يجوز الاعتياض عنها، وما كان مالًا متقومًا شرعًا فالاعتياض عنه جائز فعرفنا أنه إنما لم يجوز؛ لأنه لا قيمة للصنعة في هذه الحالة شرعًا. (المبسوط للامام السرخسي:١٤/ ٤، كتاب الصرف، ادارة القران).

په فتاوی هنديه کي راځي:

وإن اشترى خاتم فضةٍ أو خاتم ذهبٍ فيه فص أو ليس فيه فص بكذا فلسًا وليست الفلوس عنده فهو جائز تقابضا قبل التفرق أو لم يتقابضا لأن هذا بيع وليس بصرفٍ كذا في المبسوط.

(الفتاوى الهندية:٣/ ٢٢٤).

په مبسوط کي راځي:

ولابأس ببيع الفضة جزافاً بالذهب أو بالفلوس أو بالعروض لانعدام الربا بسبب اختلاف الجنس. (المبسوط للامام السرخسی:١٤/ ٦٩، کتاب الصرف، ادارة القرآن).

وانظر: (رد المحتار:٥/ ١٧٩، سعيد – والبحر لرائق:٦/ ١٩٤ – وفتح القدير:٦/ ٢٧٨، دار الفكر – والمحيط البرهانی:٨/ ٣٠٥).

په جدید معاملات شرعي احکام نومي کتاب کي راځي:

دوخت رواج کاغذي نوټ او سکې د سپينو او سرو زرو په حکم کي نه دي او نه د سپينو او سرو زرو رسېدونه دي نو د دې په ذريعه سپين او سره زر رانيولای سي که ګڼي رانيسي يا درهم پر دوی باندي د بيع صرف احکام نه چليږي. (جدید معاملات کی شرعی احکام:١/ ١٢٨).

په التعليق الممجد کي دي:

قوله عليه السلام: لاتفعل بع تمرک بالدراهم ثم اشتر بالدارهم جنيباً، وقال: في الميزان مثل ذلك، أي قال: في ما يوزن إذا احتيج إلى بيع بعضه ببعض مثل ذلك القول الذي قال في التمر المكيل أي يباع غير الجيد الموزون بثمن ثم يشترى به موزون جيد وهذ ..... قوله: بع تمرك إلخ أشار إليه بما يجتنب به عن الربا مع حصول المقصود، وبه احتج جماعة من فقهائنا وغيرهم على جواز الحيلة في الربا وبنوا عليها فروعاً.(التعليق المجد على هامش المؤطا للامام محمد، ص ٣٥٤، قديمی کتب خانه).

وكذا فی (تكملة فتح الملهم:١/ ٥٦٥ – والمبسوط للامام السرخسی:٣/ ٢٠٩ – وجديد معاملات کی شرعی احکام:١/ ١٣٢ – وفتاوی عثمانی:٣/ ١٥٩). والله ﷻ اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ وأحل الله البيع وحرم الربا ﴾. (سورة القبرة، الآية:۲۷۵).

قال الله تعالى: ﴿ الذين يأكلون الربا لا يقومون إلا كما يقوم الذي يتخبطه الشيطان من المس﴾. (سورة البقرة، الآية:۲۷۵).

قال الله تعالي: ﴿ يا أيها الذين آمنوا اتقوا الله وذروا ما بقي من الربا إن كنتم مؤمنين (۲۷۸) فإن لم تفعلوا فأذنوا بحربٍ من الله ورسوله ﴾ . (سورة البقرة:۲۷۸-۲۷۹).

ابواب الربا

عن جابر رضي الله عنه قال: « لعن رسول الله ﷺ آكل الرباوموكله، الخ» (رواه مسلم فی باب الربا).

عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: الربا ثلاثة وسبعون بابا أيسرها مثل أن ينكح أمه وإن أربى الربا عرض الرجل المسلم. (المستدرک للحاکم فی کتاب البيوع).

اول...... باب

د سود د احکامو بیان

د جنوبي افریقا د مسلمانانو اوسېدونکو له پاره د سود کولو بیان

سوال: ایا د جنوبي افریقا د مسلمان له پاره دلته د جنوبي افریقا د کفارو د بانک څخه سود اخیستل روا دي او که نه؟

الجواب: جنوبي افریقا دار الامن دئ او د دار الحرب نه دئ که د دار الحرب هم وي بیا هم د هغه ځای د اوسېدونکو له پاره د کفارو د بانک یا کافر څخه سود اخیستل ناروا دي، خو که د جنوبي افریقا مسلمان وچین، امریکا یا روس ته ولاړ سي او هلته دیو څه وخت اوسېدلو (اقامت) اختیار کي او د

هغه ځای د كفارو سره د هغو په خوشحالي سره يا د كافر د بانک څخه فائدي واخلي نو كه هغو هيوادو ته مونږ دار الحرب ووايو نو د طرفينو په نزد دا بيع روا ده. والله ﷻ اعلم.

په دار الحرب كي د سود حكم

سوال: فقهاوو ليكلي دي چي مستأمن مسلمان چي (ويزه) واخلي او دار الحرب ته ولاړ سي او نوي مسلمان سوي حربي دواړه له كافر حربي څخه سود اخيستلای سي، همداسي اصلي مسلمان چي د دار الحرب اوسېدونكی وي هغه په دار الحرب كي د حربي څخه سودا اخيستلای سي خو د دار الحرب اصلي مسلمان يا مستأمن حربي ته سود نه سي وركولای اوس مونږ د جنوبي افريقا اصلي مسلمان اوسېدونكی چي د دوو كلو څخه دلته اوسيږي هغه د كفارو څخه سود اخيستلای سي او كه نه؟

الجواب: داحنافو فقهاوو په دې مسئله كي اختلاف دئ د طرفينو په نزد د حربي څخه سود اخيستل په څو شرطو باندي روا دئ خو جمهورو فقهاوو او درو امامانو او امام ابو يوسف رحمه الله په نزد سود اخيستل په هيڅ صورت كي روا نه دي كه څه هم له حربي څخه وي.

وګورئ هدايه كي راځي:

ولا بين المسلم والحربي في دار الحرب خلافا لأبي يوسف رحمه الله والشافعي رحمه الله لهما الاعتبار بالمستأمن منهم في دارنا، ولنا قوله عليه الصلاة والسلام: « لا ربا بين المسلم والحربي في دار الحرب » ولأن مالهم مباح في دارهم فبأي طريق أخذه المسلم أخذ مالاً مباحاً إذا لم يكن فيه غدر بخلاف المستأمن منهم لأن ماله صار محظوراً بعقد الأمان. (الهداية:٣/ ٨٦).

په بدائع النصائع كي راځي:

إذا دخل مسلم أو ذمي دار الحرب بأمانٍ ، فعاقد حربيا عقد الربا أو غيره من العقود الفاسدة في حكم الإسلام جاز عند أبي حنيفة رحمه الله، ومحمدٍ رحمه الله،.... وقال أبو يوسف رحمه الله: لا يجوز للمسلم في دار الحرب إلا ما يجوز له في دار الإسلام .(بدائع الصنائع:٧/ ١٣٢، كتاب السير، سعيد).

(وجه) قوله أن حرمة الربا ثابتة في حق العاقدين ، أما في حق المسلم فظاهر

وللاستزادة: (بحر الرائق:٦/ ٢٢٦، كوئته – وتبيين الحقائق٤/ ٧٤٢ – وجمع الانهر شرح ملتقى الابحر:٥/ ١٨٦ – ومنحة الخالق على هامش البحر الرائق:٦/ ٢٢٦، كوئته –وردالمحتار:٥/ ١٨٦، باب الربا، سعيد – وفتح القدير:٧/ ٣٨، باب الربا، دار الفكر).

ځيني متاخرينو احنافو په دې مسئله کي د جمهورو وقول ته ترجيح ورکړې ده او د حضرات طرفينو مذهب يې د څو وجهو څخه مرجوح بللي دئ د ترجيح وجوه يې وګورئ:

١_ د علماوو په منځ کي د دار الحرب په تعريف کي ډېر اختلاف دئ نو په يقيني ډول باندي ويوه ځای ته دار الحرب نه سي ويل کېدای.

٢_ جمهور فقهاوو په نزد دار الحرب کي هم ناروا دئ د دې وجي څخه شک پيدا سو او د ربا په اړه د ربا شبهه هم ممنوع ده.

٣_ نصوص په عام ډول وسودي کار وبار ته ناروا وايي مثلاً ايت کريمه دئ: ﴿ وأحل الله البيع وحرم الربا ﴾. (سورة البقرة:٢٧٥).

همدارنګه سودي کار وبار کونکو ته الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ د جنګ اعلان کوي. ﴿ فإن لم تفعلوا فأذنوا بحربٍ من الله ورسوله ﴾. (سورة البقرة:٢٧٩).

د دې څخه پرته نور هم په قرآن او حديث کي داسي سخت وعيدونه راغلي چي سړي يې واوري د ربا د شبهي جرات هم نه سي کولای.

۴_ د جمهورو فقهاوو په قول کي احتياط دئ.

۵_ د جمهورو فقهاوو په قول باندي د عمل کولو په صورت کي ساتنه لاس ته راځي، خو چي هر ډول سي په دې وخت کي سود اخيستل مطلقا ناروا دئ.

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوی محموديه:١٦/ ٣٥٢، احسن الفتاوی:٧/ ٢٠، جديد فقہی مسائل:٤/ ٦٢، فتاوی بينات:٤/ ٩٦، کفايت المفتی:٨/ ١٠٣).

خو ځيني علماوو د طرفينو قول اختيار کړی. وګورئ: (مجموعة الفتاوی:٢/ ١٧٠، کتاب الربا، چاپ ارام باغ کراچی، وامداد الاحکام:٣/ ٤٥١ ـ ٤٥٢).

د دار الحرب پېژندنه:

د دار الحرب په پيژندنه کي د عالمانو هر ډول قولونه وګورئ:

په جامع الرموز کي راځي:

دار الحرب ما خافوا فيه من الكافرين. (جامع الرموز:٥/ ٥٥٦، باب الجهاد).

په خزانة المفتين کي راځي:

دار الإسلام لاتصير دار الحرب إلا باجراء أحكام الشرك فيها، وان يكون متصلة بدار الحرب لايكون بينهما وبين دار الحرب مصر آخر للمسلمين، ولايبقى فيها مسلم أو ذمى آمناً بالامان الأول، فما لم توجد هذه الشرائط، لاتصير دار الحرب، ومعنى قولنا: أن لايبقى مسلم أو ذمي آمناً بالأمان الأول، أن لايبقي فيها مسلم أو ذمي آمناً على نفسه إلا بأمان المشركين، وقالا: إذا أجروا فيها أحكام الشرك فإنها تصير دار الحرب، سواء كانت متصلة بدار الحرب أو لم تكن، بقي فيها مسلم أو ذمي آمناً بالأمان الأول أو لم يبق..... (خزانة المفتين بحوالة مجموعة الفتاوى:١/ ١٤٠، كتاب العلم والعلماء، آرام باغ كراچى).

په فتاوي بزازيه كي راځي:

وذكر الحلواني: إنما تصير دار الحرب بإجراء أحكام الكفر، وأن لايحكم فيها بحكم من أحكام الإسلام، وأن يتصل بدار الحرب، وأن لايبقى فيها مسلم ولا ذمي آمناً بالأمان الأول.... فإذا وجدت الشرائط كلها صارت دار الحرب، وعند تعارض الدلائل والشرائط يبقى ما كان على ما كان أو يترجح جانب الإسلام احتياطاً. (الفتاوى البزازية بهامش الهندية:٦/ ٣١٢، كتاب السير).

په فتاوي قاضي خان كي راځي:

إذا أجرى أهل الحرب في بلدة من بلاد أهل الإسلام أحكام أهل الحرب، تصير دار الحرب كيف ما كان. (فتاوى قاضى خان بهامش الهندية:٣/ ٥٨٤).

په بدائع الصنائع كي راځي:

لاخلاف بين أصحابنا فى أن دار الكفر تصير دار الإسلام ؛ بظهور أحكام الإسلام فيها واختلفوا في ؛ دار الإسلام ، إنها بماذا تصير دار الكفر، قال أبو حنيفة رحمه الله: إنها لا تصير دار الكفر إلا بثلاث شرائط: أحدها : ظهور أحكام الكفر فيها، والثاني : أن تكون متاخمةً لدار الكفر والثالث : أن لا يبقى فيها مسلم ولا ذمي آمنًا بالأمان الأول ، وهو أمان المسلمين، وقال أبو يوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله : إنها تصير دار الكفر بظهور أحكام الكفر فيها .(بدائع الصنائع:٧/ ١٣٠، سعيد).

په فتاوى شامي كي راځي:

لو أجريت أحكام المسلمين وأحكام أهل الشرك لاتكون دار حرب.

وفي الدر المختار: ودار الحرب تصير دار الإسلام بإجراء أحكام أهل الإسلام فيها كجمعةٍ وعيدٍ وإن بقي فيها كافر أصلي وإن لم تتصل بدار الإسلام، درر . (فتاوى الشامى مع الدر المختار: ٤/ ١٧٥، سعيد).

په ایضاح النوادر کي دي:

دار الجمهوريه داسي حکومت ته ويل کيږي چي د هغو قدرت په عام ډول نه د مسلمانانو په لاس کي وي او نه د کفارو په لاس کي وي او همداسي د پلازميني ونژدې ته نه ټول مسلمانان وي او نه ټول کفار وي، خو د مسلمانانو او کافرانو په منځ کي ګډ حکومت چلولو او وطني حقوق لاس ته راوړلو په قانوني ډول باندي معاهده سوې وي چي هره خوا به (انتخابات) ټاکني کوي او چوکی لاس ته راوړلو او حکومتي چارو کي د برخي اخيستلو به په پوره توګه حق وي که څه هم ديو قوم د زياتوالي له کبله په پلازميني کي د هغه قوم کسان هم زيات وي خو د رايي ورکولو حق و هر چا ته برابر وي او هر قوم ته په خپله مذهبي معامله کي په عام ډول باندي ازادي حاصله وي نو داسي حکومت ته نه دار الاسلام ويل کېدای سي او نه دار الحرب بلکي دار الجمهورية ورته ويل کېدلای سي همداسي دار الامن يا دار العهد يا (سيکولر) پراخ بنسټ هيواد سره هم نومول کېدلای سي.

(ایضاح النوادر: ١/ ٨٨).

وللاستزادة انظر: (الفقة الاسلامى وادلته: ٨/ ٣٩، دار الفكر - والفتاوى الهندية: ٢/ ٢٣٢، وجديد فقهى مسائل: ٤/ ٧٢-٧٤ - جديد فقهى مباحث: ٢/ ٣٥٣، ٣٧٢، ٤٧٣-٤٧٤).

د جمهورو عامو علماوو په نزد په دار الحرب کي هم سود اخيستل ناروا دي.

په اعلاء السنن کي دي:

فقه اشتهر عن مالک رحمه الله والشافعي رحمه الله وأحمد رحمه الله وأبي يوسف رحمه الله وغيرهم من جماهير الفقهاء تحريمهم الربا بين المسلم والحربي في دار الحرب.... وقد اتفقت الأمة على أن الخروج من الخلاف مستحب قطعاً، لأن خلاف الأئمة لاسيما خلاف

جمهورهم يورث الشبهة فى الجواز، وقد قال النبي ﷺ: « الحلال بين والحرم بين وبينهما شبهاتف فمن اتقى الشبهات فقد استبرأ لدينه » لاسيما وكون الهند دار الحرب، عند الإمام محل نظر بعد، فالشبهة إذن قوية غير ضعيفة، والتوقي عنه واجب من غير ريبة. (اعلاء السنن: ١٤/ ٣٧٩، ادارة القرآن).

همدغه ډول وجنوبي افريقا ته دار الحرب ويل محل نظر (مشكل) او د حقيقت خلاف خبره ده.
په امداد المفتين كي دي:
بناغلو، صحابه وو او تابعينو او امامانو د سود په اړه په خپل وخت كي احتياط كړى دئ.

حضرت عمر فاروق اعظم رضي الله عنه **فرمايي،** « فدعوا الربا والريبة »: (رواه ابن ماجه فى باب التغليظ فى الربا). **معنا دا چي سود هم پريږدئ او د سود شک هم پريږدئ همداسي شعبي د حضرت عمر فاروق اعظم** رضي الله عنه **څخه روايت نقل كوي** ((تركنا تسعة أعشار الحلال مخافة الربا)). (مصنف عبد الرزاق: ٨/ ١٥٢، باب، طعام الامراء واكل الربا).

نو له همدې كبله د كفارو له بانكونو څخه د سود اخيستلو په اړه هم د مختلفو علماوو فتوى ته په كتلو احتياط پر دې دئ چي روا نه دئ. (امداد المفتين: ٢/ ٧٠٥).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوىٰ حقانيه: ٦/ ٢٠٩، عزيز الفتاوى: ١/ ٦٢١-٦٢٣، امداد الفتاوى: ٣/ ١٥٣-١٥٩، كفايت المفتى: ٨/ ٧٥، ايضاح النوادر: ١/ ٩٧).

لنډه دا چي جنوبي افريقا نه دار الاسلام ده او نه دار الحرب خو دار الامن دئ نو ځکه د بانک څخه سود اخيستل ناروا دي، نن سبا مسلمانان په كفري هيوادو كي ګذاره كوي تر خپلو اسلامي هيوادو يې خوښوي او خپل ځانونه په كفري هيوادو كي په امن بولي نو په هغو هيوادو كي به سود څنګه روا سي ګويا كه دا ستوګني له پاره د مسلمانو هيوادو څخه ښه او سود خوړلو له پاره دار الحرب دئ دا يو ډول چل دئ چي د شريعت له نظره صحيح نه دئ. والله تعالىٰ **اعلم.**

په دار الحر بَ کي د سود په اړه راجح قول

سوال: پـه دار الحـرب کـي د سود اخیـستلو پـه اړه داحنافو پـه قـول راجـح کـوم دئ او طـرفـینِ یـو حدیث: «لا ربـا بـین الـمسلم والـحربی فـی دار الـحرب » د دې څخـه دلیـل نیـسي ایـا دا حـدیث صحیح دئ او د دې څخه جواب دئ؟

الجواب: امام ابو یوسف رحمة الله علیه او جمهورو فقهاوو قول د دلیلونو له مخي قـوي او الاوفـق بـا الزمـان یعني برابر له وخت سره دي ځکه نن سبا په ډېرو هیوادو کي مسلمانان ژوند کوي او خپل عبادتونه او نور په ډېره اسانتیا سره کوي هغو ته د سود اخیستلو اجازه نـه سـته، بیـا د درو امامـانو پـه نزد د سود اخیستلو اجازه په دار الحرب کي هم نه سته .

د دوی د مذهب رعایت او دلائلو ته په کتو سره په هیڅ وخت کي د سود اجازه نه سته نو داحنافو مذهب دا قول د فتوی له پاره راجح بللی دئ.

وګورئ المغني د ابن قدامه فرمایي:

ویحرم الربا في دار الحرب ، کتحریمه في دار الإسلام وبه قـال مالـك رحمة الله علیه، والأوزاعـي ، وأبو یوسف رحمة الله علیه، والشافعي رحمة الله علیه، وإسحاق وقال أبو حنیفة رحمة الله علیه: لا یـجري الربـا بـین مسلمٍ وحربي في دار الحرب .(المغنی:٤/ ١٦٢، فصل حرمة الربا فی دار الحرب).

چي ناروا یې بولي د هغو دلیلونه وګورئ:

١ـ قرآن او حدیث کي مطلقاً د سود ناروا والی راغلی دئ او سخت وعیدونه هم موجود دئ.

١ـ قال الله تعالی : ﴿ وأحل الله البیع وحرم الربا ﴾. (سورة البقرة:٢٧٥).

٢ـ قال الله تعالی: ﴿ الذین یأکلون الربا لا یقومون إلا کما یقوم الذي یتخبطه الشیطان من المس ﴾. (سورة البقرة:٢٧٥).

٣ـ قال الله تعالي: ﴿ یا أیها الذین آمنوا اتقوا الله وذروا ما بقي من الربا إن کنتم مؤمنین (٢٧٨) فإن لم تفعلوا فأذنوا بحربٍ من الله ورسوله ﴾ . (سورة البقرة:٢٧٨-٢٧٩).

په صحيح مسلم شريف كي راځي:

عن جابر رضي الله عنه قال: لعن رسول الله ﷺ: آكل الربا وموكله، الخ. (وراه مسلم:٢/ ٢٨، باب الربا، قديمى).

عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: الربا ثلاثة وسبعون باباً أيسرها مثل أن ينكح أمه، وإن أربى الربا عرض الرجل المسلم. (المستدرك للحاكم:٢/ ٤٨، كتاب البيوع، دار ابن حزم).

وأخرج ابن أبي حاتم في تفسيره (٢/ ٥٥١) والشافعي عن عمرو بن الأحوص أن رسول الله ﷺ، قال: «ألا إن كل رباً كان فى الجاهلية موضوع عنكم كله.

لكه څنګه چي د شرابو نشو او زنا د ناروا والى نصوص عام مطلق دي او هغه بې له فرق كولو د دار الاسلام او دار الحرب كي پو رقم دئ همدارنګه د سود د ناروا والى حكم هم عام او برابر دئ.

٢_ حربي په دار الاسلام كي امن واخيستئ او راغئ نو څنګه چي د هغه مال د هغه سره د وعدې له كبله معصوم بلل كيږي او د ده څخه سود اخيستل روا نه دي همدارنګه چي مسلمان امن واخلي دار الحرب ته ولاړ سي نو د هغه وعدې په اساس د هغه مال په ساتل سوى وي.

٣_ د حضرت ابو بكر صديق رحمة الله عليه ديوې مشهوري قصې په اساس چي په قمار سره يې اوښ ګټلى وو نبي كريم ﷺ ته يې دا اوښ راوړستئ نو نبي كريم ﷺ د هغه د خيرات كولو حكم وكي.

«فجاء به رسول الله ﷺ، قال: تصدق به». (تفسير ابن كثير، سورة الروم بحواله ابن اى حاتم).

په دې قصه كي نبي كريم ﷺ بېله فرق كولو د دار الاسلام او دار الحرب د خيرات كولو حكم وفرمايه، په داسي حال كي چي په هغه وخت كي مكه دار الحرب وه خو حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه په مدينه منوره كي وو او اوښ حضرت ابو بكر رضي الله عنه ته مدينې ته ور واستول سو.

۴ _ نبي كريم ﷺ د حضرت ركانه رضي الله عنه سره د غيږ ايستلو او پهلواني د كتلو او بائللو په صورت كي د بزو شرط لګولي وو كله چي نبي كريم ﷺ درې ځله ماتي وركړ له او ده مبارک ته بزې وركول سوې نو ده بيرته وركړلې. « فقام عنه ورد عليه غنمه». (الاصابة، تحت ذكر يزيد بن ركانة:٦/ ٥١٤).

كه څه هم په هغه وخت كي ركانه رضي الله عنه مسلمان نه وو.

د روا بلونكوو دليلونو ته يوه كتنه:

١ _ اول دليل حديث دئ، مكحول رضي الله عنه د مبارک ﷺ څخه مرسلاً رانقل كړی دئ (لا ربا بين المسلم والحربي في دار الحرب).

الجواب: دا حديث مرسل دئ او جمهورو علماوو رد كړی دئ موږ د خروار د نمونې په ډول څو دليلونه وګورئ:

قال المحقق ابن همام رحمه الله في فتح القدير: وهذا الحديث غريب، ونقل ما روى مكحول عن النبي ﷺ أنه قال: ذلك قال الشافعي رحمه الله: قال أبو يوسف رحمه الله: إنما قال أبو حنيفة هذا لأن بعض المشيخة حدثنا عن مكحولٍ عن رسول الله ﷺ أنه قال: « لا ربا بين أهل الحرب » أظنه قال: « وأهل الإسلام » قال الشافعي رحمه الله: وهذا الحديث ليس بثابتٍ ولا حجة فيه، أسنده عنه البيهقي .... وهذا لا يفيد لمعارضة إطلاق النصوص إلا بعد ثبوت حجية حديث مكحول، وقد يقال: لو سلم حجيته فالزيادة بخبر الواحد لا تجوز. (فتح القدير:٧/ ٣٩، باب الربا، دار الفكر).

محقق سعدى چلپي د فتح القدير په حاشيه كي وايي:

أقول: قال ابن العز: قال في المغنى: هذا خبر مجهول لم يرو في صحيح ولامسند ولا كتاب موثوق به، وهو مع ذلک مرسل. ويحتمل أن المراد بقوله: لاربا النهي عن الربا كقوله تعالى: فلا رفث ولافسوق ولا جدال في الحج. انتهى. وعلى تقدير صحته لايصلح مقصداً

للمطلقات مثل لاتأكل الربا، إذ لايزاد الواحد على الكتاب. (حاشية فتح القدير:٧/ ٣٩، دار الفكر).

وقال العلامة العيني رحمه الله: هذا حديث غريب ليس له أصل. (البناية في شرح الهداية:٣/ ١٦٥).

وفي معرفة السنن والآثار: قال الأوزاعي: الربا عليه حرام في دار الحرب وغيرها .... وقال أبو يوسف رحمه الله: القول ما قال الأوزاعي وإنما أحل أبو حنيفة رحمه الله هذا لأن بعض المشيخة حدثنا عن مكحول، عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه قال: لا ربا بين أهل الحرب، أظنه قال: « وأهل الإسلام » قال الشافعي رحمه الله: القول كما قال الأوزاعي وأبو يوسف رحمه الله، وما احتج به أبو يوسف رحمه الله لأبي حنيفة رحمه الله ليس بثابت، فلا حجة فيه. (معرفة السنن والآثار للامام للبيهقي:٧/ ٤٧، باب بيع الدرهم بالدرهمين في ارض الحرب، كتاب السير، بيروت).

وكذا في الأم للامام الشافعي رحمه الله:٤/ ٣٧٩، بيع الدرهم بالدرهمين في ارض الحرب، دار الفكر - وفي نصب الراية لأحاديث الهداية:٤/ ٤٤).

وقال الإمام النووي: والجواب عن حديث مكحول أنه مرسل ضعيف فلا حجة فيه ولو صح لتأولناه على أن معناه لايباح الربا في دار الحرب جمعاً بين الأدلة. (المجموع شرح المهذب:٩/ ٣٩٢، باب الربا، دار الفكر).

وقال المحقق ابن قدامة الحنبلي رحمه الله: وخبرهم مرسل لا نعرف صحته، ويحتمل أنه أراد النهي عن ذلك، ولا يجوز ترك ما ورد بتحريمه القرآن، وتظاهرت به السنة، وانعقد

الإجماع على تحريمه ، بخبر مجهولٍ ، لم يرد في صحيحٍ ، ولا مسندٍ ، ولا كتابٍ موثوقٍ به ، وهو مع ذلك مرسل محتمل . (المغنى:٤/ ١٦٣ ، باب الربا والصرف، بيروت).

وفي حاشية الروض المربع شرح زاد المستقنع: وما روي « ولاربا بين المسلم وأهل الحرب» خبر مجهول، لايترک له تحريم مادل عليه الكتاب والسنة. (حاشية الروض لعبد الرحمن الحنبلی:ص ١٣٩٢).

وفي مطالب أولى النهى: وحديث مكحول .... رد بأنه خبر مجهول، لاتترک له تحريم مادل عليه القرآن والسنة الصحيحة. (مطالب اولى النهى لمصطفى السيوطى الحنبلی:٣/ ١٨٩، دمشق).

وفی الموسوعة الفقهية الكويتية: ذهب جمهور الفقهاء إلى أن الربا حرام في دار الحرب كحرمته في دار الإسلام، وقالوا: إن النصوص في تحريم الربا عامة، ولم يفرق بين دار ودار ولابين مسلم وغيره. (الموسوعة:٨٠٢٠٢، الربا فی دار الحرب).

٢ _ حضرت عباس ﷛ د بدر په غزا کي يا تر هغه وروسته په اسلام سره مشرف سوی وو خو ده هجرت نه وو کړی بيا په لسم (١٠هـ) کي په حجة الوداع نبي کريم ﷺ دغه اعلان وکړئ.

ربا الجاهلية موضوع وأول ربا أضعه ربانا ربا عباس بن عبد المطلب ﷛ فإنه موضوع كله. (رواه أبو داؤد:١/ ٢٦٣، كتاب البيوع).

گويا د حجة الوداع تر واقعي پوري نبي کريم ﷺ حضرت عباس ﷛ د سودي کاروبار څخه منع نه کئ دا ځکه چي مکه دار الحرب وه او په دار الحرب کي د حربيانو څخه سود اخيستل روا وو.

الجواب: علماوو د دې مختلف جوابونه ورکړي دي:

الف _ کېدلای سي چي ده مبارک ﷺ حضرت عباس ﷛ ته خصوصي اجازه ورکړې وي.

باء_ امام سبکي رحمه الله دا توجیه کړې ده چې د اسلام تر قبلولو څخه وروسته حضرت عباس رضی الله عنه پر سودي کار وبار کولو باندې څه دلیل نه سته او که یې چیري د اسلام تر قبلولو وروسته جاري ساتلی وي نو بیا کېدلای سي چې د ناپوهي په سبب ده کړی وي یا کېدلای سي چې دا حدیث د پاته سودي کار وبار په اړه وي چې هغه د حضرت عباس رضی الله عنه تر اسلام د مخه وو.

ج_ کېدلای سي چې حضرت عباس رضی الله عنه تر ناروا والي وروسته ربا بالنسیه پرایښې وي او ربالفضل یې روا بللې وي.

دال_ دا هم کېدلای سي چې تر دې وخته د سود ناروا والی سوی نه وو. ﴿ يا أيها الذين آمنوا اتقوا الله وذروا ما بقي من الربا إن كنتم مؤمنين ﴾. د دې آیت نزول وروسته سوی وي.

د دې قول تائید د دوو قصو څخه کیږي:

۱_ بنو ثقیف د اسلام د قبلولو په وخت کي څو شرطونه ولګول چې د هغو څخه یو دا وو چې د خلکو پر ذمه د دوی سودي پیسې پاته وي دوی ته به د هغو د لاسته راوړلو حق وي، نبي کریم ﷺ دا شرط ورسره منلی وو.

۲_ د مکې تر فتحې وروسته نبي کریم ﷺ حضرت عتاب بن اسید رضی الله عنه د مکې والي وټاکئ په هغه وخت کي د بنو عمر بن عمیر بن عوف سودي پیسې د بنو مغیره پر ذمه پاته وې، نو بنو مغیره چې مسلمان سوی وو، نو د پیسو د ورکولو څخه یې انکار وکاوو حضرت عتاب رضی الله عنه ومبارک ﷺ ته د دې قصې په اړه خط واستوئ په دې وخت کي دغه آیت نازل سول.

﴿ يا أيها الذين آمنوا اتقوا الله وذروا ما بقي من الربا إن كنتم مؤمنين ﴾.

که چیري دغه تاویلات مورږ قبول نه کړو نو بیا به دغه قصه خپله د احنافو د له پاره هم کافي نه وي ځکه (۸ هـ) کال فتح د مکې مکرمې وروسته دار الاسلام جوړ سوی وو ګواکي حضرت عباس رضی الله عنه د دار الاسلام تر جوړېدو وروسته هم سودي کار وبار جاري ساتلي وو حال دا چې دا بالاتفاق حرام دئ.

پورتني توضيحات ډاکټر نزديه حماد (جامعة القرى مکه مکرمه) په « احکام التعامل بالربا بين المسلمين وغير المسلمين » کي يو ځای کړي دي چي د هغو لنډيز مولوي خالد سيف الله صاحب په جديد فقهي مسائل کي نقل کړی دئ چي د همدغو ځخه يې استفاده کړې ده.

وګورئ: (جديد فقهى مسائل: ٤/ ٥٨-٦٢).

۳_ د طرفينو درېيم دليل دا دئ چي د حربي مال معصوم (ساتل سوی) او د احترام وړ نه دئ او د معصوم مال اخيستنه حرامه وي ځکه نو د حربي ځخه سود اخيستل روا دي؟

الجواب: د فقهاوو په اند دا منل سوي ده چي عهد او امان د مال د حفاظت له اسبابو ځخه دئ نو ځکه د دار الاسلام د اوسېدونکی (ذمي) ځخه سود اخيستل روا نه دي او دار الحرب ځخه راغلي حربي چي امان يې اخيستي وي او مستامن وي سود اخيستل هم روا نه دي نو بيا دار الحرب کي امن اخيستونکي مسلمان چي هلته ولاړ سي په دار الحرب کي ګواکي د ټولو اوسېدونکو سره ده په اجتماعي توګه عهد کړی دئ نو ځکه به د ده په حق کي د دوی مالونه محفوظ وي.

لنډه دا چي د داسي سود د رخصت په ورکولو سره قوي احتمال سته چي د شريعت د حدودو د عزت تصور دي د مسلمانانو په زړونو کي کرار کرار کم سي او دا دومره غټه او بده خبره ده چي يوازي دا د حرمت له پاره کفايت کوي، نو ځکه په دې مسئله کي د احنافو په مذهب کي د امام ابو يوسف رحمه الله قول ډېر قوي او د دې زماني له حالاتو سره مناسب دئ ځکه د امام ابو يوسف رحمه الله پر قول فتوی ورکول کيږي. (جديد فقهى مسائل نومی کتاب ځخه استفاد سوې ده: ٦٢/۴).

علامه شامي رحمه الله وايي چي په معاملاتو کي د امام ابو يوسف رحمه الله چي د قاضي القضاء پر منصب ناست وو د زياتو تجربو په سبب به د ده پر قول فتوی ورکول کيږي.

وګورئ: شرح عقود رسم المفتي کي دي:

وكل فرع بالقضا تعلقاً ﴿ قول أبي يوسف رحمه الله فيه ينتقى .

وفى القينة من باب المفتي: الفتوى على قول أبي يوسف رحمه الله فيما يتعلق بالقضاء لزيادة تجربته وكذا فى البزازية، من القضاء، أى لبحصول زيادة العلم بتجربته ولهذا رجع أبو حنيفة

رحمه الله عن القول بأن الصدقة أفضل من حج التطوع لما حج وعرف مشقته. (شرح عقود رسم المفتي: ص ۲۸-۲۹). والله تعالى اعلم.

د دار الاسلام، دار الحرب او دار الامن تر منځ فرق

سوال: په دار الاسلام، دار الحرب او دار الامن کې څه فرق دئ؟

الجواب: دار الاسلام هغه هیواد دئ چې هلته ومسلمانانو ته داسې سیاسې لوړ والی حاصل وي چې د ټولو اسلامي احکامو پر نافذولو دوی قدرت لري.

دار الحرب: هغه کافر هیواد دئ چې هلته وکافرانو ته امن حاصل وي او مسلمان اوسېدونکي امن څخه بې برخې وي او همدارنګه مسلمانان د مذهبي حقوقو او عبادتونو او د جمعې او اخترانو او داسې نورو احکام په ښکاره ډول کولای نه سي.

دار الامن: هغه هیواد دئ چې هلته قدرت د کفارو په لاس کې وي خو مسلمانان هم په امن کې وي، مسلمان دین ته د رابللو د فریضې قدرت لري او پر هغو اسلامي احکامو چې د کومو له پاره د نافذولو قدرت ضروري نه وي عمل کولای سي.

و پورتینو تعریفونو ته په کتو سره نن سبا وکفري هیوادونو ته دار الحرب ویل مشکل دئ پر دې اساس ډېر کفري هیوادونه د دار الامن په حساب کې راځي.

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (قاموس الفقه: ۳/ ۳۹۵-۳۹۹، جدید فقهی مسائل: ٤/ ٦٢-٨٢، والجهاد فی الاسلام للدکتور محمد سعید رمضان البوطی: صـ ۸۰ - واحسن الفتاوی: ۳/ ۲۱ - بدائع الصنائع: ۷/ ۱۳۰، سعید، - والفتاوی الهندیة: ۲/ ۲۳۲، و ردالمحتار: ٤/ ۱۷٥، سعید). والله تعالى اعلم.

غنم د وړو په بدل کې د سودا کولو حکم

سوال: د یوه سړي سره، غنم او ورجې دي او دا سړی د غنمو وړو یا د ورجو و وړو ته ضرورت لري نو ایا دی دغه غنم ورکړي او د دې پر برابر وړه اخیستلای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې به د غنمو یا وروجو اوړه له هغو اوړو څخه چې په غنمو یا ورجو کې دي یقیني به زیات وي او دواړه عوضونه به نقد وي بیا دا صورت روا دئ او په دې کې سود نه راځي، ځکه د کیلي او وزني شی بدلون که په هم جنس سره وي برابري او نغد کېدل ضروري دي که داسې نه

وي سود راځي په نوموړي صورت کي اوړه داوړو په بدل کي وي او زیات اوړه د بوسي به په مقابل کي سي، نن سبا بوسه هم مال دئ، د چارپایانو د خوراک له پاره یا د دباغت یا د نورو شیانو له پاره په کاریږي.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: « الذهب بالذهب، والفضة بالفضة، والبر بالبر، والشعير بالشعير، والتمر بالتمر، والملح بالملح، مثلاً بمثلٍ، سواءً بسواءٍ، يدًا بيدٍ، فإذا اختلفت هذه الأصناف، فبيعوا كيف شئتم إذا كان يدًا بيدٍ ».(رواه مسلم:۲/ ۲۵، باب الربا).

په هدایه کي راځي:

ولا يجوز بيع الحنطة بالدقيق ولا بالسويق لأن المجانسة باقية من وجه .... والمعيار فيهما الكيل لكن الكيل غير مسو بينهما وبين الحنطة لاكتنازهما فيه وتخلخل حبات الحنطة فلا يجوز وإن كان كيلاً بكيل. (الهداية:۳/ ۸۲، باب الربا).

د دې عبارت څخه معلومیږي چي فقهاوو دې سودا ته پر دې اساس ناروا ویلي دي چي غنمو او وړو کي برابري کېدلای نه سي ځکه د امام ابو حنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په اند غنم د همېشه له پاره کیلي دي د هغه د منصوص علیه کېدو په سبب خو امام ابو یوسف رحمه الله په اند د عرف اعتبار سته او فتوی د امام ابو یوسف رحمه الله پر قول باندي ده.

وګورئ محقق ابن همام رحمه الله فرمایي:

الكيل في الشيء أو الوزن فيه ما كان في ذاك الوقت إلا لأن العادة إذ ذاك بذلك وقد تبدلت فتبدل الحكم .... يصار إلى العرف الطارئ بعد النص بناء على أن تغير العادة يستلزم تغير

النص حتى لو كان صلى الله عليه وسلم حياً لنص عليه .... (فتح القدير:۷/ ۱۵، باب الربا، دار الفكر – وكذا فى البناية:۳/ ۱۵۲).

وفى الدر المختار: وعن الثاني اعتبار العرف مطلقًا ورجحه الكمال وخرج عليه سعدي افندي استقراض الدراهم عدداً وبيع الدقيق وزناً يعني بمثله وفى الكافى الفتوى على عادة الناس. بحر، وأقره المصنف. وفي الشامية: وملخصه: إن النص معلول بالعرف فيكون المعتبر هو العرف في أي زمن كان ولايخفى أن هذا فيه تقوية لقول أبي يوسف رحمه الله فافهم. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:۵/ ۱۷٦-۱۷۷، مطلب فى ان النص اقوى من العرف، سعيد).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وروي عن أبي يوسف رحمه الله أنه إذا غلب استعمال الوزن فيها تصير وزنيةً ، ويعتبر التساوي فيها بالوزن ، وإن كانت في الأصل كيلية. (بدائع الصنائع:۵/ ۱۹۴، فصل فى شرائط جريان الربا، سعيد).

په حاشية الطحطاوي کي راځي:

وقد وجد فى الغياثية: عن أبي يوسف رحمه الله أنه يجوز استقراضه وزناً إذا تعارف الناس ذلک وعليه الفتوى، انتهى. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۳/ ۱۰۹).

په عزيز الفتاوی کي راځي:

محقق ابن همام رحمه الله ودې ته ترجيح ورکړې ده او په کافي کي يې ويلي دي. « الفتوى على عادة الناس ». (عزيز الفتاوى جلد اول، ص ۶۲۵، كتاب الربا والقمار).

حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله هم غنمو ته وزني ويلي دي.

وګورئ په بهشتي زېور کي دي:

که چيري دواړو خواوو ته يو شی وو او هغه په تاله سره خرڅېدئ لکه د غنمو په عوض کي غنمو نو بيا د وزن برابر والي واجب دئ. (بهشتی زيور: صـ ٤٠٣).

په فتح القدير کي راځي:

لأنـها أي الـسويق والـدقيق مـن أجـزاء الـحنطة: وإنمـا لـم يقـل أجزاؤهـا لأن مـن أجزائهـا النخالة أيضاً. (فتح القدير: ٧/ ٢٢).

په هدايه کي راځي:

ولا يـجوز بيع الزيتون بالزيت والسمسم بالشيرج حتى يكون الزيت والشيرج أكثر مـمـا في الزيتون والسمسم فيكون الدهن بمثله والزيادة بالثجير.... ولو لـم يعلم مقدار ما فيه لا يـجوز لاحتمـال الربا والشبهة فيه كالـحقيقة . (الهداية: ٣/ ٨٥، باب الربا).

په عطر هدايه کي دي:

سوال: د غنمو او د هغو داوړو سودا څه ډول روا ده؟

الجواب: په غنمو په اوړو سره د بدلولو سودا د احقر په اند داسي ده لکه د زيتون او د هغه د تېلو په هغه صورت کي روا ده چي اوړه به له هغو اوړو څخه زيات وي چي په غنمو کي دي او دواړه عوضونه به نقد وي. (عطر هدايه: ص ٤٠٨).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (معلـم الفقه ترجمه اردو مجموعة الفتاوى جلد دوم: ١٢٨، كتاب البيوع).

خو کله کله دا پېژندل مشکل وي چي وره زيات دي که کم دي نو د غه لاندي حيلې وګوري:

حيله دا ده چي غنمو والا خپل غنم د پيسو په بدل کي خرڅ کي بيا پـه د غو پيسـو وره رانيـسي داولی سودا له پاره دوهمه سودا شرط کول په کار نه دي.

وګورئ د مسلم شريف د روايت څخه د دې سودا روا والی معلومېږي.

أن رسول الله ﷺ بعث أخا بنی عدی الأنصاری فاستعمله علی خیبر فقدم بتمرٍ جنیبٍ، فقال له رسول الله ﷺ «أکل تمر خیبر هکذا»؟ قال: لا. والله یا رسول الله! إنا لنشتری الصاع بالصاعین من الجمع، فقال رسول الله ﷺ: «لا تفعلوا، ولکن مثلاً بمثلٍ أو بیعوا هذا واشتروا بثمنه من هذا، وکذلك المیزان». (رواه مسلم: ۲/ ۲٦، باب بیع الربا).

په عطریه کي راځي:

د دې روا حیله دا ده چي اول دې زیتون د پیسو په بدل کي خرڅ کړل سي بیا چي کومي پیسې په بدل کي لاس ته راسي یا رانه سي چي د رانیوونکي پر ذمه د زیتون کوم قیمت واجب سوی دئ د دې پیسو چي اداء کول یې واجب دي د هغه رانیوونکي څخه چي ځومره غواړي تېل، نغد یا پور دې رانیسي دیوې وروسته بلي سودا په یوه مجلس کي په کولو سره یوازي د ایجاب او قبول په صحیح والي سره د تېلو د رانیولو مقصود پوره کیږي خو دا هدف پوره هلته لاس ته راتلای سي چي اوله سودا د دوهمي سودا له پاره مشروط نه سي او دواړي سودا وي د رانیوونکي او پلورونکي په خوښۍ سره وي که چیري اوله سودا په دې شرط سره وسي چي دوهمه سودا به هم کیږي یا د دواړو څخه به یوه سودا د زور یا غیرت پر اساس وسي نو دا به روا نه وي. (عطر هدایة: ص ٤۰۷).

امام محمد رحمه الله د حیلې په اړه فرمایي:

ما احتال به المسلم حتی یتخلص به من الحرام أو یتوصل به إلی الحلال فلا بأس به، وما احتال به حتی یبطل حقاً أو یحق باطلاً أو لیدخل به شبهة في حق فهو مکروه. (فتح الباري: ۱۲/ ۳۳۱ – وکذا فی المبسوط للامام السرخسی: ۳۰/ ۳۷۳، کتاب الحیل، دار الفکر). والله ﷻ اعلم.

زيتون د هغه د تېلو په مقابل كي د سودا كولو حكم

سوال: زموږ په سيمه كي زيتون زيات دي ځيني خلک د دې پر اړه دوكاندار ته يو كېلو ياد سوى پرور وړي او نيمه كېلو د دغه د زيتون تېل رانيسي يو ملا صاحب وويل چي د دې سودا له پاره ضروري ده چي د دوكاندار تېل به د پراړه تر تېلو زيات وي خو اوس د دوكاندار تېل د پراړه والا تر تېلو كمه وي ځكه له پاړه سه د تېلو ايستلو تكليف مزدوري ته هم دوكاندار حساب كوي، نو د دې سودا روا ډول به كوم وي؟

الجواب: په دې كار وبار د روا والي چل دا دئ چي رانيوونكي دغه زيتون په پيسو وپلوري بيا په هغه پيسو تېل رانيسي چي په دې حيله سره به سودا بېله شک صحيح سي.

وګورئ د صحيحينو روايت دئ:

عن سعيد بن المسيب أن أبا سعيد الخدري ﵁ وأبا هريرة ﵁، حدثاه: أن رسول الله ﷺ بعث سواد بن غزية ﵁، وأمره على خيبر، فقدم عليه تبمر جنيب يعني الطيب، فقال رسول الله ﷺ: « أكل تمر خيبر هكذا » ؟ قال: لا، والله يا رسول الله! إنا نشتري الصاع بالصاعين، والصاعين بالثلاثة من الجمع، فقال رسول الله ﷺ: « لا تفعل، ولكن بع هذا، واشتر بثمنه من هذا، وكذلك الميزان. أخرجه الشيخان. (نصب الراية:٤/ ٣٦، باب الربا – رواه البخاري في باب اذا أراد بيع تمر بتمر خير منه:١/ ٢٩٣ – ومسلم:٢/ ٢٦، باب الربا).

په التعليق الممجد كي راځي:

قوله عليه السلام: لاتفعل بع تمرک بالدراهم ثم اشتر بالدارهم جنيباً، وقال: في الميزان مثل ذلك، أي قال: في ما يوزن إذا احتيج إلى بيع بعضه ببعض مثل ذلك القول الذي قال في التمر المكيل أي يباع غير الجيد الموزون بثمن ثم يشترى به موزون جيد ..... قوله : بع تمرك إلخ أشار إليه بما يجتنب به عن الربا مع حصول المقصود، وبه احتج جماعة من

فقهائنا وغيرهم على جواز الحيلة في الربا وبنوا عليها فروعاً.(التعليق الممجد على هامش المؤطا للامام محمد، ص ٣٥٤، قديمى كتب خانه)

په تکملة فتح الملهم كي راځي:

إن الحيلة كلما أو جبت إبطال حكمة شرعية لاتقبل، كحيلة سقوط الزكاة وسقوط الاستبراء، وأما إذا توصل بها الرجل إلى ما يجوز فعله ودفع المكروه بها عن نفسه وعن غيره فلا بأس بها.... واستدل على جواز الحيلة المشروعة بقوله تعالى: ﴿ وخذ بيدك ضغثاً فاضرب به ولا تحنث ﴾ (سورة ص، الآية:٤٤). فإن ذلک تعليم حيلة، وبقوله تعالى: ﴿ فلما جهزهم بجهازهم جعل السقاية في رحل أخيه ﴾. (سورة يوسف، الآية:٧٠). فإنه حيلة.... قال العبد الضعيف عفا الله عنه: ومن أقوى ما يدل على جواز الحيلة المشروعة ما أخرجه الشيخان والنسائي عن أبي سعيد رضي الله عنه وأبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ استعمل رجلاً على خيبر.... وإنما هو تعليم حيلة للتوصل إلى طريق حلال، فما كان من هذا القبيل فهو جائز قطعاً. (تكملة فتح الملهم:١/ ٥٦٥).

په مبسوط كي راځي:

فالحاصل أن ما يتخلص به الرجل من الحرام أو يتوصل به إلى الحلال من الحيل فهو حسن، وإنما يكره ذلك أن يحتال في حق لرجل حتى يبطله أو في باطل حتى يموهه أو في حق حتى يدخل فيه شبهة، فما كان على هذا السبيل فهو مكروه، وما كان على السبيل الذي قلنا أولا فلا بأس به .... المفتي إذا تبين جواب ما سئل عنه فلا بأس أن يبين للسائل الطريق الذي يحصل به مقصوده مع التحرز عن الحرام، ولا يكون هذا مما هو مذموم من تعليم الحيل، بل هو

اقتداء برسول الله ﷺ حيث، قال لعامل خيبر: هلا بعت تمرك بسلعة ثم اشتريت بسلعتك هذا التمر. (المبسوط للامام السرخسي: ۳۰/ ۲۰۹).

په عطريه کي راځي:

د دې روا حيله دا ده چي اول دي زيتون د پيسو په بدل کي خرڅ کړل سي بيا چي کومي پيسې په بدل کي لاس ته راسي يا رانه سي چي د رانيوونکي پر ذمه د زيتون کوم قيمت واجب سوی دئ د دې پيسو چي اداء کول يې واجب دي د هغه رانيوونکي څخه چي څومره غواړي تېل، نغد يا پور دي رانيسي ديوې وروسته بلي سودا په يوه مجلس کي په کولو سره يوازي د ايجاب او قبول په صحيح والي سره د تېلو د رانيولو مقصود پوره کيږي خو دا هدف پوره هلته لاس ته راتلای سي چي اوله سودا د دوهمي سودا له پاره مشروط نه سي او دواړي سودا وي د رانيوونکي او پلورونکي په خوښې سره وي که چيري اوله سودا په دې شرط سره وسي چي دوهمه سودا به هم کيږي يا د دواړو څخه به يوه سودا د زور يا غيرت پر اساس وسي نو دا به روا نه وي. (عطر هداية: ص ۴۰۷). همدا ډول وګورئ: (اسلام اور جديد معاشی مسائل: ۴/ ۶۲). والله تعالی اعلم.

په بونډ باندي يو ځای د مځکي رانيول او د هغه حکم

سوال: ايا مځکه په هغو پيسو چي حکومت يا کمپنۍ ورو چا ته په قرض ورکړي او هره مياشت يو څه پر دې قرضو مزدوري غواړي په نومړو پيسو باندي مځکه رانيولای سي او که نه؟

الجواب: د (بونډ) پېژندني په اړه (انسايکلو پيديا برطانکا) کي داسي ليکلي دي:

The term bond has been defined in the encycloedia brittanica vol۲: pq ۱۴۰: as follows:

A loan contract issued by local, state and nationai qovernments by Private corporations specifyinq an obliqation retrn borrwed funds.

The borrower promises to pay interest on the debt when due (usually semi- annually) at a stipulated percenaqe of the Face value of the bond.

هغه قرض دئ چي د يو حكومت يا كمپنى له خوا وركول كيږي په دې شرط چي قرضدار به د سود يو خاصه اندازه له پيسو سره اداء كوي، د دې تعريف څخه معلومه سوه چي (بونډ) اخيستل يو سودي كاروبار دئ چي د خطر ناكو څخه حسابيږي بېله سخته ضرورته يې كول سود دئ او دا قرض اخيستل روا نه دي.

په جديد فقهي مسائل نومي كتاب كي راځي:

سود اخيستل او وركول گناه ده ځكه چي په اصولي ډول باندي ښكاره ده چي سودي قرض صحيح نه دئ خو كله كله داسي قرض اخيستلو ته ضرورت پيدا كيږي او د تجارت او كاروبار لپاره داسي قرض اخيستلو ته ضرورت پيدا كيږي په داسي حالاتو كي د ضرورت پر ډول د داسي قرض اخيستلو رخصت وي خو دا اجازه به هغه وخت وي چي انسان د دې پر اخيستلو داسي مجبور سي كه چيري دا قرض وانه خلي د ژوند كولو له پاره هيڅ د ده نه وي او هغه اساسي ضرورتونه لكه ډوډئ، كالي، كور د دغو ضرورتو پوره كولو هيڅ بله لار پيدا نه سي او خاص دي د استراحت، هوسا كېدلو او دنيا د ډېرولو له پاره داسي نه كوي. (جديد فقهى مسائل:۱/ ۲٤۸).

همداسي علامه ابن نجيم مصري رحمه الله فرمايي:

وفى القنية، والبغية: يجوز للمحتاج الاستقراض بالربح. (الاشباه والنظائر:۱/ ۲٦۷).

علامه حموي د دې عبارت په شرح كي ليكلي دي:

وذلک نحوه أن يقترض عشرة دنانير مثلاً ويجعل لربها شيئاً معلوماً في كل يوم ربحاً. (حاشية الحموى على الاشباه:۱/ ۲٦۷، القاعدة الخامسة الضرر يزال).

وفي الفقه الحنفي في ثوبه الجديد: وعن جابر بن عبد الله رضي الله عنه، لعن رسول الله ﷺ آكل الربا ومؤكله وكاتبه وشاهده، وقال: « هم سواء » ولايحل إلا عند الضرورة الملجئة، استناداً

للقاعدة الفقهية ﴿ الضرورات تبيح المحظورات ﴾ التي استمدت حجيتها من الآية الكريمة ﴿ إنما حرم عليكم الميتة والدم ولحم الخنزير وما أهل به لغير الله فمن اضطر غير باغٍ ولا عادٍ فلا إثم عليه ﴾ . (البقرة:١٧٣). فمن ألجأته الضرورة إلى الأكل من هذه المحرمات فيباح له ذلک بشرط أن يأكل منها غير قاصد التلذذ، ولا يتعدى في مقدارما يأكل حد الضرورة، بل يقصد دفع الضرورة وحفظ الحياة، فالضرورات تقدر بقدرها.... وهذا الحكم أيضاً ينسحب على الربا، فهو محظور لايحل إلا في حال الضرورة الملجئة.(الفقه الحنفي في ثوبه الجديد:٤/ ٢٥٠، انواع الربا، الضرورات تبيح المحظورات).

له يادو عبارتونو ښخه معلومه سوه چې د داسي سود قرض اخيستلو امکان هغه وخت سته چې ضرورت او مجبوري وي په داسي حال کې خو حرام هم حلاليږي او په تېرلو وختو کې د دې اجازه نه سته.

د ضرورت او حاجت درجې:

د ضرورت او مجبورۍ په اړه علامه حموي رحمه الله د اشباه په حاشيه کې فرمايي:

ههنا خمسة مراتب: ضرورة وحاجة ومنفعة وزينة وفضول.

فالضرورة: بلوغه حداً إن لم يتناول الممنوع، هلک أو قارب، وهذا يبيح تناول الحرام.

والحاجة: کالجائع الذي لو لم يجد ما يأ كله لم يهلک غير أنه يكون في جهد ومشقة، وهذا لايبيح الحرام، ويبيح الفطر فی الصوم.

والمنفعة: کالذي يشتهي خبز البر ولحم الغنم والطعام الدسم.

والزينة: کالمشتهي بحلوى والسکر.

والفضول: التوسع بأكل الحرام والشبهة. (حاشية الاشباه والنظائر: ١/ ٢٥٢، القاعدة الخامسة الضرر يزال). (مثله في المقالات الفقهية: ص ٣٢٠، الضرورة والحاجة المرخصة، مكتبة دار العلوم كراتشي).

په دې صورت کې په ښکاره سره داسې حالت نه راځي که د استوګنې ځای نه وي نو دا سړی به هلاک سي ځکه چې د استوګنځای مالک جوړېدل خو ضروري نه دي خو د کرایې د استوګنځای څخه هم کار پر مخ ځي خو کله کله دا ضرورت دومره زیاتیږي چې د سخت تاوان او تکلیف اندیښنه وي په داسې حالت کې علماوو حاجت ته د ضرورت مرتبه ورکړې ده.

علامه ابن النجيم رحمه الله فرمايي:

الحاجة تنزل منزلة الضرورة عامة كانت أو خاصة ولهذا جوزت الإجارة على خلاف القياس للحاجة.... وفي القنية، والبغية: يجوز للمحتاج الاستقراض بالربح. (الاشباه والنظائر: ١/ ٢٦٧).

او د سخت ضرورت حال او تکلیف د ختو او منطقو په اعتبار سره وي هر چا ته او هر ځای یو پیمانه نه چلیږي دا خبره یاد ساتل ضروري ده چې د سودي کاروبار اړه په قرآن او حدیثونو کې سخت وعیدونه راغلي دي همداسې د اقتصاد په اړه سودي قرض اخیستل ډېر تاواني دي ځکه داسې قرض اخیستلو څخه ډېر وختونه انسان ځان خلاصولای نه سي او هر وخت انسان په یو عذاب کې وي.

په فتاوی محمودیه کې راځي:

سود اخیستل او ورکول حرام دي که چیري د ګذارې کولو بله هیڅ لاره نه وي نو د محتاج له پاره د ضرورت په اندازه د سودي قرض اخیستلو امکان سته. (فتاوی محمودیه: ١٦/ ٣٠٢).

په بل ځای کې یې لیکلي دي:

سود ورکول حرام دي پر داسې سړي په حدیث کې لعنت ویل سوی دئ او حرام کار د ضرورت په وخت کې کول د اضطرار په حالت کې معاف دئ نو که د ځان قوي خطر وو یا د عزت قوي خطر وو او د هغه څه د خلاصون کومه لار نه وي مثلا نه جائداد خرڅیږي او نه روپۍ بېله سوده لاس ته راځي نو

په داسي حال کي (زيد) په شريعت کي معذور بلل کيږي او که داسي ضرورت نه وي بلکي ديوه دنيايي کار وبار ضرورت وي يا پيسې بېله سوده لاس ته رائحي يا جائيداد خرڅيږي نو بيا په سود قرض اخيستل روا نه دي او لويه ګناه ده. (فتاوی محموديه:١٦/ ٣٠٥ – ٣٠٦، فاروقيه).

او همداسي يې ليکلي دي:

سوال: هغه کوم ضرورت دئ چي په هغه کي د سود اخيستلو ضرورت دئ؟

الجواب: د نه زغمونکي مجبورۍ په وخت کي پر سود اخيستلو د نه ګناه کار کېدولو اميد سته.« هكذا حكم سائر الحرمات ». (فتاوی محموديه:١٦/ ٣٧٨، فاروقيه).

د فتاوی محموديې په تعليقاتو کي يې ليکلي دي:

وإذا كان لإنسان حاجة أو ضرورة ملحة اقتضت معطى الفائدة أن يلجأ إلى هذا الأمر فإن الإثم في هذا الحال يكون على آخذ الربا (الفائدة) وحده، وهذا بشرط أن تكون هناک حاج أو ضرورة حقة لامجرد توسع في الكماليات أو أمور يستغنى عنها. (الحلال والحرم فی الاسلام ليوسف القرضاوی:ص ٢١٩، بيروت).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (نظام الفتاوی:١/ ١٨٦، فتاوی رحيميه:٩/ ٢٣٧، باب القرض – وكتاب الفتاوی:٥/ ٣٢٠). والله اعلم.

د سودي پيسو اخيستونکي سره د کار وبار کولو حکم

سوال: که چيري يو چا سره بعينه هغه د سود پيسې وي نو ايا موږ ده سره يو ډول معامله کولای سو او که نه؟ او که له هغه شخصه خپل پور اخلي نو د هغه د سود پيسې اخيستلای سو او که نه؟ او د مسلمان او کافر څه فرق سته او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که د مسلمان د کومو پيسو په اړه په يقيني ډول معلومه وي چي د هغه دغه مال حرام دئ نو د هغه په عوض يو شی پلورل او هغه پيسې لاس ته راوړل ناروا دئ او کوم وخت چي يقيني دا معلومه نه وي بيا امکان سته، خو که د کافر سره سودي پيسې وي نو د هغه شخصه هغه

پیسې په قرض کې راوړلای سي تر کومه وخته چې هغه حرام عقلي او قبیح عقلي مثلاً چل، غلا او داسې نور نه وي.

وګورئ په امداد الاحکام کې راځي:

کفار مخاطب بالفروع في العقوبات والمعاملات که څه هم دي خو د حکم بالحرمة والفساد له پاره عام خطاب کفایت نه کوي بلکې التزام هم شرط دئ، اهل حرب خو د اسلام د احکامو هیڅکله التزام کړی نه دئ نه د خپل معتقد برابر او نه د مخالف پر برابر نو ځکه دوی که په هر ډول پیسې وګټي که په سود وي او که په غصب سره وي که په باطلو سودا وو سره وي یا فاسدو سودا وو سره وي او که د خپل مذهب پر برابر وي او که د مخالف مذهب پر برابر وي په هر حال کې هغه پیسې او داسې نور د دوی په ملک کې راځي او مسلمان له پاره هغه پیسې په مزدوري اخیستل روا دي. (امداد الاحکام: ٤/ ٣٩٠، معاملات المسلمين باهل الكتاب والمشركين).

په فتاوی هندیه کې راځي:

ولو كان لمسلمٍ على نصراني دين، فباع النصراني خمرًا وأخذ بثمنها وقضاه المسلمِ من دينه، جاز له أخذه، لأن بيعه لها مباح، ولو كان الدين لمسلمٍ على مسلمٍ فباع المسلم خمرًا وأخذ ثمنها وقضاه صاحب الدين، كره له أن يقبض ذلك من دينه كذا في السراج الوهاج .

(الفتاوى الهندية: ٥/ ٣٦٧، كتاب الكراهية، باب فى القرض والدين).

په البحر الرائق کې راځي:

وكره لرب الدين أخذ ثمن خمرٍ باعها مسلم لا كافر، يعني إذا كان لشخصٍ مسلمٍ دين على مسلمٍ فباع الذي عليه الدين خمرًا ، وأخذ ثمنها وقضى الدين لا يحل للمدين أن يأخذ ذلك بدينه وإن كان البائع كافرًا جاز له أن يأخذ والفرق أن البيع في الوجه الأول باطل فلم يملك البائع الثمن وهو باقٍ على ملك المشتري فلا يحل له أن يأخذ مال الغير بغير رضاه ، والبيع في

الوجه الثاني صحيح فملك البائع الثمن ؛ لأن الخمر مال متقوم في حق الكافر فجاز له الأخذ بخلاف المسلم . (تكملة البحر الرائق:۸/ ۲۰۱، كوئته).

وللاستزادة انظر: (فتاوى الشامى:٦/ ٣٨٥، فصل فى البيع، سعيد – وتبيين الحقائق:٧/ ٤٦٨، كتاب الكراهية).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

د کومو پیسو په اړه چي په یقیني ډول باندي معلوم وي چي دا حرامي دي د هغو په بدل کي یو شی پلورل او هغه پیسې لاس ته راوړل صحیح نه دي او په که کوم ځای کي چي دا علم نه وي نو هلته د رخصت امکان سته (فتاوی محمودیه:۱۱/ ۲۷۳، کتب خانه مظهری وجواهر الفتاوی:۳/ ۲۹٤).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (امداد الاحکام:٤/ ٣٨٦-٣٩٠، ومنتخباب نظام الفتاوى: ص ٤٦٧). والله ﷻ اعلم.

د سودي کمپنۍ سره د کار وبار کولو حکم

سوال: یو څوک د کمپنۍ په واسطه ماشین راغواړي تر کومه وخته چي یې وکمپنۍ ته پیسې اداء کړي نه وي تر هغه وخته کمپنۍ د ماشین کرایه اخلي خو کمپنۍ د بانک سره سودي کاروبار کوي یعني د بانک څخه پر سود پیسې اخلي او په هغو ماشینونه او داسي نور شیان رانیسي او بیا پر دغو پیسو سود اداء کوي اوس دا خبره معلومول غواړو چي د دې کمپنۍ څخه ماشین رانیول روا دي او که نه؟ په داسي حال کي چي رانیوونکي هیڅ د سود پیسې نه اداء کوي خو دا یوازي د کمپنۍ خپل ځاني کار وبار دئ؟

الجواب: په دې صورت کي که چیري زید ماشین د یو لک افغانۍ په مقابل کي د کمپنۍ په واسطه سره رانیولی وي او کمپنۍ یو لک اداء کړي وي او اوس کمپنۍ په قسطو سره خپل حق (یو لک شل زره لاسته راوړي نو دا سود دئ که څه هم د دې نوم کرایه کښېږدي او که کمپنۍ ماشین په یو لک رانیسي او پر زید باندي په یوه لک وشل زره روپیو وپلوري نو دا مرابحه ده او دا روا ده او که ماشین په

کمپنۍ کي پروت وي او زید معلومه کرایه ورکوي، هره میاشت او یو څه موده وروسته زید خپل ماشین راوړي یا یې کمپنۍ پر زید وپلوري یا یې هبه کي د دې هم (امکان) د رخصت سته.

پاته سوه د کمپنۍ سودي کار وبار هغه د هغو خپله معامله ده او د دې څخه خریدارۍ ته څه تاوان نه رسیږي ځکه کفري کمپنۍ په کفري هیوادو کي په سودي پیسو سره ماشین رانیسي او موږ دوی پر اسلامي احکامو نه سو مجبوره کولای ځکه هلته اسلامي حکومت نه سته بیا براه راست مسلمان د سود په کار وبار کي ملوث نه دي او د مسلمان د سود سره هیڅ تړاو هم نه سته نو د داسي کمپنۍ سره د سودا کولو امکان سته. والله ﷻ اعلم.

د بانک سره د کار وبار کولو حکم

سوال: یو چا د بانک سره یو څه د سرمایه کاري معاملې کړي وي بانک پر ده د خپل قانون په سبب سود جاري کړئ نو ایا دا سود به د دین (پور) په حکم کي وي او د زکواة په مسئله کي به سود ځیني جلا کیږي او که نه؟

الجواب: شریعت مطهره د ربا کار وبار ناروا او حرام بللي دئ او همداسي د سودي بانک سره پور کول هم ناروا ده او د دې څخه پرهیز کول پر هر مسلمان نر او ښځه باندي لازم دئ. په قرآن او حدیثو کي پر سودي کار وبار کونکو باندي سخت وعیدونه راغلي دي نو ځکه داسي معاملي څخه د زړه له تله توبه کنبل په کار دي خو که د ضرورت او مجبورۍ یا ناپوهۍ یا د فسق په سبب د داسي کار وبار کولو په صورت کي چي د بانک له طرف سود لازم سوی وي نو د فقهاوو عبارتو ته په کتو سره هغه نوائب چي په ظلم سره اخیستل کیږي هغه په پور (دین) کي حسابیږي نو له همدې کبله نو موږ سودي قرضونه په پور کي حساب سوی خو څنګه چي د سود پورونه زیات پر قسطونو باندي وي نو د زکواة په مسئله کي ټول پور نه جلا کیږي فقط د همدغه کال قسطونه ور څخه جلا کیږي او د پوره مال زکواة به اداء کیږي د دې مسئلې زیات تفصیل په دریم جلد تر ابواب الزکواة لاندي تېر سوي دئ.

وګورئ په درمختار کي راځي.

وكذا النوائب ولو بغير حق كجبايات زماننا فإنها في المطالبة كالديون بل فوقها ، حتى لو أخذت من الأكار فله الرجوع على مالك الأرض وعليه الفتوى. وفى الشامية: وإن أريد بها ما ليس بحق كالجبايات المؤظفة على الناس في زماننا ببلاد فارس على الخياط والصباغ وغيرهم للسلطان في كل يوم أو شهر فإنها ظلم فاختلف المشايخ في صحة الكفالة بها فقيل تصح إذ العبرة في صحة الكفالة وجود المطالبة إما بحق أو باطل . (فتاوى الشامى:٥/ ٣٣٠، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

وأما النوائب فإن أراد بها ما يكون بحق ..... فإنها ظلم اختلف المشايخ في صحة الكفالة بها كذا في فتح القدير، والفتوى على الصحة كذا في شرح الوقاية وممن يميل إلى الصحة الشيخ الإمام علي البزدوي كذا في الهداية وقال النسفي وشمس الأئمة وقاضي خان مثل قول فخر الإسلام ؛ لأنها في حق توجه المطالبة فوق سائر الديون .(الفتاوى الهندية:٣/ ٢٩١).

وللاستزادة انظر: (شرح العناية على هامش فتح القدير:٧/ ٢٢ – وفتح القدير:٧/ ٢٣٣، دار الفكر).

وفي رد المحتار: الدين ما وجب فى الذمة بعقد أو استهلاك وما صار في ذمته ديناً باستقراضه فهو أعم من القرض كذا فى الكفاية. (رد المحتار:٥/ ١٥٧، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د کمبود او زيادت سره د استېل د لوښو د بدلون حکم

سوال: ځيني خلک د استېل زاړه لوښي راوړي او له دوکانداره نوي لوښي په رانيسي، دوکاندار د استېل هغه زاړه لوښي تلي نه بلکي دا وايي چي د دې سره دومره روپۍ راکه او نوي لوښي واخله ايا داسي معامله روا ده او که نه؟

الجواب: استېل د موزوناتو څخه دي چې په هغو کې سود راځي نو پلورلو او رانيولو کې برابري ضروري ده نو که دواړه په وزن کې سره برابر وو نو بيا به له يوې خوا زياتې پيسې اخيستل ناروا وي خو زاړه لوښي دي د پيسو په بدل کې وپلوري او بيا دې د پيسو سره نوري پيسې يو ځاى کې او نوي لوښي دې په رانيسي چې دغه سودا بېله شکه روا ده.

وګورئ په ترمذي شريف کې دي:

عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: « الذهب بالذهب مثلاً بمثل والفضة بالفضة مثلاً بمثل والتمر بالتمر مثلاً بمثل والبر بالبر مثلاً بمثل والملح بالملح مثلاً بمثل والشعير بالشعير مثلاً بمثل فمن زاد أو ازداد فقد أربى بيعوا الذهب بالفضة كيف شئتم يداً بيدٍ.... (رواه الترمذی:۱/ ۲۳۵، ابواب البيوع).

په هدايه کې راځي:

ولا يجوز بيع الجيد بالرديء مما فيه الربا إلا مثلاً بمثل لإهدار التفاوت فى الوصف.....

وإذا عدم الوصفان الجنس والمعنى المضموم إليه حل التفاضل والنساء لعدم العلة المحرمة والأصل فيه الإباحة . (الهداية:۳/ ۷۹، باب الربا).

د صحيحين په روايت کې راځي:

عن سعيد بن المسيب أن أبا سعيدٍ الخدري رضي الله عنه، وأبا هريرة رضي الله عنه حدثاه: أن رسول الله ﷺ بعث سواد بن غزية رضي الله عنه، وأمره على خيبر، فقدم عليه بتمر جنيب يعني الطيب، فقال رسول الله ﷺ: « أكل تمر خيبر هكذا » ؟ قالُ: لا، والله يا رسول الله! إنا نشتري الصاع بالصاعين، والصاعين بالثلاثة من الجمع، فقال رسول الله ﷺ: « لا تفعل، ولكن بع هذا،

واشتر بثمنه من هذا، وكذلك الميزان » . أخرجه الشيخان. (نصب الراية:٤/ ٣٦، باب الربا – رواه البخاري فى باب اذا أراد بيع تمر بتمر خير منه:١/ ٢٩٣ – ومسلم:٢/ ٢٦، باب الربا).

په التعليق الممجد كي راځي:

قوله عليه السلام: لاتفعل بع تمرك بالدراهم ثم اشتر بالدارهم جنيباً، وقال: في الميزان مثل ذلك، أي قال: في ما يوزن إذا احتيج إلى بيع بعضه ببعض مثل ذلك القول الذي قال في التمر المكيل أي يباع غير الجيد الموزون بثمن ثم يشترى به موزون جيد ..... قوله : بع تمرك إلخ أشار إليه بما يجتنب به عن الربا مع حصول المقصود، وبه احتج جماعة من فقهائنا وغيرهم على جواز الحيلة في الربا وبنوا عليها فروعاً.(التعليق الممجد على هامش المؤطا للامام محمد، ص ٣٥٤، قديمى كتب خانه).

په مبسوط كي راځي:

فالحاصل أن ما يتخلص به الرجل من الحرام أو يتوصل به إلى الحلال من الحيل فهو حسن، وإنما يكره ذلك أن يحتال في حق لرجل حتى يبطله أو في باطل حتى يموهه أو في حق حتى يدخل فيه شبهة، فما كان على هذا السبيل فهو مكروه، وما كان على السبيل الذي قلنا أولا فلا بأس به. (المبسوط للامام السرخسى:٣٠/ ٢٠٩). والله ﷻ اعلم.

په بانک كي د پيسو ايښولو حكم

سوال: ځيني خلک خيراتي كار كوي خو د پيسو د كمبود په سبب يې په بانک كي ايږدي له دې كبله چي پيسې زياتي سي او كله كله يې د يوه بانک څخه و بل بانک ته استوي د زيات سود ولاس ته دراوړلو له پاره ايا داسي كار روا دئ او كه نه؟

الجواب: عام خيريه كار يا خيرات كول خو ډېر ښه دئ خو د سود اخيستلو په هدف په بانک كي پيسې ايښول ناروا دي او د يوه مستحب كار كولو له پاره به حرام كار كول څنگه صحيح وي؟ او بيا د

یوه بانک څخه وبل بانک ته د زیات سود له پاره نقل کول نور هم بده خبره ده او چي کوم سود یې لاس ته راوړی دئ د ثواب ولاس ته د راوړلو د نیت څخه پرته دې پر مسکینانو خیرات کړي خو پیسې د ساتلو له پاره په بانک کي ایښودلای سي بیا هم احتیاط کول ښه دي.

وګورئ په نظام الفتاوی کي راځي:

په بانک کي د ساتلو له پاره پیسې ایښول صحیح دي او بیا چي کومي پیسې د سود په نامه لاس ته راسي هغه دي پر مسکینانو قرضدارانو او کمزورو مسلمانانو خرڅ کړل سي. (منتخبات نظام الفتاوی:۱/ ۱۸۸).

او همدارنګه یې لیکلي دي:

اوله خبره خو دا ده که چیري د ساتلو یا دبلي مجبوری په هدف په بانک کي د پیسو د جمعه کولو ضرورت پیدا سي نو په داسي شعبه (ځای) کي یې د ایښوولو کوښښ وکوئ چي د سود حساب نه وي. (منتخبات نظام الفتاوی:۱/ ۱۹۰).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

سوال: یوې کمیټې یا یوه شعبه چي د عامو انسانانو خدمت کوي هغوی یو څه پیسې (کرنټ اکاونټ) په بانک کي کېښودلې چي سود پکښي لاس ته نه راځي مګر د دې شعبي لوړ پوړي خلک غواړي چي دا پیسې په (سونګ اکاونټ) کښېښودل سي، له دې کبله چي سود لاس ته راسي او پر دغو غم ځپلو خلکو باندي مصرف سي نو ایا د دې شعبې دا کار کول د شریعت له مخي صحیح دئ او که نه؟ او په سود سره لاس ته راغلي پیسې پر مسلمانانو وېشل صحیح دي او که نه؟

الجواب: په بانک کي د ساتني یا دیو سخت قانون په سبب پیسې ایښودلای سي خو د سود د لاس ته راوړلو په نیت پیسې ایښول صحیح نه دي که څه هم په دې نیت سره وي چي پر مسکینانو به وېشل کیږي. سود لاس ته راوړل په دې نیت چي پر مسکینانو به وېشل کیږي د دې له پاره پیسې په بانک کي ایښول روا نه دي. (فتاوی رحیمیه:۹/ ۲۷۰).

همدا ډول وګورئ: (کتاب الفتاوی:۵/ ۳۳۰). والله ﷻ اعلم.

په سودي مالو کي د تقابض في المجلس حکم

سوال: زيد دوکاندار ته ورغئ دوکاندار ده ته ديوه کېلو غنمو په بدله کي يو کېلو ورجي ورکړي دوکاندار غنم وتلل خو د ورجو تر تول کولو وړاندي زيد بل چا وروغوښتئ هغه ولاړئ او تر لسو دقيقو وروسته راغلی يعني په مجلس کي بدلون راغئ نو ايا دا سودا روا ده او که نه؟

الجواب: که دوکاندار د زيد په مخ کي ورجي تللی وي او بيا زيد تللی وي اوس چي راغلئ پر وروجويې قبضه کړې وي نو دا سودا صحيح سوه. خو که دوکاندار تر اوسه ورجي تللي نه وي نو د زيد تر تګ وړاندي دا سودا ختمه سوه، نو اوس له نوي سره سودا کول په کار دي.

په هدايه کي راځي:

وما سواه أي ما سوى عقد الصرف مما فيه الربا من بيع الأموال الربوية بجنسها أو بخلاف الجنس يعتبر فيه التعيين ولا يعتبر فيه التقابض، فلو افترقا بعد تعيين البدلين عن غير قبض جاز عندنا . (الهداية مع فتح القدير:۷/ ۱۸، باب الربا، دار الفکر).

په رد المحتار کي راځي:

والمعتبر تعيين الربوي في غير الصرف لأن غير الصرف يتعين بالتعيين ويتمكن من التصرف فيه، فلا يشترط قبضه كالثياب أي إذا بيع ثوب بثوب بخلاف الصرف، لأن القبض شرط فيه للتعيين، فإنه لا يتعين بدون القبض كذا في الاختيار (رد المحتار:۵/ ۱۷۸، باب الربا، سعيد).

په احسن الفتاوی کي راځي:

په (مکيلاتو) پيماني او د وزني شيانو په سودا کي د اتحاد جنس يا اتحاد قدر په وخت کي (نساء) پور حرام دئ خو قبض في المجلس شرط نه دئ او يوازي معلومول يې په هغه مجلس کي ضروري دي. (احسن الفتاوی:۷/ ۱۳). والله تعالی اعلم.

د شرعي معيار څخه په کم شی کي د سود تحقيق

سوال: د فقهي په عامو کتابونه کي بيان سوی دئ که يو څوک تر نصف صاع (نيمي کاسې) په کم شی کي سودي سودا وکړ نو روا ده، مثلاً ديو موټ غنمو اوړه ورکي او دوه موټه تر لاسه کي دا روا دي نو ايا پر دې باندي فتوی ده او که نه؟ او داسي کار روا دئ او که نه؟

الجواب: شرعي معيار يعني تر نصف صاع (نيمه پيمانه) په کم هم جنس شيانو کي د کمبوه او زياتوالي په اړه د سود په راتلو کي امامانو او علماوو اختلاف دئ.

۱ _ امام ابو حنيفه رحمه الله او امام ابو يوسف رحمه الله فرمايي، چي پورتني صورت کي سود نه راځي د دې علت دا دئ چي د سود راتللو له پاره قدر يعني پيمانه او تول موجود والی ضروري دئ او د پيمانې هغه کم معيار په شريعت کي نصف صاع مقرر سوی ده او دلته هغه موجود نه ده.

۲ _ دري امامان (امام مالک رحمه الله، امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله) او د امام محمد رحمه الله مذهب دا دئ چي په دې کي سود راځي، نو ځکه دا سودا کول ناروا ده او د احنافو په مذهب کي د امام محمد رحمه الله پر قول فتوی ده، متاخرينو فقهاوو دلاندي وجوهو پر اساس د امام محمد رحمه الله قول ته ترجيح ورکړې ده.

الف _ محقق ابن همام رحمه الله د امام محمد رحمه الله قول ته راجح ويلي دي او علامه شامي رحمه الله دي ته مختار ويلي دي همداسي د بحر الرائق مصنف او د نهر الفائق او علامه شرنبلالی رحمه الله او مقدسي د امام محمد رحمه الله پر قول فتوی ورکړې ده.

باء _ نصف صاع (نيمه پيمانې) څخه کم مقدارونه مشهور دي او په بې حسابه منطقو کي رواج دئ چي په هغو کي تفاضل ته روا ويل له فساد څخه خالي نه دي بالخصوص په اوسنۍ زمانه کي چي د تول کولو له پاره نوي اسباب رواج دي.

جيم _ مالي ذمه وارۍ (مثلاً کفاره سرسايه) او داسي نورو د شريعت تر نصف صاع کم اندازه نه دي تاکلي د دې خبري له پاره مستلزمه نه ده چي د سود په باب کي دي تفاضل لغوه سي او بې کاره دي وبلل سي بيا په داسي حال کي د هغه حراموالی يقيني هم دئ.

دال _ که چيري سودا د حفنه بالحفتين زياتوالي ته سود ونه وايي نو زمانې د فساد په سبب به خلک دغه سودا د تفاضل د لاس ته راوړلو او په هغو کي د سود د روا والي وسيله جوړ کړي.

وګورئ په فتح القدير کي راځي:

وفي جمع التفاريق، قيل: لا رواية في الحفنة بقفيز واللب بالجوز، والصحيح ثبوت الربا، ولا يسكن الخاطر إلى هذا بل يجب بعد التعليل بالقصد إلى صيانة أموال الناس تحريم التفاحة بالتفاحتين والحفنة بالحفنتين، أما إن كانت مكاييل أصغر منها كما في ديارنا من وضع ربع القدح وثمن القدح المصري فلا شك، وكون الشرع لم يقدر بعض المقدرات الشرعية في الواجبات المالية كالكفارات وصدقة الفطر بأقل منه لا يستلزم إهدار التفاوت المتيقن، بل لا يحل بعد تيقن التفاضل مع تيقن تحريم إهداره، ولقد أعجب غاية العجب من كلامهم هذا وروى المعلى عن محمد رحمة الله عليه أنه كره التمرة بالتمرتين، وقال: كل شيء حرم في الكثير فالقليل منه حرام. (فتح القدير: ٧/ ٩، دار الفكر).

وهكذا فى البحر الرائق: ٦/ ١٣٠، كوئته – ورد المحتار: ٥/ ١٧٦، سعيد – والنهر الفائق: ٣/ ٤٧٥ – والشرنبلالية: ٢/ ١٨٧ – وحاشية الشلبى على التبيين: ٤/ ٩٠، ملتان – وحاشية الطحطاوى على الدر المختار: ٣/ ١٠٩، كوئته).

په فتح المعين کي راځي:

تتمة: ماسبق من أن أدنى ما يكون مال الربا نصف صاع ليس متفقاً عليه.... ثم قال: ويجوز بيع الحنفة بالحفنتين خلافاً للشافعي رحمة الله عليه ومحمد رحمة الله عليه .... فعلى ما ذكره الكمال من أن الفضل المتيقن حرام وإن لم يدخل تحت أدنى الكيل الذي ورد الشرع به وهو نصف صاع .... ومن هنا يعلم ثبوت الحرمة بالطريق الأولى فيما إذا اتخذ بيع الحنفة بالحفنتين وسيلة إلى بيع نحو الكر بالكرين. (فتح المعين لابى السعود على شرح الكنز لملا مسكين: ٢/ ٢٠٢).

په شرح نقايه کي ملا علي قاري رحمة الله عليه فرمايي:

(وجاز بيع حفنة بحفنتين) وعند مالک رحمة الله عليه والشافعي رحمة الله عليه وأحمد رحمة الله عليه لايجوز ذلک إلا في رواية عن مالک رحمة الله عليه، ورواية عن أحمد وروى المعلى عن محمد رحمة الله عليه أنه كره التمرة بالتمرتين وقال: كل شيء حرم في الكثير فالقليل منه حرام، وإلى هذه الرواية مال بعض المحققين. (فتح باب العناية في شرح النقاية:۳/ ۲۶۲). والله تعالى اعلم.

د يوه سېب ورکولو سودا د دوو سېبانو په بدل کي د کولو حکم

سوال: سېب زموږ په سيمه کي د عدد او حساب په ډول خرڅيږي که ديوه سېب په بدل کي دوه سيبه رانيسي ځکه د ديوه کيفيت ښه وي نو دا روا ده که نه؟ او چي په هغه سيمه کي سېب عددي وي؟

الجواب: د فقهي د قانون په اعتبار سره چي روا سي ګنجائش يې سته ځکه سېب مکيلي او موزوني نه دئ خو د ابن همام رحمة الله عليه د عبارت څخه د دې ناروا والي معلوميږي نو له دې څخه ځان ساتل په کار دي خصوصاً په نن زمانه کي چي په ډېرو ځايو کي سېب وزني دئ.

وګورئ ابن همام رحمة الله عليه فرمايي:

ولايسكن الخاطر إلى هذا بل يجب بعد التعليل بالقصد إلى صيانة أموال الناس تحريم التفاحة بالتفاحتين. (فتح القدير:۷/ ۹، دار الفكر).

وهكذا في البحر الرائق:۶/ ۱۳۰، كوئته – و درالمختار:۵/ ۱۷۶، سعيد – والنهر الفائق:۳/ ٤٧٥ – والشرنبلالية:۲/ ۱۸۷ – وحاشية الشلبي على التبيين:٤/ ۹۰، ملتان). والله تعالى اعلم.

لندې خرماوي د وچو په بدل کي د پلورلو حکم

سوال: که چيري يو څوک يوه صاع لندې خرماوي د وچو په بدل کي سودا کي نو امام ابو حنيفه رحمة الله عليه دې ته روا وايي او نورو امامان دې ته ناروا وايي او د صاحبينو مسلک پر دې حديث باندي بناء دئ چي ډېرو محدثينو او فقهاوو نقل کړي دئ.

د حديث الفاظ دا دي:

« عن سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه أنه قال: سمعت رسول الله ﷺ يسأل عن شرى التمر بالرطب، فقال: أينقص الرطب إذا يبس، قالوا: نعم، فنهاه عن ذلک رواه أصحاب السنن الأربعة، وقال الترمذي حسن صحيح. (شرح نقاية للملا على القاری:۳/ ۲٦٤، ابواب الربا). **دامام صاحب د دې حديث څه جواب وركوي اطمناني جواب راکړئ؟**

الجواب: ۱ _ امام ابو حنيفه رحمه الله فرمايي، لکه څنګه چي په رواج کي لندې خرماوي دي نو څکه دواړه برابر سودا کولای سي کله چي امام ابو حنيفه رحمه الله بغداد ته ولاړئ او خلکو د دې مسئلې پوښتنه ورڅخه وکړه نو د پورتني حديث په سند کي ابو عياش ضعيف وښودل سو او زيات يې دا وفرمايل که چيري رطب تمر وي نو دواړه د تمر کېدو په سبب برابر سودا کولای سي او برابر پلورلای يې سي او که تمر نه وي نو د جنس د اختلاف په سبب يې روا دي خو ملا علي قاري رحمه الله پر دې باندي اعتراض کړی دئ چي کله کله جنس يو وي خو بيا هم سودا په مساوي ډول نه سي کېدای روا څکه چي کيل برابرونکي نه دئ نيني سوي غنم د هغو سره چي نيني سوی نه وي په يوه کيل نه سره بدليږي څکه يو لوړ دريږي او بل کښته کيږي او که حديث نه وي بيا به هم رطب بالتمر کيلاً ناروا وي لکه حنطه مقليه چي د غير مقليه په مقابل کي برابر هم نه سي سودا کولای.

۲ _ امام ابو حنيفه رحمه الله پر نوموړي حديث باندي تنقيد فرمايلی دئ چي په دې زيد بن عياش چي ابن عياش هم ورته ويل کيږي مجهول دئ، زرقي دئ يا بنی زهره يا مولی بنی مخزوم دئ څکه ابن حزم فرمايلي دي ((رجل مجهول)) او حاکم ويلي دي.

«إن الشيخين لم يخرجا هذا الحديث لما خشيا من جهالة زيد بن عياش». **له همدې کبله ابن حزم، طحاوي، طبراني، عبد الحق اشبليی دا روايت معلول بللي دئ د ابن عياش دوه شاګردان دي:**

۱ _ عمران بن انس.

۲ _ عبد الله بن يزيد.

خو د دوو شاګردانو جهالت د ذات د ده ختم سو جهالت د صفت يې بيا هم پاته دئ، او همداسې عمران ابن انس د عبد الله بن يزيد سره په دوو خبرو کي اختلاف کړی دئ .

اوله خبره دا ده چي مولى بنى مخزوم وايي نه چي مولى بنى زهره.

دوهمه خبره دا ده چي عمران بن انس د نسيي اضافه کړې ده نو دا روايت د اعتماد وړ نه دئ خو پر ده دا سوال وارديږي چي امام مالک رحمه الله د زيد بن عياش څخه روايت کړی دئ حال دا چي هغه د ضعيفانو څخه روايت نه کوي او امام ترمذي رحمه الله د حديث تصحيح کړې ده او ابن جوزي وايي.

روى عنه عبد الله بن يزيد وعمران بن أبي أنس فكيف يكون مجهولاً مع تصحيح الترمذي لحديثه قال: فقد عرفه أئمة النقل، قلت: وقد صححه ابن حبان أيضا وابن خزيمة والدارقطني وذلك يقتضي أنهم عرفوا حاله . (الدراية على الهداية:۳/ ۸۳، باب الربا).

د سوال حاصل دا دئ، چي کله ډېرو حضراتو زيد بن عياش منلي دئ نو د ده د حديث ضعف ډېر نه دئ او همداسې احناف خو د ضعيفو روايتونو څخه هم استدلال کوي لکه د قهقهې او د مسح علي الرقبة حديث، همداسې دلته خو باعتبار د پيمانې برابري مشکله وه ځکه رطب متخلل وي يعني په منځ کي خالي ځايونه وي او خرماوي تخته کيږي نو د احنافو د اصولو پر برابر بنه دا ده چي دا ناروا سي.

۳ _ د احنافو د طرفه دا جواب ورکول سوی دئ چي د عمران بن انس په روايت لفظ د نسيه راغلی دئ او نسيه زيادت د راوي دئ نو دې ته دي نسية ناروا وويل سي او نغد روا وويل په کار دي پر دې باندي سوال کېدای سي چي که دواړه روايتونه ومنو که يو جنس وو نسيه ناروا ده او کله چي مساوات کېدلای نه سي نو نقداً هم بايد ناروا سي . د امام ابو حنيفه رحمه الله د مذهب اطمناني جواب بنده ته د علامه عيني رحمه الله په دې خبره کي پيدا سو چي لاندي ده:

علامه عیني د کنز په شرحه کي لیکلي دي:

وصح أيضاً بيع الرطب بالرطب متساوياً أو بيع الرطب بالتمر حال كونه متماثلاً في الوزن عند أبي حنيفة رحمه الله وقالا: لايجوز لأنه عليه الصلاة والسلام نهى عن بيع الرطب بالتمر وبه قالت الثلاثة. (رمز الحقائق في شرح كنز الدقائق: ٢/ ٦٠، باب الربا، ادارة القرآن).

معنا دا چي که رطب د تمر په بدل کي د تول په حساب سره برابر وپلورل سي نو دا روا ده ځکه په تول کي په پوره ډول برابري کیږي که د صاحبینو قول چي ناروا وه نو پر کیل محمول سي او د امام ابو حنیفه رحمه الله قول پر وزن سوال به ختم سي.

علامه عیني رحمه الله څخه نورو فقهاوو نقل کړی دئ.

قال ابن نجيم رحمه الله: وصح أيضاً بيع الرطب بالتمر حال كونه متماثلاً كيلاً كذا في غير كتاب، وقال العيني رحمه الله: وزناً. (النهر الفائق: ٣/ ٤٧٦).

وقال الفقيه أبو السعود المصري: قوله كيلاً، كذا في غير كتاب خلافاً للعيني رحمه الله حيث اعتبر بالوزن. (فتح المعين شرح ملا مسكين: ٢/ ٦٠٣).

خو دا خبره د ذکر وړ ده چي په احادیثو کي د رطب وموزون کېدو ته اشاره ده.

صحیح بخاري شریف کي دي:

عن أبى البختري سألت ابن عباسٍ رضي الله عنه فقال: نهى النبي صلى الله عليه وسلم عن بيع النخل حتى يؤكل منه أو يأكل منه وحتى يوزن. (رواه البخارى: ١/ ٢٩٩، كتاب السلم).

د دې څخه مخکي دا عبارت دئ:

عن أبى البختري الطائي ، قال : سألت ابن عباسٍ رضي الله عنهما عن السلم في النخل فقال: نهى النبي صلى الله عليه وسلم عن بيع النخل حتى يؤكل منه وحتى يوزن فقال الرجل: وأى شيءٍ يوزن قال رجل إلى جانبه: حتى يحرز. (رواه البخارى: ١/ ٢٩٩، كتاب السلم). والله تعالیٰ اعلم.

د حکومت څخه په اندازه د هغوی د ظلم د اخیستلو حکم

سوال: د یوه سړي د بړبښنا د بیل مصرف یوه میاشت یو لک افغانۍ راغلئ خو دهر وختونه د داسي کور (مصرف) یا بیل دوه یا دري زره راځي ده د وکیل په ذریعه د برېښنا د وزیر سره معلومات وکړل او د بیل ثبوت یې وغوښتئ خو حکومت هیڅ ثبوت وړاندي نه کړئ اخیر ده هغه پیسې اداء کړي چي پر ده باندي په ظلم غوښتل سوی وې ایا اوس هغه پیسې چي د ده څخه په ظلم اخیستل سوی وې د دغو عوض له حکومته په څه ممکنه طریقه لاس ته راوړلای سي که نه؟

الجواب: چي څومره پیسې یې په ظلم سره اخیستي په هغه اندازه له حکومت څخه په هره ممکنه طریقه اخیستل درست دي خو د یو څو پیسو له پاره غلطه طریقه اختیارول او خپل عزت تر پښو لاندي کول اجازه نه لري نو د ځان عزت ختمولو اجازه ده ته نه سته.

مفتي محمد شفیع صاحب وایي:

کومي پیسې چي حکومت د کوم مسلمان څخه د مالیې په ډول په ظلم سره اخیستي نو ایا هغه سړی د یوې حکومتي اداري څخه هغه اندازه پیسې لاس ته راوړلای سي د مالیې په نامه..

وګورئ په امداد المفتین کي راځي:

سوال: د هندوستان یوې شعبې یو قانون جاري کړی دئ هغو ته شپږ په سلو کي سود لاس ته راځي زه هندوستاني دې اداري ته تقریباً درې زره روپې هر کال ورکوم نو ایا زما له پاره دا روا دي چي زه بوند رانیسم، د دې سود په دې نیت سره چي هغه درې زره روپۍ لاس ته راوړم چي دوی یې زما څخه د مالیې په ډول چي ناروا ده په ظلم سره اخیستي دي؟

الجواب: څومره اندازه پیسې چي دې ادارې له تا څخه د مالیې په نامه وړي د هغو اندازه پسې ته د هغې ادارې یا د هغوی د بانک یا د بلي حکومتي اداري څخه چي څنګه ته کولای سې لاس ته راوړلای سې هغه اداره که د دې نوم سود کښېږدي یا بل څه ته یې خپل روا هدف لاس ته راوړلو په نیت سره واخله په دې کي هیڅ ګناه نه سته او ستا له پاره دا سود نه دئ. په داسي ځایو کي فقهاوو دا اجازه هم ورکړې ده چي د خپل حق په اندازه یا په غلا یا په غصب سره که چیري یو څوک خپل قرضدار څخه لاس ته راوړي نو روا ده.

قال فی الشامیة فی باب حد السرقة: إذا ظفر بمال مدیونه له الأخذ دیانةً، بل الأخذ من خلاف الجنس علی ما نذکره.(فتاوی الشامی:٤/ ٩٥، سعید). (امداد المفتین:٢/ ٧٠٦، کتاب الربا والقمار، دار الاشاعت).

او دا خبره هم په ذهن کي ولرئ چي حضرت مفتي محمد شفیع صاحب فتوی د حکومتي بانک په اړه ده د (پرائیویټ) بانک څخه اخیستل یې روا نه دي.

څو عامي قاعدې وګورئ:

وفي قواعد الفقه: الضرر یدفع بقدر الإمکان. (قواعد الفقه، ص ٨٨).

وفی الأشباه والنظائر: الضرر یزال. (الاشباه والنظائر:١/ ٥٢٠).

وفي قواعد الفقه عن السیر: المظلوم له أن یدفع الظلم عن نفسه بما قدر علیه لکن لیس له أن یظلم غیره. (قواعد الفقه:١٢٤).

وللاستزادة انظر: (درر الحکام فی شرح مجلة الاحکام:١/ ٣٧، المادة:٣١- وشرح القواعد الفقهیة للشیخ أحمد الزرقا، ص ١١٨، المادة:٣١، والاشباه والنظائر:١/ ٢٥٠). والله ﷻ اعلم.

د بېلو بېلو کاټونو د احکامو بیان

د بانک د کاټ ډولونه او د هغو شرعي حکم

سوال: ١_ د بانک څخه (کایډټ) کاټ د روا والي او ناروا والي څه فرق پیدا کیږي او که نه؟

٢_ (کایډټ) کاټ سره د نغدو لاس ته د راوړلو حکم څه دئ؟

٣_ که چیري بانک د (کارډ هولډر) څخه خپله مزدوري واخلي د دې څه حکم دئ؟

۴_ په دې کاټ سره د رانیولو په صورت کي که د (بیلانو) قیمت تر هغه معلومه وخت پوري اداء نه سي نو سود وربا ندي جاري کیږي نو ایا د سود په شرط سره دا سودا فاسدیږي او که نه؟

٥_ بانک کله نا کله کایډټ کاټ والا وو ته جایزه ورکوي ایا د دې اخیستل روا دي او که؟ د دې سوالونو جوابونه د مهربانۍ له مخي راکئ.

الجواب: په دې وخت کې د هغه رواج کاټ درې ډولونه دي:

۱_ ډیبټ کارډ (Debit Card):

د دې کاټ د اخیستونکي وړاندي لا اکاونټ په دې اداره کې موجود وي د کومې ادارې کاټ چې ده لاس ته راوړي وي دغه کاټ والا یعني (کارډ هولډر) دغه کاټ چې کله دی استعمالوي اداره د ده په (اکاونټ کې) چې کومې د ده موجودې پیسې دي د هغو څخه یې اداء کوي دغه کاټ والا ته پکښې د قرض اخیستلو اسانتیا نه وي بلکې تر هغه وخته دی دا کاټ استعمالولای سي تر کومه وخته چې یې په اکاونټ کې پیسې جمعه وي اداره د دې کاټ د جاري کولو په مقابل کې خپل فیس ورڅخه اخلي. دا کاټ استعمالول بېله شکه روا دئ او د دغه کاټ په وسیله رانیول او پلورل صحیح دي ځکه په دې کې نه د قرض صورت سته او نه ده سود خو د کاټ والا دا ذمه واري وي چې دی به دا کاټ په ناروا وو کارو کې نه استعمالوي.

۲_ چارج کارډ (Charqe Card) د دې کاټ د خاوند په اداره کې د وړاندې څخه اکاوټ نه وي بلکې اداره ده ته د پور اخیستلو اسانتیا ورکوي د دې کاټ خاوند ته د یو څو معلومو ورځو اسانتیا ورکوي چې په هغو کې به دی دغه قرض خامخا اداء کوي که په دغو ورځو کې پور اداء کړي نو سود به پر ده نه لګیږي خو که د دې کارټ خاوند په دې وخت کې پور اداء نه کړي نو دی به بیا د سود سره هغه پیسې اداء کوي، اداره د دې کارټ پیسې کاټوي. د دې کارټ کارول په لاندې شرطونو سره روا دئ:

الف_ د دې کارټ خاوند دې د دې خبرې انتظام وکړي چې د معلوم وخت څخه وړاندې هغه پور اداء کړي او هیڅ وخت پر ده باندې د سود راتللو هیڅ امکان نه وي.

باء_ د دې کارټ د خاوند دا ذمه واري وي چې دی دا کارټ په ناروا کارونو کې ونه کار وي.

جیم_ که ضرورت په ډیبټ کارټ سره پوره کېدئ نو بیا ده چې دا کارټ ونه کاره وي.

۳_ کایډټ کارټ (Crredit Card) د دې کارټ د خاوند هم په اداره کې هیڅ ډول اکاونټ نه وي بلکې د ده معاهده پر پور باندې سود وي په دې معاهده کې که څه هم اداره یو معلوم وخت پورې ده ته وخت ورکوي که چیرې د دې کارټ خاوند په دې موده کې پیسې اداء کړې نو دی به له سوده خلاص وي، خو اصلاً معاهده پر سود باندې وي او د دې د اداء کولو وعده ورسره کوي د دې څخه

پرته په دې کې د وخت نوي کولو (Reschedulinq) اسانتیا هم وي چې له هغه شخصه د اداء کولو مده زیاتیږي خو په دې سود کې نوره هم اضافه پیدا کیږي او په ځینو صورتونو کې زیاتې پیسې اخیستل کیږي.

کایډټ کارډ پر څو ډوله دئ:

۱_ امریکن ایکسپریس.

۲_ ویزا.

۳_ ماسټر کارډ.

۴_ پورو کارډ.

۵_ ډائنرز کلب او نور.

د دې حکم دا دئ که ډبیټ کارډ یا چارج کارډ لاس ته نه راتلئ نو د دې استعمال ډبیټ کارټ یا چارج کارټ د ذکر سوو شرطونو سره روا دئ او که داسې نه وي نو روا نه دئ مګر په دې کې د سود امکان زیات دئ نو ځکه له دې شخصه ځان وساتئ.

۲_ الجواب: په کایډټ کارټ سره د نغدو پیسو د لاس ته راوړلو دوه صورتونه دي:

یو صورت په لاس سره د پیسو اخیستل دي چې کارډ هولډر بانک والا ته خپل کاډر ورکي او بانک والا، نغدي پیسې ورکي نو دا صورت په دې شرط سره روا دئ چې زیات محصول به نه ورڅخه واخلي ځکه دا محصول به د قرض په مقابل کې وي چې هغه سود دئ.

کارټ د نغدو پیسو سره لاس ته د راوړلو دوهم صورت:

Automated Transfer Machine A.T.M

د ماشین په ذریعه لاس ته راوړل: دا ماشینان په خپل ذات کې ډېر ګران وي بیا د دې پر نصب کولو او ساتنه او نورو باندې هم ډېر مصرفونه کیږي د دې حکم دا دئ که چیرې د دې د استعمالولو په وجه یو څه معلومې پیسې د مزدورۍ په ډول اداره واخلي چې د هغو نورو پیسو د مقدار څخه قطع نظر وي روا دئ.

که اداره هغه روپۍ اساس جوړ کړي یو څه اخلي دا ناروا دي بلکې دا به نو سود وي خو دا اداره د کارټ جاري کولو فیس اخیستلای سي.

۳_ **الجواب**: د بانک د کارټ هولډر مزدوري اخیستلای سي او روا ده.

ځکه دا د خدمتونو مزدوري ده مثلاً دا کارټ جاري کول او دا تیارول، پر دې باندي علامې لګول، د فائلونو کار کول، د ټلیفون او داسي نورو مصرفونه. همداسي د دفتر سره چي ټرا ولري هغه هر ډول کارونه او خدمتونه کول او بیا په هر ښار کي پیسې ایستونکي ماشینونه نصبول چي په خپل ذات کي هغه ډېر قیمتي او ګران دي، اوس ښکاره خبره ده چي د دغو خدمتونو مزدوري به دوی اخلي نو په دې کي هیڅ ګناه نه سته.

۴_ **الجواب**: سود جاري کول: د یادولو وړ ده چي د کایډټ کارټ هولډر سره د بانک عقد د قرضې وي چي د بانک له طرفه ورکول سوي پیسې د کارټ هولډر پر ذمه قرض وي او د قرضو سود دا فاسد شرط لګول کیږي (چي که چیري په معلومه موده کي دا قرض اداء نه کړي نو سود به اداء کوي) خو قرض د عقد تبرع څخه دئ، عقد معاوضه نه ده او د احنافو اصول دا دي چي په عقد معاوضه کي فاسد شرط لګول عقد فاسد وي او په عقد تبرع کي فاسد شرط خپله لغوه کیږي او عقد نه فاسدیږي خو د فاسد شرط د لګولو څخه تاوان راځي، خو که څوک د دې خبري ټینګه وعده وکړي چي په دې فاسد شرط به هیڅ کله عمل نه کوي او د هغه بلونو قیمت به په معلومه سوې موده کي دننه اداء کوي او د سود د اداء کولو نوبت به نه راځي نو انشاء الله د دې فاسد شرط سره به نه ګناه کار کیږي.

۵_ **الجواب**: د بانک د طرفه څخه د جائزې ورکولو حکم بانک والا یا کمپنۍ والا کارټ هولډ ته چي کومي جایزي ورکوي د هغو اخیستل او د هغو څخه کار اخیستل روا دي ځکه د بانک حیثیت د مقرض دئ چي خپل مقروض ته څه جائزه ورکوي نو د هغې اخیستل مقروض ته روا ده، خو مقروض که قرض خواه ته د قرضو په سبب څه ډالۍ جایزه یا داسي نور ورکوي نو د دې اخیستل روا نه دي. (په دې کي د لاندي کتابونو څخه ګټه اخیستل سوې ده: لَہ کایِڈٹ کارڈ کي شرعي احکام، مولف مولانا محمد اسامه، فتوی از محمد مفتي محمد فاروق صاحب، دار الافتاء جامعه احتشامیه کراچي: صفحه ۱۳۰-۱۳۲، وفتاوی عثماني:۳/ ۳۵٤، - وکذا فی عصر حاضر کی پیچیده مسائل اور ان

کا حل مرتب مولانا موسی کرمادی:۲/ ۱۹۵ -۱۹۹، وجدید معاملات کی شرعی احکام:۱/ ۱٤۲- ۱٤٦).

دليلونه وګورئ د فتاوی عثماني په حاشيه کي دي:

في المعايير الشرعية:

الحكم الشرعي لأنواع البطاقات:ـ

۞ بطاقة الحسم الفورى:ـ

يجوز للمؤسسات إصدار بطاقة الحسم الفوري ما دام حاملها يسحب من رصيده ولا يترتب على التعامل بها فائدة ربوية.

۞ بطاقة الائتمان والحسب والآجل:ـ

يجوز إصدار بطاقة الائتمان والحسم الآجل بالشروط الآتية:ـ

١ـ ألا يشترط على حامل البطاقة فوائد ربوية في حال تأخيره عن سداد المبالغ المستحقة عليه.

٢ـ أن تشترط المؤسسة على حامل البطاقة عدم التعامل بها فيما حرمه الشريعة وأنه يحق للمؤسسة سحب البطاقة في تلك الحالة.

۞ بطاقة الائتمان المتجدد:ـ

لايجوز للمؤسسات إصدار بطاقات الائتمان ذات الدين المتجدد الذي يسدده حامل البطاقة على أقسام آجلة بفوائد ربوية. والله أعلم. (حاشية فتاوى عثمانى:۳/ ۳۵۵-۳۵٦، پر دې

فتوى څو د علماء دستخطونه دي: حضرت مفتي محمد تقي عثماني صاحب. مفتي عبد الرؤف سكهروي صاحب. مفتي عبد المنان صاحب. مفتي محمود اشرف صاحب او مفتي محمد عبد الله صاحب).

په البحر الرائق کي راځي:

وما لا يبطل بالشرط الفاسد القرض .... بأن قال أقرضتك هذه المائة بشرط أن تخدمني شهرًا مثلًا فإنه لا يبطل بهذا الشرط وذلك ؛ لأن الشروط الفاسدة من باب الربا وأنه يختص بالمبادلة المالية، وهذه العقود كلها ليست بمعاوضةٍ ماليةٍ فلا تؤثر فيها الشروط الفاسدة ذكره العيني .... وفي البزازية: وتعليق القرض حرام والشرط لا يلزم . (البحر الرائق:٦/ ١٨٧، باب المتفرقات من كتاب البيوع، كوئته).

وكذا في تبيين الحقائق:٤/ ١٣٣ – والفتاوى البزازية على هامش الفتاوى الهندية:٤/ ٤٢٦).

وفي مجمع الأنهر: وما لا يبطله الشرط الفاسد وهو سبعة وعشرون شيئاً على ما ذكره المصنف رحمه الله، الأول القرض.... الخ. (مجمع الانهر:٣/ ١٥٨، مسائل شتى في البيع، بيروت).

د بانک والا وو جائزې ورکول او د هغو اخيستل روا دي او دې عقد ته عقد تبرع وايي يعني يو چا سره مشروط احسان کول حضرت مولانا ظفر احمد عثماني په امداد الاحکام :۳۸٦/۳، کي د دې جواز ليکلي دئ همداسي د دې څو شواهد هم موجود دي وګورئ:

۱ ـ نبي کريم ﷺ ته يوه فارسي همسايه مېلمستيا وکړه نبي کريم ﷺ د حضرت عائشې رضي الله عنها په شرط سره قبوله کړه. وګورئ په (مسلم شريف:۱۷٦/۲).

۲ ـ حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه د حضرت عازب رضي الله عنه څخه يوه کجاوه رانيوله حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه حضرت عازب رضي الله عنه ته وفرمايل، چي خپل زوی ته ووايه چي دا کجاوه زموږ کور ته ورسوي حضرت عازب رضي الله عنه ووېل، چي يا، تر وخته چي ما ته د هجرت قصه بيان نه کړې، حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه د هجرت قصه ورته بيان کړه.

عن البراء رضي الله عنه قال: اشترى أبو بكرٍ رضي الله عنه من عازبٍ رحلاً بثلاثة عشر درهمًا، فقال أبو بكرٍ رضي الله عنه لعازبٍ رضي الله عنه: مر البراء فليحمل إلي رحلي، فقال عازب رضي الله عنه: لا، حتى تحدثنا كيف صنعت أنت ورسول الله ﷺ حين خرجتما من مكة. (رواه البخاري:١/ ٥١٥، مناقب المهاجرين).

والله تعالىٰ اعلم.

گراج کارټ او د هغه حکم

سوال: یوه کمپنۍ وخلکو ته گراج کارټ ورکوي په داسي ډول چي کله خلک د دې کارټ په ذریعه پټرول رانیسي نو کمپنۍ گراج ته خپل بیل اداء کوي بیا کمپنۍ د میاشتي په اخر کي حساب کوي او د رانیوونکي څخه پنځلس په سلو کي زیاتي پیسې اخلي او دارنگه به د زیاتو پیسو اداء کول هم ضروري وي نو ایا د داسي معاملې کولو گنجائش سته او که نه؟

الجواب: د گراج کارټ په عام ډول داسي وي چي ته د دې په ذریعه پټرول اچوه او د هري میاشتي په اخیر کي پوره یو لوی حساب په تا پسي لیکل سوی وي او چي څومره تا تېل اچولي وي د هغو پر برابر به ته پیسې اداء کوي خو د زیاتو اداء کولو ضرورت نه سته دا صورت خو صحیح دئ ځکه زیات سود او نور زیات نه سول چي څو دي قرض اخیستی وو هغه یې اداء کړي مگر په دې کي څنگه چي پنځلس په سلو کي د زیات اخیستلو ذکر سوي دي که چیري دا ډول صورت وي بیا خو د دې هیڅ گنجائش نه سته او دا خو صریح سود دئ.

خو که چیري د کمپنۍ د طرفه داسي ویل سوي وي چي که په یوه میاشت کي دي اداء کړې هیڅ اضافه پیسې پر تا نه سته او که دي تر میاشتي وروسته اداء کړې نو پنځلس په سلو کي به هم اداء کوې نو د دې گنجائش سته او هغه دا ډول چي د سود راتللو ته هیڅ نوبت رانه سي او په معلوم وخت کي یې اداء کړي.

وگورئ فتاوى عثماني کي راځي:

کله چي کارټ استعمال سي نو په ټاکلي معلومه سوې موده کي دننه دننه د بیل اداء کول ضروري دي چي سود ونه سي او د دې له پاره ښه چل دا دئ چي (Direct Debit) طریقه غوره کي یعني د

کارت خاوند په خپله ستا له بانک څخه د بيل پيسې واخلي چي بيله قصده د څنډ په سبب سود جاري نه سي. (فتاوى عثمانى:٣/ ٣٥٣).

په درمختار کي راځي:

وما يصح ولايبطل بالشرط الفاسد لعوم المعاوضة المالية.... القرض والهبة. وفى الشامية: (قوله القرض) كأقرضتك هذه المائة بشرط أن تخدمني سنة، وفى البزازية: وتعليق القرض حرام والشرط لايلزم. (الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٢٤٩، باب ما يبطل بالشرط الفاسد، سعيد). والله ﷻ اعلم.



عن عاصم بن كليب عن أبيه عن رجل من الأنصار قال: قال رسول الله ﷺ «أجد لحم شاة أخذت بغير إذان أهلها» فارسلت المرأة، قالت: يارسول الله! إنى أرسلت إلى البقيع يشتري لي شاة فلم أجد، فارسلت إلى جار لي قد اشترى شاة أن أرسل إلى بثمنها فلم يوجد، فارسلت إلى امراته، فارسلت إلي بها، فقال رسول الله ﷺ: أطعميه الأسارى. (رواه ابو داؤد).

دوهم .... باب

د سودي مصارفو بيان

د کافر څخه د سودي مال ولاس ته دراوړلو حکم

سوال: که چيري د کافر سره سودي مال وي دا د ده ملکيت دئ او که نه؟ او که کافر مسلمان ته د سودي مال څخه ډالۍ ورکړي نو مسلمان ته د دې د اخيستلو اجازه سته او که نه؟ او که چيري يو مسلمان سودي ډالۍ در کوي نو د دې ډالۍ د اخيستلو اجازه مسلمان ته سته او که نه؟

الجواب: كه چيري د مسلمان سره سودي مال وي نو مسلمان د دې مالک نه جوړيږي بلكې پر ده يې بيرته وخپل مالک ته واپس كول ضروري دي كه چيري ده ته د هغه مال مالک معلوم وي او كه يې مالک ورته معلوم نه وي نو د ثواب لاس ته راوړلو د نيت څخه پرته به يې خيراته وي او د دې مال څخه ځان خلاصونه دي ديو بلا او مشكل څخه د ځان خلاصون په بللو سره دي خيرات كړل سي او بيا دي دغه پيسې يو مستحق فقير مسكين چې هغه مالک د نصاب نه وي وركول صحيح او روا دي خو د سودي مال ډالۍ قبولول روا او صحيح نه دي.

وګورئ علامه شامي رحمه الله فرمايي:

ويردونها على أربابها إن عرفوهم وإلا تصدقوا بها لأن سبيل الكسب الخبيث التصدق إذا تعذر الرد على صاحبه. (فتاوى الشامي:٦/ ٣٨٥، كتاب الكراهية، فصل فى البيع، سعيد).

خو كه چيري د كافر سره د سود مال وي نو كافر د دې مالک جوړيږي او د ده څخه ډالۍ قبلول روا ده تر څو چې دى هغه مال په قبيح عقلي يا حرام عقلي سره لاس ته رانه وړي لكه دوكه، غلا او داسي نور خو كفارو ته په دار الاسلام كي اسلامي حكومت بايد د ربا اجازه ورنه كي، د دې مسئلې اصل پر مدار پر دغه دئ چې كافران مخاطب بالفروع دي كه نه دئ؟ او په دې اړه د فقهاوو په منځ كي اختلاف دئ د ځنيو عالمانو رايه دا ده چې دوى په پيل كي يوازي مخاطب با الايمان او عقوبات دي او مخاطب په معاملاتو نه دي په داسي حال كي چې نور علماء بيا فرمايي، چې كافران مخاطب با المعاملات دي په هر صورت كافران د سود د پيسو مالكان دي چې همداسي معلوميږي.

مولانا ظفر احمد تهانوي په احكام القران كي فرمايي:

تحقيق أن الكفار مخاطبون بالفروع أم لا؟

الكفار مخاطبون بالإيمان أجماعاً، وكذا بالمشروع من العقوبات والمعاملات، وكذا بالفروع وعامة الشرائع في حكم المواخذة فى الآخرة بلاخلاف، ذكره فى المنار وغيره، وأما في وجوب الأداء في أحكام الدنيا فالصحيح أنهم غير مخاطبين به، وما نسب إلى أهل العراق

من مشايخنا وإلى الأكثر من أصحاب الشافعي رحمه الله من كونهم مخاطبين بوجوب الأداء في الدنيا فهو مؤول بأنهم مأمورون بأن يومنوا ثم يصلوا كما في عامة كتب الأصول، وذهب البخاريون إلى أنهم مكلفون بالفروع في حق الاعتقاد فقط والصحيح المؤيد بالنصوص والآيات هو ما ذهب إليه الجمهور أنهم مخاطبون باعتقاد الشرائع وكذا بأدائها باستجماع شرائطها منها تقديم الإيمان. (احكام القرآن:۱/ ۱۱-۱۲ -وكذا فى الشامى:٤/ ١٢٨، سعيد).

حضرت مولانا ظفر احمد تهانوی فقهي عبارتونو تر ذکر کولو وروسته فرمايي.

د نوموړي عبارت څخه لاندي خبري تر لاسه سوي دي:

۱_ د امام زفر رحمه الله په اند ټول خطابات په عام ډول باندي چي په شريعت کي د معاملاتو په اړه وارد سوي دي هغه کافرانو ته هم شامليږي که هغه حربي وي او که ذمي او د خطاب د عموم په سبب حکم هم عموماً ثابتيږي نو کوم معاملات چي کافران اهل حرب او اهل ذمه پر خلاف د شريعت کوي پر دې به حکم د فساد لګول کيږي که څه هم اهل حرب څخه د نه ولايت او اهل ذمه څخه د معاهدې له کبله تعرض نه کيږي.

۲_ د صاحبينو په اند د حربيانو معاملې د شريعت مخالف دي پر هر يوه به د فساد حکم نه لګول کيږي ځکه چي هغو د اسلام حکمونه پر ځان نه دي لازم کړي ځکه د حکم د ثابتوالي له پاره د دوی په اند عام خطاب کفايت نه کوي بلکي التزام هم شرط دئ او هغه په حربيانو کي نه سته، خو د اهل ذمه وو چي کومي معاملې چي د اسلام د متفق عليها مسئلو سره وي نو پر دې به د فساد حکم لګول کيږي ځکه چي د اسلام حکمونه يې پر ځان لازم کړي دي خو په نن زمانه کي د کافرانو ډېرو هيوادونه په دار الامن سره نومول کيږي په هغو هيوادونو کي کافرانو د مسلمانانو د حکمونو التزام نه دئ کړی نو دا حکم به په هغو هيوادو کي نه چليږي پر دې اساس په هر حال کي کافر د سودي مال مالک بلل کيږي.

۳_ د امام ابو حنيفه رحمه الله په اند د ذميانو پر هغو معاملو چي د شريعت خلاف وي هم د فساد حکم نه لګول کيږي په دې شرط سره چي هغه معاملې خپله د دوی د دين سره موافق وي ځکه چي

ذمیانو په معاملو کي د اسلام د احکامو التزام د خپلو معتقداتو پر خلاف نه دي کړی، البته که چیري د یوې معاملې په اړه په معاهده کي پر دوی شرط ولګول سي بیا به دا پر دوی لازمه وي. پاتـه سوي هغه شرعي معاملې چي د هغو د معتقداتو موافقي نه دي او نه د هغو په اړه پر دوی باندي څه شرط لګول سوي وي په هغو کي د اهل ذمه وو له طرفه التزام نه دئ راغلي لهذا هغه معاملې چي دوی یې د خپل مذهب سره برابري کوي هغه به صحیح ګڼل کیږي او د فساد حکم به نه پر لګول کیږي. (امداد الاحکام: ٤/ ٣٩٠، معاملات المسلمين باهل الكتاب والمشركين).

څو سوالونه او د هغو جوابونه:

١ـ د فقهاوو په اند چي کفار مخاطب بالفروع او په معاملو سره هم دي نو بیا خو په سود کي هم د دوی حکم زموږ د حکم په ډول بایـد وي لکـه څنګـه چـي د المنار او داسـي نورو د عبارت څخـه معلومیږي.

حيث قال: والكفار مخاطبون بالأمر بالإيمان وبالمشروع من العقوبات والمعاملات.

وفي نور الأنور: وأما المعاملات فهي دائرة بيننا وبينهم فينبغي أن نعامل معهم حسب ماتعامنا بيننا في البيع والشراء والإجارة وغيرها سوى الخمر والخنزير فإنهما مباحان لهم، لا لنا.

(نور الانوار، ص ٥٩-٦٠).

نو له همدې کبله که چیري کومه معامله د شریعت څخه خلاف وکړي او پیسې لاس ته راوړي دا پیسې حلالي بلل په کار نه دي.

الجواب: د دې جواب مولانا ظفر احمد عثماني په راتلونکی عبارت کي ورکړی دئ وګورئ، د جواب حاصل دا دئ چي کفار مخاطب بالفروع فی العقوبات والمعاملات که څه هم دي خو د حکم بالحرمة والفساد له پاره عام خطاب کفایت نه کوي، البته التزام هم شرط دئ او حربیانو خو د اسلام د احکامو پر ځان لازمتیا کړې نه ده، نه د خپلي معتقد پر برابر او نه د مخالف د معتقد پر برابر نو دوی که په هره لار پیسې وګټي که په سود وي او که په غصب وي که په باطلو سودا وو وي کـه د دوی د مذهب موافق وي او که نه وي په هر صورت کي هغه پیسې یا بل شی د دوی په ملکیت کي راځي او

د مسلمان له پاره د دغو په مزدوری یا په تنخواه کي اخيستل روا دي. (امداد الاحکام: ٤/ ٢٩٩، معاملات المسلمين باهل الکتاب والمشرکين).

۲_ **سوال:** د سود مال د خوړلو په اړه نصوص عام دي که مسلمان وي او که کافر نو بیا به دلته د کافر څخه د سود مال اخيستل څنګه روا سي؟

الجواب: د دې جواب دا دئ چي په يوه عقد (جنسي يا قدري شيانو) کي بېله عوضه زيادت د اخيستلو ته سود ويل کيږي مثلاً سل افغانۍ يې په قرض ورکړلي او تريوې مياشتي وروسته يو سلو پنځوس افغانۍ بېرته اخيستلو شرط ولګوي نو دا سود دئ.

الربا: هو في اللغة: الزيادة، وفي الشرع: هو فضل خالٍ عن عوض شرط لأحد العاقدين. (التعريفات: ص ١١٢).

دا د هيڅ چا په اند روا نه دي او بالاتفاق حرام دئ، البته په ياده مسئله کي داسي نه ده بلکي کافر د مال مالک جوړ سو او هغه مسلمان ته خپل ملکيت ورکوي نو په دې کي په ښکاره سره د ناروا والي څه لامل نه سته ځکه انسان د هغه شي چي دی يې مالک دئ چي څنګه تصرف وغواړي کولای يې سي.

په عطريه کي راځي:

سود هغه حقيقي يا حکمي زيادت دئ چي په عقد کي بېله عوضه شرط سوی وي او قرض د (انتهاء) اخير په اعتبار سره معاوضه ده نو ځکه قرض ورکول ګټه لاس ته راوړل حرامه ده . په ډالۍ کي د هيڅ عوض يادونه نه کيږي ځکه که ډالۍ قبلوونکي يو څه د ډالۍ څخه زيات بېرته هغه ته ورکړي نو دا زيادت روا دئ او بېله د شرط لګولو که څه ورکړي يا يې واخلي دا روا دي . د دې سره د سود هيڅ تړاو نه سته او دا نيکي او احسان دئ. (عطر هدايه: ص ١٦٥).

۳_ **سوال:** که چيري يو څوک سوال وکړي چي د سود لاس ته راوړلو دا يو اسانه لاره ده چي د کافر څخه سود واخله نو حلال دئ مثلاً کمپنۍ والا يو کافر مزدور په خاص ډول باندي ودروي او ده ته ووايي چي ته معاملې کوه او سود لاس ته راوړه بيا به دا سود ما ته روا وي د دې جواب څه دئ؟

الجواب: د کافر څخه سودي مال لاس ته راوړل روا نه دي، لکه څنګه چي تېر سول خو که کافر سود لاس ته راوړي او دی يې مالک هم جوړ سي بيا بېله څه عوضه مسلمان ته ډالۍ ورکول وغواړي

يا يې يو مسلمان نوكر ته په مزدورۍ كې وركول وغواړي نو دا روا ده ځكه د سود مالک جوړېدل د مسلمان له پاره حرام دي او د كافر له پاره د حرام والي هيڅ لامل نه سته، كله چې هغه د سود مالک جوړ سي نو بيا دى خپل مال كه په خپله كاروي يا يې بل چا ته وركوي.

۴_ **سوال:** د هدايې د مصنف له عبارت ته ځخه معلوميږي چې د سود كار وبار د دوى له معاملو ځخه مستثنى دئ او دا خو كافرانو ته هم حلال نه سو ويلاى د دې جواب څه دئ.

. وګورئ په هدايه كې راځي:

والربا مستثنى عن عقود هم لقوله عليه السلام: الا من أربى فليس بيننا وبينه عهد. (الهداية: ۲/ ۳۳۸).

په مصنف ابن ابى شيبه كې روايت دئ:

عن الشعبي قال: كتب رسول الله ﷺ إلى أهل نجران وهم نصارى « أن من بايع منكم بالربا فلا ذمة له ». (مصنف ابن ابى شيبة: ۲۰/ ۵۵۷).

الجواب: د دې جواب دا دئ چې مسلمان هيواد باچا ته په كار نه دي چې دى ذميانو ته د سودي كار وبار اجازه وركي، خو فى نفسه كه چيري سود د دوى په اند صحيح وي او هغه يې واخلي نو كافر به د دې مال خاوند ګڼل كيږي، نن سبا يو داسي اسلامي حكومت نه سته چې هغه يو څوک د سود ځخه منعه كړي نو كه كفار په خپل منځ كي د سود كار وبار وكي نو دوى به د دې مال خاوندان سي.

ابو عبيده قاسم بن سلام په خپل كتاب ((الاموال)) كي فرمايي:

وقوله : « ومن أكل منهم الربا قبل فذمتي منه بريئة » ، لا نراه غلظ عليهم أكل الربا خاصة من بين المعاصي كلها ، ولم يجعله لهم مباحاً ، وهو يعلم أنهم يركبون من المعاصي ما هو أعظم من ذلك : من الشرك ، وشرب الخمر ، وغيره إلا دفعاً عن المسلمين ، وأن لا يبايعوهم به فيأكل المسلمون الربا ، ولولا المسلمون ما كان أكل أولئك الربا إلا كسائر ما هم فيه من

المعاصي ، بل الشرك أعظم . (الاموال:١/ ٦٦، بيروت – والاموال لابن زنجوية:٢/ ١٠٣ – وذكر عن ابى عبيدة الزيلعى فى نصب الراية:٣/ ٢٠٣).

ولنا أن حرمة الربا ثابتة في حقهم، وهو مستثنى من العهد فإن النبي ﷺ كتب إلى نصارى نجران من أربى فليس بيننا وبينه عهد وكتب إلى مجوس هجر: إما أن تدعوا الربا أو تاذنوا بحرب من الله ورسوله، فالتعرض لهم فى ذلک بالمنع لايكون غدراً بالأمان كذا فى المبسوط (١٤/ ٥٨) وقد تقدم في شروط أهل الذمة من كتاب الجهاد ما يدل على نهيه صلى الله عليه وسلم والخلفاء الراشدين أهل الذمية عن الإباء في دار الإسلام وأيضاً: فإنما تثبت العصمة في حق الأحكام بالإحراز والإحراز بالدار لا بالدين، لأن الدين مانع لمن يعتقده حقاً للشرع دون من لايعتقده ولقوة الدار يمنع عن ماله من يعتقد حرمته ومن لم يعتقده كما فى المبسوط: (١٤/ ٥٨) أيضاً فالاعتبار بالدار، هو الصحيح. (اعلاء السنن:١٤/ ٣٥٢- والمبسوط:١٤/ ٥٨). والله تعالیٰ اعلم.

په سود کي د سود د اداء کولو حکم

سوال: خالد د بانک څخه یو لک افغانۍ قرض واخیستئ د هغو په عوض کي یې یو کور رانیوئ د بانک خاوند ورته وویل چي یو لک لس زره روپۍ به بیرته موږ ته راکوې اوس خالد هغه کور پر زید باندي دیو لک لس زره په بدل کي پلورل غواړي چي دی خپل قرض په اداء کړي زید وویل چي هغه یو لک افغانۍ به له حلال مال څخه ما ته راکوې او لس زره به د سود مال راکوې ایا داسي کول روا دي او که نه؟

الجواب: د سود کار وبار لویه ګناه ده او په قرآن او حدیثو کي سخت وعیدونه راغلي دي نو ځکه خالد باید توبه وکاږي او بیا د سود د قرضو د نه اخیستلو قصد وکړئ او د سود د پیسو په اړه عالمانو لیکلي دي چي یا خو دې وخپل خاوند ته ورکي که چیري یې مالک معلوم وي او که نه وي پر

مسکيناو دې د ثواب د نيت پرته خيرات کي او په سودي پيسو د سود اداء کولو حکم دا دئ چي له کومه بانکه ده سودي پيسې اخيستي وي هماغه ته د سود پيسې په هره لار سره بيرته ورکولای سي خو ديوه بانکه څخه اخيستل او بل ته ورکول روا نه دي.

وګورئ په بذل المجهود کي دي:

وأما إذا كان عند رجل ما خبيث فأما إذا ملكة بعقد فاسد أو حصل له بغير عقد ولايمكنه أن يرد إلى مالكه ويريد أن يدفع مظلمته فليس له حيلة إلا أن يدفع إلى الفقراء. (بذل المجهود:١/ ٣٧).

په البحر الرائق کي راځي:

قالوا: وعلى هذا لو مات رجل وكسبه من ثمن الباذق والظلم أو أخذ الرشوة تعود الورثة ولا يأخذون منه شيئًا وهو الأولى لهم ويردونه على أربابه إن عرفوهم، وإلا يتصدقوا به؛ لأن سبيل الكسب الخبيث التصدق إذا تعذر الرد. (البحر الرائق:٨/ ٢٠١، فصل فى البيع، كتاب الكراهية، كوئته).

وللاستزادة انظر: (تبيين الحقائق:٦/ ٢٧، فصل فى البيع، ملتان - والدر المختار مع رد المحتار:٦/ ٣٨٥، فصل فى البيع، سعيد).

په نظام الفتاوی کي راځي:

د هر حرام مال شرعي حکم دا دئ چي کوم ځای شخه يې لاس ته راوړی وي بيرته يې هلته ورکړي تر دې شرعي قاعدې لاندي چي د کومه ځای شخه د سود په نامه پيسې لاس ته راغلي وي هماغه ځای ته دې ورسول سي نو ځکه دا صورت شرعي ګنجائش لري او که داسي کېدلای نه سي نو د سود د پيسو شرعي حکم دا دئ چي د دې د ګناه شخه د ځان ژغورلو په نيت دې وېوزلو خلکو ته د خيرات په ډول ورکړي. (نظام الفتاوی:١/ ١٩١).

په فتاوی عثماني کي راځي:

که چیري مخکي یې د ناپوهی په سبب په سودي اکاونټ کي پیسي ایښي وي او سودي قرض یې واخیستئ نو داسي کولای سي چي د ځان د خلاصون له پاره یې له یوه اکاونټ څخه واخلي او په بل اکاونټ کي یې کښیږدي په دې شرط چي اخیستل سوی سود تر ورکولو سوي سود زیات نه وي او برابر سي خو د بیا له پاره دي دا سلسله بنده کړي. (فتاوی عثمانی: ۳/ ۲۸۰).

په جدید فقهي مسائل نومي کتاب کي راځي:

که چیري یو څوک پر سودي قرض اخیستلو باندي مجبور سي او پور واخلي بیا د ده سره د بانک څخه لاس ته راوړل سوي د سود د پیسو څخه یو څه پیسې موجودي وي نو که دغه پیسې د سود پر ډول اداء کي هیڅ پروا نه لري ځکه چي سود ورکول هم گناه ده ځکه پر داسي طریقه هغه حلال مال چي الله ﷻ ورکړی دئ په ناروا لار کي مصرفوي او س که چیري یو څوک همغه د سود پیسې په دې لار کي ورکوي نو یو پاک مال د بې عزتی څخه ژغوري او تمه ده چي پر دې به دی خدای ﷻ نه گناه کار وي. مولانا تهانوی رحمه الله هم دا خبره بنه بللې ده. (جدید فقهی مسائل: ۱/ ۲۵٤). والله تعالی اعلم.

د سودي پیسو د حکومت په مالیه کي د اداء کولو حکم

سوال: ایا د سودي پیسو څخه دغه لاندي ټیکسونه اداء کول صحیح دي او که نه؟

۱_ پر لاس ته راغلې گټه باندي ټیکس.

۲_ دیو څه وخت له پاره محصول.

۳_ ویټ (V. A. T) رانیولو شیانو کي د څلوارلس په سلو کي محصول د دې اداء کول په قانون کي ضروري وي د ښار والي دا لاندي محصولونه د سودي پیسو څخه اداء کول روا دي او که نه؟

۱_ د خالي ځمکي محصول؟

۲_ د کورو د ځمکي محصول؟

الجواب: تر کومه ځایه چي موږ معلومات لرو د جنوبي افریقا بانکونه حکومتي نه دي بلکي د عامو خلکو دي نو ځکه د حکومتي محصول په ځای کي د سود د پیسو اداء کول روا نه دي د سود پیسې چي د چا څخه اخیستي وي هغه ته یې بیرته ورکول ضروري دي یا پر بیوزلو خلکو ته د ثواب د نیته پرته ورکول په کار دي، نن سبا دا دوهم صورت باندي عمل کیږي ځکه بیرته بانک ته د

ورکولو یې څه لار نه سته د دې څخه پرته د حکومت ټول محصولونه هم د ظلم په سبب نه دي بلکي په یوه صورت له صورتو کي یې مورږ ته اختیاري یا غیر اختیاري ګټه رسیږي نو بیرته د هغه سود څخه ګواکي مورږ ګټه حاصله کړه.

په معارف السنن کي راځي:

قال شيخنا: ويستفاد من كتب فقهائنا كالهداية وغيرها أن من ملك بملك خبيث ولم يمكنه الرد المالك فسبيله التصدق على الفقراء، قال: ومثله يقول ابن القيم في « بدائع الفوائد»،.... قال: والظاهر أن المتصدق بمثله ينبغي أن ينوي به فراغ ذمته ولايرجو به المثوبة، نعم يرجوها بالعمل بأمر الشارع، وكيف يرجو الثواب بمال حرام ويكفيه أن يخلص منه كفافاً رأساً بر أسٍ! وفي سنن الدار قطني (٢/ ٥٤٥) بإسناده عن عبد الواحد بن زياد قال: قلت: لأبي حنيفة رحمة الله عليه من أين أخذت هذا؟ الرجل يعمل في مال الرجل بغير إذنه أنه يتصدق بالربح! قال: أخذته من حديث عاصم بن كليب اه، وحديث ابن كليب أخرجه أبو داؤد في سننه (ص ٤٧٣) في (باب اجتناب الشبهات) من كتاب البيوع: عن عاصم بن كليب عن أبيه عن رجل من الأنصار قال: خرجنا مع رسول الله ﷺ في جنازة.... فلما رجع استقبله داعي امرأة، فجاء وجيء بالطعام فوضع يده، ثم وضع القوم فأكلوا فنظر آباؤنا رسول الله ﷺ يلوک لقمة في فمه، ثم قال: « أجد لحم شاة أخذت بغير إذن أهلها» فأرسلت المرأة، قالت: يا رسول الله! إني أرسلت إلى البقيع يشتري لي شاة فلم أجد، فأرسلت إلى جار لي قد اشترى شاةً أن أرسل إلى بثمنها فلم يوجد، فأرسلت إلى امرأته، فأرسلت إلى بها، فقال رسول الله ﷺ: أطعميه الأسارى اه، (رواه ابو داؤد: ٢/ ١١٧، باب اجتناب الشبهات من كتاب البيوع). رواه الدار قطني في سننه (في باب الصيد والذبائح: ٤/ ٢٨٦/ ٥٤). وفيه: فبينا هو يأكل إذ كف يده، وفيه

أطعموها الأسارى، وفي طريق آخر: فلما أخذ رسول الله ﷺ لقمته رمى بـها. (فى باب الصيد والذبائع: ٤/ ٢٨٦/ ٥٥). (معارف السنن: ١/ ٤٣-٣٥، باب ماجاء لاتقبل صلاة بغير طهور، تحت قوله ولاصدقة من غلول، سعيد).

په نظام الفتاوى كي راځي:

اصل قانون دا دئ چي كوم حرام مال وي د هغه په اړه حكم دا دئ چي د هر چا مال چي وي بيرته دي د هغه ته پريو طريقه ور ورسول سي. «إذا علم المالک بعينه فلا شک في حرمته ووجود رده عليه فتاوى الشامي، باب البيع الفاسد، سعيد». **او كه خپل خاوند ته مال نه سي ورسېدلاى نو دې د ګناه څخه د ځان ژغورلو له پاره دې پر بېوزلو خيرات كي او ژر تر ژره دي له خپل ځان څخه ليري كړي او خپله دي په هيڅ كار كي د دې څخه كار نه اخلي او نه دې د ثواب په نيت خيراتوي.**

«وأما إذا كان عند رجل مال خبيث فأما إذا ملكه بعقد فاسد أو حصل له بغير عقد ولايمكنه أن يرد إلى مالكه ويريد أن يدفع مظلمته فليس له حيلة إلا أن يدفع إلى الفقراء».

(بذل المجهود: ١/ ٣٧).

د مركزي حكومت څخه لاس ته راغلي د سود پيسې د مركزي حكومت ادارې د ته د محصول په ځاى كي چي هغه محصول د مركزي حكومت له خوا الګول سوى وي وركولاى سي او د نورو ادارو د محصول پر ځاى يې نه سي ورنولاى. (نظام الفتاوى سره د حاشيه: ١/ ١٨٥).

په احسن الفتاوى كي دي:

د بانک څخه چي سود لاس ته راځي دا د حكومت د خزانې څخه نه وي نو له هم دې كبله له دې څخه ولاس ته د راغلي پيسې د محكو د مېوو محصول اداء كول صحيح نه دي او د خاوند د نه معلومېدو په سبب يې پر بېوزلو وېشل واجب دي. (احسن الفتاوى: ٧/ ٢١).

په جدید معاملات کي شرعي احکام نومي کتاب کي دي:

په دې اړه شرعي مسئله دا ده چي د بانک څخه چي کوم سود لاس ته راځي څنګه چي هغه د حکومت له خزانې څخه نه دئ او د هغه د حکومت سره هيڅ تړاو نه وي نو ځکه د کښتو په محصول کي يې ورکول صحيح نه دي او د خاوند د نه معلومېدلو په سبب يې پر بېوزلو باندي وېشل واجب دي. (جدید معاملات کی شرعی احکام: ۱/ ۱۶۳).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

(انکم ټيکس) هغه محصول چي حکومت يې پر کښتو اخلي دا يو داسي محصول دئ چي اداء کول يې واجب نه دي، په نامشروع ډول اخيستل کېږي نو ځکه که په بانک کي د مجبورۍ په سبب په داسي اداره کي د پيسو ايښودلو ضرورت پيدا سي چي په هغه کي سود لاس ته راځي او سود لاس ته راغئ نو په دې سود سره پر کښتو لګول سوی سود اداء کېدلای سي په دې شرط چي دغه بانک يا اداره حکومتي وي عام محصول لکه ښاري محصول يا داسي نور يا د بلي معاملې له پاره دغه د بانک سود په کار راوستل يا دغه حيله په کار اچول صحيح نه دي.

بل ځای يې ليکلي دي:

د اوسېدلو د ځای محصول د هغو ښاري خدمتو په بدل کي اخيستل کېږي چي حکومت يې خلکو ته برابر وي دا يو روا او ښه محصول دئ چي د هغه محصول ګټه بېرته ورکونکي ته رسېږي نو که په دې کي سود ورکول سي نو د دې معنا دا ده چي له سود څخه يې کار واخيستئ. (کتاب الفتاوی: ۵/ ۳۱۸-۳۱۹).

لنډه دا چي محصول پر دوه ډوله دئ:

۱_ منصفانه چي د هغه ګټه په يوه صورت کي خامخا ومور ته رسېږي په داسي محصول کي ومور ته د هيڅ ډول د سود د پيسو ورکولو اجازه نه سته هغه که حکومتي بانک وي او که د عامو خلکو.

۲_ غير منصفانه، يعني هغه محصول چي په ظلم سره پر خلکو باندي لګول کېږي مثلاً هغه محصول چي پر کښتو لګول کېږي سيل ټيکس د دې حکم دا دئ چي د مرکزي بانک يا حکومتي

بانک سود پکښې اداء کولای سي ځکه چې مالک ته رسیږي خو د حکومتي بانک څخه پرته د نورو څخه اخیستل یې صحیح نه دي.

ګورئ جدید فقهي مسائل نومي کتاب کي راځي:

محصول چي عوامو څخه اخیستل کیږي پر دوه ډولونه دئ یو منصفانه دئ په خپله په اسلام کي هم د دې ګنجائش سته مثلا پر اوبو، برېښنا، کتاب خانه، پارک او داسي نورو اسانتیاوو منځ ته راوړلو په بدل کي یې چي ښار والي محصول اخلي د دغو ګټه موږ هم وینو چي موږ ته یې ګټه رسیږي او دوهم ډول هغه محصول دئ چي (غیر منصفانه) یا ناروا ورته ویل کیږي مثلاً پر کښتو محصول په شریعت کي د بې انصافۍ څخه پرته د عقل څخه هم لیري ده په اول ډول محصول کي د بانک سودي پیسې ورکول صحیح نه دي. (جدید فقهی مسائل: ۱/ ۳۵۳، وکذا فی ایضاح النوادر: ۱/ ۱۰۰).

همدارنګه د فقهي په کتابو کي بیان سوي دي که یو څوک دیو چا څخه د هغه مریی په زور یوسي (غصب یې کي) او دی یې د یو چا سره پر مزدوري ولګاوو او په دې سره یې پیسې لاس ته راوړې بیا مریی د غاصب په لاس کي هلاک سو نو په تاوان کي یا په قیمت کي دغه پیسې شاملولای سي چي هغه مریی لاس ته راوړي دي ځکه دغه پیسې به هغه اصلي مالک ته رسیږي د کوم څه په سبب چي دغه خبث راغلي ده او د مالک له پاره په دې پیسو کي څه تاوان او خرابي نه سته او که غاصب دغه مریی پر بل چا وپلورئ بیا د رانیوونکي په لاس کي دا مریی مړ سو بیا خاوند د غلام دعوه وکړه او پر مریي یې خپل ملکیت ثابت کړئ د مریي خاوند د رانیوونکي څخه تاوان واخیستئ نو غاصب هغه د مریي ګټلي پیسې رانیوونکي ته نه سي ورکولای ځکه رانیوونکي د مریی خاوند نه دئ.

معلومه سوه چي که چیري په سود سره اخیستل سوی مال د چا څخه ده لاس ته راوړی وي هغه ته دي ور واپس کړي نو صحیح ده او که بل چا ته یې ورکړئ دا روا نه ده نو د سود روپۍ چي یې له چا څخه اخیستي دي بیر ته دي هغه ته ورکي او که د دې اسانتیا نه وي نو پر بېوزولو دې وویشي دا هم روا دئ خو دا بیا روا نه ده چي د شخصي بانک څخه سود واخلي او بیا یې حکومت ته د محصول په بدل کي ورکوي.

وګورئ فتاوی سراجیه کي راځي:

إذا آجر الغصوب يستعين بأجرة في ضمان القيمة ويتصدق بالفضل. (الفتاوى السراجية على هامش فتاوى قاضي خان:۲/ ۷۲).

په هدایه کي راځي:

فلو هلك العبد في يد الغاصب حتى ضمنه له أن يستعين بالغلة في أداء الضمان لأن الخبث لأجل المالك، ولهذا لو أدى إليه يباح له التناول فيزول الخبث بالأداء إليه بخلاف ما إذا باعه فهلك في يد المشتري ثم استحق وغرمه ليس له أن يستعين بالغلة في أداء الثمن إليه لأن الخبث ما كان لحق المشتري إلا إذا كان لا يجد غيره لأنه محتاج إليه فله أن يصرفه إلى حاجة نفسه فلو أصاب مالا تصدق بمثله إن كان غنياً وقت الاستعمال، وإن كان فقيراً فلا شيء عليه لما ذكرنا. (الهدايه:۳/ ۳۷۵).

همدا ډول وګورئ: (حاشية الطحطاوي على الدر المختار:٤/ ١٠٤ – وتبيين الحقائق:٥/ ٢٢٥ – وتكملة البحر الرائق:٨/ ١١٤ – والفتاوى الشامي:٦/ ١٨٩ – ومجمع الضمانات:١/ ٢٩٤ – والفتاوى البرازية على هامش الهندية:٦/ ٧٠). والله ﷻ اعلم.

سودي پیسې په عامو کارو کي د لګولو حکم

سوال: ایا د سود په پیسو د مسکینانو او بېوزلو خلکو له پاره د څاه د کندلو اجازه سته او که نه؟ همداسي په عامو خیراتي کارو کي دا پیسې کارول روا دي او که نه؟

الجواب: په دې مسئله کي د عالمانو او مفتیانو اختلاف دئ زیات مفتیان وایي، چي د سود پیسې دي د څاه په کندلو کي ونه کارول سي، البته د ثواب ولاس ته د راوړلو پرته دې پر بېوزلو خیرات کي، خو د هندوستان ځیني مفتیان مثلاً سید مفتي عبد الرحیم لاجپوري او داسي نور فرمایي، چي سودي پیسې دي په عامو خیریه کارو کي ولګول سي. خو احتیاط د زیاتو عالمانو پر قول باندي په عمل کولو کي دئ که بیا هم چا و کارولې نو د کارولو ګنجائش ورته سته، که چیري بیا هم په خیریه

کارو کي د لګولو ضرورت وو نو دا حیله کولای سي چي یوه بېوزلي ته یې ورکي او دا کار په هغه بېوزله وکړل سي.

په فتاوی رحیمه کي دي:

په دې مسئله کي اختلاف دئ، بېوزلو ته یې ورکول ښه دي، په لار او داسي نورو عامو کارو کي د کارولو ګنجائش یې هم سته او مسجد کي یې نه سي کارولای، د مسجد د تشنابو (بیت الخلاء) په برابرولو کي یې کارولای سي. (فتاوی رحیمیه:۹/ ۲۷۹)

د مفتي عبد الرحیم پر دې فتوی مفتي اسماعیل کچولوي صاحب سوال کړی دئ نو مفتي عبد الرحیم صاحب د لویو عالمانو فتواوي پر ډول د تائید ورسره جمعه کړی دي مثلاً مفتي محمد کفایت الله فتاوی، حضرت مفتي سعید احمد مفتي اعظم مظاهر العلوم فتوی، شیخ الاسلام حضرت حسین احمد مدني فتوی، حضرت مفتي محمد حسن ګنګوهي فتوا او داسي نورو تفصیل له پاره وګورئ: (فتاوی رحیمیه:۹/ ۲۵۶-۲۶۰).

او په اسلامي فقه کي دي:

که یې د مجبوری له امله بینک کي پیسې جمع کړي او پر هغه سود ورکول سو نو پر خپل ځان او کوچنیانو دي نه لګوي بلکي بېله د ثواب کارو کي وکاروي د نیت څخه پرته دې وبېوزلو ته ورکي یا دي دیوه مخور کس په ذریعه په عمومي خیریه دا وکارول سي مثلاً د محلي په لار کي یا د کلي په لار کي یا عام تشناب او داسي نورو کارو کي دي وکارول سي. (اسلامی فقه:۲/ ۳۶۹).

حضرت مفتي محمد تقی عثماني په فتوی عثماني کي یو ځای ویلي دي:

د سود پیسې دي د خپل ځان خلاصولو په نیت سره بېوزوله ته په خیرات کي ورکړي، په دې کي هم د هغه مالک جوړول ضروري دي او په عمومي خیریه کارو کي دا پیسې نه سي کارولای. (فتاوی عثمانی:۳/ ۲۷۹).

خو بل ځای یې تحقیقي (څېړنیزه) فتوي لیکلې ده چي په عموي خیریه کارو کي د سود پیسې کارول روا دي او د حضرت مفتي حکیم الامت د فتوي څخه یې هم استدلال کړی دئ چي د هغه په

اند هم د سودي پيسو خيرات واجب دئ او واجب التمليک نه دئ او حضرت محمد رفيع صاحب هم د دې فتوى سره اتفاق کړى دئ. د خلاصي په ډول څو خبري وګورئ:

۞ حضرت حکيم الامت فرمايلي دي، د دا ډول مال حکم د لقطي (يوه پيدا سوي شي) دئ او د لقطې حکم دا دئ چې د خپل خاوند له طرفه يې نفلي خيرات کړي او تمليک پکښې ضروري نه دئ. (الدر المختار مع ردالمحتار:٢/ ٣٣٨، سعيد – وشرح مذمومة وابن وهبان:١/ ٨٨).

۞ د حرام مال يو څوک مالک جوړولو او واجبوالى د مذهب د فقهاوو په کتابو کې يو ځاى صراحتاً نه سته البته پر دې باندې د لفظ تصدق څخه استدلال سوى دئ.

۞ حرام مال چې د هغه خيراتول واجب دي هغه د مصرفولو په لحاظ لکه زکات داسې نه دئ، بلکې په ډېرو وجهاتو سره دوى تفاوت لري لکه چې فقهاوو ليکلي دي چې خپلو بچيانو او خپلې بې بې ته يې هم ورکولاى سي. (حاشية الحموى على الاشباه:٢/ ١٠٦، والدر المختار مع ردالمحتار:٤/ ٢٧٨).

خو خپلې مايني ته په ورکولو کې دا سوال پيدا کيږي چې دا خيرات د خاوند مال له طرف دئ ملتقط يوازې واسطه ده خو د مړي په کفن او ښخولو کې يې کارولاى سي نو پر مړي د مصرفولو څخه دا معلومه سوه چې په دې کې تمليک ضروري نه دئ ځکه په تکفين او تدفين کې تمليک نه پيدا کيږي.

۞ د ظاهر الرواية پر برابر دغه مال سيدانو ته هم ورکولاى سي. (الدر المختار مع ردالمحتار:٢/ ٣٥١، سعيد).

۞ زکواة کافر ته ورکول روا نه دئ، خو دا مال کافر ته هم ورکولاى سي. (شامى:٤/ ٣٥١، سعيد، وفتاوى دار العلوم زکريا:٣).

۞ د خبيث کسب په مصارفو کې د فقيرانو تخصيص يوازې په احنافو کې دئ او نور امامان دا په عامو مصالحو کې د کارولو اجازه ورکوي. (المعيار المعرب:٦/ ١٤٦، بيروت، والذخيرة:٥/ ١٦٧، بيروت، وشر المذهب وشرح المذهب:١٠/ ٥٢٠، بيروت، ونهاية المحتاج:٥/ ١٨٥).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوى عثمانى:۳/ ۱۲۸-۱٤۰).

د دې څخه پرته نور عالمان يې د عدم جواز خوا ته تللي دي، د هغوی فتاوی هم وګورئ:

مفتي اعظم هند مفتي محمد شفيع صاحب ويلي دي: مالک جوړول د بېوزلو خلكو ضروري دئ او د مدرسو په جوړولو او نورو او قانو كي د دغو مالونو كارول روا نه دي او دليل يې دا لاندي عبارت دئ.

۱_ په داسي مالو كي د فقهاوو عبارتونه دوه ډوله نقل سوي دي په ځينو كي ((تصدق به))يا وجب عليه التصدق راغلى دئ او په ځينو كي « تصديق علي الفقراء والمساكين » راغلى دئ او په اوقانو او د ثواب په كارونو كي د مصرفولو يې هيڅ نقل راغلي نه دئ.

۲_ لفظ د تصدق او صدقې چي كله ويل كيږي نو د فقهاوو په عرف كي هغه واجب التمليک وي. د تفصيلي دليلونو له پاره وګورئ: (امداد المفتين جلد دوهم:ص ۳۸۳-۳۸۳، دار الاشاعت).

په فتاوى محموديه كي راځي:

د ښوونځي تعمير او تشنابونه مستحق نه دي چي د تصدق حاصل دي ځكه د دې څخه منع سوې ده، مستحق دي مالک جوړ كړل سي بيا چي يې هغه هر ځاى كارول غواړي نو كارولاى يې سي.(فتاوى محموديه:۱٦/ ۳۸٦، مبوب ومرتب).

په آپ كى مسائل اور ان كا حل نومي كتاب كي راځي:

د سود پيسې دي د صدقې د نيت پرته بېوزلي چا ته وركړل سي او د يوه خير په كار كي دا پيسې كارول روا نه دي.(اپ كى مسائل اور ان كا حل:٦/ ۲٤۲).

په جديد فقهي مسائل نومي كتاب كي راځي:

د سود پيسې د يوه بېوزلي د انفرادي ضرورت پوره كولو له پاره كارول كېداى سي او يو اجتماعي خير كار لكه څاه كندل او داسي نور مسجدانو او مدرسو كي دا پيسې دي نه كارول كيږي خو د بيت الخلاء (تشناب) جوړولو له پاره عالمانو اجازه وركړې ده.(جديد فقهى مسائل:۱/ ۲٥۳).

ګواکي د مولانا خالد سیف الله صاحب په اند په عامو د خیر په کارو کي یې کارول روا دي او یوازي په مسجد او مدرسه کي دې نه کارول کیږي خو بیا هم د مسجد او مدرسې د تشناب اجازه سته.

په فتاوی محمودیه کي راځي:

سود دي د ګناه د لیري کولو په نیت د ثواب د نیت څخه پرته و بېوزلو ته د تملیک پر ډول ورکړل سي. (محمود الفتاوی:۳/ ٦٤، باب الرباء).

په هر صورت ودې دواړو خواوو ته لوی عالمان دي چي په کوم یوه عمل کوئ ګنجائش سته بیا هم احتیاط کول ښه دي، حیله دي وکړي بیا دي په عمومي خیریه کارو کي وکاروليسي دا ښه خبره ده او په دې کي احتیاط دئ.

د مستحق تملیک د حیلې وروسته د مسجد د تشناب پاکولو او داسي نورو کي هم کارول صحیح دي او د تملیک حیله دا ده چي څومره د سود پیسې وي هغه پر بېوزلو چي د خیرات مستحق دئ هغه دي مالک جوړ کړل سي او بیا دې هغه د خیرات مستحق د خپله طرف څخه د چندې پر ډول ومسجد ته ورکړي (وقدمنا ان الحيلة ان يتصدق على الفقير ثم يامره بفعل هذه الاشياء الدر المختار مع ردالمحتار:۲/ ۳٤٥، كتاب الزكاة باب المصرف، سبعد، نظام الفتاوى:۱/ ۱۹۹). والله ﷻ اعلم.

وسیاسي ډلو ته د کومک په ډول د سودي پیسو د ورکولو حکم

سوال: زموږ په سیمه (باربودس) کي انتخابات وسول یوې مسلماني ادارې د مالي کومک په وسیله دیوې ډلي سره کومک کول وغوښتل دې مسلماني ادارې د دې ډلي د کومک کولو له پاره د مسلمانانو ورونو او خوندو څخه چنده وکړه او مسلمانانو څخه یې د سود پیسې هم لاس ته راوړلې اوس سوال دا دئ چي ایا د مسلمان له پاره روا ده چي د سیاسي ډلو له پاره د سود پیسې جمع کړي؟ که روا نه وي نو هغه پیسې چي یې جمع کړي دي د هغو څه حکم دئ؟

الجواب: د سود پیسې په عامو خیریه کارو کي د مصرفولو په اړه د علماوو اختلاف دئ چي وړاندي بیان سو په پورتنۍ مسئله کي څنګه چي په مالي کومک کولو کي په کفري هیواد کي د عامو مسلمانانو ګټه ورسره تړل سوې ده او د کافر د حکومت کېدلو په سبب د داسي پیسو جمعه

کولو او بیا په دې سره دي د دوی کومک وکړل سي مسلمان دې خپله نه استعمالوي نو د دې ګنجائش سته.

وګورئ په کفایت المفتي کي راځي:

سوال: ایا د سود پیسې په دیني زده کړه کي په عامو خیریه کار کي او پر بېوزلو خلکو یې لګولای سي او که نه؟

جواب: د سود پیسې لاس ته راوړل، پر بېوزلو او د پور وړو په پور کي ورکول یا د تعلیم پر ځای چي دیني وي یا دنیوي او په هر د خیر کار کي کار ولای سي. (کفایت المفتی:۸/ ۶۸).

په جدید فقهي مسائل کي راځي:

د بانک د سود په اړه دا یاد ساتل په کار دي چي نه هغه پر خپل ځان مصرفولای سي او نه یې په خیرات کي ورکولای سي، د دې څخه پرته په نورو صورتونو کي یې مصرفولای سي مثلاً د یو چا انفرادي ضرورت پوره کول، یو اجتماعي کار کول لکه څاه کندل او داسي نور او په مسجدونو او مدرسو کي دي دا روپۍ مصرف نه سي خو د تښنابو د ځای د جوړولو عالمانو اجازه ورکړې ده. (جدید فقهی مسائل:۱/ ۲۵۳).

همدا ډول وګورئ: (فتاوی رحیمیه:۲/ ۹۰ – واحسن الفتاوی:۷/ ۱۶).

لنډه دا چي څنګه چي ډېر علماء د فقیرانو تملیک ضروري ګڼي نو د فقیر د تملیک څخه وروسته که په دغو کارو کي مصرف سي نو له اختلاف څخه به ووزي او بالاتفاق به درسته وي. والله تعالیٰ اعلم.

سودي پیسې په قرضو کي د ورکولو حکم

سوال: ډېر خلک د سود په پیسو سره کمبلي او داسي نور شیان رانیسي او بیا یې پر بېوزلانو وېشي یو وار د سود پیسې نه وې، په پور یې کمبلي رانیولې کله چي د سود پیسې راغلې بیا یې په هغو پور اداء کړئ ایا داسي کول روا دي او که نه؟

الجواب: د سود د پیسو په اړه اصل قاعده دا ده چي اصل ته دي بیرته ورکول سي خو که مالک یې معلومه نه وو، نو د ثواب د نیت پرته دې پر بېوزلانو خیرات کړل سي خو ځینو علماوو د سود پیسو

سره دا ډول قرض اداء کول هم روا بللي دي، نو د ضرورت په وخت کي د دوی پر قول د عمل کولو گنجائش سته خو تر تمليک وروسته حيله کارول ښه او پر احتياط باندي منبي ده.

وگورئ په سنن کبری بيهقي کي راځي:

عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه أنه اشترى جاريةً فذهب صاحبها فتصدق بثمنها وقال : اللهم عن صاحبها فإن كره فلي وعلى الغرم. (رواه البيهقى فى سننه الكبرى:٦/ ١٨٨، كتاب اللقطة، دار الفكر بيروت).

په الدر المختار کي راځي:

فيجب رد عين الربا لو قائماً. (الدر المختار:٥/ ١٦٩، سعيد).

په البحر الرائق کي راځي:

ويردونه على أربابه إن عرفوهم ، وإلا يتصدقوا به ؛ لأن سبيل الكسب الخبيث التصدق إذا تعذر الرد. (البحر الرائق:٨/ ٢٠١، فصل فى البيع، كتاب الكراهية، كوئته).

په فتاوی رحيميه کي راځي:

سوال: زه په يو مدرسه کي مزدوريم ما ته چي کومه تنخواه راکول کيږي هغه د بانک د سودي پيسو څخه راکول کيږي نو زه دا پوښتنه کوم چي دا سودي پيسې زه واخلم او که يې وانه اخلم ؟

الجواب: د سودي پيسو تنخواه مه اخله او تا ته روانه ده د تنخواه درکولو صورت دا دئ چي هغه خلک دي د چا څخه قرض واخلي تا ته دي تنخواه درکړي او قرض دي د دغو پيسو څخه بيا اداء کړل سي چي د گنجائش دا صورت يې سته. (فتاوی رحيميه:٣/ ١٧٣)

مفتي کفايت الله صاحب فرمايي:

د سود پيسو لاس ته راوړل، بېوزلانو د پور اداء کولو (پر ښوونځي چي په هغه کي ديني يا دينوي زده کړه کيږي) او پر اجتماعي د خير په کار کي يې کارولای سي. (کفايت المفتی:٨/ ٥٩).

په نظام الفتاوی کي راځي:

د مستحق د تمليک تر حيلې وروسته د مسجد د تشناب د پاکولو او په داسي نورو کي کارول يې صحيح دي او د تمليک حيله دا ده چي څومره پيسې د سود دي هغه دې بېوزلانو ته ورکړي او هغه دې مالک جوړ کړي او بيا دې هغه بېوزله د خپله طرفه د چندي په ډول ومسجد ته ورکړي. « وقدمنا أن الحيلة أن يتصدق على الفقير، ثم يأمره بفعل هذه الأشياء ». (الدر المختار مع رد المحتار:٢/ ٢٤٥، كتاب الزكوة، باب المصرف، سعيد). (نظام الفتاوی:١/ ١٩٩). والله ﷻ اعلم.

د سودي پيسو وخپل لمسي ته د ورکولو حکم

سوال: ديو چا سره د سود يو څه پيسې دي او د ده لمسی بېوزله دئ ايا دی د سود مال خپل لمسي ته ورکولای سي او که نه؟

الجواب: په پورتنۍ صورت کي سودي پيسې خپل لمسي ته ورکولای سي ځکه د سود د پيسو مالک نه وي نو له دې کبله د هغو خيراتول واجب دي يعني د مالک له خوا خيرات دئ نه د ورکونکي له خوا څخه او مالک د ورکونکي د لمسي څخه اجنبی (پردی) دئ.

وګورئ په فتاوی دار العلوم ديوبند کي راځي:

سوال: که حرام مال يا فاسده ګټه د مسلمان سره جمعه سي او د مال خاوندانو ته يې رسول مشکل وي نو په داسي صورت کي د حرام مال څخه د ځان خلاصولو له پاره فقهاوو ليکلي دي چي دا دي خيرات کړل سي، پر دې يو سوال کيږي چي د دې کارول يوازي عمومي واجبه صدقاتو په ډول پر بېوزلو لګول کيږي ايا د داسي مالو خيرات پر مور، پلاړ، زامنو او مېرمني ته هم کولای سي يا که يې پر پردو باندي د زکوة په شکل خيراتول ضروري دي؟

الجواب: د حرام مال او حرامي ګټي خيراتولو حکم پر يو خاص قانون باندي بناء دئ چي د هغه مال خاوند معلوم نه وي يا تر هغه يې رسول مشکل وي دا د لقطې په حکم کي وي او د لقطې حکم دا دئ چي د خاوند د پيدا کېدلو تمه يې ختمه سي نو د مالک له طرفه دي خيرات کړل سي . د حرام مال خاوند چي معلوم نه وي يا يې هغه ته رسول مشکل وي نو د دا مال د لقطې په حکم د مال د مالک له

طرفه به وي له دې کبله دې ته صدقه ویل صحیح سوه او له همدې کبله بېوزلانو ته د دې اخیستل حلال سول.

خو که داسي نه وي لکه څنګه چي دا حرام مال خوړل مالک ته حرامه دي نو بېوزلانو ته به یې هم خوړل حرام وي ځکه چي بېوزلانو ته دا مال د مالک له طرفه راغلی دئ نه د حرام کسب کوونکي له طرفه دغه لاندي عبارتونه پر دې باندي شاهد دي:

وفی العشرین من بیوع الهندیة.......وإنما طاب للمساکین علی قیاس اللقطة.....

مطلب دا چي فاسدي ګټي او حرام مالونه چي د هغو خیراتول واجب دي د هغو کارول د لقطې په ډول پر بېوزلانو باندي باید خیرات سي.

معلومه سوه چي حرام مال چي د هغه خیراتول واجب دي هغه هر حرام مال نه دئ، خو یوازي هغه حرام مال دئ چي د هغه مالک معلوم نه وي یا یې هغه ته نه سي رسولای همداسي دا مال د لقطې په حکم کي کیږي او د خپل خاوند د لوري خیراتیږي نو ځکه بېوزلانو ته یې هم اخیستل روا دي دوی ته دا مال حرام نه دئ او پر دې قانون داسي مالونه پر خپل مور او پلار، بچانو او مېرمني هم خیراتولای سي چي دا ده خیرات نه دئ بلکي د مال د خاوند خیرات دئ.

لکه څنګه چي په هندیه کي دي:

ان تصدق به علی أبیه یکفیه ولایشترط التصدق علی الاجنبي (۵/ ۳۴۹) وفیه من متفرقات الغصب وسئل یوسف بن محمد عن غاصب ندم علی ما فعل وأراد أن یرد المال إلی صاحبه وقع له الیأس عن وجود صاحبه فتصدق بهذا العین هل یجوز للفقیر أن ینتفع بهذا العین ؟ فقال : لا یجوز أن یقبله ولا یجوز له الانتفاع وإنما یجب علیه رده إلی من دفعه إلیه قال: إنما أجاب بهذا الجواب زجرًا لهم کي لا یتساهلوا في أموال الناس أما لو سلك الطریق في معرفة المالك فلم یجده فحکمه حکم اللقطة، کذا في التاتار خانیة .(الفتاوی الهندیة:۵/ ۱۵۷) .

مأخوذ از فتاوی دار العلوم دیوبند، جلد دوهم: ص ۳۸۳-۳۸۶). والله تعالی اعلم.

د سودي پیسو وکافر ته د ورکولو حکم

سوال: که چیري دیو چا سره سودي پیسې وي نو هغه مسلمان بېوزله ته ورکول ضروري دي او که کافر بېوزله ته يې هم ورکولای سي؟

الجواب: سودي پیسې وکافر بېوزله ته هم ورکولای سي خو مسلمان بېوزله ته يې ورکول ښه دي.

په البحر الرائق کي راځي:

قوله وصح دفع غيرها أي وصح دفع غير الزكاة إلى الذمي واجبًا كان أو تطوعًا كصدقة الفطر والكفارات والمنذور لقوله تعالى: ﴿ لا ينهاكم الله عن الذين لم يقاتلوكم في الدين ﴾ الآية. وخصت الزكاة بحديث معاذ رضي الله عنه، وفيه خلاف أبي يوسف رحمه الله، ولا يرد عليه العشر ؛ لأن مصرفه مصرف الزكاة كما قدمناه فلا يدفع إلى ذمي ، والصرف في الكل إلى فقراء المسلمين أحب ، وقيد بالذمي ؛ لأن جميع الصدقات فرضًا كانت أو واجبةً أوتطوعًا لا تجوز للحربي اتفاقًا كما في غاية البيان . (البحر الرائق:۲/ ۲٤۲، باب المصرف، کوئته ــ وکذا فی فتاوی الشامی:۲/ ۳۵۱، باب المصرف، سعید).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

سودي پیسې بېوزله او مسکین ته ورکولای سي او هغه خپل کار په کولای سي، غریب مسلمان ته ګټه رسول په کار دي او تر کافر دی زیات حق لري. (فتاوی رحیمیه:۹/ ۲۷۹). والله تعالی اعلم.

په سودي پیسو د تشناب د جوړولو حکم

سوال: په سودي پیسو د مدرسې یا ښوونځی تشناب جوړول روا دي او که نه؟

الجواب: د ځینو مفتیانو په اند په سودي پیسو د مدرسې، ښوونځی او داسي نورو تشناب جوړول روا دي.

وګورئ په فتاوی رحیمیه کي راځي:

په دې مسئله کې اختلاف دئ، بېوزله تــه ورکول یې ښه دي، سړک او پـه داسي نور اجتماعي شیانو کي یې د کارولو گنجائش هم سته، مسجد کي یې نه سي کارولای خو د مسجد د بیت الخلاء (تشناب) په جوړولو کي یې هم کارولای سي. (فتاوی رحیمیه:۹/ ۲۷۹).

په کفایت المفتي کي رائحي:

دا پیسو ولاس ته راوړلو څخه وروسته د خیر پـه کـارو کـي چـي هغـه اجتماعي کارونه دي یا د بېوزلانو د مشکلاتو لیري کولو له پاره گټه وي مثلاً یتیمانو، بېوزلانو طالبانو تـه کتابونه برابرول، هغوی ته خرڅ ورکول، یا مسافر خانه، څاه، سړک، برق جوړول دا ټول صورتونه روا دي خو پر مسجد دي نه لگول کیږي ځکه چي دا د مسجد د پاکۍ سره برابري نه دي. (کفایت المفتی:۷/ ۱۰۵، دار الاشاعت).

په جدید فقهي مسائل نومي کتاب کي رائحي:

د سود پیسې د یوه ضرورت مند د انفرادي ضرورت پـه پـوره کولو کـي لگولای سي او پـه یـو اجتماعي د گټي په کار کي مثلاً څاه کندل او داسي نور پـه مسجدو او مدرسو کـي دي دا پیسې نـه لگول کیږي خو د تشناب د جوړولو بیا علماوو رخصت ورکړی دئ. (جدید فقهی مسائل:۱/ ۲۵۳).

په اسلامي فقه کي رائحي:

که چیري د مجبورۍ څخه یو شوک په بانک کي روپۍ کښېږدي او بیا پر دغو سود لاس ته راسي نو دی دي دا پیسې پر خپل ځان او بچیانو نه مصرفوي خو د ثواب د نیت څخه پرته دي بېوزلانو ته ورکي یا دې د یوه مخور سړي په واسطه په یوه اجتماعي کار کي دا ولگوي مثلاً د محلې یا د کلي پر لاریا عامو تشنابو او داسي نورو کي دې ولگوي. (اسلامی فقه:۲/ ۳۶۹).

خو د تملیک څخه وروسته دې د مسجد د تشناب د پاکولو او داسي نورو کي لگول صحیح دي او د تملیک حیله دا ده چي څومره د سود پیسې دي هغه خوارانو ته چي مستحق وي ورکي او هغه دې مالک جوړ کي بیا دي هغه خوار د خپل طرف څخه دا پیسې مسجد تـه د چندې پر ډول ورکړي. «

وقدمنا أن الحيلة أن يتصدق على الفقير،ثم يأمره بفعل هذه الأشياء ». الدر المختار مع رد المحتار:۲/ ۳٤٥، كتاب الزكاة، باب المصرف، سعيد (نظام الفتاوى:۱/ ۱۹۹). والله تعالى اعلم.

دلقطې او سود مصرف تقريباً يو دئ

سوال: دبانک دسود مصرف او دلقطې مصرف يو دئ او که جلا؟

الجواب: تقريباً د دواړو مصرف يو دئ او په ښکاره يې څه تفاوت نه سته مثلاً لقطه کافر او بېوزلو ته ورکول صحيح دي همدارنګه دسود پيسې هم ورکولای سي . په لقطه کي تمليک ضروري نه دئ او په عام اجتماعي کارو کي د مړو کفن او ښخولو کي لګول روا دي، همداسي دځينو علماوو په اند په سود کي هم ضروري نه دئ ګواکي سود او لقطه دواړه واجب التصدق دي خو واجب التمليک نه وي.

وګورئ په درالمختار کي راځي:

ورابعها الضوائع مثل مالا يكون له أناس وارثونا

فمصرف الأولين أتى بنص وثالثها حواه مقاتلونا

ورابعها فمصرفه جهات تساوى النفع فيها المسلمون

وګورئ علامه شامي رحمه الله فرمايي:

قوله الضوائع: جمع ضائعة أي اللقطات ..... قوله ورابعها فمصرفه جهات، موافق لما نقله ابن الضياء في شرح الغزنوية عن البزدوي من أنه يصرف إلى المرضي والزمني واللقبط وعمارة القناطر والرباطات والثغور والمساجد وما أشبه ذلك، ولكنه مخالف لما في الهداية و الزيلعي أفاده الشرنبلالي أي فإن الذي في الهداية وعامة الكتب أن الذي يصرف في مصالح المسلمين هو الثالث كما مر، وأما الرابع فمصرفه المشهور هو اللقيط الفقير والفقراء الذين

لا أولياء لهم فيعطي منه نفقتهم وأدويتهم وكفنهم وعقل جنايتهم كما في الزيلعي وغيره.
(الدر المختار مع فتاوی الشامی: ۲/ ۳۳۸، باب العشر، سعید).

په محيط برهاني کي راځي:

والتركات تصرف إلى ما فيه صلاح المسلمين، كمال الخراج والجزية، إلا أنه يجعل لها بيت على حدة، لما ذكرنا أنه ربما يظهر لها مستحق بعينها. وقال: الخراج والجزية تصرف إلى المقاتلة، وإلى سد ثغور المسلمين، وبناء الحصون في الثغور، وإلى مراصد الطريق في دار الإسلام ليقع الأمن عن قطع الطريق من جهة اللصوص، وإلى كري الأنهار العظام الذي فيه صلاح المسلمين، وإلى من فرغ نفسه لعمل المسلمين نحو القضاة والمحتسب والمفتين والمؤذنين والمعلمين، وإلى عمارة المساجد والقناطر، وإلى معالجة المرضى إذا كانوا فقراء، وإلى تكفين الموتى الذين لا مال لهم، وما أشبه ذلك، والحاصل: أن هذا النوع يصرف إلى ما فيه صلاح الدين، وصلاح دار الإسلام والمسلمين. (المحيط البرهانی: ۲/ ۶۲۳، الفصل السابع فی تعجیل الخراج).

په البحر الرائق کي راځي:

والرابع اللقطات والتركات التي لا وارث لها وديات مقتولٍ لا ولي له قالوا: مصرفه اللقيط الفقير والفقراء الذين لا أولياء لهم يعطون منه نفقتهم وأدويتهم ويكفن به موتاهم. (البحر الرائق: ۵/ ۱۲۸، فصل فی الجزیة، وکذا فی تبیین الحقائق: ۳/ ۲۸۳).

وفی الفتاوی الهندية: والرابع اللقطات هكذا في محيط السرخسي. وما أخذ من تركة الميت الذي مات، ولم يترك وارثًا أو ترك زوجًا وزوجةً، وهذا النوع يصرف إلى نفقة

المرضى ، وأدويتهم ، وهم فقراء ، وإلى كفن الموتى الذين لا مال لهم .(الفتاوى الهندية:۱/ ۱۹۱، باب فی صدقة الفطر – وكذا فی مجمع الانهر فی شرح ملتقى الابحر:۲/ ٤٨٦، فی تقسيم التسمة، بيروت).

په فتاوی عثماني کي رائحي:

دا خبره تقريبًا منل سوې ده چي د حرامي گټي خيراتول واجب دي پر دې اساس چي يا خو د دې صحيح خاوند معلوم نه دئ يا يې تر هغه رسول مشکل دي نو دا د لقطې په حکم کي سوه او د لقطې حکم دا دئ چي د هغې خيراتول واجب دي او څنګه چي احنافو فقهاوو د بيت المال مصارفو د بيانولو سره د لقطې مصرف يوازي خواران بللي دي ځکه نو د دې څخه دا استنباط وسو چي لکه د زکوة د دې هم تمليک ضروري دئ خو په دغه استنباط کي نظر سته (پر دې سوال سته).

۱ _ دا چي ځينو حنفي فقهاوو لقطه د خوارانو سره خاص کړې نه ده بلکي په دې کي يې د مسلمانانو ټولو مصالحو کي ودې کارولو ته صحيح ويلي دي همدارنګه علامه شامي رحمة الله عليه د بزدوي څخه نقل کړی دئ. « أنه يصرف إلى المرضى والزمنى.... الخ. **په الدر المختار کي د علامه ابن الشحنه څخه د بيت المال د مصارفو په اړه کوم شعرونه نقل سوی دي په هغو کي هم دغه (موقف) غوره کړل سوی دئ خو علامه شامي رحمة الله عليه پر دغه يو سوال کړی دئ چي په عامو کتابو کي د لقطې مصرف فقيران بللي دي نو علامه شامي رحمة الله عليه ليکي:**

«وأما الرابع فمصرفه المشهور هو اللقيط الفقير والفقراء الذين لا أولياء لهم فيعطي منه نفقتهم وأدويتهم وكفنهم وعقل جنايتهم».

په بيت المال کي د لقطې د مصرف په اړه په نورو ډېرو کتابو کي هم دغه عبارت موجود دئ خو په دې عبارت کي د فکر کولو څخه دا معلوميږي چي که څه هم فقهاوو د لقطې حقداره فقيران ګڼلي دي خو د دې له پاره يې تمليک ضروري نه دئ ګڼلی چي د هغه ښکاره دليل دا دئ چي (د ډېوزلو مړو په کفن کي يې د لقطې کارول ښه ځای ګڼلی دئ) د ډېوزلو مړو تکفين يې هم د لقطې مصرف بللی دئ،

حال دا چي ومړي ته په كفن وركولو كي تمليک نه راځي. له دې څخه معلومه سوه چي لقطه د تمليک څخه پرته پر خوارانو مصرفولای سي. (فتاوى عثمانى: ٣/ ١٣٦).

حكيم الامت حضرت تهانوي رحمه الله فرمايلي دي چي لقطه د خير په كار كي كارولای سي.

وګورئ په اشرف الاحكام كي دي:

يو سړي يو ټكټ راوړ او پوښتنه يې وكړل چي ما ته دبې ګټې خطونو دليري كولو حكم راكړل سوی وو په هغو كي دا ټكټ لاس ته راغئ د دې څه حكم دئ؟ تهانوي صاحب جواب وركړئ چي دا لقطه ده او دلقطې حكم دا دئ چي د خاوند درک يې نه معلوميږي نو ديو خير په كار كي يې لګول په كار دي نو زه يې مدرسې ته وركوم. (اشرف الاحكام: ١٩٧، په حواله حسن العزيز: ٣/ ٦). والله تعالى اعلم.

د حرام مال په صدقه كي د تمليک حكم

سوال: په كفري هيوادو كي چي پيسې په نارو لارو سره لاس ته راغلي وي لكه د سود پيسې د هغه صدقه كول لازم دي خو هغه بېوزلانو ته وركول ضروري دي، يا د فقير د تمليک څخه پرته يې په بل د خير په كار كي استعمالولای سي او كه نه؟

الجواب: ځيني مفتيان په دې اند دي چي كوم مال چي هغه حرام وي هغه بېوزلانو ته وركول ضروري دئ خو ځيني مفتيان دا وايي، چي هغه په يو بل د خير په كار كي مثلاً تشناب جوړول يا لار، سړک او داسي نور جوړول په دغو شيانو كي يې كارولای سي. دغه حضرات په صدقه واجبه او واجب التصدق كي تفاوت كوي او فرمايي چي صدقه واجبه لكه زكوة، سرسايه او داسي نورو كي د فقير تمليک ضروري دئ حال دا چي واجب التصدق كي د فقير تمليک ضروري نه دئ . كله چي رسول الله ﷺ د ثمود قوم ځای ته ورسېدئ او صحابه وو د دوی د څاه څخه په اوبو وړه لانده (خشته) كړي وه نو نبي كريم ﷺ هغه وړه اوښانو ته د وركولو حكم وركړئ او وې فرمايل:

عن نافعٍ أن عبد الله بن عمر رضي الله عنه أن الناس نزلوا مع رسول الله ﷺ أرض ثمود الحجر فاستقوا من بئرها واعتجنوا به فأمرهم رسول الله ﷺ أن يهريقوا ما استقوا من بئرها ، وأن يعلفوا الإبل العجين وأمرهم أن يستقوا من البئر التي كان تردها الناقة.(رواه البخاري:۱/ ٤٧٨).

په یوه روایت کي داسي راغلي دي چي داوړو د توېولو حکم يې ورکړئ ځکه چي په دې اوړو کي تحريمي کراهت راغلی وو يا تنزيهي په دواړو صورتو کي اوښانو ته داوړو ورکولو هدف دا وو چي په کوم شي کي چي حراموالی راسي او خپله يې نه سي کارولای نو ديو خير په کار کي کارولو گنجائش سته، خو د شرابو د توېولو حکم سته د دې د تمليک اجازه نه سته، د بخاري په شرحه عيني کي د دې اوړو د کراهت تحريمي او تنزيهي د دواړو قولونه نقل کړي دي. (عمدة القاري:۱۱/ ۹۹).

که چيري مالدار او غني سړي ته (لقطه) هغه ورک سوی شی لاس ته راسي نو خيراتول يې واجب دي او خپله هغه شی نه سي کارولای خو د هغه د مړي په کفن او ښخولو کي کارولای سي.

وأما الرابع فمصرفه المشهور هو اللقيط الفقير والفقراء الذين لا أولياء لهم فيعطي منه نفقتهم وأدويتهم وكفنهم وعقل جنايتهم. (فتاوى الشامي:۲/ ۳۳۸، سعيد). **څلورمه يې په لقطه کي شامل ده.**

همداسي علامه بزدوی رحمه الله قول دئ:

أنه يصرف إلى المرضي والزمني واللقيط وعمارة القناطر والرباطات والثغور والمساجد وما أشبه ذلك . (فتاوى الشامي:۲/ ۳۲۸، سعيد).

حضرت مفتي کفايت الله صاحب فرمايي:

په بانک کي د اينبول سوو پيسو په اړه ليکلي دي، چي هغه پيسې چي په بانک کي اينبودل کيږي د هغو سود دي د بانک څخه واخيستل سي د دې له پاره چي د دغو پيسو په واسطه د مسيحي مذهب تبليغ او مسلمانانو د مرتد کېدلو جوړولو د کومک گناه نه وي، د دې پيسو د تر لاسه کولو

وروسته دي دا پیسې د خیر په کارو کي چي اجتماعي ګټو سره تړا ولري یا د بېوزلانو د هدفو د پوره کولو له پاره وکارول سي مثلاً یتمیانو او بېوزلانو او د اسلامي مدرسې د طالبانو کومک او ښوونځي او داسي نورو کي کارول یا مسافر خانه، څاه، سړک او داسي نور جوړول یا پر سړکانو روڼا جوړول دا ټول صورتونه روا دي خو په مسجد کي دې نه کارول کیږي چي دا د مسجد د پاکۍ خلاف دئ.(کفایت المفتی:۸/ ٦٧)

د نور زیات تفصیل له پاره دي په فتاوی عثماني کي وکتل سي او په ښکاره سره د مفتي محمد تقي عثماني او مولانا رفیع عثماني او د هغه ځای نور ومفتیانو کرامو موقف دا دئ چي د حرام مال خیراتول واجب دي خو د واجب صدقې پر ډول نه ده، نفس صدقه صدقه غیر واجب التملیک ته هم وایي:

عن أبی هریرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ قال « إذا مات الإنسان انقطع عنه عمله إلا من ثلاث، صدقةٍ جاریةٍ، أو علمٍ ینتفع به، أو ولدٍ صالحٍ یدعو له ».(رواه مسلم).

پر وقف هم د صدقې اطلاق کیږي. والله تعالی اعلم.

د حرام مال څخه ولاس ته د راوړل سوي ګټې حکم

سوال: یو چا بل چا ته زر افغانۍ ورکړي او یوه زرو پنځه سوه یې (۱۵۰۰) یې لاس ته راوړلې خو دغه پنځه سوه صدقه کول واجب دي خو د ناپوهۍ په سبب تر خیراتولو مخکي په دغه پنځه سوه افغانۍ کاروبار شروع کئ او دغه یې زر (۱۰۰۰) جوړي کړي نو اوس دغه زیاتي پنځه سوه خیراتول هم واجب دي، د دې د استعمالولو ګنجائش سته او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي حرام مال ته په اشاره کولو سره یو شی رانسي او هغه (مشار الیه) حرام مال په قیمت کي ورکي نو د هغه ګټل سوې ناروا ده او خیراتول یې واجب دي خو که د حرام مال وخوا ته یې د اشارې کولو پرته یو شی په رانیسي یا یې د حرام مال خوا ته اشاره وکړه خو حلال مال یې اداء کړ نو په دې صورت کي امام ابو الحسن کرخي رحمه الله په اند لاس ته راوړل سوې ګټه به حلاله وي او یوازي هغه اصلي حرام مال خیراتول به واجب وي، خو د دې دا مطلب نه دئ چي حرام مال دي د

ګټې او د فائدو لامل جوړ سي داسي ګول بالكل ناروا دي خو كه ناپوهي سره ځيني وسي د امام كرخي رحمة الله عليه په اند هماغه حكم يې دئ چې بيان سو.

وګورئ په درمختار كي راځي:

اكتسب حراماً واشترى به أو بالدراهم المغصوبة شيئاً، قال الكرخي رحمة الله عليه: إن نقد قبل البيع تصدق بالربح وإلا لا وفي رد المحتار: (قوله اكتسب حراماً، الخ) توضيح المسألة ما في التتارخانية حيث قال: رجل اكتسب مالاً من حرام ثم اشترى فهذا على خمسة أوجه أما إن دفع تلك الدراهم إلى البائع أولاً ثم اشترى منه بها أو اشترى قبل الدفع بها ودفعها أو اشترى قبل الدفع بها ودفع غيرها أو اشتري مطلقا ودفع تلك الدراهم أو اشترى بدراهم أخر ودفع تلك الدراهم،.... وقال الكرخي رحمة الله عليه في الوجه الأول والثاني لا يطيب، وفي الثلاث الأخيرة يطيب، وقال أبو بكر: لا يطيب في الكل لكن الفتوى الآن على قول الكرخي رحمة الله عليه دفعاً للحرج عن الناس . وفي الولوالجية: وقال بعضهم: لا يطيب في الوجوه كلها وهو المختار لكن الفتوى اليوم على قول الكرخي رحمة الله عليه دفعاً للحرج لكثرة الحرام . (الدر المختار مع رد المحتار: ٥/ ٢٣٥، سعيد).

په درمختار كي راځي:

لو تصرف في المغصوب الوديعة بأن باعه وربح فيه إذا كان ذلك متعينًا بالإشارة أو بالشراء بدراهم الوديعة أو الغصب ونقدها يتصدق بربح حصل فيهما إذا كانا مما يتعين بالإشارة وإن كانا سما لايتعين فعلى أربعة أوجه فإن أشار إليها ونقدها فكذلك يتصدق وإن أشار إليها ونقد غيرها أو أشار إلى غيرها ونقدها أو أطلق ولم يشر ونقدها لايتصدق فى الصور الثلاث عند الكرخى رحمة الله عليه قيل: وبه يفتي. (الدر المختار: ٦/ ١٨٩، سعيد).

وكذا في حاشية الطحطاوى على الدر المختار وزاد بقوله: والمختار أنه لايحل مطلقاً كذا فى الملتقى ولو بعد الضمان هو الصحيح كما في فتاوى نوازل واختار بعضهم الفتوى على قول الكراخي في زماننا لكثرة الحرام وهذا كله على قولهما وعند أبي يوسف رحمه الله لايتصدق بشيء منه كما لو اختلف الجنس ذكره الزيلعي. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار: ٤/ ١٠٥).

لنډه دا ده چي په دې صورت کي زيات هغه پنځه سوه افغانى چي د کټي په ډول لاس ته راوړل سوي خيراتول يې واجب نه دي او د دې د کارولو رخصت سته خو بيا دي داسي نه کوي ځکه حرام مال دستي خيراتول واجب دي. والله تعالى اعلم.

د سودي پيسو په بدل کي د نورو پيسو د خيراتولو حکم

سوال: يو سړي دانکيند په يو بانک کي پيسې ايښي دي او پر دې باندي سود ده ته لاس ته راځي که چيري دا سړي هغه د ده سره موجودي نوري روپۍ پر بېوزلانو د بانک د سود له خوا څخه اداء کړي نو غاړي يې خلاصيږي او که نه؟ او که به بعينه هغه روپۍ د بانک څخه راباسي او خيراتول به يې لازم وي؟

الجواب: په دې صورت کي بهتره او ښه دا ده چي هغه سودي پيسې خيرات کړل سي خو که د سودي پيسو پر ځای ځان د ګناه څخه خلاصولو له پاره نوري پيسې خيرات کي نو غاړي يې خلاصيږي ځکه په پيسو کي تعين نه سته بيا دا خبره چي د بانک خاوند د سود پيسې جلا نه ورکوي بلکي د اصلي پيسو سره يې يو ځای ورکوي نو د دې امله په سود او اصل کي تميز کول هم مشکل دي.

وګوري په درمختار کي راځي:

لو خلط السلطان المال المغصوب بماله ملكه، لأن الخلط استهلاك إذا لم يمكن تميزه عند أبي حنيفة رحمه الله، وقوله أرفق، إذ قلما يخلو مال عن غصب. وفى الشامية: قوله لأن

الخلط استهلاك ، أي بمنزلته من حيث أن حق يتعلق بالذمة، لا بالأعيان .... لأنا نقول: إنه لما خلطها ملكها وصار مثلها ديناً في ذمته، لا عينها. (الدر المختار مع رد المحتار: ۲/ ۲۹۰، مطلب فيما لو صادر السلطان جائزاً، سعيد).

په فتاوی بزازيه کي راځي:

ما يأخذه الأعونة من الأموال ظلماً ويخلطه بماله وبمال مظلوم آخر يصير ملكاً له وينقطع حق الأول فلا يكون أخذه عندنا حراماً محضاً نعم لا يباح الانتفاع به قبل أداء البدل في الصحيح من المذهب. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية، قبيل كتاب الزكاة: ٤/ ٨٣ – وكذا في فتاوى الشامي: ٢/ ٢٩٢، مطلب في التصدق من المال الحرام، سعيد).

د دې مسئلي ښکاره مثال دا دئ چې عموماً د اسلامي مدرسو سفيران (چنده ټولوونکي) ډېر پېښيږي چې هغه چنده کوي او فوراً مدرسې ته نه سي رارسېدلای او دستي مدرسې ته پيسې نه سي رارسولای نو علماوو د دې خبري اجازه ورکړې ده چې که استازئ نه سو رارسېدلای او مدرسې اوس دستي پيسو ته ضرورت درلودئ نو هغه استازئ دي خپل کور ته خبر ورکي چې زما د پيسو څخه دومره پيسې د چندې د پيسو په اندازه مدرسې ته ورکړي نو علماء فرمايي، چې د ده د کور والا وو ده د ذاتي پيسو څخه مدرسې ته ورکړې نو د استازئ غاړي خلاصي سوې او فارغ الذمه سو اوس د هغه استازئ (چند ټولوونکي) دغه د زکات پيسې کار ولای سي او همداسي له يوه هيواد څخه بل هيواد ته د زکوة د پيسو د ليږلو عام رواج دئ په دې کي هم دزکوة ورکوونکي بعينه د زکوة پيسې نه ورکول کيږي بلکي هغه بدلوي بيا يې ورکوي مثلاً افغانی يا ډالر يا داسي نورو زکوة په هندوستان يا پاکستان کي د روپيو په شکل کي ورکول کيږي. وګورئ: (فتاوی دار العلوم زکريا:٣).

لنډه دا ده چې له خپلو پاکو پيسو څخه سود اداء کول ښه نه دي او د سود د پيسو درا ايستلو وروسته دي دستي يو فقير ته ورکړئ او همداسي د سود ولاس ته دراوړلو په نيت سره په بانک کي يې ايښودل هم صحيح نه دي. والله تعالیٰ اعلم.

د سودي پیسو د بدلولو حکم

سوال: که چیري یو څوک د سود په پیسو یو شی رانیسي او یوه بېوزلي ته یې ورکړي نو ایا دا صحیح دي او که نه؟ او هماغه پیسې بېوزلي ته ورکول ضروري دي که بل شی رانیولای سي او دا بل شی هم ورکولای سي؟

الجواب: د فقهاوو د خبرو څخه دا څرګندیږي چي حرام مال واصل خاوند ته رسول ضروري دي او د خاوندانو د مالو د نه معلومتیا په سبب هماغه شی بعینه یا پیسې دي خیرات کړل سي د دې بدلون صحیح نه دئ.

وګورئ علامه شامي رحمة الله علیه فرمایي:

فیجب رد عین الربا لو قائماً لا رد ضمانه یعني وإنما یجب رد ضمانه لو استهلکه. (فتاوی الشامی:٥/ ١٦٩، باب الربا، سعید).

همداسي فرمایي:

(ویجب رد عین المغصوب) لقوله علیه الصلاة والسلام علی الید ما أخذت حتي ترد ولقوله علیه الصلاة والسلام « لا یحل لأحدکم أن یأخذ مال أخیه لاعباً ولا جاداً، وإن أخذه فلیرده علیه، زیلعي، وظاهره أن رد العین هو الواجب الأصلي وهو الصحیح . (فتاوی الشامی:٦/ ١٨٤، کتاب الضصب، سعید).

په فتح القدیر کي راځي:

قال وإذا تغیرت العین المغصوبة بفعل الغاصب حتی زال اسمها وعظم منافعها زال ملك المغصوب منه عنها وملکها الغاصب وضمنها ، ولا یحل له الانتفاع بها حتی یؤدي بدلها ، قال: .... فإن موجب أصل الغصب إنما هو رد العین ولایصار إلی رد المثل أو القیمة إلا بعد

هلاک العين فلم يکن رد المثل أو القيمة إلا بعد هلاک العين. (فتح القدير مع الهداية:۹/ ۲۳۲، دار الفكر).

په منحة الخالق کي علامه شامي رحمه الله فرمايي:

(قوله وإنما الذي يجب حقا للشرع) قال بعض الفضلاء : قد علمت أن العقد المذكور تعلق بسببه حقان حق العبد ، وهو رد عينه إن كان باقيًا ورد ضمانه إن مستهلكًا ، وحق الشرع وهو رد عينه بنقض العقد السابق المنهي عنه شرعًا. (منحة الخالق على هامش البحر الرائق:٦ / ١٢٥، باب الربا، كوئته). والله تعالى اعلم.

ټرافک فائنس کي د سودي پيسو ورکولو حکم

سوال: ايا ټرافک فائنس (traffic fines) کي سودي پيسې ورکولای سي که نه؟

الجواب: د حکومت ترتيب سوي قانونونه چي د شريعت څخه مخالف نه وي پر هغو عمل کول ضروري دئ خو که چيري ظالمانه وي او د شريعت سره برابر نه وي نو بيا يې تابعداري کول په کار نه دي همداسي د لويو لارو قانونونه هم د خلکو د سلامتيا او اسانتيا له پاره وي نو د دې قوانينو پر برابر تګ کول ضروري دي که ستا د ناپوهی په سبب يوه پوليس (ټرافک) ودرولې او يو څه جرمانه يې درباندي ولګوله نو دا جرمانه يې پر ځای ده نو په دې کي سودي پيسې ورکول روا نه دي، خو که چيري په ظلم سره ډېره زياته جرمانه درباندي ولګوي نو بيا د حکومتي و بانک ته سود ورکولو ګنجائش سته خو د پرائيوټ بانک (شخصي بانک) چي د حکومت نه وي د هغه سود حکومت ته ورکول روا نه دي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

وتجب طاعة الإمام عادلاً كان أو جائراً إذا لم يخالف الشرع. (فتاوى الشامى:٤/ ٢٦٣، سعيد).

په فتاوى محموديه كي راځي:

مگر انسان چي تر كوم حكومت لاندي اوسيږي د هغه حكومت قانون منل ضروري دي او د هغه خلاف كول د قانون غلا گڼل كيږي.

په فتاوى شامي كي راځي:

(قوله عن طاعته)..... ومثله ما ذكره عن الدرر وجه أنه إذا لم يكن كذلک يكون عاجزاً أو جائراً ظالماً يجوز الخروج عليه. (فتاوى الشامي: ٤/ ٢٦٤، سعيد). والله تعالى اعلم.

د بانک د خدمت په بدل کي د سودي پيسو د اداء كولو حكم

سوال: بانک د خدمت پيسې كاټوي د دې او خدمت د پيسو د كاټولو په بدل كي سودي پيسې وركول روا دي او كه نه؟ په عام ډول باندي بانک مياشتني د خدمت پيسې كاټوي، همداسي دا د خدمت د پيسو كاټول د قرض اخيستونكو او قرض وركونكو څخه برابر غواړي او دغه پيسې كاټول په عام ډول د بانک مزدوارنو، پيرداړانو او داسي نورو ته په مزدورۍ كي وركول كيږي؟

الجواب: د خدمت د پيسو كاټول او د بانک مزدوران چي د حساب او كتاب ساتنه يا داسي نور تر سره كوي د هغو مزدوري بانک اداء كوي او بيا په بانک كي پيسې ايښوونكو يا قرض غوښتونكو يا قرض وركونكو باندي برابر وېشل كيږي له دې كبله چي هر يو په دې كي شريک سي او ټول يو ځای د دې مزدورانو مزدوري اداء كړي نو اصل مسئله د احتياج ده چي د دې عمل محتاج وي پر هغه مزدوري راځي كه په ښه دقيق نظر ورته وكتل سي نو له دواړو خواوو څخه احتياج سته بانک له دې كبله محتاج دئ چي د خلكو څخه پيسې واخلي بيا په هغو تجارت وكړي، پر هغو باندي گټه لاس ته راوړي او پيسې ايښوونكي بيا له دې كبله محتاج دي چي د دوی د پيسو ساتنه كيږي او پر هر وخت چي يې را ايستل وغواړي نو را اخيستلای يې سي همداسي د هر چا دروازي ته د بانک خاوند نه دئ ورغلئ بلكي خلک د بانک دروازې ته ورغلي دي نو د بانک دغه پيسې كاټول صحيح دي او په دې كي سودي پيسې اداء كول صحيح نه دي ځكه كه يې د سودي پيسو څخه اداء كړي نو د سودي پيسو څخه به انتفاع اخيستل راسي او د سودي پيسو څخه هيڅ ډول گټه د شريعت له رويه اخيستل روا نه دي نو ځكه په دې معامله كي ډېر احتياط كول په كار دي.

وګورئ په هدایه کي راځي:

وأجرة الكيال وناقد الثمن على البائع أما الكيل فلا بد منه للتسليم وهو على البائع ومعنى هذا أذا بيع مكايلة، وكذا أجرة الوزان والذراع والعداد، وأما النقد فالمذكور رواية ابن رستم عن محمد رحمه الله لأن النقد يكون بعد التسليم، ألا ترى أنه يكون بعد الوزن والبائع هو المحتاج إليه ليميز ما تعلق به حقه من غيره أو ليعرف المعيب ليرده، وفي رواية ابن سماعة رحمه الله عنه على المشتري لأنه يحتاج إلى تسليم الجيد المقدر، والجودة تعرف بالنقد كما يعرف القدر بالوزن فيكون عليه وأجرة وزان الثمن على المشتري لما بينا أنه هو المحتاج إلى تسليم الثمن وبالوزن يتحقق التسليم. (الهداية:۳/ ۲۹).

(وكذا فى الفتاوى الهندية:۳/ ۲۸، الفصل السادس فيما يلزم المتعاقدين من المؤنة فى تسليم المبيع والثمن – والمحيط البرهانى، الفصل الثالث فى قبض المبيع بإذن البائع:۵٦/ ۲۷۱ – والبحر الرائق:۵/ ۳۰٦، كتاب البيوع – وكذا فى مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر:۳/ ۳۱، دار الكتب العلمية، بيروت).

په بحوث فی قضایا فقهیة یا معاصره کي راځي:

لا مانع شرعاً من أن يطالب البنک مستقرضيه بأداء مبلغ مقابل التكلفات الإدارية التي تحملها في تقويم المشروعات، ومتابعة تنفيذها، ما دام ذلک المبلغ لايجاوز التكلفات الفعلية الواقعة في ذلک المشروع خاصة، فإن كان من الممكن تحديد هذه التكلفات بدقة، فهو الأنسب الأوفق بأحكام الشرعية، فإنه لاغبار على جوازه.... ما دامت هذه العمولة لاتجاوز أجر المثل على مثل هذه الأعمال، فإن الذي لايجوز مطالبة الربح أو الأجر عليه،

هو عمل القرض بنفسه، أما الأعمال الإدارية بالنسبة لذلک القرض، فلايجب شرعاً أن تكون مجانية.....

ونظير ذلک ما ذكره الفقهاء أن القاضي والمفتي لايسع لهما مطالبة الأجر من الخصم، أو المستفتي، ولكن يجوز لهما أن يطالبه بأجرة كتابة الفتوى، أو كتابة الوثائق، والمحاضر والسجلات، ما دامت هذه الأجرة لاتجاوز أجر المثل على مثل هذه الأعمال، ولاتتخذ حيلة لا كتساب الأجرة على الإفتاء والقضاء نفسها.

وجاء فى الدر المختار للحصكفي رحمة الله عليه: يستحق القاضي الأجر على كتب الوثائق، والمحاضر، والسجلات قدر ما يجوز لغيره كالمفتي، فإنه يستحق أجر المثل على كتابة الفتوى؛ لأن الواجب عليه الجواب باللسان دون الكتابة بالبنان، ومع هذا الكف أولى، احترازًا عن القيل والقال وصيانةً لماء الوجه عن الابتذال.

ويقول العلامة ابن عابدين رحمة الله عليه تحته:

قال في جامع الفصولين: للقاضي أن يأخذ ما يجوز لغيره، وما قيل في كل ألفٍ خمسة دراهم، لا نقول به، ولا يليق ذلك بالفقه، وأي مشقةٍ للكاتب في كثرة الثمن؟ وإنما أجر مثله بقدر مشقته أو بقدر عمله في صنعته أيضًا كحكاكٍ، وثقابٍ يستأجر بأجرٍ كثيرٍ في مشقةٍ قليلةٍ، قال بعض الفضلاء: أفهم ذلك جواز أخذ الأجرة الزائدة، وإن كان العمل مشقته قليلة ونظرهم لمنفعة المكتوب له، قلت: ولا يخرج ذلك عن أجرة مثله، فإن من تفرغ لهذا العمل، كثقاب اللآلئ مثلًا لا يأخذ الأجر على قدر مشقته، فإنه بمؤنته، ولو ألزمناه ذلك لزم

ضیاع هذه الصنعة، فکان ذلك أجر مثله. (رد المحتار:٦/ ٩٣، کتاب الاجارة، مسائل شتی، سعید).

(بحوث فی قضایا فقهیة معاصرة:١/ ٢٠٤-٢٠٦).

په لیکل سوي عبارتو کي که څه هم د پوروړي څخه د خدمت د پیسو د کمولو جواز معلومیږي خو د قرض غوښتنکي له پاره هم هماغه لامل موجود دئ چي د بانک ساتنه، حساب و کتاب او داسي نورو انتظاماتو مصرفونه هغه پر ځان ګالي نو دا ضروري نه ده چي کارونه به مفت کوي بلکي که په مناسب ډول یو څه مزدوري پر پور والا وو باندي هم د دې پیسو د ساتني او داسي نورو په بدل کي جاري کړي نو پر نه جواز (ناروا والي) باندي کوم ښکاره دلیل نه سته، نو بیا چي د بانک دغه پیسې کاټول روا دي نو په دې کي سودي پیسې ورکول روا نه دي.

هذا ما عندي إن کان الصواب فمن الله وإن کان الخطأ فمني ومن الشیطان. ﴿ ولعل الله یحدث بعد ذلک أمرا ﴾. والله سُبحانه وتعالیٰ اعلم.

د سودي پیسو په رشوت کي د ورکولو حکم

سوال: که یو چا ته د رشوت ورکولو ضرورت راسي نو ایا د سود پیسې د رشوت په ځای کي ورکولای سي او کهٔ نه؟

الجواب: سودي پیسې د رشوت په ځای کي نه سي ورکولای او په دې کي دوې ګناوي سوې یو خو سودي پیسې کارول او بل رشوت ورکول دي.

وګورئ په آپ کي مسائل اور ان کا حل نومي کتاب کي راځي:

سوال: سود حرام دئ او رشوت هم حرام دئ، حرام شی د حرام په ځای کي څنګه دئ؟ مطلب دا سو چي د سود پیسې په رشوت کي ورکولای سي او که نه؟

الجواب: دوچنده ګناه به وي، د سود اخیستلو او د رشوت ورکولو. (آپ کی مسائل اور ان کا حل:٦/ ٢٤٢).

په محمود الفتاوى كي راځي:

سوال: په كومو مځكو كي چي كښت كرل كيږي په هغو كي د كورو جوړولو له پاره د حكومت له طرفه (N-A) كار كولو ته ضرورت پيدا كيږي چي په هغه كي حكومت او لوړ پوړي چارواكي خلک ډېر په تكليف كوي حكومت د(N-A) د كار كولو له پاره پيسې اخلي او لوړ پوړي چارواكي هم رشوت غواړي نو ايا په دغو دوو ځايو كي د سود پيسې وركولاى سي او كه نه؟

الجواب: د اين اې په كار كولو كي چي حكومت څومره پيسې په قانوني ډول سره غواړي په هغو كي د حكومت بانک څخه لاس ته راغلي د سود پيسې اداء كولاى سي خو افسرانو (لوړ پوړو چارواكو) ته هغه غوښتونكي پيسې په رشوت كي نه سي وركولاى ځكه په دې صورت كي هغه پيسې د حكومت لاس ته نه ورځي. (محمود الفتاوى:۳/ ۷۲، باب الربا). والله تعالى اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ إنما الخمر والميسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشيطان فاجتنبوه لعلكم تفلحون ﴾. (المائدة، الآية: ۹۰).

وقال عطاء ومجاهد: الميسر القمار كله حتى لعب الصبيان بالجوز والكعاب. (تفسير السمرقندى).

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: نهى رسول الله ﷺ عن بيع الحصاة وعن بيع الغرر. (رواه مسلم).

د انشورنس (بیمې) د احکامو بیان

د میډیکل ایډ حکم

سوال: ایا میډیکل ایډ روا دئ او که نه؟

الجواب: میډیکل ایډ چي نن سبا په کفري هیوادو کي رواج دئ داجارې د سودا په شکل په کار دئ چي روا سي ځکه چي د دې خلاصه دا ده چي یو څو خلک خاص او معلومي پیسې ورکوي او دوهم (فریق) هغه نور خلک د دوی د علاج ذمه واري اخلي د دې دوو مثالونه لاندي لیکل سوي دي.

۱ـ د هندوستان او پاکستان په محلو کي او په صحرا کي بلکي په ښارو کي دا معامله د پیړیو څخه رواج ده چي پښ او داسي نورو به د خلکو د کار ذمه واري اخیستله او خلکو هغو ته د فصل په وخت کي هغه د فصل شی یا یو څه روپۍ ورکوي دا عمل افغانستان، هند، دیوبند، . تانه بون، سهار نپور او هر ځای رواج وو، نایي د خلکو د سرو د سمولو ذمه واري اخیستله چي مجهوله ده خو لامل د جنګ نه ده او خلک ده ته د فصل په وخت کي غنم یا یو څه پیسې ورکوي (میډیکل ایډ) د روغتون خاوندان د علاج کولو ذمه واري اخلي په دواړو مسئلو کي د عمل جهالت سته چي د جنګ لامل نه دئ.

په هدایه کي بیان سوي دي چي که څوک یو بل سړي وکیل جوړ کئ چي مثلاً زما له خوا ته په قتل عمد کي صلح وکوه وکیل صلحه وکړي نو د صلحي پیسې پر وکیل نه لازمیږي خو که وکیل

د دې پيسو ذمه واري قبوله کړي نو پيسې به پر لازمي سي او بيا يې ليکلي دي. « لأنه حينئذٍ مواخذ بعقد الضمان». (الهداية:۳/ ۲۵۰، باب التبرع بالصلح والتوكيل به).

۲_ د شيدو ورکونکو ښځو په مزدورۍ نيول په اتفاق سره روا دي او په دې کي هم يوه خوا د شيدو ورکولو ذمه واري اخلي او بله خوا د پيسو ورکولو ذمه واري اخلي، د شيدو ورکولو وختونه ټول نامعلومه (مجهول) دي خو دا جهالت (ناپوهي) د جنګ لامل نه دئ نو بالاتفاق روا دئ.

اشکال: خو يوه نيوکه کيږي چي دا د علاج ذمه واري اخيستونکي فريق دا اجير خاص دئ او که اجير مشترک؟ که چيري اجير خاص وي نو د نورو ذمه واري څنګه اخلي حال دا چي اجير خاص د نورو څخه کار نه سي اخيستلای (د بل چا کار نه سي نيولای)؟

« والخاص لايمكنه أن يعمل لغيره لأن منافعه في المدة صارت مستحقة للمستأجر والأجر مقابل بالمنافع ». (فتاوى الشامي:٦/ ٦٤، باب ضمان الجير، سعيد).

او که اجير مشترک وي اجير مشترک نو هغه وخت به ده ته تنخوا ورکول کيږي چي دى عمل وکړي او دغه ډاکټر ته خو پيسې ورکول کيږي که څه هم ده کار په دې مياشت کي نه وي کړي ؟

الجواب: د دې جواب دا دئ چي ځينو فقهاوو اجير خاص او اجير مشترک په ځينو صورتو کي جمعه کړي دي مثلاً شيدې ورکونکې ښځه که چيري په خپل کور کي ماشوم ته شيدې ورکړي نو دا اجير خاص هم سوه او اجير مشترک هم سوه (دواړه سوه) معنا دا چي دې ته مزدوري ورکول کيږي که څه هم دا نورو ماشومانو ته شيدې ورکوي.

په فتح المعين شرح الكنز کي راځي:

والحاصل أن المسائل في الظئر تعارضت فمنها ما يدل على أنها في معنى أجير الوحد كقولهم بعدم الضمان في هذه، ومنها ما يدل على أنها في معنى المشترك كقولهم إنها تستحق الأجر على الفريقين إذا أجرت نفسها لهما، قال الإتقاني: والصحيح أنه إن دفع الولد إليها لترضعه فهي أجير مشترك وإن حملها إلى منزله فهي أجير وحد وقال في العناية: وذكر في

الذخيرة ما يدل على أنها يجوز أن تكون خاصاً ومشتركاً حتى لو أجرت نفسها لغيره استحقت الأجر على الفريقين كاملاً عملاً بشبه الأجير المشترك وتأثم نظراً إلى أن لها شبهاً بالأجير الخاص. (فتح المعين:۳/ ۲۵٤ - وكذا في فتاوى الشامي:٦/ ۷۱، سعيد).

أقول: ويرتفع الإثم إذا كان الإذن بالعمل للغير.

همدارنگه هغه روغتون (میډیکل رئډ کمپنی) که علاج کوي که یې نه کوي ځکه یو میاشت به د علاج ضرورت نه وي داجیر خاص په ډول د مزدوري (تنخوا حق لري) او د نورو کار هم قبلولای سي.

دوهم جواب: داجارې څخه پرته دوهم جواب دا هم ورکېدلای سي چي په عقد موالات کي فقهاء فرمايي: که چیري مولی اسفل جنایت وکړي نو مولی اعلی به دیت ورکوي او که چیري مولی اسفل مړ سي نو اعلی مولی ته به میراث لاس ته راځي حال دا چي مولی اسفل هيڅ جنایت نه دئ کړی بیا هم مولی اعلی میراث لاس ته راوړي ځکه چي ده عقد ضمان کړی دئ.

وګورئ په درمختار کي راځي:

(أسلم رجل) مكلف (على يد آخر ووالاه أو) والى (غيره) الشرط كونه عجمياً لامسلماً على مامر وسيجيء (على أن يرثه) إذا مات (ويعقل عنه) إذا جنى (صح) هذا العقد (وعقله على وإرثه له).... (الدر المختار:٦/ ۱۲٦، فصل في ولاء الموالات، سعيد).

په طحطاوي علي الدر کي راځي:

قال إبراهيم النخعي رحمه الله: إذا أسلم الرجل على يدى رجل ووالاه فإنه يرثه ويعقل عنه وهذا قول علمائنا الثلاثة.... (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:٤/ ۷۰، كوئته).

دې څخه دا سوال هم ختمیږي چي میډیکل ایډ (روغتون) کي هغه مزدوري ورکونکي دا میاشت نه دئ مریض سوي؟ د جواب، حاصل دا سو چي هغه روغتون چي د عقد ضمان له کبله هره میاشت پیسې اخلي که څه هم پیسې ورکونکي مریض سوی نه وي بیا هم د دې پیسو اخیستل

صحیح دي لکه څنګه چي عقد موالات کي بیان سول چي د جنایت نه کولو باوجود د میراث حقداره ګڼل کیږي او فقهاوو د میراث ورکول صحیح بللي دي . په اردو فتاوی کي مولانا مفتي رشید احمد لدهیانوي صاحب د (میډیکل ایډ) هغه روغتونه په اړه د عدم جواز لنډ جواب په احسن الفتاوی کي ورکړي دئ چي د هغه عبارات لاندي لیکل سوی دئ:

سوال: په امریکا کي میډیکل علاج او د علاج اسانتیاوي د پرائیویټ ادارو ذمه واري ده.....؟

الجواب: باسم ملهم الصواب: روا نه ده. والله اعلم . (احسن الفتاوی:۷/ ۲۵).

امکان لري چي د حضرت مفتي صاحب دا عمل د جهالت په سبب ناروا لیکلی وي خو په نورو ځایو کي مفتي صاحب د عمل دغه جهالت صحیح بللي دئ چي د هغه په سبب جنګ نه پیښیږي .

د ډوډۍ د پخولو په مزدوري کي د ډوډۍ ورکولو په اړه فرمایي:

۱_ تنخوا اجره د عمل څخه ده.

۲_ تنخوا مجهوله ده.

د دوهم سوال جواب دا دئ چي جهالت د اجرت (د تنخوا) چي د جنګ لامل نه وي نو د اجارې فاسدونکی نه دئ. والله اعلم. (احسن الفتاوی:۷/ ۳۱۳).

کوم جهالت چي مفضی الی النزاع نه وي هغه د عقد فاسدونکي نه دئ دغه خبره زیاتو فقهاوو لیکلې ده .

وګورئ په فتاوی عالمګیري کي راځي:

وأما شرائط الصحة ومنها أن يكون المعقود عليه وهو المنفعة معلومًا علمًا يمنع المنازعة فإن كان مجهولًا جهالةً مفضيةً إلى المنزعة يمنع صحة العقد وإلا فلا . (الفتاوی الهندية:٤/ ٤١١).

حضرت علامه انور شاه کشمیري رحمة الله علیه فرمایي:

إن الناس يتعاملون في أشياء تكون جائزةً فيما بينهم على طريق المروءة والإغماض، فإذا رفعت إلى القضاء يحكم عليها بعدم الجواز، فالاستقراض المذكور « أي استقراض العبير »

عند عدم المنازعة جائز عندي، وذلك لأن العقود على نحوين: نحوٍ: يكون معصيةً في نفسه. وذا لا يجوز مطلقًا، ونحوِ آخر: لا يكون معصيةً، وإنما يحكم عليه بعدم الجواز لإفضائه إلى المنازعة، فإذا لم تقع فيه منازعة جاز. (فيض الباری:۳/ ۲۸۹، کتاب الوکالة).

د دې عبارت حاصل هم دا دئ چي کله عقد پر گناه باندي مشتمل نه وي نو يوازي جهالت د فساد لامل نه بلل کيږي تر کومه وخته چي جنګ پيدا نه کړي.

علي احمد الندوي په جمهرة القواعد الفقهية کي فرمايي:

الجهالة ليست بمانعة لذاتها، بل لكونها مفضية إلى النزاع، وهذا أصل مهم ينبغي التعويل عليه في الأحكام، فإن به حل كثير من المشكلات، وليعلم أن أحكام المعاملات الشرعية مبنية على أصلين عادلين:

الأول: منع كل ما فيه ظلم وأكل لأموال الناس بالباطل.

الثاني: منع ما يؤدي إلى الاختلاف والنزاع بسبب الجهالة، فإذا انتفى ما يؤدي إلى الظلم والنزاع بسبب الجهالة، صح التعامل، والعرف أصل عظيم يرجع إليه في ذلك بعد الشرع.

(جمهرة القواعد الفقهية فی المعاملات المالية:۱/ ۳۱۹، تحت القاعدة: الجهالة انما توجب الفساد إذا كانت مفضية الی النزاع المشکل).

حضرت مفتي ولي حسن صاحب وايي:

کليه قاعده دا ده چي جهالت د جنګ لامل کيږي نو هغه منعه ده او که جهالت د جنګ لامل نه جوړېدئ نو هغه منعه نه دئ. (درس الهداية:۳/ ۲۹).

نن سبا په خلکو کي د ميډيکل ايډ (دروغتون) د مسئلې سره نږدې صور تونه رواج دي مثلاً خلک د غلو د غلاوو څخه د ځان ساتلو له پاره د يوې ادارې سره معاهده کوي چي موږ به هره مياشت دومره پيسې درکوو خو تاسي زموږ پيردار او ذمه واريې که موټر يا بل شی غلا سي نو بيا دغه اداره د

خپلو اسبابو په ذريعه هغه موټر معلومه وي يا په راډيو كي اعلان كوي او هغه موټر د غله څخه ژغوري او كوښښ كوي په دې صورت كي هم د هغه پيسو په عوض كي چي كوم خدمت اخيستل كيږي هغه نامعلومه دي كله كله ډېر كلونه دوى ته د خدمت موقعه هم په لاس نه ورځي خو د جنګ د نه راتګ په سبب دا هم روا دئ د ميډيكل ايډ مسئله هم داسي وګڼه.

د ميډيكل ايډ يو بل اړخ هم سته چي داسي اداري اكثره كار وباري نه وي يوازي د خپلو مزدروانو د تنخوا ګانو او د هغو د فائدو فكر كوي او خپل كاريو احسان ګڼي او غالباً د دوى په قوانينو كي دا ليكل سوي وي دا معامله چي دا به زموږ په خپل منځ كي يو كومك وي نو پر دې اساس موږ دا معامله په تبرع مشروط كي هم داخلولاى سو چي دغه روغتون د علاج كومك او احسان كوي او د دې په عوض كي يو څه پيسې وركول كيږي تبرع مشروطه فقهاوو روا بللي ده.

په امداد الاحكام كي په تفصيل سره يو سوال دئ چي د هغه لنډيز دا دئ چي كه چيري يوه كمپني د يوه دوكاندار سره دا معامله وكړي چي كه تا زموږ له كمپني څخه د لسو زرو مال رانيوئ نو تا ته به درې زره روپۍ د جائزې پر ډول دركول كيږي خو كه تا چيري د بلي كمپني څخه يو وار هم يو شی رانيوئ چي هغه زموږ سياله ده نو تا ته به دغه رعايت بيا نه دركول كيږي نو ايا داسي شرط لګول صحيح دي او كه نه؟

د دې په جواب كي يې ليكلي دي چي دا معامله صحيح ده. (امداد الاحكام: ۳/ ۳۸۶).

په يوه بل ځای كي ذكر سوي دي:

سوال: په مدرسو كي د داخلې او مياشتني فيس له طالبانو څخه اخيستل روا دي او كه نه؟

الجواب: روا دي ځكه دا مزدوري نه ده بلكي چنده ده او په چنده كي شرط لګول روا دي ځكه په دې كي ظلم نه سته چي د چا دا شرط خوښ نه وي نو ودوی ته د داخلې نه كولو اختيار سته. « ودليله أنه صلى الله عليه وسلم قال لمن أضافه وعائشة رضي الله عنها قال: لا، قال: فلا إذن حتى قال في الثالثة: وعائشة رضي الله عنها، قال: نعم. (امداد الاحكام: ۳/ ۶۰۶).

د سوال او جواب حاصل دا دئ چي د داخلې فیس ته څنګه روا وایې دا خو د زده کړي اجرت (مزدوري) نه ده بلکي هغه خو جلا وي؟

جواب: دا دئ چي دا شرط کړل سوی احسان دئ چي موږ داخله ورکوو په دې شرط چي موږ ته چنده راکړل سي او په دې کي څه ظلم نه سته ځکه چي د کوچني د نه داخلېدو اختیار د هغه و پلار ته سته چي خپل ماشوم دي نه داخلوي. همداسي حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه د حضرت عازب رضی الله عنه څخه بار رانیوئ او عازب رضی الله عنه څخه یې هیله وکړه چي ستا زوی براء ته ووایه چي دا بار زموږ تر کوره زما سره ورسوي، هغه ورته وویل چي یا، خو په دې شرط ورته وایم چي ته ما ته د هجرت قصه وکړې نو حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه قصه ورته وکړه او د حضرت عازب رضی الله عنه زوی د ده سره هغه بار تر کوره ورسوئ.

په بخاري شریف کي دي:

عن البراء رضی الله عنه قال اشترى أبو بكرٍ رضی الله عنه من عازبٍ رضی الله عنه رحلاً بثلاثة عشر درهمًا فقال أبو بكرٍ رضی الله عنه لعازبٍ رضی الله عنه: مر البراء فليحمل إلي رحلي فقال عازب رضی الله عنه: لا، حتى تحدثنا كيف صنعت أنت ورسول الله ﷺ حين خرجتما من مكة والمشركون يطلبونكم قال: ارتحلنا من مكة .... الخ. (رواه البخاری: ۱/ ۵۱۵، فی مناقب المهاجرين).

دا شرط کړل سوې تبرع ده چي په شریعت کي یې ګنجائش سته همداسي روغتون د علاج ذمه واري اخیستلای سي چي هغه په چندي سره مشروطه ده مطلب دا چي که دا په اجاره کي داخل کړي او که مشروط تبرعاً دواړه صحیح کیږي په دې دواړو کي یو هم ناروا نه دئ.

سوال: دلته یو سوال په ذهن کي راګرځي چي دا معامله اجاره وبلل سي او که تبرع بالعوض په دواړو صورتو کي د روغتون په اړه د (میډیکل کمپنۍ) په اړه مي غالب ګمان دئ چي دا سودي کار وبار کوي بیا به یې د علاج حکم څه وي؟

الجواب: د دې جواب دا دئ چي په عام ډول په کفري هیوادو کي میډیکل کمپنۍ د کفارو وي او د کفارو او د کافرانو سره د معاملاتو د کار وبار په اړه درې مذهبونه دي:

۱_ امام زفر رحمه الله فرمايي، چي كه كافر حربي په دار الحرب كي د شريعت خلاف معامله وكړي نو هغه فاسده ده ځكه چي د قرآن كريم او د احاديثو حكم عام دئ خو په دار الحرب كي د اوسېدو په سبب او د ذميانو سره د معاهدې په سبب دي تفرض ورباندي نه كوي ځكه كافر چي كوم مال په ناروا ډول لاس ته راوړي وي كه هغه د سود په ډول وي او كه د قمار يا د شرابو په وجه د هغه اخيستل حرام دي.

۲_ د امام ابو يوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله په اند كه چيري كافر حربي په دار الحرب كي د شريعت خلاف معامله وكوي نو فاسده نه ده ځكه هغو د اسلام تابعداري پر ځاى لازمه كړې نه ده خو ذمي چي په مسلمان هيواد كي اوسېږي د هغو معاملات به د اسلام د قوانينو په چوكاټ كي كيږي كه چيري د دوى معاملي د اسلام د متفقه قوانينو خلاف وه نو پر هغو به د فساد حكم لګول كيږي نو بيا د دې شخه لاس ته راوړل سوى پيسې به د مسلمان له پاره حلالي نه وي او كه چيري دوى په سود سره پيسې لاس ته راوړلې نو دا پيسې به د مسلمان له پاره حلالي نه وي كه هغوى د سود پيسې واخيستلې نو هغه به د مسلمانانو له پاره حلالي نه وي.

۳_ د حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله مسلک دا دئ چي كفار كه په دار الحرب كي اوسېږي او كه په دار الاسلام كي بې د التزامه او معاهدې شخه په اسلامي احكامو دوى مكلف نه دي، د دې تفصيل دا دئ چي د دار الحرب كفار خو په دار الاسلام كي د اوسېدلو په سبب د اسلام د قوانينو له مكلفيت شخه ليري دي او چي كوم كفار ذميان په دار الاسلام كي اوسېږي هغو په احكامو كي هغه چي د دوى د مذهب يا لاري يا قانون شخه خلاف وي خپل ځانونه مكلف جوړ كړي نه دي او نه يې پر اسلامي قوانينو تلل پر ځانو لازم كړي دي نو له همدې كبله هغه خلک چي دوى كومه معامله د اسلامي شريعت خلاف كوي هغې ته فاسد نه سو ويلاى او د دوى د ګټي شخه د مسلمان له پاره اخيستل روا دي خو كه ذميان د مسلمانانو سره پر يوې داسي معاهدې لاسليک وكړي يا داسي شرط قبول كړي چي اسلامي قانون يا حكم وي نو د دې خلاف كولو ته فاسد ويل كيږي او بيا به د دې اخيستل يا خوړل د مسلمانانو له پاره ناروا وي . په كفري هيوادو كې اوسېدونكي كفار خو د حربيانو په ډول دي نو ځكه هغه معاملې چي د دوى د قانون سره برابر دي فاسد نه ورته ويل كيږي او د دې شخه لاس ته راغلې ګټه د مسلمان له پاره اخيستل به صحيح وي.

حضرت مولانا ظفر احمد عثماني په امداد الاحکام کي پر دې باندي په په تفصيل سره رڼا اچولې ده او دا فتوی حضرت عثماني صاحب هم کتلې ده. د امداد الاحکام د عبارت څخه دا څرګندېږي چي مولانا ظفر احمد عثماني صاحب د امام ابو حنیفه رحمه الله پر قول فتوی ورکړې ده، وګورئ.

د جواب حاصل دا دئ چي کفار مخاطب بالفروع فی العقوبات والمعاملات که څه هم دي خو حکم بالحرمة والفساد له پاره خطاب عام کفایت نه کوي بلکي التزام هم شرط دئ حربیانو خود اسلام د احکامو التزام هیڅکله کړی نه دئ نه د خپل معتقد په موافق کي او نه په مخالف کي نو هغه چي څنګه پیسې وګټي که په سود سره وي که په غلا سره وي که په باطلو او فاسدو سوداوو سره وي که د دوی د مذهب موافق وي او که مخالف وي په هر ډول سره هغه پیسې یا داسي نور د دوی په ملکیت کي راځي او د مسلمان له پاره یې په تنخوا کي اخیستل روا دي. (امداد الاحکام: ٤/ ٣٩٠).

خو د هدایې د عبارت څخه معلومېږي چي مسلمان او کافر دواړه د سود په معامله کي سره برابر دي مطلب دا چي د دواړو له پاره د سود کار وبار ممنوع دئ نو له هم دې کبله که چیري د میډیکل ایډ کمپنۍ په کار وبار کي زیاته حصه سود وو یا بشپړ سود وو نو د داسي کمپنۍ څخه د ځان ساتل ضروري دي خو که د دوی غالب (زیات) کار وبار حلال وو نو بیا د دوی څخه ګټه اخیستل یا په دوی باندي په علاج کولو کي هیڅ تاوان نه سته.

وګورئ په هدایه کي راځي:

والربا مستثنى عن عقودهم لقوله عليه السلام: ألا من أربى فليس بيننا وبينه عهد. (الهداية: ٢/ ٣٣٨). (د هدایې مصنف د دغه عبارت جواب د مصارفو د ربا لاندي په تفصیل ذکر سوی دئ هلته دي وکتل سي).

وګورئ په فتاوی قاضي خان کي راځي:

إن كان غالب مال المهدى من الحلال لا باس بأن يقبل الهدية ويأكل ما لم يتبين عنده أنه حرام لأن أموال الناس لاتخلو عن قليل حرام فيعتبر الغالب، وإذا مات عامل من عمال

السلطان وأوصى أن يعطى الحنطة للفقراء قالوا: إن كان ما أخذه من أموال الناس مختلطاً بماله لابأس به وإن كان غير مختلط لايجوز للفقراء يأخذوه إذا علموا أنه مال لغير وإن لم يعلم الآخذ أنه من ماله أو مال غيره فهو حلال حتى يتبين أنه حرام. (امداد الفتاوى بحواله قاضى خان: ۳/ ٤٩٤).

د دې عبارتو څخه معلومه سوه که چيري حلال پر حرامو غالب (زيات) وي نو د دې سره معامله کول او د دوی په واسطه سره علاج کولو کي هيڅ تاوان نه سته خو که حرام بيا پر حلالو باندي غالب وي او مسلمانه کمپنۍ (اداره) وه نو بيا معامله ورسره کول صحيح نه ده. والله ﷻ اعلم.

د ميډيکل ايډ کمپنۍ څخه د پيسو ولاس ته د راوړلو حکم

سوال: د ميډيکل ايډ هغه صورت چي مريض د هغه ميډيکل پيسې واخلي او په خپله خپل علاج وکړي دا روا ده او که نه؟

الجواب: د روغتون دغه صورت يقيني ناروا دئ چي د علاج او داسي نورو له پاره پيسې را واخلي ځکه چي لاس ته راتلونکي پيسې خامخا ستا تر ورکول سوو پيسو به يا زياتي وي او چي کومه زيادتي ته لاس ته راوړې هغه د يو شی په مقابل کي نه دي بلکي ستا پر پيسو زيادت پيسې ښکاره سود دئ نو دا ناروا دي.

وګورئ په التعريفات کي راځي:

الربا هو فى اللغة: الزيادة، وفى الشرع: هو فضل خال عن عوض شرط لأحد العاقدين. (التعريفات للجرجانى: ص ۱۱۲).

په اعلاء السنن کي راځي:

الفضل المشروط فى القرض ربا محرم لايجوز للمسلم من أخيه المسلم أبداً، لإجماع المجتهدين على حرمته. (اعلاء السنن: ١٤/ ٥١٨، ادارة القرآن).

په حجة الله البالغه کي راځي:

الربا هو القرض على أن يؤدى إليه أكثر وأفضل مما أخذ. (حجة الله البالغة: ٢/ ٢٨٢، قديمى).

د علاج له پاره پيسې د کمپنۍ څخه مه اخله بلکي کمپنۍ دي خپله ستا د علاج ذمداري واخلي او ستا علاج او داسي نور دي وکړي نو په دې صورت کي چي تا کومي پيسې په کمپنۍ کي ايښي دي د هغو په بدل کي کمپنۍ ستا د علاج اسانتيا رامنځ ته کړي که څه هم په دې صورت کي د پيسو عوض مجهول دئ خو دا جهالت د جنګ لامل نه دئ او خلک د داسي جهالت سره معامله کوي نو ځکه د دې ګنجائش سته، خو ځيني علماء د دې څخه هم ممانعت کوي او ناروا يې ګڼي نو ځکه احتياط کول ښه دي، داسي معامله دي ونه سي که څه هم ګنجائش هم وي بيا هم دا کمپنۍ عمومًا سودي معاملات کوي نو داسي کمپينو څخه د کومک غوښتلو تاوان خامخا راځي . د دليلونو له پاره د ميډيکل ايډ په اړه وړاندي ذکر سوې فتاوى وګورئ. والله ﷻ اعلم.

د ميډيکل ايډ کمپنۍ څخه د پيسو ولاس ته د راوړلو حکم

سوال: ايا مډيکل ايډ روا دئ او که نه؟ که روا نه وي نو ډاکټر خپل فيس او داسي نور ميډيکل ايډ کمپنۍ څخه لاس ته راوړي د دې څه حکم دئ؟

الجواب: په دې صورت کي ميډيکل ايډ چي په هغه کي د خپلو پيسو په بدل کي د ميډيکل ايډ څخه دي علاج لاس ته راوړي ده ته پيسې بعينه لاس ته نه راځي دا صورت روا او صحيح دئ او محترمين ډاکټران چي د مريضانو علاج کوي هغه هم د ميډيکل ايډ کمپنۍ څخه خپل فيس لاس ته راوړلای سي او په دې کي هيڅ تاوان نه سته، دی د خپل کار مزدوري اخلي خو که چيري د ميډيکل ايډ کمپنۍ د ګټي ډيري ذريعې حرامي وي نو بيا د دې څخه ځان ساتل ضروري دئ.

په فتاوى محموديه کي راځي:

ډاکټر د معاينې فيس اخلي او هغه روا دئ او هغه په هر کال کي کارولای سي. (فتاوى محموديه: ١٦/ ٣٩١، جامعه فاروقيه). والله ﷻ اعلم.

د میډیکل ایډ (۱) کمپنۍ د نورو دواوو حکم

سوال: یوه سړي د میډیکل ایډ کمپنۍ سره د پیسو ورکولو وعده کړې ده که چیرې هغه سړی د میډیکل ایډ په واسطه د خپل مریض ورور له پاره دوا راباسي نو دا روا ده او که نه؟ همدارنګه ده د کمپنۍ څخه لاس ته راوړې وه خو هغه پاته سوه نو بل چا ته یې ورکولای سي او که نه؟

الجواب: که چیري یو چا میډیکل ایډ کمپنۍ څخه د خپل ځان له پاره دوا لاس ته راوړله چې هغه د څه لامل په سبب پاته سوه او د دې د بیرته ورکولو یې څه صورت او قانون نه وي نو بل چا ته یې دوا ورکول روا دي، خو که خپل نوم کار وي او د بل له پاره دوا راباسي نو دا یو فریب او چل دئ نو ځکه دا ناروا دئ، خو که چیري د میډیکل ایډ د کمپنۍ له خوا اجازه وي مثلاً چې د خپل مور او پلار او ورونو له پاره به هم دوا درکوو نو د دې اجازې پر اساس بیا دوا راوړل روا دي. والله ﷻ اعلم.

د میډیکل انشورنس (بیمې) حکم

سوال: میډیکل انشورنس کول روا دي او که نه؟

الجواب: میډیکل انشورنس تقریباً د میډیکل ایډ په شان دئ نو د ده حکم به هم د میډیکل ایډ په شان وي که چیري کمپنۍ د ورکړل سوو پیسو په بدل کي علاج او معالجه کوي او پیسې بیرته ورنه کړي نو روا ده، خو که چیري پیسې ورکړي نو بیا روا نه ده همداسي به د دې کمپنۍ زیات کار وبار حلال هم وي که چیري د ګټې ډېر ذرائع یې حرام وه بیا هم ناروا دي. د دلیلو له پاره لومړی د میډیکل ایډ تفصیلي مسئله وګورئ. والله ﷻ اعلم.

(۱) د میډیکل ایډ (هغې کمپنۍ چې هغې د خلکو سره وعده کړې وي او د خلکو علاج کوي او خلکو د دې سره وعده کړې وي چې په میاشت یا کال کي به غنم یا پیسې یا داسي بل څه ورکوي دې ته دې ته میډیکل ایډ وایي).

میډیکل انشورنس او یو د بله کومک

سوال: د میډیکل انشورنس دا شکل مثلاً په یو دفتر کي یو څو دوستان یو څه روپۍ سره جمع کوي هر سړي پر هري تنخوا باندي یو څه پیسې په دې دفتر کي جمعه کوي او د ضرورت پر وخت د هر وګړي سره د علاج پر وخت مالي کومک کوي که چیري له جمعه سوو څخه زیاتي مصرف سي نو فیس زیاتیږي او که مصرف کم وي نو فیس هم کمیږي دا صورت روا دئ او که نه؟

الجواب: د میډیکل انشورنس په دې بیان سوي صورت کي نه سود سته او نه قمار او یا بل داسي د شریعت خلاف شی نه سته نو ځکه دا یو د بل سره کومک دئ او په دې کي هیڅ مکروه والي نه سته بلکي مستحب دئ . د علماوو چي کوم صورتونه د انشورنس یا یو د بل سره د کومک پر مختلفو ځایو تاکلي دي د هغو څخه یو دا دئ چي مسلمانان باید د انشورنس ناروا صورتونه پرېږدي او روا صورتونه څخه اخیستل سوی اختیار کړي. (آپ کي مسائل اور ان کا حل:٦/ ۲۵۷).

په خپل منځ کي یو د بل سره کومک کول (تعاوني بیمې) په اړه د مکې مکرمې اسلامک فقه اکېډمۍ فیصله وګورئ د سعودي عرب د غټو علماوو د رایي په اتفاق مشهوره فیصله لمبر (۵۱) په تاریخ (۱۳۹۷/۴/۴ هـ) د تعاوني بیمې د روا والي او د تجارتي بیمې د حرام والي لاندي دلیلونه وګورئ:

۱_ تعاوني بیمه (په اتفاق پیسې جمعه کول د ضرورت پر وخت د مجبوره کار په پوره کول) دا بیمه د عقد تبرع یو ډول دئ چي د هغې مطلب اصل تاوانونه وېشل دي او د واقعاتو په وخت کي په ذمداری سره شریک وي د دې له پاره څو کسان پیسې سره جمعه کوي او چي چا ته تاوان ورسیږي د هغه کومک په کوي د دې تعاوني قرار داد د تهم هدف نه تجارت وي او نه د نورو له مال څخه ګټه لاس ته راوړل بلکي په خپل منځ کي د تاوانو وېشل او د هغو ختمول وي.

۲_ دا تعاوني قرار داد یا بیمه د سود د دواړو ډولو ربا الفضل او ربا النساء (زیادت او پور) څخه خالي وي د دې قرار داد د شریکانو د اقرار داد نه سودي وي او نه جمعه سوي پیسې او هغه قسطونه په سودي معاملو کي کاریږي.

۳_ په تعاوني قرارداد کي چي کومه گټه لاس ته راغلي وي که حصه داران وربانـدي خبر نه وي تاوان نه لري، ځکه دا خلک ډالی ورکونکي دي چي تاوان د دوکي (چل) او قمار نه وي د دې برعکس تجارتي قرار داد د يو مالي تجارتي معاوضه وي.

۴_ پيسې اچونکي شريک يا د هغه نمائيـده د جمعه سوي قسطو سرمايه جمعه کوي د دغو اهدافو د بشپړتيا له پاره کيږي. پيسې جمعه کوونکي بنايي په خوښی سره يا کار خپله وکړي يا په مزدوری سره او په دي کي هيڅ تاوان نه ستهٔ.

د مشوري (اجلاس) رايه دا ده چي د تعاوني قرار داد په اړه د لاندي موادو او بيان سوی بنيادو باندي چي د هغو رعايت وسي صحيح ده.

۱_ د تعاوني امداد (يا قرار داد) د نظم برابرولو يو مرکزي دفتر وي چي د هغه بناخونه په ټولو ښارو کي وي او د نظم سره د جلا جلا تاوانونو دفاع او د جلا جلا د کسب خاوندانو د خلکو په اعتبار سره اداري وي مثلاً د صحت د اداري کومک (Health Insurance) اداره د معذورينو له پاره او پيرانه سالي (د زيات عمر درلوونکو) د کومک اداره او داسي نور.

۲_ د تعاوني قرار دادي کومک، دا نظم بايد ډېر اسانه وي او د پېچل سوی ډولو څخه ساتل سوی وي (ليري وي).

۳_ د دې ټيم يوهٔ سرپرسته مجلس وي چي د کار ډول او د هغه لازمي قوانين نافذ کړي چي هغه د شريعت له قوانينو سره سره د تړا ولرلو په صورت کي نافذ العمل وي.

۴_ که چيري تاوانونه د ټيم د سرمايې څخه زيات وي چي په قسطو کي د زياتوالي لامل وي نو حکومت او شريکان دغه زيادت ته غاړه کښېږدي دا المجمع الفقهي اجلاس د سترو علماوو دا تجويز او د هغو احساس د دې خبري تائيد کوي چي د تعاوني کمپنی له پاره د تفصيلي موادو د برابرولو له پاره د ماهرينو او خاصو خلکو په ذريعه بايد وکړل سي. (عصر حاضر کی پیچیدہ مسائل کا شرعی حل، مرتب قاضی مجاهد الاسلام قاسمی صاحب: ۳۷-۴۰).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (اسلام اور جدید معاشی مسائل: ۷/ ۲۹۲، جدید فقهی مسائل: ۴/ ۱۰۲). والله ﷻ اعلم.

د میډیکل ایډ کمپنۍ د غړیتوب کېدو حکم

سوال: د میډیکل ایډ کمپنۍ د غړیتوب روا دي او که نه؟

الجواب: د میډیکل ایډ کمپنۍ د غړیتوب په دې شرط سره چي د پیسو په بدل علاج کیږي او د
دوی زیات کاروبار حلال وي نو د دې کمپنۍ غړیتوب روا دي. والله تعالیٰ اعلم.

د انشورنس کولو حکم

سوال: د دین علماء په دې مسئله کي څه فرمايي، چي د یوه تن په ملکیت کي یو څه مکانات دي
دغه کورونه او ښوونځی، مدرسې او مسجدو انشورنس کول روا دي او که نه؟ که روا نه وي نو د نه روا
والي لامل یې څه دئ؟ او که یو چا کړي وي د هغه حکم څه دئ؟

الجواب: په اوسني وخت کي د انشورنس (INSURANCE) معامله چي پر کومو بنیادو درول
سوې ده تر هغو لاندي د شریعت له نګاه څخه د هیڅ ډول املاک یا جائیداد د انشورنس کول روا نه دي
او د نه روا والي یې دوه داسي حرام لاملونه دي چي د هغوی حراموالی د شریعي قطعیه نصوص
کتاب، سنت او اجماع امت څخه ثابت او ښکاره دي نو هغه دوه مفاسد د سود او قمار پیدا کېدل دي
چي د هغو پر اساس دا کاروبار ناورا دئ. سود خو له دې کبله دئ چي پیسي انشورنس کمپنۍ ته
ورکول کیږي او د فقهي په رڼا کي د دې حیثیت قرض دئ، د دې پر بیرته اخیستلو چي کومي
ګټې لاس ته راځي هغه ګواکي د دغه وخت په بدل کي لاس ته راځي چي د قرض پر بیرته
اخیستلو باندي مقرري سوي دي، که څه هم انشورنس کمپنۍ د اصل پیسو سره هغه ګټه ورکوي
هغه په بونس (BONUS) سره نومول سوې ده خو د دې حقیقت څرنګه چي سود دئ نو ځکه د نوم
په بدلولو سره د دې حقیقت نه بدلیږي همداسي د دې حقیقت په اړه حضرت مفتي محمد شفیع
صاحب لیکلي دي:

ښکاره خبره ده چي یوازي د نوم بدلو سره د یوې معاملې حقیقت نه بدلیږي، د بیمې کمپنۍ ګټې
بېله شکه د سود په تعریف کي داخلیږي. (جواهر الفقه: ۲/ ۱۸۱).

او بې حسابه قطعي نصوص د سود پر حراموالي موجود دي،

دوهمه مفسده دا ده په دې کې قمار پیدا کیږي هغه داسې چې د قمار حقیقت دا دئ چې د دواړو خواوو څخه مال وي او فائده او تاوان دیوه غیر معین او نامعلوم شی سره تړ او لري همدغه فقهاء په خطر او مخاطرې سره تعبیر وي او دامت علماوو چې د قمار په اړه کومه قاعده لیکلې ده هغه دا ده.

تعلیـق الـملک علـى الـخطر والمـال فـى الـجانبين. (جـواهر الفقـه:٢/ ٢٢- وامـداد الفتاوى:٣/ ١٦١).

چنانچه ابو بکر جصاص رازي رحمة الله علیه لیکي:

لا خلاف بين أهل العلم في تحريم القمار وأن المخاطرة من القمار قال ابن عباس رضي الله عنه: إن المخاطرة قمار وإن أهل الجاهلية كانوا يخاطرون على المال والزوجة وقد كان ذلك مباحا إلى أن ورد تحريمه. (احكام القرآن:١/ ٣٢٩، باب تحريم الميسر، وكذا فى احكام القرآن للتهانوى:١/ ٣٩٣).

په فتاوى شامي کې راځي:

وسمي القمار قماراً لأن كل واحد من المقامرين ممن يجوز أن يذهب ماله إلى صاحبه، ويجوز أن يستفيد مال صاحبه، وهو حرام بالنص . (رد المحتار:٦/ ٤٠٣، كتاب الحظر والاباحة، سعيد).

مفتي محمد شفیع صاحب په معارف القرآن کې وایي:

ټول صحابه او تابعین پر دې خبره متفق دي چې په میسر کې د قمار ټول صورتونه داخل دي او ټول حرام دي. ابن کثیر رحمة الله علیه په خپل تفسیر کې نقل کړی دئ او جصاص په احکام القرآن کې نقل کړی دئ چې مفسر القرآن عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ، ابن عمر رضي الله عنهما، قتاده رحمة الله علیه او معاویه بن صالح او عطاء او طاؤس فرمایلي دي:

« الـميسر القمـار حتى لعب الصبيان بالكعاب والـجوز»

معنا دا چي هر ډول قمار ميسر دئ تر دې چي د په جوزو د ماشومان بازي او داسي نورو سره هم. (معارف القرآن: ۱/ ۵۳۲).

فقهي ابو لليث سمرقندي رحمه الله د ميسر په تفسير کي ليکلي دي:

وقال عطاء ومجاهد: الميسر القمار كله حتى لعب الصبيان بالجوز والكعاب. (تفسير السمرقندي: ۱/ ۲۰۳).

او په انشورنس کمپنی کي هم ديوې حادثي په صورت کي پر مال باندي د لاس ته راتلونکې ګټي حصول او عدم حصول په خطر کي وي نو ځکه دا هم په قمار کي داخل ده او د قمار پر حراموالی قطعي نصوص موجود دي.

وګورئ په قرآن کريم کي راځي:

﴿ إنما الخمر والميسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشيطان فاجتنبوه لعلكم تفلحون ﴾. (المائدة، الآية: ۹۰).

امام دار الهجرت حضرت مالک بن انس رضي الله عنه د دې ډول ديوې معاملې په مثال ورکولو سره د دې حکم فرمايي:

أن يعمد الرجل إلى الرجل قد ضلت راحلته أو دابته أو غلامه وثمن هذه الأشياء خمسون دينارا فيقول: أنا آخذها منك بعشرين ديناراً فإن وجدها المبتاع ذهب من مال البائع بثلاثين ديناراً وإن لم يجدها ذهب البائع منه بعشرين ديناراً وهما لا يدريان كيف يكون حالهما في ذلك ولا يدريان أيضاً إذا وجدت تلك الضالة كيف تؤخذ وما حدث فيها من أمر الله مما يكون فيه نقصها وزيادتها فهذا أعظم المخاطرة. (المدونة الكبرى: ۳/ ۲۵٤، كتاب الغرر، دار الفكر).

یو سړی وبل سړي ته وایي چې د هغه اوښ یا بل شی ورک سوی وي او د هغه قیمت مثلاً پنځوس زره دیناره وي دی ولاړ سي هغه ته ووایي چې زه ستا څخه دغه ورک سوی شی په شل زره رانیسم که رانیوونکي ته هغه ورک سوی شي پیدا کړئ نو مالک ته به دېرش زره تاوان وي او که پیدا نه سي خو ده رانیوونکي به شل زره تاوان وي او مالک به شل رزه مفت لاس ته راوړي دغو دواړو ته د معاملې کولو په وخت کي هیڅ معلومه نه ده چي دا شی به پیدا کیږي او که نه؟ او که پیدا کیږي هم په څه حال کي به وي؟ او دا هم معلومه نه ده چي په هغه کي به څه زیادت یا کموالی راځي دا ټول معامله چل او دو که ده. په دې مثال کي دا رابنول سوي دي چي داسي معامله چي د هغې په انجام کي د ښه والی او بدوالي دواړه امکان لري په شریعت کي صحیح نه ده، همداسي معامله د انشورنس ده.

لنډه دا چي انشورنس کمپنۍ سودي کمپنۍ ده او په دې کي پیسې جمعه کول یا د مسجد، مدرسې، جائیداد انشورنس کول په شریعت کي صحیح نه دي. که چیري یو چا د ناپوهۍ څخه انشورنس کړی وي نو یوازي هغه ایښول سوي پیسې دي ورڅخه واخلي او زیات دي نه ورڅخه اخلي. والله ﷻ اعلم.

د موټر او مکانو د انشورنس حکم

سوال: د موټر انشورنس کول روا دي او که نه؟ مثلاً نوی موټر یوه سړي رانیوئ او د دې د قیمت پر برابر پیسې کمپنۍ ته ورکوي بیا که چیري د دې سړي موټر غلا یا ورک سي انشورنس کمپنۍ د دې قیمت اداء کوي یا موټر خراب سي نو انشورانس کمپنۍ به یې سموي؟

الجواب: د انشورنس اول صورت چي کمپنۍ په هغه کي دې سړي ته پیسې ورکوي دا خو یقیناً د شریعت له پلوه ناروا دئ او په دې کي سود او قمار راځي او په قرآن او حدیث کي د دواړو ممانعت راغلي دئ خو که انشورنس کمپنۍ پیسې نه اداء کوي بلکي د پیسو په بدل کي موټر جوړ وي نو په دې صورت کي گنجائش سته، خو احتیاط دا دئ چي داسي معامله ونه کړل سي.

په دې صورت کي که څه هم د پیسو په بدل کي راتلونکی شی مجهول دئ خو د جنگ لامل نه دئ او ځینو علماوو دا هم ناروا بللی دئ او د سودي کمپنۍ سره کومک کول خو په هر وخت کي راځي نو ځکه د داسي معاملې څخه ځان ساتل ښه دئ.

وګورئ حضرت مولانا تهانوي صاحب فرمايي:

د صورت په اعتبار سره خو دا قمار دئ «لأنه تعليق الملک على الخطر والمال في الجانبين» او د حقيقت په اعتبار سره سود دئ او قمار او سود دواړه حرام دي نو دا معامله يقيناً حرامه ده. (امداد الفتاوی:۳/ ۱٦۱).

مفتي کفايت الله صاحب وايي:

بيمه (په کمپنۍ کي پيسې جمعه کول او د ضرورت پر وخت په هغو ستا سره مالي کومک يا داسي نور کول) د کمپنۍ سره د دوکانو، کار خانو، عمر بيمه کول ناروا ده ځکه پر قمار او سود باندي مشمله وي او دا دواړه ناروا دي. (کفايت المفتی:۸/ ۳۸).

مفتي تقي عثماني صاحب وايي:

د جمهورو علماوو مسلک دا دئ چي په بيمه کي قمار هم سته او سود هم ځکه له يوې خوا څخه د پيسو اداء کول معلومه ده او د دوهم طرف څخه يې اداء کول نامعلوم دي ځکه چي کوم قسطونه اداء کړل سوي دي هغه ټولي پيسې بې ځايه هم تللای سي او د دې څخه زياتي لاس ته راتللای هم سي همدغه قمار دئ او سود داسي چي دلته د پيسو په پيسو بدلول دي او په دې کي تفاضل دئ چي د بيمه دار د طرف څخه کمي ورکول کيږي او زياتي لاس ته راوړي. (اسلام اور جديد معاشی مسائل:۷/ ۲۹۰).

په جديد فقهي مسائل نومي کتاب کي راځي:

دژوند او املاکو انشورنس هيڅکله روا نه دئ چي په دې کي سود او قمار هم دئ. (جديد فقهی مسائل:٤/ ۱۲٤).

په اسلامي فقه کي راځي:

د اوس وخت د انشورنس په اداره کي د سود او قمار ډېر مفاسد دي او په اخلاقي او معاشي اعتبار سره انساني اخلاق، مړانه او بناري ژوند دغه سود او قمار له منځه وړي. (اسلامی فقه:۲/ ۳٦۰). والله اعلم.

د مزور د انشورنس حکم

سوال: نن سبا په کمپنیو کي دا رواج دئ چي د کمپنۍ خاوندان د مزدورانو د تنخوا له ورکولو څخه مخکي د مزدورانو له مزدورۍ څخه یو څه کرځوي او دا پیسو کاټولو کي د مزدور هیڅ اختیار نه وي دوی یې له خپل طرفه کاټوي او بیا یې د انشورنس په یوه اداره کي جمعه کوي او مزدور د دې قانون په منلو کي مجبوره وي . که دا مزدور مړ سي دغه پیسې د ده وارثانو ته ورکول کیږي چي دا پیسې تر هغه اصلي پیسو ډېري وي نو ایا دا پیسې وارثانو ته روا دي او که نه؟ د املاکو او داسي نورو د انشورنس حکم څه دئ؟

الجواب: په اوس وخت چي د انشورنس څخه پرته د مزدورۍ پیدا کېدل او که پیدا سي د هغه یو څه وخت پر ځای پاته کېدل دا بې امکانه دي همداسي نن سبا چي د مسلمانانو څومره تاوانونه د نه امنیت له کبله کیږي همداسي د حکومت د قانون پر برابر په مزدوریو کي د ژوند بیمه لازمه سوې ده چي بېله دې څخه یا خو د مزدورۍ پیدا کېدل مشکل دي یا خو مزدوري پیدا کیږي خو د لږ وخت له پاره وي له همدې کبله چي مجبوري ده نو د دې ډول انشورنس اجازه به وي . همداسي ځیني علماء په خپلو فتاواوو کي د دې تصریح فرمایلې ده. خو په زړه کي باید دا بده وبلل سي او همېشه توبه او استغفار هم وسي او بیا د انشورنس هغه صورت چي خپله دي پیسې ایږدي او بیا تر هغو پیسو زیاتي لاس ته راوړي هغه زیادتي پیسې خپله کارول صحیح نه دي بلکي د ثواب له نیته پرته دې خیرات کړي، خو د انشورنس هغه صورت چي کمپنۍ د مزدور له پیسو څخه یو برخه د مزدور له اختیاره پرته کاټوي او بیا ده ته زیاتي ورکوي دا سود نه دئ، او د دې پیسو کارول روا دي.

په فتاوی محمودیه کي راځي:

په بیمه کي سود او قمار هم سته چي دا دواړه شیان ناروا دي او بیمه هم ناروا ده خو که یو سړی په داسي ځای او داسي چاپیریال کي وي چي بېله د بیمې کولو څخه د ځان او مال ساتنه نه کېدله یا قانوني مجبوري وي نو بیا بیمه کول صحیح دي. (فتاوی محمودیه:۱٦/ ۳۸۷، جامعه فاروقیه).

بل ځای بیان سوی دئ:

کله چي کار وبار کار خانې یا دو کان څخه پر ته ګذاره مشکله وي او پر دې قانوني مجبوري وي په دې ژوند کي انسان معذوره بلل کیږي او هغه پیسې چي د ده د جمعه کړل سوو پیسو څخه زیاتي دي هغه دي پر خوارانو خیرات کړل سي او په خپل کار کي دې نه کار وي. (فتاوی محمودیه:۱۶/ ۳۹۰، جامعه فاروقیه).

په جدید فقهي مسائل کي راځي:

د انشورنس هغه ټول صورتونه چي په هغه کي تر حکومتي قانون لاندي انشونس لازمي دئ روا دئ لکه د دوو هیوادو په منځ کي چي تجارت وي چي په هغه کي د انشورنس (بیمه) کوونکي اختیار نه وي. (جدید فقهی مسائل:٤/ ١٢٤).

په امداد الفتاوی کي راځي:

د تنخوا یو جزء داسي وضعه کول او بیا یو ځای لاس ته راوړل که څه هم د دې سره د سود په نامه یو څه ورکول کیږي دا ټول روا دي ځکه چي دا په حقیقت کي سود نه دئ او دا د تنخوا هغه جزاء دئ یې تر اوسه ورکول سوی نه دئ د دې مزدور په ملکیت کي داخل نه دئ نو بیا هغه زیاتي روپۍ د ده مملوکه شی څخه د ګټي اخیستلو له کبله نه دي ورکول سوي بلکي دا ابتدایي احسان دئ چي ګورنمنټ (هغه د حکومت اداره) دې ته سود وایي. (امداد الفتاوی:۳/ ۱٤۹).

په جدید فقهي مباحث نومي کتاب کي راځي:

ګورنمنټ (د حکومت اداره) زیاتي پیسې که څه هم د سود په نامه ورکوي خو د سود تعریف هغه وخت پر صادقیږي چي موږ خپله پیسې جمعه کړي وي او بیا پر هغو زیاتي روپۍ لاسته راسي خو دلته د ګورنمنټ (حکومتي اداري) بیله زموږ د اختیاره پیسې کاټوي او د ځان سره یې ایږدي په داسي حال کي چي تر اوسه هغه زموږ په ملکیت کي لا راغلي نه دي او بیا پر دې زیادت راکوي نو ځکه پر دې پیسو چي کوم زیادت په دې پیسو کي راځي دا به زموږ په مملوک شی کي زیادت نه وي بلکي دا به د شروع څخه یو جائزه وبلل سي. (جدید فقهی مباحث:٤/ ٤٨٥).

په نظام الفتاوی کي راځي:

په حکومتي ډول باندي چي په جبر او زور کومي پيسي د بيمې په نامه سره کاټوي هغه پيسې او څومره چي نوري دي سره يو ځای سوي دي دا ټولي حلالي دي او په خپل کار کي يې کارول صحيح دي. (نظام الفتاوی:۲/ ۲۳٦).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (جديد فقهی مباحث:٤/ ۲۳۷، او فتاوی عثمانی:۳/ ۳۱٤، و احسن الفتاوی:۷/ ۲٥).

د جبري انشورنس د روا والي يو څو عام دليلونه وګورئ د شريعت ډېر لوي قانون يسر (اسانتيا) او رفع رحج (نه تکليف دئ).

قال الله تعالی: ﴿ يريد الله بكم اليسر ولا يريد بكم العسر ﴾. (سورة البقرة، الآية:۱۸٥).

وقال الله تعالی: ﴿ وما جعل عليكم في الدين من حرجٍ ﴾ . (سورة الحج، الاية:۷۸).

د فقهي يو څو مسلمي قاعدې لاندي ليکل سوي دي وې ګورئ:

« المشقة تجلب التيسير ». (الاشباه والنظائر:۱/ ۲۲٦).

« الضرورات تبيح المحظورات». (شرح المجلة، وقواعد الفقهف والاشباه:۱/ ۲٥۱).

« الحاجة تنزل منزله الضرورة عامة أو خاصة». (الاشباه والنظائر:۱/ ۲٦۷).

« وما حرم لذاته يباح للضرورة ». (تفسير المنار لمحمد رشيد بن على رضا:٦/ ۲۲۳).

« وما حرم سداً لذريعة يباح للحاجة» . (تفسير المنار لمحمد رشيد بن على رضا:٦/ ۲۲۳).

« إذا ضاق الأمر اتسع ». (قواعد الفقه، ص ٦۲). والله تعالی اعلم.

د ترډ پارټي د انشورنس حكم

سوال: د ترډ پارټی انشورنس روا دئ او كه نه، چي د هغه بيان دا دئ چي پر چا په راتلونكي زمانه كي يو تاوان راسي (ذمه داري راځي) د دې ذمه وارۍ د دفعه كولو له پاره بيمه كول كيږي مثلاً يو موټر چلوونكي د بل موټر سره ټكر كوي او پر ده باندي مالي تاوان لازميږي د دې بيمه كول كيږي او د ټكر په وخت كي دا تاوان بيمه كمپنۍ اداء كوي (insurance Thirdparty) ويل كيږي چي په ځينو مغربي هيوادو كي دا ډول وي، كه چيري يو څوك د خپل كور د مخ واوره يا يخي صاف نه كړي او يو څوك پر دې يخي وښويږي چي د هغه له كبله د ده د بدن تاوان راسي (ځاني تاوان) نو هغه ښويدلی سړی په حكومت كي عريضه كوي او حكومت له هغه څخه دروند تاوان اخلي د دې خطر څخه د ځان ژغورلو له پاره د كور خاوندان بيمه كوي دا هم د ((تأمين المسئولية)) يو شكل دئ چي كله تاوان راسي نو بيمه يې كمپنۍ اداء كوي د دې انشورنس څه حكم دئ؟ په تفصيل سره جواب راكړي او ثواب لاس ته راوړئ؟

الجواب: د ترډ پارټي د انشورنس په اړه د علماوو اختلاف دئ ځيني علماء يې ناروا ګڼي مثلاً مفتي محمد تقي عثماني وايي چي پر دې ډول انشورنس حرام او ناروا دئ ځكه چي دا پر سود او قمار باندي مشتمل دئ. وګورئ: (فتاوى عثمانی:٣/٣٢٨، و اسلام او جديد معاشی مسائل:٧/ ٢٩٠، او اسلام و جديد معيشت و تجارت:ص ١٦١).

او د ځينو نورو علماوو ميلان د روايښت پر خوا دئ.

وګورئ په جديد فقهي مباحث نومي كتاب كي راځي:

ټكر كه چيري د موټر وان د غلطۍ په سبب راسي او په دې كه چيري د يو چا مرګ راغلی وي نو د شريعت په رڼا كي د قتل خطا ديت د اداء كولو ذمه داري پر موټر وان باندي راځي خو هغه به د ديت دا دومره ډيري پيسې څنګه اداء كوي؟ اسلام پر عاقله (د دغه خاندان پر خلكو) په ديت د اداء كولو كي شريک كړي دي خو په اوس وخت كي خانداني سيستم نه سته نو موټر وان عموماً دا پور نه سي اداء كولای نو اوسنۍ پر مخ تللي نړۍ د ترډ پارټي انشورنس دا چل رواج او ډيره اسانتيا يې رامنځ ته كړه دا انشورنس په حقيقت كي د يو بل سره د كومک كولو يو شكل دئ دا جلا خبره ده چي په دې

کي یو څو تاواني شیان سته خو پر دې بناء باندي دا معامله د لوی ضرورت، پر اساس روا ده چي په دې سره لوی ضرورت پوره کیږي نو ناروا نه سو ورته ویلای، موږ دا نتیجه لاس ته راوړو چي ترډ پارټي موټر انشورنس د دې وخت یو لوی ضرورت او د روا معاملې یو ډول دئ که څه هم په دې معامله کي یو څو داسي ناروا جزونه ور داخل سوي دي چي د هغو ګناه د هغو خلکو پر سر ده چي دا نظام چلوي.

(جدید فتهی مباحث: ٤/ ٣٩٦ -٣٩٧، مرتب قاضی مجاهد الاسلام صاحب قاسمی).

په جدید فقهي مسائل کي دي:

د فقیر (مصنف) دا خیال دئ چي د انشورنس دا صورت په هر هغه وخت کي روا دئ چي په هغه علاقه کي چي د (معاقل) له پاره عملې ډول هیڅ نظام نه وي. د انشورنس په دې صورت کي د سود هیڅ سوال نه پیدا کیږي چي مثلاً بیمه کوونکو ته د واقعې د نه پیښېدلو په صورت کي بیرته هغه پیسې لاس ته نه راځي خو یو خطر سته هغه دا چي که دغه سړي ته څه واقعه پېښه نه سي نو د هغو پیسو چي ده جمعه کړي دي د دې شخصه به ده لاس پرېوللی وي او که واقعه ورپېښه سي تر جمعه کړل سوو پیسو زیات کومک به لاس ته راوړي خو که فکر وکړل سي دا خطر د معاقل په نظام کي هم سته (په ولاء موالات کي هم سته) او په ځینو نورو معاملاتو کي هم سته. اصل خبره دا ده چي د انشورنس دا صورت د احساناتو (تبرعاتو) له جملې شخه دئ او د بیمې قسطو اداء کوونکي د خپلو هم مسلکه (چي یو ډول کسب کوونکو) سره یو احسان کوي او که یو وخت دی په دې مشکل کي کښېوزي نو بیا د ده د ملګرو له خوا له ده سره کومک کیږي. (جدید فقهی مسائل: ٤/ ١٢٠).

د دې معاملې حقیقت دا دئ چي په دې کي د سود اړخ نه سته له دې کبله چي انشورنس کمپنی پیسي نه اداء کوي بلکي د نورو موټران جوړ وي نو دا د خدمت معاوضه ده خو په دې کي غرر (چل) راځي هغه داسي چي کله کله ټکر نه وي خو د یوې خوا اداء کول یقیني وي او د بلي خوا څخه یقیني نه وي، د دې جواب دا دئ چي دا غرر یسیر (کم چل) دئ چي د جنګ لامل نه دئ او د فقهاوو د عبارتونو څخه معلومیږي چي په سوداوو کي کم چل برداشت کیږي او د سودا فاسدوونکي نه وي.

د غرر په اړه د فقهاوو یو څو عبارتونه وګورئ.

د چل څېړنه او د هغه حکم: علماوو د غرر مختلف تعریفونه کړي دي چې د هغو څخه څو په لاندي ډول وګورئ.

علامه سرخسي رحمة الله عليه فرمايي:

الغرر ما يكون مستور العاقبة. (المبسوط:۱۲/ ۱۹٤، ادارة القرآن).

علامه عيني رحمة الله عليه په عمدة القاري کي فرمايي:

وهو في الأصل الخطر، والخطر هو الذي لا يدري أيكون أم لا، وقال ابن عرفة: الغرر هو ما كان ظاهره يغر وباطنه مجهول، قال والغرور ما رأيت له ظاهراً تحبه. وباطنه مكروه أو مجهول، وقال الأزهري: بيع الغرر ما يكون على غير عهدة ولا ثقة، قال صاحب المشارق: بيع الغرر بيع المخاطرة، وهو الجهل بالثمن أو المثمن أو سلامته أو أجله . (عمدة القاري:۸/ ٤۳٥، ملتان).

وقال فى إكمال المعلم: فأما الغرر فما تردد بين السلامة والعطب أوما في معنى ذلك، وذلك أنه يحلق بمعنى إضاعة المال، لأنه قد لايحصل المبيع فيكون بذل ماله باطلاً. (اكمال المعلم:٥/ ۱۳۳، باب بيع الحصاة والبيع الذى فيه الغرر).

وقال ابن العربي فى القبس: فأما الغرر فهو كل أمر خفيت علانيته وانطوى أمره.

(القبس:۲/ ۷۹۲).

وقال ملك العلماء: الغرر هو الخطر الذي استوى فيه طرف الوجود والعدم بمنزلة الشك.

(بدائع الصنائع:٥/ ۱٦۳، سعيد).

علامه کاساني رحمة الله عليه فرمايلي دي: چي غرر د داسي نه يقيني حال نوم دئ چي په هغه کي وجود او عدم دواړه برابر دي او د شک په درجه کي وي.

د غرر په ناروا والي كي ډېر نصوص راغلي دي:

قال العلامة العيني رحمه الله: وقد وردت أحاديث كثيرة في النهي عن بيع الغرر: منها: ما رواه مسلم في صحيحه من حديث أبي هريرة رضي الله عنه قال نهى رسول الله ﷺ عن بيع الحصاة، وعن بيع الغرر، وأخرجه الأربعة أيضاً، ومنها: حديث ابن عمر رضي الله عنهما رواه البيهقي من حديث نافع عنه، قال: نهى رسول الله ﷺ عن بيع الغرر. ومنها حديث ابن عباس رضي الله عنهما أخرجه ابن ماجه من حديث عطاء عنه قال: نهى رسول الله ﷺ عن بيع الغرر، ومنها حديث أبي سعيد أخرجه ابن ماجه أيضاً من حديث شهر بن حوشب عنه قال: نهى رسول الله ﷺ عن شراء ما في بطون الأنعام حتى تضع، وعما في ضروعها إلا بكيل، وعن شراء العبد وهو آبق وعن شراء المغانم حتى تقسم وعن شراء الصدقات حتى تقبض، وعن ضربة القانص . ومنها حديث علي رضي الله عنه أخرجه أبو داود وفيه: قد نهى النبي ﷺ عن بيع المضطر وبيع الغرر .... ومنها: حديث ابن مسعود رضي الله عنه أخرجه أحمد عنه قال: قال رسول الله ﷺ لا تشتروا السمك في الماء فإنه غرر ومنها: حديث عمران بن الحصين رضي الله عنه أخرجه ابن أبي عاصم في كتاب البيوع: أن النبي ﷺ نهى عن بيع ما في ضروع الماشية قبل أن تحلب وعن بيع الجنين في بطون الأنعام وعن بيع السمك في الماء وعن المضامين والملاقيح وحبل الحبلة وعن بيع الغرر. (عمدة القارى:۸/ ٤٣٦، باب بيع الغرر).

د تېرلو بيان سوو نصوصو نتيجه دا سوه چي رسول الله ﷺ د داسي سوداوو څخه منعه فرمايلې ده چي هغو كي غرر وي او تر اسلام مخكي داسي ډېري سوداوي رواج وو چي رسول الله ﷺ د غرر پر بناء باندي منعه فرمايلې وه مثال يې دا دئ:

بيع حبل الحبله ، بيع المضامين، بيع الملاقيح، بيع الملامسه، بيع المنابذه، بيع الحصاة، بيع عسب الفحل، بيع الثمر قبل بدو صلاحه، بيع السمک فی الماء الكثير، بيع الطير فی الهواء، بيع اللبن فی الضرع، بيع ضربة الغائص وغيرها من البياعات التي تتضمن الغرر الفاحش المؤذي إلى النزاع المشكل بين العاقدين.

ډېر وختونه د غرر او جهالت څو لاملونه دي:

۱_ د مبیعې وجود یقیني نه وي لکه تښتېدلی مریی (غلام).

۲_ د مبیعې وجود معلوم وي خو لاس ته راوړل یې یقیني نه وي لکه په فضاء (هوا) مرغان یا په اوبو کي ماهیان.

۳_ د مبیعې جنس معلوم نه وي.

۴_ جنس خو معلوم وي خو د سامان نوعه معلومه نه وي.

۵_ اندازه معلوم نه وي.

۶_ بقاء یقیني نه وي لکه تر ښکاره کېدلو وړاندي مېوه پلورل.

۷_ اجل (وخت) معلوم نه وي.

د غرر ډولونه: د غرر دوه ډولونه دي:

۱_ غرر کثیر (ډېره دوکه).

۲_ غرر یسیر (کمه دوکه).

د فقهاوو او محدثینو عباراتو ته په کتو سره دا نتیجه لاس ته راوړو چي غرر بیع نه باطله وي او نه یې فاسده وي خو زیات غرر مفسد او ممنوع دئ او کم غرر معاف دئ.

وګورئ حضرت شیخ په اوجزء المسالک کي نقل کړی دئ.

وقال الباجي: هو ما كثر فيه الغرر، وغلب عليه حتى صار البيع يوصف ببيع الغرر، فهذا الذي لاخلاف في المنع منه، وأما يسير الغرر، فإنه لايؤثر في فساد عقد بيع فإنه لايكاد يخلو عقد منه. (اوجز المسالک، باب بيع الغرر:۱۳/ ۸۸، دمشق).

علامه عيني رحمه الله فرمايي:

وروى الطبري عن ابن سيرين بإسناد صحيح، قال: لا أعلم ببيع الغرر بأساً، وقال ابن بطال: لعله لم يبلغه النهي، وإلا فكل ما يمكن أن يوجد وأن لا يوجد لم يصح وكذلك إذا كان لا يصح غالباً، فإن كان يصح غالباً كالثمرة في أول بدو صلاحها أو كان يسيراً تبعاً كالحمل مع الحامل جاز لقلة الغرر، ولعل هذا هو الذي أراد ابن سيرين رحمه الله. (عمدة القاری، باب بيع الغرر وحبل الحبلة:۸/ ٤۳۸، ملتان:

په جمهرة القواعده الفقهيه کي راځي:

وهذا النهى الوارد منصب على الغرر الكثير الفاحش إذ اليسير منه معفو عنه باتفاق العلماء إذ هو من قبيل مالايستطاع الاحتراز منه فى المعاملات، فهناک نصوص فقهية كثيرة تطرقت إلى هذا المفهوم. (جمهرة القواعد الفقهية:۱/ ۳۰۹).

په زاد المعاد کي راځي:

.... ليس كل غرر سبباً للتحريم، والغرر إذا كان يسيراً أولا يمكن الاحتراز منه لم يكن مانعاً من صحة العقد. (زاد المعاد:۵/ ۸۲۰، بيع المغيبات).

په الموافقات کي امام شاطبي رحمه الله ليکي:

أصل البيع ضروري، ومنع الغرر والجهالة مكمل، فلو اشترط نفي الغرر جملة لانحسم باب البيع. (الموفقات:۲/ ۷، كتاب المقاصد، المسألة الثالثة، دار الفكر).

وقال الإمام النووي رحمه الله في شرح مسلم: أجمع المسلمون على جواز أشياء فيها غرر حقير. (شرح مسلم:۲/ ۲، كتاب البيوع).

په تکمله د فتح الملهم کي راځي:

فأما الغرر بمعني جهالة المبيع فربما يحتمل إذا كان يسيراً دعت الحاجة إليه، ولم يكن مفضياً إلى المنازعة في العرف،.... قال العبد الضعيف عفا الله عنه: ويخرج على هذا كثير من المسائل في عصرنا، فقد جرت العادة في بعض الفنادق الكبيرة أنهم يضعون أنواعاً من الأطعمة في قدور كبيرة، ويخيرون المشتري في أكل ماشاء بقدر ماشاء، ويأخذون ثمناً واحداً معيناً من كل أحد، فالتياس أن لايجوز البيع الجهالة الأطعمة المبيعة وقدرها، ولكنه يجوز لأن الجهالة يسيرة غير مفضية إلى النزاع، وقد جرى بها العرف والتعامل..... (تكملة افتح الملهم:۱/ ۳۲۰ – وكذا فى جمهرة القواعد الفقهية:۱/ ۳۲۰).

په اکمال المعلم کي راځي:

ولما رأيناهم أجمعوا على جواز المسائل التى عددناها، قلنا: ليس ذلك إلا لأن الغرر فيها نزر يسير غير مقصود، وتدعو الضرورة إلى العفو عنه. (اكمال المعلم شرح صحيح مسلم للقاضى عياض، باب بطلان بيع الحصاة والبيع الذى فيه غرر:۵/ ۱۳٤، دار الوفاء).

په جدید فقهي مسائل نومي کتاب کي راځي:

د غرر دايره ډېره پراخه ده نو ځکه فقهاوو هم د غرر ډېري درجي ټاکلي دي او زياته دو که د معاملي په صحيح کېدلو کي مانع جوړېدلای سي او کم چل مانع نه دئ. (جدید فقهی مسائل:٤/ ۲۰۹).

نتيجه دا سوه چي د علماء کرامو او اختلافاتو ته په کتو سره دانشورنس د هري معاملي څخه ځان ساتل په کار دي. والله تعالیٰ اعلم.

د A.A کمپنۍ حکم

سوال: نن سبا چې زموږ په هیواد کې A.A کمپنۍ ده معنا دا چې یوه کمپنۍ ده چې دا ذمه داري اخلي چې که چیرې ستا موټر په لار کې خراب سي نو ستا دا موټر پورته کولو او جوړولو کې به کومک درسره کوو او د دې په بدل کې به ته هر کال معلومي پیسې اداء کوې نو ایا دا صحیح ده او که نه؟ او دې کمپنۍ ته اجیر (مزدور) خاص یا اجیر مشترک ویلای سي او همداسي د موټر د ساتلو له پاره بله کمپنۍ هم سته که چیرې موټر غلا سي نو هغه کمپنۍ موټر معلوموي او د هغه په بدل کې هم د میاشتي یو څه پیسې اداء کول کیږي نو ایا دا صحیح ده او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې دا سودا صحیح ده له دې کبله چې د پیسو په بدل کې ده ته خدمت ورکول کیږي خو دا نیوکه کیږي چې ډېر وختونه داسي وي چې دا موټر نه سي خراب او د جوړولو موقعه هم رانه سي بیا به هم کمپنۍ د مزدورۍ حق لري که نه نو که دا کمپنۍ اجیر خاص وي نو د مزدورۍ حق به لري او که د نورو خلکو کار هم کوي نو دا به دا اجیر مشترک په حکم کې وي.

الجواب: د دې جواب دا دئ چې دا کمپنیاني نه خو بلکل دا اجیر خاص په حکم کې دي او نه بلکل دا اجیر مشترک په حکم کې دي بلکي په منځ کې دي نو ځکه اجیر خاص ته په کتلو سره به د اجرت حق لري او د نورو د کار کولو له کبله به دا اجیر مشترک په حکم کې وي.

د دې مثال په فتح المعین کې وګورئ.

والحاصل أن المسائل في الظئر تعارضت فمنها ما يدل على أنها في معنى أجير الوحد كقولهم لاضمان عليها اذا ضاع الصبى من يدها او سرق ما عليه، ومنها ما يدل على أنها في معنى المشترك كقولهم إنها تستحق الأجر على الفريقين إذا أجرت نفسها لهما، قال الإتقاني: والصحيح أنه إن دفع الولد إليها لترضعه فهي أجير مشترك وإن حملها إلى منزله فهي أجير وحد وقال فى العناية: وذكر فى الذخيرة ما يدل على أنها يجوز أن تكون خاصاً ومشتركاً حتى لو أجرت نفسها لغيره استحقت الأجر على الفريقين كاملاً عملاً بشبه الأجير

المشترک وتأثم نظراً إلى أن لها شبهاً بالأجير الخاص. (فتح المعين:۳/ ۲٥٤ – وكذا فى فتاوى الشامي:٦/ ۷۱، سعيد).

أقول: ويرتفع الإثم إذا كان الإذن بالعمل للغير. والله تعالى اعلم.

د يوې كمپنۍ سره د انشورنس كولو حكم

سوال: ديوه سامان نقل كونكي (وړونكي) كمپنۍ پر معلوم اندازه پيسو په بدل كي سامان نقلوي مثلا پنځوس افغانۍ او د دغه منتقل سوي سامان باندي د هغه زيات پيسو په عوض كي (مثلا لس په سلو كي) انشورنس زيات كوي ممكنه ده چي دا كمپنۍ ديوې بلي كمپنۍ څخه انشورنس لاس ته راوړى وي او كوم شى چي نقليږي هغه ډېر ګران هم دئ، مثلاً ليپ ټاپ كمپيوټر او داسي نور نو ايا داسي انشورنس كول صحيح دئ او كه نه؟

الجواب: په انشورنس كي دوه ډوله تاوانونه مخ ته راځي. (۱) سود. (۲) قمار او دا دواړه حرام دي نو ځكه انشورنس هم حرام دئ او په نوموړي صورت كي په كمپنۍ سره د سامان د نقل كونكي سره انشورنس كول هم ناروا دئ كه سامان نقل كونكي كمپنۍ په خپل انشورنس كوي او يا يې ديوې كمپنۍ بلي څخه انشورنس لاس ته راوړى وي ځكه په دې صورت كي ګواكي دا د سامان وړونكي له طرفه نمائندګي كوي هغې كمپنۍ تر لاس لاندي ده او اصل سودا (عقد) د سامان د نقل كونكي او انشورنس كمپنۍ په منځ كي وسو پر دې اساس د داسي كمپنۍ څخه ځان ژغورل ضروري دي.

وګورئ په احكام القرآن كي دي:

لا خلاف بين أهل العلم في تحريم القمار وأن المخاطرة من القمار قال ابن عباس رضي الله عنهما: إن المخاطرة قمار وإن أهل الجاهلية كانوا يخاطرون على المال والزوجة وقد كان ذلك مباحا إلى أن ورد تحريمه. (احكام القرآن:۱/ ۳۲۹، باب تحريم الميسر، وكذا فى احكام القرآن للتهانوى:۱/ ۳۹۳).

په فتاوی شامي کي راځي:

وسمي القمار قماراً لأن كل واحد من المقامرين ممن يجوز أن يذهب ماله إلى صاحبه، ويجوز أن يستفيد مال صاحبه، وهو حرام بالنص . (رد المحتار:٦/ ٤٠٣، كتاب الحظر والاباحة، سعيد).

همداسي ليکلي دي:

الربا هو فضل خال عن عوض بمعيار شرعی شرط لأحد المتعاقدين فی المعاوضة.(فتاوی الشامی:٥/ ١٦٨، سعيد).

په فتاوی محموديه کي راځي:

په بيمه کولو کي سود هم سته او قمار هم سته او دا دواړه شيان ناروا دي او بيمه هم ناروا ده. (فتاوی محموديه:١٦/ ٣٨٧، جامعه فاروقيه).

البته د ميډيکل ايډ رخصت دئ ځکه چي په هغه کي پيسې اينبودل کيږي او د هغو په بدل کي پيسې لاس ته نه راځي، البته علاج لاس ته راځي او په وړاندي بيان سوي صورت کي د پيسو په بدل کي پيسې لاس ته راځي. والله ﷻ اعلم.

د انشورنس کمپنۍ د نمائنده جوړېدلو حکم

سوال: زيد د څو کمپنو له خوا څخه انشورنس نمائنده او هغه کمپنۍ اوږد مهاله يا لنډ مهاله د انشورنس کار کوي او دا ښکاره خبره ده چي د ګراک راوستلو په صورت کي ده ته کمپنياني تنخوا ورکوي او د انشورنس کمپنياني اکثره سودي کار وبار کوي نو ايا د داسي کمپنيو مزدوري کول صحيح دي او که نه؟ او د هغو د تنخوا اخيستلو څه حکم دئ؟

الجواب: نن سبا د انشورنس زياتي کمپنۍ د سود او قمار کار وبار کوي نو ځکه د سودي کمپنۍ مزدوري روا نه دئ او د سودي کمپنۍ له طرفه لاس ته راوړل سوي تنخوا هم ناروا ده او د دې څخه ځان ساتل ضروري دئ خو چي د کومي کمپنۍ زيات کار وبار حلال وي نو په هغه کي د برخي اخيستلو ګنجائش سته.

وګورئ په قرآن کريم کي دي:

۱_ قال الله تعالى : ﴿ وأحل الله البيع وحرم الربا ﴾. (سورة البقرة:۲۷۵).

۲_ قال الله تعالي: ﴿ يا أيها الذين آمنوا اتقوا الله وذروا ما بقي من الربا إن كنتم مؤمنين ﴾.

(سورة البقرة:۲۷۸).

۳_ وقال تعالى: ﴿ ولا تعاونوا على الإثم والعدوان ﴾ . (سورة المائدة:۲).

عن جابر رضي الله عنه قال: لعن رسول الله ﷺ: آكل الربا وموكله، وكاتبه وشاهده وقال هم سواء. (وراه مسلم:۲/ ۲۸، باب الربا، قديمى).

په جديد فقهي مسائل کي راځي:

انشورنس په حقيقت کي د سود او قمار څخه خالي نه دئ نو ځکه مسلمان له پاره د انشورنس کمپنۍ مزدوري کول هم روا نه دي او هغه د معاش (دژوند کولو) ذريعه جوړول هم روا نه دي. (جديد فقهى مسائل:۱/ ۴۳۸). والله تعالى اعلم.

د ډاکټر له پاره د انشورنس کولو حکم

سوال: **ايا ډاکټر له پاره دا روا ده چي هغه د ډاکټرۍ انشورنس وکي معنا دا چي دی له دې کبله انشورنس کوي چي که چيري له ده څخه په عملياتو کي څه خطا وسي يا په علاج يا داسي نورو کي د خطا وتلو له کبله مريض ته څه تاوان ورسيږي او د هغه ختمول د انشورنس کمپنۍ په کومک سره وکي ځکه چي مسلمان مريض خو خپله ګټه او تاوان د خدای ﷻ له لوري ګڼي او د تاوان غوښتلو دعوه نه کوي خو کافر چي پر خدای ﷻ او تقدير باور نه لري او که داسي خطاء رامنځ ته سي دی دعوه کوي او ډېر پيسې لاس ته راوړي نو ايا د داسي مشکل له منځه وړلو له پاره ډاکټر انشورنس کولای سي او که نه؟**

الجواب: **په عام ډول باندي په انشورنس کي د پيسو په بدل کي پيسې لاس ته راځي او انشورنس کمپنۍ کله ناکله زياتي پيسې هم ورکوي نو دا ښکاره سود دئ چي حرام او ناروا دئ نو ځکه داسي**

انشورنس څخه ځان ساتل یو مسلمان ته د ده د مسلماني په سبب ضروري دي، البته که چیري انشورنس کمپنۍ پیسې اداء نه کړي خو د دې پیسو په عوض کي د مریض د تاوان ختمول په یو بل لوي روغتون کي دیوه ده تجربه کار او ماهر ډاکټر په کومک سره وکي نو د دې ګنجائش سته. والله تعالیٰ اعلم.

د پراویډنټ د فنډ حکم

سوال: د دولتي مزدورانو د تنخواوو څخه دیوه خاص ترتیب سره د میاشتی یوه څه حصه پیسې اینبودل کیږي او دا حکومت په ظلم سره کوي او د مزدورانو په دې کي هیڅ اختیار نه وي بیا د مزدوري تر ختمېدلو ووسته د نورو زیاتو پیسو سره بیرته ورکول کیږي نو د دا ډول پیسو اخیستل او کارول د شریعت له مخي روا دي او که نه؟

الجواب: په دې پوښتل سوي صورت کي د پروېډنټ پنډ (هغه پاته پیسې سره له زیادت پیسو) د پیسو اخیستل او هغه کارول روا دي ځکه د تنخوا له پیسو څخه چي یې حکومت ایږدي هغه د استحقاق په شکل کي راغلي او هغه د مزدور په ملکیت کي لا نه دي راغلي نو ځکه حکومت چي پر دې پیسو سود ورکوي هغه سود نه دئ ځکه چي سود خو پر خپل مملوکه پیسو د مشروط زیادت سره وي حال دا چي دا پیسې مملوک نه دي.

وګورئ په کفایت المفتي کي راځي:

پراویډنټ فنډ (د مزدور پر پیسو چي .....) چي کومي پیسې د حکومت له خوا ورکول کیږي همداسي د دوارو پر مجموعې د سود نوم اینبول کیږي او دا ټولي پیسې روا دي، دا په شریعت کي سود نه دئ که څه هم محکمه یې په سود سره نوموي. (کفایت المفتی:۸/ ۹۷).

په فتاوی عثماني کي راځي:

د جبري پراویډنټ فنډ پر پیسو چي کومي پیسې د محکمو له خو ورکول کیږي هغه په شریعت کي سود نه دئ نو ځکه د هغو لاس ته راوړل روا دي. (فتاوی عثمانی:۳/ ۳۰۷).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

دا سلسله حکومت خپل قانون ته په کتو سره جاري کړې ده چي د هغه هدف د مزدور ګټه غوښتل دي تر هغه مهاله چي مزدور قبضه نه وي پر کړې نو دا د مزدور ملکیت نه دئ نو ځکه ده ته چي کوم زیادت ورکول کیږي هغه سود نه دئ. (فتاوى محموديه:١٦/ ٣٩٤، جامعه فاروقيه).

په جدید احکامات شرعي احکام نومي کتاب کي راځي:

حکومت د دولتي کار کوونکو د تنخوا څخه هره میاشت یو څه پیسې د زور له لاري ایږدي چي هغه ته (جی پی فنډ) ویل کیږي د مزدوری په پای کي (ریټائرمنټ) باندي حکومت هغه ټولي جمعه سوي پیسې مزدور ته او د ده د مرګ په صورت کي د ده وارثانو ته ورکوي په دې کي د سود په نامه یو څه زیاتي پسې هم ورګډوي اوس دغه زیاتي پیسې په شریعت کي څه حکم لري؟

د دې جواب دا دئ چي دا زیاتي پیسې په شریعت کي سود نه دئ ځکه سود خو د دوو انسانانو په منځ کي د سودا په سبب راځي چي د دواړو خواوو څخه مال وي او د هغو ملکیت وي په بیان سوې مسئله کي خو د مزدور د لخوا څخه چي کومي پیسې اینبول کیږي هغه د مزدور ملکیت نه دئ ځکه د مزدور په ملکیت کي راتللو له پاره د هغه قبضه ضروري ده او هغه دلته نه سته.

قال العلامة ابن نجيم رحمه الله: قوله بل بالتعجيل أو بشرطه أو بالاستيفاء أو بالتمكن أي لايملك الأجرة إلا بواحد من هذه الأربعة. (البحر الرائق:٧/ ٣٠٠).

څنګه چي پر دغو پیسو د مزدور یا د هغه وکیل قبضه نه ده کړې نو ځکه مزدور د دغو پیسو مالک نه دئ او په دې پیسو کي د مزدور تصرفات نه نافذیږي اوس حکومت پر هغه اصلي پیسو یا د سود پر پیسو زیاتي پیسې نو هر څه چي اداء کوي دا ټول د مزدورۍ حصه ده چي حکومت یې له (موجلا) ځنډه وروسته پر یوه ځای اداء کوي نو مفتي محمد شفیع صاحب داسي فرمایي:

جبري پراو ډنډنټ فنډ باندي چي د سود په نامه کومي پیسې لاس ته راځي هغه په شریعت کي سود نه دئ، البته د تنخوا یو حصه ده. (جدی معاملات کی شرعی احکام: ۱۶۹/۱، بحواله اوبډنټ فنډ پر زکات اور سود کا مسئله: ص ۴).

په آپ کي مسائل اور ان کا حل نومي کتاب کي راځي:

پر او ډنډنټ فنډ باندي چي کومي زياتي پيسې د محکمې له خوا ورکول کيږي د دې اخيستل روا دي. (آپ کی مسائل اور ان کا حل:٦/ ٢١٢).

د زيات تفصيل له پاره ګورئ: (منتخبات نظام الفتاوی: ٢٠٨/١ - واحسن الفتاوی: ٥٠/٧ - او جدید فقهی مسائل: ٢٤٩/١ - او جدید فقهی مباحث: ٢٩٠/٦ - ورساله (پراوډنډنټ پر زکوة اور سود کا مسئله، از حضرت مفتي محمد شفيع صاحب). والله ﷻ اعلم.

د اختياري پرا ويډنټ فنډ حکم

سوال: يو سړی د يوې کمپنۍ مزدور دئ او په دې کمپنۍ کي د ده تنخوا دوه زره افغانۍ ده، البته هره مياشت د دې څخه دوه سوه افغانۍ کاټيږي او دا کاټيدل د ده په خوښه کيږي بيا کمپنۍ د دې سره زياتي سل افغانۍ نوري ګډوي او د مزدورۍ وپای ته تر رسيدو وروسته دی ټولي پيسې لاس ته راوړي نو ايا دا پيسې اخيستل روا دي او که نه؟

الجواب: ډېرو زياتو علماوو دواړه ډوله پر اويډنټ فنډ يو حکم فرمايلی دئ خو په خپل اختيار د کاټولو په صورت کي د سود سره مشابهت (ورته والي) پيدا کيږي نو د دې څخه پرهېز کول ښه دي له دې کبله چي د سود د خوړلو لامل جوړ نه سي.

وګورئ حضرت مفتي محمد شفيع صاحب وايي:

خو که پر اويډنټ فنډ کي پيسې که په خپل اختيار سره کاټ سي نو په دې کي تشبه بالربا (د سود سره ورته والی) او د سود د لامل جوړولو خطر سته نو ځکه د دې څخه دي پرهېز وکړل سي. (پراو ډنډنټ پر زکوة اور سود کا مسئله: ص٤).

په جديد معاملات کي شرعي احکام نومي کتاب کي راځي:

کوم مزدور که بېله ظلمه او زوره په خپلي خوښي سره يو څه پيسې جی پی فنډ کي کاټ کي او بيا د مزدورۍ په پای ته رسيدو سره هغه خپلي اصلي پيسې سره د سودي زيادت پيسو لاس ته راوړي نو د دې حکم دا دئ چي اصلي پيسې خو حلالي دي او پر دې باندي د حکومت له خوا چي کومي زياتي پيسې ورکول کيږي په هغو کي تشبه بالربا سته او په راتلونکي وخت کي د سود

ولاس ته دراوړلو لامل جوړولو خطر هم سته، نو ځکه د دې څخه دې پرهېز وسي. (جديد معاملات کې شرعی احکام: ۱/ ۱۷۰ په حواله پرا ډنډنټ فنډ پر زکوة اور سود کا مسئله).

په فتاوی عثماني کې راځي:

د زور او خوښي د دواړو فنډو حکم هم دا دئ خو چې په خوښي سره د کوم کاټ سوي پیسو لاس ته راوړل سوي زیادت پیسې دي که احتیاطًا خیرات کړل سي نو ښه خبره ده. (فتاوی عثمانی: ۳/ ۳۰۸).

ځینو علماوو هغه زیاتو پیسو ته د سود د حکم په ورکولو سره ناروا فرمایلي دي.

وګورئ په آپ کې مسائل اور کا حل کې راځي:

او که یې مزدور خپله کاټوي نو پر دې باندي ګټه اخیستل روا نه ده او سود دئ. (آپ کی مسائل اور ان کا حل: ٦/ ٢٢٥، وامداد الاحکام: ٣/ ٤٧٢، وفتاوی حقانیه: ٦/ ٢١٣). والله تعالیٰ اعلم.

د پنشن فنډ حکم

سوال: دولتي کار کوونکو ته د نوکرۍ وپای ته د رسېدو پر وخت او تر نوکرۍ وروسته د تنخوا په ډول د نیمي تنخوا پر برابر پیسې ورکول کیږي د شریعت په رڼا کې د دې اخیستل روا دي او که نه؟ ا

الجواب: پنشن یعني دا پیسې د حکومت له خوا څخه یوازې یوه ډالۍ او یو ډول کومک دئ نو ځکه د دې اخیستل روا او صحیح دي.

وګورئ حضرت مفتي کفایت الله صاحب فرمایي:

پنشن چې نوکر ته تر نوکرې وروسته ورکول کیږي روا دئ. (کفایت المفتی: ٨/ ٩٧).

په فتاوی محمودیه کې راځي:

په ځینو محکمو کې د نوکرۍ وپای ته د رسېدلو په وخت کې د ښه کار کولو له کبله فنشن ورکول کیږي دې ته هم سود نه سي ویل کېدلای. (فتاوی محمودیه: ١٦/ ٣٩٤، جامعه فاروقیه).

په آپ کې مسائل اور ان کا حل نومي کتاب کې راځي:

د پنشن حیثیت د یوه لحاظه د ډالۍ دئ نو ځکه چې کومه معامله د نوکر او حکومت په منځ کې وسي صحیح ده او دا سود او قمار نه دئ. (آپ کی مسائل اور ان کا حل: ٨/ ٢٩٤). والله تعالیٰ اعلم.

د ربټائر منټ پالیسۍ حکم

سوال: مړي په خپل ژوند کي په خپل خوښي سره لائف انشورنس او رټائرمنټ پالیسي د خپلي بي بي پر نامه کړله اوس تر مرګ وروسته انشورنس کمپنۍ د ده بي بي ته ډېري پیسې او میاشتنۍ ډالۍ هم ورکوي ایا دا معامله روا ده او که نه؟

الجواب: لائف انشورنس او ټائر منټ پالیسي چي په هغه کي د پیسو په بدل کي پیسې لاس ته راځي او زیادت پیسې هم لاس ته راځي دا سودي معامله ده او ناروا ده د دې څخه ځان ساتل ضروري دي خو که خطاء وزي یا د ناپوهۍ یا فسق په سبب یو چا داسي عقد وکئ نو د ورکولو سوو پیسو څخه زیاتي پیسې دي د ثواب د نیت پر ته خیرات کړل سي او بیا دي دغه اداء کړل سوي پیسې د مړي تر مرګ وروسته د ده پر ټولو وارثانو په شرعي ډول ووېشتل سي او هغه میاشتنی فنشن د احسان په حکم دئ او د هغه ګنجائش سته.

په جدید معاشي مسائل کي راځي:

دژوند په بیمه کي درې داسي شیان دي چي د هغو په سبب حراموالی راځي:

۱ _ په دې کي پر ورکړل سوو پیسو باندي د سود پر ډول زیاتي پیسې لاس تـه راځي نو ځکه حقیقتاً په سود کي داخل دي.

۲ _ دژوند بیمه د خپل شکل او صورت په لحاظ سره سود او قمار دئ ځکه چي د بیمه غوښتنکي به څه وخت مرګ راځي او څومره زیاتي پیسې به ورکول کیږي او کـه د څـه مجبورۍ پـه سبب د پیسو جمعه کولو سلسله بنده سي نو هغه مخکي جمع کړل سوي پیسې به ټولي وسوځل سي او دا ټول شیان از قبیل تعلیق الملک علی الخطر دئ چي هغو ته په شریعت کي قمار ویل کیږي.

۳ _ د انسان روح او اندامونه د اشیاء متقومه وو څخه نه دي او د شي غیر متقوم څه بدل نه وي خو که بیا هم د هغه یو بدل مقرر کړل سي نو هغه بدل نه دئ بلکي دا صورت رشوت دئ او رشوت هـم د حدیث په حکم سره حرام او د عذاب لامل دئ نو د دې لاملونو د حرمت پـه سبب دژوند بیمه قطعًا ناروا او حرامه ده او د دې له پاره په اسلامي شریعت کي د روا والي څه وجه نه سته. (جدید معاشی مسائل :صـ ۹۳، بحوالـه امـداد الفتـاوی:۳/ ۱۶۱، فتـاوی رحیمیـه:۲/ ۲۰۰، فتـاوی محمودیـه:۶/ ۳۰۸،

کفایت المفتی:۸/ ۷٦، آپ کے مسائل اور ان کا حل:٦/ ۲۵۵، جدید فقهی مسائل:۱/ ۲٦۰، نظام الفتاوی:۱/ ۱۹۲).

په مجموعه قوانین اسلامي کي راځي:

پراویډنټ فنډ، لائف انشورنس، کوآپریټیو، سوسائټي په مثل معاملو کي د هغو د قوانینو پر برابر که چیري یو چا د خپلو پیسو له پاره یو څوک ونوماوه خو هغه نومول سوي کس که وارث وي یا غیره وارث وي د ده حیثیت نه وموصي له دئ او نه د موهوب له بلکي یوازي د امین حیثیت لري نو هغه د نامزد کوونکي سړي پیسې چي ده جمعه کړي دي او هغه ایښول سوي پیسې به د ده تر مرګ وروسته به د شرعي برخو پر برابر د ده پر وارثانو وېشل کیږي او هغه د سود پیسې به د ثواب د نیت پرته پر بېوزلانو وېشل کیږي همداسي د نامزد کوونکي سړي د روح یا مال د ضایع کېدلو په صورت کي به پیسې د ده پر وارثانو د شرعي برخو پر برابر وېشل کیږي. (مجموعة قوانین اسلامی مرتب مولانا قاضي مجاهد الاسلام صاحب قاسمي:ص ۲۵۵، دفعه ۱۰). والله تعالی اعلم.

د تعلیمي پالیسۍ حکم

سوال: مرحوم د خپل زوی د تعلیم له پاره د انشورنس ترتیب جوړ کړئ د میاشتي هغه معلومي پیسې انشورنس کمپنۍ ته ورکوي چي کله یې د زوی عمر پنځه ویشتو کالو ته ورسیږي نو دي به ډېري پیسې د کمپنۍ څخه لاس ته راوړي نو ایا د دې ډېرو پیسو اخیستل او دا تعلیمي فیس او داسي نور اداء کول به روا وي او که نه؟

الجواب: په تعلیمي انشورنس کي هم د پیسو په بدل کي د پیسو سره زیاتوب لاس ته راځي نو ځکه دا سودي معامله ده او دا ناروا ده یوازي اداء کړل سوي پیسې اخیستل او کارول روا دي او هغه نوري زیاتي سودي پیسې د ثواب له نیته پرته دي خیرات کړل سي. والله تعالی اعلم.

د امدادي فنډ حکم

سوال: زموږ په سیمه کي په ښځو کي دا چل رواج دئ چي پنځوس ښځې دوه سوه روپۍ پر نفر یوې ښځي ته ورکوي او بیا هره میاشت قرعه اندازي (پرچه سره اچوي) له هم دې کبله دا ټولي پیسې یوه ښځه لاس ته راوړي او بیا بله میاشت بلي ته داسي او هري یوې ته ورکول کیږي یوه هم

محرومه (بې برخي) نه پاتيږي په دې كي سود هم نه سته بلكي څومره پيسې چي يې اخيستي وي هغومره په راتلونكي وخت كي جمعه كوي نو ايا دا صورت د شريعت له نظره صحيح دئ او كه نه؟
الجواب: په دې صورت كي يوازي روا نه بلكي ښه هم دئ د دې حيثيت يوه بلي ته د قرض وركولو دئ او مالي كومك دئ چي د چانوم تر ټولو مخكي راسي ګواكي هغې ته نورو ښځو قرض وركړئ او كومك يې ورسره وكي. په خپل منځ كي يو بل سره د كومك كولو په اړه په قرآن كريم او احاديثو كي بې حسابه فضائل راغلي دي د نمونې پر ډول يو څو لاندي ليكل سوي دي:

﴿ وتعاونوا على البر والتقوى ﴾. (سورة المائدة، الآية:٢).

قال الإمام القرطبي رحمه الله: وهو أمر لجميع الخلق بالتعاون على البر والتقوى ؛ أي ليعن بعضكم بعضاً .... وقال المساوردي رحمه الله: ندب الله سبحانه إلى التعاون بالبر وقرنه بالتقوى له ؛ لأن في التقوى رضا الله تعالى ، وفي البر رضا الناس ، ومن جمع بين رضا الله تعالى ورضا الناس فقد تمت سعادته وعمت نعمته....والتعاون على البز والتقوى يكون بوجوه ؛ فواجب على العالم أن يعين الناس بعلمه فيعلمهم ، ويعينهم الغني بماله ، والشجاع بشجاعته في سبيل الله ، وأن يكون المسلمون متظاهرين كاليد الواحدة « المؤمنون تتكافأ دماؤهم ويسعى بذمتهم أدناهم وهم يد على من سواهم ». (الجامع لاحكام القرآن:٦/ ٣٣).

وقال ابن كثير رحمه الله: يأمر تعالى عباده المؤمنين بالمعاونة على فعل الخيرات، وهو البر، وترك المنكرات وهو التقوى.... عن أنس رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: « انصر أخاك ظالماً أو مظلوماً» قيل: يا رسول الله هذا نصرته مظلوماً، فكيف انصره ظالماً؟ قال: «تمنعه من الظلم فذاك نصرك إياه». (تفسير ابن كثير:٢/ ٧).

حضرت مفتي محمد شفيع صاحب وايي:

قرآن کریم د يو داسي بنيادي مسئلي په اړه داسي حکيمانه فيصله کړې ده چي د ټول عالم د نظام له پاره د روح شکل لري او چي پر هغه د انسان هره کاميابي او خلاصون بلکي خپله د ده ژوند او پاته کېدل ورسره تړلي دي او هغه مسئله د يو بل سره کومک کول دي، د دې دنيا ټول نظام د انسانانو د يو بل سره پر کومک کولو باندي ولاړ دئ که چيري يو انسان د بل انسان کومک ونه کړي نو يوازي يو انسان که هر څومره هوښيار يا څومره زور واکی يا مالداروي د خپل ژوند ضرورتونه يوازي لاس ته نه سي راوړلای. (معارف القرآن:٣/ ٢٠).

قال الله تعالى: ﴿ وافعلوا الخير لعلكم تفلحون ﴾. (سورة الحج، الآية:٧٧).

وعن ابن عمر رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال: المسلم أخو المسلم لا يظلمه ولا يسلمه، من كان في حاجة أخيه كان الله في حاجته، ومن فرج عن مسلم كربة فرج الله عنه بها كربة من كرب يوم القيامة، ومن ستر مسلماً ستره الله يوم القيامة، متفق عليه.

وعن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: « من نفس عن مؤمن كربة من كرب الدنيا، نفس الله عنه كربة من كرب يوم القيامة، ومن يسر على معسر يسر الله عليه في الدنيا والآخرة، ومن ستر مسلماً ستره الله في الدنيا والآخرة، والله في عون العبد ما كان العبد في عون أخيه....(رياض الصالحين:١/ ٦٠٥، باب قضاء حوائج المسلمين، دار السلام).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

يو څو کسان يو ځای هره مياشت څه معلومي پيسې جمعه کړي او بيا قرعه اندازي (پچه سره واچوي) چي په شريکانو کي د يو چا نوم را ووزي هغه ته ورکول سي داسي پر وار هر يوه ته ټولي پيسې يو ځای يوه ته ورکول سي مثلاً لس کسان لس لس زره روپۍ په مياشت کي په دې شکل ورکړي او هره مياشت يوه ته يو لک روپۍ ورکول سي دا صورت روا دئ او د دې حيثيت د قرض دئ معنا دا چي د چا نوم اول وار را ووزي ګواکي دغو نورو انډيوالانو ده ته (٩٠٠٠٠) زر قرض ورکړئ دا

صورت نه یوازي روا بلکي ښه دئ او په دې شکل هر یو تریوه ځایه یو کار جوړولای سي. (کتاب الفتاوی: ۵/ ۳۴۳). والله ﷻ اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ يا أيها الذين آمنوا إنما الخمر والميسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشيطان فاجتنبوه لعلكم تفلحون ﴾. (المائدة، الآية: ۹۰).

وعن عبد الله بن عمرو رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: « إن الله حرم على أمتي الخمر والميسر ».

(مسند احمد وسنن ابی داؤد).

څلورم...... باب

د قمار او رشوت احکام

د اسانو زغلولو د بازۍ حکم

سوال: مفتیان حضرات او علماوو په دې لاندي مسئله کي څه فرمايي، چي یو سړی دئ چي د آس زغلولو مقابله کوي او ده څو ځله په مقابله کي انعام لاس ته راوړی وي او د انعام د پیسو په وسیله یې یو دوکان (چي په هغه کي د خوړلو او چیښلو شیان او داسي نور پلوري) جوړ کئ د دې څه پرته د دې پیسو په واسطه یو دوکان بل جوړول غواړي د پوښتني وړ خبره دا ده چي ایا د دې سړي د آس زغلولو مقابله کول او انعام لاس ته راوړل صحیح دي او که نه؟ که د ده راوړل سوې ګټه حلاله نه وي نو بیا د دې دوکان څخه رانیول او پلورل به صحیح وي او که نه؟

الجواب: د آس زغلولو په مقابله کي د کامیابۍ او ناکامۍ بازي لګول او د دواړو خواوو څخه د پیسو شرط لګول او بیا انعام لاس ته راوړل ناروا او حرام دئ او دا قمار دئ او په قرآن کریم کي د دې ممانعت راغلی دئ او په د دې حرامو پیسو دوکان جوړول حرام او ناروا دئ او د داسي دوکانو څخه

رانیول یا پر پلورلو څخه ځان ساتل په کار دي خو که د دواړو خوا وو څخه یوه سړي د خوا څخه ر انعام شرط وي او د بلي خوا څخه د انعام شرط نه وي نو دا روا ده همداسي که د مقابله کونکو له دواړو طرفونو څخه پرته یو دریم کس انعام ورکړي د هغه اخیستل هم روا دي.

وګورئ په قرآن کریم کي دي:

﴿ یا أیها الذین آمنوا إنما الخمر والمیسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشیطان فاجتنبوه لعلکم تفلحون ﴾. (المائدة، الآیة:۹۰).

فقهیه ابو اللیث سمرقندي رحمه الله د مسیر په تفسیر کي لیکي:

وقال عطاء ومجاهد: المیسر القمار کله حتی لعب الصبیان بالجوز والکعاب. (تفسیر السمرقندی:۱/ ۲۰۳).

التعریفات الفقهیه کي راځي:

القمار مصدر قامر هو کل لعب یشترط فیه غالباً أن یأخذ الغالب شیئاً من المغلوب، وأصله أن یأخذ الواحد من صاحبه شیئاً فشیئاً فی اللعب ثم عرفوه بأنه تعلیق الملک علی الخطر والمال فی الجانبین. (التعریفات الفقهیة، ص ۱۷۷، وجواهر الفقه:۲/ ۲۲۷، وامداد الفتاوی:۳/ ۱٦۱).

په فتاوی شامي کي راځي:

وسمي القمار قماراً لأن کل واحد من المقامرین ممن یجوز أن یذهب ماله إلی صاحبه، ویجوز أن یستفید مال صاحبه، وهو حرام بالنص. (ردالمحتار:٦/ ٤۰۳، کتاب الحظر والاباحة، سعید).

په فتاوی هنديه کي راځي:

(والمسابقة) بالفرس والإبل والأرجل والرمي جائزة ، وحرم شرط الجعل من الجانبين لا من أحد الجانبين ، ومعنى شرط الجعل من الجانبين أن يقول : إن سبق فرسك فلك علي كذا ، وإن سبق فرسي فلي عليك كذا وهو قمار فلا يجوز ، وإذا شرط من جانبٍ واحدٍ بأن يقول : إن سبقتني فلك علي كذا ، وإن سبقتك فلا شيء لي عليك جاز استحسانًا . (الفتاوى الهندية:٦/ ٤٤٥، مسائل شتى).

په البحر الرائق کي راځي:

قال رحمه الله(والمسابقة بالفرس....جائزه وحرم شرط الجعل من الجانبين لا من أحد الجانبين، لما روى ابن عمر رضي الله عنه أن النبي ﷺ سبق بالخيل وراهن، ومعنى شرط الجعل من الجانبين أن يقول إن سبق فرسك فلك علي كذا ، وإن سبق فرسي فلي عليك كذا، وهو قمار فلا يجوز ؛ لأن القمار من قمر الذي يزاد تارةً وينقص أخرى، وسمي القمار قمارًا ؛ لأن كل واحدٍ من القمارين ممن يجوز أن يذهب ماله إلى صاحبه ويجوز أن يستفيد مال صاحبه فيجوز الازدياد والنقصان في كل واحدةٍ منهما فصار ذلك قمارًا وهو حرام بالنص .(تكملة البحر الرائق:٨/ ٤٨٦، مسائل شتى، كوئته).

وللاستزادة انظر: (رد المحتار على الدر المختار:٦/ ٧٥٢، سعيد – وتبيين الحقائق: والجوهرة النيرة).

په اسلامي فقه کي راځي:

لکه څنګه چي د سود هر ډول کار وبار حرام دئ همدا ډول خمار هم هر ډول حرام دئ که په بازيو سره وي يا د شرط په ايښودلو سره وي يا په اتفاقي ډول کومه فائده واخيستل سي په اسلام کي دا ټول روا نه دي په قرآن او حديث کي خمار حرام بلل سوی دئ. والله ﷻ اعلم.

دآسانو زغللو په لوبه كي د محلل حكم

سوال: كه چيري دآسانو زغلولو په لوبه كي دا شرط ولګول سي چي څوک مخته سي هغه ته به دوهم نفر لس افغانۍ وركوي نو دا صورت ناروا دئ . د حديث شريف څخه معلوميږي چي په دې كي د محلل د داخلېدو څخه د شرط لګول روا كيږي او د دې محلل (روا والي پيدا كوونكي) څه صورت دئ؟

الجواب: دآسانو په زغلولو كي د محلل د داخلېدو روايښت پيدا كېدلو دوه صورتونه دي:

۱_ صورت دا دئ چي زيد او عمر محلل ته ووايي كه چيري ته بازي وګټې نو هغه زموږ تاكل سوي پيسې به تا ته دركول كيږي او كه تاسو ناكامه سولاست نو تاسي به بازي ګټونكي ته هيڅ شى هم نه روكوئ بلكي ګټونكي به له هغه خپل مقابل لوري څخه تاكل سوي پيسې اخلي د دې صورت څخه څلور شكلونه لاس ته راځي:

۲_ كه چيري محلل بريالى سو نو ده ته به شل زره روپۍ وركول كيږي.

۳_ كه چيري د زيد او عمر څخه يو بريالى سو نو هغه ته به د هغه بل لس زره وركول كيږي او محلل ته به هيڅ نه وركول كيږي.

۴_ كه زيد او عمر په برياليتوب كي برابر وي نو په دې كي اختلاف دئ د علامه شامي رحمة الله عليه په آند محلل ته هيڅ نه وركول كيږي او هغه نورو ته به هغه تاكل سوي پيسې (لس زره روپۍ) وركول كيږي او د ملا علي قاري رحمة الله عليه په آند د محلل او هغه دوهم ګټونكي په منځ كي به دا پيسې وېشل كيږي.

وګورئ په تبيين الحقائق كي راځي:

وصورة إدخال المحلل أن يقولا للثالث إن سبقتنا فالمالان لك ، وإن سبقناك فلا شيء لنا عليك ولكن الشرط الذي شرطاه بينهما ، وهو أيهما سبق كان له الجعل على صاحبه باقٍ على حاله فإن غلبهما أخذ المالين ، وإن غلباه فلا شيء لهما عليه ويأخذ أيهما غلب المال المشروط له من صاحبه. (تبيين الحقائق:٦/ ٢٢٨، ملتان).

په الدر المختار کې راځي:

... إلا إذا أدخلا ثالثا محللاً بينهما... ثم إذا سبقهما أخذ منهما وإن سبقاه لم يعطهما وفيما بينهما أيهما سبق أخذ من صاحبه. (الدر المختار:٦/ ٤٠٣، سعيد).

په فتاوى الهنديه کې راځي:

ثم إذا كان المال مشروطًا من الجانبين فأدخلا بينهما ثالثًا وقالا للثالث : إن سبقتنا فالمالان لك ، وإن سبقناك فلا شيء لنا يجوز استحسانًا..... وإن سبقا على التعاقب فالذي سبق صاحبه يستحق المال على صاحبه وصاحبه لا يستحق المال عليه .(الفتاوى الهندية:٥/ ٣٢٤).

وللاستزادة انظر : (عمدة القارى:١٠/ ١٩٢، ط: ملتان، ورد المحتار:٦/ ٧٥٢، سعيد – والفتاوى السراجية، ص ٣٣٦ – والبحر الرائق:٨/ ٤٨٢).

په فتاوى شامي کې راځي:

وإن سبقاه وجاءا معاً فلا شيء لواحد منهما وإن سبق المحلل مع أحدهما ثم جاء الآخر فلا شيء على من مع المحلل بل له ما شرطه الآخر له كما لو سبق ثم جاء المحلل ثم جاء الآخر فلا شيء للمحلل . (فتاوى الشامى:٦/ ٤٠٣، سعيد).

په مرقات المفاتيح کې راځي:

وإن جاء المحلل وأحد المستبقين معاً ثم جاء الثاني مصلياً أخذ السابقات سبقه. (مرقاة المفاتيح:٧/ ٣٢٠، ملتان).

د محلل دوهم صورت:

زید او عمر محلل ته وایي که چیري ته بریالی سوې هیڅ به نه درکول کیږي او که ناکامه سوې نو ته به په موږ کي بریالي لوب ډلي ته هیڅ نه ورکوي او په موږ کي به بریالی لوبډله د مقابل لوري څخه لس زره اخلي په دې صورت کي هم د قمار گناه نه ستته.

وگورئ په جواهر الفقه کي راځي:

دوارو لوبغاړو درېیم آس سوار ته وویل مثلاً خالد يې له ځانه سره شریک کړئ بیا شرط داسي ولګوي چي که زید بریالی سو نو عمر به ده ته زر روپۍ ورکوي او که عمر بریالی سو نو زید به عمر ته زر روپۍ ورکوي او که خالد بریالي سي ده ته به یو هم هیڅ نه ورکوي. (جواهر الفقه: ٢/ ٣٥٥، احکام القمار، وکذا فی الفقه المعاملات: ٢/ ٧٢ – واشرف التوضیح شرح مشکوة المصابیح: ٢/ ٥٦٨).

د لومړي صورت په شان دلته هم څلور شکلونه جوړیږي:

دوهم دوه صورتونه یو رنګه (برابر) دي او په لومړي شکل کي چي محلل بریالی سي نو په دې صورت کي ده ته هیڅ نه ورکول کیږي او په آخیر کي هم محلل ته هیڅ نه ورکول کیږي خو محلل ته دا شرط ضروري دئ چي د ده آس د هغه نورو دوارو آسانو سره مساوي (برابره) وي یعني د ده د بریالیتوب او نه بریالیتوب احتمال وي او د هغه بریالیتوب او ناکامي یقیني نه وي او که داسي نه وي نو قمار به حساب سي.

وگورئ په حدیث شریف کي راځي:

عن أبی هريرة ﷺ عن النبی ﷺ قال « من أدخل فرسًا بین فرسین یعنی وهو لا یؤمن أن یسبق فلیس بقمارٍ، ومن أدخل فرسًا بین فرسین وقد أمن أن یسبق فهو قمار ». (رواه ابو داود، ص ٣٥٥).

وللاستزادة انظر: (تبیین الحقائق: ٦/ ٢٢٧، ملتان – الفتاوی الهندیة: ٥/ ٣٢٤ – وبدائع الصنائع: ٦/ ٢٠٦، سعید). والله ﷻ اعلم.

د درېیم شخه د انعام ولاس ته د راوړلو حکم

سوال: په یوه ښوونځی کي داسي قانون دئ چي په دې ښوونځی کي یو څوک داخله اخلي خو د ښوونځی د کومک له پاره پنځوس افغانی د داخلې فیس ورکول کیږي د مالک له خوا شخه نه بلکي د یو درېیم سړي له خوا شخه دا قرعه اندازي کیږي (پچه لوېږي) که د هر چا نوم راسي هغه ته یو یا ډېر انعام د ښوونځی د مالک له خوا شخه نه خو د درېیم سړي له خوا ورکول کیږي هغه انعام لکه ټلیفون یا داسي نور څه که چیري ښوونځی ته ٔفیس ورکونکی دا انعام واخلي ده ته روابښت لري او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که دا انعام ورکول سي د دې اخیستل د روابښت دوه لاملونه دي:

۱ _ دا چي دغه انعام پنځوس افغانی خو د داخلې فیس دئ یا د ښوونځي سره کومک دئ او د جائزې بدل نه دئ له دې کبله روا او صحیح دئ.

۲ _ د روابښت دوهم لامل دا دئ چي دا انعام د درېیم سړي د خوا شخه دئ نه د ښوونځي د مالک له خوا شخه او د درېیم سړي له خوا شخه انعام اخیستل روا او صحیح دئ.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

وكذلك (أى لا بأس به) ما يفعله السلاطين وهو أن يقول السلطان لرجلين: من سبق منكما فله كذا فهو جائز لما بينا أن ذلك من باب التحريض على استعداد أسباب الجهاد خصوصًا من السلطان. (بدائع الصنائع:٦/ ٢٠٦، كتاب السباق، سعيد – وفتاوى الشامى:٥/ ٣٥٤، سعيد).

په دې عبارت کي باچا د درېیم سړي په درجه کي دئ لکه شنګه چي د باچا انعام ورکول روا دي همداسي په دې صورت کي د درېیم سړي انعام ورکول به هم روا وي.

په جدید انعامات شرعي احکام نومي کتاب کي راځي:

د مشروطي معاوضي د آس زغلولو روا صورت دا دئ چي دواړي لوبډلي (لوبغاړي) بازي وکي د دوی د خپل منځ شخه اخیستل او ورکول نه وي خو د وخت حکومت یا یوه بل سړي یا بلي ټولی له

خوا څخه د انعام په ډول یو څه روپۍ وړاندي کېدونکی ته ورکړي دا روا دي. (جدید معاملات کے شرعی احکام: ۲/ ۷۱). والله ﷻ اعلم.

د زیات تفصیل له پاره ګوره: (جواهر الفقه: ۲/ ۳۵٦) والله ﷻ اعلم.

د انعامي بانډز حکم

سوال: د انعامي بانډز یو ډول دا دي چي خلک لس لس روپۍ جمعه کوي او بیا یوه ته یا یو څو کسانو ته انعام ورکوي او د هغه نورو خلکو پیسې ډوبیږي (ځي) دا خو د قمار یو شکل دئ.

دوهم شکل دا دئ: چي دوی لس لس روپۍ جمعه کوي خو بیرته هغه لس روپۍ دی لاس ته راوړي او د قرعه اندازۍ پر طریقه ځینو ته انعام ورکول کیږي په دې کي په ښکاره قمار نه سته ځکه دده پیسې نه دي تللي او په ښکاره سود هم نه دئ ځکه د سود تعریف خو دا دئ د ((الفضل المشرط الخالي عن العوض)) او دلته فرداً فرداً دیوه سره هم شرط لګول سوی نه دئ چي تا ته به دومره زیاتي پیسې درکوو د دې دوهم شکل شرعي حکم څه دئ جواب راکړي؟

الجواب: دا دواړه روا چي صورتونه ناروا دي.

وګورئ په اسلام او جدید معاشي مسائل کي راځي:

ځینو حضراتو انعامي بانډ روا ګڼلي دئ په دې نظر سره یې ورته کتلي دي چي دلته تعلیق التملیک علی الخطر نه سته ځکه چي ده څومره پیسې ورکړي دي هغه بیرته دي لاس ته راوړي نو دا قمار نه دئ نو روا دئ خو دا فکرېې صحیح نه دئ ځکه دلته که څه هم قمار بذات خو د نه سته خو سود دلته سته ځکه که د ده نوم په قرعه اندازۍ کي راوزي نو ده ته مثلاً که ده سل روپۍ ورکړي دي ده ته یو لک او سل روپۍ ورکول کیږي.

ځیني حضرات دا هم وایي چي دا سود هم نه دئ ځکه چي موږ پیسې ورکولې زما سره څه مشروطه معامله نه ده سوې د دې شک جواب دا دئ، چي ټولو پیسو ورکونکو سره زیادتي مشروط ده که څه هم په ښکاره یې نه دي ورته ویلي چي موږ به پر دې تا ته ګټه درکوو خو عملاً یې ګواکي ورته ویلي دي او هغه تعامل (رواج) دئ چي کله یو سړی خپل قرض بیرته را اخلي نو حکومت یو

څه زیاتت ورکوي نو دلته که څه هم په لفظو کي شرط لګول سوی نه دئ خو په ((المعروف کا المشر وط)) کي راځي.

عمومًا داسي کیږي چي حکومت د شریک پر پیسو سود لګوي بیا د ټولو د سود سره یو ځای کوي او بیا قرعه اندازی (پچه پر کوي) د دې قرعه اندازی په واسطه یې پر وېشي یا داسي وېلای سو چي سود د قمار په ډول وېشي که څه هم شرعاً قمار ځکه نه سو چي د سود ملکیت نه دئ خو په دې کي د قمار روح موجود دئ او قمار پر سود باندي کوي چي د یوه انسان سود یا د ډېرو کسانو سود یو ځای کوي او بیا قرعه اندازي پر کوي نو ځکه دا ناروا دئ. (اسلام اور جدید معاشی مسائل:٤/ ١١-٧٨).

په فتاوی بینات کي راځي:

په انعامي بانډ کي پیسې ورکول یا اخیستل یا په دې باندي جایزه لاس ته راوړل حرام دي. (فتاوی بینات:٤/ ٢٢٧). د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (جدید فقهی مسائل:١/ ٢٦٣).

نتیجه دا سوه چي د په انعامي بانډ اول صورت د دې کبله ناروا سو چي قمار دئ او دوهم له دې کبله چي سود دئ نو ځکه د دواړو صورتو څخه ځان ژغورل ضروري دي.

په جدید معاملات کي شرعي احکام نومي کتاب کي راځي:

یو ټېم (ګروپ) چي پر دوو سوو پنځوسو یا درو سوو نفرو باندي مشتمل وي پر نفر درې سوه روپۍ هره میاشت ورکوي او هره میاشت قرعه اندازي کیږي چي د چا نوم وخیږي هغه ته پنځه لس زره روپۍ ورکول کیږي یا د دې پر برابر یو بل شی ورکول کیږي او د ده څه نور قسطونه نه اخیستل کیږي نو دې ټېم (ګروپ) کي هم دوه احتماله دي یا به هر نفر ته انعامي پیسې ورکول یقیني وي یا به یې د اصل پیسو د ډېبدلو خطر وي که چیري لاس ته راوړل یقیني وي نو دا سود دئ ځکه چي د پیسو جمعه کوونکي هدف دا وي چي د ده دغه روپۍ به نوري زیاتي روپۍ د ځان سره راوړي او د دغه ټېم چلوونکي یې هم د دغه کار وخوا ته لمسوي چي دا سړی په قرعه اندازي کي برخه واخلي د نوم پر راوتلو زیاتي پیسې لاس ته راوړي که چیري د اصلي پیسو د ډوبیدلو خطر وي نو دا قمار دئ

او سود او قمار دواړه حرام دي او د دې شخصه ځان ساتل فرض دي. (جدید معاملات کی شرعی احکام: ۱/ ۲۶٤).

خو د حضرت مفتي نظام الدين صاحب تفصيلي فتوى چي منتخبات نظام الفتاوى: ۱/ ۱۹۵. باندې ليکلې دي د هغه څخه دا راڅرګنديږي چي هغه دوهم صورت چي په هغه کي پيسې پوره لاس ته راځي په سود کي نه داخليږي او د هغو اخيستل روا دي د دې مسئلې تفصيل به ژر وليکل سي. والله ﷻ اعلم.

د ورځپاڼې د مشکل سوال پر حل کولو باندې د جايزې حکم

سوال: ډېر وختونه په ورځپاڼو کي دا ليکل سوي وي چي د فلاني شي هدف بيان کړئ نو دومره انعام به درکول کيږي حال دا چي څه پيسې يا داسې نور د ورځپاڼې سره نه ورکول کيږي نو دا جائزه اخيستل روا دي او که نه؟ البته د ورځپاڼې رانيول کيږي د دې حکم څه دئ، جواب راکړي او ثواب لاس ته راوړي؟

الجواب: په ورځپاڼه کي جائز وي مضمون خپربږي، د دې پر حل کولو جائزه لاس ته راوړل روا دي او په دې کي هيڅ تاوان نه سته دا يو طرفه شى دئ چي نه په دې کي قمار او نه سود سته او هغه پيسې چي د ورځپاڼې په رانيولو کي ولګېدلې د هغو په بدل (ځاى) کي ده ورځپاڼه لاس ته راوړه.

وګورئ په تنوير الابصار کي راځي:

حل الجعل إن شرط المال من جانب واحد ..... وفی الشامية: جواز الجعل فيما ذكر استحسان. (تنور الابصار مع فتاوى الشامى:٦/ ٤٠٢، كتاب الحظر والاباحة، سعيد).

په فتاوى هنديه کي راځي:

وحرم شرط الجعل من الجانبين، لا من أحد الجانبين،.... وإذا شرط من جانب واحد بأن يقول إن سبقتني فلك على كذا، وإن سبقتك فلا شيء لي عليك جاز استحساناً. (الفتاوى الهندية:٦/ ٤٤٥، مسائل شتى).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

په ورځپاڼه کي راغلل چي څوک د فلاني شي هدف بیان کړي یا فلانی مسئله حل کړي نو ده ته به دومره جائزه ورکول کیږي او بیا یو چا حل کړه او جائزه ورکول سوه دا جائزه د ده ملکیت ګرځي په دې کي هیڅ سوال نه پیدا کیږي ځکه چي دیو طرفه شی دئ. (فتاوی محمودیه:۱۶/ ۴۴۳، جامعه فاروقیه).

په فتاوی عثماني کي راځي:

که چیري د ماشومانو څخه د جایزې په صورت کي هیڅ فیس نه وي اخیستل سوی او بیا په قرعه اندازي باندي ورده ته یو شی ورکول کیږي نو دا قمار نه دئ او قرعه اندازي د جایزې په وېشلو کي روا ده. (فتاوی عثمانی:۳/ ۳۴۲).

په حلال او حرام نومي کتاب کي راځي:

که چیري جواب ورکونکي څخه څه نه اخیستل کیږي دی جایزه واخلي، دا صحیح ده او دا پیسې یوازي د جایزې شکل لري. (حلال او حرام:ص ۳۸۱).

دزیات تفصیل له پاره وګورئ: (مالی معاملات پر غرر کی اثرات: ص ۴۰۱). والله تعالی اعلم.

د فیس ورکولو په صورت کي سوال حل کوونکي ته د جائزې ورکولو حکم

سوال: ځیني ځایو کي دا اعلان (اشتهار) لګول کیږي چي څوک دا سوال حل کي او بیرته یې راواستوي او د دې سره فیس مثلاً یوه روپۍ فیس هم را واستوي نو چي د چا حل صحیح وي د دوی څخه به جائزه هغه چا ته ورکول کیږي چي د چا نوم په قرعه اندازي کي راسي د پوښتني وړ خبره دا ده چي ایا په داسي ټیم (ګروپ) کي شریکېدل روا دي او که نه؟ او د شرکت په صورت کي جائزه لاس ته راوړل روا دي او که نه؟

الجواب: که چلوونکی د دې کار فیس اخلي نو دا قمار دئ او ناروا دئ او په داسي ګروپو کي د شرکت ګنجائش نه سته او د دې څخه ځان ساتل ضروري دي که یو چا د څه ناپوهی په سبب شرکت پکښي کړی وي او جایزه یې لاسته راوړې وي نو ټولي روپۍ او پیسې واجب التصدق دي او د خپل ځان له پاره کارول یې روا نه دي.

وګورئ په قرآن کریم کي دي:

﴿ يا أيها الذين آمنوا إنما الخمر والميسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشيطان فاجتنبوه لعلكم تفلحون ﴾. (المائدة، الآية: ٩٠).

فقهيه ابو الليث سمرقندي رحمه الله د ميسر په تفسير کي ليکي:

وقال عطاء ومجاهد: الميسر القمار كله حتى لعب الصبيان بالجوز والكعاب. (تفسير السمرقندي: ١/ ٢٠٣).

التعريفات الفقهيه کي راځي:

القمار مصدر قامر هو كل لعب يشترط فيه غالباً أن يأخذ الغالب شيئاً من المغلوب، وأصله أن يأخذ الواحد من صاحبه شيئاً فشيئاً فى اللعب ثم عرفوه بأنه تعليق الملك على الخطر والمال فى الجانبين. (التعريفات الفقهية، ص ١٧٧، وجواهر الفقه: ٢/ ٢٢٧، وامداد الفتاوى: ٣/ ١٦١).

په فتاوی شامي کي راځي:

وسمي القمار قماراً لأن كل واحد من المقامرين ممن يجوز أن يذهب ماله إلى صاحبه، ويجوز أن يستفيد مال صاحبه، وهو حرام بالنص. (ردالمحتار: ٦/ ٤٠٣، كتاب الحظر والاباحة، سعيد).

په آپ کي مسائل نومي کتاب کي راځي:

هغه پیسې چي د فیس داخلولو سره ورکول کیږي هغه د زیادت ولاس ته د راوړلو له پاره ورکول کیږي نو ځکه سود دئ او لاس ته راتلل او نه راتلل یې یقیني نه دي نو ځکه قمار سو او سود او قمار دواړه حرام دي. هغه زیات لاس ته راوړونکي که نغدي وي او که د ټکټ په شکل کي وي دواړه حرام دي او د داسي ګروپو اصل هدف د زیاتو پیسو لاس ته راوړل وي او ذهني او علمي زیادت یې هدف نه

وي همدارنګه د قمار عادت پیدا کیږي چي دا یو هنري قمار دئ.(آپ کی مسائل اور ان کا حل:٦/ ٢١٦).

په جواهر الفقه کي راځي:

د جائزې په شکل د سوال حل کولو دپاره او په مختلفو شکلونه اشتهارونه لګول کیږي چي کوم څوک چي دا حل کړي او راوړې لیږي او د دې سره مثلاً یوه روپۍ را واستوي چي د کومو خلکو جواب (حل) صحیح سو نو جائزه به هغه چا ته ورکول کیږي چي د چا نوم چي (په قرعه اندازي) یا پچه کي وخیژئ، ښکاره قمار دئ چي یو سړی د خپل فیس یوه روپۍ پر دغه موهوم لاره اچوي چي یا به دا یوه روپۍ ضایع کیږي یا به د زرونو پیسو جائزه لاس ته راوړي. (جواهر الفقه:٢/ ٣٤٩).

په فتاوي عثماني کي راځي:

د سوال حل کولو سره که فیس ولګول سي او واستول سي نو دا په قمار کي د داخلېدو له کبله حرام دئ. (فتاوی عثمانی:٣/ ١٤١)

که یو څوک دا وایي چي فیس د داخلې دئ او د جائزې بدل نه دئ نو په دې اړه حضرت مفتي محمود حسن صاحب وایي:

ټول پوهیږي چي یوازي داخله هدف نه ده چي د هغه له پاره فیس ورکول سي خو د پیسو لاس ته راوړل هدف دي چي د هغه نوم یې جائزه ایښې ده او دا خبره هم ټولو ته څرګنده ده چي د سوال کوونکي هدف د مسئلې حل نه دئ بلکي د ډېرو پیسو د جائزې په لمسولو سره پیسې جمعه کول دي. (فتاوی محمودیه:١٦/ ٤٤٢، جامعه فاروقیه). والله تعالیٰ اعلم.

په بانک کي پیسې ایښول او د پیسو ګټلو حکم

سوال: په جنوبي افریقا کي یو خاص بانک یو نوی اکاونټ خلاص کړی دئ په دې اکاونټ کي دوی سود نه ورکوي بلکي هر څوک چي اکاونټ خلاصوي هغه په خپله په یو مقابله کي شریک کیږي او د لس لکه روپیو ولاس ته د راوړلو احتمال پکښې وي نو که یو څوک بریالی سي نو ده ته د دې پیسو اخیستل روا دي او که نه؟

الجواب: که چیري هغه جمعه سوي پیسې پر هغه ځای یقیني پاتیږي او زیادت پیسې هم لاس ته راځي نو د ځینو په آند خو دا سود دئ او که هغه اینبول سوي پیسې سوځل کیږي نو دا خو ښکاره قمار دئ او دواړه د شریعت له نظره حرام دي.

﴿ یا أیها الذین آمنوا لا تأکلوا الربا أضعافًا مضاعفةً واتقوا الله لعلکم تفلحون ﴾. (المائدة، الآية: ٩٠).

په فتاوی شامي کي راځي:

وسمي القمار قماراً لأن کل واحد من المقامرین ممن یجوز أن یذهب ماله إلی صاحبه، ویجوز أن یستفید مال صاحبه، وهو حرام بالنص. (ردالمحتار:٦/ ٤٠٣، کتاب الحظر والاباحة، سعید).

په اسلام اور جدید معاشی مسائل نومي کتاب کي راځي حضرت مفتي تقی عثماني وایي:

ځیني حضرات جایزوي بانډي روا بولي دوی په دې نظر ورته ګوري چي دلته خو تعلیق التملیک علی الخطر نه سته ځکه کومي پیسې چي یې ورکړي وي هغه به خامخا لاس ته راوړي نو دا ځکه قمار نه دئ نو دا روا سو خو دا فکر صحیح نه دئ ځکه که څه هم بذات خود قمار نه سته خو سود سته ځکه که چیري د ده نوم په قرعه اندازي کي وخیژي نو ده ته مثلاً چي سل روپۍ یې ورکړي وي، په سل کي یو لک و سل روپۍ لاس ته راوړي ځینو حضراتو ته دا شک ورپیدا سوی دئ چي دا سود هم نه دئ ځکه چي ما کوم وخت بانډ اخیستی زما سره څه مشروط په زیادت سره معامله سوې نه وه د دې جواب دا دئ چي د ټولو پیسو جمعه کوونکو سره دا شرط لګول سوی دئ که څه هم صراحت نه سته چي موږ به پر دې فائدي درکوو خو عمل په کیږي او هغه عمل رواج (تعامل) دئ چي کله یو څوک خپل قرض بیرته اخلي نو حکومت ده ته یو څه زیادت شی ورکوي نو دا که څه هم په الفاظو کي شرط نه وو خو په ((المعروف کا المشروط)) کي راځئ. (اسلام اور جدید معاشی مسائل:٤/ ١١ - ٧٨).

خو ځيني نور حضرات فرمايي، چې دا پيسې سودي نه دي ځکه چې د سود نفي کړل سوې ده او چې جائزه لاس ته راغله هغه جايزه ده او سود نه دئ او ((کل قرض جر نفعًا فهو ربا)) پر مشروط باندي محمول ده او دلته شرط لګول سوی نه دئ چې ما ته جائزه راکول کيږي بلکي دا جائزه هر يوه ته نه ورکول کيږي نو ځکه دا مشروط نه ده تر کل قرض جر نفعا لاندي ليکل سوي دئ اذا کان مشروط.

وګورئ علامه شامي رحمه الله عليه فرمايي:

وفى الذخيرة: إن لم يكن النفع مشروطاً فى القرض فعلى قول الكرخى رحمه الله عليه لا بأس به. (فتاوى الشامى:٥/ ١٦٦، مطلب كل قرض جرنفعاً حرام، سعيد).

قال الجرجاني رحمه الله عليه فى التعريفات: الربا: هو فى اللغة: الزيادة، وفى الشرع: هو فضل خالٍ عن عوض شرط لأحد العاقدين. (التعريفات، ص ١١٢، بيروت).

وفى الهداية: لأن الربا: هو الفضل المستحق لأحد المتعاقدين فى المعاوضة الخالى عن عوض شرط فيه. (الهداية:٣/ ٧٨، باب الربا).

حضرت مفتي نظام الدين صاحب وايي:

د سوال حاصل دا دئ، چې دلته يو پوستبکس (ډاکخانې) يو داسي پروګرام جاري کړی دئ چې هلته يو پونډ يا دوه پونډه يا پنځه پونډه جمعه کوي او پر لمبر د دې رسېد ورکوي پر دې باندي هيڅ سود نه لګول کيږي خو هره مياشت په ورځپانو کي يو څو لمبرونه راځي د يوه پونډ په مقابل کي سل پونډه تر لاسه کيږي نو زياتي پيسې اخيستل روا دي او که نه؟ حال دا چې هغه جمعه کړل سوي پيسې پوره لاس ته راځي.

د جواب لنډيز دا دئ چې دا زياتي پيسې اخيستل روا دي ځکه چې د پيسو جمعه کولو په وخت کي دا معامله کيږي چې د دې پيسو پر بيرته اخيستلو به زياتي پيسې نه ورکول کيږي او معامله به غير سودي وي او د زياتو پيسو لاس ته راوړلو يقين هم نه وي او نه د دې غوښتنه کيږي بلکي

محکمه یې یوازي پر خپله رایه یو چا ته ورکوي او د خپل قانون پر برابر یو څو لمبرو ته د زیاتو پیسو ورکولو اعلان کوي او چي د چانوم راخیږي هغه یې ورکوي نو د جر نفعًا مصداق نه سو او دغه زیادتی ته شرعًا ربا نه ویل کیږي هو که چیري یو څوک تقوی کوي نو دا جلا خبره ده او ښه خبره ده او د تقوی خبره به دا وي چي دا پیسې په محکمه کي پرې نهږدي له هغه ځایه دې یوسي او پر بېوزلانو دې وویشي یا دې په یوه عمومي خیریه کار کي ولګوي. (منتخبات نظام الفتاوی:۱/ ۱۰٤).

لنډه دا چي که څه هم ځینو حضراتو دا په سود کي نه ده شامله کړې ښایي چي موږ د داسي معاملې څخه ځان وژغورو چي دا ښه خبره ده. والله اعلم.

پر ماهي نیولو باندي د جائزې لګولو حکم

سوال: د یوه دریاب پر غاړه یو ځای جوړ سوی دئ په هغه کي د ماهیانو د نیولو مقابله کیږي او داخلېدو فیس اخیستل کیږي بیا چي کوم یوه غټ ماهی ونیوئ هغه ته پر لمبر له جمع سوو پیسو څخه جائزې ورکول کیږي ایا دا روا دي او که نه؟ او جائزې اخیستل صحیح دي او که نه؟ په داسي حال کي چي ځیني بې برخي هم پاتیږي؟

الجواب: په دې صورت کي دا کار په قمار کي د داخلیدو له کبله ممنوع او ناروا دئ. وګورئ علماوو د قمار تعریف په لاندي ډول لیکلی دئ.

په التعریفات الفقهیه کي راځي:

القمار مصدر قامر هو کل لعب يشترط فيه غالباً أن يأخذ الغالب شيئاً من المغلوب، وأصله أن يأخذ الواحد من صاحبه شيئاً فشيئاً في اللعب ثم عرفوه بأنه تعليق الملک على الخطر والمال في الجانبين. (التعريفات الفقهية، ص ۱۷۷، وجواهر الفقه:۲/ ۲۲۷، وامداد الفتاوی:۳/ ۱٦۱).

په فتاوی شامي کي راځي:

وسمي القمار قماراً لأن كل واحد من المقامرين ممن يجوز أن يذهب ماله إلى صاحبه، ويجوز أن يستفيد مال صاحبه، وهو حرام بالنص . (ردالمحتار:٦/ ٤٠٣، كتاب الحظر والاباحة، سعيد).

په احسن الفتاوى كي راځي:

سوال: سره مياشت (هلال احمر) يو پاكستانى اداره ده چي د پنځو روپيو او د درو روپيو ټكيټان خرڅوي او د جمعه سوي پيسو څخه هره مياشت درې لكه، دوه نيم لكه روپۍ د جائزې په شكل وېشل كيږي، دا ټكټونه رانيول او جائزه لاس ته راوړل روا دي او كه نه؟

الجواب: دا د سود او قمار مجموعه ده نو ځكه حرام دئ. (احسن الفتاوى:٧/ ٢٦).

په تقرير ترمذي كي راځي:

د غرر دريم صورت دئ تعليق التمليك على الخطر معنا دا چي تمليك ديوي داسي خبري سره معلق كول (تړل) چي د موجوديت او نه موجوديت د دواړو احتمال وي ځكه دا معامله صحيح نه ده، دې ته تعليق التمليك على الخطر ويل كيږي او دې ته قمار هم ويل كيږي ځكه چي په قمار كي هم ديوې خوا څخه د پيسو اداء كول يقيني وي حال دا چي په هغه بله خوا كي د دې بدل يقيني نه وي بلكي محتمل وي نو ځكه قمار هم په غرر كي داخل دئ. (تقرير ترمذى:١/ ٩٧ – واسلام اور جديد معاشى مسائل:٤/ ٧٦).

خو كه چيري په هغه ځاى كي د كښېنستلو او ډوډئ او چيښلو دانتظام په بدل كي دا داخله فيس كڼل كيږي او بيا اول، دوهم او دريم لمبر راتلونكو ته جائزه وركول سي نو په ښكاره په دې كي بيا څه تاوان نه سته. والله تعالى اعلم.

د ووډاكوم كمپنۍ په مسابقه كي د برخي اخيستلو حكم

سوال: نن سبا په ډېرو كمپنو كي مسابقه كيږي چي برياليو كسانو ته ښي جائزې وركوي په دې لړۍ كي يوه د ووډا كوم كمپنۍ له طرفه وړاندي سوي مسابقه ده د دې كمپنۍ طريقه دا ده چي يو كس دې كمپنۍ ته يو ميسج استوي په دې كي تقريبا لس روپۍ مصرفيږي او د ورځي په اخير كي

(SmS) استوونكو په منځ كي قرعه اندازي كول كيږي چي د چانوم وخيږي هغه ته د دونيم لكه روپيو موټر (B. m. w) وركول كيږي، نن سبا زموږ مسلمانان ورونه هم په دې كي په ډېر شوق سره برخه اخلي نو ايا د شريعت له پلوه په دې مسابقه كي شركت روا دئ او كه نه؟ او كه يو څوك په جائزه كي موټر لاس ته راوړي اخيستل يې روا دي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي (VOD Acom) كمپنۍ دا مسابقه قمار باندي د مشتمليدو په سبب په دې كه برخه اخيستل او جائزه لاس ته راوړل صحيح نه ده، خو كه چا ته موټر وركول سي نو دا دي وپلورل سي او پيسې دې خيرات كړل سي دا پيسې خيراتول واجب دي، البته يوازي هغه پيسې اخيستل روا دي چي ده لګولي وي.

قال الله تعالى: ﴿ يا أيها الذين آمنوا إنما الخمر والميسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشيطان فاجتنبوه لعلكم تفلحون ﴾. (المائدة، الآية:۹۰).

وعن عبد الله بن عمرو رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: « إن الله حرم على أمتي الخمر والميسر». (مسند احمد وسنن ابى داؤد).

په فتاوى شامي كي راځي:

وسمي القمار قماراً لأن كل واحد من المقامرين ممن يجوز أن يذهب ماله إلى صاحبه، ويجوز أن يستفيد مال صاحبه، وهو حرام بالنص . (ردالمحتار:٦/ ٤٠٣، كتاب الحظر والاباحة، سعيد).

په احكام القرآن كي راځي:

إن أهل الجاهلية كانوا يخطرون على المال والزوج وقد كان مباحاً إلى أن ورد تحريمه.

(احكام القرآن للجصاص:١/ ٣٢٩).

په اسلام اور جديد معاشی مسائل نومي کتاب کي راځي:

د غرر يو صورت چي هغه علماوو په ((تعليق التمليک علی الخطر)) سره تعبير کړی دئ چي په عقود معاوضه وو کي تمليک پر يو خطر باندي معلق کول د خطر معنا ده يوه داسي واقعه چي د هغه د واقع کېدلو يا نه واقع کېدلو د دواړو احتمال وي، پر دې واقعه باندي تمليک تړل چي که چيري دا واقعه مخ ته راغله نو ما د خپل پلاني شي تاسي مالکان جوړ کړي ياست او دې ته قمار هم ويل کيږي، د دې يوه شعبه قمار هم ده، په دې کي د يوې خوا څخه خو اداء کېدل يقيني وي او د بلي خوا څخه اداء کول موهوم وي مثلاً يو څوک ووايي چي ټوله خلک ما ته دوه دوه سوه روپۍ راکړئ بيا به قرعه اندازي وکړ چي د چا نوم راغئ زه به هغه ته يو لک روپۍ ورکوم دې ته قمار ويل کيږي او همدغه ته ميسر هم ويل کيږي چي څومره لاټرۍ زموږ په زمانه کي مشهوره دي مثلاً پر ميدان يې موټر درولی وي چي د دوو سوو ټکټ رانيسي وروسته به قرعه اندازي کوو چي د چا لمبر راغئ هغه ته به موټر ورکول کيږي دا قمار دئ او تعليق التمليک علی الخطر دئ او د غرر يوه شعبه ده چي حرامه ده. (اسلام اور جديد معاشی مسائل:٤/ ٧٦). د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوی محموديه:١٦/ ٤٣٥، جامعه فاروقيه، واحسن الفتاوی:٧/ ٢٦، ومنتخبات نظام الفتاوی:٢/ ٣٠٢).

اشکال (نيوکه): د ځينو خلکو دا فکر دئ چي لس روپۍ د ميسج د داخليدو فيس دئ او جائزه خلکو ته د کمپنۍ له خوا د خلکو د لمسولو له پاره ده نو د ناروا والی له پاره يې وجه څه ده؟ د دې جواب دا دئ چي اصل داخله هدف نه وي بلکي جائزه لاس ته راوړل هدف وي او انسان د دې له پاره فيس زغمي وګورئ.

حضرت مفتي محمود حسن فرمايي:

ټول پوهيږي چي يوازي داخله هدف نه وي چي د دې له پاره فيس وزغمل سي خو د پيسو لاس ته راوړل هدف وي چي د هغه نوم يې (جائزه) غوره کړې ده او په دې هم ټول پوهيږي چي د جائزې ورکونکي هدف هم نور هيڅ نه وي يوازي خلک د لويي جائزې په منلو سره لمسول دي او ډېري پيسې لاس ته راوړل دي. (فتاوی محموديه:١٦/ ٢٤٢، جامعه فاروقيه). والله ﷻ اعلم.

د لائسنس د لاس ته راوړلو له پاره د رشوت ورکولو حکم

سوال: یو سړی د موټر واني د لائسنس له پاره چي کله ځي دی ناکام کیږي معلومه سوه چي د رشوت پرته هیڅکله هم بریالی کېدلای نه سي اوس د پوښتني وړ خبره دا ده چي په داسي حال کي د رشوت ورکولو حکم شرعاً څه دئ ایا روا دئ او که نه؟

الجواب: که چیري دغه سړی صحیح موټر وان وي، د لارو قوانین ښه پېژني او بیا هم په لائسنس اخیستلو کي نه بریالی کیږي او د رشوت ورکولو پرته هیڅ چاره نه وي نو د مجبورۍ په صورت کي په رشوت ورکولو کي هیله لرو چي خدای ﷻ به یې ګناه کار نه کړي خو رشوت اخیستل په هر حال کي ناروا دئ.

په جامع الترمذي کي راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : لعن رسول الله صلى الله عليه و سلم الراشي والمرتشي. (جامع الترمذی:۱/ ۲۴۸).

په هدايه کي راځي:

و دفع الرشوة لدفع الظلم أمر جائز. (الهداية:۳/ ۲۴۵).

قال الجرجاني رحمه الله في التعريفات: الرشوة: ما يعطى لإبطال حق أو لإحقاق باطل.

(التعريفات، ص ۱۱۴، والتعاريف للمناوی، ص ۳۶۵).

أو المال الذي يعطى بمقابلة الواجب.

أو ما يأخذه الآخر ظلماً.

أو أخذ الأموال على فعل ما يجب على الآخذ فعله أو فعل ما يجب عليه تركه. (تفسير البحر المحيط:۴/ ۵۳۳، ودستور العلماء:۲/ ۱۳۶).

په فتح القدير کي راځي:

(قوله ودفع الرشوة لدفع الظلم أمر جائز) هذا دليل عقلي على ما ذهب إليه أئمتنا من جواز الصلح من إنكار أو سكوت أيضاً متضمن للجواب عن دليل عقلي للشافعي رحمه الله مذكور فيما قبل، وهو قوله ولأن المدعى عليه يدفع المال لقطع الخصومة، وهذا رشوة، قال الشراح: لايقال لا نسلم جواز دفع الرشوة لدفع الظلم لأن قوله النبي ﷺ : « لعن الله الراشى والمرتشى» عام لأنا نقول: هذا الحديث محمول على ما إذا كان على صاحب الحق ضرر محض في أمير غير مشروع، كما إذا دفع الرشوة حتى أخرج الو الى أحد الورثة عن الأرث وأما إذا دفع الرشوة لدفع الضرر عن نفسه فجائز للدافع، انتهى، واعترض بعض الفضلاء على الجواب حيث قال فيه، إن المعتبر هو عمومِ اللفظ وما الدليل على أنه محمول على ما ذكر غير مجرى على عمومه انتهى، أقول: الدليل عليه ما ورد من النصوص في أن الضرورات تبيح المحظورات منها قوله تعالى: ﴿ وما جعل عليكم فى الدين من حرج ﴾ ولاشک أن في دفع الضرر عن نفسه دفع الحرج. (تكملة فتح القدير:۸/ ۴۰۸، كتاب الصلح، دار الفكر).

په تبيين الحقائق کي راځي:

ولو قلنا إنه رشوة فهي جائزة للدافع لدفع الظلم عن نفسه وما جاء فيه من الذم من قوله عليه الصلاة والسلام « لعن الله الراشي والمرتشي » المراد به إذا كان هو الظالم فيدفعها إلى بعض الظلمة من ولاة الأمور يستعين به على الظلم بالرشوة وأما لدفع الضرر عن نفسه فلا شبهة فيه حتى روي عن أبي يوسف رحمه الله أنه أجاز ذلك للوصي من مال اليتيم أيضًا لدفع الضرر عن اليتيم ، ألا ترى أن الخضر عليه السلام خرق السفينة كي لا يأخذها الظالم وما

كان مراده بذلك إلا الإصلاح ، والله يعلم المصلح من المفسد. (تبيين الحقائق:٥/ ٣١، كتاب الصلح، ملتان).

په البحر الرائق كي راځي:

ومنها إذا دفع الرشوة خوفًا على نفسه أو ماله فهو حرام على الآخذ غير حرامٍ على الدافع وكذا إذا طمع في ماله فرشاه ببعض المال ومنها إذا دفع الرشوة ليسوي أمره عند السلطان حل له الدفع ولا يحل للآخذ أن يأخذ . (البحر الرائق:٦/ ٢٦٢، كتاب القضاء، كوئته).

په فتاوى هنديه كي راځي:

إذا دفع الرشوة لدفع الجور عن نفسه أو أحدٍ من أهل بيته لم يأثم . (الفتاوى الهندية:٤/ ٤٠٣).

په فتاوى شامي كي راځي:

ما يدفع لدفع الخوف من المدفوع إليه على نفسه أو ماله حلال للدافع حرام على الآخذ لأن دفع الضرر عن المسلم واجب ولا يجوز أخذ المال ليفعل الواجب . (فتاوى الشامي:٥/ ٣٦٢، كتاب القضاء، سعيد).

وكذا في (رسائل ابن نجيم الاقتصادية، ص ٢٠٠ - وتكملة رد المحتار:٢/ ٢٢٢).

په كتاب الفتاوى كي راځي:

كه چيري پريو كار كونكي ستا حق وي چي دى هغه كار وكي او لكه څنګه چي تا ليكلي دي روا كار هم وي او د دې هدف د نورو سره ظلم هم نه وي نو دخپل روا كار ولاس ته د راوړلو او د ظلم او بې انصافى څخه د ځان ژغورلو له پاره د زړه د خفګان رشوت بد بللو سره سره د رشوت وركولو ګنجائش سته خو رشوت اخيستل په هر حال كي حرام دئ. (كتاب الفتاوى:٦/ ٢٤٥).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

د رشوت ورکول او اخيستل دواړه حرام دي خو د ظلم څخه د ځان ژغورلو او خپل حق ولاس ته د راوړلو له پاره د مجبورۍ په حال کي د رشوت ورکولو اجازه سته، په دې صورت کي به يوازي رشوت اخيستونکی ګناه کار وي. (فتاوی محموديه:١٨/ ٤٥٥، جامعه فاروقيه).

په جديد معاملات کي شرعي احکام نومي کتاب کي راځي:

ځيني خلک د رشوت په ورکولو سره وظيفه لاس ته راوړي حال دا چي د رشوت اخيستل او ورکول دواړه حرام دي خو ځيني خلک پر رشوت ورکولو مجبوره سي او د هغه د نه ورکولو په صورت کي هيڅ وظيفه لاس ته نه راځي. لوړ پوړي دولتي چارواکي مشکلات پيدا کوي په داسي صورت کي که رشوت ورکول سي نو هيله ده چي الله تعالی به عذاب نه ورکوي نو بيا چي په رشوت لاس ته وظيفه راسي د هغې د تنخوا حکم دا دئ چي که چيري دی د دې اهليت ولري او هغه کار چي دی يې سر ته رسوي سم او صحيح يې سر ته رسوي نو ده ته هغه تنخوا حلاله ده او که دی د کار اهليت نه لري يا کار سم سر ته نه سي رسولای نو دا تنخوا به ده ته حلاله نه وي. (جديد معاملات کی شرعی احکام:١/ ١٧٩). والله ﷻ اعلم.

دلاټرۍ حکم

سوال: علماء کرام د لاندي مسئلې په اړه څه فرمايي، په دې هيواد او داسي نورو هيوادو کي داسي رواج دئ چي په عام ډول په دوکانو کي د لمبر کاغذان پلورل کيږي خلک دا رانيسي او پر يو څو لمبرونو د علامې (نښاني) کولو څخه وروسته بيرته يې هغه ته ورکوي که هغه نښانه سوي لمبرونه د هغو د مخصوصو لمبرونو سره برابر سي نو په دې ډول د انعام ډېري پيسې لاس ته راوړلای سي نو ايا هغه پيسې د انعام په ډول ده ته روا دي او که نه؟ او دا پرچې په مختلفو قيمتو باندي پلورل کيږي مثلاً ځيني په پنځوس روپۍ او ځيني سل روپۍ، دوو سوه روپۍ همدارنګه په صحرا (کليو) کي ماشومان مردکي يا ماربل باندي لوبه کوي او يوه دايره يې جوړه کړې وي هر يو خپل پر نوبت واری کوي که هر څا هدف صحيح وويشتئ دا ټولي مردکي يا ماربل د هغه وي او نور ټولو کسان بې برخي کيږي د شريعت له نظره دا کار روا دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت كې دواړه ډوله لوبې (بازۍ) ناروا او حرامې دي ځكه چې په دې كې تعليق التمليك على الخطر دئ هغه داسې چې د يوې خوا څخه اداء كول يقيني دي او د بلې خوا څخه اداء كول موهوم او شكمن دي چې وهمدې ته قمار ويل كيږي.

قال الله تعالى: ﴿ يا أيها الذين آمنوا إنما الخمر والميسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشيطان فاجتنبوه لعلكم تفلحون ﴾. (المائدة، الآية:٩٠).

وعن عبد الله بن عمرو رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: « إن الله حرم على أمتي الخمر والميسر ». (مسند احمد وسنن ابى داؤد).

په احكام القرآن كې امام جصاص رحمه الله فرمايي:

وقال قوم من أهل العلم القمار كله من الميسر.... وهو السهام التي يجيلونها فمن خرج سهمه استحق منه ما توجبه علامة السهم فربما أخفق بعضهم حتى لا يخطئ بشيء وينجح البعض فيحظى بالسهم الوافر وحقيقته تمليك المال على المخاطرة، وهو أصل في بطلان عقود التمليكات الواقعة على الأخطار . (أحكام القرآن:٢/ ٤٦٥، سهيل اكيدمى).

په بل ځاى كې فرمايي:

وقال عطاء وطاؤس ومجاهد حتى لعب الصبيان بالكعاب والجوز. (احكام القرآن:١/ ٣٢٩).

قال الفقيه أبو لليث السمرقندى رحمه الله: الميسر القمار كله حتى لعب الصبيان بالجوز والكعاب. (تفسير السمرقندى:١/ ٢٠٣).

په تبيين الحقائق كې راځي:

وحرم لو شرط المال من الجانبين. (تبيين الحقائق:٤/ ٣٢، ملتان).

په درمختار کي راځي:

وحرم لو شرط فيها من الجانبين لأنه يصير قماراً. وفي رد المحتار: لأن القمار من القمر الذي يزداد تارة وينقص أخرى، وسمي القمار قمارا لأن كل واحد من المقامرين ممن يجوز أن يذهب ماله إلى صاحبه ويجوز أن يستفيد مال صاحبه وهو حرام بالنص. (الدر المختار مع رد المحتار:٦/ ٤٠٣، سعيد).

په كفايت المفتي کي راځي:

د لاټرۍ يا ټکټ رانيول ناروا دي او هغه قمار دئ او قمار حرام دئ. (كفايت المفتى:٩/ ٢٢٦، دار الاشاعت).

په اسلام اور جديد معاشی مسائل نومي کتاب کي راځي:

څومره لاټرۍ دي او زموږ په زمانه کي مشهوري دي دا ټول مثلاً پر ميدان يې موټر درولی وي او وايي دوو، دوو سوو ټکټونه رانيسئ بيا به قرعه اندازي کوو چي د چاچي نوم راووزي هغه ته به موټر ورکول کيږي دا قمار دئ، تعليق التمليک على الخطر دئ او د غرر يوه شعبه ده چي حرامه ده. (اسلام اور جديد معاشی مسائل:٤/ ٧٧).

په مالی معاملات پر غرر کي اثرات نومي کتاب کي راځي:

په ځينو محلو (سيمو) کي ماشومان د چار مغزو يا مردکي يا داسي نورو باندي بازي کوي د برياليتوب او نابرياليتوب (ناکامۍ) پر اساس دا لوبه کوي چي بريالی ماشوم به ټوله چارمغز وړي دا کار په قمار کي داخل دئ. (مالی معاملات پر غرر کی اثرات:ص ٣٩٣).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (نظام الفتاوى:٢/ ٣٠١ – فتاوى محموديه:١٦/ ٤٣٥ – جديد فقهى مسائل:١/ ٤٣٠ – وايضاح النوادر:١/ ١٢٣ – جواهر الفقه:٢/ ٣٤٨– ٣٥٠ – قاموس الفقه:٤/ ٥٢٤ – فتاوى بينات:٤/ ٢١٤ – مالى معاملات پر غرر کی اثرات:ص ٤٠١). والله ﷻ اعلم.

د سټه بازۍ حکم

سوال: نن سبا په ډېرو لويو کمپنيو کي د ستي کار وبار ډېر زيات کيږي په شريعت کي د دې گنجائش سته او که نه؟

الجواب: د دې معاملي هدف د شيرز (برخو يا حصو) رانيول نه وي بلکي د نرخ د زياتوالي او کمښت سره تاوان او گټه برابرول هدف وي په دې صورت کي په معامله کي نه د رانيوونکي له خوا قيمت اداء کيږي او نه د پلورونکي له خوا د مبيعې ورکړه کيږي نو ځکه دا ناروا ده. سټه بازي د قمار يو ډول دئ او په لغت کي ستا بازي ورته ويل کيږي.

۱_ يو ډول قمار دئ چي ديوي خبري د حکم په اړه شرطونه لګول کيږي.

۲_ يو ډول سودا ده. (فيروز اللغات:ص ۷۸۰).

دستا د ناروا والي دوه لاملونه دي:

۱_ دغير مملوک بيع.

۲_ بيع قبل القبض.

د دلائلو د تفصيلاتو له پاره وګورئ: (اسلام او جديد معاشی مسائل:٤/ ٨٠-٨١، جديد فقهی مباحث:١٦ ج، - اسلام اور جديد معشيت او تجارت:ص ٨٤-١١٤ – جديد معاملات کی شرعی احکام:١/ ١٠٨- وفتاوی عثمانی:٣/ ١٨٦ – غرر کی صورتين:٣٧/ ٣٧٦). والله ﷻ اعلم.

د تجارت د پر مختګ له پاره د قرعه اندازۍ په ذريعه د جائزې حکم

سوال: په ډېرو هيوادو کي په لويو لويو دوکانونو کي دا رواج دي چي د زياتو شيانو پلورلو او خپل تجارت د پرمختګ له پاره د جائزو قرعه اندازي کيږي او چي د چانوم را ووزي هغه ته يا نغدي يا د يوه بل شي جائزه ورکول کيږي، د شي په رانيولو کي رانيوونکي پوره قيمت اداء کوي خو جائزه يا جلا وي چي په زرونو انسانانو کي يو څو کسانو ته ورکول کيږي، اوس د پوښتني وړ خبره دا ده چي ايا داسي جائزه اخيستل روا دي او که نه؟ حال دا چي ځيني مفتيان صاحبان وايي چي داسي جائزه پر سود او قمار باندي د اشتمال په سبب ناروا ده؟

الجواب: په دې صورت کې داسې جائزه ټاکل او په قرعه اندازۍ کې د نامه د راوتلو په صورت کې د هغې لاس ته راوړل روا او صحيح دي، نه دا په سود کې داخليږي او نه په قمار کې، سود خو ځکه نه دئ چې فقهاوو په آند سود ودې ته ويل کيږي چې د څه شي په بدل کې نه وي او زياتوالى په عقد (سودا) کې مشروط وي .

وګورئ د هدايې مصنف فرمايي:

الربا هو الفضل المستحق لأحد المتعاقدين فى المعاوضة الخالي عن عوض شرط فيه. (الهداية: ۳/ ۷۸).

او قمار ځکه نه سو ورته ويلاى چې د قمار تعريف فقهاوو دا فرمايلى دي، چې د جانبينو څخه د مال شرط ولګول سي. ((تعليق التمليک بالخطر من الجانبين))

خو په د دغو لاندې بيان سوي شرطونه بايد لحاظ وکړل سي:

۱ _ بايع په ثمن مثل باندې سامان وپلوري يعني په هغه قيمت چې په عامو دوکانو کې وي که چيري بايع د جائزې په سبب په قيمت کې زياتوالى راولي نو بيا به دا روا نه وي او دا معامله به په قمار کې داخله وي.

وګورئ په جديد احکامات کې شرعى احکام نومې کتاب کې راځي:

چې شيان د عام بازار قيمت ولري، که چيري هغه رانيوونکي شيان د (انعامي) جائزوي شي په سبب تر بازاري قيمت ګران پلوري نو بيا د جائزې په سبب دا سودا (معامله) صحيح نه ده او دا معامله په قمار کې داخليږي چې په شريعت کې حرامه ده. (جديد معاملات کی شرعی احکام :۱/ ۱۲٦، و اسلام اور جديد معاشی مسائل: ٤/ ۷٦).

۲ _ ځينو حضراتو دا شرط لګولى دئ چې رانيوونکي دې د جائزې ولاس ته د راوړلو په هدف نه ځي اصل هدف به يې شى رانيول وي بيا که جائزه لاس ته راوړي نو دا به روا وي او که د جائزې په هدف ولاړ سي نو دا قمار دئ.

حضرت مفتي محمد شفيع صاحب په جواهر الفقه کې وايي:

اوس پر نيت باندي مسئله پاتيږي که يو څوک د موهومي جائزي په هدف دا ټکټ رانيسي دا به يو ډول قمار وي او که يو څوک يوازي د منظري په نيت ولاړ سي او د جائزې لاس ته راوړل يې هدف نه وي نو بيا اتفاقاً جائزه لاس ته راوړي، ودې قوانينو ته په کتو سره دا د قمار څخه وزي. (جواهر الفقه: ٤/ ٥٦٦).

مولانا خالد سيف الله صاحب فرمايي:

که د رانيوونکي هدف يوه شي رانيول وو او د دې سره جائزه هم ورکول سوه نو په دې کي هيڅ تاوان نه سته او که اصل هدف جائزه لاس ته راوړل وو او د همدې هدف له پاره يې شيان رانيول نو دا صورت بيا ناروا دئ بلکي دا به د قمار په حکم کي وي. (كتاب الفتاوى: ٥/ ٢٤٩).

خو مفتي احسان الله شائق صاحب دا صورت هم روا بللي دئ. وګورئ (جديد معاملات كي شرعي احكام: ١/ ١٢٦).

لنډه دا ده چي د نه روايښت قول پر احتياط مبني دئ او د روايښت قول پر رخصت مبني دئ، د انعام (جائزې) دا بيان سوی صورت نه سود دئ او نه په قمار کي داخل دئ د دې يو څو دليلونه او مثالونه لاندي وګورئ:

حضرت مفتي نظام الدين صاحب فرمايي:

کله چي حقيقت دا سو چي دا لمبر و ده ته راوخيږي که نه؟ د ده پوره پيسې ده ته ورکول کيږي او کله چي وغواړي بيرته يې اخيستلای سي او د دې پيسو د ضايع کېدلو وهم (بېره) نه وي نو په دې مسئله کي قمار نه راځي، پاته سوه دا مسئله د لمبرونو پر راوتلو چي زياتي پيسې ورکول کيږي د دې شرعي حکم چي دا پيسې په سود کي بلل کيږي که نه؟ چي د پيسو جمعه کولو معامله دا شان وي چي د دې پيسو پر بيرته ورکولو هيڅ زياتي پيسې نه ورکول کيږي او معامله به غير سودي وي دا معامله سودي نه ده، بيا چي د زيادتي د لاس ته راوړلو يقين هم نه وي او نه د دې غوښتنه کيږي او نه ټولو ته زيادتي ورکول کيږي خو محکمه يوازي د خپل قانون پر برابر يو څو لمبرونو ته زياتي پيسې ورکول اعلانه وي او چي د چا نوم راسي هغو ته يې ورکوي او هيچا ته د زياتو پيسو د لاس ته راوړلو

د غوښتي حق هم نه وي نو ځکه که يو چا ته د لمبرونو پر ختلو يو څه زياتي پيسې ورکول سي که څه هم ديوې روپۍ په ځای کي سل روپۍ ورکي دې زيادتي ته په شريعت کي سود نه ويل کيږي.

تر دې ټولو بحثو وروسته دا خبره صافه ومخ ته راغله چي دا زيادت د محکمې له خوا تبرع (نيکي) ده او تبرع روا ده او ناورا نه ده نو ځکه د دې زيادت اخيستل روا دي خو که څوک تقوی وکړي نو دا جلا او ښه خبره ده. (منتخبات نظام الفتاوی: ۱/ ۱۹٤).

حضرت مولانا قاضي مجاهد الاسلام صاحب فرمايي:

دا تمليک مطلق هم پرېښول کيږي او ديوه شرط سره مشروط کېدلای هم سي مثلاً زما تر مرګ وروسته زما پلاني مکان (ځای) ستا له پاره وصيت دئ دا د مطلق مثال دئ او دا ويل چي که ته راتلونکی کال حج وکوي نو زه تر خپل مرګ وروسته پلانی مکان (ځای) ستا له پاره وصيت کومه دا د مشروط مثال دئ نو بيا که ده حج وکئ نو د وصيت کونکی تر مرګ وروسته به دا مکان يا د کوم شی وصيت چي دا مړي ورته کړی وي دا به د ده وي. (مجموعة قوانين الاسلامی: ص ۲٤۸).

(په دې وصيت کي هم ديوې خوا څخه تعليق الملک علی الخطر دئ بيا يې هم ودې ته روا ويلي دي ځکه د دواړو خوا وو څخه مال مشروط سوی نه دئ. لنډه دا چي قمار هغه وخت دئ چي د دواړو خواوو څخه شرط پيدا سي).

حضرت مفتي تقي عثماني وايي:

شرط صرف دا دئ چي کوم شی پلورل کيږي په ثمن مثل باندي وپلورل سي اوس که پلورونکي د قرعه اندازۍ سره ويو چا ته جائزه ورکوي نو دا تبرع (نيکي) ده چي روا ده. (اسلام اور جديد معاشی مسائل: ٤/ ۷۷).

مفتي اعجاز احمد صمداني صاحب فرمايي:

د دې څلورم شرط څخه د هغو ډېرو انعامي (جائزوي) ادارو حکم معلوميږي چي تجارتي کمپنۍ يې د خپل تجارت د پرمختګ له پاره کوي په دې ادارو کي که هغه د خپلو مصنوعاتو د هغه بازاري قيمت غوښتنه کوي چي د انعامي (جائزوي) ادارو څخه پر ته نوري يې کوي نو هغه صورت په قمار کي داخل نه دئ ځکه چي په دې صورت کي رانيوونکي د ورکړل سوو پيسو پوره بدل لاس

ته راوړي اوس که په انعام (جائزه) کې نوم ونه خيږي هم د ده څه تاوان نه دئ او که يې نوم راسي جائزه ورکړل سي دا د کمپنۍ له خوا څخه يوازي انعام (جائزه) ده چې د هغه اخيستل به روا وي.

(مالی معاملات پر غرر کی اثرات:ص ۳۸۷).

همدارنګه قرعه اندازي روا او صحيح ده ځکه چې قرعه اندازي پر هر داسي ځای باندي صحيح ده چيري چې ديو واجب حق باطلول پکښې نه وي بلکي په دې کي ياخو د حقوقو تميز (جلا والی) هدف وي يا د شروع څخه تبرع هدف وي او په هغه کي قرعه اندازی د زړو د خوشحال کولو له پاره وي او په يادسوي صورت کي په جائزه کي ابتدائي تبرع ده او ديو چا واجب حق نه دئ.

وګورئ په تکملة د فتح القدير کي راځي:

قوله: (والقرعة لتطييب القلوب وإزاحة الميل) قال الشراح: هذا جواب الاستحسان، والقياس يأباها .... ولكنا تركنا القياس هاهنا بالسنة والتعامل الظاهر من لدن رسول الله ﷺ إلى يومنا هذا من غير نكير منكرٍ .... ألا يرى أن يونس عليه السلام في مثل هذا استعمل القرعة مع أصحاب السفينة ..... وكذلك زكريا عليه السلام استعمل القرعة مع الأحبار في ضم مريم إلى نفسه ..... وكان رسول الله ﷺ يقرع بين نسائه إذا أراد السفر تطييباً لقلوبهن. (تكملة فتح القدير:۹/ ٤٤۰، دار الفكر، وكذا فى العناية على هامش فتح القدير:۹/ ٤٤۰).

په فتاوی عثماني کي راځي:

قرعه اندازي د جائزو د وېشلو له پاره روا ده. (فتاوی عثمانی:۳/ ۳٤۲). والله ﷻ اعلم.

سوالونه او جوابونه:

۱_ ځيني حضرات فرمايي، چې په دې کي نوم راوتل مشکوک دي نو ځکه دا تعليق الملک على الخطر کېدلو په سبب ناروا دئ.

وګورئ په شرح مجله کي راځي:

وأما الذي لايصح تعليقه بالشرط شرعاً فضابطه كل ماكان من التمليكات سواء كان مبادلة المال بمال من الطرفين أو لا كالبيع والإجارة والاستيجار والقسمة والهبة. (شرح مجلة: ١/ ٢٣٤).

الجواب: اولاً خو دا خبره په ذهن کي کښېنوي چي ((تعليق التمليک بالخطر)) صورت هغه وخت ناروا دئ چي له دواړو خواوو څخه مال مشروط وي ځکه چي د نص قراني له کبله په قمار کي داخل دئ.

﴿ يا أيها الذين آمنوا إنما الخمر والميسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشيطان فاجتنبوه﴾. (المائدة، الآية: ٩٠). والميسر القمار. وقال فى التعريفات الفقية: القمار مصدر قامر هو كل لعب يشترط فيه غالباً أن يأخذ الغالب شيئاً من المغلوب، وأصله أن يأخذ الواحد من صاحبه شيئاً فشيئاً فى اللعب ثم عرفوه بأنه تعليق الملک على الخطر والمال فى الجانبين. (التعريفات الفقهية، ١٧٧، بيروت).

وفي معجم لغة الفقهاء: القمار .... تعليق الملک على الخطر والمال من الجانبين. (معجم الفقهاء، ص:٣٦٩).

وفي تيسير الكريم الرحمن فى تفسير كلام المنان: وأما الميسر فهو كل المغالبات التي يكون فيها عوض من الطرفين. (تيسير الكريم الرحمن، ص:٨١).

په احکام القرآن کي راځي:

لا خلاف بين أهل العلم في تحريم القمار وأن المخاطرة من القمار قال ابن عباس رضي الله عنه: إن المخاطرة قمار وإن أهل الجاهلية كانوا يخاطرون على المال والزوجة وقد كان ذلک مباحا إلى أن ورد تحريمه. (احكام القرآن:١/ ٣٢٩).

پہ فتاوی شامي کي راځي:

لأن القمار من القمر الذي يزداد تارة وينقص أخرى، وسمي القمار قمارا لأن كل واحد من المقامرين ممن يجوز أن يذهب ماله إلى صاحبه ويجوز أن يستفيد مال صاحبه وهو حرام بالنص ولا كذلک إذا شرط من جانب واحد. (رد المحتار:٦/ ٤٠٣ – وكذا فی البحر الرائق:٨/ ٤٨٦).

پہ امداد الفتاوی کي راځي:

تعليق الملک على الخطر والمال من الجانبين. (امداد الفتاوی:٣/ ١٦١، ومثله فی جواهر الفقه:٢/ ٣٤٢).

دزیات تفصیل له پاره وګورئ: (اسلام اور جدید معاشی مسائل:٤/ ٧٢).

څنګه چي په پوښتل سوي صورت کي ((تعليق الملک على الخطر من الجانبين)) کي داخل نه دئ ځکه چي مشتري د خپل مال په ورکولو هغه خپل بدل د سامان په صورت کي لاس ته راوړ اوس پوازي د بايع له خوا څخه د جائزې لاس ته راوړلو د نوم راوتلو شرط دئ نو ځکه دا قمار نه دئ.

په اسلام اور جدید معاشي مسائل نومي کتاب کي راځي:

په دومره خبري باندي ځان پوه کول په کار دي چي قمار هغه وخت کيږي چي د يوې خوا څخه اداء کول يقيني وي او د بلي خوا څخه محتمل وي خو چي په کوم ځاى کي له دواړو خواوو څخه يقيني وي او بيا يوه خوا ووايي چي قرعه اندازي کوم نو دا قمار نه دئ. دوه تجاران دي دوی وايي، چي څوک زموږ څخه سامان رانيسي هريوه ته موږيوه پرچه ورکوو او وروسته به بيا يو وخت قرعه اندازي کوو او نو اوس دا قمار نه دئ. (اسلام اور جدید معاشی مسائل:٤/ ٧٦).

مفتي اعجاز احمد صمداني فرمايي:

كه چيري يو څوک د خپل مال حقيقي بدل لاس ته راوړي او بيا ده جائزه هم لاس ته راوړه نو دا سود نه دئ . (غرر کی اثرات:ص ٣٨٦). همدارنگه په جديد معاملات کی شرعی احكام:١/ ١٢٦).

مفتي محمد تقي عثماني صاحب فرمايي :

د جائزې يا قرعه اندازئ د شريكېدولو له پاره يې څه فيس نه وي وركړى نو دا قمار نه دئ او قرعه اندازي د جائزو د وېشلو له پاره رواه ده. (فتاوى عثمانى:٣/ ٣٤٢).

خو يوه د نيوكي خبره دا ده چي د مجلې شارح ((تعليق الملک بالخطر من جانب واحد)) كه په تمليكاتو كي وي دا يې هم ناروا گڼلى ده د دې جواب څه دئ؟

د دې جواب دا دئ چي د مجلې د شارح نور عبارتونه او نور كتابونه چي په ژور كتلو سره وكتل سي نو معلوميږي چي دا كليه قاعده نه ده او د دې قاعدې څخه استثناگاني هم سته چي د هغو څخه معلوميږي چي د يوې خوا څخه شرط لگول صحيح دي كه څه هم په دې كي د تمليک طرف وي .

وگورئ په شرح مجله كي راځي :

وما كان من الإطلاقات كالإذن بالتجارة وكالو كالة أو الو لايات كالقضاء والإمارة.... أو ما كان من التحريضات صح تعليقه بالملائم وذلک كقول المولى لعبده إن قبضت لى من فلان الألف التي لي عليه فقد أذنت لک بالتجارة.... وإن وصل إليک كتابى فقد عزلتک وكقول الإنسان للدائن إذا جاء مديونک من سفره فأنا كفيل لما لک عليه.... وأما غير الملائم كأن هبت الريح أو دخلت الحمام فلا يصح. (شرح المجلة:١/ ٢٣٣).

د پورته بيان سوي قاعدې څخه معلومه سوه چي په تحريضاتو او ترغيبانو كي د يو طرف د عقد سره مناسب شرط لگول روا دي او په دې پوښتل سوې مسئله كي هم د تحريض يوه خوا په دې معنا كېدلاى سي چي خپل تجارت مشهورولو او پر مخ بېولو له پاره رانيوونكي لمسول دي او په قرعه اندازي باندي د جايزې شرط د سودا سره مناسب دئ نو دا صحيح بلل په كار دي.

همداسې د تبرع مشروط په ډول ده ځکه پلورونکی چې جائزه ورکوي د یو شی په بدل کې نه ده بلکې د پیل شخه یو تبرع ده او په تبرع کې شرط لګول روا دي چې د چانوم راځي هغه به جائزه لاس ته راوړي لکه څنګه چې مبارک ﷺ د حضرت عائشې رضی الله عنها د مېلمستیا شرط لګولی وو او د ابو بکر رضی الله عنه سره د حضرت براء رضی الله عنه پلار شرط لګولی وو او داسې نور.

وګورئ په مسلم شریف کې راځي:

عن أنسٍ رضی الله عنه أن جارًا لرسول الله رضی الله عنه فارسيا كان طيب المرق فصنع لرسول الله ﷺ ثم جاء يدعوه فقال: « وهذه». لعائشة رضی الله عنها فقال لا. فقال رسول الله ﷺ « لا » فعاد يدعوه فقال رسول الله ﷺ « وهذه ». قال: لا، قال رسول الله ﷺ « لا » ثم عاد يدعوه فقال رسول الله ﷺ « وهذه ». قال: نعم في الثالثة، فقاما يتدافعان حتى أتيا منزله. (رواه مسلم:۲/ ۱۷٦).

د پورته بیان سوي حدیث خلاصه دا ده چې یوه سړي ومبارک ﷺ ته مېلمستیا وکړه مبارک ﷺ د ام المؤمنین حضرت عائشې رضی الله عنها شرط هم ولګاوو هغه انکار کاوو بیا یې درېیم وار اجازه ورکړه نو مبارک ﷺ د عائشې رضی الله عنها سره یو ځای ولاړئ.

همداسې حضرت ابو بکر رضی الله عنه د حضرت عازب رضی الله عنه شخه د اوښ بار رانیوئ او د عازب رضی الله عنه شخه یې غوښتنه وکړه چې هغه خپل زوی براء رضی الله عنه ته ووایې، چې دغه بار زما تر کوره را سره ورسوي عازب رضی الله عنه وویل چې یا، خو په دې شرط چې ته د هجرت قصه راته بیان کړې حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه د هجرت قصه ورته بیان کړه او حضرت براء رضی الله عنه بار ورسره ورساوو.

وګورئ په بخاري شریف کې راځي:

عن البراء رضی الله عنه قال اشترى أبو بكرٍ رضی الله عنه من عازبٍ رضی الله عنه رحلاً بثلاثة عشر درهمًا فقال أبو بكرٍ رضی الله عنه لعازبٍ رضی الله عنه: مر البراء فليحمل إلي رحلي فقال عازب رضی الله عنه: لا، حتى تحدثنا كيف صنعت أنت ورسول الله ﷺ حين خرجتما من مكة والمشركون يطلبونكم قال: ارتحلنا.... الخ. (رواه البخاري:۱/ ۵۱۵، في مناقب المهاجرين).

په جدید معاملات کې شرعی احکام کې راځي:

دا جایزه د دوکاندار له خوا څخه احسان دئ او د هیڅ شي بدل نه ده. (اسلام اور جدید معاشی مسائل: ۱/ ۱۲٦).

اشکال: د شرح مجلې د قاعدې څخه معلومیږي چې په تملیکاتو کې شرط دیوې خوا څخه نه صحیح کیږي او هبه یې هم په تملیکاتو کې شمېرلي ده حال دا چې هبه تبرع ده نو نتیجه دا سوه چې په تبرعاتو کې شرط لګول هم ناروا دي؟

الجواب: د شرح مجلې د زیات تفصیلي عبارت څخه معلومیږي چې هغه تملیکات چې هغه د شرط سره مشروط کیږي پر دوه ډوله دي:

۱_ هغه معامله چې په هغې کې تبادلة المال باالمال وي.

۲_ هغه معامله چې په هغې کې تبادلة المال باالمال نه وي.

بیا د دواړو حکم جلا دئ یعني هغه معاملې چې د اول ډول سره تړاو ولري هغه د فاسد شرط په سبب خپله فاسدیږي خو هغه چې د دوهم ډول سره تړاو لري په هغو کې که فاسد شرط چې مناسب شرط نه وي هغه لغوه کیږي معامله خپله صحیح کیږي یعني په هبه کې د موهوب ملکیت پر دې باندې راځي او د فتاوی شامي له عبارت څخه معلومیږي چې د شرط څخه هغه شرط هدف دئ چې هغه نامناسب وي معنا دا چې مناسب شرط صحیح دئ او نامناسب شرط په هبه کې باطلیږي.

وګورئ په شرح مجله کې راځي:

لكن ما كان فيه مبادلة مال بمال يبطل أيضاً بالشرط الفاسد كالبيع ومالیس كذلك كالهبة والصدقة والإبراء.... لايبطل بالشرط الفاسد بل يصح ويلغو الشرط. (شرح المجلة: ۱/ ۲۳٤).

او تبرعات د دوهم ډول څخه دی نو ځکه نامناسب شرط خپله لغوه کیږي او معامله به صحیح سي.

خبر تیا: د یادولو وړ ده چې په شرح مجله کې په تبرعاتو کې په ښکاره هر ډول شرط فاسد ګڼلی دئ حال دا چې د علامه شامي رحمه الله له عبارت څخه دا معلومیږي چې په تبرعاتو کې مناسب شرط

صحیح دئ او نامناسب شرط فاسد دئ نو له هم دې کبله به د شرحي مجلې عبارت پر نامناسب شرط باندي ورحمل کو نو هغه نیوکه به ختمه سي.

وګورئ په الدر المختار کي راځي:

ويصح تعليق هبة وحوالة وكفالة وإبراء عنها بملائم. (الدر المختار:٥/ ٢٥٥٩).

او په بل ځای کي راځي:

وما يصح ولايبطل بالشرط الفاسد.... قوله والهبة والصدقة كوهبتک هذه المائة أو تصدقت عليک على أن تخدمنى سنة فتصح ويبطل الشرط لأنه فاسد وفى جامع الفصولين ويصح تعليق الهبة بشرط ملائم.... ولو مخالفاً تصح الهبة لا الشرط. (الدر المختار مع رد المحتار).

او د بیان سوي احادیثو څخه هم دا را معلومیږي چي په تبرعاتو کي مناسب شرط لګول صحیح دي.

۲_ **اشکال**: د آس زغلولو او غشي ویشتلو علمي مسابقو او داسي نورو مسابقو باندي د جائزې ولاس ته راوړلو د تحریضاتو او ترغیباتو له دلې څخه ده، په دې کي ویوه صفت ته پرمختګ ورکول هدف دي مثلاً په لومړي صورت کي جهاد زده کړه او په دوهم صورت کي علمي پرمختګ دئ حال دا چي ستا په پوښتل سوي صورت کي په هیڅ صورت کي د یوه صفت پرمختګ هدف نه دئ.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

فيباح كل الملاعب أي التي تعلم الفروسية وتعين على الجهاد لأن جواز الجعل فيما مر إنما ثبت بالحديث على خلاف القياس فيجوز ما عداها بدون الجعل. (فتاوى الشامي:٦/ ٤٠٢، سعيد).

الجواب: ۱_ د دې جواب دا دئ چي پر کومو ځایو جائزه تاکل کیږي د دې درې ډولونه دي:

الف _ د مسابقاتو له ډلي څخه وي، او مسابقه ګټوره هم وي نو په دې کي له یوې خوا جائزه ټاکل بالاتفاق روا ده بلکي ښه هم ده.

باء _ د مسابقاتو له ډلي څخه ده، خو هغه نه د جهاد معاون (کومک کونکي) او نه ګټوره وي په دې کي له یوې خوا جائزه ټاکل ښه نه ده که څه هم مسابقه روا او صحیح ده د دې له پاره چي د دې مسابقې څخه د هغه سړي زړه مات سي.

ج _ چي تبرعات، تحریضات او ترغیباتو له ډلي څخه وي او په دې کي له یوې خوا څخه جائزه وټاکل سي نو علامه شامي رحمه الله فرمايي چي دا روا او صحیح ده.

قال ابن عابدین رحمه الله : ألقى شيئاً وقال: من أخذه فهو له فلمن سمعه أو بلغه ذلك القول أن يأخذه .... لأنه أخذه على وجه الهبة وقد تمت بالقبض. (فتاوى الشامي:٤/ ٢٨٥، سعيد).

په فتاوی سراجیه کي راځي:

رجل قال لآخر من أكل من مالي فهو في حل قيل لايحل لأحد أن يأكل والفتوى على أنه يحل. (الفتاوى السراجية:ص ٤٠٣).

په فتاوی عالمګیري کي راځي:

إذا وضع الرجل مقدارًا من السكر أو عددًا من الدراهم بين قوم وقال من شاء أخذ منه شيئًا أو قال من أخذ منه شيئًا فهو له فكل من أخذ منه شيئًا يصير ملكًا له. (الفتاوى الهندية:٥/ ٣٤٥).

او د کومي مسئلې په اړه چي مورد بحث کوو هغه د دریم ډول څخه ده په دې اساس په دې کي یو طرفه (دیوې خوا) څخه جائزه ټاکول روا دي که څه هم دیوه صفت د پرمختګ له پاره نه ده.

۳ _ اشکال: حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوي رحمه الله دیوه عبارت څخه ناروا والي معلومیږي د هغه عبارت لاندي دئ.

د دې لنډيز دا دئ چې پلورل او رانيول د جائزې په شرط سره ده او په شريعت کې داسې پلورل او رانيول ناروا دي چې په هغه کې يو داسې خارجي شرط وي چې د دواړو خواوو څخه يوه ته ګټه وي.

(آپ کی مسائل اور ان کا حل:٦/ ٢٧٧).

الجواب: په ښکاره مو د حضرت مولانا په عبارت سر نه خلاصيږي ځکه چې جائزه د تجارت سره مشروطه نه وي که څوک جائزه نه اخلي نو زور ورباندې نه سته او سامان بېله جائزې هم لاس ته راځي او بيا د حضرت دا خبره چې رانيول او پلورل د جائزې په شرط دي په دې خبره هم موږ نه پوهيږو بيا دلته جائزه مشروطه نه ده بلکې موهومه ده. د مشروط کېدلو مطلب دا دئ چې هر رانيوونکي د جائزې حقدار وي حال دا چې داسې نه ده د حضرت مفتي نظام الدين د ليکني څخه هم روا والی رامعلوميږي او دا هم راڅرګنديږي چې دا زياتوالی مشروط نه دئ بلکې دا يوازې جائزه ده. وګورئ:

او بيا د دې زياتوالي د لاس ته راوړلو يقين هم نه سته او نه د دې غوښتنه کيږي او نه ټولو ته دا زيادتي ورکول کيږي خو محکمه يوازې د خپل قانون پر برابر وچا ته چې وغواړي و يو څو لمبرو ته د زياتو پيسو اعلان کوي او چې د چا نوم را ووځي هغو ته يې ورکوي، دا زياتوالی د محکمې له خوا تبرع ده او تبرع روا ده او ناروا نه وي نو ځکه دا زيادت اخيستل روا دي او بيا د حديث شريف ((کل قرض جر نفعا)) هغه (جر) به وي چې هغه په عقد کې ګټه شرط کړل سوې وي او دلته داسې نه ده.

(منتخاب نظام الفتاوی:١/ ١٩٥).

۴_ اشکال: ځينې وختونه انعام د نغدو په شکل کې لاس ته راوړل کيږي او دا سود دئ ځکه کومې پيسې چې يې اداء کړي وي دا تر هغو څو چنده زياتې دي او دا زيادتې بلاعوضه دی ولاس ته راوړي نو ځکه دا سود دئ.

وګورئ په تبيين الحقائق کې راځي:

الربا فضل مال بلاعوض فی معاوضة مال بمال. (تبين الحقائق:٤/ ٨٥، ط: ملتان).

الجواب: دا پوښتل سوي صورت کي په سود کي داخلول بې ګټې دئ ځکه سود دې ته وايي چي هغه مالي معاوضه د زيادت سره مشروطه وي چي په بيان سوې مسئله کي شرط کړل سوی نه ده بلکي موهومه ده او نه هر يوه ته ورکول کيږي او نه هر يو د غوښتلو حق لري او د رانيوونکي معامله د سامان په عوض کي وي او هغه د نغدو په بدل کي سامان او مبيعه لاس ته راوړل، د انعام سره يې په ښکاره څه تړاو نه سته يوازي دومره ده چي د خريداری (رانيولو) په فهرست کي د کېدلو په سبب په قرعه اندازي کي د نوم ختلو په سبب د پلورونکي له خوا يوازي احساناً يو جائزه يې لاس ته راوړه چي موهومه ده.

د ربا تعريف وګورئ: په هدايه کي راځي:

الربا هو الفضل المستحق لأحد المتعاقدين في المعاوضة الخالي عن عوض شرط فيه. (الهداية:۳/ ۷۸).

د هدايې په شرحه العنايه کي راځي:

الزبا فی اللغة هو الزيادة.... وفی الاصطلاح هو الفضل الخالی عن العوض المشروط فی البيع. (العناية:۳/ ۷، ومثله فی الدر المختار:۵/ ۱۶۷، سعيد).

په معجم لغة الفقهاء کي راځي:

الربا کل زيادة مشروطة فی العقد خالية عن عوض مشروع. (معجم لغة الفقهاء، ص ۲۱۸ وکذا فی التعريفات الفقهية:ص ۱۰۲).

حضرت مفتي نظام الدين صاحب فرمايي، د شرعي سود په معنا کي چي څومره عبارتونه فقهاوو نقل کړي دي د هغو ټولو حال دا دئ چي په ربوی مالونو کي د عقد معاوضه معامله وي او په هغه عقد کي د يو طرفه يو زيادت بيله عوضه وي يعني چي په هغه کي فائده په عقد معامله کي شرط کړل سوې وي. (منتخبات نظام الفتاوی:۱/ ۱۹۵).

او دا معامله به د نیونکي ور هغه وخت وي چي جائزه د نغدو په شکل کي وي که چیري جائزه د
یو بل جنس په شکل کي وي نو بیا هیڅ د اشکال خبره نه ده ځکه د احنافو په مذهب کي د سود د
راتګ له پاره د دوارو خوا وو څخه هم جنس کېدل ضروري دي.

وګورئ په هدایه کي راځي:

فالعلة عندنا الكيل مع الجنس أو الوزن مع الجنس. (الهداية:۳/ ۷۸).

وفي معجم لغة الفقهاء: ربا الفضل بيع شيء من الأموال الربوية بجنسه متفاضلاً. (معجم لغة
الفقهاء، ص ۲۱۸). والله ﷻ اعلم.



عن عائشة رضي الله عنها قالت: «توفي رسول الله ﷺ ودرعه مرهونة عند يهودي بثلاثين صاعا من شعير». (رواه البخاري).

قال رسول الله ﷺ: «من أخذ أموال الناس يريد أداءها أدى الله عنه ومن أخذ يريد إتلافها أتلفه الله». (رواه البخاري).

د قرض او د پورونو د حکمونو بیان

د قرضو او پورو حکمونه

د قرضدار (پور وړي) د پور د ځنډولو حکم

سوال: یوه سړي ویو چا ته قرض ورکړی دئ خو قرض غوښتونکي یې ځیني غواړي بیا هم پور وړی ځان دوري دوري کوي (چون او چرا کوي) د دې څه حکم دئ؟

الجواب: د څه شرعي عذره پرته د یو چا پیسې نه ورکول او د پراخۍ سره سره بیا د هغه د غوښتني سره سره د شریعت په رڼا کي دا ظلم دئ او حرام دئ، نو ځکه پور وړي ته لازمه ده چي ژر تر ژره د هغه حق اداء کړي.

عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال: مطل الغني ظلم.... متفق عليه. (مشكوة شريف: ۱/ ۲۵۱، باب الافلاس والانظار، قديمى).

ژباړه: حضرت ابو هریره رضي الله عنه بیان کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چي د غني سړي چون او چرا کول ظلم دئ.

وعن الشريد رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: لي الواجد يحل عرضه وعقوبته، قال ابن المبارك: يحل عرضه يغلظ له عقوبته يحبس له، رواه أبو داؤد، والنسائي. (مشكوٰة شریف: ۱/ ۲۵۷، باب الافلاس والانظار، قدیمی).

ژباړه: حضرت شرید رضي الله عنه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د مالدار سړي چون اوچړاو ده عزت او سزا حلالوي حضرت عبد الله بن مبارک رحمه الله فرمايي، ((یحل عرضه)) یعني په ژبه به دې ملامت کول کیږي او سزا دا ده چي دی به په بندکي اچول کیږي.

په ترمذي شریف کي راځي:

عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه قال: صلى بنا رسول الله ﷺ يوماً صلاة العصر بنا بنهار ثم قام خطيباً فلم يدع شيئاً يكون إلى قيام الساعة إلا أخبرنا به... وفيه ألا وخيرهم الحسن القضاء الحسن الطلب، ألا وشرهم سيئ القضاء وسيئ الطلب.... الخ. (رواه الترمذی: ۲/ ۴۳، باب ما اخبر النبی ﷺ اصحابه بما هو کائن الی یوم القیامة، فصل).

د یوې کاسي غنمو د قرض اخیستلو حکم

سوال: که یو څایوه صاع غنم د یوې صاع غنمو په بدل کي تر یوې میاشتي وپلورل نو دا ناروا دی او که یوه صاع غنم تر یوې میاشتي په قرض ورکړي دا بیا روا دي او عمل هم په کیږي حال دا چي تر قاعده ((الاعتبار للمعاني)) لاندي د دواړو هدف یو دئ، فقهاء وايي کفالة بشرط براءة الدین حواله ده او حواله بشرط اعطاء المدیون کفاله ده ځکه چي اعتبار معنا ته دئ چي د معناوو اعتبار دئ نو قرض بیا ولي روا دئ؟

الجواب: د قانون غوښتنه خو دا ده چي دا قرض هم ناروا سي خو ځنګه چي رسول الله ﷺ قرض اخیستي او په داسي حال کي دی مبارک ﷺ وفات سو چي د یهودي څخه یې قرض اخیستی وو نو ځکه استحساناً بالحدیث روا دئ لکه سلم چي د بیعي د معدوم څخه مستثنی دئ. همداسي په قرض کي ضرورت هم دئ نو ځکه قرض اخیستل او ورکول روا دي.

وګورئ په بخاري شريف، کي راځي :

عن عائشة ، رضي الله عنها، قالت: توفي رسول الله ﷺ ودرعه مرهونة عند يـهودي بثلاثين صاعًا من شعير.(رواه البخاری:۲/ ٦٤١، فصيل).

په بل روايت کي راځي :

عن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: « من أخـذ أموال الناس يريد أداءها أدى الله عنه (أي يسر عليه أداء دينه) ومن أخذ يريد إتلافها أتلفه الله. (رواه البخاری:۱/ ۳۲۱، باب من أخذ أموال الناس).

حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي، چي رسول الله ﷺ وفرمايل، چي چا د چا څخه قرض د اداء کولو په نيت واخيستئ نو خدای جل جلاله ده ته د دغه قرض اداء کول اسانه کوي او چا چي قرض د نه اداء کولو په نيت واخيستئ الله جل جلاله هغه تلف کوي يعني د ده له پاره په راتلونکي وخت کي اسانتيا نه ور په برخه کوي بلکي پر ده باندي نوره تنګی را ولي.

په بدائع الصنائع کي راځي :

القرض يسلك به مسلك العارية .... والدليل على أنه يسلك به مسلك العارية : أن لا يـخلو ، إما أن يسلك به مسلك المبادلة وهي تمليك الشيء بمثله أو يسلك به مسلك العارية لا سبيل إلى الأول ؛ لأنه تمليك العين بمثله نسيئةً ، وهذا لا يـجوز ؛ فتعين أن يكون عاريةً ؛ فجعل التقدير كأن المستقرض انتفع بالعين مدةً ، ثم رد عين ما قبض ، وإن كان يرد بدله في الحقيقة ، وجعل رد بدل العين بمنزلة رد العين .(بدائع الصنائع، فصل فی شرائط القرض، كتاب القرض:۷/ ۳۹٦، سعيد).

په عالمګيري کي راځي :

وعن أبي يوسف رحمه الله في رواية يجوز استقراضه (الدقيق) وزنًا استحسانًا إذا تعارف الناس ذلك وعليه الفتوى كذا في الغياثية . (الفتاوى الهندية: ۳/ ۲۰۱).

په جدید معاملات کي شرعي احکام نومي کتاب کي راځي:

د خوراک او څښاک په شیانو کي عادة د تسامح څخه کار اخیستل کیږي په دې کي د قرض ورکول او اخیستلو څخه هدف ګټه لاس ته راوړل نه وي بلکي یوازي د وخت ضرورت پوره کول هدف وي او په دې کي یو معمولي زیادت یا کمښت په سود کي داخل نه دئ نو ځکه په دې شیانو کي سود نه راځي. (جدید معاملات کی شرعی احکام: ۱/ ۱۸۷).

په احسن الفتاوی کي راځي:

مبادلة الجنس بالجنس کېدو په سبب د ربا مغالطه کېدلای سوای خو په حقیقت کي په دې صورت کي سود نه سته بلکي دا قرض دئ او سود هغه وخت راځي چي مبادلة الجنس بغیر الجنس وي یا مبادلة الجنس بالجنس وي او په دې کي د بیع لفظ یا مبادله یا معاوضه استعمال سوې وي او که جنس ورکوي او د هماغه جنس د بیرته اخیستلو معامله وي خو د بیع مبادله یا معاوضه الفاظ ونه وایي، نو دا قرض دئ که د قرض لفظ ووایي او که یې ونه وایي او بیله شکه دا روا دئ. (احسن الفتاوی: ۷/ ۱۷۳).

او په عطریه هدایه کي راځي:

او په قرض کي دا صورت هم بیع نسیةً بالجنس الواحد کي هم د داخلېدو په سبب سود وو خو څنګه چي د دې هدف بالذات په اعتبار د وضعي صله او احسان دئ خو مبادله مقصود بالذات نه ده مقصود بالذات احسان او صله ده ځکه شارع دا روا بلکي مندوب ګڼلې ده او د دې پر روا والي د امت اجماع ده.

د هدایې په حاشیه کي دي. « قوله وهو ربا وهذا يقتضى فساد القرض لكن ندب الشارع إليه وأجمع الأمة على جوازه. (حاشية الهداية: ۳/ ۷۶، رقم الحاشية: ۱۹). (عطر هداية: ص ۴۱۶).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (معلم الفقه ترجمه اردو مجموعة الفتاوی:۲/ ۱۷۶، باب القرض والرشوة). والله تعالیٰ اعلم.

د افغانۍ په قرض کې د ډالرو د اداء کولو حکم

سوال: یوه سړي وبل ته یو لک افغانۍ په قرض کې تر یوه کاله پورې ورکړلې بیا که دی وخپل پور وړې ته ووایي چې دیوه کال په تېرېدو سره به ته وما ته د افغانۍ پر ځای پنځلس زره ډالر راکوې نو ایا دا روا ده او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې دائن ومدیون ته دا ویل چې دیوه لک افغانۍ په عوض کې یو کال وروسته پنځلس زره ډالر راکه او دا یو لک افغانۍ په همدغه مجلس کې ورکې نو دا معامله روا او صحیح ده او په دې کې نه سود سته نه داسې نور ځکه چې پیسې ثمن خلقي نه دي بلکې عرفي دي او همداسې د مختلفو هیوادو پیسې مختلف الجنس ګڼل کیږي نو ځکه تقابض في المجلس ضروري نه دئ او نسیئة هم روا ده خو پر یوه پیسه باندې قبضه کول د دې له پاره ضروري ده چې بیع الکالی بالکالی رانه سې.

وګورئ په فقهي مقالات کې راځي:

په تجارانو او عامو خلکو کې دا رواج دئ چې دوی دیوه هیواد پیسې وبل چا ته په دې شرط ورکوي چې ته به د دې په بدل کې په فلاني ځای کې د فلاني هیواد پیسې بیا راکوې د امام ابو حنیفه رحمه الله په آند دا معامله روا ده ځکه چې د هغه په آند دا ثمانو په بیعه کې د بیعي په وخت کې د ثمن د عقد کونکي په ملکیت کې کېدل شرط نه دي ځکه چې جنسین مختلف وي نو پور پکښې روا دئ همداسې شمس الائمه سرخسي لیکلي دي:

وإذا اشترى الرجل فلوسا بدراهم ونقد الثمن، ولم تكن الفلوس عند البائع فالبيع جائز؛ لأن الفلوس الرائجة ثمن كالنقود، وقد بينا أن حكم العقد في الثمن وجوبها ووجودها معًا، ولا يشترط قيامها في ملك بائعها لصحة العقد كما يشترط ذلك في الدراهم والدنانير. (المبسوط للامام السرخسي:۱٤/ ۲٤، باب البيع بالفلوس، ادارة القرآن). (ماخوذ از فقهی مقالات:۱/ ٤۲).

په جديد معاملات کي شرعي احکام نومي کتاب کي راځي:

د دوو هيوادوو پيسې په مختلف الاجناس کي داخل دي له همدې کبله د هغو نومونه هم بدل وي چي د دواړو جنس مختلف دئ نو د يوه هيواد پيسه د بل هيواد د پيسې سره په کمښت او زياتوالي سره سودا کول روا دي او د دې کاروبار کول هم روا دي خو دا ضروري ده چي د عقد په مجلس کي د دواړو خواوو څخه ديوې خوا (فريق) متبادل پيسو باندي قبضه وسي که چيري د هيڅ يوې خوا هم د عقد په مجلس کي متبادل پيسو باندي قبضه ونه کړه بلکي معامله يې وکړله دواړه د وروسته اداء کولو پر وعده سره جلا سول نو دا روا نه ده ځکه چي په دې کي افتراق دين بدين راځي چي د حديث له رويه ممنوع دئ.

قال العلامة برهان الدين المرغيناني: وإذا عدم الوصفان الجنس والمعنى المضموم إليه حل التفاضل والنساء لعدم العلة المحرمة والأصل فيه الإباحة وإذا وجدا حرم التفاضل والنساء لوجود العلة وإذا وجد أحدهما وعدم الآخر حل التفاضل وحرم النساء. (الهداية: ۳/ ۷۹، باب الربا، دار الفكر). (جديد معاملات کی شرعی احکام: ۱/ ۱۳۹).

په جديد معاملات کي شرعي احکام نومي کتاب کي راځي:

د قرض د روا والي له پاره مثلي کېدل شرط دي او د کومو شيانو چي مثل نه وي هغه د قرض په ډول ورکول ناروا دي ځکه په قرض کي چي کوم شی تا ورکړی وي د هغه مثل شرعاً پر ده لازم دئ.

قال العلامة الصابوني: ونص الفقهاء على أن قرض المكيل والموزون جائز كاستقراض الحب والشعير، والتمر والزبيب وكالاستقراض السمن والزيت، وكل ما يكال ويوزن، وأما مالا مثل له فلا يجوز إقراضه كاللآلى، والجوهرات، وهذا مذهب أبي حنيفة وأجاز الشافعية والحنابلة إقراض مالا مثله له إذا كان معروف القيمة، فيجب رد القيمة. (فقه المعاملات).

حاصل دا چي د مکيلي او مزوني شی مثل موجود وي نو دا په قرض ورکول روا دي او چي شيان غير مثلي دي کومو ته چي ذوات القيم ويل کيږي هغه د قرض په ډول ورکول روا نه دي خو دراهم او

دنيار او نورې پيسې د قرض په ډول ورکول هم روا دي ځکه چي د هر هيواد پيسه په هغه هيواد کي د ذوات الامثال دي. (جديد معاملات کی شرعی احکام:۱/ ۱۸۳). والله ﷻ اعلم.

د قيمت د کمېدو په صورت کي د زيات ولاس ته د راوړلو حکم

سوال: ما و زيد ته زر افغانۍ د قرض په ډول ورکړلې او د يوه کال موده مو ورټاکله اوس سوال دا دئ چي زيد تر يوه کال وروسته چي ما ته دا پيسې راکوي نو د دې قيمت زر نه بلکي کم سوی دئ نو اوس که زر پر هغه زاړه قيمت لاس ته راوړمه نو زما تاوان دئ نو ايا يو داسي صورت سته چي زه د تاوان څخه هم او د سود څخه هم وژغورل سم؟

الجواب: په دې صورت کي ته يوازي زر افغانۍ چي هغه تاورکړي دي اخيستلای سې د دې څخه د زياتو اخيستلو اجازه نه سته ځکه چي د زياتو اخيستلو په سبب ربا پيدا کيږي او په قرضو کي د مودې په پوره کېدو سره مثلي شی بيرته ورکول کيږي له همدې کبله په قيمتي شيانو کي قرض روا نه دئ او ثمن اصطلاحي د مثلي شيانو په حکم کي دي.

وګورئ په درمختار مع فتاوی شامي کي رائحي:

(القرض عقد مخصوص) أي بلفظ القرض ونحوه (يرد على دفع مالٍ) بمنزلة الجنس (مثلي) خرج القيمي (لآخر ليرد مثله) (وصح القرض في مثلي) هو كل ما يضمن بالمثل عند الاستهلاك (لا في غيره) (قوله في مثلي) كالمكيل والموزون والمعدود المتقارب كالجوز والبيض .... واستقراض من الفلوس الرائجة والعدالى .... وكذا كل ما يكال ويوزن لما مر أنه مضمون بمثله فلا عبرة بغلائه ورخصه . وفي كافي الحاكم، لو قال : أقرضني دانق حنطةٍ فأقرضه ربع حنطةٍ ، فعليه أن يرد مثله إلى أن قال وكذلک لوقال أقرضني عشرة دراهم غلةٍ بدينارٍ ، فأعطاه عشرة دراهم فعليه مثلها ، ولا ينظر إلى غلاء الدراهم ، ولا إلى رخصها ،

وفي الفتاوى الهندية : استقرض حنطةً فأعطى مثلها بعدما تغير سعرها يجبر المقرض على القبول. (الدر المختار مع فتاوى الشامي:٥/ ١٦١-١٦٢، باب القرض، سعيد).

همدارنګه دا مسئله د غصب په شان ده که چیري غاصب (زور واکي) یو شی غصب کړي بیا هغه شی قیمت کم سو کله چي یې بیرته وخپل مالک ته ورکوي نو د همغه شی بیرته واپس کول ضروري دي او د هغه شي د قیمت وکمښت یا زیاتولي ته اعتبار نه سته.

وګورئ په فتاوي شامي کي راځي:

ولو وجده المغصوب في بلد الغصب ونقص السعر يأخذ العين لا القيمة يوم الغصب. (الفتاوى الشامي:٦/ ١٨٢، سعيد).

په هدایه کي راځي:

بخلاف تراجع السعر إذا رد فى مكان الغصب لأنه عبارة عن فتور الرغبات دون فوات الجزء. (الهداية:٣/ ٣٧٥).

خو که چیري ته له تاوان څخه ځان ژغورل غواړې نو دا حیله کولای سې که چیري سپین زر د افغانۍ په بدل کي په قرض ورکې ځکه چي په عام ډول باندي د زرو قیمت نه کمیږي بلکي زیاتیږي چي د قرضو موده پوره سي د مقروض څخه سپین زر واخلي. والله تعالیٰ اعلم.

په قرضو کي د تعجیل په شرط د کمي کولو حکم

سوال: د یوه سړي پر بل باندي لس زره افغانۍ موجل دي، مدیون وده ته وویل چي ته زر را وبخښه زه اوس دستي هغه نهه زره اداء کوم ایا دا روا دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که چیر شرط یې ولګاوو نو دا معامله روا نه ده خو د شرط پرته که چیري صلحه سره وکړي نو دا نیکي (احسان) دئ چي دائن د پور په کمولو سره پر مدیون احسان وکړي او مدیون په ژر تر ژره په اداء کولو سره پر دائن احسان وکړي همدارنګه که یو ثالث (درېیمه) د صلحي په ډول ووایي چي ته دومره پیسې ور وبخښه نو مدیون یې اوس اداء کوي د دې هم ګنجائش سته. په روایت کي راځي چي پر حضرت عبد الله بن ابی حدرد رضی الله عنه د حضرت کعب بن

مالک رضي الله عنه قرض وو او په مسجد کي د دواړو بحث وو نبي کريم ﷺ راغلي او دائن ته يې وفرمايل، ته نيمي ور وبخښه او مديون ته يې وفرمايل، چي ته يې اوس اداء کړه او مديون اداء کړې او مبارک ﷺ دا پوښتنه ونه کړه چي دين معجل دئ او که مؤجل نو معلومه سوه چي که چيري مؤجل وي بيا هم د صلحي په ډول يا د تعجيل د شرطه سره د دين ځيني برخې معاف کېدلای سي.

وګورئ په تكملة ردالمختار کي راځي:

وذكر في شرح الكافي للإسبيجابي جواز هذا الصلح مطلقاً على قياس قول أبي يوسف لأنه إحسان من المديون في القضاء بالتعجيل وإحسان من صاحب الدين في الاقتضاء بحط بعض حقه وحسن هذا إذا لم يكن مشروطاً في الآخر، وأما إذا شرط أحدهما في مقابلة الآخر فدخل في الصلح معاوضة فاسدة فيكون فاسداً وهكذا في غاية البيان. (تكملة رد المحتار:۲/ ۲۵۳، سعيد).

خو که يې شرط لګولی وي نو بيا صحيح نه ده. وګورئ په هدايه کي راځي:

قال ولو كانت له ألف مؤجلة فصالحه على خمسمائة حالة لم يجز لأن المعجل خير من المؤجل وهو غير مستحق بالعقد فيكون بإزاء ما حطه عنه وذلك اعتياض عن الأجل وهو حرام . (الهداية:۳/ ۲۵۱، باب الصلح عن الدين).

لنډه دا چي شرط نه، البته وعده وي يعني دائن وعده وکړي چي انشاء الله که تا زر پور اداء کړئ نو زما وعده ده چي نيمي به بيرته واپس درکوم نو دا صحيح ده، همداسي د نغدو پر ځای د سامان شرط ولګوي مثلاً دا ورته ووايي چي دا نيمی پور سامان اداء که بيا هم هيڅ ګناه نه سته او شرط لګول بيا هيڅ تاوان نه کوي.

قال الجصاص رحمہ اللہ فی احکام القرآن: ومن أجاز من السلف إذا قال عجل لي واضع عنك فجائز أن يكون أجازوه إذا لم يعجله شرطاً فيه وذلك بأن يضع عنه بغير شرط ويعجل الآخر الباقي بغير شرط. (احكام القرآن:١/ ٤٦٧، باب الربا).

قال ابن الرشدفی بداية المجتهد: أما ضع وتعجل فأجازه ابن عباس رضی اللہ عنہ من الصحابة وزفر رحمہ اللہ من فقهاء الأمصار، ومنعه جماعة منهم ابن عمر رضی اللہ عنہ من الصحابة ومالك رحمہ اللہ و أبو حنيفة رحمہ اللہ والثورى وجماعة من فقهاء الأمصار واختلف قول الشافعي في ذلك، فأجاز مالك رحمہ اللہ وجمهور من ينكر «ضع وتعجل» أن يتعجل الرجل في دينه المؤجل عرضاً يأخذه وإن كانت قيمته أقل من دينه.(بداية المجتهد:٢/ ١٠٨، باب فی بيوع الذرائع الربوية).

همداسي كه چيري دين معجل وي هم يې د كمښت ګنجائش سته.

وګورئ په شرح عنايه كي راځي:

ومن له على آخر ألف درهم حالة فقال: اد إلي غداً منها خمسمائة على أنك برئ من الفضل ففعل فهو برئ. (شرح العناية على هامش فتح القدير:٨/ ٤٢٧ – وكذا فى البنابة للعينى:٣/ ٦١٦). والله تعالى اعلم.

تر شلو كالو څخه وروسته د قرض پرلاس ته راوړلو د زياتوالي حكم

سوال: شل كاله مخكي يوې ښځي موټر په پنځه څلوېښت زره روپيو چي په هغه وخت كي يې بازاري قيمت وو پلورلى وو خو رانيوونكي پيسې ورنه كړلې اوس رانيوونكي توبه وكښله او پيسې وركول غواړي خو تر شل كاله وروسته پنځه څلوېښت زره ډېرې كمي دي او په بازاري اعتبار سره په دې كي د راتيولو په اعتبار سره ډېر فرق راغلى دئ نو ايا پلورونكى زياتي پيسې اخيستلاى سي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت کې شل کاله وروسته چې کله رانیوونکی د موټر قیمت اداء کوي نو پنځه څلوېښت زره اداء کول ضروري دي او پلورونکی زیاتي پیسې نه سي اخیستلای ځکه چې پیسې (نوټونه) ثمن اصطلاحي دي او مثلي دي نو ځکه د کمښت او زیاتوب اعتبار نه سته.

وګورئ په درمختار مع فتاوى شامي کي راځي:

واستقراض من الفلوس الرائجة والعدالى .... وكذا كل ما يكال ويوزن لما مر أنه مضمون بمثله فلا عبرة بغلائه ورخصه . وفي كافي الحاكم، لو قال : أقرضني دانق حنطةٍ فأقرضه ربع حنطةٍ ، فعليه أن يرد مثله إلى أن قال وكذلك لوقال أقرضنى عشرة دراهم غلةٍ بدينارٍ ، فأعطاه عشرة دراهم فعليه مثلها ، ولا ينظر إلى غلاء الدراهم ، ولا إلى رخصها ، وفي الفتاوى الهندية : استقرض حنطةً فأعطى مثلها بعدما تغير سعرها يجبر المقرض على القبول. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:٥/ ١٦١-١٦٢، باب القرض، سعيد).

همداسي دا مسئله د غصب په ډول ده که غاصب يو شی غصب کړي بيا د دې شی قيمت کم سو او کله چې د دې قيمت بيرته ورکوي نو هماغه شی به واپس کوي او د هغه شي د قيمت د زياتوب او کمښت اعتبار به نه وي.

وګورئ په فتاوي شامي کي راځي:

ولو وجده المغصوب في بلد الغصب ونقص السعر يأخذ العين لا القيمة يوم الغصب. (الفتاوى الشامى:٦/ ١٨٢، سعيد).

په هدايه کي راځي:

بخلاف تراجع السعر إذا رد فى مكان الغصب لأنه عبارة عن فتور الرغبات دون فوات الجزء. (الهداية:٣/ ٣٧٥). والله تعالى اعلم.

د مقروض (پور وړي) د نفلي خيرات حکم

سوال: ايا مقروض انسان نفلي خيرات کولای سي او که نه؟ ايا پر خيرات کولو به ثواب ورکول کيږي که گناه کار کيږي؟

الجواب: نفلي خيرات د نفلو په درجه کي دئ او قرض د فرض په درجه کي دئ نو فرض اول اداء کول لازم دي، خو که چيري مقروض انسان د قرض د اداء کول اهتمام هم کوي او د هغه سره سره نفلي خيرات هم کوي نو ده ته به د خيرات ثواب ورکول کيږي.

وگورئ په عمدة القاري کي راځي:

ومن تصدق وهو محتاج أو أهله محتاج أو عليه دين فالدين أحق أن يقضى من الصدقة والعتق والهبة.... والمعنى أن شرط التصدق أن لا يكون محتاجاً ولا أهله محتاجاً ولا يكون عليه دين فإذا كان عليه دين فالواجب أن يقضي دينه، وقضاء الدين أحق من الصدقة والعتق والهبة لأن الابتداء بالفرائض قبل النوافل، وليس لأحد إتلاف نفسه وإتلاف أهله وإحياء غيره، وإنما عليه إحياء غيره بعد إحياء نفسه وأهله إذ هما أوجب عليه من حق سائر الناس. (عمدة القاری:٦/ ٤٠١، باب لاصدقة الاعن ظهر غنی، ملتان).

عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: «من أخذ أموال الناس يريد أداءها أدى الله عنه، ومن أخذها يريد إتلافها أتلفه الله». (رواه البخاری:١/ ٣٢١، باب من أخذ أموال الناس).

په فتاوی محموديه کي راځي:

دا چنده د نفلو په درجه کي ده او قرض اداء کول فرض دي که چيري ديو چا پر ذمه قرض پاته وي او دی نفل کوي نو ده ته ثواب هم ورکول کيږي او د قرضو د ځنډولو په سبب به له ده څخه پوښتنه هم کيږي نو دا ويل چي ثواب به نه ورکول کيږي صحيح نه ده، خو د قرض اداء کولو اهتمام کول لازم دئ. (فتاوی محموديه:١٦/ ٤٢٤، جامعه فاروقيه). والله ﷻ اعلم.

هـ

د قرض د اداء کولو په وخت کي د زیاتو ورکولو حکم

سوال: د قرض د اداء کولو په وخت کي زیاتي پیسې ورکول روا دي او که نه؟ حال دا چي په عقد کي شرط سوی نه وي، اتفاقاً که د قرض د اداء کولو په وخت کي یو څه زیاتي ورکړل سي نو د دې څه حکم دئ؟

الجواب: د قرض د اداء کولو په وخت کي که اتفاقاً یو څه زیاتي ورکړل سي حال دا چي زیادتي نه په عقد کي مشروط کړل سوي وي او نه رواج وي چي د هغه طمعه کیږي او نه پر ورکولو یې خواشیني څرګنده سي نو بیا روا دئ او که داسي نه وي نو روا نه دي.

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : استقرض رسول الله ﷺ سناً فأعطاه سناً خيراً من سنه وقال خياركم أحاسنكم قضاء. (رواه الترمذی:۱/ ۲٤٥، ورواه ابن ماجه فی باب السلم فی الحيوان).

وعلى هامش الترمذي: وفى الحديث دليل على أن رد الأجود فى القرض من مكارم الأخلاق وليست من الأموال الربوية وأيضاً لم يكن مشروطاً في صلب العقد. (حاشية الترمذی، للمحدث احمد علی السهارنپوری:۱/ ۱٥۸).

وفي شرح مسلم للإمام النووي رحمه الله: وفيها : أنه يستحب لمن عليه دين من قرض وغيره أن يرد أجود من الذي عليه ، وهذا من السنة ومكارم الأخلاق ، وليس هو من قرض جر منفعة فإنه منهي عنه ؛ لأن المنهي عنه ما كان مشروطًا في عقد القرض . (شرح الكامل:۲/ ۳۰).

(وکذا فی تکملة فتح الملهم:۱/ ٦٤٤).

وفی الدر المختار: وكان عليه مثل ما قبض فإن قضاه أجود بلاشرط جاز. (الدر المختار:٥/ ١٦٥، سعيد).

په البحر الرائق کي راځي:

ولا يجوز قرض جر نفعًا بأن أقرضه دراهم مكسرةً بشرط رد صحيحةٍ أو أقرضه طعامًا في مكان بشرط رده في مكان آخر فإن قضاه أجود بلا شرطٍ جاز . (البحر الرائق:٦/ ١٢٢، تتمة في مسائل القرض، كوئته).

وإذا رجح في بدل القرض ولم يكن الرجحان مشروطاً في القرض فلا بأس به كذا في المحيط،.... قال محمد رحمة الله عليه في كتاب الصرف إن أبا حنيفة رحمة الله عليه كان يكره كل قرضٍ جر منفعةٍ، قال الكرخي رحمة الله عليه : هذا إذا كانت المنفعة مشروطةً في العقد بأن أقرض غلةً ليرد عليه صحاحًا أو ما أشبه ذلك فإن لم تكن المنفعة مشروطةً في العقد فأعطاه المستقرض أجود مما عليه فلا بأس به . (الفتاوى الهندية:٣/ ٢٠٣).

په جديد معاملات کي شرعي احکام نومي کتاب کي راځي:

د قرضو ښخه ګټه اخيستل حرام دي دا په داسي صورت کي چي قرض ورکونکی شرط ولګوي يا عادتاً هلته دا رواج وي چي اخيستونکي زياتي پيسې غواړي که چيري د قرضو په واپسی کي زياتوالی مشروط نه وي بلکي مقروض د حسن قضاء په ډول زياتي پيسې ورکوي نو شرعاً دا سودنه دئ بلکي داسي کول ښه دي.

لحديث جابر بن عبد الله رضي الله عنه قال: كان لي على رسول الله ﷺ حق فأعطاني وزادني. (اخرجه الشيخان والامام احمد). (جديد معاملات کی شرعی احکام:١/ ١٨٣).

همدا ډول وګورئ: (بدائع الصنائع:٧/ ٣٩٥، سعيد – مرقات المفاتيح:٦/ ٩٩ – واعلاء السنن:١٤/ ٥٢١ – وامداد الاحکام:٣/ ٤٨٩ – وآپ کی مسائل اور ان کا حل:٦/ ١٦١ – وفتاوی محموديه:١٦/ ٤١٣، جامعه فاروقيه – وکتاب الفتاوی:٥/ ٣٧٣). والله تعالى اعلم.

د مديون پر مرګ د دين د معجل کېدو حکم

سوال: که چيري يو مديون مړ سي او پور مؤجل وو نو هغه معجل جوړېږي او که نه؟ يعني يو سړي د يو سامان رانيولو له پاره په قسطو باندي قرض واخيستئ او د دې قرضو په يوه کال يا دوو کالو کي د قسطو په ذريعه موده وټاکل سوه اوس د پوښتني وړ خبره دا ده چي د دې سړي تر مرګ وروسته دا قرض به دستي اداء کول کيږي که د قسط په ذريعه کرار کرار اداء کول کېداى سي؟

الجواب: د احنافو په مذهب کي په قرضو کي د اجل د بيانولو څخه اجل نه لازميږي دا ځکه چي قرض تبرع او احسان دئ د ولا جبر فى التبرع، نو له همدې کبله پر وخت چي قرض غواړي غوښتلاى يې سي، خو د مددې شکل د يوې وعدې شکل دئ او وعده پوره کول ديانةً لازمه ده له همدې کبله مقروض ته وخت ورکول په کار دي خو چي مقروض مړ سو نو اوس د ده مال وارثانو ته نقل سو او تر ميراث وېشلو وړاندي پور اداء کول لازم دئ پر دې اساس دين مؤجل معجل جوړېږي او دستي يې اداء کول لازميږي، خو که چيري ټول پر تاجيل او تقسيط خوشحاله وه، نو بيا يې مؤجل په قسطو اداء کولو کي هيڅ تاوان نه سته لکه څنګه چي د محيط مصنف او قاضي خان فرمايلي دي.

وګورئ علامه بدر الدين عيني رحمه الله فرمايلي دي:

اختلف العلماء في تأخير الدين في القرض إلى أجل فقال أبو حنيفة رحمه الله وأصحابه: سواء كان القرض إلى أجل أو غير أجل له أن يأخذه متى أحب وكذلك العارية وغيرها لأنه عندهم من باب العدة والهبة غير مقبوضة وهو قول الحارث العكلي وأصحابه وإبراهيم النخعي وقال ابن أبي شيبة: وبه نأخذ . (عمدة القارى:۹/ ۱۲۵، باب اذا اقرضه الى اجل مسمى، ط:ملتان).

په احكام التركات والمواريث كي راځي:

وثالثها أن فى التأجيل ضرراً بالوارث لأن فيه تأخيراً لاستخلاص حقه فى الميراث لايتخلص إلا بعد أداء الدين لقوله تعالى: من بعد وصية يوصى بها أو دين. (احكام التركات والمواريث، لمحمد ابو زهرة، ص ٤٠).

پہ فتاوی شامي کي راځي:

قوله: ودين الميت: أي لو مات المديون وحل المال فأجل الدائن وارثه لم يصح لأن الدين في الذمة وفائدة التأجيل أن يتجر فيؤدي الدين من نماء المال فإذا مات من له الأجل تعين المتروك لقضاء الدين، فلا يفيد التأجيل كذا في الخلاصة وظاهره أنه في كل دين وذكره في القنية في القرض، بحر، وفي الفتح مثل ما في القنية لكن في الذخيرة تأجيل رب الدين ماله على الميت لا يجوز والصحيح أنه قول الكل لأن الأجل صفة الدين ولا دين على الوارث فلا يثبت الأجل في حقه ولا وجه أيضاً لثبوته للميت لأنه سقط عن ذمته بالموت ولا لثبوته في المال لأنه عين والأعيان لا تقبل التأجيل، وفي البرجندي قال صاحب المحيط: الأصح عندي أن تأجيله صحيح وهكذا أفتى الإمام قاضيخان. (فتاوى الشامى:٥/ ١٥٨، سعيد – وكذا فى البحر الرائق:٦/ ١٢٢، كوئته).

وفي تنوير الأبصار: ولزم تأجيل كل دين إلا القرض فلا يلزم تأجيله. وفي الشامية: أي أنه يصح بأجليه مع كونه غير لازم فللمقرض الرجوع عنه، لكن قال في الهداية: فإن تأجيله لا يصح لأنه إعارة وصلة في الابتداء حتى يصح بلفظة الإعارة ولا يملكه من لا يملك التبرع كالوصي والصبي ومعاوضة في الانتهاء فعلى اعتبار الابتداء لا يلزم التأجيل فيه كما في الإعارة إذ لا جبر في التبرع. (فتاوى الشامى:٥/ ١٥٨، سعيد).

پہ السنن الکبرى للبيهقى کي راځي:

عن علي رضي الله عنه: كان رسول الله ﷺ إذا أتي بجنازةٍ لم يسأل عن شيءٍ من عمل الرجل إلا أن يسأل عن دينه .... إلى أن قال: إنه ليس من ميت يموت وعليه دين إلا وهو مرتهن بدينه. (رواه البيهقي:٦/ ٧٣، باب وجوب الحق بالضمان).

فإن هذا الحديث يقتضى التعجيل بقضاء الدين فكاً لهذه النفس المرهونة بالقضاء وذلک يقتضى سقوط الأجل. (احكام التركات، ص ٣٩). والله ﷻ اعلم.

په حيله او تدبير سره د خپل قرض ولاس ته د راوړلو حکم

سوال: که چيري پريو چا قرض وي او مقروض د قرض اداء کولو څخه انکار کوي نو ايا قرض غوښتونکی په يو بله طريقه، حيله يا تدبير سره خپل قرض لاس ته راوړلای سي او که نه؟

الجواب: د احنافو اصل مذهب خو همدا دئ چي په يوه بل شکل قرض لاس ته راوړل صحيح نه دي خو نن وخت پر دې باندي فتوی ده چي په بل ډول سره هم قرض لاس ته راوړلای سي او ګنجائش يې سته.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

(قوله أطلق الشافعي أخذ خلاف الجنس) أى من النقود أو العروض.... قال القهستاني: وفيه إيماء إلى أن له أن يأخذ من خلاف جنسه عند المجانسة في المالية وهذا أوسع فيجوز الأخذ به وإن لم يكن مذهبنا، فإن الإنسان يعذر في العمل به عند الضرورة كما في الزاهدي. قلت: وهذا ما قالوا: إنه لا مستند له، لكن رأيت في شرح نظم الكنز للمقدسي من كتاب الحجر، قال: ونقل جد والدي لأمه الجمال الأشقر في شرحه للقدوري أن عدم جواز الأخذ من خلاف الجنس كان في زمانهم لمطاوعتهم في الحقوق، والفتوى اليوم على جواز الأخذ عند القدرة من أي كان لا سيما في ديارنا لمداومتهم للعقوق . (فتاوی الشامي:٤/ ٩٥، كتاب السرقة، سعيد).

وفي الشامية: فلو من جنسه فله أخذ قدر حقه منه بلا كلام. (فتاوى الشامي:٦/ ٥٠١، باب مايجوز ارتهانه، سعيد).

په احسن الفتاوي کي رائحي:

دا ډول شکل غوره کول صحيح دي خو د دې خبري خيال ساتل هم ضروري دي چي د خپل حق څخه زيات وانه خلي او د خپل حق ولاس ته تر راوړلو وروسته د هغه د خبرولو ضرورت نه سته او بيا په داسي حال کي چي د هغه د خفه کېدلو شک هم وي.(احسن الفتاوى:٧/ ١٤٧، بحواله ردالمختار:٥/ ٣٠٠). والله تعالى اعلم.

د انشورنس کمپنۍ څخه د خپلو قرضو ولاس ته د راوړلو حکم

سوال: يو چا د بل چا څخه قرض واخيستئ او اوس يې هغه اداء کولای نه سي او هغه مړ سو خو هغه انشورنس لري نو دائن د انشورنس کمپنۍ څخه خپل پور پوره کولای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د مړي له اصل رأس المال څخه دي خپل حق پوره کړي او زياتي سودي روپۍ دي د ثواب د نيت پرته پر بېوزلانو خيرات کړي او هغه پيسې کارول روا نه دي او که د اصل رأس المال څخه قرض نه پوره کېدئ او مړي بل هم هيڅ مال پرايښی نه وي نو سودي پيسې دي د تمليک تر حيلې وروسته د خپل قرض په بدل کي اخيستلای سي.

وګورئ په کتاب الفتاوی کي رائحي:

انشورنس کول روا نه دئ او هغه پيسې چي انشورنس کمپنۍ يې اداء کي د هغو څخه هغه اندازه حلالي دي چي مالک اداء کړي دي او هغه زياتي پيسې سودي دي هغه دي د ثواب له نيته پرته پر بېوزلانو خيراتول واجب دي.

په درالمختار کي رائحي:

والحاصل أنه إن علم أرباب الأموال، وجب رده عليهم، وإلا فإن علم عين الحرام لايحل له، ويتصدق به بنية صاحبه. (رد المحتار:٥/ ٩٩، مطلب فيمن ورث مالاً حراماً، سعيد.).

وګورئ په نظام الفتاوی کي رائحي:

د تمليک مستحق تر حيلې وروسته يې د مسجد د تشناب په صفايۍ او داسې نورو کې کارول صحيح دي او د تمليک حيله دا ده چې څومره پيسې د سود دي هغه دې بېوزلانو ته چې د صدقې مستحق وي ورکړي او د هغه دې مالک جوړ سي بيا دې هغه مستحق د خيرات په ډول د خپلې خوا څخه د چندې په ډول ومسجد ته ورکړي. وقد منا أن الحيلة أن يتصدق على الفقير، ثم يأمره بفعل هذه الأشياء. الدر المختار مع رد المحتار:۲/ ۳۴۵، کتاب الزکوةف باب المصرف، سعيد. (نظام الفتاوی:۱/ ۱۹۹). والله تعالیٰ اعلم.

د کافر څخه حرام مال په قرض د لاس ته راوړلو حکم

سوال: که چيري پر يوه کافر د مسلمان قرض وي او دا معلومه وي چې د کافر سره هغه د غلا يا غصب او د سود پيسې وي نو ايا دا د قرض په بدل کي اخيستل روا دي او که نه؟

الجواب: د فقهاوو د عباراتو څخه دا معلوميږي چې د کافر ملکيت پر دغه حرام مال باندي راځي نو له دې کبله يې مسلمان د خپلو قرضو په بدل کي اخيستلای سي.

وګورئ علامه شامي رحمة الله عليه فرمايي:

وجاز أخذ دين على كافر من ثمن خمر لصحة بيعه أى بيع الكافر الخمر لأنـها مال متقوم في حقه فملک الثمن فيحل الأخذ منه. (فتاوی الشامی:٦/ ٣٨٥).

په فتاوی هنديه کي راځي:

ولو كان لمسلم على نصراني دين، فباع النصراني خمراً أخذ بثمنها وقضاه المسلم من دينه، جازله أخذه، لأن بيعه له مباح. (الفتاوی الهندية:٥/ ٣٦٧، كتاب الكراهية، باب في القرض والدين).

په البحر الرائق کي راځي:

وكره لرب الدين أخذ ثمن خمرٍ باعها مسلم لا كافر، يعني إذا كان لشخصٍ مسلمٍ دين على مسلمٍ فباع الذي عليه الدين خمرًا وأخذ ثمنها وقضى الدين لا يحل للمدين أن يأخذ ذلك

بدينه وإن كان البائع كافرًا جاز له أن يأخذ والفرق أن البيع في الوجه الأول باطل فلم يملك البائع الثمن وهو باقٍ على ملك المشتري فلا يحل له أن يأخذ مال الغير بغير رضاه والبيع في الوجه الثاني صحيح فملك البائع الثمن لأن الخمر مال متقوم في حق الكافر فجاز له الأخذ بخلاف المسلم . (تكملة البحر الرائق:۸/ ۲۰۱، کوئته).

وللاستزادة انظر : (فتاوى الشامى:٦/ ٣٨٥، فصل فى البيع، سعيد - وتبيين الحقائق:٧/ ٤٦٨، كتاب الكراهية).

په امداد الاحکام کي راځي :

کفار مخاطب بالفروع فی العقوبات والمعاملات که څه هم دي خو د حکم باالحرمة والفساد له پاره عام خطاب کافي نه دئ، البته التزام هم شرط دئ اهل حرب خو د اسلام د احکامو التزام بېخي کړی نه دئ، نه د خپل معتقد په موافق کي نه په مخالف کي نو له همدې کبله دوی چي څنګه پيسې وګټي که په غصب سره وي يا په سود سره يا په باطله بيوع سره يا په فاسده بيوع سره او که د خپل مذهب موافق وي او يا يې د مذهب مخاليف وي په هر صورت کي هغه پيسې او داسي نور د دوی په ملکيت کي داخليږي او مسلمان ته د هغه په تنخوا کي اخيستل روا دي. (امداد الاحکام:٤/ ٣٩٩، معاملات المسلمين باهل الكتاب والمشركين). والله تعالى اعلم.

د ښوونيز فيس د اداء کولو له پاره د سودي قرض اخيستلو حکم

سوال: که چيري مالدار سړی د خپل د زوي د ښوونځي د فيس اداء کول د سود د مال څخه قرض واخلي روا دي او که نه؟

الجواب: که چيري د سودي اموالو اخيستلو هدف دا وو چي قرض د بانک څخه اخلي او پر دې سود اداء کوي نو دا صحيح نه دئ ځکه چي د ښوونځی علم فرض نه دئ او نه ډېره زياته مجبوري ده چي د هغه له پاره د ناورا کار ارتکاب وکي او که چيري هدف دا وي چي ديو چا سره د سود پيسې پرتي دي او پلار د خپل زوی له پاره هماغه سودي پيسې د قرض په ډول اخلي حال دا چي پلار او زوی دواړه

مالدار دي نو سودي پيسو خيراتول واجب دي او دا په قرضونو کي چلول صحيح نه دي خو که چيري زوی بېوزله وي او د نصاب خاوند نه وي او ده ته تمليكاً د سود پيسې ورکړل سي نو دا صحيح ده او بيا يې هغه هر چيري استعمالولای سي. والله تعالیٰ اعلم.

د مسلمان شخه حرام مال د قرض په مقابل کي ولاس ته د راوړلو حکم

سوال: د زيد پر عمر باندي يو څه قرض دئ او زيد ته يقيناً معلومه ده چي عمر زما قرض د سود شخه اداء کوي نو ايا په دې صورت کي د زيد له پاره روا ده چي د سودي پيسو شخه خپل قرض واخلي؟

الجواب: مسلمان د سود د پيسو مالک نه سي جوړېدلای نو له همدې کبله يې په قرض کي هم ورکولای نه سي او قرض غوښتونکي له پاره هم روا نه ده چي د سود پيسې د قرض په مقابل کي واخلي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

وما نقل عن بعض الحنفية من أن الحرام لا يتعدى ذمتين، سألت عنه الشهاب ابن الشلبي، فقال: هو محمول على ما إذا لم يعلم بذلك أما لو رأى المكاس مثلاً يأخذ من أحد شيئاً من المكس ثم يعطيه آخر ثم يأخذ من ذلك الآخر آخر فهو حرام . (رد المحتار:٥/ ٩٨، سعيد).

په درمختار کي راځي:

وجاز أخذ دينٍ على كافرٍ من ثمن خمرٍ لصحة بيعه بخلاف دينٍ على المسلم لبطلانه ....

وعلى هذا لو مات مسلم وترك ثمن خمرٍ باعه مسلم لا يحل لورثته كما بسطه الزيلعي وفي الأشباه الحرمة تنتقل . (الدر المختار:٦/ ٣٨٥، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

ولو كان لمسلم على مسلم فباع المسلم خمراً أخذ بثمنها وقضاه صاحب الدين، كره له أن يقبض ذلك من دينه، كذا في السراج الوهاج. (الفتاوى الهندية:٥/ ٣٦٧، كتاب الكراهية، باب في القرض والدين).

په البحر الرائق کي راځي:

وكره لرب الدين أخذ ثمن خمرٍ باعها مسلم لا كافر، يعني إذا كان لشخصٍ مسلمٍ دين على مسلمٍ فباع الذي عليه الدين خمرًا وأخذ ثمنها وقضى الدين لا يحل للمدين أن يأخذ ذلك بدينه. (تكملة البحر الرائق:۸/ ۲۰۱، كوئته).

په احسن الفتاوی کي راځي:

والحاصل أن القرض لايتأدى بكسب الزانية والمغنية والربا لأن الإجارة عليهما باطلة فلم تملك الزانية والمغنية ما أعطيتا من الأجرة فهو مال الغير لايتأدى به القرض والحرم لايحل بتبدل اليد وكذا الربا، هذا ما عندي، والله تعالى أعلم. (احسن الفتاوى:۷/ ۱۹۲، رسالة اداء القرض من الحرام). والله تعالى اعلم.

د نابالغه زوی مال د قرض په ډول د اخیستلو حکم

سوال: یو سړی د خپل نابالغه زوی مال د قرض په ډول اخیستلای سي او که نه او په شریعت کي د دې څه حکم دئ؟

الجواب: یو کس د خپل نابالغه زوی مال د خپل ځان له پاره په قرض اخیستلای سي خو بل چا ته یې په قرض ورکولای نه سي.

وګورئ په فتاوی عالمکیري کي راځي:

الوصي إذا أراد أن يقرض مال اليتيم من غيره فليس له ذلك باتفاق الروايات، كذا في المحيط فإن أقرض كان ضامنًا والقاضي يملك الإقراض واختلف المشايخ رحمهم الله تعالى في الأب لاختلاف الروايات عن أبي حنيفة رحمه الله والصحيح أن الأب بمنزلة الوصي لا بمنزلة القاضي ولو قضى الوصي دين نفسه بمال اليتيم لايجوز ولو فعل الأب ذلك جاز. (الفتاوى الهندية:٦/ ١٤٧، الباب التاسع فى الوصى ومايملكه).

په فتاوی شامي کي راځي:

تتمة: لو أجره الأب أو الجد أو الوصي صح، إذ لهم استعماله بلا عوض للتهذيب والرياضة فبالبوض أولى، والوصي لو استأجره لنفسه صح لا لو أجر نفسه لليتيم، ولو أجر الأب نفسه له صح وله القضاء دينه من مال ولد بخلاف الوصي....ولا بأس للأب أن يأكل من ماله بقدر حاجته لو محتاجاً ولا يضمن. (فتاوى الشامى:٦/ ٧١٢، سعيد).

په مجمع الضمانات کي راځي:

ولو قضى الوصي ديون نفسه بمال اليتيم لا يجوز، ولو فعل الأب ذلك جاز؛ لأن الوصي لا يملك أن يشتري مال اليتيم لنفسه بمثل القيمة، والأب يملك. (مجمع الضمانات:٢/ ٨٢٨، الباب الخامس والثلاثون فى الوصى والولى والقاضى).

په جامع الحکام الصغار کي راځي:

وذكر رحمه الله تعالى أيضاً في قضاء الجامع الصغير أن الأب لو أخذ مال ولده الصغير قرضاً جاز. (جامع احكام الصغار:١/ ٩٧). والله تعالى اعلم.

د قرضو د مصارفو حکم

سوال: په قرض ورکولو کي د قرض د پيسو د رايستلو يا نور چي کوم مصارف ورباندي وسي هغه پر قرض اخستونکي دي او که پر قرض ورکونکي؟

الجواب: اصلي مسئله د ضرورت ده چي کوم يو ضرورت مند وي هغه به يې اداء کوي نو ښکاره خبره ده چي ضرورتمند خو قرض غوښتونکی دئ خو قرض غوښتونکی هم په يوه اعتبار سره ضرورتمند دئ چي خپل قرض لاس ته راوړي خو زيات ضرورتمند قرض دار (پور وړی) دئ له همدې کبله د قرضو مصارف بايد قرض غوښتونکي ورکړي.

وګورئ په هدايه کي راځي:

وأجرة الكيال وناقد الثمن على البائع أما الكيل فلا بد منه للتسليم وهو على البائع ومعنى هذا أذا بيع مكايلة، وكذا أجرة الوزان والذراع والعداد، وأما النقد فالمذكور رواية ابن رستم عن محمد رحمه الله لأن النقد يكون بعد التسليم، ألا ترى أنه يكون بعد الوزن والبائع هو المحتاج إليه ليميز ما تعلق به حقه من غيره أو ليعرف المعيب ليرده، وفي رواية ابن سماعة رحمه الله عنه على المشتري لأنه يحتاج إلى تسليم الجيد المقدر، والجودة تعرف بالنقد كما يعرف القدر بالوزن فيكون عليه وأجرة وزان الثمن على المشتري لما بينا أنه هو المحتاج إلى تسليم الثمن وبالوزن يتحقق التسليم. (الهداية:۳/ ۲۹ – وكذا فى الفتاوى الهندية:۳/ ۲۸، الفصل السادس فيما يلزم المتعاقدين من المؤنة فى تسليم المبيع والثمن).

په محيط البرهانى كي راځي:

ثم أجرة الوزان على المديون، فكذا أجرة الناقد، فأما إذا قبض رب الدين فقد دخل في ضمانه، فإذا ادعى أنه على خلاف حقه كان النقد محتاجاً إليه ليتمكن من الرد، وذلك يقع لرب الدين فيكون الأجر عليه. (المحيط البرهانى:٦/ ۲۷۱، الفصل الثالث فى قبض المبيع بإذن البائع).

په البحر الرائق كي راځي:

وأما أجرة نقد الدين ، فإنه على المديون إلا إذا قبض رب الدين الدين ، ثم ادعى عدم النقد فالأجرة على رب الدين ؛ لأنه بالقبض دخل في ضمانه فالناقد إنما يميز ملكه ليستوفي بذلك حقا له فالأجرة عليه . (البحر الرائق:٥/ ۳۰٦، كتاب البيوع – وكذا فى مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر:۳/ ۳۱، ادار الكتب العلمية، بيروت).

وأجرة رد العارية على المستعير لأن الرد واجب عليه لما أنه قبضه لمنفعة نفسه والأجرة مونة الرد فتكون عليه. (الهداية:۳/ ۲۸۲). والله ﷻ اعلم.

انکم ټکس (د کښتو مالي محصول) څخه د ځان ژغورلو له پاره د سودي قرض اخيستلو حکم

سوال: ايا د کښتو د محصول (انکم ټکس) څخه د ځان ژغورلو له پاره سودي قرض اخيستلای سي او که نه ځکه پر چا چي قرض زيات سي حکومتي اداره پر دوی کم محصول لګوي؟

الجواب: په دې صورت کي ښه خو دا ده چي د سودي معاملې څخه ځان وژغورل سي خو که د حکومت له خوا څخه د کښتو ماليه ډېره زياته لګول کيږي نو د ضرورت په وخت کي د ضرر ليري کولو له پاره د سودي قرض ګنجائش سته. فقهاوو د ضرر د دفع کولو له پاره د رشوت ورکولو اجازه هم ورکړې ده.

وګورئ په جديد فقهي مباحث نومي کتاب کي راځي:

سوال: پر کښتو د محصول څخه د ځان ژغورلو او ګران (قيمتي) شيانو رانيولو له پاره د رشوت او سود حکمونه؟

جواب: دا صورت بيله شکه روا دئ ځکه چي په دې کي د مسلمان ګټه او همداسي د ضرر دفعه هم سته د عدم جواز د قائلينو په آند هم ګنجائش په کار دئ ځکه چي د تجارت په ذريعه پرمختګ کول يو ډول مال (لاري موټر) او داسي نور رانيول دا زموږ له پاره حلال دي او موږ ته د دې حق سته، موږ چي د دې حق لاس ته راوړلو له پاره مخته څو نو د محصولاتو او داسي نورو مسئلې مخته راځي نو که هم دا صورت دا ضطرار نه دئ خو ظلم خامخا دئ چي زموږ ښکاره ضرر دئ او د دې ظلم او ضرر د دفع کولو له پاره دا ډول صورتونه بايد روا سي. (جديد فقهي مباحث:۲/ ۴۹۹).

د دليل په ډول فقهي قاعده بيانيږي.

وګورئ علامه ابن نجيم مصري رحمه الله فرمايي:

« الضرر يزال » أصلها قوله عليه الصلاة والسلام « لا ضرر ولا ضرار ».... ويبتنى على هذه القاعدة كثير من أبواب الفقه، فمن ذلك: الرد بالعيب وجميع أنواع الخيارات، والحجر بسائر أنواعه على المفتى به ....الخ. (الاشباه والنظائر:۱/ ۲۵۰، القاعدة الخامسة). والله ﷻ اعلم.

د پنشن فنډ (هغه پيسې چې له کار کوونکي څخه کاټيږي کله چې دی کار پرېږدي او بيا ورکول کيږي) د هغو حکم

سوال: ايا د فنشن فنډ لاس ته راوړل سوي پيسو څخه د مړي قرض اداء کول روا دي او که نه؟

الجواب: د فنشن فنډ څخه چي کوم مال لاس ته راځي هغه کارول او د مړي قرض او داسي نور په اداء کول روا او صحيح دي.

وګورئ په کفايت المفتي کي راځي:

فنشن چي تر کار او خدمت څخه وروسته و کار کوونکي ته ورکول کيږي روا دئ. (کفايت المفتى:۸/ ۹۴). والله ﷻ اعلم.

د قرضو د ځنډېدو په صورت کي پر قرضو د سود جاري کولو حکم

سوال: که چيري يو چا د کمپنۍ څخه داسي سود واخيستئ چي که دی په درې مياشتي کي پور اداء نه کړئ پر ده باندي به سود جاري کيږي او د پور وړي اراده ده چي په درې مياشتي کي به قرض اداء کوي، د داسي قرض اخيستلو څه حکم دئ؟ ايا قرض اخيستونکی ګناه کار کيږي او که نه؟

الجواب: د قرض غوښتنکي که پخه اراده (عزم) وي چي په درو مياشتو کي به يې اداء کوي نو بياد دې ګنجائش سته خو د داسي عقودو (سوداوو) څخه ځان ژغورل ښه دي او د کمپنۍ دا معامله چي که په درې مياشتي کي قرضدار قرض اداء نه کړي نو دومره فيصدي به پر زياتوي دا سودي معامله ده او قرض په فاسدو شرطو سره نه فاسديږي.

وګورئ په البحرالرائق کي راځي:

وما لا يبطل بالشرط الفاسد القرض .... بأن قال أقرضتك هذه المائة بشرط أن تخدمني شهرًا مثلًا فإنه لا يبطل بهذا الشرط، وذلك لأن الشروط الفاسدة من باب الربا وأنه يختص

بالمبادلة المالية، وهذه العقود كلها ليست بمعاوضةٍ ماليةٍ فلا تؤثر فيها الشروط الفاسدة، ذكره العيني .... وفي البزازية: وتعليق القرض حرام والشرط لا يلزم . (البحر الرائق:٦/ ١٨٧، باب المتفرقات من كتاب البيوع، كوئته – وكذا فی تبيين الحقائق:٤/ ١٣٣ – والفتاوی البزازية علی هامش الفتاوی الهندية:٤/ ٤٢٦).

نو له همدې کبله په درو میاشتو کې دننه دې کوښښ وکړي که چیري په درو میاشتو کې یې اداء نه کړي نو پر ده به د سود ورکولو سخته ګناه وي.

په فتاوی عثماني کې راځي:

په تاکل سوې موده کې دننه د اداء کولو اهتمام ضروري دئ چې سود پر ونه لګیږي. (فتاوی عثمانی:٣/ ٣٥٣). والله ﷻ اعلم.

د شوق له پاره د قرض اخیستلو حکم

سوال: بې ضرورته یوازې دژوند د معیار د پورته کولو او شوق له پاره قرض اخیستل کېدای سي او که نه؟

الجواب: د قرض د اخیستلو اجازه (رخصت) د ضرورت په اندازه سته او یوازي د شوق له پاره له قرضو څخه ځان ژغورل بنه دي.

وګورئ په اسلامي فقه کې راځي:

اسلامي شریعت د ډېر ضرورت یا د خپل عزت د ساتلو په وخت کې د قرض اخیستلو رخصت ورکړی دئ که اوس یو څوک بې ځایه مصرف، شوق یا د رواجي معیار دژوند د برابرولو له پاره قرض واخلي یا خو قرض دیو مجبوری څخه واخلي خو د دې د اداء کولو څخه بې خبره سي یا خو قدرت هم لري چون او چرا کوي نو دی به اخلاقاً هم او قانوناً هم مجرم وي یعني په اخرت کې به هم سزا ورکول کیږي او په دنیا کې هم ده ته سزا ورکول. (اسلامي فقه:٢/ ٤٢٩، بلا ضرورت قرض لینی کی مذمت). والله ﷻ اعلم.

د غنمو قرض په پیسو سره د بدلولو حکم

سوال: که د یو چا پر ذمه لس کیلو غنم قرض وي او قرضدار وقرض غوښتونکي ته ووایي پنځه ورځي وروسته زه د غنمو پر ځای لس روپۍ درکوم نو ایا دا سودا صحیح ده او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې چې غنم د پیسو په بدل کې پلورل کیږي نو هغه لس روپۍ همدا وس اداء کول ضروري دي او که داسي نه وي نو افتراق عن الدین بلاعوض به راسي او دا ناروا دئ.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

قوله بدراهم مقبوضة الخ، في البزازية من آخر الصرف: إذا كان له على آخر طعام أو فلوس فاشتراه من عليه بدراهم وتفرقا قبل قبض الدراهم بطل وهذا مما يحفظ فإن مستقرض الحنطة أو الشعير يتلفها ثم يطالبه المالك بها ويعجز عن الأداء فيبيعها مقرضها منه بأحد النقدين إلى أجل، وأنه فاسد لأنه افتراق عن دين بدين. (فتاوى الشامى:۵/ ۱۶۵، فصل فى القرض، سعيد).

په بهشتي زیور کي راځي:

کله چي پر تا دوه سېره غنم یا اوړه قرض وي چي قرض غوښتونکي خپل قرض وغوښتئ تا ورته ووېل چي اوس خو غنم نه سته د دې په عوض کي ته دوې روپۍ واخله نو په هماغه وخت کي هغه دوې روپۍ ورکول لازمي دي که چیري سره جلا سول نو معامله باطله سوه. (بهشتی زیور حصه ۵/ ۳۱). والله ﷻ اعلم.

په قرضو کي د سپین زرو د معیار جوړولو حکم

سوال: یو چابل چا ته پنځلس زره روپۍ د قرض په ډول ورکړې او ورته وې ویل چي د دې قیمت اوس یوه توله سره زر دي او د قرض د بیرته راکولو په وخت کي ما ته بیرته یوه توله سره زر راکړه، د وخت په تیرېدلو سره په پنځلس زره روپیو سره نیمه توله سره زر لاس ته راځي اوس زموږ پوښتنه دا ده چي پوره یوه توله سره زر ورکول ضروري دي او که به پنځلس زره روپۍ اداء کوي؟ او که د سرو زرو د اداء کولو څخه انکار وکړي نو ظلم به وي او که نه؟

الجواب: فقهاوو د قرض د روا والي له پاره د مثلي كېدلو شرط ضروري گڼلی دئ او د دې هدف همدا دئ چې په واپس اداء كولو كي دې هماغه مثل اداء كړل سي كه چيري د خلاف جنس شرط ولگول سي نو دا كه څه هم په ښكاره قرض دئ خو په حقيقت كي قرض نه دئ، البته يو سودا (تبادله) ده نو د دې حكم دا دئ كاغذي لوټ يعني مروجه پيسې ثمن خلقي نه دي بلكي ثمن عرفي دي نو له همدې كبله د دې په تجارت كي د بيع صرف حكمونه نه چلېږي، بناء پر دې اساس ديوې تولې سرو زرو شرط لگول صحيح دئ او د پوره دا معامله صحيح ده، خو د عقد په مجلس كي د بدلينو څخه پر يوه قبضه كول ضروري دي، له پاره د دې چې بيع الكالى بالكالى رانه سي.

وگورئ علامه شامي رحمة الله عليه فرمايي:

سئل الحانوتي عن بيع الذهب بالفلوس نسيئة فأجاب بأنه يجوز إذا قبض أحد البدلين.

(فتاوى الشامي:٥/ ١٨٠، باب الربا، سعيد).

وفى المبسوط للإمام السرخسى رحمة الله عليه: وإذا اشترى الرجل فلوساً بدراهم ونقد الثمن ولم تكن الفلوس عند البائع فالبيع جائز لأن الفلوس الرابحة ثمن كالنقود ....وبيع الفلوس بالدراهم ليس بصرف. (المبسوط:١٤/ ٢٤).

وللاستزادة انظر: (المحيط البرهانى:٧/ ٢٦٨ – والفتاوى الهندية:٣/ ٢٢٤).

په فتاوى عثماني كي راځي:

أما الذهب سواء كان تبراً أو مصوغاً فقد أجمع الأئمة الأربعة على أنه لايعامل معاملة البضائع، وإنما يعمل أحكام النقود في جميع الأمور، لكن « الأرواق النقديه » قد وقع فيه خلاف بين العلماء المعاصرين، وإن كثيراً من علماء البلاد العربية جعلوها في حكم الذهب سواء بسواء، ولكن خالفتهم فى رسالتي « أحكام الأوراق النقدية» وذكرت أنها ليست قائمة مقام الذهب في جميع الأمور، فلا تجري فيها أحكام الصرف، ولذلک يجوز عندى أن

يشتري الذهب أو الفضة بالنقود ويجوز أيضاً أن يشتري الذهب نسيئة بالأوراق النقدية ولكن يجب أن يكون تقابض أحد البدلين في المجلس إذا كان ذهباً خالصاً، وأن يعرف الأجل عند العقد وقد قبل هذا الموقف معظم علماء الهند وكثير من باكستان، والتفصيل في رسالتي أحكام الأوراق النقدية». (فتاوى عثماني:۳/ ۱۵۹، كتاب البيوع).

په جديد معاملات كي شرعي احكام نومي كتاب كي راځي:

سپين يا سره زر داسي په پور پلورل چي مثلاً د سرو زرو ګېنې رانيسي او پيسې يو څه اوس وركړي او د يو څخه وروسته وركولو وعده كوي يا ټولي پيسې پور وي په شريعت كي د دې حكم دا دئ لكه څنګه چي د كاغذي نوټ په ذريعه د سرو زرو او سپينو زرو معامله د بيع صرف په حكم كي نه ده نو ځكه په پوري پلورل او رانيول روا دي او شرط دا دئ چي د عوضينو څخه پر يوه د عقد په مجلس كي قبضه وكړل سي د دې له پاره چي بيع الكالي بالكالي رانه سي.

.... وفي الهندية: قال: وروى الحسن عن أبي حنيفة رحمه الله إذا اشترى فلوسًا بدراهم وليس عند هذا فلوس ولا عند الآخر دراهم ثم إن أحدهما دفع وتفرقا جاز، وإن لم ينقد واحد منهما حتى تفرقا لم يجز كذا في المحيط. (الفتاوى الهندية:۳/ ۲۲٤، الفصل الثالث في بيع الفلوس). (جديد معاملات كى شرعى احكام:۱/ ص ۱۲۸).

په احسن الفتاوى كي راځي:

دا رواج سوى نوټ او سكې د سپينو او سرو په حكم كي نه دي او نه هم د سپينو او سرو زرو رسيد دئ نو له همدې كبله په دې سره بيع او سودا د سرو او سپينو زرو په هر حال كي روا ده. (احسن الفتاوى:٦/ ۱۲۸).

په جديد معاملات كي شرعي احكام نومي كتاب كي راځي:

د قرض د روا والي له پاره مثلي کېدل شرط دي او د کومو شيانو چي مثل نه وي د هغو په قرض کي ورکول هم روا نه دي ځکه په قرض کي چي کوم شی اخيستل سوي وي د هغه مثل بيرته واپس کول شرعاً لازم دي.

قال العلامة الصابوني: ونص الفقهاء على أن قرض المكيل والموزون جائز كاستقراض الحب والشعير، والتمر والزبيب وكالاستقراض السمن والزيت، وكل ما يكال ويوزن، وأما مالا مثل له فلا يجوز إقراضه كاللآلى، والجوهرات، وهذا مذهب أبي حنيفة وأجاز الشافعية والحنابلة إقراض مالا مثله له إذا كان معروف القيمة، فيجب رد القيمة. (فقه المعاملات).

حاصل دا سو چي مکيلي او موزوني شی چي مثلا موجود وي د هغه په قرض ورکول روا دي او هغه شی چي غير مثلي وي هغه نه ذوات القيم وايي هغه په قرض ورکول روا نه دي، البته دينارونه او درهمونه او نوري پيسې د قرضو په ډول ورکول روا دي ځکه چي د هر هيواد پيسې په هغه هيواد کي ذوات الامثال دي. (جديد معاملات کی شرعی احکام:۱/ ۱۸۳). والله ﷻ اعلم.

په قرض کي پيسې د قيمت سره د مربوط کولو حکم

سوال: خالد وبکر ته لس زره روپۍ د قرض په ډول ورکړې او دا شرط يې ولګاوو چي تر دوو کالو وروسته چي يې کله ته اداء کوې هغه کمښت چي په پيسو کي راځي د هغه په سبب به يو څه زياتي اداء کوې معنا دا چي د رانيولو په قوت کي د دغو پيسو کمښت راغئ مثلاً د لس زرو روپيو شی په دوولس زره سو نو ته به ما ته دوولس زره روپۍ راکوې؟

الجواب: په اوس وخت کي پيسې د ثمن اصطلاحي په حکم کي دي او د سپينو يا سرو زرو په حکم کي نه دي او نه د هغو تابع دي او چي کله د مستقل ثمن په حکم کي سوې نو تر کومه وخته چي رواج وي په دوی کي د کمښت او زياتوالي اعتبار نه سته البته که پيسې با الکل منسوخ سي هغه خو جلا خبره ده، نو له همدې کبله خالد د بکر څخه تر دوو کالو وروسته هغه ده چي ورکړي دي يوازي هغه لس زره اخيستلای سي او د دې څخه پرته د زياتو پيسو حق نه لري دا د سود سره مشابه دي او صحيح نه دي.

وګورئ په فتاوی قاضي خان کي راځي:

رجل اشترى بالفلوس الرائجة والعدالي في زماننا شيئاً وكسدت الفلوس قبل القبض .... إلى أن قال: وإن غلا أو رخص لا يفسد العقد ولاخيار لأحدهما في ظاهر الرواية. (فتاوى قاضي خان على هامش الهندية:۲/ ۲۵۳، باب الصرف).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ولو لم تكسد، ولكنها رخصت قيمتها أو غلت لا ينفسخ البيع بالإجماع، وعلى المشتري أن ينقد مثلها عددًا، ولا يلتفت إلى القيمة ههنا؛ لأن الرخص أو الغلاء لا يوجب بطلان الثمنية ألا ترى أن الدراهم قد ترخص، وقد تغلو وهي على حالها أثمان .... استقرض شيئاً من ذوات الأمثال وقبضه ثم انقطع عن أيدى الناس.... ولو لم تكسد ولكنها رخصت أو غلت فعليه رد مثل ما قبض بلاخلاف لما ذكرنا أن صفة الثمنية باقية. (بدائع الصنائع فير ترتيب الشرائع:۵/ ۲٤۲، فصل فى حكم البيع، سعيد).

په فتح القدير کي راځي:

فلو لم تكسد ولم تنقطع ولكن نقصت قيمتها قبل القبض فالبيع على حاله بالإجماع ولا يتخير البائع، وعكسه لو غلت قيمتها وازدادت فالبيع على حاله ولايتخير المشتري ويطالب بالنقد بذلك العيار الذي كان وقت البيع. (فتح لقدير:۷/ ۱۵۵، باب الصرف، دار الفكر – وهكذا فى العناية على هامش فتح القدير:۷/ ۱۵۵، باب الصرف، دار الفكر – والكفاية:٦/ ۲۷۹، مكتبة رشيدية).

په فتاوي عالمګيري کي راځي:

ولو لم تكسد ولكنها رخصت أو غلت لم يفسد البيع وللمشتري ما بقي من الفلوس كذا في الحاوي . (الفتاوی الهندیة:۳/ ۲۲۵، الفصل الثالث فی بیع الفلوس – وکذا فی المبسوط للامام السرخسی:۱۴/ ۴۳).

په فتح المعين کي راځي:

واعلم أن تقييد الاختلاف في رد المثل أو القيمة بالكساد يشير إلى أنها إذا غلت أو رخصت وجب رد المثل بالاتفاق. (فتح المعین للسید ابی السعود:۲/ ۶۴۱).

په الجوهرة النيرة کي راځي:

وقيد بالكساد ؛ لأنها إذا غلت ، أو رخصت كان عليه رد المثل بالاتفاق كذا في النهاية . (الجوهرة النيرة:۲/ ۲۷۲، باب الصرف، مدادية ملتان).

په حاشيه شرنبلاليه کي راځي:

تنبيه : قيد بالكساد لأنها إذا غلت أو رخصت كان عليه رد المثل بالاتفاق. (غنية ذوظ الاحكام فی بغية درر الحكام:۲/ ۲۰۶، باب الصرف).

په تبيين الحقائق په حاشيه کي راځي:

(قوله : في المتن ولو كسدت إلخ) وإنما قيد بالكساد احترازًا عن الرخص والغلاء لأن الإمام الإسبيجابي ذكر في شرح الطحاوي وأجمعوا أن الفلوس إذا لم تكسد ، ولكن غلت قيمتها أو رخصت فعليه مثل ما قبض من العدد . (حاشية العلامة شهاب الدين احمد الشلبی علی تبين الحقائق:۳/ ۱۴۳، كتاب الصرف، ملتان).

په درمختار مع رد المحتار کي راځي:

واستقراض من الفلوس الرائجة والعدالي .... وكذا كل ما يكال ويوزن لما مر أنه مضمون بمثله فلا عبرة بغلائه ورخصه . وفي كافي الحاكم، لو قال : أقرضني دانق حنطة فأقرضه ربع حنطةٍ ، فعليه أن يرد مثله إلى أن قال وكذلک لوقال أقرضني عشرة دراهم غلة بدينارٍ ، فأعطاه عشرة دراهم فعليه مثلها ، ولا ينظر إلى غلاء الدراهم ، ولا إلى رخصها ، وفي الفتاوى الهندية : استقرض حنطةً فأعطى مثلها بعدما تغير سعرها يجبر المقرض على القبول. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:٥/ ١٦١-١٦٢، باب القرض، سعيد).

په محيط برهاني کي راځي:

إذا غلت بأن ازدادت قيمتها، فالبيع على حاله ولا يخير المشتري، وإذا انتقصت قيمتها فالبيع على حاله ويطالبه بالدراهم بذلك العنان الذي كان وقت البيع. (المحيط البرهانى:٧/ ٢٤٩، الفصل الرابع فى المسائل التى تعلق بالثمن).

په فتاوی محموديه کي راځي:

نوټ جوړونکو چي هر څومره دوکه (چل) کړې ده د هغه ذمه واري د دوی ده او د چا څخه چي يې نوټ په قرض اخيستی وي د هماغه موټ اخيستلو حق به هغه لري که د سلو روپيو نوټ يې ورڅخه اخيستی وي نو د سلو روپيو نوټ دي ورکړي نو برى الذمه به سي او د دې د ګراني څخه پر هغه باندي هيڅ تاثير نه لوېږي.

د فتاوی محموديې په تعليق کي دي:

سئلت عن رجل أقرض آخر مقداراً من الريال المجيدي وخت رواجه بثلاثين قرشاً، ثم رد المستقرض له مثل المقدار الذي استقرضه منه بعد أن نزل إلى عشرين قرشاً، فامتنع المقرض من قبوله، وطلب منه صرفها على سعر ثلاثين قرشاً، فهل ليس له ذلک؟ فالجواب

أنه ليس له الامتناع من قبول مثل ما دفع .... وفي نتيجة الفتاوى ما نصحه: والمقبوض على وجه القرض مضمون بمثله، وفيها نقلاً عن جامع الفصولين: والواجب فى القرض رد المثل.

(الفتاوى الكاملية، ص ۹۲۲، باب القرض مطلب الواجب فى القرض رد المثل، مكتبة حقانية، بشاور).

(فتاوى محموديه مع تعليقاتها:١٦/ ٤٠٧، جامعه فاروقيه).

اشکال او جواب:

(اشکال) ځيني حضرات فرمايي، چي داوسني وخت پيسې د کمبنت او زياتوالى اعتبار بايد وسي ځکه چي نن ورځ په پيسو کي کمبنت روان دئ که يې مورږ اعتبار نه کوو نو د (قرض ورکونکو) تاوان به وي او په دې کي د سود هيڅ خبره نه سته ځکه چي دوه کاله مخکي چي کومه کمي راغلې وه د هغې ختمول هدف دي او په خپل تائيد کي د علامه شامي لاندي عبارت وړاندي کوي.

وفي البزازية عن المنتقى غلت الفلوس أو رخصت فعند الإمام الأول والثاني، أولاً ليس عليه غيرها وقال الثاني ثانياً عليه قيمتها من الدراهم يوم البيع والقبض وعليه الفتوى ، وهكذا في الذخيرة والخلاصة عن المنتقى. (فتاوى الشامى:٤/ ٥٣٣، كتاب البيوع، مطلب فى احكام النقود، سعيد). د دې څه جواب دئ.

الجواب: ١ ـ د دې جواب دا دئ چي قرض يو احسان دئ نو ځکه د ثواب په طمعه سره دورکړل سوو پيسو په اندازه بيرته اخيستل په کار دي او د زياتو اخيستلو گنجائش نه سته، په زياتو اخيستلو کي سود راځي او د شريعت هدف دا دئ چي پر قرضو دي هيڅ ډول گټه وانه خيستل سي او تر کومه ځايه چي د علامه شامي رحمه الله د عبارت تعلق دئ هغه يې بزازيې څخه په حواله د منتقى نقل کړى دئ او منتقي د حاکم شهيد کتاب دئ چي په هغه کي نوادر مسئلې سته او د قاضي خان ليکل سوى عبارت د مذهب ظاهر الرواية دئ چي د اصول مسلمه عند الشرع عين مطابق دئ نو له همدې کبله به ده ته ترجيح حاصله وي.

وګورئ په رسم المفتي کي راځي:

وظاهر المروي ليس يعدل عنه إلى خلافه إذ ينقل (رسم المفتى:۲۸).

۲_ خبره دا ده چي د منتقى خلاصې او بزازيې، څخه علامه شامي رحمه الله، ابن نجيم مصري او داسي نورو نقل کړى دئ حال دا چي قاضي خان او قاضي اسبيجاني او داسي نورو شارحينو او اهل فتاوا وو چي د چا عبارتونه ذکر سوي دي، هغو د پيسو قوت د رانيولو اعتبار کړى نه دئ فقط هماغه مثل يې واجب او لازم ګڼلى دئ . د زيات تفصيل له پاره د علامه ابن نجيم مصري دا لاندي عبارت وګورئ:

وفى البزازية معزياً إلى المنتقى .... وهكذا فى الذخيرة والخلاصة بالعزو إلى المنتقى وفي فتاوى قاضى خان يلزم المثل وهكذا ذكر الإسبيجاني قال: ولاينظر إلى القيمة. (البحر الرائق:٦/ ۲۰۲، کتاب الصرف، کوئته).

په بحوث في قضايا فقهية معاصر کي راځي:

أما ربط القروض وسائر الديون بقائمة الأسعار، فالمقصود منه أن لايرد المستقرض إلى المقرض مبلغ قرضه فحسب، بل يضيف إليه قدراً زائدا بنسبة الزيادة في قائمة الأسعار.... فلو ألزمنا المقترض أن يدفع إليه ما قبض منه، لم يكن ذلک إلاّ إکمال المالية المقترضة.... وليس زيادة على المالية المقترضة، فينبغي أن لاتعتبر هذه الزيادة من الربا الحرام شرعاً.

لكن الحق أن هذا الدليل لاينطبق على القواعد الشرعية بحال من الأحوال، لأن القروض يجب فى الشرعية الإسلامية أن تقضى بأمثالها، وهذا أمر لايختلف فيه اثنان، .... فبقي الآن تعيين المثلية، فالسوال الأساسي هنا: هل يجب أن تتحقق هذه المثلية فى القدر (أى الكيل،

والوزن، والعدد) أو في القيمة والمالية؟ والذي يتحقق من النظر في دلائل القرآن والسنة ومشاهدة معاملات الناس، أن المثلية المطلوبة في القرض هي المثلية في المقدار والكمية، دون المثلية في القيمة والمالية. (بحوث في قضايا معاصرة:١/ ١٧٣-١٧٤).

٣_ كله چي په قاضي خان او داسي نورو اهل فتاواوو كي تعارض وي نو علامه شامي په شرح عقود رسمي مفتى كي فرمايلي دي چي قاضي خان ته به پر نورو ترجيح وي.

وګورئ په شرح عقود رسم المفتي كي راځي:

وسابق الأقوال في الخانية.أي أن أول الأقوال الواقعة في فتاوى الإمام قاضي خان له مزية على غيره في الرجحان لأنه قال في أول الفتاوى: وفيما كثرت فيه الأقاويل من المتأخرين اختصرت على قول أو قولين وقدمت ما هو الأظهر وأفتتحت بما هو الأشهر إجابة للطالبين وتيسيراً على الراغبين. (شرح عقود رسم المفتى:ص ٣١ - وفتاوى قاضى خان على هامش الهندية:١/ ٢).

علامه قاسم بن قطلوبغا رحمه الله فرمايي:

وهذا ما تيسر على مختصر القدوري مع زيادات نص على تصحيحها القاضي الإمام فخر الدين قاضي خان في « فتاواه» فإنه من أحق من يعتمد على تصحيحه. (مقدمة التصحيح والترجيح:ص ١٣٤).

٤_ د حاكم شهيد بل كتاب الكافي دئ چي په هغه كي يې د امام محمد رحمه الله كتب سته يعني ظاهر الراوية يې جمعه كړي دي په هغه كي د پيسو قوت ته اعتبار نه دئ وركړل سوى او فقط مثل يې واجب ګڼلى دئ.

وګورئ علامه شامي د كافي څخه نقل كړى دئ:

وفي كافي الحاكم، لو قال أقرضني دانق حنطة فأقرضه ربع حنطة، فعليه أن يرد مثله إلى أن قال وكذلك لو قال أقرضني عشرة دراهم غلة بدينار، فأعطاه عشرة دراهم فعليه مثلها، ولا ينظر إلى غلاء الدراهم ولا إلى رخصها. (فتاوى الشامي:٥/ ١٦١-١٦٢، باب القرض، سعيد).

او كله چي د حاكم شهيد په كتاب ((الكافي)) او ((المنتقى)) دواړو كي تعارض وي نو د الكافي و عبارت ته به ترجيح وركول كيږي په داسي حال كي چي د اصولو مسلمه عند الشرع څخه خلاف نه وي او د نوادر درجه بيا وروسته ده، همدغه د احنافو د مشائخ طريقه ده.

وګورئ علامه شامي رحمة الله عليه فرمايي:

قال في فتح القدير وغيره إن كتاب الكافي هو جمع كلام محمد رحمة الله عليه في كتبه الست التي هي كتب ظاهر الرواية انتهى، وفي شرح الأشباه للعلامة إبراهيم البيري اعلم أن من كتب مسائل الأصول كتاب الكافي للحاكم الشهيد وهو كتاب معتمد في نقل المذهب شرحه جماعة من المشايخ منهم شمس الأئمة السرخسي. (شرح عقود رسم المفتي:١٣).

۵_ د امام ابو يوسف رحمة الله عليه دا مذهب د هغو فلوس نافقه په اړه دئ چي نقدينو سره تړاو لري خو نن سبا پيسې مستقل د ثمن اصطلاحي وو په حكم كي دي، دوى د چا سره تړاو نه لري او نه تابع دي.

وګورئ مفتي محمد تقى عثماني صاحب وايي:

فاستدل بعض الاقتصاديين على أنه إذا وجب الدين في صورة الفلوس، فالواجب أداء قيمتها إذا طرأ عليها الغلاء والرخص.... ولكن هذا الاستدلال غير صحيح، والحقيقة أن مذهب أبي يوسف رحمة الله عليه لا علاقة بفكرة ربط الديون بقائمة الأسعار .... والواقع أن الفلوس، في الأزمنة المتقدمة كانت مرتبطة بنقود الذهب والفضة، تقوم على أساسها، وتعتبر كالفكة للنقود الذهبية والفضية، فكانت عشرة فلوس مثلاً تعادل درهماً واحداً من الفضة فكان الفلس

الواحد يعتبر عشر الدرهم الفضى، ولكن قيمة الفلس هذه لم تكن مقدرة على أساس قيمتها الذاتية، وإنما كانت قيمة رمزية اصطلح عليها الناس، فكان من الممكن أن يتغير هذا الاصطلاح...

والذي يظهر لی ـ والله اعلم ـ أن أساس الخلاف بين أبي يوسف رحمه الله والجمهور مبني على اختلافهم في تكييف هذه الفلوس، فيبدو أن جمهور الفقهاء اعتبروا الفلوس أثماناً اصطلاحية مستقلة غير مربوطة بالدراهم والدنانير ارتباطاً دائماً، فمن اقترض عدداً من الفلوس، فإنه يؤدي نفس العدد دون نظر إلى قيمتها بالنسبة للدراهم، وأما أبو يوسف رحمه الله فاعتبر الفلوس أجزاء اصطلاحية كالفكة للدرهم، فالمقصود بالاقتراض عنده ليس عدد الفلوس وإنما المقصود اقتراض أجزاء للدرهم بمثلها ذلك العدد من الفلوس....

فالحاصل أن قول الإمام أبي يوسف رحمه الله إنما يتأتي في فلوس مرتبطة بثمن آخر ارتباطاً دائماً يجعلها كالأجزاء والفكة لذلك الثمن، أما النقود الورقيةاليوم، فليست مرتبطة بثمن آخر ولامعتبرة كالأجزاء والفكة له، وإنما هي أثمان اصطلاحية مستقلة. (بحوث فی قضايا فقهية معاصرة:١٨٦.١-١٨٨).

٦_ زموږ علماوو د سودي معاملې د بد بويي څخه د ليري کېدلو تلقين فرمايلی دئ تر دې پوري چي د شبه ربا څخه يې هم منعه کړې ده او يوازي د سود د اندېښنې په سبب يې د ځينو معاملو څخه منعه فرمايلې ده.

وګورئ په فتاوی هنديه کي راځي:

قال : ومشايخنا لم يفتوا بجواز ذلك في العدالي والغطارفة لأنها أعز الأموال في ديارنا فلو أبيح التفاضل فيه يفتح باب الربا . كذا في الهداية والتبيين . (الفتاوى الهندية:٣/ ١٠٦).

پہ فتح القدیر کي راځي:

(و مشايخنا) يعني مشايخ ما وراء النهر من بخارى وسمرقند (لم يفتوا بجواز ذلك) أي بيعها بجنسها متفاضلًا (في العدالى والغطارفة) مع أن الغش فيها أكثر من الفضة (لأنها أعز الأموال في ديارنا ، فلو أبيح التفاضل فيها ينفتح باب الربا) الصريح ، فإن الناس حينئذٍ يعتادون التفاضل في الأموال النفيسة فيدرجون إلى ذلك في النقود الخالصة فمنع ذلك حسمًا لمادة الفساد . (الهداية مع فتح القدير :٧/ ١٥٣، باب الصرف، دار الفكر).

٧_ دا مسئله دغصب په شان ده که غاصب کوم شی غصب کړ او بیا د هغه قیمت کم سو او کله چی دی واپس هغه شی ورکوي هماغه شی به بیرته ورکول لازم وي او د دې شي د کمښت او زیاتوالي اعتبار به نه وي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

ولو وجد (المغصوب) في بلد الغصب وانتقص السعر يأخذ العين لا القيمة يوم الغصب.

(فتاوى الشامى:٦/ ١٨٢، سعيد).

په هدایه کي راځي:

بخلاف تراجع السعر إذا رد فى مكان الغصب لأنه عبارة عن فتور الرغبات دون فوات الجز. (الهداية:٣/ ٣٧٥).

وللاستزادة انظر : (بحوث فى قضايا فقهية معاصرة:١٧٣.١ -١٩٣ – و جديد فقهى مباحث:٢، كرنسى نوت كى شرعى حيثيت – وفتاوى محموديه مع التعليقات:١٦/ ٤٠٥-٤٠٧، جامعه فاروقيه). والله ﷻ اعلم.

په قرضو کې د ښه شي بېرته ور واپس کولو د شرط حکم

سوال: زید و عمر ته لس کیلو میانه غنم د قرض په ډول ورکړل او ورته یې ویل چې تر یوې میاشتې وروسته به ما ته قرض راکوې او ښه اعلی غنم په راکوې نو ایا دا معامله روا ده او که نه؟

الجواب: په سودي مالو کې یو د بل سره د بدلون په وخت کې نغد او برابر تیا ضروري ده همدارنګه د اعلی او ادنی هم فرق نه سته خو د قرض معامله له دې څخه مستثنی ده نو ځکه شریعت د نسیهٔ (پور) سره سره دا روا بللې ده خو مماثلت په دې کې هم ضروري دي، نو ځکه د بیرته ورکولو په وخت کې د دې په کمیت او کیفیت کې مساوات ضروري دئ او په دې کې د ښه شي د واپس کولو شرط د کټې ولاس ته د راوړلو مترادف به وي چې ناروا دئ.

وګورئ په البحر الرائق کې راځي:

لا يجوز قرض جر نفعًا بأن أقرضه دراهم مكسرةً بشرط رد صحيحةٍ أو أقرضه طعامًا في مكان بشرط رده في مكان آخر. (البحر الرائق:٦/ ١٢٢، تتمة فى مسائل القرض، كوئته).

په بدائع الصنائع کې راځي:

وأما (شرائط) الذي يرجع إلى نفس القرض: فهو أن لا يكون فيه جر منفعةٍ، فإن كان لم يجز، نحو ما إذا أقرضه دراهم غلةٍ، على أن يرد عليه صحاحًا، أو أقرضه وشرط شرطًا له فيه منفعة؛ لما روي عن رسول الله ﷺ أنه نهى عن قرضٍ جر نفعًا؛ ولأن الزيادة المشروطة تشبه الربا؛ لأنها فضل لا يقابله عوض، والتحرز عن حقيقة الربا، وعن شبهة الربا واجب، هذا إذا كانت الزيادة مشروطةً في القرض. (بدائع الصنائع:٧/ ٣٩٥، سعيد).

وفي رد المحتار: قوله كل قرض جرنفعاً حرام، أى إذا كان مشروطاً. (رد المحتار:٥/ ١٦٥، سعيد).

په اعلاء السنن کي راځي:

لانزاع في حرمة الفضل المشروط فی القرض، سواء كان وصفاً أو قدراً. (اعلاء السنن: ۱٤/ ۵۲۱، ادارة القرآن).

په عطریه هدایه کي راځي:

هریو داسي قرض چي په هغه کي نفع شرط سوی وي نبي کریم ﷺ فرمایل: کل قرض جر نفعاً فهو ربا، **یعني هر هغه قرض چي په هغه کي ګټه واخیستل سي هغه سود دئ.** (عطر هدایه: ص ۲۹۳).

وللاستزادة انظر: (الفتاوی الهندیة: ۸۳/ ۲۰۲ – ومرقات المفاتیح: ٦/ ۹۹ – واعلاء السنن: ۱٤/ ۵۲۱ – والفقه الحنفی فی ثوبه الجدید: ٤/ ۲۲۲ – وفتاوی محمودیه: ۱٦/ ٤۱۳، جامعه فاروقیه – جدید معاملات کی شرعی احکام: ۱/ ۱۸٤ – کتاب الفتاوی: ۵/ ۳۷۳). والله تعالیٰ اعلم.

د قرضو پر ځنډولو د مالي جرمانې حکم

سوال: په څلورم ټوک کي تالیکلي دي چي ځیني علماء تعزیر بالمال روا ګڼي او د دې بېخي زیات دلیلونه لیکل سوي دي اوس مورږ دا پوښتنه کوو چي که چیري یو مدیون یا مستقرض په قرض اداء کولو کي چون او چرا کوي او پر ده باندي یو لک قرض وي او د قرض مده (وخت) اول تاریخ د دسمبر وي هغه پوره سوی وي نو ایا د قرضو د ځنډ په سبب پر هغه مالي جرمانه لګولای سو او که نه؟

الجواب: دا صورت خو بېخي ناروا دئ او د یو لک پر ځای یو لک او دوه زره اخیستل روا نه دي ودې ته قراني سود ویل کیږي چي د وخت په تیرېدو سره په قرضو کي زیاتوالی راځي معنا دا چي پر قرضو جرمانه لګول ناروا دي، خو پر یوه نامناسب کار په جرمانه لګولو کي د علماوو اختلاف دئ د یوه جماعت په آند دا جرمانه روا ده چي د دې تفصیل په فتاوی دار العلوم زکریا څلورم جلد کي تېر سوی دئ.

همداسي بیع د اجل (وخت) او د هغه ثمن اخیستل هم ناروا دي. (الهدایه: ۳/ ۷٤).

وكـذا فـي التبيـين : لأن الأجـل لـيس بمـال متقـول فلايقابلـه شيء مـن الـثمن. (تبيـين الحقائق: ٤/ ٧٨).

والمبسوط للإمام السرخسي رحمه الله: فإن مبادلة الأجل بالمال ربا (ألا ترى) أن الشرع حرم ربا النساء وليس ذلک إلا شبهة مبادلة المال بالأجل فحقيقة ذلک يکون رباً حراماً أولى. (المبسوط: ۲۱/ ۳۱).

همداسي د جاهليت په وخت کي به د وخت په تېرېدو سره پيسې هم زياتې دې.

وفي تكملة فتح الملهم: ربا النسيئة: وقد عرفه الإمام أبو بكر الجصاص بقوله: هو القرض المشروط فيه الأجل، وزيادة مال على المستقرض.... وكان هذا الربا محرماً في سائر الأديان السماوية. أخرج ابن جرير عن ابن جريج قال: كانت بنو عمرو بن عمير بن عوف يأخذون الربا من بني المغيرة، وكانت بنو المغيرة يربون لهم في الجاهلية فجاء الإسلام ولهم عليهم مال كثير. وقد أخرج ابن أبي حاتم والشافعي عن عمرو بن الأحوص أن رسول الله ﷺ قال: ألا أن كل ربا كان في الجاهلية موضوع عنكم كله لكم رؤوس أموالكم لاتظلمون ولاتظلمون. (تكملة فتح الملهم: ۱/ ۵۶۷-۵۶۸) . والله تعالى اعلم.

د مودع المديون څخه د خپل قرض اخيستلو حكم

سوال: د عمر پر زيد باندي قرض دئ او زيد يې د اداء كولو قدرت لري خو نه يې اداء كوي د زيد مديون په دوكان كي يو نوكر او يو زوى دئ نو ايا د زيد زوى يا نوكر دا حق لري چي د زيد له دوكانه هغه قرض اداء كړي يا تر قرض څه كم شى اداء كړي يا د زيد پيسې عمر ته وركړي؟

الجواب: عمر د زيد څخه يا د زيد له مودع څخه خپل د پور (قرض) اندازه اخيستلاى سي يا تر پور كم خو د زيد زوى او نوكر ته دا اختيار نه ستته چي هغه يې د اصل مالک يعني د مديون يا مقروض د مال څخه دائن ته وركړي.

وګورئ د هدايې مصنف رحمه الله فرمايي:

كما إذا كان له ألف درهم وديعة عند إنسان وعليه ألف لغيره فلغريمه أن يأخذه إذا ظفر به وليس للمودع أن يدفعه إليه. (الهداية:۳/ ۲۷٦، كتاب الوديعة).

په شرح مجله كي راځي:

وأما إذا كان مطلوب الدائن من جنس الوديعة فللدائن المرقوم عند ظفره أن يأخذ من المستودع مقداراً كا فياً لمطلوبه، وإن كان إعطاء المستودع غير جائز، ولا يلزم المستودع الضمان في هذه الحالة. (درر الحكام شرح مجلة الاحكام:۲/ ۲۷۰).

د دې عبارتو خلاصه دا سوه چي كله د مديون شخه مال نه سي اخيستلاى نو د هغه د مودع شخه يې اخيستلاى سي خو د پور وړي (قرض دار) و مودع ته دا حق نه سته چي هغه د پور په اندازه دائن ته وركوي ياد ولرئ چي په دوكان كي زوى يا معاون (كومک كونكى) يا مزدور او اجير خاص د مودع په شان دئ لكه څنګه چي دا خبره ښكاره ده. په كتاب الاجارة كي دي. (الهداية:۳۳/ ۳۱۰، تحت باب ضمان الاجير).

دا خبره خو معلومه سوه چي د مودع له پاره يې وركول روا نه دي خو كه مودع يې وركي نو تاوان به پر ده راځي او كه نه په دې اړه د فقهاوو اختلاف دئ علامه ابن نجيم مصري رحمه الله فرمايي چي مودع به ضامن وي او د فتاوى والوالجية د مصنف د عبارت څخه هم همدا خبره معلوميږي او علامه بدر الدين په جامع الفصولين كي دوه قوله نقل كړى دي او په فتاوى هنديه كي يې د عدم الضمان قول ته يې مختار ويلي دي او د مجلې شارح هم همدا قول نقل كړى دئ.

وګورئ علامه ابن نجيم رحمه الله فرمايي:

ولو قضى المودع بها دين المودع ضمن على الصحيح. (الاشباه والنظائر:۲/ ۴۰۷، الفن الثانى الفوائد).

په فتاوى ولوالجيه كي راځي:

رجل له عند رجل ألف درهم وديعة، ولرجل على المودع ألف درهم دين، فقضى المودع دينه، مما عنده من الوديعة بغير إذن المودع، فهو بالخيار إن شاء ضمن المودع، وأخذ وديعته، وسلم الألف للآخذ، وليس للمودع أن يرجع به على أحد لأنه متبرع بقضاء دينه عنه، وإن شاء اجاز القضاء، ولاشيء له على المودع. (الفتاوى الولو الجية: ٤/ ٩٣، الفصل الخامس فى المسائل المتفرقة).

وفي جامع الفصولين: ولمودع لوقضى دين ربها والدين من جنس الوديعة قيل ضمن وقيل له. (جامع الفصولين: ٢/ ١٥٢ – وكذا فى مجمع الضمانات: ١/ ٢٩١، الفصل الثانى فيمن يضمن المودع بالدفع اليه).

وفي الفتاوى الهندية: المودع إذا قضى دين المودع من مال الوديعة يضمن وإن كان من جنس الوديعة قيل: لا يضمن وهو المختار عند البعض كذا في خزانة المفتين. (الفتاوى الهندية: ٤/ ٣٥٨ – وكذا فى شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسى: ٣/ ٢٧٣، المادة: ٧٩٣ – ودرر الحكام شرح مجلة الاحكام لعلى حيدر: ٢/ ٢٧١). والله ﷻ اعلم.

كه مديون دائن ودرېيم كس ته حواله كړي نو د هغه حكم

سوال: بكر د خالد مقروض دئ او پر خالد بيا د عمر قرض دئ خالد عمر ته وويل زما څخه قرض مه اخله بلكي د بكر څخه يې واخله هغه زما مقروض دئ او بكر قبوله كړه بيا عمر وويل چي زه خپل قرض د خالد څخه اخلم او خالد يې د وركولو څخه انكار كوي او وايي چي تا د بكر څخه اخيستل قبول كړي وه اوس د خالد انكار صحيح دئ او كه نه؟

لنډه دا چي كه چيري مديون خپل پور وخپل مديون ته حواله كړي، دائن يې د مديون څخه اخيستلاى سي او كه نه؟

الجواب: کله چي مدیون خپل دائن يو دريم (ثالث) ته حواله کي او ثالث دا قبول هم کي نو بيا يې دائن د خپل مديون څخه نه سي غوښتلای نو ځکه په ياد صورت کي عمر د خپل مديون المديون بکر چي ثالث دئ د هغه څخه به يې اخلي او د خالد څخه به يې نه غواړي مګر په دا سي صورت کي چي پيسې دوبي سي بيا يې د مديون څخه غوښتلای سي مثلاً ثالث مړ سي او هيڅ مال او اسباب يې نه وي يا د حوالې څخه انکار وکړي او پر حوالې شاهدان هم نه وي.

وګورئ د هدايې مصنف رحمة الله عليه فرمايي:

قال وإذا تمت الحوالة برىء المحيل من الدين وقال فى الفتح هذا قول طائفة من المشائخ وهو الصحيح من المذهب..... ولا يرجع المحتال على المحيل إلا أن يتوى حقه ..... والتوى عند أبى حنيفة رحمة الله عليه أحد الأمرين إما أن يجحد الحوالة ويحلف ولابينة له عليه أو يموت مفلساً لأن العجز عن الوصول يتحقق بكل منهما وهو التوى فى الحقيقة. (الهداية مع فتح القدير:٦/ ٣٤٧). والله ﷻ اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ إن الله يأمركم أن تؤدوا الأمانات إلى أهلها ﴾. (سورة النساء، الآية ٥

قال وتعالى: ﴿ فويل للمصلين (٤) الذين هم عن صلاتهم ساهون (٥) الذين هم يراءون ٦

ويمنعون الماعون (٧) ﴾. (سورة الماعون).

وقال رسول الله ﷺ: « أد الأمانة إلى من ائتمنک ولاتخن من خانک» .(رواه ابوداود).

وقال رسول الله ﷺ: الأمانة تجر الرزق والخيانة تجر الفقر. (مسند الشهاب).

عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده، عن النبي ﷺ قال: ليس على المستعير غير المغل ضمان، ولا على المستودع غير المغل ضمان. (رواه الدار قطنى).

د عاريت او امانت حکمونه

د وخت تر پوره کېدو مخکې د مستعار شي د بېرته اخيستلو حکم

سوال: که يو چا وبل چا ته ځمکه د درو کالو په خواست له پاره د دې ورکړه چې هغه په دې کې درختې او داسې نور شيان ولګوي نو بيا تر يوه کاله وروسته دې ځمکه ورڅخه غواړي مستعير وايي چې په دې کې زما تاوان دئ، اوس څه کول په کار دي ايا د ردختو د کښلو تاوان پر مالک راځي او که نه؟ او که راځي نو څومره به وي؟

الجواب: په دې صورت کې د مودې تر پوره کېدلو مخکې هم معير د خپلې ځمکې د خالي کېدو اختيار لري خو داسې کار کول مکروه دي او تر وخت د مخه چې کوم تاوان پر مستعير راځي معير به د هغه ذمه واره وي او هغه تاوان به ورکوي يعني معير د درو کالو د باغ لګولو له پاره ځمکه ورکړې وه او په يوه کال کې يې بېرته ورڅخه غواړي نو مستعير ته به وويل سي چې خپل باغ پرې که او ځمکه خالي که، اوس که باغ تر درو کالو پاته سوی وای نو د هغه قيمت به مثلا پنځه زره روپۍ وو او کوم وخت چې يې دی ځمکه خالي کوي دوه زره روپۍ دئ نو دا درې زره تاوان به معير ومستعير ته

ورکوي او که معیر درختي رانیول هم غواړي او مستعیر یې ورکول غواړي نو همغه ...
قیمت وي همغه به پوره ورکوي او که د مستعیر د درختو په کېنلو سره ځمکي ته تاوان ...
ځمکي مالک ته اختیار دئ که یې خوښه وي همغه درختي دي د ځان له پاره پرېږدي او قیمت ...
کړي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وإن وقت العارية فرجع قبله كلفه قلعهما وضمن المعير للمستعير ما نقص البناء والغرس بالقلع بأن يقوم قائمًا إلى المدة المضروبة ، وتعتبر القيمة يوم الاسترداد بحر. وفي رد المحتار: قوله (ما نقص البناء) هذا مشى عليه في الكنز والهداية، وذكر في البحر عن المحيط ضمان القيمة قائماً إلا أن يقلعه المستعير ولا ضرر فإن ضر فضمان القيمة مقلوعاً وعبارة المجمع: وألزمناه الضمان فقيل ما نقصهما القلع، وقيل قيمتها ويملكهما، وقيل إن ضر يخير المالك يعني المعير يخير بين ضمان ما نقص وضمان القيمة، ومثله في درر البحار والمواهب والملتقى وكلهم قدموا الأول وبعضهم جزم به وعبر عن غيره بقيل فلذا اختار المصنف وهي رواية القدوري والثاني رواية الحاكم الشهيد كما في غرر الأفكار. (قوله قائما) فلو قيمته قائماً في الحال أربعة وفي المآل عشرة ضمن ستة، شرح الملتقى. (الدر المختار مع رد المحتار: ٥/ ٦٨١، سعيد).

په شرح مجله کي راځي:

وإن كان وقت العارية ورجع قبل الوقت، صح رجوعه، لما ذكرنا (أي أن العارية غير لازمة) ولكنه يكره، لما فيه من خلف الوعد، وضمن المعير مانقص البناء والغرس بالقلع لأنه مغرور من جهته حيث وقت له، فالظاهر هو الوفاء بالوعد فيرجع عليه دفعاً للضرر عن

نفسه؟، كذا ذكره القدوري في المختصر. وذكر الحاكم الشهيد أنه يضمن رب الأرض للمستعير قيمة غرسه وبنائه، ويكونان له إلا أن يشاء المستعير أن يرفعهما، ولا يضمه قيمتهما فيكون له ذلك، لأنه ملكه، قالوا: إذا كان في القلع ضرر با لأرض فالخيار إلى رب الأرض، لأنه صاحب أصل والمستعير صاحب تبع، والترجيح بالأصل. (كذا في الهداية).

قلت: وحاصل ما ذكروه أن هذه المسئلة على أربعة أوجه.... الثالثة: أن تكون موقتة والقلع لايضر، فالمستعير يؤمر بالقلع ويضمن له المعير مانقص البناء والغرس، على ما وضحته هذه المادة، وهذه رواية القدوري وعليها مشت المجلة تبعاً للهداية والكنز وغيرهما، وأما على رواية الحاكم الشهيد، فالمعير يتملكهما بقيمتهما قائمين، إلا أن يشاء المستعير قعلهما، ولايضمن المعير شيئاً.

الربعة: أن تكون موقته والقلع يضر بالأرض، فالمعير مخير بين أن يتملكهما بقيمتهما قائمين أو يأمر المستعير بالقلع ويضمن نقص البناء والغرس، على ماتبين في متن هذه المادة.

(شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي:۳/ ۳۳۵، المادة:۸۳۱).

خبرتیا: دا مسئله د مکان او درختو ده خو که چیري یې د کښت له پاره په خواست سره ورکړې وي نو په دې کي که موده تاکل سوې وي او که نه وي تر کومه وخته چي فصل رېبل سوی نه وي معیریې نه سي خالي کولای او اجر مثل به ورکوي.

وګورئ په شرح مجله کي راځي:

إذا كانت إعارة الأرض للزرع سواء كانت موقتة أو غير موقتة ليس للمستعير أن يرجع بالإعارة ويسترد الأرض قبل وقت الحصاد.

عبارة الكنز وغيره: ولـو استعارها ليزرعها، لـم تؤخـذ منه حتى يحصد

وقت أو لـم يوقت. قال الزيلعي رحمه الله: فيترك بأجر المثل، لأن فيه مراعاة

الإجارة إذا انقضت المدة والزرع لـم يدرك. (شرح المجلة، لمحمد خالد

المادة: ٨٣٢). والله تعالى اعلم.

په خواست (استعاره) اخيستل سوي مكان د بير ته وركولو حكم

سوال: يو چا د مسجد له پاره ځاى وركړ خلكو په دې كي لمونځ كول شروع كړه او يوه ديندار سړي دا مسجد وګنړ او په دې كي يې يو كوټه جوړ كړ بيا خلكو خپل مسجد جوړ كړ او د مكان مالک دا مكان وپلورئ اوس هغه سړي چا چي يو كوټه جوړه كړې وه د دې د اطاق قيمت غواړي چې دى دا پيسې د خير په يوه بل كار كي لګول غواړي اوس شرعي حكم څه دئ؟

الجواب: په دې صورت كي د مكان مالک خپل مكان د مسجد له پاره په خواست وركړى وو او يو وخت يې نه وو ټاكلى نو ځكه مالک چي هر وخت خپل ځاى غواړي هغه وخت يې بيرته اخيستلاى سي او د اطاق والا ته به وويل سي چي خپل اطاق ونړوه او مكان خلاص كه بيا كه د هغه اطاق له نړولو څخه مكان ته تاوان نه رسېدئ نو معير د اطاق جوړوونكى د اطاق له نړولو څخه نه سي منعه كولاى خو كه چيري مكان يا ځمكي ته د تاوان رسېدو خطر وي نو معير ته اختيار دئ چي هغه پرېږدي او د مقلوعاً د اطاق قيمت اداء كړي او كه غواړي د نړولو حكم دي وركړي.

خلاصه په دې ياد سوي صورت كي لكه څنګه چي معير مكان پلورلى دئ نو د مقلوعاً اطاق قيمت دي په دې سبب اداء كړي چي هغه ديندار سړى دا د خير په يوه كار كي ولګوي.

په شرح مجله كي راځي:

استعارة الأرض الغرس الأشجار والبناء عليها صحيحة، لكن للمعير أن يرجع بالإعارة

متى شاء، فإذا رجع لزم المستعير قلع الأشجار ورفع البناء.... لأن العارية غير لازمة، فكان له

أن يرجع أي وقت شاء، وإذا صح الرجوع بقي المستعير شاغلاً أرض المعير، فيكلف

تفريغها، ثم إن لم يكن وقت العارية، فلا ضمان عليه، لان المستعير معذور حيث اعتمد إطلاق العقد من غير أن يسبق منه الوعد

قلت: وحاصل ما ذكروه أن هذه المسئلة على أربعة أوجه، لأنها إما غير موقتة او موقتة وعلى كل فإما أن لايضر القلع بالأرض، أو يضر، فنى الصورة الأولى، وهي ما إذا كانت غير موقتة والقلع لايضر، يؤمر المستعير بالقلع ولايضمن له المعير شيئاً، لأن المستعير معذر لا مغرور.

الثانية: أن تكون غير موقتة والقلع يضر، فالمعير مخير بين أن يتملك البناء والغرس بقيمتهما مقلوعينف وبين أن يكلف القلع ولاضمان عليه. (شرح المجلة، لمحمد خالد الاتاسي:۳/ ۳۳٦، المادة:۸۳۱).

د وخت تر پوره کېدو مخکي د مستعاري ځمکي د بېرته غوښتلو حکم

سوال: زید وعمر ته د مکان جوړولو له پاره په خواست ځمکه ورکړه او دا يې ورته وويل چي تر شلو کالو دا ځمکه استعمالوه عمر خام ځای پر جوړ کئ درې کاله وروسته زید د عمر څخه خفه سو او دی د دې ځایه ایستل غواړي عمر بیا دا یو خطاء ایستل (دوکه) ګڼي اوس که چیري عمر خپل مکان ونړوي نو دی د زید څخه تاوان اخیستلای سي او که نه؟

الجواب: عمر دیزید څخه تاوان اخیستلای سي که چیري ولاړ مکان د شلو زرو وي او تر نړولو وروسته د دې قیمت لس زره وي چي د دواړو په منځ کي د لسو زرو فرق سته دغه لس زره عمر د زید څخه اخیستلای سي خو که چیري ځمکه یې د فصل د کرلو له پاره ورکړې وي او تر وخت مخکي یې غواړي نو د فصل تر پخېدلو به یې پرېږدي او د غوښتلو او پخېدلو تر منځ چي څومره ورځي دي د هغو کرایه زید له عمر څخه غوښتلای سي. همدارنګه د فقهي په کتابو کي راځي. والله ﷻ اعلم.

پر مستعير د تاوان حکم

سوال: يوه طالب د بل طالب څخه د هغه په اجازه د استعمال له پاره ټليفون واخيست ... هماغه شپه د ټليفون بيرته ورکولو له پاره ورته راغئ خو د ټليفون مالک بيده وو، ... په مدرسه کي تلاښي شروع سوه هغه موبايل استاذانو مات کئ، اوس معير طالب د خپل موبايل قيمت د مستعير طالب څخه غواړي اوس شرعي حکم څه دئ؟ ايا قيمت اداء کول واجب دي او که نه؟

الجواب: د مستعار شي شرعي حکم دا دئ چي هغه چي تر کومه وخته له مستعير سره وي د امانت په ډول به بې ضمانته وي يعني د دې ساتنه پر مستعير داسي لازمه ده لکه څنګه چي د امانت ساتنه کيږي خو که چيري هغه شی اتفاقاً مات يا خراب سي نو پر ده باندي هيڅ ذمه واري نه سته يعني پر ده به د تاوان ذمه واري په دې صورت کي نه وي چي هغه شی اتفاقاً خراب يا مات سوی وي خو که ده په غلطه طريقه وکاروئ يا يې وغير ذمه وار وانسانانو ته ورکئ او هغه شی هلاک سو يا قصداً ده خراب کئ يا يې مات کئ نو په دغو ټولو صورتو کي پر مستعير باندي د دې تاوان راځي او لازميږي.

اوس تر دې شرعي حکم لاندي پورتنی مسئلې ته وګورئ، په ښکاره خو داسي معلوميږي چي د مدرسې استاذانو چي کله ټليفون وغوښتئ نو مستعير به درواغ ورته ويلي وي چي زما سره ټليفون نه سته يا به پر دې پر واره پوښتني کولو ده هيڅ جواب نه وي ورکړی نو دا د مستعير زياتوب او تعدي (خيانت) دئ نو له همدې کبله به استاذانو ورمات کړی وي که چيري مستعير صاف ورته ويلي وای چي دا د فلاني طالب دئ د هغه د نامه پر چي پر ولګوه نو ښايي چي استاذانو مات کړی نه وای، نو که دا بيان سوی صورت وو نو پر مستعير به تاوان لازم وي او که استاذ د څه تدبير او مصلحت څخه پرته مات کړی وي نو بيا پر مستعير تاوان نه راځي خو دا دوهم اړخ ډېر ليري دئ.

وګورئ په عنايه کي راځي:

(والعارية أمانة إن هلكت من غير تعد لم يضمن الخ) إن هلكت العارية فإن كان بتعد أوجب الضمان بالإجماع وإن كان بغيره لم يضمن. (شرح العناية على هامش فتح القدير: ٩/ ٧، دار الفكر).

په درمختار كي راځي:

(ولاتضمن بالهلاک من غير تعد) وشرط الضمان باطل كشرط عدمه في الرهن خلاف للجوهرة . وفي الشامية: (قوله بالهلاك) هذا إذا كانت مطلقة فلو مقيدة كأن يعيره يوما فلو لم يردها بعد مضيه ضمن إذا هلكت كما في شرح المجمع وهو المختار كما في العمادية قال في الشرنبلالية: سواء استعملها بعد الوقت أو لا وذكر صاحب المحيط وشيخ الإسلام إنما يضمن إذا انتفع بعد مضي الوقت لأنه حينئذ يصير غاصبا، أبو السعود. (الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٦٧٩، كتاب العارية، سعيد).

په شرح مجله كي راځي:

العارية أمانة في يد المستعير فإذا هلكت أو ضاعت أو نقصت قيمتها لاتعد ولا تقصير لايلزم الضمان .... وإذا حصل من المستعير تعد أو تقصير بحق العارية ثم هلكت أو نقصت قيمتها فبأي سبب كان الهلاک أو النقص يلزم المستعير الضمان. (شرح المجلة:٣/ ٣١٢، المادة:٨١٣-٨١٤).

په عالمكيري كي راځي:

ولو رد الثوب المستعار فلم يجد المعير ولا من في عياله فأمسكه الليل وهلك لا يضمن ، ولو وجد من في عياله ولم يرده يضمن . (الفتاوى الهندية:٤/ ٣٧٠).

همدا ډول وګورئ: (البحر الرائق:٦/ ٢١٧، كوئته – والفتاوى الهندية:٤/ ٢٦٣ – وحاشية الطحطاوى على الدر المختار:٣/ ٣٨٦ – وفتح باب العناية:٣/ ٣٤٦). والله ﷻ اعلم.

د مستعار شی د تاوان د تلافي (ليري کولو) حکم

سوال: زيد د عمر موټر د عاريت په ډول د استعمال له پاره بوتلئ او د استعمال په وخت ئې پر ځه تاوان راغلئ نو ايا پر زيد د تاوان ليري کول لازم دي او که نه؟ او که قصداً يې کړی وي يا بې قصده تاوان راغلي وي په دوارو کي به فرق وي او که نه؟ همدارنګه د معلوم مقدار څخه د تيز چلولو په سبب چي کوم تاوان راغلی وي د هغه څه حکم دئ؟

الجواب: په دې صورت کي که زيد موټر سم وکاراوه او بې تعدي يو څه تاوان راغئ نو زيد د دې ذمه وار نه دئ او پر ده به تاوان نه راځي خو که يې د سم چلولو خلاف وکړل او تعدي يې وکړل نو زيد به د دې ذمه وار وي همداسي که له هغه معلوم تګ څخه تېز تګ يا د قوانينو څخه مخالفت وکاوه او څه خرابي راغله بيا به هم پر زيد باندي تاوان راځي.

په عالمګيري کي راځي:

وأما حكمها (العارية) فهو ملك المنفعة للمستعير بغير عوضٍ أو ما هو ملحق بالمنفعة عرفًا وعادةً عندنا، كذا في البدائع، والعارية أمانة إن هلكت من غير تعد لم يضمنها.... ولو تعدى ضمن بالإجماع، نحو أن يحمل عليها ما يعلم أنها لا تحمل مثله، وكذلك إذا استعملها ليلًا أو نهارًا فيما لا يستعمل فيه الدواب في العرف والعادة فعطبت ضمن قيمتها، كذا في غاية البيان. (الفتاوى الهندية: ٤/ ٣٦٣، كتاب العارية).

په شرح عنايه کي راځي:

إن هلكت العارية، فإن كان بتعد كحمل الدابة ما لا يحمله مثلها أو استعمالها استعمالًا لا يستعمل مثلها من الدواب أوجب الضمان بالإجماع. (شرح العناية على هامش فتح التدبير: ٩/ ٧، كتاب العارية، دار الفكر).

او په اسلامي فقه کي راځي:

که چیري معیر وخت، ځای او د استعمال ډول (طریقه) قید لګولی نه وي، نو مستعیر ته به اختیار وي چي څنګه یې غواړي هماغه سي دې وکار وي او په دې صورت کي به پر مستعیر هیڅ ذمه واري نه وي خو په عام ډول چي دا شی څنګه کارول کیږي که د هغه خلاف وکي که څه هم معه اجازه ورکړې وي ذمه واري به پر راځي او تاوان به ورکوي، مثلاً یو چا د یو چا څخه باسیکل یا موټر په خواست واخیستئ نو ده په ډېر تېز تګ سره وچلاوه او د عامو خلکو تر چلولو زیات تېز او په بې احتیاطۍ سره او هغه ټکر سو نو د دې د تاوان ذمه واري به پر مستعیر وي، همدارنګه که هغه بل شی چي دی ورسره ټکر سوی دئ د هغه تاوان به هم پر مستعیر وي مثلاً یوه ته زخم ورسېدئ یا یو چا ته مالي تاوان ورسېدئ نو هغه تاوان به هم دی ورکوي. (اسلامی فقه: ۲/ ۴۹۸، د عاریت حکم). والله ﷻ اعلم.

د مستعار ځای په مزدورۍ د ورکولو حکم

سوال: بکر و خالد ته یو مکان د خواست په ډول د اوسېدلو له پاره ورکئ خالد مکان دوې برخي کئ په یوه برخه کي خپله اوسیږي او یوه برخه یې یو چا ته په کرایه ورکړه او میاشتنۍ کرایه اخلي ایا دا کار روا دئ او که نه؟ او د کرایې حقداره څوک دئ؟

الجواب: په دې صورت کي د خالد له پاره روا نه ده چي بې اجازي د خواست مکان په کرایه ورکي او دا اجاره صحیح نه ده او دا کرایه خیراتول به واجب وي، خو که چیري بکر په کرایه ورکولو کي اجازه ورکړې وي نو بیا روا او صحیح دئ.

وګورئ په عالمګیري کي راځي:

ليس للمستعير أن يؤاجر المستعار من غيره، وإن كانت الإعارة تمليكًا عندنا، كذا في الظهيرية. فإن آجر فعطب ضمن حين سلمه إلى المستأجر، كذا في الكافي، وكان الأجر له ويتصدق به في قول أبي حنيفة رحمه الله، كذا في المحيط. (الفتاوى الهندية: ٤/ ٣٦٤، كتاب العارية، باب في التصرفات).

په مجله کي راځي:

ليس للمستعير أن يوجر العارية ولا أن يرهنها بدون إذن المعير (مجلة ...)

په تبيين الحقائق کي راځي:

قوله (ولا يؤجر) لأن الإجارة لازمة فيلزم المعير زيادة الضرر ؛ لأنه لو جازت الإجارة من المستعير لما جاز للمعير أن يرجع عليه حتى تفرغ مدتها فيتضرر فلا يلزمه بغير رضاه. وفي حاشية: قال: فإذا فعل ذلك وآجرها صار بمنزلة الغاصب ، والغاصب إذا فعل يملك الأجرة ويتصدق بها ؛ لأنها حصلت بسببٍ خبيثٍ وهو استعمال مال الغير فكان سبيله التصدق

(تبيين الحقائق مع الحاشية:٥/ ٨٥، كتاب العارية، ط: ملتان).

د مجلې عبارت ((بدون اذان المعير)) او د تبيين عبارت دئ ((بغير رضاه)) د دې دواړو څخه معلومېږي چي د معير په اجازه او خوښي سره د مستعار شي په مزدوري ورکول روا او صحيح دي. والله ﷻ اعلم.

پر مودع بالاجر باندي د تاوان حکم

سوال: عمر د بکر سره خپل يو ګران شی دوديعت په ډول کېښېنوئ او په مياشت کي د هغه شي پر ساتنه هم څه شی ورکوي اتفاقاً د بکر پر کور سېلاب راغئ او هغه شی د سېلاب په سبب ضائع (هلاک) سو اوس عمر هغه ګران شی يا د هغه قيمت له بکر څخه غواړي نو ايا شرعاً بکر د دې ذمه وار دئ او که نه؟ يعني مودع باالاجر باندي تاوان راځي او که نه؟

الجواب: د دوديعت او امانت ساتنه پر مودع لازمول او مزدوري ورته ټاکل شرعاً صحيح دي خو په دې صورت کي که د مودع څخه هغه وديعت ضايع (هلاک) سي چي د هغه څخه ځان ژغورل ممکن وي نو مودع با الاجر به ضامن وي او که داسي نه وو بيا به نه وي، نو په دې صورت کي بکر د ساتني په کار کي سستي نه ده کړې بلکي ده محفوظ ځای اينبی وو او هلاک سو نو پر بکر ضمان (تاوان) نه سته خو که بکر په ساتنه کي کوتاهي وکړه نو ضامن به وي.

وګورئ په فتاوی عالمګیري کي راځي:

المودع إذا شرط الأجرة للمودع على حفظ الوديعة صح ولزم عليه كذا في جواهر الأخلاطي. (الفتاوى الهندية:٤/ ٣٤٢، كتاب الوديعة).

په هدايه کي راځي:

فإذا هلك بسبب يمكن الاحتراز عنه كالغصب والسرقة كان التقصير من جهته فيضمنه كالوديعة إذا كانت بأجر بخلاف مالا يمكن الاحتراز عنه كالموت حتف أنفه والحريق الغالب وغيره لأنه لا تقصير من جهته . (الهداية:٣/ ٣٠٨، باب ضمان الاجير).

په مجله کي راځي:

الوديعة أمانة في يد الوديع فإذا هلكت بلا تعدد من المستودع وبدون صنعه وتقصيره فى الحفظ لايلزم الضمان، فقط إذا كان الإيداع بأجرة فهلكت أو ضاعت بسبب يمكن التحرز عنه لزم المستودع ضمانها. (مجلة:٣/ ٢٤٢، المادة:٧٧٧، فصل فى احكام الوديعة وضمانها).

په درمختار کي راځي:

وهي (الوديعة) أمانة، هذا حكمها مع وجوب الحفظ والأداء عند الطلب واستحباب قبولها، فلا تضمن بالهلاک إلا إذا كانت الوديعة بأجر... (الدر المختار:٥/ ٦٦٤، سعيد).

په الاشباه والنظائر کي راځي:

وفي البزازية: لو جعل للكفيل أجرًا لم يصح وذكر الزيلعي أن الوديعة بالأجر مضمونة، وفي الصيرفية من أحكام الوديعة : إذا استأجر المودع المودع صح . (الاشباه والنظائر:٢/ ٢٩٩).

ومثله فی تبیین الحقائق: وزاد بقوله: والمتاع في يده (أی الأجیر المشترک ... بالهلاک.... بخلاف الوديعة بأجر لأن الحفظ واجب عليه مقصوداً ببدل (تبیین الحقائق: ٥/ ١٣٥، ملتان).

وګورئ په ردالمحتار کي راځي:

وأما من جرى العرف بأنه يأخذ في مقابلة حفظه أجرة يضمن، لأنه وديعة بأجرة لكن الفتوى على عدمه سائحاني. (رد المحتار: ٥/ ٦٦٤، كتاب الايداع، سعيد).

په خلاصه الفتاوی کي راځي:

فإن شرط عليه الضمان إذا هلك يضمن في قولهم جميعاً، لأن الأجير المشترك إنما لايضمن عند أبي حنيفة رحمه الله إذا لم يشترط عليه الضمان، أما إذا شرط يضمن. قال الفقيه أبو الليث، الشرط وعدم الشرط سواء، لأنه أمين، واشترط الضمان على الأمين باطل، وبه يفتى. (خلاصة الفتاوى: ٣/ ١٣٧).

په امداد الاحکام کي راځي:

په وديعت باالاجر کي پر عدم ضمان باندی فتوی ده. (امداد الاحکام: ٣/ ٦٣٧ – وكذا فی ابضاح النوادر: ص ١٧٢).

نتيجه دا سوه چي د مودع باالاجر سره که چيري وديعت هلاک سي نو په تاوان راتللو او نه راتللو کي اختلاف دئ او په فتاواوو کي هم اختلاف دئ څنګه چي بيان سو . د بنده فقير په خيال که مالک د وديعت د ساتني د مزدوری ورکولو اهتمام کړی وي او دا يې هم ورته ويلي وي چي ته به يې ذمه وار يې نو بيا د تاوان فتوي ورکولای سو او خصوصًا په دې وخت (زمانه) کي چي سستی او کاهلي ښخي عامه ده. والله تعالى اعلم.

د ودیعت مال په تجارت کي د کارولو حکم

سوال: زید وعمر ته یو لک روپۍ د امانت په ډول کښېښولې مودع یعني عمر تر یو څو ورځو وروسته هغه په خپل تجارت کي ولګولې او ده یوه څه وخت په تېرېدو سره یې د هغو څخه دوه لکه روپۍ وګټلې اوس دا خبره خو ښکاره ده چي پر عمر د یوه لک روپیو اداء کول لازمي دي خو دا معلومول ضروري دي چي هغه ګټه به د زید وي او که د عمر؟ عمر د اجازې پرته د خپل ځان له پاره تجارت وکړئ او د زید له پاره یې کړی نه دئ او ایا دا ګټه خیراتول ضروري او که نه؟

الجواب: که چیري عمر د امانت په پیسو عقد کړی وي او هماغه پیسې یې اداء کړې نو کومه ګټه چي یې لاس ته راوړې ده هغه ټوله ګټه خیراتول واجب دي خو که ده عقد پر دغو پیسو کړی وي او اداء کړي یې نوري پیسې وي یا یې پر مطلق پیسو عقد وکړ بیا یې د امانت پیسې اداء کړي نو په دغو صورتونو کي ګټه خیراتول واجب نه دي او خپله کارول یې ګنجائش لري، خو د ځینو علماوو په آند که یې په مطلق پیسو باندي یې سودا کړې وي بیا یې هم د ګټي خیراتول واجب دي.

وګوري علامه سرخسي رحمه الله فرمايي:

فإن كانت الوديعة دراهم فالدراهم يشتري بها ثم ينظر إن اشترى بها بعينها ونقدها لا يطيب له الفصل أيضا وإن اشترى بها ونقد غيرها أو اشترى بدراهم مطلقة ثم نقدها يطيب له الربح هنا لأن الدراهم لا تتعين بنفس العقد ما لم ينضم إليه التسليم ولهذا لو أراد أن يسلم غيرها كان له ذلك فأما بالقبض يتعين نوع تعين ولهذا لا يملك استرداد المقبوض من البائع ليعطيه مثلها فلهذا قلنا إذا استعان في العقد والنقد جميعاً بالدراهم الوديعة أو المغصوبة لا يطيب له الفضل . (المبسوط للامام السرخسي: ۱۱/ ۱۱۲، کتاب الوديعة).

په درمختار کي راځي:

لو تصرف في المغصوب والوديعة بأن باعه وربح فيه إذا كان ذلك متعينًا بالإشارة أو بالشراء بدراهم الوديعة أو الغصب ونقدها يعني يتصدق بربحٍ حصل فيهما إذا كانا مما يتعين

بالإشارة وإن كانا مما لا يتعين فعلى أربعة أوجهٍ فإن أشار إليها ونقدها فكذلك يتصدق وإن أشار إليها ونقد غيرها أو أشار إلى غيرها ونقدها أو أطلق ولم يشر ونقدها لا يتصدق في الصور الثلاث عند الكرخي رحمه الله قيل: وبه يفتى. (الدر المختار:٦/ ١٨٩، سعيد).

وكذا في حاشية الطحطاوي على الدر المختار وزاده بقوله: والمختار أنه لا يحل مطلقاً كذا في الملتقى ولو بعد الضمان هو الصحيح كما في فتاوى النوازل واختار بعضهم الفتوى على قول الكرخي في زماننا لكثرة الحرام وهذا كله على قولهما وعند أبي يوسف رحمه الله لا يتصدق بشيءٍ منه كما لو اختلف الجنس ذكره الزيلعي . (الدر المختار:٤/ ١٠٥ –وكذا في الفتاوى السراجية:ص ٤٤٨، باب المتفرقات). والله تعالیٰ اعلم.

د امانت پر کمښت د تاوان حکم

سوال: خالد وبكر ته ديو څو پيسو د امانت په ډول ايښولو خواست وکړ، بكر انكار وكاوه او بيا د خالد د ډېر ټينګار په سبب بكر هغه پيسې محفوظ ځاى كښېښولې او تر ښه ډېرو ورځو وروسته خالد هغه پيسې وغوښتلې بكر هغه روپۍ وخالد ته وركړې نو كله چې خالد وليدلې نو كمې ورنه ښكاره سوې بكر وايي چې دغو پيسو ته ما هيڅكله لاس هم ورنږدې كړى نه دئ اوس به د دې څوك ذمه وار وي؟

الجواب: د امانت حكم دا دئ چې كه چيري د امين د غفلت يا سستۍ څخه پرته دا پيسې كمې سوى يا وركي سوي وي نو پر امين باندي د دې هيڅ ذمه واري نه سته خو كه امين تفريط كړى وي يعني د پيسو په ساتلو كي يې سستي كړې وي يا د مودع د لار ښوني خلاف يې څه قدم اخيستى وي يا يې هغه د مودع د اجازې څخه پرته كارولي وي نو په دغو ټولو صورتو كي به وهغه ته تاوان وركوي نو څكه په دې صورت كي كه چيري بكر په خپله خبره كي رښتنى وي او چي پر كوم ځاى يې امانت ايښى وو د هغه ځايه يې نه وي ښور ولى او خالد په هغه ځاى كي د امانت پر ايښولو خوښ هم وو نو بكر بيا د دې ذمه وار نه دئ.

حدیث شریف کې دئ، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په عاریت باندې سامان اخیستونکي او امین شخه که د چل (دوکه) ورکولو پرته سامان ضایع سي او ده په دې کې هیڅ خیانت هم نه وي کړی نو پر ده به د دې ذمه واري نه وي.

په دار قطنی کې راځي:

عن عمرو بن شعیب عن أبیه عن جده عن النبي ﷺ قال: «لیس علی المستعیر غیر المغل ضمان، ولا علی المستودع غیر المغل ضمان». (رواه الدار قطنی:۳/ ۴۱/ ۱۶۸).

په تبیین الحقائق کې راځي:

الإیداع هو تسلیط الغیر علی حفظ ماله الودیعة ما یترك عند الأمین .... وهي أمانة فلا تضمن بالهلاك لقوله علیه الصلاة والسلام «لا ضمان علی مؤتمنٍ». رواه الدارقطني؛ ولأن المودع متبرع في الحفظ وما علی المحسنین من سبیلٍ؛ ولأن یده ید المالك فیكون هلاكها في ید المالك فلا یجب الضمان؛ ولأن للناس حاجةً إلی الإیداع فلو ضمن المودع لامتنع الناس عن قبول الودائع فكانوا یحرجون بذلك. (تبیین الحقائق:۵/ ۷۶، كتاب الودیعة، کوئته).

په شرح مجله کې راځي:

الودیعة أمانة في ید الودیع فإذا هلكت بلا تعد من المستودع وبدون صنعه وتقصیره فی الحفظ لایلزم الضمان. (شرح المجلة:۳/ ۲۴۲، المادة ۷۷۷، لمحمد خالد الاتاسی). والله تعالی اعلم.

پر خیراتي پیسو د ضبط کېدو په صورت کې د تاوان حکم

سوال: یو سړی په بل هیواد مثلاً هندوستان کې د ډېر وخت شخه خیراتي کار کوي او دغه سړی په انګلینډ یا افریقا کې اوسیږي، ډېر خلک د زکاة او خیرات او داسې نورو پیسې ورکوي ځیني خلک د امانت په ډول ده ته پیسې ورکوي دغه سړي بل هیواد مثلاً هندوستان ته تر تګ مخته د انګلینډ یا افریقا شخه پیسې را استوي د ده یو کومکي دوست هغه پیسې په هندوستان کې اخلي او په خپل کور کې یې په محفوظ ځای کې ایږدي دا کار کول د دې له پاره وي چې د پیسو ښه ساتنه وسي.

یو څو هفتې مخکې حکومتي چارواکو د څه شک په سبب د ده پر کور په هندوستان کې چاپه ووهله او د ده د کور تلاشي واخيستله، د ده کومکي يې بندي کړئ او ټولې پيسې يې ضبط کړلې اوس څه حکم دئ؟ ايا د پيسو را استونکی د پيسو ضامن دئ او که نه؟ همداسي پر زکوة ورکوونکو دوهم وار زکوة اداء کول فرض دئ او که نه؟

الجواب: ديو چا سره چې کوم امانت کېښېنول سي نو شرعاً د دې حکم دا دئ چې پر امين باندي حتي الامکان د هغه ساتنه لازمي ده نو څکه که يې د سستی يا کاهلی يا خيانت کولو پرته پيسې هلاک سي نو پر امين باندي تاوان نه سته خو که چيري مودع په ساتنه کي سستی او کاهلی وکړي يا خيانت وکړي نو دی به ذمه وار وي. همداسي که چيري يو چا يو څوک د يو شي د رسولو وکيل جوړ کړئ د هغه حکم هم په دامين په ډول دئ له کوتاهی (سستي) پرته د وکيل سره که هغه مال هلاک يا ضايع سي پر ده هم ضمان (تاوان) نه راځي:

وګورئ په درمختار کي راځي:

الإيداع وشرعًا (تسليط الغير على حفظ ماله صريحًا أو دلالةً ... وهي أمانة، هذا حكمها مع وجوب الحفظ والأداء عند الطلب، واستحباب قولها، فلا تضمن بالهلاک. (الدر المختار: ٥/ ٦٦٤، سعيد).

په عالمګيري کي راځي:

وأما حكمها فوجوب الحفظ على المودع، وصيرورة المال أمانة في يده، ووجوب أدائه عند طلب مالكه. (الفتاوى الهندية: ٤/ ٣٣٨).

په بدائع الصنائع کي راځي:

إن المبيع أمانة في يد الموكل، ألا ترى أنه لو هلک في يده فالهلاک على الموكل. (بدائع الصنائع: ٦/ ٣٧، سعيد).

په فتاوی عالمګیري کي يوه مسئله يې ليکلي ده:

فهو ــ أي الوكيل ــ مصدق، لأنه أمين، كذا في محيط السرخسي في باب الوكيل مع الموكل إذا اختلفا. (الفتاوى الهندية: ٣/ ٦٤٤).

همداسي که يو چا يو څوک د زکوة اداء کولو وکيل جوړ کړ او بېوزلان څرګند او معلوم دي هر کال دغو ته زکوة ورکول کيږي نو د وکيل د قبضې کولو څخه د زکوة ورکونکو زکوة اداء کيږي، بيا که اتفاقاً د وکيل سره هغه پيسې ضايع سي نو دوهم وار يې اداء کول لازم نه دي.

زموږ د اکابرو د فتوی څخه هم همدا خبره معلوميږي چي د مدرسې خاوندان او د هغوی استازي د خيرات (صدقه) په حکم د کېدو سره د بېوزلانو وکيلان دي. د زکوة ورکونکو وکالت يوازي په دې درجه کي دئ چي هغوی دغه حضرات د بېوزلانو د وکالت په منلو سره خپله چنده و دوی ته ور وه سپارله، کله چي دوی د وکيل په حيثيت پر پيسو قبضه وکوله نو دا به حکماً د بېوزلانو قبضه وګڼل سي (مستفاد از امداد المفتين، دوهم جلد: ١٠٨٥).

او په تذکرة الرشيد کي راځي:

د مدرسې مهتمم يا بل سرپرست د ټولو طالبانو نائب وي نو بيا چي يو څوک يو شی مهتمم ته ورکړ د مهتمم قبضه خپله د طالبانو قبضه ده د ده په قبضه سره شی د معطي د ملک څخه وزي او د طالبانو په ملک کي راځي. (تذکرة الرشيد: ص ١٦٤ - وامداد الفتاوى: ٣/ ٣١٦ - ونظام الفتاوى: ٦/ ٤٤ - وفتاوی محموديه: ٩/ ٥٠٦ - وجديد فقهى مسائل: ١/ ٢٢٧).

قال في الدر المختار مع رد المحتار: (لايخرج عن العهدة).... بخلاف ما إذا ضاعت في يد الساعي، لأن يده كيد الفقراء. (الدر المختار مع ردالمحتار: ٢/ ٢٧٠، سعيد).

او که بېوزلان او د زکوة حقداره خلک متعين نه وي او وکيل د خپلي رايي پر برابر د زکوة مال کار وي نو د زکوة ورکونکو زکوة نه اداء کيږي او دوهم وار يې اداء کول لازم دي.

قال في الدر المختار: ولايخرج عن العهدة بالعزل، بل بالأداء للفقراء. وفی الشامية: (لا يخرج عن العهدة) فلو ضاعت لا تسقط عنه الزكاة، ولو مات كانت ميراثاً عنه، بخلاف ما إذا ضاعت في يد الساعي، لأن يده كيد الفقراء. (الدر المختار مع رد المحتار: ۲/ ۲۷۰، سعيد).

په خلاصه الفتاوی کي راځي:

رجل عزل زكاة ماله و وضعها في ناحية بيته، فسرقها سارق لايقطع يده للشبهة وعليه أن يزكيها. (خلاصة الفتاوی: ۱/ ۲۳۸).

همدا ډول وګورئ: (فتاوی محموديه: ۹/ ۴۸۰ – وكفايت المفتي: ٤/ ۲۹۷ – وفتاوی فريديه: ۳/ ۲۷۵).

والله تعالى اعلم.

حکومت ته د پوره محصول د نه ورکولو حکم

سوال: ډېر وختونه تجاران د مشتريانو څخه محصول اخلي او حکومت ته يې بيا پوره نه ورکوي نو ايا دا محصول امانت دئ او د دې رسول ضروري دي او که نه؟

الجواب: تجاران چې يې د مشتريانو څخه اخلي نو دا د حکومت له خوا څخه وکيل دئ او د محصول پيسې د دوی سره د امانت په ډول دي، حکومت ته يې اداء کول لازم دي او که يې اداء نه کړي نو دا خيانت دئ.

الله تعالى فرمايي:

﴿يا أيها الذين آمنوا لا تخونوا الله والرسول وتخونوا أماناتكم﴾. (سورة الانفال: ۲۷).

په فتاوی عالمګيري کي راځي:

وأما صفتها أی صفة الوكالة فإنها من العقود الجائزة الغير اللازمة.... ومنه أنه أمين فيما في يده كالمودع. (الفتاوی الهندية: ۳/ ۵۶۷). والله تعالى اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ يهب لمن يشاء إناثًا ويهب لمن يشاء الذكور ﴾. (سورة الشورى:٤٩).

قال رسول الله ﷺ « تهادوا تحابوا». (رواه البيهقى فى سننه الكبرى، والبخارى فى الادب المفرد).

عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: « تهادوا فإن الهدية تذهب وحر الصدر ولاتحقرن جارة لجارتها ولوشق فرسن شاة ». (رواه الترمذى).

أحسن إلى الناس تستعبد قلوبهم   فطا لما استعبد الإنسان إحسان.

كتاب الهبة

اول .... فصل

د مشروطي نيكى د احكامو بيان

A.T.M ځای پر ځای کولو مشروطه اجازه ورکول

سوال: یو مسلمان پټرول پمپ لري دا ځکه اصلي د پټرولو د کمپنۍ ده، دغه سړي په کرایه نیولې (اجاره کړې) ده، یوه بانک په پټرول پمپ کي (A.T.M) ماشین لګول غواړي، په دغه ماشین کي خلک پیسې اچوي او د دې ماشین څخه یې راباسي . د پټرول پمپ خاوند دا شرط ولګاوو چي هر میاشت به له لومړینو درو زرو کسانو څخه د پټرول پمپ خاوند هیڅ نه غواړي خو د درو زرو کسانو وروسته په هر استعمال کي (بنایي که پیسې پکښې اچوي او که یې باسي) دغه د پټرول پمپ وخاوند ته به پنځه اویا سینټه ورکول کیږي ایا دا معامله صحیح ده او که نه؟

الجواب: د دې معاملي د صحت دوه لاملونه دي چي د هغو پر اساس دا معامله (عقد) صحیح دئ.

۱_ دا مشروطه (نیکي) تبرع ده یعني په احسان کي یو شرط لګول مثلاً و درو زرو ته مفته اجازه ورکول احسان دئ او دا د اجارې سره یې مشروط کول چي هغه زیاته کرایه به بانک اداء کوي دا مشروطه نیکي سوه نو ځکه دا معامله صحیح او روا ده.

۲_ دا د اجارې معامله ده او په دې کي یې شرط لګولي دئ خو د عرف (رواج) په سبب او د جنګ د لامل نه کېدو په سبب دا شرط سودا نه خراب وي.

وګورئ په هدایه کي راځي:

... إلا أن يكون متعارفاً لأن العرف قاضٍ على القياس. (الهداية: ۳/ ۵۹، باب البيع الفاسد).

زیات تفصیل په کتاب الاجاره کي تیر سو.

د مشروطي نیکي دلائل وګورئ:

په مسلم شریف کي راځي:

عن أنسٍ رضي الله عنه أن جارًا لرسول الله ﷺ فارسيا كان طيب المرق فصنع لرسول الله ﷺ ثم جاء يدعوه، فقال « وهذه ». لعائشة رضي الله عنها فقال لا، فقال رسول الله ﷺ « لا » فعاد يدعوه، فقال رسول الله ﷺ: وهذه، قال لا، قال رسول الله ﷺ: لا، ثم عاد يدعوه، فقال رسول الله ﷺ وهذه، قال نعم: في الثالثة، فقاما يتدافعان حتى أتيا منزله. (رواه مسلم: ۲/ ۱۷۶).

د پورتني حديث خلاصه دا ده چي يو سړي نبي کريم ﷺ ته مېلمستيا وکړه نبي کريم ﷺ دا شرط ولګاوو چي ام المؤمنين بي بي عائشه رضي الله عنها به هم مېلمنه کوې هغه سړي انکار وکئ بيا يې درېيم وار اجازه ورکړه نو مبارک ﷺ د عائشې رضي الله عنها سره يو ځای ورسره ولاړئ.

همدارنګه حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه د حضرت عازب رضي الله عنه د اوښ بار رانيوئ او د عازب رضي الله عنه څخه يې هيله وکړه چي ته خپل زوی براء رضي الله عنه ته ووايه چي زما سره دا بار يوسي، حضرت عازب رضي الله عنه ورته ووېل، چي يا، خو په دې شرط چي ته د هجرت قصه راته بيان کړې حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه د هجرت قصه ورته بيان کړه او براء رضي الله عنه هغه بار ورسره ورساوو.

وګورئ بخاري شريف کي راځي:

عن البراء رضي الله عنه قال: اشترى أبو بكرٍ رضي الله عنه من عازبٍ رضي الله عنه رحلاً بثلاثة عشر درهمًا، فقال أبو بكرٍ رضي الله عنه لعازبٍ رضي الله عنه مر البراء فليحمل إلي رحلي، فقال عازب: لا، حتى تحدثنا كيف صنعت أنت ورسول الله ﷺ حين خرجتما من مكة والمشركون يطلبونكم، قال: ارتحلنا .... الخ. (رواه البخاري:١/ ٥١٥، في مناقب المهاجرين).

د دې دوو حديثو څخه معلومېږي چي مشروطه نېکي روا ده او مشروطه نېکي دا ده چي په احسان کي يو شرط لګول يا په يو معامله کي د خپلي ګټي له پاره شرط لګول، په ياد سوي صورت کي هم همداغه ډول دئ چي د بانک خاوندانو د(A.T.M.) ماشين لګولو خواست وکئ نو د پمپ مالک ورته ووېل چي سمه ده زه اجازه درکوم خو تر اول درې زرو وروسته په هر کارولو کي پنځه اويا (۷۵) سينټه به ته ما ته راکوې، د بانک خاوندانو ومنله نو ځکه دا معامله صحيح ده. د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (امداد الاحکام:٣/ ٣٨٦/ ٦٠٦). والله تعالی اعلم.

د مياشتنۍ مجلي د رانيوونکو له پاره د جائزې حکم

سوال: ايډرس ډائجسټ يوه مياشتنۍ مجله ده چي کوم حضرات پېشکي (وړاندي) پيسې اداء کړي او رايې نيسي د هغو په منځ کي قرعه اندازي کيږي چي د چا نوم راسي هغه ته جائزه ورکول کيږي ايا دا طريقه روا ده او که نه؟ او پر نامه راوتلو جائزه لاس ته راوړل روا دي او که نه؟

الجواب: كه چيري ډائجسټ مياشتنۍ په قيمت رانيول سوې وي او دا ئجسټ د اداري لوړ پوړو دا ويلي وي چي د چا نوم راووزي هغه ته موږ فلاني شی په جائزه كي وركوو نو شرعاً دا هيڅ تاوان نه لري، البته دا د مشروطي نېكۍ له قبيل څخه ده يعني پر ډائجسټ رانيوونكو موږ دا احسان كوو چي قرعه اندازۍ سره به مشروطه وي د بېلګي په توګه لكه طالب ته چي د فيس په شرط داخله وركول كيږي په دې قرعه اندازي كي قمار نه سته ځكه د قمار په قرعه كي يو حقدار بې برخي او يو حقدار مال اخلي، حال دا چي دلته هيڅ حقداره نه سته، ځكه چي د پيسو په بدل كي د ډائجسټ حقداره دئ چي ده ته وركول سوی دئ.

په امداد الاحكام كي راځي:

بيا وويل سوو چي د يادي معاهدې رانيوونكي ته به ټول كال د فلاني شی رانيوونكي ته د رانيولو پر مهال دوې، درې روپۍ د بېلګي په توګه ټول كال ارزانه وركول كيږي او د كال په اړدو كي كه بل ځای يو شي رانيسي ده ته به هيڅ نه وركول كيږي شرعاً روا دي او كه نه؟

الجواب: دا معامله روا ده ځكه چي مشتري ته د كال په اوږدو كي چي كوم كمېشن پر هره سودا وركول كيږي هغه د پلورونكي له خوا نېكي ده او د رانيوونكي لازمي حق نه دئ او نېكي په يوه شرط سره مشروط كول دا روا ده. (امداد الاحكام: ۳/ ۳۸٦).

بل ځای يې ليكلي دي:

سوال: په مدرسه كي د داخلې فيس يا د مياشتي فيس د طالبانو څخه اخيستل روا دي او كه نه؟

الجواب: روا دئ ځكه چي دا مزدوري (اجرت) نه دئ، البته چنده ده او په چنده كي شرط روا دئ ځكه چي د دې څخه ظلم نه ثابتيږي چي وچا ته دا شرط د منلو وړ نه وي نو وده ته به دا اختيار وي چي داخله وانه خلي. ودليله أنه عليه السلام قال لمن أضافه وعائشة رضي الله عنها قال: لا، قال: فلا إذن، قال في الثالثة وعائشة رضي الله عنها قال: نعم. (امداد الاحكام۳/ ٦٠٦).

د حديث شريف هدف دا دئ چي يو سړي نبي كريم ﷺ ته مېلمستيا كوله نبي كريم ﷺ هلته د تګ له پاره د حضرت عائشې رضي الله عنها د تللو شرط ولګاوو چي درېيم وار مېزبان ومنئ، د رسول الله ﷺ تګ نېكي وه چي هغه يې د عائشې رضي الله عنها د تګ سره مشروط كړئ.

امداد الاحکام کي د حضرت مولانا اشرف علي تهانوي تر نظارت لاندي ليکل سوی د حضرت مولانا ظفر احمد تهانوي د فتاواوو مجموعه ده.

د مياشتني جريدي يا مجلې ((البلاغ)) جمادي الاولی ۱۴۳۲ هـ، کال کي حضرت مولانا عبد الشکور ترمذي صاحب يو مضمون خپور سوی دئ په هغه کي حضرت فرمايلي دي ...... په حقيقت کي دا امداد الاحکام د حضرت تهانوي د امداد الفتاوی تتمه ده....... البلاغ: ص ۴۰)

پورتنۍ ياده سوې معامله که چيري نوره خرابي پکښې نه وه نو په داسي کولو کي هيڅ تاوان نه سته. والله ﷻ اعلم.

مېلمستيا د چندې سره د مشروط کولو حکم

سوال: په ځينو ادارو کيَ داسي کيږي چي کله د پيسو ضرورت پيدا سي او مصارف زيات سي نو عامه مېلمستيا کوي او د راتلونکو کسانو څخه زياتي پيسې اخيستل کيږي او چي کومي پيسې زياتي سي هغه د خپلي ادارې په لګښتو کي لګوي نو ايا دا زياتي پيسې اخيستل او په خپل کار کي لګول صحيح دي او که نه؟

الجواب: دا مېلمستيا د ادارې له خوا څخه يوه نېکي ده چي په هغې کي يې د زياتو پيسو شرط د څه زوره (ظلمه) پرته لګول سوی دئ چي چا ته د منلو وړ نه وي نو وهغه ته د نه ورتګ اجازه (اختيار) سته نو ځکه دا معامله د مشروطي نېکي په حکم کي ده او روا او صحيح ده. حوالې تيري سوی دي او بيانول يې د اوږد والي لامل ګرځي. والله ﷻ اعلم.

په وليمه کي د مشروطو ډاليو حکم

سوال: په وليمه او داسي نورو مېلمستياوو کي دا رواج دئ چي خلک ډالۍ جمعه کوي او چا چي يې مېلمستيا کړې وي هغه د مېلمستيا په آخير کي ټولي ډالۍ ګوري او بيا يې د ټولو قيمت ليکي چي د دې هدف دا وي چي بيا هغه مېلمستيا وکي نو موږ به هم دغونه ورکوو او کوم خلک چي ډالۍ ورکوي د هغو په ذهن کي دا وي چي زموږ وار راسي نو موږ ته بايد دغونه ډلۍ راکړل سي نو ايا داسي ډالۍ ورکول او اخيستل روا دي او که نه؟

الجواب: دا مشروطه نېکي ده او په دې کي د هغه بل خوا څخه چي کوم شی ورکول کیږي د دې د کمښت او د خراب ډول په سبب کله کله خفګان او غیبت منځ ته راځي او د بیوزلانو له پاره دا رواج یو تاوان دئ نو ځکه د دې څخه ځان ساتل په کار دي.

په قرآن کریم کي الله ﷻ فرمايي:

﴿ وما آتيتم من ربًا ليربو في أموال الناس فلا يربو عند الله ﴾. (سورة الروم:۳۹).

په تفسیر عثماني کي راځي:

ځینو مفسرینو د دې ایت هدف دا بیان کړی دئ چي انسان یو چا ته یو څه په دې هدف ورکړي چي هغه بل به وده ته تر دې زیاته ډالۍ ورکوي نو دغه ورکول به یې د الله ﷻ په آند د برکت او ثواب لامل نه وي خو مباح دي. (تفسیر عثمانی:ص ۵۲۳).

په معارف القرآن کي راځي:

دا تفسیر د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه او امام شافعي رحمه الله څخه نقل سوی دئ. (تفسیر معارف القرآن:٦/ ۱۵۸، د مولانا ادریس کاندهلوی).

په اصلاح الرسوم کي حضرت تهانوي صاحب فرمايي:

دا د مشروطو قرضو په شان دئ ځکه چي کله دی د هغه په مېلمستیا کي پیسې ورکي هغه به یې هم ستا په مېلمستیا کي درکوي که څه هم په خوله خویې ورته ویلي نه دي خو د قاعدې پر برابر ((المعروف کا المشروط)) او دا صحیح نه دئ.

خو په امداد الاحکام کي د حضرت مولانا ظفر احمد تهانوی د خبري څخه معلومیږي چي دا ډول معامله د مشروطي نېکي په ډول ده. (امداد الاحکام:۳/ ۳۸٦/ ٦۰٦).

خو مشروطه نېکي روا ده، البته د ډېرو تاوانو (خرابیو) په سبب د دې څخه ځان ژغورل بنه دي.

والله تعالیٰ اعلم.

د مشروطي نېكۍ يوه مسئله

سوال: د الوتكي د خاوندانو له خوا دا اعلان كيږي چي څوك زموږ په الوتكه كي زيات سفر كوي او زموږ خاص مشتري جوړيږي نو موږ به هغه ته مفت ټكټ هم وركوو يا به نور يو څه مرعات وركوو نو ايا په شريعت كي داسي ډالۍ اخيستل يا مرعات اخيستل روا دي او كه نه؟

الجواب: دا د مشروطي نېكي په حكم كي دي او روا او صحيح دي لكه څنګه چي د مدرسې خاوندان داخله د داخلې پر فيس باندي مشروطه كوي.

حضرت مولانا ظفر احمد تهانوي دا روا بللې ده او دې مسئلې تفصيل وړاندي تېر سوي دي. والله ﷻ اعلم.

دوهم......... فصل

د هبې د احكامو بيان

د مشاع شی د هبې حكم

سوال: زيد د هوښيارۍ او د عقل سلامتيا په حال كي خپلو څلورو ورونو ته خپله مځكه وربخښله او مځكه د ورونو په قبضه كي ده خو مځكه يې وېشلي نه ده چي هريوه ته جلا جلا يو څه وركړي، زيد مړ سو اوس د زيد خوندي په دې مځكه كي د ميراث غوښتلو خبره كوي ايا د دوی دا خبره يا غوښتنه صحيح ده او كه نه؟

الجواب: عام فقهاء دا وايي چي د امام ابو حنيفه رحمه الله په آند د مشاع (نه وېشل سوي) هبه صحيح نه ده مګر دا ډول چي ورپوېشي بيا يې هبه كړي د مشاع د هبې مطلب دا دئ چي د مجموعې يوه برخه هبه كول د فقهي په عامو كتابو كي دا مسئله په صراحت سره بيان سوې ده د دې د حوالي ضرورت نه سته خو نن سبا دا مسئله بايد په غور سره وكتل سي چي د مشاع شی هبه كول عام رواج جوړ سوي دئ او د اسلامي قانون څخه پرته نور قوانين دا هبه صحيحه او پوره بولي پر دې اساس فقهاوو ليكلي دي چي عام عرف چي كله د فقهاوو د نص خلاف وي نو د عام عرف او خاص عرف ته به ترجيح وركول كيږي نو د بنده په خيال دا هبه نافذيږي، خو د هغو له پاره قبضه كول ضروري دي.

قبضه د ائمه ثلاثه وو امام ابو حنیفه رحمه الله، امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله په آند لازمه د مشاع په هبه کي خو به قبضه وي، البته قبضه به ناقصه وي تامه قبضه به نه وي.

د فقهي په عامو کتابو کي یې لیکلي دي چي شریک اجیر نه سي جوړېدلای یعني دوه وروڼه په یو کار وبار کي سره شریکان دي او یوه ورور ته د هغه د برخي د منافعو سره مزدوري و تاکي نو دا روانه ده. خو مفتي رشید احمد صاحب تر اوږدې څېړني (تحقیق) څخه وروسته لیکلي دي، چي:

د مذهلا صراحت د تعامل خاص سره هم پرېښول کیږي او د کمپنۍ د شریکانو مزدور تاکلو عام رواج (تعامل) دئ نو د دې څخه خو به په طریقه اولی سره د مذهب نص پرېښول کیږي. (احسن الفتاوی: ۷/ ۳۲۸).

. تر دې وړاندي یې لیکلي دي:

د شرعي نص د ترک له پاره عام تعامل شرط دئ خو د مذهب د نص د ترک له پاره خاص تعامل هم کفایت کوي مخکنۍ حواله.

یو څو مثالونه وګورئ:

۞ د ((سرحتک)) جمله پخوانیو فقهاوو په کنایاتو کي شمارلي او طلاق بائن یې شمارلی دئ خو د وروسته زمانې فقهاوو دا د عرف په سبب صریح شمارلي دي او بې نیته یې د طلاق رجعي فتوی ورکړې ده.

۞ او د امام ابو حنیفه رحمه الله په آند یوازي د باچا اکراه به اکراه شمارل کیږي، خو امام محمد رحمه الله د بل چا د خوا څخه اکراه هم اکراه ګڼلې ده.

۞ کتابونه په کرایه ورکول او اخیستل عامو فقهاوو ناروا بللي دي. خو ځینو فقهاوو د عام عرف په سبب د روا والي فتوی ورکړې ده کما مر فی موضعه.

۞ همدارنګه د تضمین الساعی او تضمین الاجیر مشترک فتوی هم د عرف په سبب صادره سوې ده.

لنډه دا چي نص د حدیث د عام عرف یا خاص عرف په سبب پرېښودل کېدلای نه سي، خو د عام عرف په سبب قیاس پرېښودلای سو مثلاً د قفیز الطحان روایت د عام عرف عام په سبب نه سو

پرېښودلای خو پر دې باندي قیاس سوي نوري مسئلې مثلاً یو مزدور چي په فیصدي باندي کار کوي د عام عرف په سبب دا روا ده، ځکه چي د ضرورت په پر ته په دې کي عام عرف هم دئ له همدې کبله د بلخ مشائخو د فیصدۍ په اعتبار مزدوري روا بللې ده، یعني مزدور یو ټکر و او دي نو نصف یا څلورمه دي په مزدوري کي واخلي نو دا یې د عامه عرف په ګڼلو سره ورا بللې ده که څه هم علامه شامي په اند د دې په عام عرف ګڼلو کي تامل سته.

(په اوسنی وخت کي د دې دومره رواج دئ چي اوس د دې د عام عرف په ګڼلو کي هیڅ شک نه سته) خو نص د مذهب یا ظاهر الروایة د عرف عام چي په ټولو ښارو کي وي او خاص عرف هغه دئ چي په خاصو ښارو کي وي د دواړو په سبب پرېښولای سو دا مسئله په شرح عقود رسم المفتي او د علامه شامي رحمه الله رساله نشر العرف او پر عرف نورو کتابو کي سته، نو له همدې کبله که چیري د مشاع شی د هبې په صورت کي قبضه راسي او دغه عام عرف ګرځېدلي وي او نن سبا دا عرف او قانون هم دئ نو دا هبه منل په کار دي غالباً له همدې کبله علامه انور شاه کشمیري رحمه الله هم په د بخاري په شرحه فیض الباري (۳/ ۳۷۰) کي فرمایي دي:

ثم اعلم أن هبة المشاع لا تتم في أصل المذهب، وإن تحقق القبض أيضًا؛ وأفتى المتأخرون بجوازها، وبه أفتى، وذلك لأني أتردد في نفس مسألة الشيوع، فلست أشدد فيها، كالحنفية، ولا أوسع فيها، كالبخاري، بل هي أمر بين الأمرين، كما علمت، فإن مرضى الشرع، هو رفع الإبهام والتميز، والشيوع يخل به، فلا يكون هدرًا، كما أهدره البخاري، ولا ضروريًا، كما فهمه الحنفية، بحيث قالوا ببطلان الهبة؛ وبالجملة إذا كان حال الشيوع عندي ما سمعت، فلم أشدد في الحكم، ووافقت المتأخرين في جواز هبة المشاع عند القبض. (

فیض الباری:۳/ ۳۷۵، کتاب الهبة).

خو دا ضروري ده چي د جنګ لامل نه سي او که د جنګ لامل جوړېږي چي کومه برخه به څوک اخلي نو بیا صحیح نه ده.

وګورئ په فيض الباري كي راځي:

والذي أراه أن النهي عنه لكونه مفضيًا إلى النزاع، وكل أمرٍ يكون النهي عنه كذلك، لا يشدد فيه الشارع بنفسه، بل ربما يغمض عنه أيضًا، فلا ينبغي التشدد فيه؛ ويدل عليه ما أخرجه البخاري .... وفيه فقال رسول الله ﷺ لما كثرت عنده الخصومة في ذلك: فإما لا، فلا تتباعوا حتى يبدو صلاح الثمر، كالمشورة يشيرها، لكثرة خصومتهم. (فيض الباري:۳/ ۳۷۲).

والله ﷻ اعلم.

وكوچني زوى ته د هبې په وركولو كي د قبضې حكم

سوال: محترم حضرت مفتي صاحب په تېرو ورځو كي زما پلار محترم مړ سو زما پلار تر مرګ اوه مياشتي وړاندي دا ويلي وه چي دلته په افريقا كي چي څه زما دي هغه زما د كوچني زوى حسين دي، د دې خبري شاهد زه، زما اخښى عبد الله او زما بي بي ده، نو ځكه پوښتنه دا ده چي د دې څخه هبه پوره كيږي چي د دې څخه پر ته د ليكلو يا داسي نور څه سوي نه دي، دا خبره هم ياد ولرئ چي زما نور ورونه او خوندي پر دې هيڅ نيوكه نه لري؟

الجواب: په دې صورت كي د پلار دا وينا چي دلته په افريقا كي چي زما څه دي هغه زما د كوچني زوى حسين دي، هديه ده، خو ياد ولرئ چي د پلار خپل كوچني نابالغه زوى ته د يوه شي هبه كول يوازې د عقد څخه پوره كيږي يعني د قبضې يا كاغذاتو يا ليكلو څه ضرورت نه سته ځكه چي پلار خپله د خپل نابالغه اولاد ولي دئ نو ځكه د پلار قبضه د نابالغه اولاد قبضه ده، پر دې اساس هبه تامه سوه.

وګورئ په بدائع الصنائع كي راځي:

ولو نحل ابنه الصغير شيئًا جاز ويصير قابضًا له مع العقد كما إذا باع ماله منه حتى لو هلك عقيب البيع يهلك من مال الابن لصيرورته قابضًا للصغير مع العقد وينبغي للرجل أن يعدل بين أولاده في النحل لقوله سبحانه وتعالى: ﴿إن الله يأمر بالعدل والإحسان﴾. (بدائع

الصناع:٦/ ١٢٧، شرائط الهبة، منها القبض، سعيد – وكذ في الفتاوى الهندية: ٤/ ٣٩١، الباب السادس في الهبة للصغير). .

په درمختار کي راځي:

وهبة من له ولاية على الطفل في الجملة تتم بالعقد أي بالإيجاب فقط، كما يشير إليه الشارح كذا في الهامش وهذا إذا أعلمه أو أشهد عليه والإشهاد للتحرز عن الجحود بعد موته والإعلام لازم لأنه بمنزلة القبض، بزازية، قال في التاتار خانية: فلو أرسل العبد في حاجةٍ أو كان آبقًا في دار الإسلام فوهبه من ابنه صحت، فلو لم يرجع العبد حتى مات الأب لا يصير ميراثًا عن الأب، قوله : ولو الموهوب معلومًا، قال محمد رحمه الله: كل شيءٍ وهبه لابنه الصغير ، وأشهد عليه ، وذلك الشيء معلوم في نفسه فهو جائز ، والقصد أن يعلم ما وهبه له ، والإشهاد ليس بشرطٍ لازمٍ لأن الهبة تتم بالإعلام تتارخانية، قوله وكان في يده أو في يد مودعه لأن قبض الولي ينوب عنه والأصل أن كل عقد يتولاه الواحد يكتفى فيه بالإيجاب. (الدر المختار مع الفتاوى الشاوى:٥/ ٦٩٤، كتاب الهبة، سعيد).

وفى التحرير المختار: قال الرحمتي: وهل يشترط أن يكون محوزاً مقسوماً كما هو الشرط فى الهبة أو يقال إنما شرط ذلک لأجل تمام القبض وهو مقبوض لولي القبض فلا يفتقر لذلک. (تقريرات الرافعى على رد المحتار:٥/ ٢٥٢، كتاب الهبة، سعيد).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د سوال خلاصه دا ده چي يو څوک خپل نابالغه زامنو ته يو څه سپين او سره زر ورکي، نو د نيت کولو څخه مالک جوړيږي او که د قبضې ضرورت هم سته؟ که قبضې ضرورت وي د هغه به څه شکل وي؟

الجواب: که نابالغه اولاد ته هبه ورکي، نو د اولاد د ملکیت له پاره د پلار قبضه کفایت کوي. (احسن الفتاوی: ۷/ ۲۵۸).

په مجموعه قوانین اسلامي کي راځي:

د نابالغ پلار یا د ده بل ولي یا وصي یو مال یا جایداد پیدا کئ او وي ویل چي دا ما د فلاني نابالغه له پاره لاس ته راوړی دئ نو د ده یوازي دا ویل د نابالغه په حق کي هبه کیږي. (مجموعة قوانین اسلامی ص ۲۴۲، کتاب الهبة: دفعه ۱۲). والله تعالیٰ اعلم.

هبه د یو شرط سره تړل او د هغې حکم

سوال: هبه په یو شرط پوري تړل صحیح ده او که نه؟ مثلاً یو سړی ووایي، که چیري په دې میاشت کي زما واده وسو نو دا کتاب تا ته هبه دئ؟

الجواب: په دې صورت کي هبه په شرط سره معلق کول باطله ده.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ثانيها أن كل ما كان من التمليكات أو التقييدات كرجعة يبطل تعليقه بالشرط. وقال الشامي: قوله من التمليكات كبيع وإجارة واستئجار وهبة. (الدر المختار مع فتاوى الشامي: ۵/ ۲۴۱، سعید).

په البحر الرائق کي راځي:

وفي البزازية من البيوع وتعليق الهبة بـ « إن » باطل وبـ « على » أن ملائمًا كهبته على أن يعوضه يجوز وإن مخالفًا بطل الشرط وصحت الهبة. (البحر الرائق: ۶/ ۱۹۱، کوئته).

په حاشية الطحطاوی کي راځئ:

قوله ويصح تعليق هبة أي بشرط ملائم إن كان بـ « على » لا بـ « إن » قال في البزازية من البيوع.... الخ. (حاشية الطحطاوی علی الدر المختار: ۳/ ۱۳۶، باب المتفرقات، کوئته).

په فتاوی السراجيه کي راځي:

رجل قال لآخر: إن كان كذا فقد وهبت مالي منک لـم يـصح. (الفتاوى السراجية:ص ٤٠٦، كتاب الهبة باب الهبة الجائزة والفاسدة).

وفي شرح المجلة: قال: والظاهر أن الفساد لكونه تعليق الهبة بالخطر. (شرح المجلة، لمحمد الاتاسي:٣/ ٣٧١، كتاب الهبة).

وللاستزادة انظر: (تكملة رد المحتار:٨/ ٤٢٧، كتاب الهبة، سعيد – والفتاوى الهندية:٤/ ٣٩٧).

د خبري حاصل دا سو که چيري مناسب شرط وي نو په ((على)) سره تعليق صحيح دئ خو ((إن)) سره يې تعليق صحيح نه دئ، علامه شامي رحمه الله يو غير مشهور قول نقل کړی دئ چي د ((إن)) سره تعليق هم صحيح دئ.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

لكن في البحر أيضاً عن المناقب عن الناصحي: لو قال: إن اشتريت جارية فقد ملكتها منك يصح، ومعناه إذا قبضه بناء على ذلك، أي إذا قبض الموهوب له الموهوب بناء على التمليك يصح مع أنه معلق بـ «إن» وهو خلاف ما في البزازية من إطلاق بطلانه، ولعله قول آخر يجعل التعليق بالملائم صحيحاً كالتقيد تأمل (فتاوى الشامي:٥/ ٢٥٥، سعيد).

خو مشهوره قول دا دئ چي د ((إن)) سره تعليق صحيح نه دئ او د دې تائيد د رقبی د مسئلې څخه کيږي چي د طرفينو په اند باطله ده.

وګورئ په مبسوط کي راځي:

وهو أن يقول: أراقب موتك، فراقب موتي، فإن مت فهي لك، وإن مت فهي لي؛ فيكون هذا تعليق التمليك بالخطر، وهو موت المملك قبله، وذلك باطل. (مبسوط للامام السرخسي:١٢/ ٨٩، باب الرقبى، ادارة القرآن). والله تعالى اعلم.

د ورک سوي شي د هبه کولو حکم

سوال: د یوه سړي ساعت ورک سو او ده و زید ته وویل چې که دي ورک سوی ساعت پیدا کړ ستا دئ. اوس د ساعت خاوند پر خپله خبره پښېمانه سو، نو ایا ساعت اوس د زید ملکیت سوا او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې ساعت د زید ملکیت نه جوړېږي، البته پر هغه زاړه حال د مالک ملکیت دئ.

وګورئ په فتاوی قاضي خان کې راځي:

رجل أضل لؤلؤة فوهبها لآخر وسلطه على طلبها وقبضها متى وجدها قال أبو يوسف رحمه الله: هذه هبة فاسدة، لأنها هبة على خطر، والهبة لاتصح مع الخطر، وقال زفر رحمه الله: تجوز هذه الهبة. (فتاوى قاضى خان على هامش الهندية:۳/ ۳۸۱).

په فتاوی سراجیه کې راځي:

رجل أضل لؤلؤة فوهبها من رجل وسلطه على الطلب والقبض فطلبها وقبضها فالهبة باطلة، لأن في قيامها وقت الطلب خطراً، والهبة تبطل بالأخطار. (الفتاوى السراجيه، كتاب الهبة، باب الهبة الجائزة والفاسدة، ص ۴۰۵).

وللاستزادة انظر: (فتاوى الشامى:۵/ ۶۸۸، كتاب الهبة، سعيد – والفتاوى الهندية:۴/ ۳۸۱ – ومجمع الضمانات:۲/ ۷۱۴ – ودرر الحكام فى شرح مجلة الاحكام:۲/ ۳۸۵، المادة:۶۵۸). والله تعالى اعلم.

د الوتکي د شال اخیستلو حکم

سوال: په الوتکه کي چي کوم شال (شی) د کارولو له پاره ورکول کیږي نو ایا هغه د الوتکي د ملازم (AIR hostess) په اجازه يې اخیستل روا دي او که نه؟

الجواب: د الوتکي هغه شال د نوکر په اجازه اخیستل روا نه دي، ځکه چي هغه د دې شال مالک نه دئ، اصل مالک يې بل څوک وي د دې څخه پر ته هغه ته دا هم ویل کیږي چي تر کارولو وروسته دې واپس کړل سي.

وګورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

ومنها (شرائط الهبة) أن يكون مملوكًا للواهب فلا تجوز هبة مال الغير بغير إذنه لاستحالة تمليك ما ليس بمملوكٍ للواهب كذا في البدائع . (الفتاوى الهندية: ٤/ ٣٧٤). والله ﷻ اعلم.

کافر ته د قرآن په ډالۍ کي د ورکولو حکم

سوال: کافر ته قرآن کریم په ډالۍ کي ورکول صحیح دي او که نه؟

الجواب: که د کافر په زړه کي د قرآن عزت وي او د هغه د بې عزتۍ خیال نه وي نو په ډالۍ کي ورکول يې صحیح دي امکان لري چي ده ته هدایت ورپه برخه سي خو که د بې عزتۍ خیال پر وسي بیا يې ورکول روا نه دي.

وګورئ په مسلم شریف کي راځي:

عن عبد الله بن عمر رضي الله عنه عن النبي ﷺ أنه كان ينهى أن يسافر بالقرآن إلى أرض العدو مخافة أن يناله العدو. (رواه مسلم: ٢/ ١٣١، باب النهي ان يسافر بالمصحف الى ارض الكفار إذا خيف وقوعه بايديهم).

په نفع المفتي والسائل کي راځي:

الاستفسار: هل يجوز السفر إلى أرض العدو مع المصحف؟

الاستبشار: من سافر إلى أرض العدو ليس له أن يخرج المصاحف إلا في جيش يؤمن عليهم من استيلاء الكفار. قال في التبيين شرح الكنز: لما فيه من تعريض المصحف على الاستخفاف، وهو المراد من قول النبي ﷺ: «لاتسافروا بالقرآن في أرض العدو». وذكر الطحطاوي أن هذا النهي كان في ابتداء الإسلام حيث كانت المصاحف قليلة، والقراء فيخاف ذهاب بعض القرآن، وانتسخ ذلك حين كثرتهم، والأول أصح وأحوط، كذا في كشف الوقاية. (نفع المفتي والسائل:ص ٤٣٦، مايتعلق بقراءة القرآن وسجدة التلاوة والمصاحف).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

که چیري د کافر په زړه کي د قرآن ادب وي او د ده له خوا څخه د سرې زړه بې غمه وي چي دی به د قرآن بې ادبي نه کوي نو ده ته قرآن کریم ورکول روا دي، ځکه امکان لري چي دی هدایت لاس ته پ راوړي خو که ده ته دا لار ښوونه وسي چي دا د خدای ﷻ کتاب دئ او د ناپاکۍ په حال کي یې مسح کول د ده د درناوي خلاف کار دئ، نو که د ناپاکۍ حالت وو نو غسل وکه او که ناپاکي نه وي یوازي اودس وکړه او د غسل او اوداسه طریقه وروښول سي د دې څخه به د ده په زړه کي د قرآن درناوی پیدا سي انشاء الله.

په درمختار کي راځي:

ويمنع النصراني (وفي بعض النسخ الكافر) من مسه، وجوزه محمد رحمه الله إذا اغتسل ولا بأس بتعليمه القرآن والفقه عسى يهتدي. (درمختار مع الشامی).

کافر په اعمالو مکلف نه دئ خو قرآن کریم د بې عزتۍ څخه ژغورل دا پر موږ ضروري ده. (فتاوی رحیمیه:٦/ ٢٨٣). والله تعالیٰ اعلم.

کافر ته د خنزیر د پوست کوټ په ډالۍ کې د ورکولو حکم

سوال: یوه سړي کوټ رانیوئ وروسته معلومه سوه چي د خنزیر د پوست څخه جوړ سوی دئ نو ایا دغه وکافر ته په ډالۍ کې ورکولای سي او که نه؟

الجواب: خنزیر د خپلو ټولو اجزاوو سره نجس العین دئ او د هیڅ جز کارول یې صحیح نه دي، نو له همدې کبله مسلمان ته د خنزیر د پوست څخه جوړ سوی کوټ ممنوع دئ او د دې حکم دا دئ چي بیرته دې دوکاندار ته ورکي او خپل ثمن دي ورڅخه واخلي که د څه تاوان په سبب یې هغه نه قبول وئ نو د ثواب د نیت پرته دې و یو کافر ته ورکي، ځکه د مسلمان له پاره روا نه ده چي دی حرام مال په ډالۍ کې ورکي.

وګورئ په فتاوی بینات کې راځي:

سوال: زموږ هیواد ته چي د چین چوټې او چپلان راځي په هغه کې د خنزیر پوست کارول کیږي، ځیني چوټې د ریګزین څخه جوړیږي چي په هغو کې دننه د خنزیر پوست کارول کیږي او یو څه بیا پوره د خنزیر د پوست څخه جوړي سوي دي ایا دا چپل په پښو کول حرام دي، ایا د دې پلورل حرام دي او کومو دوکاندارانو چي په ناپوهۍ سره دا رانیولي دي د هغو څه حکم دئ؟

الجواب: د خنزیر په نجس العین کېدلو کې هیڅ شک نه سته، فقهاوو د ده د ټولو اجزاوو کارول او د هغو پلورل او رانیول حرام ګڼلي دي او هغه شیان چي په هغو کې د خنزیر پوست ګډ وي یا نور اجزاء د هغه به هم همدغه حکم وي . د خنزیر او د ده د اجزاوو څخه جوړ سوي شیانو کې سودا نه فانذیږي او د هغو قیمت وثمن پلورونکي ته حرام دي بلکي د ده په ملکیت کې هم نه راځي که چا په ناپوهۍ سره دا شیان رانیولي وي نو هغو دوکاندارانو ته دي بیرته ورکي او دوکاندارنو ته ضروري ده چي هغې کمپنۍ ته دې بیرته ورکي د کومو څخه چي دوی رانیولي دي، د دې له پاره چي هغه یې بیا کفارو ته بیرته ورکي او خپلي پیسې لاس ته راوړي. (فتاوی بینات، کتاب الحظر والا باحة، جلد ٤ صفحه ٤٧٠-٤٧١، مکتبه بینات).

په معارف السنن کې راځي:

قال شيخنا: ويستفاد من كتب فقهائنا كالهداية وغيرها أن من ملك بملك خبيث ولم يمكنه الرد المالك فسبيله التصدق على الفقراء، قال: ومثله يقول ابن القيم في بدائع الفوائد"..... قال: والظاهر أن المتصدق بمثله ينبغي أن ينوي به فراغ ذمته ولايرجو به المثوبة، نعم يرجوها بالعمل بأمر الشارع، وكيف يرجو الثواب بمال حرام ويكفيه أن يخلص منه كفافاً رأساً بر أس! وفي سنن الدار قطني (۲/ ۵٤۵) بإسناده عن عبد الواحد بن زياد قال: قلت: لأبي حنيفة رحمه الله من أين أخذت هذا؟ الرجل يعمل في مال الرجل بغير إذنه أنه يتصدق بالربح! قال: أخذته من حديث عاصم بن كليب اه، وحديث ابن كليب أخرجه أبو داؤد في سننه (ص ٤٧۳) في (باب اجتناب الشبهات) من كتاب البيوع: عن عاصم بن كليب عن أبيه عن رجل من الأنصار قال: خرجنا مع رسول الله ﷺ فی جنازة.... فلما رجع استقبله داعی امرأة، فجاء وجیء بالطعام فوضع يده، ثم وضع القوم فأكلوا فنظر آباؤنا رسول الله ﷺ يلوک لقمة في فمه، ثم قال: «أجد لحم شاة أخذت بغير إذن أهلها» فأرسلت المرأة، قالت: يا رسول الله! إنی أرسلت إلى البقيع يشتري لي شاة فلم أجد، فأرسلت إلى جار لي قد اشترى شاةً أن أرسل إلي بثمنها فلم يوجد، فأرسلت إلى امرأته، فأرسلت إلی بها، فقال رسول الله ﷺ: أطعميه الأساری اه، (رواه ابو داؤد:۲/ ۱۱۷، باب اجتناب الشبهات من كتاب البيوع). رواه الدار قطني في سننه (فی باب الصيد والذبائح:٤/ ۲۸٦/ ٥٤). وفيه: فبينا هو يأكل إذ كف يده، وفيه أطعموها الأسارى، وفي طريق آخر: فلما أخذ رسول الله ﷺ لقمته رمى بها. (فی باب الصيد والذبائح:٤/ ۲۸٦/ ٥٥). (معارف السنن:١/ ٤٣-٣٥، باب ماجاء لاتقبل صلاة بغير طهور، تحت قوله: ولاصدقة من غلول، سعيد). والله تعالیٰ اعلم.

د قبضې څخه پرته د خیرات یا هبې حکم

سوال: یوه سړي په خپل کور کي یو دسکول اینبی دئ او په دې کي د خدای ﷻ له پاره پیسې اچوي د دې پیسو څخه واجب یا نفلي قرباني کول غواړي کولای یې سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي نفلي خیرات یا هبه د قبضې څخه پرته نه تام کیږي نو تر کومه وخته چي ده قبضه نه وي ورکړې هغه دي په خپله کارولای سي نو ځکه د دې پیسو څخه واجب یا نفلي قرباني (اخترى) کولای سي.

وګورئ په شرح مجله کي راځي:

اعلم أن التمليک بلفظ الصدقة کالتمليک بلفظ الهبة من حيث أنها لاتصح إلا بالقبض. (شرح المجله لمحمد خالد الاتاسی:۳/ ۳۹۸).

په تبیین الحقائق کي راځي:

والصدقة کالهبة لاتصح إلا بالقبض ولا في مشاع يحتمل القسمة لأنه تبرع کالهبة ويلزم فيها ما يلزم فی الهبة فامتنعت بدون القبض کالهبة. (تبيين الحقائق:۵/ ۱۰۴).

په فتاوی هندیه کي راځي:

الصدقة بمنزلة الهبة فی المشاع وغير المشاع وحاجتها إلى القبض. (الفتاوى الهندية:٤/ ٤٠٦).

وللاستزادة انظر: (شرح العناية على الهداية:۹/ ٥٦ – والبحر الرائق:۷/ ۲۹۷، کوئته – وفتح باب العناية:۳/ ۳۱۹ – والاختيار لتعليل المختار:۳/ ٦٦).

خو که دا د مسجد بکسه وي یا د یوې مدرسې وي او یو څوک د الله ﷻ له پاره پیسې پکښې واچوي نو په رواج کي دا د مسجد یا ومدرسې ته د ورکولو مترادف دئ، ځکه د صندوقچې قبضه د مسجد د متولي د قبضې په شکل ده، نو ځکه دا پیسې د هالې ورکونکي له ملکیته ووتلې اوس

رجوع کول (بیرته غوښتل) یې صحیح نه دي له همدې کبله د دې صندوقچې څخه خپله نفلي یا
واجب قرباني کولای نه سي.

وګورئ په شرح مجله کي راځي:

ویظهر لي من مجموع هذه النقول أن الهبة کما تنعقد بالألفاظ الدالة علی التملیک مجا
لغة او عرفاً، تنعقد أیضاً بالفعل بطریق التعاطي، لکن مع قرینة لفظیة أو حالیة، ومنها العرف
والعادة، تعین أن ذلک الفعل أرید به التملیک. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسی:۳/ ۳٤۹). والله
تعالی اعلم.

پر کاغذاتو د قبضې کولو څخه د هبې د پوره کېدو حکم

سوال: دیوه دوکان یا مځکي د هبې د تکمیل له پاره د هغه پر کاغذاتو قبضه کفایت کوي او که به
هغه خالي کوي او د موهوب له په لاس کي یې ورکول ضروري دي؟

الجواب: د جائیداد د هبې د تکمیل له پاره د هغه پر کاغذاتو قبضه کفایت کوي (پر کاغذاتو د
قبضې کولو څخه هبه پوره کیږي).

وګورئ په حاشیه طحطاوي کي راځي:

وفی العقار ما یناسبه فقبض مفتاح الدار قبض لها. (حاشیة الطحطاوی علی الدر
المختار:۳/ ۳۹٥).

په شرح مجله کي راځي:

إعطاء مفتاح العقار الذي له قفل للمشتري یکون تسلیماً إذا تهیأ له فتحه من غیره تکلفة.
کما فی البحر ومثله فی الهندیة والتاتار خانیة وغیرهما، والظاهر أن المراد بتهیؤه فتحه من
غیر تکلف، أن یکون المفتاح مفتاح ذلک العقار، وهو معنی مافی الخانیة ونصها: ولو باع

الدار وسلم المفتاح فقبض المفتاح ولم يذهب إلى الدار يكون قابضاً. (شرح المجلة، لمحمد الاتاسي:۲/ ۱۹۹، المادة:۲۷۱).

په جديد فقهي مباحث كي راځي:

د شيرز سرتفكيټ د كاغذاتو تر قبضې وروسته د رانيوونكي پر دې باندې قبضه ثابتيږي. (جديد فقهي مباحث:۱۶/ ۱۹).

همدارنګه بيان سوي دي:

په عرف كي د شيرز قبضه هغه وخت ګڼل كيږي چي كاغذات په لاس ورسي او همداسي د هر شي قبضه د رواج څخه معلوميږي او همداسي په عرف كي د هر خلك د كاغذي ثبوت څخه پرته د قبضې اعتبار نه كوي. (جديد فقهي مباحث:۱۶/ ۱۲۶). والله تعالى اعلم.

د هبة المشاع من الشريک حكم

سوال: **په كاغذاتو كي د خاوند او بي بي يو مشتركه دوكان دئ، خاوند د ډېرو خلكو مخكي وويل چي ما دا دوكان خپلي بي بي ته وركړى دئ او د مېرمن په قبضه كي وي او مېړه يې هم دوكان ته ځي خو نور كار زيات كوي نو مېرمن يې د دې دوكان مالكه سوه او كه نه؟**

الجواب: **په دې صورت كي د مېړه دا ويل چي ما دوكان ومېرمن ته وركړئ، هبه ده او قبضه خو مخكي لا د مېرمني وه نو ځكه هبه تامه سوه او مېرمن د دوكان مالكه سوه په كاغذاتو كي كه د هر چا نوم وي هبه د دې څخه نه متاثره كيږي نو بيا څنګه چي دوكان اكثره په غير منقسم شيانو كي دئ نو ځكه يې د تقسيم څخه پرته دغه هبه صحيح ده.**

وګورئ په قاضي خان كي راځي:

وفيما لايقسم كالعبد والدابة والثوب والحمام يجوز هبة المشاع من الشريک وغيره في قولهم جميعاً. (فتاوى قاضى خان على هامش الهندية:۳/ ۲۶۷، كتاب الهبة).

وفي الفتاوى الهندية: وهبة المشاع فيما لايحتمل القسمة تجوز من الشريك ومن الأجنبي كذا في الفصول العمادية. (الفتاوى الهندية: ٤/ ٣٧٨؛ الباب الثاني فيما يجوز من الهبة ومالايجوز - وكذا في فتاوى الشامي: ٥/ ٦٩٥، سعيد - وبدائع الصنائع: ٦/ ١١٩، سعيد).

په فتاوی عثماني کي راځي:

يوازي په کاغذانو کي د واهب د نامه له کبله پر هبه باندي څه تاثير نه لويږي. (فتاوى عثماني: ٣/ ٤٥٩). والله تعالى اعلم.

د نابالغه کوچنيانو د زړو شيانو په هبه کي د ورکولو حکم

سوال: که چيري د کوچنيانو کالي زاړه سي نو هغه د خيرات په شکل ورکولای سي او که نه؟ يا دی هغه قيمت کي او قيمت دې وکوچنيانو ته کښېږدي او کالي د خپل طرف څخه خيراتول په کار دي؟

الجواب: د کوچنيانو له پاره چي کوم شيان تمليكاً رانيول کيږي کوچنی د هغه مالک دئ نو له همدې کبله د کوچنيانو له طرفه يې خيرات يا هبه او داسي نور صحيح نه دي ((لان الصبي لايملك التبرع)) خو د هغو مناسب قيمت دي ولګول سي او د کوچنيانو له پاره دې قيمت کښېږدي تر دې وروسته به د هغو شيانو خيراتول د خپلي خوا څخه صحيح سي که چيري په عرف کي دا شيان عاريةً ورکول کېدل نو بيا يې نورو ته ورکولای سي.

وګورئ په فتاوی قاضي خان کي راځي:

رجل اتخذ ثياباً لولده الصغير ثم أراد أن يدفع إلى ولد له آخر لم يكن له ذلك، لأنه لما اتخذ ثياباً لولده الأول صار ملكاً للأول بحكم العرف فلا يملك الدفع إلى غيره إلا إذا بين عند اتخاذه للأول أنه عارية فحينئذٍ يملكه لأن الدفع إلى الأول يحتمل الإعارة فإذا بين ذلك صح بيانه.... ولايجوز للأب أن يهب شيئاً من مال ولده الصغير بعوض وغير عوض لأنها

وفى الفتاوى الهندية: رجل اتخذ لولده او لتلميذه ثياباً ثم أراد أن يدفع إلى ولده الآخر أو تلميذه الآخر ليس له ذلك إلا أذا بين وقت الاتخاذ أنها عارية. (الفتاوى الهندية: ٤/ ٣٩٢ - وكذا فى الفتاوى الهندية: ٤/ ٤٠٠ - والبحر الرائق: ٧/ ٢٨٨، كتاب الهبة - وجامع احكام الصغار لمجلد الاول، فى مسائل الهبة).

وقال فى الدر المختار: اتخذ لولده أو لتلميذه ثياباً ثم أراد دفعها لغيره ليس له ذلك ما لم يبين وقت الاتخاذ أنها عارية. وفي تكملة رد المحتار: قوله اتخذ لولده أي الصغير وأما الكبير فلا بد من التسليم.... وفى البزازية اتخذ لولده الصغير ثياباً يملكها، وكذا الكبير بالتسليم.... قوله ما لم يبين قال في البحر: وإن أراد الاحتياط يبين أنها عارية حتى يمكنه أن يدفع إلى غيره، وفي الحاوي الزاهدي برمز بم دفع لولده الصغير قرضاً فأكل نصفه ثم أخذه منه ودفعه لآخر يضمن إذا كان دفعه لولده على وجه التمليك، وإذا دفعه على وجه الإباحة لا يضمن قال عرف به أن مجرد الدفع من الأب إلى الصغير لا يكون تمليكاً وأنه حسن .(الدر المختار مع تكملة رد المحتار: ٨/ ٤٥٣، سعيد).

وفى الشامية ايضاً فى باب القرض: قال فى الهداية: فإن تأجيله لايصح لأنه إعارة وصلة فى الابتداء حتى يصح بلفظ الإعارة ولايملكه من لايملك التبرع كالوصي والصبي. (فتاوى الشامى: ٤/ ١٧، سعيد).

حکیم الامت تھانوی رحمۃ اللہ علیہ فرمایے:

کوچنیانو ته څپلي او کالي په عامو کورو کي جوړیږي په هغو کي احتیاطاً باید داسي وسي چي هغه د ده ملک جوړ نه سي د دې له پاره که چیري پر کوچني هغه کالي کوچنی (تنګ) سي نو بل کوچني ته يې ور واغوستلای سي یا ورکولای سي. (مجالس حکیم الامت مع ملفوظات:ص ۷۲،

همداسي حضرت مفتي محمد شفیع صاحب هم همداسي لیکلي دي: وګورئ مجالس مفتي اعظم. (مفتی اعظم:ص ۱۸۱ -۱۸۲، به عنوان نابالغ کا حق ادا کرنی کا طریقه). والله ﷻ اعلم.

یو کم شی د خپل زوی له خوا په هبه کي د ورکولو او د هغه حکم

سوال: که چیري د هغو شیانو خاص قیمت نه وي نو د زوی له خوا څخه يې د ایصال ثواب له پاره هغه کالي ورکولای سي او که نه؟ په دې کي به یو خاص ګټي ته کتل کیږي او که نه؟ د بېلګي په توګه زوی د استاذ په خدمت کي ورکول؟

الجواب: پاک شریعت خو د زامنو ګټي نه غندي بلکي د هغو ګټي يې مخته کړي دي له همدې کبله يې د ولي نیکي د زامنو په شیانو کي روا نه ده ځکه په دې کي د زامنو تاوان دئ خو که د زامنو په ملکیت کي يې یو داسي شی وي چي د هغو خاص قیمت نه وي نو بیا دي خاص د زوی د ګټي له پاره وکارول سي (د ده د خوا څخه دي خیرات کړل سي او ثواب دې وده ته ور بخښل سي) نو په دې کي بیا څه تاوان نه سته، خو که چیري دا شی یو خاص بنه قیمت ولري بیا يې مفت یو چا ته ورکول صحیح نه دي.

وګورئ په جامع احکام الصغار کي راځي:

وفي فوائد صاحب المحيط ذكر شمس الائمة في كتاب الوكالة للأب أن يعير ولده الصغير، وليس له أن يعير ماله قال: وتأويل هذا إذا كان ذلك في تعليم الحرفة بأن دفعه إلى أستاذ ليعلمه الحرفة ويخدم أستاذه أما إذا كان بخلاف ذلك لايجوز. (جامع احکام الصغار للعلامة الاستروشنی:۱/ ۱۷۱، فی مسائل العاریة).

وفيه أيضاً: لأن التصرف للصبي مقيد بالنظر. (جامع احکام الصغار للعلامة الاستروشنی:۱/ ۲۱۵، فی مسائل الاجارات).

وقال أيضاً: إذا آجر الأب أو الجد أو وصيهما الصبي في عمل من الأعمال فهو جائز لأن لهؤلاء ولاية استعمال الصغير من غير عوض بطريق التهذيب والرياضة فمع العوض أولى. (جامع احكام الصغار للعلامة الاستروشني:١/ ٢١٤، اوائل الاجارة).

وفيه أيضاً: وفي آخر الفصل الثامن من إجارات الذخيره وهكذا نقول فيمن سكن دار صغير أو حانوت صغير وأنه معد للاستغلال أنه يجب أجر المثل، إلا إذا انتقص بسبب سكناه وضمان النقصان انفع في حق الصغير فحينئذٍ يجب ضمان النقصان. (جامع احكام الصغار على هامش جامع الفصولين:١/ ٢١٩، في مسائل الاجارات).

وفي الفتاوى الهندية: قبول الهبة من الصبي صحيح إذا تمحضت الهبة منفعةً في حق الصغير، أما إذا كان فيها ضرر للصبي لا يصح حتى أنه إذا وهب رجل لصبي عبدًا أعمى أو ترابًا في دارٍ، قيل: إن كان يشترى منه ذلك فإنه يصح قبوله ولا يرد، وإن كان لا يشترى منه بشيءٍ ويلزمه مؤنة النقل ونفقة العبد فإنه يرد ذلك. (الفتاوى الهندية:٤/ ٣٩٣). والله ﷻ اعلم.

د شيدو د دبلي په هبه کي د ورکولو حکم

سوال: يوه سړي د خپل کوچني زوی له پاره د شيدو کارټن رانيوئ، اوس که زوی و دغو شيدو ته ضرورت ونه لري نو دا کارټن بل چا ته ورکولای سي او که نه؟

الجواب: خوراکي توکی د فقهاوو د قول پر برابر چي زوی ته په هبه کي ورکول سوي وي پلار او مور ته يې خوړل روا دي، همداسي که زوی ودې ته ضرورت ونه لري نو بل چا ته يې هم ورکولای سي او ورکول يې روا دي.

وګورئ په جامع الاحکام الصغار کي راځي:

إذا أهدى الصغير شيئاً من المأكولات روي عن محمد رحمه الله أنه يباح الوالدية وشبه ذلك بضيافة المأذون وأكثر مشايخ بخارى على أنه لايباح، وفي كراهية التجنيس إذا أهدى الفواكه إلى الصبي الصغير يحل للأب والأم الأكل إذا أريد بذلك بر الأب والأم لكن أهدى إلى الصغير استصغاراً للهدية، لجواز الذي يلعب به الصبيان يوم العيد يؤكل لما روي عن ابن عمر رضي الله عنه أنه كان يشترى الجوز لصبيانه يوم الفطر يلعبون به ويأكل منه وهكذا فعل علي رضي الله عنه بجواريه. (جامع احاكم الصغار:۱/ ۱٤٦، فى مسائل الكراهية).

په درمختار کي راځي:

ويباح لوالديه أن يأكلا من مأكولٍ وهب له، وقيل لا، انتهى، فأفاد أن غير المأكول لا يباح لهما إلا لحاجةٍ. وفي الشامية: قال في التاتار خانية روي عن محمد رحمه الله نصاً أنه يباح. وفي الذخيرة وأكثر مشايخ بخارى على أنه لايباح. (الدر المختار:٥/ ٦٩٦، سعيد).

قال العلامة الفقيه طاهر بن عبد الرشيد البخارى: وفي الفتاوى: رجل وهب للصغير شيئاً من المأكول يباح للوالدين أن يأكلا منه كذا روي عن محمد رحمه الله. (خلاصة الفتاوى:٤/ ٤٠٠، جنس آخر في الهبة من الصغير – وكذا في البحر الرائق:٧/ ٢٨٨، نقلاً عن الخلاصة).

والله تعالیٰ اعلم.

د زوی پیسې د ده په مصارفو کي د لګولو حکم

سوال: یو چا خپل نابالغه زوی ته یو څه پیسې په هبه کي ورکړې یا خپله پلار یې ورکړي په دې پیسو وده ته کالی یا داسي نور شیان رانیولای سي او که نه؟ نو ایا د زوی مصارف به پلار له خپلي خوا څخه برداشتوي؟

الجواب: په دې صورت کې چې د زوی سره پیسې وې نو پلار دا پیسې د ده په کارو کې لګولای سي، خو پلار د زوی پیسې بې ځایه ځایو کې نه سي لګولای، د زامنو په پیسو کې ډېر د احتیاط څخه کار اخیستل په کار دي.

وګورئ په درمختار کې راځي:

فإن نفقة المملوک علی مالکه والغني في ماله الحاضر. وفي الشامية: قوله في ماله الحاضر، يشمل العقار والأردية والثياب، فإذا احتيج إلى النفقة كان للأب بيع ذلک كله وينفق عليه لأنه غني بهذه الأشياء بحر، وفتح. (الدر المختار مع فتاوى الشامی:٣/ ٦١٢، سعيد.

وفی البحر الرائق: الصغير إذا كان له مال فنفقته في ماله. (البحر الرائق:٤/ ٢٠١، کوئته).

وفي الفتاوى الهندية: إرضاع الصغير إذا كان يوجد من ترضعه إنما يجب على الأب إذا لم يكن للصغير مال، وأما إذا كان له مال فتكون مؤنة الرضاع في مال الصغير كذا في المحيط. (الفتاوى الهندية:١/ ٥٦٠).

په امداد الفتاوی کې راځي:

سوال: که چیرې نابالغه زامنو ته د هغو نیکه یا انا یو څه هبه کې نو د زامنو هغه هبه مور او پلار څنګه ولګوي، که یې په ډوډۍ او کالو کې ولګوي دا خو د مور او پلار پر ذمه دي، تر کومه وخته چې دوی بالغان کیږي نو دا هبه امانةً د هغوی د بلوغ تر وخته کښېږدي او که یې د دوی له پاره په خوږو کې ولګوي څه وکې؟

الجواب: فی الدر المختار: ولطفله الفقير الحر لأن نفقة المملوک على ملکه والغنی فی ما له الحاضر.

د دې روایت څخه معلومیږي چې نابالغه د یو شی مالک سي اول به د ده نفقه د دې مال څخه ورکول کیږي د ده دخپل مال د درلودلو په صورت کې پر پلار نه واجبیږي نو بیا دي دغه هبه د ده په ضروري نفقاتو کې ولګول سي. (امداد الفتاوی:٣/ ٤٨٠، کتاب الاهبة). والله ﷻ اعلم.

د نابالغه کوچني د ډالۍ د قبولولو حکم

سوال: استاذ د نابالغ کوچني ډالۍ قبولولای سي او که نه؟

الجواب: که چیري یو شی د کوچنیانو د کارولو له پاره ورکړل سي نو د ده د مور او پلار په اجازه سره یې دی نورو ته ورکولای سي او روا دي پر دې اساس یې استاذ ته هم قبولول روا دي.

وګورئ په امداد المفتین کي راځي:

کوچنیان چي کومه هبه ورکوي په دې کي د روا والي دوه شرطه دي:

١_ دا چي خپله دا هلک بالغ وي او په خپله خوښه سره یې ورکړي.

٢_ او که نابالغه وي د ده مور او پلار په راضي وي، د ده مور او پلار د راضي کېدلو هدف دا دئ چي دا مال د مور او پلار دئ او بله خبره دا ده چي ښوونکی باید داسي شکل غوره نه کړي چي د ده شاګردان دا وفهموي که څه هبه ورنه کړو نو موږ ته تاوان رسیږي. (امداد المفتین دوهم جلد: ص ٧٣٣، کتاب الهبة والصدقة، دار الاشاعت).

په شرح مجله کي راځي:

لو أحضر الصغير لأحد هدية وقال له أرسلني أبي بهذه الهدية لک فلذلک الشخص تناول تلک الهدية مالم يقع في قلبه أن الصغير المذكور كاذب في قوله هذا. (درر الحكام شرح مجلة الاحكام: ٢/ ٣٩٨، دار الكتب العلمية بيروت).

وفي جامع أحكام الصغار: وفي هبة الملتقط: صبي أهدى وقال: إني أرسل إليک بهذه الهدية يحل له التناول إلا أن يقع في قلبه أنه كاذب. (جامع احكام الصغار: ١/ ١٨٣، فى مسائل الهبة – وكذا فى الفتاوى الهندية: ٤/ ٣٩٣، قبول الهدية من الصغير). والله تعالیٰ اعلم.

وزوى ته په هبه كي د پلار دوكان وركول او د هغه حكم

سوال: يوه پلار وخپل زوى ته يو دوكان په هبه كي وركړ پلار تصرف نه پکښې کوي او يوازي يې زوى تصرف كوي خو پلار روزانه راځي او په دوكان كي كښېني حساب او كتاب او ټول كارونه زوى پرمخ بيايي شرعاً د وزى قبضه معتبره سوه او كه نه؟ او كه پلار هم تصرف كوي د هغه څه حكم دئ؟

الجواب: په دې صورت كي كه پلار وزوى ته دوكان هبه كړ او قبضه يې هم وركړه نو دوكان د زوى په ملكيت كي راغلئ، كه څه هم تر قبضې وروسته پلار كله ناكله يا هميشه په دوكان كي كښېني او كه پلار ورته هبه كړ، خو دى يې په خپله قبضه كي ساتي نو د زوى ملكيت راغلى نه دئ او دوكان د پخوا پر ډول د پلار ملكيت دئ.

وګورئ په درمختار كي راځي:

وشرائط صحتها في الموهوب أن يكون مقبوضاً غير مشاع مميزاً غير مشغول. وفي الشامية: وتصح الهبة بـ « كوهبت»، وفيه دلالة على أن القبول ليس بركن كما أشار إليه في الخلاصة وغيرها، وذكر الكرماني أن الإيجاب في الهبة عقد تام، وفي المبسوط أن القبض كالقبول في البيع. (فتاوى الشامي مع الدر المختار:٥/ ٦٨٨، كتاب الهبة، سعيد– وكذا في تبيين الحقائق:٥/ ٩٢، ملتان).

وفي رد المحتار: وفي شرح المجمع لابن ملك عن المحيط لو كان أمره بالقبض حين وهب لا يتقيد بالمجلس ويجوز قبضه بعده. (فتاوى الشامي:٥/ ٦٨٨، كتاب الهبة، سعيد).

وفي خزانة الفتاوى: إذا دفع لابنه مالا فتصرف فيه الابن يكون للأب إلا إذا دلت دلالة التمليك بيري، قلت: فقد أفاد أن التلفظ بالإيجاب والقبول لا يشترط بل تكفي القرائن الدالة

علی التملیک کمن دفع لفقیر شیئاً وقبضه ولم یتلفظ واحد منهما بشيء (فتاوی الشامی: ٥/ ٦٨٨، کتاب الهبة، سعید).

وفی الفتاوی الهندیة: رجل دفع إلی ابنه في صحته مالًا یتصرف فیه ففعل وکثر ذلك فمات الأب إن أعطاه هبةً فالکل له، وإن دفع إلیه لأن یعمل فیه للأب فهو میراث، کذا في جواهر الفتاوی. (الفتاوی الهندیة: ٤/ ٣٩٢).

نتیجه دا سوه که چیري ټولو تصرفات د زوی په لاس کي وي نو د زوی قبضه ګڼل کیږي او هبه پوره کیږي او که پلار ټوله تصرفات په خپل لاس کي ولري نو د نه قبضې په سبب هبه نه پوره کیږي. والله ﷻ اعلم.

د قبضې پر ته یوازي د زباني هبې حکم

سوال: یوه پلار خپل زوی ته وویل چي دا کور مي تا ته درکړ خو کوریې په قباله یا خط کي د زوی پر نامه نه کړئ او مور او پلار په دې کور کي اوسیږي او د کور ټول مصرف برداشت وي، پلار او زوی ټول پوهېدل چي دا کور د زوی دئ، اوس د مور او پلار تر مرګ وروسته نور وارثان په دې کور کي د خپل حق غوښتنه کوي او زوی دا وایي، چي دا کور ما ته مور او پلار هبه کړی دئ، د مهربانۍ له مخي دا راته ووایاست چي د کور اصلي مالک څوک دئ؟

الجواب: په دې صورت کي پلار وزوی ته یوازي زباني ډول باندي کور هبه کړی وو او پلار په خپل ژوند کي وده ته مالکانه قبضه ورکړې نه وه نو ځکه دا هبه صحیح نه سوه نو کور به د ټولو وارثانو په منځ کي د شرعي برخو برابر وېشل کیږي.

وګورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

ومنها (شرائط الهبة) أن یکون الموهوب مقبوضاً حتی لایثبت الملک للموهوب له قبل القبض. (الفتاوی الهندیة: ٤/ ٣٧٤).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

د هبې د پوره کېدو له پاره پوره قبضه شرط ده.

په درمختار کي راځي: شرائط صحتها في الموهوب أن يكون مقبوضاً غير مشاع مميزاً غير مشغول.... وتتم الهبة بالقبض الكامل. (الدر المختار: ٥/ ٦٩٩).

نو له دې کبله چي کله مرحوم د مرګ تر وخته پر جائیداد باندي قبضه او تصرف درلودئ او د ده په ژوند کي د زوی یا لور مالکانه تصرف او قبضه نه وه نو دا هبه معتبره نه ده او ټول وارثان حق لري او خپلي برخي اخیستلای سي.

په فتاوی مهدیه کي راځي:

إذا مات الواهب قبل قبض الموهوب له الهبة بطلت وتكون ميراثاً من الواهب كما في متروكاته. (٤/ ٥٧٣). (ماخوذ از فتاوی رحیمیه: ٤/ ١٧٧). والله تعالى اعلم.

د عاشوراء په ورځ د هبې حکم

سوال: علماء او مفتیان د لاندي لیکل سوی مسئلو په اړه څه فرمایي:

۱_ د عاشوراء په ورځ یوه و بل ته د ډالۍ ورکولو څه حکم دئ؟

۲_ د عاشوراء په ورځ د کور د غړو د یو ځای کېدو څه حکم دئ؟

۳_ د عاشوراء په ورځ یو بل ته مبارکي ویل څنګه دي صحیح دي او که نه؟

۴_ نن سبا په موبایل باندي د میسج د لېږلو رواج دئ د دې څه حکم دئ.؟

الجواب: د شریعت قانون خو دا دئ چي کوم کار سنت یا مستحب ونه ګڼل سي نو د هغه له پاره د اصل ثبوت کافي دئ او د شریعت د قوانینو سره هغه چي منل سوي دي ټکر ونه لري نو د هغه کار د کولو ګنجائش سته . په شریعت کي د دې بېخي ډېر مثالونه سته، مثلاً د تعویذ یا دم له پاره یوازي ثبوت کافي دئ، د خصوصي ثبوت اړتیا یې نه سته پر دې اساس د عاشوراء په ورځ یو و بل ته ډالۍ ورکول د خوشحالي ښکارولو او د محبت په سبب وي چي اړین او مستحب ونه بلل سي او که چیري اړین بلل کیږي او نه ورکونکي غندل کیږي نو هلته بیا صحیح نه دي او د دې څخه بیا ځان ژغورل

اړين دي، خو داسي كارونه كرار كرار بد (ناوړه) رواج جوړيږي يا هغه شريعت ګڼل كيږي نو ځكه داسي كارو څخه ځان ژغورل ښه دي.

د مطلق هديې دليلونه وګورئ:

۱_ روى البخارى عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: يا نساء المسلمات لا تحقرن جارة لجارتها ولو فرسن شاةٍ. (رواه البخارى: ۱/ ۳٤۹).

۲_ وروى أيضاً عنه عن النبي ﷺ قال: لو دعيت إلى ذراعٍ، أو كراعٍ لأجبت ولو أهدي إلي ذراع، أو كراع لقبلت. (رواه البخارى: ۱/ ۳٤۹).

۳_ وروى أيضاً عن ابن عباسٍ رضي الله عنه قال: أهدت أم حفيدٍ خالة ابن عباسٍ رضي الله عنه إلى النبي ﷺ أقطًا وسمنًا وأضبا فأكل النبي ﷺ من الأقط والسمن..... (رواه البخارى: ۱/ ۳۵۰).

عن عائشة، رضي الله عنها، أن النبي ﷺ كان يقبل الهدية ويثيب عليها. (رواه البخارى: ۱/ ۳۵۲).

قال رسول الله ﷺ: « تهادوا اتحابوا ». (رواه البيهقى فى سننه الكبرى، والبخارى فى الادب المفرد).

عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: « تهادوا فإن الهدية تذهب وحر الصدر ولا تحقرن جارة لجارتها ولو شق فرسن شاة ». (رواه الترمذى).

وعن أنس بن مالك رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: يا معشر الأنصار تهادوا فإن الهدية تحل السخيمة وتورث المودة. (مجمع الزوائد: ٤/ ۱۷۲).

د عاشوراء په ورځ د كورني د غړو يو ځاى كېدل او ښه خوراكونه تيارول او خوړل د حديثونو او د فقهي د كتابو څخه ثابت دي خو دې له پاره يو ځاى كېدل لازم نه دي كله ناكله كه يې وكړي نو پروا

نه لري خو چي په دې کي بد کارونه نه وي او د شریعت مخالف کارونه ونه سي، خو د ډېرو (همېشه) یو ځای کېدلو څخه ځان ژغورل اړین دي.

فقیه ابو الیث سمرقندي رحمه الله په تنبیه الغافلین کي فرمایلي دي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: من وسع على عياله يوم عاشوراء وسع الله عليه سائر السنة، قال سفيان: جربناه فوجدناه كذلك. (۱/ ۳۳۲).

دا روایت که څه هم ضعیف دئ خو په ښو کارو کي په دې باندي د عمل کولو ګنجائش سته همداسي فقهاوو هم دا حدیث د عمل کولو له پاره ښه بللی دئ. د دې حدیث تحقیق په اول جلد ابواب الحدیث کي تېر سوی دئ.

د عاشوراء په ورځ یو بل ته مبارکي ویل:

دا کار هم د خوشحالۍ او اخترانو پر مهال د صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم څخه ثابت دئ نو که یې لازم ونه ګڼي، البته یوازي یې د خوشحالۍ لامل وفهموي او یو بل ته مبارکي ورکي نو د دې ګنجائش سته خو داسي کارونه کرا کرار د شرعي حکم په شان فهمول کیږي نو ځکه د داسي کارو څخه ځان ژغورل اړین دي.

أخرج الطبراني برواية حبيب بن عمر الأنصاري عن أبيه قال: لقيت واثلة بن الأسقع يوم عيد فقلت: تقبل الله مناومنك، فقال: نعم، تقبل الله منا ومنك. (المعجم الكبير للطبراني: ۱۵/ ۴۳۰/ ۱۷۵۸۹ – وكذا في مجمع الزوائد: ۲/ ۴۴۲، التهنية بالعيد).

وأخرج البخاري عن عبد الله بن كعب بن مالك عن أبيه في حديث طويل في قصة غيابه عن غزوة تبوک ثم إجابة الله توبته بعد خمسين يوماً تقريباً، يحكى حال مجيئته الى المسجد بقوله: قال كعب حتى دخلت المسجد فإذا برسول الله ﷺ جالس حوله الناس فقام إلي طلحة بن عبيد الله رضي الله عنه يهرول حتى صافحني وهناني إلي آخر حديث. (رواه البخاري: ۲/ ۶۳۶).

وفي كشف الخفاء: التهنئة بالشهور والأعياد مما اعتاده الناس. قال في المقاصد: مروي في العيد أن خالد بن معدان لقي واثلة بن الأسقع رضي الله عنه في يوم عيد، فقال له: تقبل الله منا ومنك، فقال له مثل ذلك، وأسنده إلى النبي ﷺ لكن الأشبه فيه الوقف، وله شواهد عن كثير من الصحابة، بينها الحافظ في بعض الأجوبة، .... وروي في المرفوع من جملة حقوق الجار إن أصابه خير هنأه.... بل أقوى منه ما في الصحيحين في قيام طلحة رضي الله عنه لكعب رضي الله عنه وتهنيته بتوبة الله عليه. (كشف الخفاء: ١/ ٣٢٠ - وكذافي المقاصد الحسنة: ص ٩٢).

قال في الدر: ندب.... وإظهار البشاشة وإكثار الصدقة والتختم والتهنئة بتقبل الله منا ومنكم لاتنكر. قال الشامي: وقال المحقق ابن أمير حاج: بل الأشبه أنها جائزة مستحبة.... ثم ساق آثاراً بأسانيد صحيحة عن الصحابة رضي الله عنهم في فعل ذلك. (الدر المختار مع فتاوى الشامي: ٢/ ١٦٩، باب العيدين، سعيد).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: فتاوی دار العلوم زکریا دوهم جلد عنوان د عیدین پر موقع یوبل ته مبارکي ورکول.

خلاصه دا چي د مسلمانانو ژوند د وړاندي څخه هم د رواجو څخه ډک وو نو ځکه د ډالیو رواج او یوه وبل ته د مبارکۍ ویلو رواج چي پرېښودل سي ښه دئ که څه هم دا دین برخه ونه بلل سي. والله تعالیٰ اعلم.

په کفري مجلسونو کي د ډالیو حکم

سوال: کرسمس (د یهودو اختر) او په داسي نورو ځایو کي د ډالۍ ورکولو او اخیستلو څه حکم دئ؟ ایا د تجارتي اړیکو په سبب یې هغوی ته ورکولای سي او که نه؟ ځکه چي هغوی زموږ په اسلامي مجلسونو کي موږ ته تحفې را کوي او د هغو سره اړیکي ټینګول هدف دئ او د دوی د دین درناوی هدف نه دئ نو څه حکم یې دئ؟

الجواب: په دې صورت کې که د دوی د دین درناوی هدف نه وي، البته ظاهري دوستي یا ظاهري اړیکې ټینګول هدف وي نو د ډالیو ګنجائش سته خو دوی د کرسمس (د دوی داختر) په ورځ دي نه ورکوي او یو ورځ وړاندې یا وروسته دې ورکوي.

علامه شامي رحمه الله **فرمايي:**

ولو أهدى لمسلم ولم يرد تعظيم اليوم بل يجرى على عادة الناس لايكفر وينبغي أن يفعله قبله أو بعده نفياً للشبهة. (فتاوى الشامي:٦/ ٧٥٣، سعيد).

په امداد الفتاوی کې حضرت تهانوي رحمه الله **د فقهي عبارتونو تر نقلولو وروسته لیکلي دي:**

د دې روایتو څخه د دغو ډالیو حکمونه معلومیږي چې تاسو یې غوښتنه کړې ده چې که چیرې دیني ضرر نه وي نو د هغو کفارو سره چې صلحه ورسره سوې وي د ډالیو کار وبار صحیح دئ او د دې څخه د ډېرو سوالو جوابو وسوه او یوازې دوه جزونه چې د هغوی څخه ځان ژغورل اړین دي پاتې سول.

۱ـ یو دا چې شاید د ډالۍ ورکونکې دې د دوی د دې خوشحالي درناوی هدف وي چې فقهاوو سخت ممنوع بللی دئ.

۲ـ دا چې په هغه هدیو کې عکسونه هم وي د هغو درناوی ساتنه او تقوم راځي او په ځینو فروعاتو کې د عکسو د تقوم نفی کړل سوې ده نو په دې کې د دې شرعي حکم سره هم تعرض دئ؟

اول جواب دا دئ چې د دې عادت څخه معلومیږي چې د دې ډالۍ هدف د مهدي له درناوی نه دئ چې د دوی دې کار او د دوهم جواب دا دئ چې په ډالي کې هدف صورت نه دئ، بلکې هدف ماده ده، خو دا واجبه ده چې مهدی له فی الحال عکسونه خراب کړي. (امداد الفتاوی:۳/ ٤٦٢).

مولانا عبد الحی اللکنوي رحمه الله **فرمايي:**

سوال: که چیرې هندو د واده یا بل شی پر موقع مسلمان ته ډالۍ وړاندې کې نو مسلمان یې اخیستلای سي او که نه؟

الجواب: صحیح ده خو د کفارو سره د دوی د اختر یا د خوشحالۍ په وخت کې موافقت کول ښه نه دئ.

په مجمع البركات كي راځي:

د نيروز (نو روز) په ورځ چي مجوسيان د خپلو لوړ پوړو ته ډالۍ ور وړي او يا د خپلو دوستانو او قريبانو وكورو ته د خوراک شيان ور وړي نو ايا د هغو اخيستل روا او حلال دي او د دې واخيستونكي ته څه ديني تاوان دئ او كه نه؟ ځيني وايي چي كه د دوى په خوشحالۍ كي ګډون كوي نو وهغوى ته د دين تاوان سته او د دې څخه پرته په بل حال كي يې اخلي روا دي او هيڅ تاوان يې نه سته خو بيا هم د دې كار څخه ځان ژغورل ښه دي همداسي په مطالب المؤمنين كي راځي. (معلم الفقه ترجمه مجموعة الفتاوى:٢/ ٣٦٣ – وكذا في :٣٥٨ -٣٨٢). والله تعالى اعلم.

د زوى پر نامه په بانک كي د پيسو د ايښول څخه د هبې حكم

سوال: يوه سړي خپلي يو څه پيسې د محصول څخه د ژغورلو له پاره د خپل زوى پر نامه په بانک كي ايږدي، اوس د زوى پر نامه كولو په سبب به زوى مالک ګڼل كيږي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي په بانک كي د پيسو د ايښولو هدف د زوى تمليک نه دئ، البته د دې هدف له پاره چي پيسې وساتل سي نو زوى مالک نه جوړيږي خو كه د زوى تمليک يې هدف وي نو زوى يې مالک جوړيږي.

وګورئ حضرت مفتي شفيع صاحب وايي:

كه څيري په حقيقت كي زيد دغه مكان د خپلي مېرمني ملكيت نه وو جوړ كړى، البته ديوې ګټي له پاره يې په حكومتي كاغذاتو كي د دې نوم ليكلى وي نو دا مكان د ده د مېرمني نه كيږي او د ده د وارثانو به په دې كي د ميراث حق نه وي بلكي پر هغه زاړه حال د زيد په ملكيت كي پاتيږي. په حكومتي كاغذاتو كي د يو چا د نامه ليكلو څخه د ده ملكيت نه ثابيږي تر كومه وخته چي مالک د خپلي رضا سره هغه مالک جوړ نه كړي او هغه قبضه پر نه كړي. او دا ټولي خبري د فقهي د كتابو څخه معلوميږي. (امداد المفتين:٢/ ٧٣٨، كتاب الهبة، دار الاشاعت).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوى عثمانى:٣/ ٤٤٥). والله تعالى اعلم.

د مور وزوی ته د مکان هبه کولو حکم

سوال: زما مور ما ته یو کور راکئ چي په هندوستان کي دئ حال دا چي دا ژوندی او جوړه وه، اوس زما مور مړه سوې ده نو اوس د کور حکم څه دئ؟ زما خور ژوندی ده ایا د هغې په دې کور کي برخه سته او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که چیري ستا مور تا ته هبه کړي تا یا ستا وکیل ورباندي قبضه کړي وي نو دا کور ستا دئ او په دې کي د بل چا حق نه سته.

وګورئ په عالمګیري کي راځي:

ولا يتم حكم الهبة إلا مقبوضةً ويستوي فيه الأجنبي والولد إذا كان بالغًا، هكذا في المحيط، والقبض الذي يتعلق به تمام الهبة وثبوت حكمها القبض بإذن المالك، والإذن تارةً يثبت نصا وصريحًا وتارةً يثبت دلالةً. (الفتاوى الهندية: ٤/ ٣٧٧، الباب الثاني فيما يجوز من الهبة ومالا يجوز).

په شرح مجله کي راځي:

لو وهب أحد جميع أمواله في حال صحته لأحد ورثته وسلمه إياها وتوفى بعد ذلك فليس لسائر الورثة المداخلة فى الهبة المذكورة، (على أفندي)، مثلاً لو وهب من كان له عدة أولاد جيمع أمواله لأحدهم في حال صحته وسلمه إياها كانت صحيحة (البزازية). (درر الكام شرح مجلة الاحكام: ٢/ ٤٣٣، المادة: ٨٧٩). والله ﷻ اعلم.

د دائن خپل پور د مدیونه پر ته و بل چا ته د هبې کولو حکم

سوال: د زید پر عمر پنځه زره قرض دئ د بکر سره د زید دائن دوستي وه دائن ومدیون عمر ته وویل، چي ته قرض ما ته مه راکوه، البته بکر ته یې ورکه ما هغه ته هبه کړی دئ او بکر ته یې ویل چي ته یې واخله نو عمر هم بکر ته ورکړې، بیا د بکر سره د زید دوستانه اړیکي خرابي سوې او اوس هغه وایي، چي ما ته پنځه زره بیرته را کړه او بکر هغه پیسې مصرف کړي دي، څنګه چي زید او

عمر دواړه ملايان دي نو زيد په دليل كي د فقهي دا جزائيه ورته وړاندي كوي ((تمليک الدين من غير المديون لايصح)) اوس عمر څه وكړي؟

الجواب: په دې صورت كي كله چي دائن ومديون ته ووېل، چي زما قرض وبكر ته وركړه او عمر وبكر ته وركړئ نو دا هبه پوره سوه او د زيد پور هم اداء سو اوس زيد د عمر څخه غوښتنه نه سي كولاى او په تمليک الدين من غير المديون كي چي دائن په خپله غير مديون ته اجازه وكړي نو صحيح كيږي او هبه پوره سوه.

وګورئ په فتح القدير كي راځي:

أجيب بأن هبة الدين من غير المديون إنما لا تجوز إذا لم يأذن للغير في قبضه ، فأما إذا وهب الدين من آخر وأذن له في قبضه جاز استحسانًا . (فتح القدير:۷/ ۱۹۰، كتاب الكفاية، دار الفكر).

په عنايه كي راځي:

إن تمليك الدين من غير من عليه الدين يصح استحسانًا إذا وهبه وأذن له في القبض فقبضه ، وهذا ؛ لأن ذلك إنما لا يصح ؛ لأنه تمليك ما لا يقدر على تسليمه، وإذا أذن له بالقبض صار كأنه أخرجه من الكفالة ووكله بالقبض فقبضه ثم وهبه إياه ، وحينئذٍ يكون تمليك الدين ممن عليه الدين وهو جائز .(العناية فى شرح الهداية على هامش فتح القدير:۷/ ۱۹۰، دار الفكر).

په بدائع الصنائع كي راځي:

وأما هبة الدين لغير من عليه الدين فجائز أيضًا إذا أذن له بالقبض وقبضه استحسانًا والقياس أن لا يجوز وإن أذن له بالقبض .... وجه الاستحسان أن ما في الذمة مقدور التسليم والقبض ألا ترى أن المديون يجبر على تسليمه إلا أن قبضه بقبض العين فإذا قبض العين قام

قبضها مقام قبض عين ما في الذمة إلا أنه لا بد من الإذن بالقبض صريحًا ولا يكتفى فيه بالقبض بحضرة الواهب بخلاف هبة العين (بدائع الصنائع:٦/ ١١٩، فصل فى شرائط الهبة، سعيد).

په مبسوط کي راځي:

هبة الدين من غير من عليه الدين جائزة، فإذا سلطه عليه فهو مسلط عليه في الجملة أو يجعل ذلك نقلًا للدين منه، بمقتضى الهبة منه فيصير هبة الدين ممن عليه الدين لو أمكن ذلك ؛ لأن له ولاية نقل الدين إليه قصدًا بإحالة الدين عليه فيثبت ذلك بمقتضى تصرفهما تصحيحًا له . (المبسوط للامام السرخسى:٢٠/ ٩٢).

په محيط برهاني کي راځي:

أن الواهب لما أمره بالقبض فقد جعله نائباً عن نفسه في القبض فيقع قبض الموهوب للواهب أولاً ثم لنفسه أو أن عمل الهبة ما بعد القبض وبعد القبض هو مال محل للتمليك. (المحيط البرهانى:٧/ ١٧٤).

وللاستزادة انظر: (المحيط البرهانى:٦/ ٩٢، و ٧/ ١٧٤، كتاب الهبة والصدقة – ورد المحتار:٥/ ٧٠٨، سعيد – وشرح المجلة:٣/ ٣٦٠ – والفتاوى الهندية:٤/ ٣٨٤ – والبحر الرائق:٧/ ٢٨٤ – وتبيين الحقائق:٣/ ١١، ملتان). والله تعالی اعلم.

په خپل ژوند کي د مال د وېشلو حکم

سوال: ايا يو څوک په خپل ژوند کي خپل مال، جائيداد يا داسي نور شيان وېشلای سي او که نه؟

الجواب: په خپل ژوند کي مال وېشل هبه ده او دا صحيح ده او د مفتى به قول سره سم د اولاد په منځ کي برابري کول ښه دي خو په دې کي زيادت هم چليږي خو يو چا ته بې د څه غرض څخه تاوان

رسول صحیح نه دي، خو د دینداری او فسق په سبب فرق کول روا دي، خو دینداره او پرهېزګاره ته لا یو څه زیات ورکول بهتر او ښه دي.

وګورئ په خلاصة الفتاوی کي راځي:

رجل له ابن وبنت أراد أن يهب لهما شيئاً فالأفضل أن جعل للذكر مثل حظ الانثيين عند محمد رحمه الله وعند أبي يوسف رحمه الله بينهما سواء هو المختار لو رود الآثار.

ولو وهب جميع ماله لابنه جاز فى القضاء وهو آثم نص عن محمد رحمه الله هكذا في العيون ولو أعطى بعض ولده شيئاً دون البعض لزيادة رشده لا بأس به وإن كانا سواء لاينبغي أن يفضل، ولو كان ولده فاسقاً فأراد أن يصرف ماله إلى وجوه الخير ويحرمه عن الميراث هذه خير من تركه لأن فيه إعانة على المعصية، ولو كان ولده فاسقاً لايعطى له أكثر من قوته.

(خلاصة الفتاوی:٤/ ٤٠٠، جنس آخر فی الهبة من الصغیر).

په شرح مجله کي راځي:

لو وهب أحد جميع أمواله في حال صحته لأحد ورثته وسلمه إياها وتوفي بعد ذلك فليس لسائر الورثة المداخلة في الهبة المذكورة، (علي أفندي) مثلًا لو وهب من كان له عدة أولاد جميع أمواله لأحدهم في حال صحته وسلمه إياها كانت صحيحةً (البزازية)، ومع ذلك فترجيح بعض الأولاد على البعض مكروه كراهةً تحريميةً (أبو السعود المصري) ويكره ذلك عند تساويهم في الدرجة أما عند عدم التساوي كما إذا كان أحدهم مشتغلًا بالعلم لا بالكسب لا بأس أن يفضله على غيره أي لا يكره إذا كان التفضيل لزيادة فضلٍ له في الدين، فعليه (على الواهب) مراعاة المساواة في الهبة لأولاده حتى لو وهب لابنه وابنته يجب أن يعطي البنت كما يعطي الصبي وهذا هو المفتى به (الطحطاوي)، وقد روى أحد الصحابة رضي الله عنه

أن أباه قد وهبه مالًا وأراد أن يشهد النبي ﷺ على هذه الهبة فتمثلت أنا مع أبي في حضور النبي ﷺ وذكر أبي له الأمر فسأله الرسول ﷺ ألك أولاد غيره ؟ فأجابه أبي : نعم يا رسول الله فقال له، هل وهبتهم مثل ما وهبت هذا ؟ فقال أبي : كلا، فقال ﷺ : هذا جور : أي ظلم (العناية)، إلا أنه إذا كان أحد الأولاد يفضل غيره في العلم والكمال فلا بأس من ترجيحه على غيره كما بين في الكتب الفقهية مساغًا للترجيح (أبو السعود المصري) وإن كان في أولاده فاسق لا ينبغي أن يعطيه أكثر من قوته كي لا يصير معينًا له في المعصية ولو كان ولده فاسقًا فأراد أن يصرف ماله إلى وجوه الخير ويحرمه عن الميراث هذا خير من تركه، (الطحطاوي باختصارٍ) . (درر الحكام شرح مجلة الاحكام لعلى حيدر:۲/ ۴۳۳، تحت المادة:۸۷۹، دار الكتب العلمية بيروت).

وللاستزادة انظر : (الدر المختار مع رد المحتار:۵/ ۶۹۶، كتاب الهبة، سعيد – البحر الرائق:۷/ ۲۸۸، كتاب الهبة – والفتاوى الهندية:۴/ ۳۹۱، فی الهبة للصغير – وتكملة رد المحتار:۸/ ۴۵۵، سعيد).

په احسن الفتاوی کي راځي:

۱_ که چیري ونورو ته تاوان رسول هدف وو نو مکروه تحریمي ده، قضاءً نافذیږي او دیانةً واجب الرد ده.

۲_ که تاوان رسول هدف نه وي او نور هم هیڅ د ترجیح وجه نه وي نو مکروه تنزیهي ده او په نارینه او ښځینه وو کي برابر تیا مستحب ده.

۳_ دینداري یا خدمت، یا د دیني کارو خدمت او په هغه کي مصروفیت یا ښوزلي یا داسي نورو په سبب یوه ته زیات ورکول مستحب دي.

۴_ بې دینه اولاد ته د ده تر رزق زیات (ضرورت) زیات ورکول ښه نه دي، هغه بې برخي کول او د دین په نورو کارونو کي دا مال لګول ښه دي. (احسن الفتاوی:۷/ ۲۵۶). والله ﷻ اعلم.

د وېش پر وخت د برابرۍ حکم

سوال: په عامو وختو کي د اولاد په منځ کي د وېش په وخت کي د برابرۍ خيال ساتل بنه دي خو برابري کول واجب نه دي، خو د مجلې شارح علي حيدر فرمايلى دي چي برابري کول واجب دي، د دې هدف څه دئ؟ وګورئ، (شرح مجله:۲/ ۴۳۳). همداسي مولانا خالد سيف الله هم واجب ليکلي دي.

الجواب: د احنافو مفتی به مذهب دا دئ چي په عامو وختو کي د اولاد تر منځ د وېش پر وخت برابري بنه ده واجبه نه ده، خو که چيري وځينو اولادو ته بېله د ضرورته تاوان رسول هدف وي نو بيا برابري لازمه ده.

وګورئ په فتاوی هنديه کي راځي:

ولو وهب لأولاده في الصحة وأراد تفضيل البعض على البعض عن أبي حنيفة رحمه الله أنه لا بأس به إذا كان التفضيل لزيادة فضلٍ له في الدين ، وإن كانا سواءً يكره وروى المعلى عن أبي يوسف رحمه الله أنه لا بأس به إذا لم يقصد به الإضرار ، وإن قصد به الإضرار سوى بينهم وهو المختار ولو كان الولد مشتغلاً بالعلم لابالكسب فلا بأس أن يفضله على غيره. (الفتاوى الهندية:٤/ ٣٩١، كتاب الهبة).

په اعلاء السنن کي راځي:

والحاصل أن قول الأمر بالتسوية بين الأولاد على الوجوب خلاف القياس وذهب الجمهور إلى أن التسوية مستحبة فإن فضل بعضاً صح وكره وجعلوا الأمر فى حديث النعمان على الندب والنهى على التنزيه. (اعلاء السنن:١٦/ ٩٦).

په عمدة القاري کې راځي:

فإن قلت في حديث الباب الأمر بالرجوع صريحا حيث قال: « فارجعه » قلت: ليس الأمر على الإيجاب وإنما هو من باب الفضل والإحسان ألا ترى إلى حديث أنس رضي الله عنه رواه البزار في مسنده أن رجلاً كان عند رسول الله ﷺ فجاء ابن له فقبله وأجلسه على فخذه وجاءته بنية له فأجلسها بين يديه فقال رسول الله ﷺ ألا سويت بينهما انتهى وليس هذا من باب الوجوب وإنما هو من باب الإنصاف والإحسان. (عمدة القارى:۹/ ۴۰۵، کتاب الهبة، ط: ملتان).

په بل کې راځي:

إن عمل الخليفتين أبي بكر رضي الله عنه وعمر رضي الله عنه بعد النبي ﷺ على عدم التسوية قرينة ظاهرة فى أن الأمر للندب. (عمدة القارى:۹/ ۴۰۷، کتاب الهبة، ط: ملتان).

حضرت شيخ الحديث رحمه الله په اوجز المسالک کې فرمايي:

وقد تمسک به من أوجب التسوية فى عطية الأولاد وبه صرح البخاري وهو قول طاووس والثورى وأحمد وإسحاق.... وقال أبو يوسف رحمه الله تجب التسوية إن قصد بالتفضيل الإضرار وذهب الجمهور إلى أن التسوية مستحبة فإن فضل بعضاً صح وكره واستحبت المبادرة إلى التسوية أو الرجوع فحملوا الأمر على الندب والنهى على التنزيه. (اوجز المسالک:۱۴/ ۱۷۵، بابا مايجوز من النحل).

همدا ډول وګورئ: (عمدة القارى:۹/ ۴۰۸ – وفيض البارى:۳/ ۳۶۸ – وتکملة فتح الملهم:۲/ ۶۸).

د شرح مجلې د عبارت جواب:

د شرح مجلې عبارت وګورئ:

على الواهب مراعاة المساواة في الهبة لأولاده حتى لو وهب لابنه وابنته يجب أن يعط البنت كما يعطي الصبي وهذا هو المفتى به (الطحطاوي) . (درر الحكام شرح مجلة الاحكام: ۲/ ۴۳۴).

د مجلې شارح علي حيدر په عامو وختو کي دا اولاد ترمنځ د برابرۍ د وجوب قول د علامه سيد احمد طحطاوي په حواله غوره کړی دئ خو که د علامه سيد احمد طحطاوي اصل عبارت په غور سره وکتل سي نو واجبوالی نه ورڅخه معلوميږي.

د طحطاوي عبارت وګورئ:

قال فی الخانية ولو وهب رجل شيئاً لأولاده في الصحة وأراد تفضيل البعض على البعض في ذلک لا رواية لهذا فی الأصل عن أصحابنا وروی عن الإمام رحمه الله أنه لا بأس به إذا كان التفضيل لزيادة فضل فه فی الدين وإن كانا سواء يكره وروى المعلى عن أبي يوسف رحمه الله أنه لاباس به إذا لم يقصد به الإضرار وإن قصد به الإضرار سوى بينهم يعطى الابنة مثل ما يعطى الابن قال محمد رحمه الله يعطى للذكر ضعف ما يعطى للانثى والفتوى على قول أبی يوسف. (حاشية الطحطاوی على الدر المختار: ۴/ ۴۰۰).

په بيان سوي عبارت کي د وجوب لفظ بيان سوی نه دئ امکان لري چي د مجلې شارح د امام ابو يوسف رحمه الله قول د خپل طرف څخه تعبير کړی وي ځکه د امام ابو يوسف رحمه الله په اند که تاوان رسول هدف وي نو برابري لازمه ده.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وفی الخانية لاباس بتفضيل بعض الأولاد.... إن لم يقصد به الإضرار وإن قصده فسوى بينهم يعطى البنت کالا بن عند الثانی وعليه الفتوی وفی الشامية: قوله وعليه الفتوی أی على

قول أبي يوسف رحمه الله من أن التنصيف بين الذكر والأنثى أفضل من التثليث الذي هو قول محمد رحمه الله. (الدر المختار: ٥/ ٦٩٦، سعيد).

په تکمله فتح الملهلم کي راځي:

وقال أبو يوسف رحمه الله تجب التسوية إن قصد بالتفضيل الإضرار وإلا فهي مستحبة. (تکملة فتح الملهم: ٢/ ٦٨، کتاب الهبات – وکذا في اوجز المسالک: ١٤/ ١٧٥).

د مولانا خالد سيف الله مدظله العالی د عبارت جواب:

مولانا په قاموس الفقه: (۳۳۱/۵) کي برابري مستحبه بللې ده او کتاب الفتاوی: (۳۱٦/٦) څخه وجوب معلومیږي خو په اسلام اور جدید فقهي مسائل (ص ۱٦۴) کي صراحةً د وجوب لفظ کار ولی دئ نو د دې څو احتمالونه کېدلای سي.

۱_ دا قول د تاوان رسولو په هدف پر زیاتو ورکولو محمول کئ نو باالاتفاق د واجبوالي قول مفتی به دئ.

۲_ د سیاق او سباق څخه دا معلومیږي چي د زمانې د فساد په سبب دې ده د وجوب قول غوره کړي وي.

۳_ د معترضینو او مستشریقینو په نظر کي نیولو سره ده دا قول غوره کړی وي.

خلاصه دا چي که په ژوند کي د اولاد په منځ کي د وېش پر وخت تاوان رسول هدف نه وي نو بیوه نه پر بل په ترجیح ورکولو کي څه تاوان نه سته (برابري د مستحب په درجه کي ده او واجبه او لازمه نه ده).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (عمدة القاری: ٩/ ٤٠٥ – وتکملة فتح الملهم: ٢/ ٦٨ – و اوجز المسالک: ١٤/ ١٧٥ – وفتاوی محمودیه: ١٦/ ٤٩٧ – واعلاء السنن: ١٦/ ٩٦). والله تعالی اعلم.

د قبضې څخه پرته د هبې حکم

سوال: دیوه سړي وفات په (۲۰۰۶ م) کال کي سوی وو هغه په یوه وصیت نامه کي لیکلي وه چې زما تر مرګ وروسته دي زما ترکه د وارثانو تر منځ د شریعت مطابق وویشل سي د ده تر مرګ نه میاشتي وروسته د هغه یوه زوي یحیی د ترکې څخه دیوې مځکي دعوه وکړل چي پلار یې ورده ته په ژوند کي د مارچ په دوهمه (۲۰۰۶ م) کي دا مځکي هبه کړې وه او د دعوی د ثبوت له پاره یې یو خط وړاندي کړ چي په هغه کي د هبې تصرح موجوده ده او پر دې خط باندي د یحیی د زوی محمد او یوه کافر افریقایې دستخط سته د هغو څخه پرته هیڅ شاهد نه سته، همداسي یحیی پر دې مځکه قبضه هم کړې نه وه او نه یې مځکه پر خپل نامه کړې ده (په کاغذاتو کي) د دې څخه پرته نورو وارثانو ته هم د دې هیڅ علم نه سته ایا په دې صورت کي یې یحیی خاوند ګڼل کیږي او که به په دې مځکه کي ټول وارثان شریک وي؟

الجواب: په دې صورت کي هبه پوره نه ده لامل دا دئ چي د هبې د پوره کېدلو له پاره دا لازمه ده چي دی قبضه هم وکړي او قبضه سوې نه ده، دوهم دلیل دا دئ چي پر هغه کاغذي معاهده باندي چي د کومو خلکو دستخط سته د هغو شاهدي د قبلېدلو وړ نه ده ځکه چي د خپل پلار په حق کي د زوی شاهدي نه قبلیږي، همداسي د کافر شاهدي د مسلمان پر خلاف نه قبلیږي پر دې اساس متروکه مځکه د یحیی په ملکیت کي نه راځي نو ځکه به د ټولو وارثانو په منځ کي د شرعي ویش برابر هغه برخي وېشل کیږي.

په درمختار کي راځي:

وشرائط صحتها في الموهوب أن يكون مقبوضاً غير مشاع مميزاً غير مشغول... وتتم الهبة بالقبض الكامل. (الدر المختار: ٥/ ٦٨٨، ٦٩٠، كتاب الهبة، سعيد).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ومنها (شرائط الهبة) أن يكون الموهوب مقبوضاً حتى لايثبت الملك للموهوب له قبل القبض. (الفتاوى الهندية: ٤/ ٣٧٤).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ولا شهادة لولد الوالديه وأجداده وجداته من قبلهما وإن علوا. (الفتاوى الهندية: ٣/ ٤٦٩، كتاب الشهادات، الفصل الثالث فيمن لاتقبل شهادته للتهمة).

په درمختار کي راځي:

فيشترط الإسلام لو المدعى عليه مسلماً. (الدر المختار: ٥/ ٤٦٢، كتاب الشهادات، سعيد).

په فتاوی عثماني کي راځي:

په شريعت کي د هبې له پاره هبه نامه ترتيبول لازمه نه ده يعني په ژبه هم کېدلای سي خو داړنه ده چي چا ته يې هبه کړې وي هغه پر هغه هبه باندي قبضه وکړي. (فتاوی عثمانی: ٣/ ٤٤٣، کتاب الهبة). والله تعالى اعلم.

پر ميراث باندي تر قبضې کولو مخکي د هبې کولو حکم

سوال: يو سړی مړ سو او په ترکه کي يې يو کور پرېښودئ چي تر اوسه وېشل سوی نه وو او د وارثانو څخه يوه خپله خور ته خپله برخه هبه کړه اوس دا سړی هم مړ سو نور وارثان دا هبه نه قبولوي حال دا چي موهوب لها سره شاهدان هم سته نو ايا دا هبه صحيح سوه او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د وارث له پاره روا ده چي پر ميراث باندي تر قبضې وړاندي خپل حق ساقط کړي يا يې د بل وخوا ته نقل کړي او نن سبا د دې ځای مکانونه مشاع او وېش نه قبلوني غوندي دي نو ځکه د دې څخه خپله برخه بې وېشلو هبه کېدلای سي او د شاهدانو د وجود په سبب نوموړې هبه پوره سوه او اوس په دې برخه کي د نورو وارثانو حق نه سته.

وګورئ په الاشباه والنظائر کي راځي:

وذكر الشيخ الإمام المعروف بـ «خواهر زاده» أن حق الموصى له وحق الوارث قبل القسمة غير متأكد يحتمل السقوط بالإسقاط، انتهى. (الاشباه والنظائر: ١/ ٢٧٢).

په فتاوی شامي کي راځي:

وحق الوارث قبل القسمة يسقط بالإسقاط. (فتاوى الشامى:٥/ ٦٤٢، فصل فى التخارج، سعيد).

په فتاوی قاضی خان کي راځي:

وفيما لايقسم كالعبد والدابة والثوب والحام يجوز هبة المشاع من الشريك وغيره في قولهم. (فتاوى قاضى خان على هامش الهندية:٣/ ٢٦٧، كتاب الهبة، فى هبة المشاع).

او د کومو شيانو چي وېش ممکن نه وي د بېلګي په توګه لکه حيوانات په هغو کي مخکښي تر وېشلو د هغو هبه صحيح ده.

قال العلامة الخوارزمي رحمه الله: هبة المشاع فيما لايقسم جائزة يعني به مالايحتمل القسمة أى لايبقى منتفعاً بعد القسمة أصلاً كعبد واحد أو دابة واحدة. (الكفاية شرح الهداية على هامش فتح القدير:٧/ ٤٨٨، كتاب الهبة). (جديد معاملات كى شرعى احكام:٢/ ٨٢). والله تعالیٰ اعلم.

د حقوقو د هبه کولو حکم

سوال: ايا د حقوقو هبه کولو صحيح دي او که نه؟

الجواب: هغه حقوق چي اصالةً ثابت وي هغه د انتقال وړ دي او هغه لازم بلل کيږي او په هغو کي هبه چليږي او هغه حقوق چي يوازي د ضرر د دفعه کولو له پاره ثابتيږي هغه د انتقال وړ نه دي او د ميراث حق حق الملک ګڼل کيږي او حق لازم بلل کيږي په دې کي انتقال هم کيږي او د هغو هبه هم صحيح کيږي.

وګورئ د عنايې مصنف علامه اکمل الدين بابرتی رحمه الله ليکلي دي:

والفاصل بين المتقرر وغيره أن ما يتغير بالصلح عما كان قبله فهو متقرر وغيره غير متقرر، واعتبر ذلك في الشفعة والقصاص، فإن نفس القاتل كانت مباحةً في حق من له القصاص، وبالصلح حصل له العصمة في دمه فكان حقا متقررًا، فأما في الشفعة فإن المشتري يملك الدار

قبل الصلح وبعده على وجهٍ واحدٍ فلم يكن حقا متقررًا . (شرح العناية بهامش فتح القدير:٩/ ٤١٦، مايبطل به الشفعة، دار الفكر).

په شرح مجله کي رائي:

عدم جواز الاعتياض عن الحقوق المجردة ليس على إطلاقه، بل فيه التفصيل: وهو أن ذلك الحق المجرد إن كان الشرع جعله لصاحبه لأجل رفع الضرر عنه، كحق الشفعة، وحق القسم للزوجة، وحق الخيار للمخيرة، فالاعتياض عنه بمال لايجوز، لأن حق الشفعة للشفيع، وحق القسم للزوجة، وكذا حق الخيار في النكاح للمخيرة، إنما ثبت لدفع الضرر عن الشفيع والمرأة، وما ثبت لذلك لايصح الصلح عنه، لأن صاحب الحق لمارضي علم أنه لايتضرر بذلك، فلا يستحق شيئاً وإن كان ذلك الحق قد ثبت لصاحبه أصالة لاعلى وجه رفع الضرر كالو ظيفة في وقف من إمامة وخطابة وأذان وفراشة وبوابة، فإن صاحبها قد ثبت له هذا الحق بتقرير القاضي على وجه الأصالة، لا لأجل رفع ضرر عن صاحبه، فينبغي أن يصح الاعتياض عن تلك الوظيفة بمال يأخذه الفارغ، وهو صاحب الوظيفة، من المفروغ له، لأنه صلح عن حق إلحاقاً بالاعتياض عن القصاص بمال، وبالاعتياض عن النكاح بمال، وما أشبه ذلك. (شرح المجلة للاتاسی:٢/ ١١٩-١٢٠).

وفي « بحوث في قضايا فقهية معاصرة»: وأما النوع الثاني من الحقوق الشرعية، فهي الحقوق التي تثبت لأصحابها إصالة، لا على وجه دفع الضرر فقط، مثل حق القصاص وحق تمتع الزوج بزوجته ببقاء نكاحها معه، وحق الإرث وما إلى ذلك.... أن حق الوراثة فی حياة المورث ليس حقاً ثابتاً، بل هو حق متوقع يحتمل الثبوت وعدمه، وإنما يتقرر بموت

المورث ... وأما بعد موت المورث، فإن ذلک الحق ینتقل إلی مالک مادی في ترکته، فیصح بیعه أو التنازل عنه. (بحوث فی قضایا فقهیة معاصرة:۱/ ۷۸-۸۰).

همدا ډول وګورئ: (رد المحتار:٤/ ٥١٨-٥٢٠، مطلب لایجوز الاعتیاض عن الحقوق المجردة، سعید - وحاشیة الطحطاوی علی الدر المختار:۳/ ۹، کوئټه - وعطر هدایه:ص ۳۳۲ - فقهی مقالات:۱/ ۱٦۳ - جدید فقهی مسائل:٤/ ۱۷٦ - وحقوق اور ان کی خرید وفروخت:ص ۱٤۷). والله ﷻ اعلم.

د عشق او د مینې د ډالیو حکم

سوال: که چیرې یو څوک دیوې انجلۍ سره مینه کوي او هغې ته ډالۍ استوي نو هغو اخیستل صحیح دي او که نه؟ او که هلک وروسته د مینې کولو څخه توبه وکاږي نو هغه ډالۍ بیرته اخیستلای سي او که نه؟

الجواب: د ناروا اړیکو په سبب یوه وبل ته ډالۍ استول د رشوت په حکم کې دي او د هغې قبلول صحیح نه دي، د دې څخه ملکیت هم نه ثابتیږي او ورکونکي یې بیرته د غوښتلو حق لري، خو تر توبې کولو وروسته که چیرې هغه ونه غواړي او وریې بخښي نو هیڅ پروا نه لري.

وګورئ علامه ابن النجیم رحمه الله فرمایي:

وفیها (القنیة) ما یدفعه المتعاشقان رشوة یجب ردها ولایملک. (البحر الرائق:٦/ ٢٨٦، کتاب الهبة، کوئټه).

په عالمګیري کې راځي:

المتعاشقان یدفع کل واحد منهما لصاحبه أشیاء فهي رشوة لایثبت الملک فیها وللدافع استردادها. (الفتاوی الهندیة:٤/ ٤٠٣، الباب الحادی عشر فی المتفرقات - وکذا فی مجمع الضمانات:٢/ ٩٣٨). والله ﷻ اعلم.

د عشق او میني د هدیو د استعمال حکم

سوال: زما له انډیوالانو څخه یوه ته یوې انجلۍ په مینه کي یو مبایل ورکړ وروسته اړیکي پای ته ورسېدې، اوس هغه هلک مبایل پلورل غواړي نو هغه قېمت خپله کار ولای سي او که یې خیراتول لازم دي؟

الجواب: په دې صورت کي د میني او محبت ډالۍ د رشوت په حکم کي ده او د هلک په ملکیت کي داخله نه ده، نو ځکه یې واهبي (هغې انجلۍ) ته رسول لازم دي او هغه پلورل صحیح نه دي او که یې وپلوري نو د هغه قېمت دي هغې ته بیرته ورکړي، خو که یې هغه ور وبخښي او وې نه غواړي نو بیا یې کار ولای سي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

لو مات الرجل وكسبه من بيع الباذق أو الظلم أو أخذ الرشوة يتورع الورثة، ولا يأخذون منه شيئاً وهو أولى بهم ويردونها على أربابها إن عرفوهم، وإلا تصدقوا بها لأن سبيل الكسب الخبيث التصدق إذا تعذر الرد على صاحبه. (فتاوى الشامى:٦/ ٣٨٥، فصل فى البيع، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د نکاح له پاره یو چا ته د ډالۍ ورکولو حکم

سوال: که چیري یو هلک د یوې انجلۍ سره مینه کوي او ناروا اړیکي نه ساتي خو یوه ډالۍ د هغې د کور وغړو ته له دې کبله استوي چي هغه انجلۍ یا د انجلۍ د کورنۍ غړي نکاح کولو ته تیار سي نو ایا دا به هم د رشوت په حکم کي په کېدو سره ناروا وي؟

الجواب: په دې صورت کي څنګه چي ناروا اړیکي نه دي او دا ډالۍ د هغو د زړو د مایله ولو یو چل (تدبیر) دئ ځکه دا ډالۍ قبلول روا دي لکه څنګه چي مؤلفة القلوب کي ډالۍ یا خیرات ورکول د دیني هدف ولاس ته د راوړلو له پاره وو دلته هم نکاح چي د یو دیني هدف دئ د هغه ولاس ته د راوړلو له پاره دا یو لامل دئ. والله ﷻ اعلم.

په ډالۍ کې رواجي قبضه کفایت کوي؟

سوال: زما پلار یوه ماڼۍ (بلډنګ په کاغذاتو کې) زما پر نامه کړې او ما ته یې هبه کړې، په دې ماڼۍ کې دوه مکانه او څلور دوکانونه دي او په دې کې خلک په کرایه ژوند کوي د پلار په ژوند کې د دغو کرایه زه اخلم، د محصول او داسې نورو شیانو ذمه واري هم پر ما ده، ګواکې زه تصرف پکښې کوم په نوموړې صورت کې زما قبضه د هبې د پوره کېدو له پاره کفایت کوي او که کرایه داران وباسم او ظاهري قبضه ضروري ده او دا ښکاره ده چې د کرایه دارانو د ایستلو هیڅ صورت نه سته؟

الجواب: د هر شي قبضه د هغه شي سره چې مناسبه وي قبضه ده د بېلګې په توګه د موټر قبضه دا ده چې کیلي رانیوونکي ته ورکې. په نوموړې صورت کې کاغذات و موهوب له ته په ورکولو (ورسپارلو) سره قبضه ګڼل کیږي او د پلار تر مرګ وروسته بل وارث په دې ماڼۍ کې د خپل وراثت حق نه شي غوښتلای.

وګورئ په درمختار کې راځي:

وحاصله أن التخلية قبض حكماً لو مع القدرة عليه بلا كلفة لكن ذلك يختلف بحسب حال المبيع،.... قال أجمعوا على أن التخلية فى البيع الجائز تكون قبضاً....الخ. (ردالمحتار:٤/ ٥٦٢ - ٥٦٣، مطلب فى شروط التخلية، سعيد – وكذا فى الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٤/ ٤٩٩ – والفتاوى الهندية:٣/ ١٩).

په جدید فقهي مباحث کې راځي:

په قران او حدیث کې یې د قبضې خاص حقیقت ښولی نه دئ بلکې په حدیث کې د قبضې څو مختلف کیفیات بیان سوي دي. حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه ته په یوه روایت کې دیوه ځای پلورلو په سبب بل ځای ته د نقل کېدو حکم ورکړل سوی وو. د حضرت زید بن ثابت رضي الله عنه څخه روایت دئ چې تجاران دي رانیول سوی مال وخپلې کجاوي ته نقل کړي، د حضرت ابو هریره رضي الله عنه په روایت کې تلل قبضه ګڼل سوې ده. نو ځکه د فقهاوو اتفاق دئ چې په دې کې د خلکو عرف معیار ګڼل سوی دئ او د کوم شي په اړه چې د کومې درجې عمل کول خلک قبضه وګڼي هماغه به د هغه په حق کې شرعاً هم قبضه ګڼل کیږي.

علامه کاساني رحمه الله **فرمايي:**

ولايشترط القبض بالبراجم، لأن معنى القبض هو التمكن والتخلي وارتفاع الموانع عرفاً وعادة حقيقة. (بدائع الصنائع: ٥/ ١٤٨، سعيد - جديد فقهي مباحث: ١٥/ ١٢).

په اسلام اور جديد معاشي مسائل نومي كتاب كي راڅي:

دامام ابو حنيفه رحمه الله **مسلک دا دئ چي حسي قبضه ضروري نه ده بلکي تخليه کفايت کوي. د تخليې هدف دا دئ چي رانيوونکي ته پر دې شی قدرت ورکړل سي چي هغه کله غواړي او راسي پر مبيعه قبضه وکړي چي قبضه کولو کي کوم مانع نه وي نو موږ به دا وګڼو چي تخليه وسوه د بېلګي په توګه يو دسکول چي په دې کي څوشيان وي د هغه کيلي يې چا ته ورکړي نو په کيلي ورکولو سره قبضه ثابته سوه. امام بخاري** رحمه الله **دلته د امام ابو حنيفه** رحمه الله **مسلک غوره کړی دئ او د جابر** رضي الله عنه **قصه يې موصولاً روايت کړې ده چي د جابر** رضي الله عنه **څخه نبي کريم** ﷺ **اوښ رانيوئ او بيا پر همدې اوښ حضرت جابر** رضي الله عنه **تر مديني منورې پوري سفر وکړ، حضرت جابر** رضي الله عنه **د هغه څخه کښته سوی نه دئ خو تخليه ثابته سوې وه امام بخاري** رحمه الله **دا وايي چي معلوميږي چي په تخليې سره قبضه وسوه.** (اسلام اور جديد معاشی مسائل: ٢/ ٩٨-١٠٠).

په عطر هدايه کي راڅي:

قبضه يعني د بل چا د اجازې څخه پر يو شی د قدرت حاصلېدل اوس که دا قدرت د مالک په اجازه وي يا د شرعي حق په سبب وي، نو ودې ته روا قبضه ويل کيږي. (عطر هدايه: ص ٨٨).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (جديد معاملات کی شرعی احکام: ١/ ٤٠-٤٢ - وقاموس الفقه: ٤/ ٤٦٦-٤٦٧).

خلاصه دا چي د قبضې حقيقت پر رواج باندي مبني دئ همداسي د شيانو په اعتبار به هم فرق وي نو له همدې کبله په پوښتل سوي صورت کي د ماڼۍ کرايه لاس ته راوړل او د هغې د محصول او داسي نورو اداء يعني په دې کي د مکمل تصرف اختيار د قبضې مترادف دئ. والله تعالىٰ **اعلم.**

د حرام مال څخه د ډالۍ قبلولو حکم

سوال: که چیري دیوه کافر سره د سود مال وي نو د ده په ملکیت کي راځي او که نه؟ که چیري کافر و مسلمان ته دیوه شي ډالۍ د سودي مال څخه ورکول غواړي نو مسلمان ته یې د اخیستلو اجازه شته او که نه؟ او که مسلمان د سودي مال ډالۍ ورکوي نو څه حکم یې دئ؟

الجواب: که مسلمان سودي مال لاس ته راوړي نو دی د دې مال مالک جوړېدلای نه سي بلکي هغه مال بیرته وخپل مالک ته ور سپارل لازم دي، که چیري د مال خاوند معلوم وي او که معلوم نه وي نو دا مال د ثواب د نیته پرته باید خیرات کړل سي او د دا مال دي یو وبال او پېټی وبلل سي او د بار څخه د خپلو وږو د سپکوالی نیت دي خیرات کړل سي او بیا دا پیسې وړوه بېوزله خوار ته چي د نصاب خاوند نه وي ورکول روا او صحیح دي، خو د سودي مال قبلول روا او صحیح نه دي.

وګورئ علامه شامي رحمة الله علیه فرمایي:

لو رأى المكاس مثلاً يأخذ من أحد شيئاً من المكس ثم يعطيه آخر ثم يأخذ من ذلك الآخر آخر فهو حرام. (رد المحتار: ۵/ ۹۸، مطلب الحرمة تتعدد، سعید).

وګورئ علامه شامي رحمة الله علیه فرمایي:

ويردونها على أربابها إن عرفوهم وإلا تصدقوا بها لأن سبيل الكسب الخبيث التصدق إذا تعذر الرد على صاحبه. (فتاوى الشامي: ۶/ ۳۸۵، كتاب الكراهية، فصل في البيع، سعيد).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ولا يجوز قبول هدية أمراء الجور لأن الغالب في مالهم الحرمة إلا إذا علم أن أكثر ماله حلال بأن كان صاحب تجارةٍ أو زرعٍ فلا بأس به؛ لأن أموال الناس لا تخلو عن قليلٍ حرامٍ فالمعتبر الغالب، وكذا أكل طعامهم، كذا في الاختيار شرح المختار. (الفتاوى الهندية: ۵/ ۳۴۲).

خو که په یقیني ډول معلومه نه وي چې دا مال حرام یا ګډوډ دئ او زیاته ګټه یې حلاله وي نو بیا دا ډالۍ قبول یې صحیح دي او ګنجائش یې سته.

حضرت مولانا ظفر احمد تهانوي صاحب وایي:

د دې نصوصو څخه معلومه سوه چې که د چا کټل سوی حلال او حرام مال سره ګډوډ وي نو بیا به د غالب اعتبار وي که زیات حلال وي نو د ده مېلمستیا او ډالۍ قبلول روا دي خو که د خاصي ډالۍ یا خوراک په اړه ښه معلومه سي چې په دې کې یو څه حرام ګډ دي نو د هغه قبلول حرام دي او خوراک یې هم حرام دئ خو د امام ابو حنیفه رحمه الله په اند خلط استهلاک دئ نو ځکه د دې د قبلولو ګنجائش سته، لکه څنګه چې د ځینو روایتو څخه به معلوم سي او که زیات ګټه یې حرامه وي نو مېلمستیا او ډالۍ قبلول یې حرام دي، خو که چیري د دې خوراک یا ډالۍ په اړه خبر در کړل سي چې دا حلال دئ نو بیا روا دئ. (امداد الاحکام: ٤/ ٣٩٩).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (شامی: ٥/ ٩٨ – امداد الاحکام: ٤/ ٣٩٧ – ٤٠٠ – وفتاوی عثمانی: ٣/ ٣٩٥).

خو که کافر ته د سود مال راسي نو کافر د دې خاوند جوړېږي او د ده څخه ډالۍ قبلول روا او صحیح دي، تر کومه چې دی د حرام عقلي او قبیح عقلي ارتکاب ونه کي، مثلاً دوکه، غلا، غصب او داسي نور خو کفارو ته به اسلامي حکومت په دار الاسلام کي د سود اجازه نه ورکوي.

د دې مسئلي اصل بنیاد پر دغه دئ چې کفار مخاطب بالفروع دي او که نه دي او د دې مسئلې په اړه د فقهاوو په منځ کي اختلاف دئ د ځینو علماوو مسلک دا دئ چې دوی ابتداءً یوازي مخاطب بالایمان والعقوبات دي او مخاطب بالمعاملات نه دي حال دا چې نور حضرات بیا وایي، چې کفار مخاطب بالمعاملات دي، په هر صورت کفار د سود د پیسو خاوندان دي، همدا خبره ښکاره را معلومیږي. د دلیل د تفصیل له پاره وګورئ ابواب الربا، دوهم باب سودي مصارف. والله تعالی اعلم.

د هبة المشغول د روا والي تدبير

سوال: له زيد سره يو لوی مکان دئ چي پر دوولسو اطاقو باندي مشتمل دئ هغه مکان د سامان څخه ډک دئ او په هغه کي لويه کتاب خانه، يخچال، څو نور ماشينان، د ورزش سامانونه، چارپايي، غالی، د اشپزي سامان او داسي نور شيان دي، د دې سړي درې زامن دي او د پلار سره اوسيږي د دوو خپل مکانونه (ځايونو) سته او د يوه مکان نه سته او د پلار سره اوسيږي او د پلار خدمت کوي او ملا دئ، زيد غواړي چي دغه مکان وهغه ملا زوی ته ورکړي خو زيد سامان ورکول نه غواړي ځکه زيد وايي، چي زما تر مرګ وروسته دي دا سامان پر ټولو وارثانو وويشل سي دا ښه خبره ده او په ژوند کي يې استعمالول غواړي، زيد په پخله ملا دئ، ده ته معلومه ده چي د مکانْ هبه کولو له پاره قبضه لازمه ده او د قبضې له پاره مکان خالي کول اړين دي، خو مکان خالي کول ډېر تکليف دئ، اوس د زيد له پاره ښه تدبير کوم دئ چي مکان هم هبه سي او د خالي کولو له تکليفه هم وژغورل سي، زيد همېشه هدايه وګوري چي د هغې څخه معلوميږي چي مکان خالي کول لازم دي؟

الجواب: زيد ښه وايي، چي د قبضې ورکولو له پاره د مکان خالي کول اړين دي خو فقهاوو ددې له پاره ډېره اسانه طريقه ښوولي ده چي د هغه څخه معامله ډېره اسانه کيږي هغه چل دا دئ چي د مکان پوره سامان دي د موهوب له سره د امانت په ډول کښېږدي او ده ته دي قبضه ورکړي چي د هغې له پاره تخليه کفايت کوي تر دې وروسته دي ده ته مکان هبه کي او قبضه دي هم ورکړي يعني د مکان کيلي دي ورکړي او خپله دي راووزي نو بيا هغه امانت سامان چي هر وخت وغواړي هغه وخت يې ور څخه اخيستلای سي.

وګورئ په درر الاحکام شرح مجلة الاحکام کي شيخ علي حيدر رحمه الله فرمايي:

الحيلة في هبة المشغول هي أن يودع المال الشاغل للموهوب له ويسلم إليه أولًا ثم تسلم الدار إليه. وفي هذا الحال تكون الهبة والتسليم صحيحين. (درر الحكام شرح مجلة الاحكام: ۲/ ۳۹۶، بيروت).

الجوهرة النيرة کي راځي:

ولو وهب دارًا فيها متاع للواهب وسلم الدار إليه أو سلمها مع المتاع لم يصح ؛ لأن الدار مشغولة بالمتاع والفراغ شرط لصحة التسليم والحيلة فيه أن يودع المتاع أولًا عند الموهوب له ويخلي بينه وبينه ثم يسلم الدار إليه فيصح ؛ لأنها مشغولة بمتاعٍ هو في يده.

(الجوهرة النيرة:۲/ ۱۱، کتاب الهبة، مکتبة امدادية، ملتان – وکذا فی حاشية الطحطاوی علی الدر المختار:۳/ ۳۹۵، کوئٹه – وغمز عيون البصائر شرح الاشباه والنظائر:۲/ ۳٤۲، نقلاً عن الجوهرة). واللہ ﷻ اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ على أن تأجرني ثماني حججٍ فإن أتممت عشرًا فمن عندك وما أريد أن أشق عليك ستجدني إن شاء الله من الصالحين (٢٧) قال ذلك بيني وبينك أيما الأجلين قضيت فلا عدوان علي والله على ما نقول وكيل﴾.

(سورة القصص، الآية:٢٧-٢٨).

قال رسول الله ﷺ: « أعطوا الأجير قبل أن يجف عرقه ». (رواه ابن ماجه).

وقال رسول الله ﷺ: هم إخوانكم خولكم جعلهم الله تحت أيديكم فمن جعل أخاه تحت يده فليطعمه مما يأكل وليلبسه مما يلبس ولا يكلفه من العمل مايغلبه فإن كلفه مايغلبه فليعنه عليه. (متفق عليه).

كتاب الاجارة

د کرايې د مسائلو بيان

د اجارې د تعریف او مودې د جهالت حکم

سوال: د عقد د اجارې تعریف څه دئ؟ او په اجاره کې د مودې د جهالت څه حکم دئ؟ او که دیوه کافر سره د اجارې معامله وي څه حکم یې دئ؟

الجواب: ۱_ د اجارې تعریف:

دیو معلومې فائدې په مقابل کې معلوم بدل ورکولو ته اجاره ویل کیږي یعني اجاره هغه معاملې ته ویل کیږي چې دیوه فریق (خوا) څخه منفعت (ګټې) ورکول وویل سي او د بلې خوا څخه د مزدورۍ ورته وویل سي، د بېلګې په توګه دیوه سړي له خوا مکان وي چې په هغه کې د اوسېدلو اجازه ورکړل سي او د بل د خوا څخه د دې کرایه اداء کړل سي، نو دې ته ((اجاره)) ویل کیږي.

په هدایه کې راځي:

وفی الهداية: الإجارة عقد يرد على المنافع بعوض. (الهداية:۳/ ۲۹۳، كتاب الاجارات).

وفي شرح المجلة: الإجارة فی اللغة بمعنى الأجرة وقد استعملت فی معنى الإيجار أيضاً.... وفي اصطلاح الفقهاء بمعنى بيع المنفعة المعلومة فی مقابلة عوض معلوم الخ. (شرح المجلة لمحمد الاتاسی:۲/ ۴۷۲، المادة:۴۰۵).

۲_ په اجارې کې د مودې حکم:

په اجاره کې د مودې معلومول ضروري دي او د مودې هغه جهالت چې د جنګ لامل وي هغه سودا فاسد وي خو که د جنګ لامل پکښې نه وي هغه سودا نه فاسده وي.

وګورئ په بدائع الصنائع کې راځي:

ومنها : بيان المدة في إجارة الدور والمنازل ، والبيوت ، والحوانيت ، وفي استئجار الظئر ؛ لأن المعقود عليه لا يصير معلوم القدر بدونه ، فترك بيانه يفضي إلى المنازعة ، وسواء قصرت المدة أو طالت من يومٍ أو شهرٍ أو سنةٍ أو أكثر من ذلك بعد أن كانت معلومةً ، وهو أظهر

أقوال الشافعي .... وسواء عين اليوم أو الشهر أو السنة أو لم يعين، ويتعين الزمان الذي يعقب العقد لثبوت حكمه الخ. (بدائع الصنائع: ٤/ ١٨١، سعيد).

وفي الدر المختار: (يفسدها) كجهالة مأجورة أو أجرة أو مدة.... وفي الشامية: قوله أو مدة، إلا فيما استثنى، قال في البزازية: إجارة السمسار والمنادي والحمامي والصكاك وما لا يقدر فيه الوقت ولا العمل تجوز لما كان للناس به حاجة ويطيب الأجر المأخوذ لو قدر أجر المثل وذكر أصلا يستخرج منه كثير من المسائل. (الدر المختار مع رد المحتار: ٦/ ٤٦، باب الاجارة الفاسدة، سعيد).

وفي تقريرات الرافعي: وذكر أصلًا يستخرج منه كثير من المسائل، هو أنه إذا استاجر إنسانا على عمل لو رام الأجير الشروع فيه حالاً قدر عليه صحت الإجارة ذكر له وقتاً أو لا كا لإجارة على خبز عشرين مناً من الدقيق والآلات كالدقيق ونحوه في ملك المستاجر وإن لم يذكر مقدار العمل لكن ذكر الوقت نحو أن يقول استجرتک لتخبز لى اليوم إلى الليل يجوز أيضاً لأن المنفعة تصير معلومة بذكر الوقت أيضاً وكذا لو قال: أصلح هذا الجدار بهذا الدراهم يجوز وإن لم يذكر الوقت لأنه يمكن له الشروع فى العمل حالاً.(التحرير المختار: ٦/ ٢٦٤، سعيد – وكذا فى الفتاوى البزازية على هامش الهندية: ٥/ ٤٠).

وفي الفقه الحنفي وأدلته: وكل جهالة تفسد البيع تفسد الإجارة من جهالة المعقود عليه، أو الأجرة أو المدة، لما عرف أن الجهالة مفضية إلى المنازعة. (الفقه الحنفى وادلته: ٢/ ٩٠، كتاب الاجارة، بيروت).

د جهالت زيات تفصيل په كتاب البيوع كي تېر سوى دئ.

۳_ د کافر سره د اجارې د عقد حکم

د کافر سره د اجارې د عقد کول روا او صحيح دي او اجارې عقد په شرائطو کې د اسلام شرط بيان سوی نه دئ.

په فتاوی هنديه کې راځي:

وأما شرائطها فأنواع.... وإسلامه ليس بشرط أصلاً فتجوز الإجارة والاستئجار من المسلم والذمي والحربي والمستامن. الخ. (الفتاوی الهندية:٤/ ٤١٠، كتاب الاجارة).

په بدائع الصنائع کې راځي:

وأما إسلام العاقد فليس بشرط فيصح من المسلم والكافر والحربي المستامن كما يصح البيع منهم. (بدائع الصنائع:٤/ ١٧٩، سعيد). والله تعالیٰ اعلم.

د سلو کالو له پاره په کرايه د رانيولو حکم

سؤال: که څيرې يوه سړې مکان يا دوکان يا ځمکه تر سلو کالو په کرايه رانيسي نو دا روا ده او که نه؟

الجواب: د سلو کالو په کرايه د رانيولو په اړه د فقهاوو اختلاف دئ ځيني فقهاء وايي، چې دا اجاره صحيح نه ده او نور حضرات بيا فرمايي، چې دا صحيح ده او همدا قول راجح دئ. د دې خبرې په اساس په پوښتل سوي صورت کې دوکان يا مکان يا ځمکه تر سلو کالو په اجاره رانيول صحيح دي.

وګورئ علامه سرخسي رحمه الله فرمايي:

فالمذهب عندنا أنه إذا استأجرها مدةً معلومةً صح الاستئجار طالت أو قصرت،إلى قوله .... وقد دل على جوز الاستئجار أكثر من سنةٍ قوله تعالى: ﴿على أن تأجرني ثماني حججٍ فإن أتممت عشرًا فمن عندك﴾ (سورة القصص، الآية:٢٧). ولأن كل مدةٍ تصلح أجلًا للبيع فإنها تصلح مشروطةً في عقد الإجارة كالسنة وما دونها والمضى فيه وهو أن الشرط الإعلام فيها على وجهٍ لا يبقى بينهما منازعة. (المبسوط:١٥/ ١٣٢، دار الفكر).

په البحر الرائق کي راځي:

فتصح على مدةٍ معلومةٍ أي مدةٍ كانت لأن المدة إذا كانت معلومةً كان قدر المنفعة فيها معلومًا فأفاد أنها تجوز ولو كانت المدة لا يعيش إلى مثلها عادةً واختاره الخصاف ومنعه بعضهم . (البحر الرائق:۷/ ۲۹۹، كوئته).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ومنها : بيان المدة في إجارة الدور والمنازل ، والبيوت ، والحوانيت .... وسواء قصرت المدة أو طالت من يومٍ أو شهرٍ أو سنةٍأو أكثر من ذلك بعد أن كانت معلومةً ....إن كان هو الجهالة فلا جهالة . وإن كان عدم الحاجة فالحاجة قد تدعو إلى ذلك . (بدائع الصنائع:٤/ ١٨١، سعيد).

وفى الشامية: قوله: ببيان المدة لأنها إذا كانت معلومة كان قدر المنفعة معلوماً قوله وإن طالت أي ولو كانت لا يعيشان إلى مثلها عادة واختاره الخصاف، ومنعه بعضهم، بحر، وظاهر إطلاق المتون ترجيح الأول . (فتاوى الشامى:٦/ ٦، كتاب الاجارة، سعيد).

په شرح مجله کي راځي:

للمالك أن يوجر ماله وملكه لغيره مدة معلومة قصيرة كانت كيوم أو طويلة كسنين، أو أكثر حتى لو آجرها إلى مدة لايعيش العاقدان إلى مثلها عادة جاز واختاره الخصاف ومنعه بعضهم وظاهر إطلاق المتون ترجيح الأول. (شرح المجلة لسليم رستم باز اللبنانى:١/ ٢٧١، المادة:٤٨٤).

په عطريه هدايه کي راځي:

اجاره كه تر دوو سوو كالو پوري وي يا تر پنځه سوه كالو يا تر بلي داسي اوږدې مودې (چې تر هغې مودې عادةً متعاقدين ژوندي نه پاتيږي) د علامه خصاف او داسي نورو ځينو فقهاوو په اند روا ده. (عطر هدايه:ص ۴۲۳). والله ﷻ اعلم.

د كتابو په كرايه وركولو حكم

سوال: كه چيري يو څوک كتابونه دكتلو له پاره په كرايه رانيسي نو دا روا ده او كه نه؟

الجواب: علامه شامي رحمه الله او داسي نور حضرات فرمايي، چي كتابونه په كرايه رانيول روا نه دي خو شيخ الاسلام قاضي القضات علامه ابو الحسن السغدى رحمه الله (المتوفى سنه ۴۶۱هـ) په النتف فى الفتاوى كي روا ګڼلي دي په دې اساس كه چيري كتابونه په خپل كور يا تصرف كي ولري نو د بل چا د مال د بندولو په سبب كرايه بايد روا سي همداسي زموږ په زمانه كي رواج دي خلک كتابونه په كرايه رانيسي له دې كبله هم بايد روا سي.

وګورئ په النتف فى الفتاوى كي راځي:

ويجوز في قول الشيخ الاجارة في مصاحف القرآن والفقه ليقرأ فيها او لينسخها اذا احتاج الى ذلك . (النتف فى الفتاوى:ص ۳۴۸، كتاب الاجارة، دار الكتب العلمية بيروت).

په احسن الفتاوى كي راځي:

د ليكل سوي خط كتابچه څنګه چي د مؤلف ده د هغې د اجارې عرف عام هم دئ نو ځكه د هغې د استعمال د كرايه (اجرت) په ډول د تجار څخه د كتاب يو څو نسخې يا پاڼي رانيولاى سي. (احسن الفتاوى: ۳۱۷/۷).

ځينو فقهاوو د نه عرف په سبب ناروا ګڼلي دي.

وګورئ علامه ابن نجيم رحمه الله فرمايي:

ولايجوز استئجار كتب الفقه والتفسير والحديث لعدم التعارف. (البحر الرائق:۸/ ۲۰. كرئته).

په بدائع الصنائع کي راځي:

لأن جوازها (الإجارة) ثبت على خلاف القياس لتعامل الناس فما لم يتعاملوا فيه لا يصح فيه الإجارة؛ ولهذا لم تصح إجارة الأشجار لتجفيف الثياب وإجارة الأوتاد لتعليق الأشياء عليها وإجارة الكتب للقراءة ونحو ذلك. (بدائع الصنائع: ۵/ ۱۷۳، سعيد).

خو په دې زمانه کي د کتابو په کرايه رانيولو او ورکولو عام رواج دئ لکه څنګه چي حضرت مفتي رشيد احمد لدهيانوي ليکلي دي او د عرف او رواج په بدلون سره احکام هم بدليږي.

وګوري علامه شامي رحمة الله عليه فرمايي:

والعرف في الشرع له اعتبار   لذا عليه الحكم قد يدار

مارآه المسلمون حسنا فهو عند الله حسن، واعلم أن اعتبار العادة والعرف رجع إليه في مسائل كثيرة حتى جعلوا ذلك أصلاً فقالوا: تترك الحقيقة بدلالة الاستعمال والعادة .... وفي شرح البيري عن المبسوط الثابت بالعرف كالثابت بالنص، ثم اعلم أن كثيراً من الأحكام التي نص عليها المجتهد صاحب المذهب بناء على ماكان في عرفه وزمانه قد تغيرت بتغير الأزمان بسبب فساد أهل الزمان أو عموم الضرورة. (شرح عقود رسم المفتي: ص ۳۷). والله تعالى اعلم.

د عاقدينو څخه د يوه په مرګ سره د اجارې حکم

سوال: که چيري يو چا دوکان د شلو کالو په اجاره رانيوئ نو په منځ کي د مستاجر يا د دوکان مالک وفات سو نو شرعاً اجاره ختموه سوه خو قانوناً پر ځای پاته ده، اوس شرعاً د مستاجر تر مرګ وروسته هغه بل د فسخي غوښتنه کوي خو قانون مانع دئ نو له همدې کبله د شريعت په رڼا کي د اجارې پر ځای پاته کېدلو څه شکل دئ؟

الجواب: په دې صورت کي که د شلو کالو په اجاره کي دا وليکلي سي چي د مکان خاوند يا کرايه دار د دواړو څخه که يو مړ سي نو بيا به هم د اجارې معامله به پر خپل ځای پاته وي نو بيا به د اوړدي

موده اجاره تر معلومي مودې پر ځاى پاته وي که څه هم د دواړو څخه يو مړ سي يعني د معاهدې په سبب به پر ځاى پاته وي.

په درمختار کي راځي:

وتنفسخ بلاحاجة إلى الفسخ بموت أحد عاقدين عندنا.... إلا لضرورة كموته في طريق مكة ولا حاكم فى الطريق فتبقى إلى مكة. وفى الشامية: قوله إلا لضرورة قال في الدر المنتقى، وقد تقرر استثناء الضروريات، فمن الظن أنه ينتقض بموت المزارع أو المكاري في طريق مكة فإنه لا ينفسخ حتى يبلغ مأمنا، لأن الإجارة كما تنتقض بالأعذار تبقى بالأعذار فليحفظ .
(الدر المختار على ردالمحتار:٦/ ٨٣-٨٤، سعيد).

وفي تقريرات الرافعي: قوله فمن الظن أنه ينتقض بموت المزارع الخ. أى فيما إذا استاجر أرضاً فزرع فيها ثم مات قبل انقضاء المدة كان على ورثته ماسمى من الأجر إلى أن يدرك الزرع كما فى الهندية. (التحرير المختار:٦/ ٢٧١، باب فسخ الاجارة، سعيد).

په شرح مجله کي راځي:

لو انفسخت الإجارة بموت أحد العاقدين قبل إدراك الزرع، فإنه يترك بالمسمى على حاله إلى الحصاد استحساناً. (شرح المجلة:لمحمد خالد الاتاسى:٢/ ٦١٦، المادة:٥٢٦).

په شرح مجله کي راځي:

وتنسخ الإجارة أيضاً بلا حاجة إلى الفسخ بموت أحد عاقدين عقدها لنفسه (تنوير) لنفسه إلا لضرورة كما لومات موجر السفينة في وسط البحر أو مات موجر الدابة فى الطريق فإنها لاتنفسخ حتى يبلغ مأمناً لأن الإجارة كما تنقض بالأعذار تبقى بالأعذار (درمنتقى). (شرح المجلة لسليم رستم باز اللبنانى:١/ ٢٥١، المادة:٤٤٣).

په عطر هدایه کي راځي:

اجاره تر دوو سوو کالو یا تر پنځو سوو کالو یا تر نورې داسي اوږدې مودې (چي تر هغه مودې عادتاً متعاقدین ژوندي نه پاتیږي) د خصاف او داسي نورو فقهاوو پر قول روا خو ده، خو د فقهاوو د تصریح مطابق چي ((وتنفسخ الإجارة بموت احد المتعاقدین)) (شرح الوقایة) دغه اوږده اجاره هم دیوه د متعاقدینو په مرګ سره په خپله بې د فسخه کولو څخه فسخه کیږي خو د معاهدې په صورت کي (د عقد په حکم د عهد نه په مقتضاد عقد) زما د پلار محترم د استنباط سره سم دیوه د متعاقدینو په مرګ سره هم چي موده نه وي پوره سوې نه فسخه کیږي (همدارنګه محترم پلار (مصنف وایي زما پلار) مرحوم په تکملة الرعایة علی الجلد الثالث من شرح الوقایة کي لیکلي دي).

«وأما قول فقهائنا في هذا كله صحيح على محله لأن العقد صار على شرف الفسخ إلا أن يمنعه مانع كالجهل أو العهد أو الضرر فما قلنا قلنا بحكم العهد وعدم إضرار العاقدين وما قالوا قالوا ما كان مقتضى العقد فتجويز المعارضة بين فقهائنا وبين رأينا الغالب فيه الخطأ مجادلة باطلة بل إنا استنبطنا من هداياتهم وإفاداتهم فانظر. (تكملة عمدة الرعاية: ۳/ ۳۱۱، باب فسخ الاجارة، رقم الحاشية: ٤).

د محترم پلار دغه استنباط ګواکي خپله د مشایخو د انفساح بموت احد العاقدین د قاعدې څخه او په حکم د ((الضرورة تبيح المحظورات وأن الاجارة تنتقض بالاعذار تبقى باالأعذار)) (شامی: ٥/ ٥٦) په حواله د رمنتقی.

ضرورت او عذر ونه مستثنی کولو سره او د عقد او عهد کي په احکامو د فرق کېدو په سبب او داسي نورو قواعدو او نظائرو په سبب صحیح ده خو منصوص نه دئ. (عطر الهداية: ص ٤٢٣، به عنون اجارة طويله).

په تکملة الرعاية کي بیان سوي دي:

قوله طالت الخ.... والإجارات تنفسخ بالموت وكذلك إن شرط الدوام كمن يقول آجرتک أرضي هذا الدوام على أن تعطيني كل شهر كذا لأن فيه معنى تمليك العين أو الإجارة بعد موت وذا لايجوز نعم إذا شرط مثل هذه الأمور معاهدة ومواعدة لابأس به لأن العهود غير العقود والعقود تتبع الوجود دون العهود فتنبه. (تكملة عمدة الرعاية:۳/ ۲۹۰، رقم حاشية:۱۸). والله ﷻ اعلم.

د کرايې په مکان کې د مرمت کولو حکم

سوال: ځينو کسانو يو مکان په کرايه نيولی وو کرايه دار د دوکان د مالک په اجازه په مکان کې يو څه تصرفات وکړل د بېلګې په توګه دروازه يې په هغه بلې خوا کې ولګوله او داسې نور خو مخکې دا خبره هم سوې وه چې کوم تصرفات کرايه دار کړي وي د مکان د بېرته ورکولو په وخت کې به يې په خپله کرايه دار په خپلو پيسو سره سموي اوس دی په اکتوبر کې بل ځای ته ولاړ خو سامان او داسې نور په هغه مکان کې پراته دي او د مکان کلی هم د کرايه دار سره دي تر دسمبر پورې په کرايه ورکړل سوی وو او د مکان د سمولو وعده هم سوې وه، خو په نومبر کې د مالک په حکم هغه کرايه دار خپل سامان يو وړل او مالک هغه قفل او داسې نور هم بدل کړل يعني مکان يې پوره په خپل تصرف کې واخستئ او دا يې هم ووېل چې زه يې خپله سمومه او قيمت به يې ته اداء کوې. اوس موږ دا پوښتنه کوو چې :

۱ _ ټوله مکان (ځای) سمول دا کرايه دار پر ذمه دي او که يوازې د هغه سمول لازم دي چې تصرف يې پکښې کړی وي ؟

۲ _ که مالک د مکان تر سمولو وروسته قيمت وغواړي نو کوم قيمت به واجب وي؟ ميانه قيمت او که لوړ؟

۳ _ د دسمبر کرايه لازمه ده او که نه؟ حال دا چې مکان د نومبر څخه د مالک په اختيار کې دئ؟

الجواب: د سوال د صحت په شرط په دې صورت کې :

۱_ چي په مکان کي کوم تصرفات کرایه دار کړي وه د هغه ټولو تصرفات سمول د کرایه داره پر ذمه دي او لازم دي ځکه چي کرایه دار د دې وعده کړې وه او دا تصرفات يې د خپلي ګټي له پاره کړي وه او د مالک په دې کي هيڅ ګټه نه سته او د دې څخه پرته د مکان سمول د کرایه دار پر ذمه نه دي او خپله د مالک پر ذمه دي.

۲_ که چيري د مکان (ځای) مالک خپله سم کئ او قيمت يې وغوښتئ نو پر کرایه دار يوازي د خپلو تصرفاتو قيمت لازم دئ او د نور مکان لکه چت سمول او داسي نورو قيمت پر کرایه دار لازم نه دئ په او عام ډول باندي چي په بازار کي کوم قيمت رواج وي د هغه پر برابر ميانه (منځنی) قيمت اداء کول به لازم وي او لوړ قيمت پر کرایه دار لازم نه دئ.

۳_ په نومبر کي مالک خپل مکان په خپله قبضه او اختيار کي اخستی وو نو ځکه د دسمبر کرایه نه لازميږي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وعمارة الدار المستأجرة وتطيينها وإصلاح الميزاب وما كان من البناء على رب الدار، وكذا كل ما يخل بالسكنى . (الدر المختار:٦/ ٧٩، باب فسخ الاجارة، سعيد).

په شرح مجله کي راځي:

أقول: إصلاح ماكان من البناء متى كان تركه مخلاً بالسكنى يجب على المالک بلا فرق بين السطح والجدران.... وفي الهندية عن البدائع: وإصلاح بئر الماء والبالوعة والمخرج على رب الدار، ولايجبر على ذلک وإن كان امتلأ من فعل المستاجر، وقالوا: فی المستاجر إذا انقضت مدة الإجارة وفی الدار تراب من كنسه، فعليه أن يرفعه لأنه حدث بفعله فصار كتراب وضعه فيها، وإن كان امتلأ خلاؤها ومجاريها من فعله، فالقياس أن يكون عليه نقله، لأنه حدث بفعله فيلزمه نقله كالكناسة والرماد، إلا أنهم استحسنوا وجعلوا نقل ذلک على صاحب الدار للعرف والعادة بين الناس أن ماكان مغيباً فی الأرض فنقله على صاحب الدار،

فحملوا ذلک علی العادة، وإن أصلح المستاجر شيئاً من ذلک لم يحتسب له بما أنفق وكان متبرعاً.... وفى الأنقروية عن البزازية: خرج المستاجر من البيت وفيه تراب ظاهر أو رماد، على المستاجر إخراجه، بخلاف البالوعة، فإنه يلزم المؤجر تفريغها استحساناًف وإن شرط على المستاجر عند العقد جاز، وأنه موافق للعقد، أى وإن كان العرف بخلاف، لأنه حدث بفعله، فالشرط الموافق للقياس وإن كان مخالفاً للعرف، لا يفسد العقد، تأمل. (شرح المجلة للاتاسى:۲/ ٦۲۲، المادة:٥۲۹).

په شرح مجله کي راځي:

يلزم مراعاة الشرط بقدر الإمكان، أى إمكان الشرط واستطاعته، ولايلزم مافوق الاستطاعة.... أن الشروط ثلاثة أقسام: قسم يجوز شرعا، فيه فائدة لمن اشترطه، فهذا يلزم مراعاته.... وقال فى البدائع من كتاب المضاربة: الأصل فى الشروط اعتبارها ما أمكن، وإذا كان القيد مفيداً كان ممكن الاعتبار فيعتبر لقوله عليه الصلاة والسلام: «المسلمون عنه شروطهم». (شرح المجلة للاتاسى:۱/ ۲۳٦، المادة:۸۳).

وفيه أيضاً: لايلزم المستاجر إطعام الأجير إلا أن يكون العرف فى البلدة كذلک، حتى لوكان ذلک متعارفاً لايكون اشتراطه على المستاجر مفسداً للعقد على ماقاله الفقيه أبو الليث، كما فى الحموى على الأشباه، قال في رد المحتار: ثم ظاهر كلام الفقيه أنه لو تعورف ذلک في علف الدابة يجوز، تأمل، والظاهر أنه يلزم المستاجر حينئذٍ أن يطعمه من أوسط الطعام. (شرح المجلة للاتاسى:۲/ ٦۷٥، المادة:٥۷٦).

وفيه أيضاً: تلزم الأجرة أيضاً في الإجارة الصحيحة بالاقتدار على استيفاء المنفعة، مثلاً لو استاجر أحد داراً بإجارة صحيحة فبعد قبضها يلزمه إعطاء الأجرة وإن لم يسكنها. ولابد لهذه المسألة من قيد آخرين: أحدهما أن يكون التمكن من استيفاء المنفعة في المدة التي ورد عليها العقد.... قال في الهندية: فأما إذا لم يتمكن من الاستيفاء أصلاً.... لا يجب الأجر... واستفيد من لفظ الاقتدار أنه لو منعه المالك .... لاتجب الأجرة، كما صرح به في رد المحتار عن النهاية. (شرح المجلة للاتاسى:٢/ ٥٤٤، المادة:٤٧١). والله ﷻ اعلم.

د مسلمان انجينر له پاره د شراب خانې د تعمير د جوړولو حکم

سوال: که چيري يو مسلمان انجينر د يو شراب خانې د ترتيب او تعمير کار قبول کړي نو ايا دا روا ده او که نه؟

الجواب: د احنافو په دې مسئله کي اختلاف دئ حضرات صاحبين فرمايي، چي دې کي تعاون على المعصية پيدا کيږي نو ځکه د داسي مزدوري څخه ځان ساتل اړين دي حال دا چي امام صاحب فرمايي، چي په دې کار کي هيڅ ګناه نه سته نو روا ده او په نه کولو کي د احتياط پلو دئ، خو که چيري يو چا داسي مزدوري قبوله کړه نو هغه د مزدورۍ پيسې ناروا او حرامي نه دي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وجاز تعمير كنيسة وحمل خمر ذمي بنفسه أو دابته بأجر لاعصرها لقيام المعصية بعينه... وقالا: لاينبغي ذلک لأنه إعانة على المعصية وبه قالت الثلاثة. وفي الشامية: قوله وجاز تعمير كنيسةٍ قال في الخانية: ولو آجر نفسه ليعمل في الكنيسة ويعمرها لا بأس به لأنه لا معصية في عين العمل قوله وحمل خمر ذمي قال الزيلعي: وهذا عنده وقالا: هو مكروه .... وله أن الإجارة على الحمل وهو ليس بمعصيةٍ، ولا سبب لها وإنما تحصل المعصية بفعل فاعلٍ مختارٍ. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:٦/ ٣٩١، كتاب الحظر والاباحة، سعيد).

په طحطاوي کي راځي:

قوله وجاز تعمير كنيسة أى بالترميم لا بالإعادة بعد الهدم وظاهره جوازه وأنهم لو استامروا الإمام أمرهم وأنه يجوز للمسلم أن يوجر نفسه لذلک. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار: ٤/ ١٩٦، كوئته).

په البحر الرائق کي راځي:

وفى التاتار خانية: ولو آجر المسلم نفسه لذمي ليعمل فى الكنيسة فلا بأس به. (البحر الرائق: ٨/ ٢٠٣، فصل فى البيع، كوئته).

په محيط برهاني کي راځي:

ولو آجر نفسه ليعمل فى الكنيسة يعمرها فلا بأس به، إذ ليس فى نفس العمل معصية. (المحيط البرهانى: ٦/ ١٠٣، الفصل السادس عشر فى معاملة اهل الذمة، مكتبة الرشيدية).

په فتاوی هنديه کي راځي:

ولو استاجر الذمي مسلماً ليبني له بيعة أو كنيسة جاز ويطيب له الأجر. (الفتاوى الهندية: ٤/ ٤٥٠ – وكذا فى فتاوى قاضى خان على هامش الهندية: ٢/ ٣٢٤ – والفتاوى البزازية على هامش الهندية: ٥/ ١٢٥ – وجواهر الفقه: ٢/ ٤٥٣، مسئلة الاعانة على الحرام – وامداد الفتاوى: ٤/ ٣٢٢، بعنوان اعانت على المعصيت كى چند جزئيات). والله ﷻ اعلم.

د کافرانو د عبادت خانې د جوړولو حکم

سوال: په يوه ښار کي د کفارو عبادت ځای جوړيږي که چيري يو مسلمان د دې په تعمير جوړلو کي کار کول وغواړي نو کولای يې سي او که نه؟ او هغه ګټه (د مزدوري پيسې) به حلالي وي او که حرامي؟

الجواب: د کافرانو د عبادت ځای د تعمير جوړولو و مسلمان ته ګنجائش سته په دې اساس هغه تنخوا حرامه او ناروا نه ده.

وګورئ په طحطاوي کي راځي:

قوله وجاز تعمير كنيسة أى بالترميم لا بالإعادة بعد الهدم وظاهره جوازه وأنهم لو استامروا الإمام أمرهم وأنه يجوز للمسلم أن يوجر نفسه لذلک. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار: ٤/ ١٩٦، كوئته).

په البحر الرائق کي راځي:

وفى التاتار خانية: ولو آجر المسلم نفسه لذمي ليعمل فى الكنيسة فلا بأس به. (البحر الرائق: ٨/ ٢٠٣، فصل فى البيع، كوئته).

په محيط برهاني کي راځي:

ولو آجر نفسه ليعمل فى الكنيسة يعمرها فلا بأس به، إذ ليس فى نفس العمل معصية. (المحيط البرهانى: ٦/ ١٠٣، الفصل السادس عشر فى معاملة اهل الذمة، مكتبة الرشيدية – وكذا فى فتاوى قاضى خان على هامش الهندية: ٢/ ٣٢٤ – والفتاوى البزازية على هامش الهندية: ٥/ ١٢٥). والله ﷻ اعلم.

د مسلمان نايي له پاره په غير شرعي طريقه د وربښتانو د جوړولو حکم

سوال: مسلمان نايي که چيري د يو مسلمان وربښتان په ناروا ډول کم کي يا بريره ور وخروي نو د دې مسلمان نايي د پيسو به څه حکم وي؟

الجواب: په شريعت کي د يوې قبضې په اندازه بريره پرېښول واجب ده، په يوه موټ کي د دننه يې کمول يا د بل بريره خريل يا يې لنډول ګناه ده په دې اساس د مسلمان نايي له پاره غير شرعي وربښتان جوړول يا بريره ور خرول او د خپل کار وبار جوړول ناروا دي او د ده ګټه هم ناروا ده او د دې څخه توبه کول لازمه ده.

وګورئ په طحطاوي على مراقي الفلاح کي راځي:

والأخذ من اللحية وهو دون ذلك (القبضة) كما يفعله بعض المغاربة، ومخنثة الرجال لم يبحه أحد، وأخذ كلها فعل يهود الهند ، ومجوس الإعاجم . (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح: ص ٦٨١، كتاب الصوم، فصل فيما يكره للصائم، قديمى – وكذا فى فتاوى الشامى:٢/ ٤١٨، كتاب الصوم، مطلب فى الاخذ من اللحية، سعيد – وفتح القدير:٢/ ٣٤٨، دار الفكر).

په فتاوى بزازيه کي راځي:

لايحل للرجل أن يقطع اللحية. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٦/ ٣٧٩، كتاب الاستحسان).

په جوهر الفقه کي راځي:

دامت په اجماع سره ږيره کمول حرامه دي، همداسي تر يوې قبضې کمول هم حرام دي او د څلورو امامانو امام ابو حنيفه رحمه الله، امام مالک رحمه الله، امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله، پر دې اتفاق دئ.

ويحرم على الرجل قطع لحيته الخ، وأما الأخذ منها وهي ما دون القبضة كمايفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم يبحه أحد. (فتح القدير و درمختار). (جواهر الفقه:٢/ ٤٢٣).

په فتاوى محموديه کي راځي:

ږيره کمول روا نه دي او دا کار ګناه ده او د دې مزدوري هم مکروه ده. (فتاوى محموديه:١٧/ ١٢٣، جامعه فاروقيه).

په آپ کی مسائل اور ان کا حل نومي کتاب کي راځي:

د حرام کار تنخوا هم حرامه ده. (آپ کی مسائل اور ان کا حل:٦/ ٤٠).

په جدید مسائل کي شرعي احکام نومي کي راځي:
څرګنده دي وي چي خپله ږيره خرول یا تر یوه موټ کمول حرام دي همداسي د بل ږيره کمول تر بيان سوي مقدار یا خرول حرام دي، د ږيري کمولو مزدوري هم حرامه ده نو ځکه د نايي توب په کسب غوره کولو سره خپل زرق مه حراموئ.

ومن آفات اليد حلق راس المرأة ولحية الرجل وقص أقل من قبضة ولو بإذن منه لأنه إعانة على معصية فيكون معصية أيضاً. (شرح الطريقة المحمدية:۳/ ٤٤٧).

د دواړو لاسو د ګناهونو څخه د ښځي د سر ورېښتان یا د نارینه د ږيري خرول او تر یوه موټ کمول او نايي که دا کمول یا خرول د هغو په اجازه سره وي او که نه وي ځکه چي دا د ګناه په کار کي کومک کول دي او نور هم ګناه ده، همداسي په ((کشاف القناع)) کي دي چي د ږيري پر خرولو مزدوري ورکول یا اخیستل دواړه حرام دي. (کشاف القناع:٤/ ٩) ما خود از داری کی اسلامی حیثیت (جدید معاملات کی شرعی احکام:۱/ ۲۰۲). والله ﷻ اعلم.

پر نصیحت کولو باندي د تنخوا د اخیستلو حکم

سوال: ایا پر تقریر کولو باندي تنخوا اخیستل روا دي او که نه؟

الجواب: پر نصیحت کولو مزدوري اخیستل د فقهاوو د خبرو څخه یې روایښت معلومیږي خو زموږ اکابرینو نه دي خوښ کړي نو یوازي په روا والي کي خویې هیڅ خبره نه سته خو ښه نه ده، خو که چیري یو نصیحت کونکي خپل ځان د همدې نصیحت له پاره وقف کړی وي نو د ده له پاره هیڅ تاوان نه دئ.

وګوري په درمختار کي راځي:

ويفتى اليوم بصحتها لتعليم القرآن والفقه والإمامة والأذان. وفي الشامية: وزاد بعضهم الأذان والإقامة والوعظ. (الدر المختار مع رد المحتار:٦/ ٥٥، مطلب تحرير مهم في عدم جواز الاستئجار على التلاوة.....، سعيد).

په فتاوی هندیه کې راځي:

في الأصل لا يجوز الاستئجار على الطاعات كتعليم القرآن والفقه والأذان والتذكير والتدريس والحج والعمرة ولا يجب الأجر، كذا في الخلاصة ومشايخ بلخ جوزوا.... والمختار للفتوى في زماننا قول هؤلاء كذا في الفتاوى العتابية. (الفتاوى الهندية:٤/ ٤٤٨).

وفي البزازية: الاستئجار على الطاعات كتعليم القرآن والفقه والتدريس والوعظ لايجوز أي لايجب الأجر وأهل المدينة طيب الله ساكنها جوزه قال في المحيط وفتوى مشايخ بلخ على الجواز قال الإمام الفضلي والمتأخرون على جوازه. (الفتاوى البزازية:٢/ ٣٧).

په مجمع الانهر کې راځي:

ولا يجوز أخذ الأجرة عند المتقدمين على الطاعات وفي شرح الوافي، والمذهب عندنا أن كل طاعةٍ يختص بها المسلم فالاستئجار عليها باطل كالأذان، والحج، والإمامة، والتذكير، والتدريس .... ويفتى اليوم بالجواز.... كما في عامة المعتبرات وهذا على مذهب المتأخرين من مشايخ بلخ استحسنوا ذلك وقالو: الأحكام قد تختلف باختلاف الزمان ألا يرى أن النساء كن يخرجن إلى الجماعات في زمانه عليه الصلاة والسلام وزمان أبي بكر الصديق رضي الله عنه حتى منعهن عمر رضي الله عنه واستقر الأمر عليه وكان ذلك هو الصواب. (مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر:٢/ ٣٨٢).

په فتاوی محمودیه کې راځي:

څنګه چې د تعلیم او تدریس په مزدوري کول صحیح دي همداسې نصیحت په مزدوري کول هم صحیح دئ، خو کار دي معلوم کړل سي د بېلګې په توګه هره ورځ یو ساعت یا هره جمعه دوه ساعته نصیحت کول به لازم وي او دومره تنخوا به درکول کیږي یا نصیحت کونکی دي مستقل د

نصيحت له پاره په مزدوري ونيول سي چي جلسؤنه به د غوښتلو يا بې غوښتلو ځي او نصيحت به کوي دا ډول غوره کول ښه نه دي چي يو ځای نصيحت وکړي او پيسې واخلي بيا که چيري تر خپلي اندازي يو څه کمي سي نو دی بيا خفه وي د داسي نصيحت تاثير هم له منځه ځي او راغوښتونکي له ځانه سره خبري جوړ وي چي په فلاني ځای کي يې دومره پيسې ورکړي وې تر څو چي دومره پيسې مي برابري کړي نه وي نو ښه نه دئ چي راغواړم يې او داسي نور. (فتاوی محموديه:۱۷/ ۸۵، جامعه فاروقيه).

د جديد معاملات پر شرعي احکام نومي کتاب کي راځي:

پر نصيحت باندي تنخوا اخيستل روا دي او که نه؟ په دې اړه د ځينو علماوو رايه دا ده چي دا په اجرت علی الطاعات کي داخليږي نو ځکه ناروا دي خو ځينو علماوو بيا دا روا بللي دي، نو د دواړو قولو ته په تطبيق ورکولو سره حضرت تهانوي رحمة الله عليه فرمايي:

که چيري دا نصيحت کول د مزدورۍ په ډول د امامت په شان غوره کړل سي نو مزدوري اخيستل روا ده او که د مستقلي مزدورۍ په ډول نه وي بلکي پر وخت باندي د مزدورۍ ورکولو په شرط ولګول سي (يو څوک يې پر يوه وخت د نصيحت له پاره راوغوښتل سي او د مزدوري ورکولو په شرط سره) نو دا صورت ناروا دئ لکه څنګه چي يو څوک مستقل امام نه وي بلکي د لمانځه وخت سو او دی په مسجد کي دئ د لمانځه د ورکولو ورته ووېل سو نو ده پر هغه وخت د مزدورۍ غوښتلو کار شروع کړ دا هم ناروا ده. (جديد معاملات کی شرعی احکام:۱/ ۲۱۳).

په احسن الفتاوی کي راځي:

که چيري يو څوک د نصيحت کولو له پاره مزدور تاکل سوی وي يا يو چا د همدې کار له پاره ځان ورفارغه کړی وي نو په دې صورت کي پر نصيحت مزدوري اخيستل روا دي او که چيري په يوه خاص ځای کي يو عالم ته د نصيحت کولو ووېل سي نو پر هغه نصحيت کولو مزدوري اخيستل روا نه دي. (احسن الفتاوی:۷/ ۳۰۰).

خو په هغه وخت کي په ډالۍ اخيستلو يا داسي نور کي هيڅ پروا نه سته، حضرت مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمة الله عليه فرمايي:

پر نصیحت مزدوری اخیستل هم د ضرورت په سبب متاخرینو روا بللي ده. (تالیفات رشیدیه: ٤١٨، إدارة اسلامیات لاهور).

په قاموس الفقه کي راځي:

پر اتفاقي نصیحت او داسي نورو باندي مزدوري اخیستل روا نه دي ځکه چي د دې څخه یو دیني شعار نه متاثره کیږي او نه د دین د ضایع کېدلو شک سته خو که څوک خاص د دې کار له پاره ودرول سي او نصیحت، تبلیغ او دعوت د ده پوره ذمه واري وګڼل سي نو اوس به پر دې مزدوري اخیستل روا وي. (قاموس الفقه: ١/ ٢٩٧). والله تعالی اعلم.

د مفتي او قاضي له پاره د مزدوری اخیستلو حکم

سوال: ایا مفتي او قاضي پر خپل کار فیس یا تنخوا تڼاکلای سي او که نه؟

الجواب: د مفتي او قاضي له پاره په ژبه باندي د مسئلې په ښولو باندي مزدوري اخیستل روا نه دي، خو په تحریري شکل د جواب په لیکلو او ورکولو مزدوري روا او صحیح ده، همداسي که په یوه ښار کي ډېر مفتیان وي نو د نورو په موجودتیا کي پر یوه مسئله ورښول لازم نه دي ځکه چي هغه وخت هم پر مسئله ورښولو مزدوري اخیستل روا دي.

وګوري په درمختار کي راځي:

قلت : لكن في البزازية: كل ما يجب على القاضي والمفتي لا يحل لهما أخذ الأجر به كإنكاح صغيرٍ لأنه واجب عليه وكجواب المفتي بالقول، وأما بالكتابة فيجوز لهما على قدر كتبهما لأن الكتابة لا تلزمهما . (الدر المختار: ٧/ ٥٩، سعيد).

په شرح منظومة ابن وهبان کي راځي:

أما المفتي فهل يجوز له أخذ الأجر على كتب الجواب؟ ذكر في القنية راقماً لشرح ظهير: أنه يجوز له أخذ الأجر على كتبة الجواب بقدره، لأن الكتابة ليست عليه، لأن الواجب عليه الجواب إما باللسان وإما بالكتابة . فألحقته أيضاً، فقلت وبالله المستعان:

جوز للفتي على كتب خطه   على قدره إذ ليس في الكتب يحصر

.... وقال جلال الدين أبو المحامد حامد بن محمد في كتاب السجلات: يجوز للقاضي أخذا الأجرة على كتبة المحاضر و السجلات، ونحوها من الوثائق بمقدار أجر المثل، و ذلك لأن القاضي إنما يجب عليه القضاء وإيصال الحق الى مستحقه فحسب، اما الكتابة فزيادة عمل، فيعمله للمقضى له، وعلى هذا قالوا: لابأس للمفتى أن يأخذ شيئاً على كتابة جواب الفتوى، وذلک لأن الواجب على المفتى الجواب باللسان دون كتابة بالبنان، ومع هذا الكف عن ذلک أولى حذراً عن القيل والقال، وصيانة لماء الوجه عن الابتذال . (شرح منظومة ابن وهبان:١ / ٢٨٨، فصل من كتاب ادب القاضی، ط: الوقف المدنی، ديوبند).

(وهكذا فی الدر المختا مع رد المحتار:٦/ ٩٢، مسائل شتى من كتاب الاجارة؛ سعيد – ولسان الحكام فی معرفة الاحكام لابن الشحنة الحنفی، ص ٢١٩، الفصل الاول فی آداب القضاء، دار الفكر).

وفي فتاوى الشامي: قوله يستحق القاضى الأجر الخ... وفى المنح عن الزاهدى: هذا إذا لم يكن له في بيت المال شيء، تأمل. (فتاوى الشامى:٦/ ٩٢، مطلب فى اجرة صک القاضى والمفتى، سعيد).

وفي الدر المختار: وفي الصيرفية : حكم وطلب أجرةً ليكتب شهادته جاز ، وكذا المفتي لو في البلدة غيره ، وقيل مطلقًا ؛ لأن كتابته ليست بواجبةٍ عليه، وفى الشامية: قوله وقيل مطلقاً ولو لم يكن فى البلدة غيره وهو ظاهر ما مر فى المتنف ووجهه ظاهر للتعليل المذكور. (الدر المختار مع فتاوى اشامى:٦/ ٩٢، مطلب فى اجرة صک القاضى والمفتى، سعيد).

وفيها : استأجره ليكتب له تعويذًا لأجل السحر جاز إن بين قدر الكاغد والخط و كذا المكتوب

په فتاوی محمودیه کي راځي:

سوال: پر فتوی ورکولو مزدوري اخیستل روا دي او که نه؟

الجواب: په مزدوري فتوی کول دوه صورتونه لري.

١_ په ژبه د سوال جواب ورکول او پر هغه مزدوري اخیستل د اجارې د شرائطو او د وخت د قید پر ته ناروا ده.

٢_ په خطه سره جواب ورکول د استفتاء او هغه بې شکه روا دي ځکه چي هغه مزدوري د لیکلو ده او پر مفتي باندي د جواب لیکل واجب نه دي، نو بیا بنایي چي روا سي لکه په نورو کار وبار کي پر لیکلو مزدوری اخیستل، خو زیاته تقوی دا ده که چیري قدرت یې وي یوازي دي د خدای ﷻ له پاره دا خدمت وکړي او مزدوري دي نه اخلي مزدوري اخیستل رخصت دي چي مرتکب یې ملامت نه ګڼل کیږي او مزدوري نه اخیستل عزیمت دئ چي کونکی یې د تحسین وړ او لائق دئ همداسي په ردالمحتار کي راځي. (فتاوی محمودیه:١٧/ ٢٩، جامعه فاروقیه). والله تعالی اعلم.

بانک ته مځکه یا ځای په کرایې د ورکولو حکم

سوال: خپله مځکه یا مکان بانک ته په کرایه ورکول روا دي او که نه؟

الجواب: په عمومي ډول بانک په سودي کار وبار کي ملوث دئ خو نن سبا په بانکو کي د سودي کار وبار څخه پرته نور کارونه هم کیږي، بلکي اکثره کار وبار د تنخوا اداء کول، د برېښنا او ټیلیفون بېل او داسي نور د بانک په ذریعه اداء کیږي نو ځکه په کرایه د ورکړل سوي ځای کرایه حرامه نه ده، خو ځان ورڅخه ژغورل ښه او بهتر دي. بیا که دا ځای جوړوونکي دا اطاقونه د بانک له پاره جوړ کړي وي نو مکروه تحریمي دي خو که داسي کوټي یوازي د بانک له پاره نه وي بلکي د نورو دفترو او داسي نورو شیانو له پاره هم جوړیږي نو مکره تنزیهي ده.

وګورئ په مبسوط کي راځي:

لا بأس بأن يؤاجر المسلم دارا من الذمي ليسكنها، فإن شرب فيها الخمر أو عبد فيها الصليب أو دخل فيها الخنازير لم يلحق المسلم فيه إثم في شيء من ذلك لأنه لم يؤاجرها

لذلك والمعصية في فعل المستأجر وفعله دون قصد رب الدار فلا إثم على رب الدار في ذلك (المبسوط للامام السرخسي:١٦/ ٣٠٩، بيروت).

په خلاصة الفتاوى كي راځي:

رجل آجر بيتاً ليتخذ فيه نار أو بيعة أو كنيسة أو يباع فيه الخمر فلا باس به،ب وكذا كل موضع تعلقت المعصية بفعل فاعل مختار. (خلاصة الفتاوى:٤/ ٤٧٦، كتاب الكراهية).

په درمختار كي راځي:

(وجاز إجارة بيت بسواد الكوفة).... وخص سواد الكوفة ، لأن غالب أهلها أهل الذمة (ليتخذ بيت نارٍ أو كنيسةً أو بيعةً أو يباع فيه الخمر) وقالا: لا ينبغي ذلك لأنه إعانة على المعصية وبه قالت الثلاثة . وفي الشامية: قوله وجاز إجارة بيت إلخ، هذا عنده أيضا لأن الإجارة على منفعة البيت، ولهذا يجب الأجر بمجرد التسليم، ولا معصية فيه وإنما المعصية بفعل المستأجر وهو مختار فينقطع نسبته عنه .... والدليل عليه أنه لو آجره للسكنى جاز وهو لا بد من عبادته فيه .... قال في المنح..... والمنقول في كثير من الفتاوى أنه يكره وهو الذي عولنا عليه في المختصر، أقول: هو صريح أيضاً في أنه ليس مما تقوم المعصية بعينه، ولذا كان ما في الفتاوى مشكلاً كما مر عن النهر. (الدر المختار مع رد المحتار:٦/ ٣٩٢، سعيد).

په جواهر الفتاوي كي حضرت مفتي محمد شفيع صاحب وايي:

ثم السبب إن لم يكن محركا وداعياً، بل موصولاً محضاً، وهو مع ذلك سبب قريب بحيث لايحتاج في إقامة المعصية به إلى إحداث صنعة من الفاعل كبيع السلاح من أهل الفتنة، وبيع العصير ممن يتخذه خمراً... وإجارة البيت ممن يبيع فيه الخمر أو يتخذها

كنيسة أو بيت ناز وأمثالها، فكله مكروه تحريماً إن يعلم به البائع والآخر، من دون تصريح به باللسان، فإنه إن لم يعلم كان معذوراً.... لكن الإعانة حقيقة هي ما قامت المعصية بعين فعل المعين ولايتحقق إلا بنية الإعانة أو التصريح بها أو تعينها في استعمال هذا الشيء، بحيث لايحتمل غيره المعصية. (جواهر الفقه:۲/ ۵۳٤، مسئلة الاعانة على الحرام).

وفي الدر المختار: قلت:... إن ما قامت المعصية بعينه يكره بيعه تحريماً وإلا فتنزيهاً فليحفظ توفيقاً. (الدر المختار:٦/ ۳۹۱، كتاب الحظر والاباحة، سعيد – وكذا فى فتاوى قاضى خان على هامش الهندية:۲/ ۳٦٤ – والفتاوى البزازية على هامش الهندية:۵/ ۱۲۵).

په فتاوی خليليه کي راځي:

د بانک له پاره دفتر په کرايه ورکول په ښکاره روا معلومېږي. (فتاوی خليليه:۱/ ۲۵۲ – وامداد الفتاوی:٤/ ۳۲۲، به عنوان د اعانت على المعصيت کی چند جزئيات). والله تعالى اعلم.

د شرابو او سينما له پاره د ځای په کرايې د ورکولو حکم

سوال: ايا د مسلمان له پاره روا ده چي هغه خپل ځای مځکه او داسي نور يو داسي سړي ته په کرايه ورکړي چي هغه شراب پلوري؟ او دغه کرايه دی په څنګه ځای کي ولګول سي او د هغه اخيستل سوي کرايه اوس څه حکم لري؟

الجواب: دا مسئله د احنافو د فقهاوو تر منځ يوه اختلافي مسئله ده، حضرت امام ابو حنيفه رحمة الله عليه فرمايي، چي په کوم ځای کي د کفارو اکثريت وي هلته مکان يا مځکه او داسي نور د شرابو پلورلو له پاره په کرايه ورکول روا دي او هغه کرايه او هغه ګټه اخيستل هم روا دي، خو صاحبين فرمايي، چي دا مکروه دي.

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

ولو استأجر الذمي من مسلم بيتاً يبيع فيه الخمر جاز عند أبي حنيفة رحمه الله ولا بأس لمسلم أن يؤاجر داره من ذمي ليسكنها وإن شرب فيه الخمر. (فتاوى قاضي خان على هامش الهندية: ۲/ ۳۲٤).

همداسي په البحر الرائق کي راځي:

وإجارة بيتٍ ليتخذ بيت نارٍ أو بيعةً أو كنيسةً أو يباع فيه خمر بالسواد وهذا قول الإمام رحمه الله، وقالا: يكره كل ذلك لقوله تعالى ﴿ وتعاونوا على البر والتقوى ولا تعاونوا على الإثم والعدوان ﴾. (البحر الرائق: ۸/ ۲۰۲، كوئته).

په فتاوی بزازیه کي راځي:

ولو آجر نفسه لحمل الخمر قال الإمام: لايكره وعلى قولهما يكره، لأن التصرف في الخمر حرام، وكذا كل موضع تعلقت المعصية بفعل فاعل مختار كما إذا آجر منزله ليتخذ بيعة أو كنيسة أو بيت نار يطيب له. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية: ٥/ ۱۲٥، العاشر في الحظر والاباحة).

صاحبين دغه د ګناه پر شي د کومک کولو په سبب مکروه ګڼي او بيا که داسي شی پلوري چي خپله خو هغه د ګناه کار نه وي خو د ګناه يو نژدې لامل وي نو کراهت تنزيهي به وي لکه څنګه چي معلوم وي چي د انګورو د شيرې څخه شراب جوړ وي، بأنه لاتقوم المعصية بعينه بل بعد تغيره.

فتاوى الشامي: ٦/ ۱۹۲، سعيد.

او که داسي شی وي چي د ده د عين سره ګناه تړاولري مثلاً شراب نو کراهت به تحريمي وي چي د مخه لا معلوم وي. امام صاحب فرمايي، چي اجاره د کور پر منفعت باندي وي نو څکه چي کله کور ور وسپاري نو يوازي د ورسپارلو څخه به کرايه لازمه سي او يوازي په ورسپارلو کي هيڅ د ګناه

مفهوم نه سته او ګناه خو د مستاجر خپل فعل دئ او هغه فاعل مختار دئ نو ځکه د دې ګناه نسبت وموجر ته کول صحیح نه دي.

همداسي په البحر الرائق کي راځي:

وله أن الإجارة على منفعة البيت ولهذا تجب الأجرة بمجرد التسليم ولا معصية فيه وإنما المعصية بفعل المستأجر وهو مختار فيه فقطع نسبة ذلك إلى المؤجر. (البحر الرائق:۸/ ۲۰۲، كتاب الكراهية، كوئته).

په تاليفات رشيديه کي راځي:

سوال: مکان او داسي نورو داسي خلکو ته په کرايه ورکول چي شراب او داسي نور محرمات په دوکان کي پلوري يا خپله هغه فعلونه چي د شريعت خلاف وي په دې کي کوي يا کفارو ته چي هغوی په دې کي د بتانو عبادت کوي ممنوع او اعانت على المعيت به وي او كه نه؟

الجواب: داسي خلکو ته مکان په کرايه ورکول صحيح نه دي د يارانو د قول سره سم خو د امام صاحب د قول څخه روا والی معلوميږي چي مکان په کرايه ورکول ګناه نه ده، ګناه د مستاجر په اختياري فعل سره ده خو فتوی پر دې ده چي وريې نه کړي چي دا په ګناه کي کومک کول دي. لاتعاونوا اعلى الاثم والعدوان. (تاليفات رشيديه:ص ۴۲۱، اجرت کی مسائل).

په کفايت المفتي کي راځي:

که چيري شراب پلورونکی مسلمان نه وو او د مسلمانانو ابادي هم په دې محله کي کمه وه بلکي زياتره کفار وه نو شراب پلورنکي کافر ته دوکان په کرايه ورکول روا دي. (کفایت المفتی:۷/ ۴۰۳).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د بنده په خيال سره اجاره په من الکافر او اجاره من المسلم کي توپير سته د فقهاوو عبارتونه د کافر سره تړا ولري او په دې کي درايةً او روايةً کراهت تنزيهي ته ترجيح را معلوميږي او اجاره من المسلم کي کراهت تحريمي ارجح معلوميږي. (احسن الفتاوی:۶/ ۵۴۶). والله ﷻ اعلم.

په مول (هغه ځای چې په هغه کې شراب او نور مالونه هم پلورل کیږي) د شرابو او سینما د کرایې حکم

سوال: که په یو مارکېټ کې د شرابو یو دوکان وي او نور دوکانونه د بل شی دي نو ایا مسلمان د دې دوکان کرایه لاس ته راوړلای سي او که نه؟ دا هم یاد ولرئ چې د مول زیاته ګټه مثلاً (۸۰ یا ۹۰) په سلو کې حلاله ده یوازې لس په سلو کې د شرابو، سینما او داسې نورو کرایه ده، نو دا په سلو کې لس کرایه حلاله ده او که حرامه او مسلمان مالک دا لاس ته راوړلای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې شراب، سینما او داسې نور د ګناه د کار له پاره دوکان یا ځای په کرایه ورکولو او د کرایې لاس ته راوړلو زموږ د امامانو په منځ کې یې په اړه اختلاف دئ حضرات صاحبین فرمایي، چې دا پر ګناه د کومک ورکولو په سبب صحیح نه دي حال دا چې امام صاحب فرمایي، چې د داسې عقد اجاره صحیح ده او د دې مزدوري (کرایه) اخیستل روا دي ځکه چې د دې عقد اجاره د دوکان یا مکان پر ګټه باندې سوې ده او په دې کې هیڅ ګناه نه سته . د شرابو پلورل د فاعل مختار خپل فعل دئ او د مکان مالک خو کرایه دار ته دا نه دي ویلي چې په دې کې شراب پلوره نو ځکه که چیرې ورانديز ده ته دا معلومه وه چې کرایه دار به شراب پلوري نو د دې هدف له پاره یې ورکول په دې کې بیا مکروه تحریمي ده او د ګناه پر کار باندې کومک کول دي او که دوکان یې د بل هدف له پاره ورکړی وو او بیا کرایه دار په دې کې شراب پلورل شروع کړل نو مکروه تنزیهي دئ.

وګورئ په مبسوط کې راځي:

لا بأس بأن يؤاجر المسلم دارا من الذمي ليسكنها، فإن شرب فيها الخمر أو عبد فيها الصليب أو دخل فيها الخنازير لم يلحق المسلم فيه إثم في شيء من ذلك لأنه لم يؤاجرها لذلك والمعصية في فعل المستأجر وفعله دون قصد رب الدار فلا إثم على رب الدار في ذلك .

(المبسوط للامام السرخسی:١٦/ ٣٠٩، بیروت).

په فتاوی بزازیه کې راځي:

ولو آجر نفسه لحمل الخمر قال الإمام: لايكره وعلى قولهما يكره، لأن التصرف فى الخمر حرام، وكذا كل موضع تعلقت المعصية بفعل فاعل مختار، كما إذا آجر منزله ليتخذ بيعة أو كنيسة أو بيت نار يطيب له. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٥/ ١٢٥، العاشر فى الحظر والاباحة).

په خلاصة الفتاوی کي راځي:

رجل آجر بيتاً ليتخذ فيه نار أو بيعة أو كنيسة أو يباع فيه الخمر فلا باس به، وكذا كل موضع تعلقت المعصية بفعل فاعل مختار. (خلاصة الفتاوى:٤/ ٤٧٦، كتاب الكراهية - كذا فى الهداية:٣/ ٤٧٢، كتاب الكراهية، ولكفاية:٨/ ٣.... وفى العنبى شرح الكنز:٢/ ٣٨٤ - وكذا فى الدر المختار مع رد المحتار:٦/ ٣٩٢، سعيد - وعزيز الفتاوى:١/ ٦٣٨).

په دې سلسله کي دلويو علماوو په فتاوی کي په ښکاره اختلاف دئ. حضرت مولانا رشيد احمد گنگوهي رحمه الله فرمايي:

داسي چا ته مکان ورکول صحيح نه دي، صاحبينو د قول سره سم او دامام صاحب د قول څخه روا والی معلوميږي چي مکان په کرايه ورکول گناه نه ده خو فتوی پر دې ده چي نه دې ورکوي ځکه دا پر گناه باندي کومک کول دي. (فتاوى رشيديه:ص ٥٠٢).

حضرت مفتي کفايت الله رحمه الله فرمايي:

که شراب پلورونکی مسلمان نه وو او د مسلمانانو ابادي هم په دې محله کي زياته نه وه بلکي زياته ابادي د کفارو وه نو شراب پلورونکي کافر ته دوکان په کرايه ورکول روا دي. (كفايت المفتى:٧/ ٣٤٠).

حضرت مولانا مفتي رشيد احمد لدهيانوي صاحب وايي:

کافر ته دوکان ورکول مکروه تنزيهي دي او مسلمان ته ورکول يې مکروه تحريمي دي.

(احسن الفتاوى:٦/ ٥٤٦).

د حضرت مولانا رشید احمد الدهیانوي صاحب د عبارت څخه د لویو علماوو په فتاوی کي د تطبیق صورت مخ ته راځي.

خلاصه دا چي که د شرابو دوکان مسلمان چلاوه نو د دې دوکان کرایه خیراتول لازم دي خو که کافر دوکان چلاوو نو د امام صاحب پر قول د عمل کولو گنجائش سته. والله ﷻ اعلم.

په اجاره کي د صفقة فی صفقة حکم

سوال: زید و رنگریز ته یو جوړه کالي ورکړل چي و دې ته په (۵۰) روپۍ رنګ ورکه هغه رنک ورکړئ او خیاط ته یې کالي ورکړل چي دا په دوه سوو روپۍ را جوړ که دا معامله په ښکاره روا ده او هم پر دې باندي عمل کیږي خو پر دې باندي یوه فقهي نیوکه سته چي رنګ او تار د مزدور له خوا څخه دي نو دا صفقة فی صفقة سوله او همداسي په دې کي یو تاوان په ښکاره بل دئ، چي اجاره پر استهلاک منفعت باندي کیږي حال دا چي دلته استهلاک عین پیدا سو؟

الجواب: فقهاوو د تعامل په سبب دا معامله روا فرمایلې ده.

په هدایه کي راځي:

وفي الاستحسان يجوز للتعامل فيه فصار كصبغ الثوب وللتعامل جوزنا الاستصناع. (الهداية:۳/ ٦١، باب بيع الفاسد).

په عنایه شرح هدایه کي راځي:

فإن القياس لا يجوز استئجار الصباغ لصبغ الثوب لأن الإجارة عقد على المنافع لا الأعيان وفيه عقد على العين وهو الصبغ لا الصبغ وحده لكن جوز للتعامل جواز الاستصناع.

(العناية مع فتح القدير:٦/ ٨٥، مكتبة رشيدية).

همداسي په دې کي صفقة في صفقة هم سته ځکه چي د اجارې سره د رنګ سودا هم سته او د خیاطۍ سره د تار سودا او د دې متعلق شیانو سودا هم سته خو اجاره اصالةً او بیعه تبعاً وه.

وګورئ حضرت تهانوي رحمه الله فرمایي:

سوال: ۱_ **نهی عن صفقة فی صفقة**، د ظاهري معنا په اعتبار سره ځیني امور ناروا معلومیږي حال دا چي ډېر زیاته عام او خاص مشهوره سوې ده مثلاً د ساعت د ستني او نوري ماتي سوي پرزې کښل او سمي پرزي پکښې لګول نو د دې پرزې بیعه سوه او لګول یې اجاره سوه؟

۲_ چارپایي جوړول او لرګي نه ورکول په دې کي د لرګي بیعه سوه او دا جوړېدل اجاره سوه؟

۳_ د څاه (کوهي) اوبه رانیول کله چي یې اوبه د څاه څخه راوکښلې په خپلو لوښو کي یې واچولې نو د ده ملک سو او د اوبو بیعه سوه او هلته د راوړلو اجاره همداسي دا بیعه د مالیس عنده هم ده؟

۴_ یو ګینه یا ګتمي وزرګر ته ورکول چي د غمیو بیعه ده او د لګولو اجاره ده او داسي نور من المعاملات الرائجة؟

الجواب: د تعامل په سبب بیله انکاره کول کیږي (شائعه) ده چي یو ډول اجماع ده. دا ټوله معاملې روا دي نو نص عام مخصوص البعض دئ لکه څنګه چي فقهاوو په صباغي او خیاطی کي اجازه ورکړې ده چي رنګ او تار د جوړوونکي وي او په دې کي اجاره هم وي او دا ډېره ښکاره ده.

(امداد الفتاوی: ۳/ ۶۳-۶٤).

د صفقة فی صفقة تفصیلي بحث په کتاب البیوع کي تېر سوی دئ او هلته یې کتلای سی. والله تعالی اعلم.

د ښادۍ هال وکافر ته په کرایه د ورکولو حکم

سوال: ایا مسلمان خپل د ښادۍ هال و کافر ته په کرایه ورکولای سي او که نه، حال دا چي دا یقیني خبره ده چي کافر په دې هال کي سروز، فسق او داسي نور محرماتو ارتکاب کوي؟

الجواب: د امام صاحب په اند وکافر ته هال په کرایه ورکول روا دي او د صاحبینو په اند مکروه دي، همداسي زموږ د اکابرو په فتوی کي اختلاف دئ حضرت مفتي رشید احمد صاحب د اختلاف په ختمولو سره فرمایلي دي، وکافر ته یې ورکول مکروه تنزیهي دي.

او په پوښتل سوي صورت کي حال دا چي کرایه دار کافر دئ نو ځکه دا معامله خلاف اولی ده او حرامه یا مکروه تحریمي نه ده، دلیلونو تفصیل تېر سوی دئ او تکرار ول یې د اوږد والي لامل دئ. والله ﷻ اعلم.

د اجارې پر منسوخ کولو د پیسو د ضبطولو حکم

سوال: یو سړی دیکشنبې په ورځ د بنادۍ هال په کرایه نیسي او هغه یې برابر وي او د پیسو یو څه برخه وړاندي اداء کوي نو بیا که یې هغه دیوه ضرورت په سبب یوه یا دوې ورځي وړاندي منسوخوي نو د ده ورکړل سوو پیسو څخه څه برخه ضبطیږي، ایا داسي کول صحیح دي؟

الجواب: پیسې ضبطول د بیع عربون سره مشابه ده او دا ناروا ده، خو که د بنادۍ د هال خاوند د هغه مصرف له پاره یو څه پیسې وټاکي او هغه پیسې د بیرته ورکولو امکان نه لري، مثلاً سل روپۍ یې د مصرف له پاره وټاکلې او د کاغذاتو د کارولو کار او د ټلیفون مصرف او داسي نور د دې څخه پوره کولای سي نو دا پیسې به بیرته نه ورکول کیږي لکه څنګه چي د کوچني د داخلې فیس وي چي د بیرته ورکولو امکان یې نه وي.

د بیع عربون تفصیلي بحث په کتاب البیوع کي تېر سوی دئ او هلته یې کتلای سي. د داخلې د فیس د روا والي دلیلونه وګورئ: (امداد الاحکام:۳/ ۵٦٦ -٦۰٦ – وامداد الفتاوی:۳/ ٤۰۲). والله ﷻ اعلم.

پر مستاجر باندي د سمولو د شرط د لګولو حکم

سوال: نن سبا د ځینو ګټو په سبب موجر (مالک) پر مستاجر (کرایه دار) باندي دا شرط ایږدي چي په موټر کي کومه خرابي راسي د دې سمول او جوړول به ستا پر ذمه وي او ته به یې سموي نو دا صحیح ده او که نه؟ په عامو کتابو کي یې دا صحیح نه ده ګڼلې؟

الجواب: د فقهي د ځینو کتابو مثلاً خلاصه الفتاوی، بزازیه، شرح مجله او داسي نورو د عبارتو څخه معلومیږي چي پر مستاجر د یو څه ذمه وارۍ لګولو شرط روا او صحیح دئ که څه هم نوعیت یې یو څه مختلف وي، په خاص ډول بیا د اجارې مسئلې چي د هغو زیات تړاو له عرف او عادت سره

وي، همداسي د زماني مصلحتونه هم بېخي له نظره غورځېدلای نه سي، له همدې کبله ودې گټې ته په کتو سره يو څه ذمه واري دي پر مستاجر هم ولکول سي نو عقد نه فاسديږي.

وګورئ په خلاصة الفتاوى کي راځي:

وعمارة الدار وتطيينها وإصلاح ميزابها على الآجر أما تسييل ماء الحمام وتفريغه على المستاجر، قال فى المحيط: فإن شرط رب الحمام على المستاجر نقل الرماد والسرقين لايفسد العقد.... وفى النوازل: استاجر مكارياً ليحمل له الحنطة إلى مكان كذا فالجوالق والحبل على المكاري إن كان يحمله على دواب المستاجر أو على عنقه فذاک على المستاجر، قال الفقيه أبو الليث رحمه الله: المعتبر في ذلک اعادات الناس في تلک البلدة ولو طلب من المكاري أن يدخل بيته فالمعتبر هو العرف. (خلاصة الفتاوى:۳/ ۱۴۸، الفصل التاسع فيما على الآجر وفيما على المستاجر).

په فتاوى الشامي کي راځي:

وفي البزازية: ولو امتلأ مسيل الحمام فعلى المستأجر تفريغه ظاهراً كان أو باطناً، وفيها وتسييل ماء الحمام وتفريغه على المستأجر وإن شرط نقل الرماد والسرقين رب الحمام على المستأجر لا يفسد العقد وإن شرط على رب الحمام، فتأمل، ولعله مفرع على القياس أو مبني على العرف ففي البزازية : وفي استئجار الطاحونة في كري نهرها يعتبر العرف . (فتاوى الشامي:٦/ ٨٠، سعيد).

په شرح مجله کي راځي:

وفى الأنقروية عن البزازية: خرج المستاجر من البيت وفيه تراب ظاهر أو رماد، على المستاجر إخراجه، بخلاف البالوعة، فإنه يلزم المؤجر تفريغها استحساناً، وإن شرط على

المستاجر عند العقد جاز، وأنه موافق للعقد، أی وإن كان العرف بخلاف، لأنه حدث بفعله. فالشرط الموافق للقياس وإن كان مخالفاً للعرف، لا يفسد العقد، تأمل. (شرح المجلة للاتاسی:۲/ ۶۲۲، المادة:۵۲۹).

په شرح مجله کي راځي:

يلزم مراعاة الشرط بقدر الإمكان، أی إمكان الشرط واستطاعته، ولايلزم مافوق الاستطاعة.... أن الشروط ثلاثة أقسام: قسم يجوز شرعا، فيه فائدة لمن اشترطه، فهذا يلزم مراعاته.... وقال فی البدائع من كتاب المضاربة: الأصل فی الشروط اعتبارها ما أمكن، وإذا كان القيد مفيداً كان ممكن الاعتبار فيعتبر لقوله عليه الصلاة والسلام: «المسلمون عند شروطهم». (شرح المجلة للاتاسی:۱/ ۲۳۶، المادة:۸۳).

همداسي فقهاوو فرمايلي دي، چي اجير مشترک که چيري يو شی خراب کړي نو پر ده تاوان نه راځي خو په دې زمانه کي د خلکو د مالو د ساتني په سبب د ضمان پر وجوب يې فتوی ورکړې ده.

وګورئ په عالمګيري کي راځي:

وبقولهما يفتی اليوم التغير أحوال الناس وبه يحصل صيانة أموالهم كذا فی التبيين. (الفتاوی الهندية:۴/ ۵۰۰).

علامه شامي رحمه الله عليه فرمايي:

وقولهما قول عمر رضی الله عنه وعلی رضی الله عنه وبه يفتی احتشاماً لعمر رضی الله عنه وعلی رضی الله عنه وصيانة لأموال المسلمين، والله أعلم. (فتاوی الشامی:۶/ ۶۵، مطلب بالقياس يفتی علی قوله، سعيد).

علامه ابن نجيم مصري رحمه الله فرمايي:

وقد تقدم أن بقولهما يفتى في هذا الزمان لتغير أحوال الناس. (البحر الرائق:۸/ ۲۷، باب ضمان الاجير، كوئته). والله تعالى اعلم.

په اجاره كي د عمل پر ذمه وارۍ د تنخوا حكم

سوال: كه چيري په اجاره كي د مزدور پر ذمه عمل نه وي بلكي يوازي د عمل ذمه واري وي او انتظام وي نو مزدوري اخيستل روا دي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي د عمل د ذمه وارۍ تنخوا او مزدوري اخيستل روا دي، لكه نن سبا چي كونتړ كتړ (هغه مزدور چي پر هوټل گرځي او نظم برابر وي) او داسي نور كار نه كوي او يوازي د نظم د ذمه وارۍ تنخوا اخلي چي دا رواه ده.

وگورئ په هدايه كي راځي:

وإن أطلق له العمل فله أن يستأجر من يعمله لأن المستحق عمل في ذمته ويمكن إيفاؤه بنفسه وبالاستعانة بغيره بمنزلة إيفاء الدين. (الهداية:۳/ ۲۹۷).

وفي رد المحتار: لأن المعقود عليه في حقه هو العمل أو أثره. (رد المحتار:٦/ ٦٤، سعيد).

په تقريرات الرافعي كي راځي:

قوله أو أثره أى وأثره إذا لم يشترط أن يعمل بنفسه. (التحرير المختار:٦/ ٢٦٩، سعيد). والله تعالى اعلم.

د مزدورۍ په اندازه په تنخوا كي د جهالت حكم

سوال: يوه سړي بل سړى مزدور ودراوه او هغه ته يې وويل چي ستا تنخوا پنځلس سوو (۱۵۰۰) روپۍ ده او پر ما دي خوراك او څښاك، د اوسېدلو ځاى او داسي نور هم لازم دي نو دا روا ده او كه نه؟ حال دا چي د خوراك ډول او اندازه او داسي نور ټول مجهول دي؟

الجواب: په عام عرف كي دا شكل رواج دئ او د هرې سمي خوراك او څښاك او اوسېدل او داسي نور د هغې سمي په برابر وي بيا په دې كي چشم پوشي (تسامح) هم كيږي چي د جنګ لامل هم نه

کیږي نو ځکه داسي عقد روا او صحیح دئ، خو د هر یوه د حقوقو ساتل د ېر ضروري دي او که داسي نه وي سبا به د قیامت په ورځ جواب ورکوي.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

ووجه الاستحسان أن هذا النوع من الجهالة لا يفضي إلى المنازعة ؛ لأن مبنى الطعام على المسامحة في العرف والعادة دون المضايقة ، بخلاف ما إذا شرط كل واحدٍ منهما على نفسه كسوة العبد الذي يخدمه أنه لا يجوز ؛ لأنه يجري في الكسوة من المضايقة ما لا يجري في الطعام في العرف والعادة ، فكانت الجهالة في الكسوة مفضيةً إلى المنازعة ، مع ما إن الجهالة في الكسوة تتفاحش بخلاف الطعام ؛ لذلك افترقا . (بدائع الصنائع: انواع المهايئات وما يجوز منها وملايجوز:۷/ ۳۱، کتاب القسمة، سعید).

په فتاوی غیاثیه کي راځي:

استاجر حماراً ليحمل عليه الحنطة ولم يعين مقدارها ولا أشار إليها قال الشيخ أبوبكر المعروف بـ « خواهر زاده »: فسدت، وذكر شمس الأئمة الحلواني رحمه الله أنه يجوز فينصرف إلى المعتاد وهذا أظهر وأشبه وعليه الفتوى. (الفتاوى الغياثية، كتاب الاجارات:ص ١٥٨).

د شمس الائمه حلواني رحمه الله د عبارت څخه معلوم سوه چي د اجارې په عقد کي عرفاً قابل تحمل جهالت د عقد مفسد نه دئ.

په اعلاء السنن کي راځي:

قلت: والحاصل أن الجهالة اليسيرة عفو في ماجرى به التعامل، لكونها لاتفضي إلى النزاع عادة. (اعلاء السنن:١٦/ ٢٠٩، باب اجرة السمسرة، ادارة القرآن).

په تکمله فتح الملهم کې راځي:

قال العبد الضعيف عفا الله عنه: ويخرج على هذا كثير من المسائل في عصرنا، فقد جرت العادة في بعض الفنادق الكبيرة أنهم يضعون أنواعاً من الأطعمة في قدور كبيرة، ويخيرون المشتري في أكل ماشاء بقدر ماشاء، ويأخذون ثمناً واحداً معيناً من كل أحد، فالقياس أن لايجوز البيع الجهالة الأطعمة المبيعة وقدرها، ولكنه يجوز لأن الجهالة يسيرة غير مفضية إلى النزاع، وقد جرى بها العرف والتعامل، وكذلك استئجار السيارات ربما لايعرف سائقها مسافة السفر ولاتتعين الأجرة في بداية السفر، ولكن هذا الجهالة تتحمل، لكون العداد رافعاً للنزاع، ويتفق الراكب والسائق على أجرة يدل عليها العداد فلا يقع النزاع. (تكملة افتح الملهم: ۱/ ۳۲۰، باب بيع الحصاة والبيع الذي فيه غرر).

په کفایت المفتي کې راځي:

سوال: په عام ډول باندې دا رواج ده چې د یو څه پیسو او خوراک په مقابل کې یو څوک د کور له پاره خادم دروي او ومزدور ته د درولو په وخت کې د خوراک اندازه او کیفیت نه بیانوي نو ایا دا ډول مزدوري روا ده او که نه؟

الجواب: دا مزدوري روا ده، د خوارک اندازه بس دومره څرګندېدل کفایت کوي چې مزدور ته به بنه په ډک نس خوراک ورکول کیږي. (کفایت المفتی: ۷/ ۳۱۰، کتاب المعاش، دار الاشاعت).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (امداد المفتین: ۲/ ۷۱۶، کتاب الاجارات، دار الاشاعت – ومالی معاملات پر مغرر کی اثرات: ۸۷). والله ﷻ اعلم.

د اجیر خاص پر تعدي باندي د تاوان حکم

سوال: یو کس وخپل نوکر ته امانت ورکړ چي دا فلاني ځای ته ورسوه مثلاً د روشني ښخه یې جوهانسبرګ ته ورسوه او هغه نوکر د یو کار په سبب (لینس) ته (بل ځای) ته ولاړئ او ښکه چي یې موټر ودرا وه غلو دروزاه ماته کړه او امانت یې غلا کړ خو امانت یې محفوظ ځای ایښی وو، ځیني مفتیان حضرات وایي، پر ده هیڅ تاوان نه سته ځکه چي هغه ځای محفوظ وو او ځیني وایي، چي دی (لینس) ته د خپل کار له پاره ولي ولاړئ، نو ځکه پر ده تاوان راځي، اوس د دې مسئلې په اړه ستاسو د دار الافتاء رایه څه ده؟

الجواب: په دې صورت کي پر نوکر باندي لازمه وه چي ده (R – ۸۲) سېده د جوهانسبرګ لار غوره کړې وای خو د لینس لاري په غوره کولو سره ده ته تعدي کونکی ویل کیږي نو ځکه پر ده تاوان راځي، ځکه چي د روشني ښخه چي جوهانسبرګ ته ځي د لینس ورسره هیڅ تړاو نه سته، نوکر د خپل کار له پاره د لینس لاره غوره کړه او د خپل مالک مخالفیت یې وکړ له همدې کبله پر ده د تاوان راتلل عین انصاف دئ.

وګورئ په محیط برهاني کي راځي:

وسئل أبو بکر رحمه الله عن من أمر رجلاً أن یستکري له حماراً ویذهب إلى مکان کذا، على أن یوفر الآمر الأجرة، ففعل المأمور ذلك وأدخله رباطاً، فهجم علیه اللصوص في ذلك الرباط، واستولوا على الحمار، قال: فإن کان الرباط على الطریق الذي کان ممر المستأجر علیه، فلا ضمان .... لأنه لم یخالف. (فعلم من هذا ان لم یکن على الممر فیضمن).

(المحیط البرهاني: ۱۲/ ۱۳).

په شرح مجله کي راځي:

وكذا لايضمن المال الذي تلف بعمله بلاب تعد أيضاً.... وفي رد المحتار: وقوله بعمله أي المأذون فيه، فإن أمره بعمل فيعمل غيره، ضمن ما تولد منه، (تاتر خانية). (شرح المجلة: ٢/ ٧١٨، المادة ٦١٠).

اشكال : خو د هدايې دلاندي عبارت څخه يو سوال را پيدا کيږي.

قال في الهداية: وإن استأجر حمالًا ليحمل له طعاما في طريق كذا فأخذ في طريق غيره يسلكه الناس فهلك المتاع فلا ضمان عليه وإن بلغ فله الأجر وهذا إذا لم يكن بين الطريقين تفاوت .... أما إذا كان تفاوت يضمن، وإن كان طريقاً لايسلكه الناس فهلک ضمن.

(الهداية:٣/ ٣٠٠).

الجواب: د دې جواب دا دئ چې دا عبارت پر هغه صورت باندي محمول دئ چې ديوه منزل دوې لاري وي او پر دواړو خلک برابر تگ کوي او دواړه په امن وي نو بيا تاوان نه راځي خو په دې ياده سوې مسئله کي خو ده لاره غلطه غوره کړې وه او بيا دا چې پر لاره تلل جلا خبره ده او لار پرېښول بل ځای ته تلل جلا خبره ده اول چې ذکر سوله هغه خبره موجب الضمان نه وه او دوهمه خبره چې بيان سوه هغه موجب الضمان ده. والله ﷻ اعلم.

پر اجير مشترک باندي د تاوان حکم

سوال: يو سړي د ماشينانو د سمولو دوکان را وايستئ په دې کي ديخچال او داسي نور ماشينان سموي يوه سړي خپل (ميکرو) ماشين د سمولو له پاره ورکړ ماشين ورک سو اوس پر دوکاندار تاوان راځي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي دا سړی چې په مزدوري ماشينان سم وي د شريعت په اصطلاح کي ده ته اجير مشترک ويل کيږي د دې اصل حکم دا دئ چې د تعدې څخه پرته که چيري يو شی هلاک يا غلا سي نو پر ده باندي تاوان نه سته خو په اوسنی زمانه کي د زمانې وفساد او په عام ډول باندي د مزدورانو وغفلت ته په کتو سره د خلکو د مالونو د ساتني په سبب متاخرينو فقهاوو د ضمان فتوی ورکړې ده، نو ځکه د غفلت او د ده د کوتاهی په سبب به تاوان واجب وي.

وګورئ شرح مجله کي راځي:

لو تلف المستأجر فيه بتعدى الأجير وتقصيره يضمن سواء كان الأجير خاصاً أو مشتركاً، سواء كانت الإجارة صحيحة أو فاسدة، لأن المستأجر فيه أمانة في يد الأجير، والأمانة تصير مضمونة بالتعدي أو التقصير بالحفظ، وهو ظاهر.... تقصير الأجير هو عدم اعتنائه في محافظة المستأجر فيه بلا عذر. (شرح المجلة:۲/ ۷۱۰-۷۱۵، المادة:٦۰۷).

وګورئ علامه شامي رحمه الله علیه فرمایي:

والعرف في الشرع له اعتبار   لذا عليه الحكم قد يدار

ماراه المسلمون حسنا فهو عند الله حسن، واعلم أن اعتبار العادة والعرف رجع إليه في مسائل كثيرة حتى جعلوا ذلک أصلاً فقالوا: تترک الحقيقة بدلالة الاستعمال والعادة.... وفى شرح البيري عن المبسوط الثابت بالعرف كالثابت بالنص، ثم اعلم أن كثيراً من الأحكام التي نص عليها المجتهد صاحب المذهب بناء على ماكان في عرفه وزمانه قد تغيرت بتغير الأزمان بسبب فساد أهل الزمان أو عموم الضرورة ... ومنه تضمين الأجير المشترک. (شرح عقود رسم المفتى:ص ۳۷). والله تعالی اعلم.

وګورئ په تبيين الحقائق کي راځي:

لأن تضمين الأجير المشترك كان نوع استحسانٍ عندهما صيانةً لأموال الناس ؛ لأنه يتقبل الأعمال من خلقٍ كثيرٍ رغبةً في كثرة الأجرة ، وقد يعجز عن القيام بها فيقعد عنده طويلًا فيجب عليه الضمان إذا هلكت بما يمكن التحرز عنه حتى لا يتوانى في حفظهما . وفي

حاشيظ الشيخ شهاب الدين الشلبي: قوله فيجب عليه الضمان حتى لايقصر في حفظها أو لايأخذ إلا بقدر ما يحفظه. (تبيين الحقائق مع الحاشية:٥/ ١٣٨ف باب ضمان الاجير، ملتان).

وقولهما قول عمر ﷺ وعلى ﷺ وبه يفتى احتشاماً لعمر ﷺ وعلى ﷺ وصيانة لأموال المسلمين، والله أعلم. (فتاوى الشامى:٦/ ٦٥، مطلب بالقياس يفتى على قوله، سعيد).

علامه ابن نجيم مصري رحمة الله عليه فرمايي:

وقد تقدم أن بقولهما يفتى في هذا الزمان لتغير أحوال الناس. (البحر الرائق:٨/ ٢٧، باب ضمان الاجير، كوئته). والله تعالى اعلم.

د ښوونكي لس دقيقې په ځند سره د راتگ حكم

سوال: يو مدرس لس دقيقې وروسته راځي د دې تلافي څه ده ايا تنخوا په كاټولو سره تدبير ورسره وكوو؟

الجواب: په دې صورت كې كه چيري ښوونكي په ځند سره راتگ خپل عادت جوړ كړى وي او پر بار بار ويلو سره دا خپل عادت نه پرېږدي نو د ده تنخوا كاټول صحيح ده او كه كله ناكله په ځند سره راځي او مدرسه د ده داخلاص په سبب د ده سره د ده پر دې كړنه صرف نظر كوي يا هغه مدرس په نورو وختو كې خپل كار پوره كوي نو بيا يې په نه كاټولو كې هيڅ پروانه سته.

وگورئ په درمختار كې راځي:

وليس للخاص أن يعمل لغيره، ولو عمل نقص من أجرته بقدر ما عمل فتاوى النوازل.

وفى الشامية: قوله وليس للخاص أن يعمل لغيره، بل ولا أن يصلي النافلة، قال في التاترخانية: وفي فتاوى الفضلي: وإذا استأجر رجلاً يوماً يعمل كذا فعليه أن يعمل ذلك العمل إلى تمام المدة ولا يشتغل بشيء آخر سوى المكتوبة وفي فتاوى سمرقند: وقد قال بعض مشايخنا له أن يؤدي السنة أيضاً واتفقوا أنه لا يؤدي نفلاً، وعليه الفتوى، وفي غريب الرواية قال أبو علي

الدقاق: لا يمنع في المصر من إتيان الجمعة، ويسقط من الأجر بقدر اشتغاله إن كان بعيداً، وإن قريباً لم يحط بشيء فإن كان بعيداً واشتغل قدر ربع النهار يحط عنه ربع الأجرة . قوله ولو عمل نقص من أجرته، قال في التاترخانية : نجار استؤجر إلى الليل فعمل لآخر دواة بدرهم وهو يعلم فهو آثم وإن لم يعلم فلا شيء عليه وينقص من أجر النجار بقدر ما عمل في الدواة. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:٦/ ٧٠، مطلب ليس للاجير الخاص ان يصلى النافلة، سعيد – وكذا فى الفقه الحنفى فى ثوبه الجديد:٤/ ٤١٥).

په فتاوی ولوالجيه کي راځي:

إذا استاجر يوماً للحصاد أو للخدمة فحصد في بعض اليوم أو خدم لغيره لايستحق الأجر كاملاً، ويأثم. (الفتاوى الولواجية:٣/ ٣٣١، الفصل الاول فيما تجوز الاجارة، دار الكتب العلمية، بيروت).

په النتف في الفتاوی کي راځي:

فإن وقعت على عمل معلوم فلا تجب الأجرة إلا بإتمام العمل إذا كان العمل مما لا يصلح أوله إلا بآخره، وإن كان يصلح أوله دون آخره فتجب الأجرة بمقدار ما عمل. (النتف فى الفتاوى:ص ٣٣٨، كتاب الاجارة، دار الكتب العلمية).

په فتاوی محموديه کي راځي:

کله چي ښوونکی وختونه معلوم کړي نو دی په هغو وختو کي اجير خاص دئ او په هغو وختو کي وده ته د مزدورۍ بل کار روا نه دئ، د معمولي اجارې او د کوچني کار پر ته چي پر هغه عمومًا سترګي پو ټيږي چي د هغه کار څخه مدرسې ته چنداني تاوان نه وي يا هغه د ضرورتو څخه وي د هغه اجازه ستره د بيلګي په توګه معمولي خط يې وليکئ او يا يې د بولو او چکر ضرورت دفعه کئ.

(فتاوى محموديه:١٦/ ٥٧٣، جامعه فاروقيه). والله تعالىٰ اعلم.

د مزدوري په یوه شرط سره د معلق کولو حکم

سوال: یوه سړي وخیاط ته وویل چي که دي زما کالی نن را جوړ کړل نو پنځوس روپۍ درکوم او که دي سبا جوړ کړل شلو ښت روپۍ درکوم ایا دا دواړه شرطونه صحیح دي او که نه؟ په دې کي د امام صاحب او د صاحبینو څنګه اختلاف دئ او د صاحبینو پر قول چا فتوی ورکړې ده او که نه؟

الجواب: امام صاحب وايي، چي اول شرط صحيح دئ خو دوهم شرط فاسد دئ او مزدور ته به اجر مثل ورکول کيږي او د صاحبينو په اند دواړه شرطونه صحيح او روا دي. زموږ د فقهاوو څخه شيخ الاسلام قاضي القضاة ابو الحسن علي السغدي (المتوفی ۴۶۱ هـ) د صاحبينو قول غوره کړي دئ، خو که چيري د چل او دوکي اړخ پکښي وي نو بيا روا نه دي.

وګورئ په النتف فی الفتاوی کي راځي:

فاذا قال الخياط، ان خطت اليوم فلك درهم وان خطت غداً فلك نصف درهم قال ابو حنيفة رحمه الله: الشرط الاول جائز والشرط الثاني باطل، وقال ابو يوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله: الشرطان جائزان، وقال الشيخ: الشرطان جائزان الا ان يقع على التغرير فيبطلان او يقع احدهما على التغرير فهو باطل، والتغرير ان يقول: ان خطت اليوم فلك درهم وان خطت غداً فلك حبة او فلس او نحوها. (النتف فی الفتاوی:ص ۳۳۹، الشرط فی الاجارة، دار الكتب العلمية بيروت).

په شرح مجله کي راځي:

وكذلك لو ساوم أحد الخياط على أن يخيط له جبة بشرط إن خاطها اليوم فله كذا وإن خاطها غدا فله كذا تعتبر الشروط.... والحكم المذكور فيها، وهو صحة الإجارة مع اعتبار الشرطين، هو قولهما، وعند أبي حنيفة رحمه الله يصح الشرط الأول، ولا يصح الشرط الثاني فلو

خاطه في اليوم الأول يجب المسمى في ذلک اليوم اتفاقاً، وإن خاطه فى اليوم الثاني، فعندهما وهو الذي مشت عليه المجلة، يجب المسمى فيه. (شرح المجلة:۲/ ۵۹٤-۵۹۷، المادة:٥٠٦).

په امداد الفتاوی کي راځي:

الجواب: اوس مو هدايه راوغوښتله او پکښي وموکتل نو د امام ابو يوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله په اند روا دئ ګواکي د امام صاحب بل قول دئ خو په دې باندي هم عمل صحيح دئ، په خاص ډول بيا چي پر مزدور د دې تاثير وي او د دې څخه پرته په عمل کولو کي يې د سستی احتمال وي. (امداد الفتاوی:۳/ ۳۸۹). والله تعالیٰ اعلم.

د اسلامي بانک پر اجاره سوال او جواب

سوال: په ځينو اسلامي بانکو کي د اجارې دا طريقه رواج ده چي پر چا موټر پلوري نو بانک و ده ته موټر په اجاره ورکوي او مياشتنی کرايه بانک لاس ته راوړي، بيا چي کله د اجارې موده ختمه سي نو بيا بانک موټر وکرايه دار ته هبه کوي يا يې په معمولي قيمت پر پلوري، شرعاً دا شکل روا دئ او که نه؟ ځيني حضرات پر دې دغه لاندي نيوکي کوي؟

۱_ د موټر سموالی او داسي نور بايد پر مالک يعني د بانک د خاوندانو پر ذمه راسي خو بانک ټول ذمه واري پر کرايه دار باندي اچوي؟

۲_ په دې کي د هبې شرط لګول کيږي يعني په بل تعبير سره صفقة فی صفقة ده که چيري بانک بيرته موټر واپس اخلي نو کرايه دار خامخا خفه کيږي ځکه د کرايې په عنوان سره يې پوره قيمت اداء کړی دئ نو دا اجاره مشروطه بالهبه ده؟

الجواب: د فقهاوو د خبرو په رڼا کي دا خبره د ورځي په شان روښانه ده چي که چيري پر مستاجر د عين موجر د ستعمال په سلسله کي يو داسي شرط ولګول سي چي د هغه ګټه مستاجر ته رسيږي او د هغه عادتي تاثير د اجاري وپای ته تر رسېدو وروسته نه پاتيږي په دې اساس نو دا د عقد فاسدونکی نه دئ او څنګه چي بانک په اوږده موده (په عام ډول باندي په درې کاله) ورکوي بيا د دې اوږدي مودې په دوران کي د هغه معمولي جوړېدلو عادتي تاثير تر دور کلو وروسته نه پاتيږي په دې اساس که چيري بانک پر مستاجر د دې شيانو شرط ولګوي چي د هغو تړاو د موټر د استعمال سره

دئ، مثلاً پټرول وراچول، جوړول، پلک بدلول، بېټرى بدلول او داسي نور نو د دې شرط په سبب اجاره نه فاسديږي. وګورئ د فقهاوو عبارتونه.

په تبيين الحقائق كي علامه زيعلي رحمه الله فرمايي:

وإن شرط أن يثنيها أو يكري أنهارها أو يسرقنها أو يزرعها بزراعة أرضٍ أخرى لا، كإجارة السكنى بالسكنى، لأن أثر التثنية وكري الأنهار والسرقنة يبقى بعد انقضاء مدة الإجارة فيكون فيه نفع صاحب الأرض وهو شرط لا يقتضيه العقد فيفسد كالبيع، ولأن مؤجر الأرض يصير مستأجرًا منافع الأجير على وجهٍ يبقى بعد المدة فيصير صفقةً في صفقةٍ وهو مفسد أيضًا لكونه منهيا عنه حتى لو كان بحيث لا يبقى لفعله أثر بعد المدة بأن كانت المدة طويلةً أو كان الريع لا يحصل إلا به لا يفسد اشتراطه لأنه مما يقتضيه العقد ؛ لأن من الأراضي ما لا يخرج الريع إلا بالكراب مرارًا وبالسرقنة ، وقد يحتاج إلى كري الجداول ولا يبقى أثره الي القابل عادةً بخلاف كري الأنهار ؛ لأن أثره يبقى إلى القابل عادةً، وفي لفظ الكتاب إشارة إليه حيث قال: كري الأنهار ؛ لأن مطلقه يتناول الأنهار العظام دون الجداول ، واستئجار الأرض ليزرعها بأرضٍ أخرى ليزرعها الآخر يكون بيع الشيء بجنسه نسيئةً وهو حرام لما عرف في موضعه ، وكذا السكنى بالسكنى أو الركوب بالركوب إلى غير ذلك من المنافع . (تبين الحقائق:۵/ ۱۳۱، باب الاجارة الفاسدة، ملتان).

په درمختار مع رد المحتار كي راځي:

(أو أرضاً بشرط أن يثنيها أو كرى أنهارها) العظام وفى الشامية: قوله العظام، لأن أثره يبقى إلى القابل عادةً ، بخلاف الجداول أي الصغار فلا تفسد بشرط كريها هو الصحيح ابن كمالٍ، (أو يسرقنها) لبقاء أثر هذه الأفعال لرب الأرض، فلو لم تبق لم تفسد وفى الشامية: قوله فلو

لم تبق، بأن كانت المدة طويلةً لم تفسد ؛ لأنه لنفع المستأجر فقط ..... (وصحت لو استاجرها على أن يكربها ويزرعها أو يسقيها ويزرعها) لأنه شرط يقتضيه العقد. وفي الشامية: قوله ؛ لأنه شرط يقتضيه العقد ؛ لأن نفعه للمستأجر فقط . (الدر المختار مع رد المحتار:٦/ ٥٩ -٦٠، باب الاجارة الفاسدة، سعيد).

همداسي دا معامله پر عرف باندي بناء ده فقهاوو عرف او عادت ته په کتو سره د بې شماره فقهي مسئلو مدار پر دې باندي ليکلی دئ او د نن سبا په عرف کي د موټر اجاره که چيري د يو څو ساعتو له پاره وي نو پټرول او د هغه سره کار به د موجر پر ذمه وي او که د يو څو ورځو له پاره وي نو د مستجر ذمه واري يوازي پټرول وي او که د څو کالو له پاره وي نو د هغه معمولي سموالی، د بېټری بدلول، پلک بدلول او داسي نور چي د استعمال سره تړاو لري د مستاجر پر ذمه وي.

د پورتنی مسئلې يو څو دليلونه په همدې باب کي د ((پر مستاجر د جوړولو شرط)) تر عنوان لاندي تېر سوي دي هلته يې کتلای سي.

د زيات تفصيل له پاره وګورئ په ردالمحتار کي راځي:

في الظهيرية: استأجر عبداً أو دابة على أن يكون علفها على المتسأجر، ذكر في الكتاب أنه لا يجوز، وقال الفقيه أبو الليث: في الدابة نأخذ بقول المتقدمين، أما في زماننا فالعبد يأكل من مال المستأجر عادة، قال الحموي: أي فيصح اشتراطه، واعترضه ط بقوله: فرق بين الأكل من مال المستأجر بلا شرط، ومنه بشرط، أقول: المعروف كالمشروط، وبه يشعر كلام الفقيه كما لا يخفى على النبيه، ثم ظاهر كلام الفقيه أنه لو تعورف في الدابة ذلك يجوز تأمل (رد المحتار:٦/ ٤٧، باب الاجارة الفاسدة، سعيد – وكذا فى الفتاوى الهندية:٤/ ٤٤٢).

او همدارنګه د حيوان د خوراک په اړه هم د کمي او زياتي موده تر منځ فرق سته، څنګه چي په پخوا زمانه کي د حج په اوږده سفر کي د حيوان د خوراک مصارف د موجر پر ځای د مستاجر پر ذمه وه.

وګورئ علامه سرخسي رحمه الله په مبسوط کي فرمایي:

فإن أراد الحمال أن يخرجه قبل ذلك فهو يريد أن يلزمه ضرر السفر من غير حاجة إليه فيسقط عن نفسه مؤنة العلف فلا يمكن من ذلك. (المبسوط:١٦/ ٢٠، ط: دار المعرفة).

٢_ د صفقه فی صفقه د سوال جواب تفصيلاً په کتاب البيوع کي تېر سوی دئ، هلته يې کتلای سي خو د اجارې هغه شکل چي اسلامي بانک غوره کړی دئ په دې کي دوې معاملي جلا جلا دي يو د اجارې او بل د اجارې پر پای ته رسېدو د بيعي يا د هبې او بيا په ځينو ادارو کي خو معاهده يوازي د اجارې کيږي او هغه وخت د بيعي يا هبې هيڅ وعده نه وي، خو عملاً د اجارې وپای ته د رسېدو پر وخت موټر په معمولي قيمت پر پلورل کيږي اجارې د عقد تر پوره کېدو وروسته د موجر د خوا د بيعي يا هبې وعده کيږي او وعده (منفصل عن العقد په صفقة فی صفقة) کي داخله نه ده او په داسي صورت کي پر وعده وفا کول لازميږي.

وګورئ په جامع الفصولين کي راځي:

ولو ذكرا البيع بلا شرط ثم ذكرا الشرط على وجه العدة جاز البيع ولزم الوفاء بالوعد، إذ المواعيد قد تكون لازمة فيجعل لازماً لحاجة الناس. (جامع الفصولين:١/ ٢٣٧، فصل فی بيع الوفاء).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

وإن ذكر البيع من غير شرط ثم ذكر الشرط على وجه المواعدة جاز البيع ويلزمه الوفاء بالوعد لأن المواعيد قد تكون لازمة فتجعل لازمة لحاجة الناس. (فتاوی قاضی خان علی هامش الهندية:٢/ ١٦٥).

په جامع الفصولين کي راځي:

ولو تواضعا قبل البيع ثم تبايعا بلا ذكر شرط جاز البيع عند أبي حنيفة رحمه الله إلا إذا تصادقا أنهما تبايعا على ذلک المواضعة، وكذا لو تواضعا الوفاء قبل البيع ثم قعدا بلا شرط الوفاء فالعقد جائز، ولا عبرة للمواضعة السابقة. (جامع الفصولين: ۱/ ۲۳۷، فصل فی بيع الوفاء).

وللاستزادة انظر: (احكام القرآن للجصاص: ۲/ ۲۹۵، والمبسوط للامام السرخسی: باب زكوة الابل: ص ۱۷۹، و ردالمحتار: ۵/ ۸٤، مطلب فی الشرط الفاسد اذا ذكر بعد العقد او قبل، سعيد – و درر الحكام فی شرح مجلة الاحكام: ۱/ ۷۷، المادة: ۸٤، دار الكتب العلمية – وامداد الفتاوى: ۳/ ۱۰۸ – وغير سودی بينكاری، ص ۲۵٦). والله تعالیٰ اعلم.

د كرايه دار وبل ته په كرايه وركولو حكم

سوال: يوه سړي يو مكان په دوه زره كرايه ونيوئ او س هغه مكان وبل چا ته په دوه زره او پنځه سوه په كرايه وركوي نو دا صورت روا دئ او كه نه؟

الجواب: په كرايه نيول سوی شی وبل چا ته په كرايه وركول روا او صحيح دي خو چي كومه كرايه دی اداء كوي تر هغه زياته غوښتل صحيح نه دي كه يې زياته لاس ته راوړه نو خيراتول يې واجب دي. خو په دوو صورتو كي فقهاوو زياته كرايه اخيستل روا بللي دي.

۱ _ كرايه دار هماغه مكان بل ته د اولي كرايې پر خلاف جنس وركړئ نو اوس زيات اخيستل د خلاف جنس څخه روا دي.

۲ _ كرايه دار په دې مكان كي يو څه كار وكړئ او د هغه حيثيت يې لوړ كړئ يا دی د هغه سره خپل يو شی يو ځای كي د مجموعي كرايه دی زياته واخلي نو دا هم روا او صحيح ده.

وګورئ په درمختار كي راځي:

(وله أن يسكنها غيره بإجارةٍ وغيرها) وكذا كل مالا يختلف بالمستعمل يبطل التقييد لأنه غير مفيد، بخلاف مايختلف، ولو آجر بأكثر تصدق بالفضل إلا في مسألتين: إذا آجرها بخلاف الجنس أو أصلح فيها شيئاً. وفی الشامية: قوله بخلاف الجنس، أي جنس ما استأجر

به وكذا إذا آجر مع ما استأجر شيئاً من ماله يجوز أن تعقد عليه الإجارة فإنه تطيب له الزيادة كما في الخلاصة، قوله أو أصلح فيها شيئاً، بأن جصصها أو فعل فيها مسناة وكذا كل عمل قائم لأن الزيادة بمقابلة ما زاد من عنده حملاً لأمره على الصلاح كما في المبسوط . (الدر المختار مع رد المحتار:٦/ ٢٩، باب مايجوز من الاجارة، سعيد).

په فتاوى عالمګيري کي راځي:

وإذا استأجر دارًا وقبضها ثم آجرها فإنه يجوز إن آجرها بمثل ما استأجرها أو أقل ، وإن آجرها بأكثر مما استأجرها فهي جائزة أيضًا إلا إنه إن كانت الأجرة الثانية من جنس الأجرة الأولى فإن الزيادة لا تطيب له ويتصدق بها ، وإن كانت من خلاف جنسها طابت له الزيادة ولو زاد في الدار زيادةً كما لو وتد فيها وتدًا أو حفر فيها بئرًا أو طينًا أو أصلح أبوابها أو شيئًا من حوائطها طابت له الزيادة . (الفتاوى الهندية:٤/ ٤٢٥، الباب السابع فى اجارة المستاجر).

په فتاوى محموديه کي راځي:

څومره پيسې چي کوم ځاى د کرايې د مکان ته اداء کې پر هغومره پيسويې ته هم بل ته ورکولاى سي.

بل ځاى يې ليکلي دي:

که چيري هغه سړي په دغه جائيداد کي هيڅ تصرف ونه کړ نو بيا خو دا ګټه اخيستل ناروا دي او د دې خيراتول واجب دي که يې د دې جائيداد څه اصلاح وکړه يا يې سم کړ او بيا يې وبل چا ته ورکړ نو دا ګټه ورته روا ده. (فتاوى محموديه:١٦/ ٦٠٤-٦٠٥، جامعه فاروقيه).

په جديد معاملات پر شرعي احکام نومي کتاب کي راځي:

شرعاً د دې حکم دا دئ چي دا معامله روا ده په دې شرط چي د خپل موجر سره يې ونه کړي او د لومړۍ کرايې څخه يې په کمه ورکړي او که د اولي کرايې څخه په زياته وي نو هغه زياتي پيسې به ورته حلالي نه وي او د هغو خيراتول به واجب وي.

نو په دې صورت کې چې دوهم عقد د اول عقد پر خلاف جنس باندې وسي یا دا چې کرایه دار په دې مکان کې یو څه د اصطلاح کار وکړي مثلاً که مکان وي د هغه ګچ، روغن، رنګ او داسې نور پکښې وکړي او که مځکه وي د هغې واله یا داسې نور سم کړي. (جدید معاملات کی شرعی احکام: ۱/ ۲۱۶).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (کفایت المفتي: ۷/ ۳۳۱، کتاب المعاش، دار الاشاعت). والله ﷻ اعلم

د تلوېزون د سمولو د مزدورۍ حکم

سوال: یو څوک تلوېزنونه او داسې نور سموي او پر هغه مزدوري اخلي نو ایا د تلویزون د سمولو مزدوري اخیستل روا ده او که نه؟ او دا ګټه به حلاله وي او که حرامه؟

الجواب: تلوېزون د خپل اصل په اعتبار سره یوازې د لهو او لعب آله نه ده بلکې هغه د اصلاحي، تعلمي، تربیتي او ساینسي اهدافو له پاره هم کارول کیږي پر دې بناء د هغې جوړول او د هغه کار باید روا سي او مزدوري یې هم حلاله سي خو نن سبا د دې زیات استعمال په لهو او لب، فحاش او عریاني کې کیږي نو ځکه په دې کې یو ډول تعاون علی معصیة راځي له همدې کبله د کراهت څخه خالي نه ده او مزدوري او ګټه به یې هم مکروه وي او د دې څخه ځان ژغورل بهتر او ښه دي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

وبيع المكعب المفضض للرجل إن ليلبسه يكره، لأنه إعانة على لبس الحرام وإن كان إسكافاً أمره إنسان أن يتخذ له خفا على زي المجوس إو الفسقة أو خياطا أمره أن يتخذ له ثوباً على زي الفساق يكره له أن يفعل . (فتاوى الشامي: ٦/ ٣٩٢، كتاب الحظر والاباحة، سعيد).

په جواهر الفتاوي کې مفتي محمد شفیع صاحب وایي:

ثم السبب إن لم يكن محركان وداعياً، بل موصولاً محضاً، وهو مع ذلک سبب قريب بحيث لايحتاج في إقامة المعصية به إلى إحداث صنعة من الفاعل كبيع السلاح من أهل

الفتنة، وبيع العصير ممن يتخذه خمراً... وإجارة البيت ممن يبيع فيه الخمر أو يتخذها كنيسة أو بيت نار وأمثالها، فكله مكروه تحريماً إن يعلم به البائع والآجر، من دون تصريح به باللسان، فإنه إن لم يعلم كان معذوراً.... لكن الإعانة حقيقة هي ما قامت المعصية بعين فعل المعين ولايتحقق إلا بنية الإعانة أو التصريح بها أو تعينها في استعمال هذا الشيء، بحيث لايحتمل غيره المعصية. (جواهر الفقه:۲/ ٤٥۳، مسئلة الاعانة على الحرام).

وفي الدر المختار: قالت: .... إن ما قامت المعصية بعينه يكره بيعه تحريماً وإلا فتنزيهاً فليحفظ توفيقاً. (الدر المختار:٦/ ۳۹۱، کتاب الحظر والاباحة، سعيد).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

ټلوېزون، راډيو او ټيپ که د روا اهدافو له پاره کارول کيږي نو د دوی د سمولو او پلورلو قيمت روا دئ خو څنګه چي د ټلوېزون زيات کارول په ناروا کارو کي کيږي ځکه نو د دې مزدوري او تجارت څخه لاس ته راغلې ګټه د کراهت څخه خالي نه ده. (کتاب الفتاوی:٥/ ۳۹٤).

د ټلوېزون په اړه تفصيلي فتوی په کتاب البيوع کي د (ټلوېزون د پلورلو حکم) تر عنوان لاندي تېره سوې ده هلته يې کتلای سئ. والله ﷻ اعلم.

د عمل يو جزء د تنخوا جوړولو حکم

سوال: په خلکو کي يو ډول معاملې رواج دي د هغو حکم معلومول غواړم؟

۱ _ ځيني خلک نورو ته چرګان ورکوي او ورته وايي، چي ته يې پاله نيمي هګۍ به يې ستا او نيمي به يې زما وي؟

۲ _ کوچني مرغومان ورکوي چي تر پالني وروسته به مو سره نيم وي؟

۳ _ يو څوک د چندې ټولولو له پاره وليږي او ورته وايي، چي يوه ربعه (څلرمه) به يې ستا وي؟

۴ _ يو شی د پلورلو له پاره ورکوي چي څومره تا وپلورئ په هغو کي به په سلو کي لس ستا وي؟

۵_ د فصل د رېبلو له پاره يو څوک ودروي چې په لسو منو کې به يو من ستا وي ؟ ځينې عالمان ودې معاملو ته ناروا وايي چې دا د قفيز الطحان په حکم کې دي يعنې غنم ژرنده کوونکي ته د ړړ يوه برخه په مزدورۍ کې ورکول چې ناروا ده؟ جواب په تفصيل سره راکړي؟

الجواب: په شريعت کې د خلکو عرف، عادت او تعامل د کلي قاعدې او لوی اصل حيثيت لري، د يو شمېر فقهي مسئلو مدار يې پر دې قاعده ابنی دئ نو ځکه پورته بيان سوي مسئلې هم له همدې ډلې څخه دي نن سبا (کمشن ايجنټ) او په ځينو نورو مسئلو کې برخه اخيستل يو عادت جوړ سوی دئ نو ځکه بايد دا بيان سوي مسئلې تېوله روا سي. د فقهي په کتابو کې ليکلي سوي دي چې قفيز الطحان يعنې د ژرنده سوي وړو څخه مزدوري ورکول دا مسئله د حديث شريف څخه ثابته ده او مزدوري د چندې څخه ورکول يا د چرګانو وپالونکي ته نيمه برخه ورکول يا داسي نور دا مسائل قياسيه دي او دا هم مسلمه (منل سوې) قاعده ده چې کله په قياس او عرف کې تعارض وي نوم په عرف به عمل کېږي او قياس به پرېښول کېږي ځکه تعامل ملحق باالاجماع دئ.

وګورئ علامه تهانوي رحمه الله فرمايي:

« قال في نور الأنوار: وتعامل الناس ملحق بالإجماع وفيه ثم إجماع من بعدهم أي بعد الصحابة رضي الله عنهم من أهل كل عصر».

د دې څخه معلومه سوه چې تعامل هم د اجماع په مثل دئ او د هيڅ وخت سره خاص نه دئ، خود اجماع رکن به دلته هم پوره وي يعنې د دې وخت علماوو به پر هغه انکار کړی نه وي همداسي د ډېرو نورو جزئياتو په روا والي کې يې د تعامل څخه احتجاج کړی دئ.

کما في الهداية: في البيع الفاسد: ومن اشترى نعلاً على أن يحذوه البائع قوله يجوز للتعامل فيه فصار كصبغ الثوب للتعامل جوزنا الاستصناع وفيها في السلم أن استصنع الى قوله للإجماع الثابت بالتعامل. (فقه حنفی کی اصول وضوابط:ص ۱۶۱، بحواله امداد الفتاوی:۴/ ۲۶۵).

قال فی الکفایة: وجه الاستحسان أن فیه عرفاً ظاهراً وفی النزوع عن العادة حرج بین فصار کصبغ الثوب لأن القیاس أن لایجوز لأن الإجارة بیع المنافع والصبغ عین وجوزناها للتعامل وکالاستصناع فإن بیع المعدوم لایجوز وإنما جوزناه للتعامل. (الکفایة شرح الھدایة علی ھامش فتح القدیر:٦/ ٨٥، رشیدیة).

وقال في العناية: ووجهه ما بيناه أنه شرط لا يقتضيه العقد وفيه منفعة لأحد المتعاقدين وفي الاستحسان : يجوز للتعامل ، والتعامل قاضٍ على القياس لكونه إجماعًا فعليا كصبغ الثوب. (العناية فی شرح الھدایة علی ھامش فتح التدیر:٦/ ٨٥، رشیدیة).

قال العلامه الزيعلي رحمه الله: فی تبیین الحقائق: وكان مشايخ بلخٍ والنسفي يجيزون حمل الطعام ببعض المحمول ونسج الثوب ببعض المنسوج لتعامل أهل بلادهم بذلك ، وقالوا من لم يجوزه إنما لم يجوزه بالقياس على قفيز الطحان والقياس يترك بالتعارف ، ولئن قلنا إن النص يتناوله دلالةً فالنص يختص بالتعامل ألا نرى أن الاستصناع ترك القياس فيه وخص عن القواعد الشرعية بالتعامل .

وبهامشه قال الشيخ شهاب الدين الشلبي رحمه الله: وأما مشايخ رحمه الله بلخٍ رحمه الله فإنما جوزوا ذلك ؛ لأن الناس تعاملوا بذلك حيث احتاجوا إليه ووجدوا له نظيرًا وهو المزارعة والمعاملة، أتقاني . (تبیین الحقائق مع الحاشیة:٥/ ١٣٠، باب الاجارة الفاسدة، ملتان).

وهكذا في البحر الرائق وزاد بقوله: وفی الظهيرية: وبه أخذ الفقيه أبو الليث وشمس الأئمة الحلواني رحمه الله والقاضي أبو علی النسفي رحمه الله. (البحر الرائق:٨/ ٢٤، باب الاجارة الفاسدة، كوئته).

پہ محیط برهاني کي راځي:

وإذا دفع الرجل إلى حائك غزلاً لينسجه بالنصف أو ما أشبه ذلك فالإجارة فاسدة، أما لأنه في معنى قفيز الطحان لأنه جعل الأجر بعض ما يحدث من عمله ....ومشايخ بلخ رحمهم الله كنصيربن يحيى ومحمد بن سلمة وغيرهما كانوا يفتون بجواز هذه الإجارة في الثياب لتعامل أهل بلدهم في الثياب والتعامل حجة يترك به القياس ويخص به الأثر وتجويز هذه الإجارة في الثياب للتعامل بمعنى تخصيص النص الذي ورد في قفيز الطحان، لأن النص ورد في قفيز الطحان؛ لا في الحائك إلا أن الحائك نظيره فيكون وارداً فيه دلالة، فمتى تركنا العمل بدلالة هذا النص في الحائك وعملنا بالنص في قفيز الطحان كان تخصيصاً، لا تركاً أصلاً وتخصيص النص بالتعامل جائز. (المحيط البرهاني:۹/ ۱۷۹، نوع آخر فی قفیز الطحان، مكتبة الرشيدية – وهكذا في الشامي:٤/ ٥١٩، مطلب فی الاعتیاض عن الوظائف، سعيد – والفتاوى الهندية:٤/ ٤٤٥، الفصل الثالث فی قفیز الطحان وما هو معناه – وكذا فی تكملة فتح القدير:۹/ ۱۰۹، باب الاجارة الفاسدة، دار الفكر).

تتمة: قال في التاترخانية: وفي الدلال والسمسار يجب أجر المثل، وما تواضعوا عليه أن في كل عشرة دنانير كذا فذاك حرام عليهم. وفي الحاوي: سئل محمد بن سلمة عن أجرة السمسار فقال: أرجو أنه لا بأس به وإن كان في الأصل فاسداً لكثرة التعامل وكثير من هذا غير جائز، فجوزوه لحاجة الناس إليه كدخول الحمام، وعنه قال: رأيت ابن شجاع يقاطع نساجاً ينسج له ثياباً في كل سنة. (فتاوی الشامی:٦/ ٦٣، مطلب فی اجرة الدلال، سعيد).

په فتاوی غیاثیه کي راځي:

قال الفقیه أبو اللیث: النسج بالثلث والربع لایجوز عند علمائنا رحمهم الله لکن مشایخ بلخ استحسنوا وأجازوا لتعامل الناس، قال: وبه نأخذ. (الفتاوی الغیاثیة، کتاب الاجارات، نوع في النساج: ص ١٦٠).

وفی «الفقه الحنفي في ثوبه الجدید»: قال: ولرأي مشایخ بلخ رحمهم الله والنسفي رحمه الله وجاهة في مصرنا الحاضر، لأن التعامل به شاع وانتشر في کل البلاد. (الفقه الحنفی فی ثوبه الجدید: ٤/٤٠٣، الاستئجار ببعض مایخرج من عمل الاجیر).

په امداد الفتاوی کي راځي:

سوال: د تکرانو دلال ته رانیوونکي فرمایش لیکي وراستوي یې دلال د فرمایش پر برابر تکران رانیسي او ورته را استوي یې او د دلال ته چي په سلو کي څومره حق تاکل سوی دئ هغه اخلي ایا دا صحیح ده؟ ځینو ځایو کي د دلالانو په یوه روپۍ کي یوه پیسه (یا انه) ټاکل سوې وي یعني چي د څومره پیسو تکران وپلوري په یوه روپۍ کي د ده یوه پیسه دلالي ده داسي دلالي روا ده او که نه؟

الجواب: وفي شرح طریقه المحمدیة للخادمی الجزء الرابع منه عن لب الاحیاء وأما إعانته علی عمل معین إلی قوله أو مباحاً فیه تعب بحیث یجوز الاستئجار علیه حل أخذه وهو جعل. وفی جامع الفصولین: للقاضی أن یأخذ....

د دې عبارت څخه معلومه سوه چي په دلالي کي مشقت او تکلیف سته نو ځکه زدوري اخیستل یې صحیح دي، څنګه چي د تنخوا روا والی ثابت سو او د هغه د شرطو څخه د اجر تعین دئ او د تعین دا هم یو صورت دئ نو ځکه روا را معلومیږي. (امداد الفتاوی: ٣/ ٣٦٣، تحقیق بعض احکام دلال).

په امداد الاحکام کي راځي:

سوال: یو کس زید دئ او بل بکر دئ، زید وبکر ته ووېل چي زموږ سره مال دئ که چیري ته په خپل مهارت سره دا زموږ مال را وپلوري نو تا ته به موږ دومره تنخوا درکړو نو داسي مزدوري اخیستل روا دي او که نه؟

الجواب: دا صورت عالمګیري د ذخیري په حواله او شامي د تاتار خانیې په حواله حرام لیکلی دئ خو تا تار خانیې د محمد بن سلمه رحمة الله علیه څخه د دې ګنجائش نقل کړی دئ او حضرت مولانا تهانوي رحمة الله علیه په دې صورت کي روا والی غوره کړی دئ.

والجواب عن الفساد للجهالة، أن هذة الجهالة لايفضي إلى النزاع، فكانت يسيرة، وهي لايفسد الإجارة والبيع.

او په اوسنی زمانه کي د دې ضرورت هم ډېر دئ نو بیا دې ته روا ویل ډېر ښه دي. والله اعلم

(امداد الاحکام:۳/ ۵۸۹، حکم اجرت دلال).

په اعلاء السنن کي راځي:

قلت: والحاصل أن الجهالة اليسيرة عفو في ماجرى به التعامل، لكونها لاتفضي إلى النزاع عادة. (اعلاء السنن:۱۶/ ۲۰۹، باب اجرة السمسرة، ادارة القرآن).

په قاموس الفقه کي راځي:

نن سبا په مختلفو تجارتو کي د کمېشن (دلالی) طریقه رواج ده یعني کمپنی د خپل مال پلورونکو ته د تنخوا پر ځای فیصدي معلومږي مثلاً چي څومره دي وپلورل د هغو څخه لس په سلو کي دلال ته په تنخوا کي ورکوي، په ډېرو دیني او عصري ادارو کي چي د خلکو په کومک چلیږي هغو ته د معلومي تنخوا پر ځای یو څه فیصدي ورکوي په دې کي مدرسه والا د ځان له پاره دا ښه ګڼي ځکه که چیري تنخوا وټاکل سي بنایي چي مزدور په کوښښ کي کموالی وکي، ځکه دا مسئلې په اوسنی زمانه کي د علماوو د ژور فکر او آن د توجه غوښتونکي دي.

په احنافو کي دبلخ مشائخو وعرف ته په کتلو سره د دې اجازه ورکړې ده. (قاموس الفقه: ۱/ ۴۹۹).

حضرت مولانا انور شاه کشمیري رحمه الله درانیولو او پلورلو داسي معاملې (دیانةً) صحیح بللي دي چي په هغه کي قیمت یا هغه مال ښه معلومه نه وي خو په اینده (راتلونکي) کي د جنګ او اختلاف پیدا کېدلو امکان نه وي.

إن من البيوع الفاسدة ما لو أتى بها أحد جازت ديانةً، وإن كانت فاسدةً قضاءً. او ذلك لأن الفساد قد يكون لحق الشرع، بأن اشتمل العقد على مأثم، فلا يجوز بحالٍ. وقد يكون الفساد مخافة التنازع، ولا يكون فيه شيء آخر يوجب الإثم، فذلك إن لم يقع فيه التنازع جاز عندي ديانةً، وإن بقي فاسدًا قضاءً، لارتفاع علة الفساد، وهي المنازعة (فيض الباری:۳/ ۲۵۸).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (جدید فقهی مسائل:۴/ ۳۲۹-۳۳۴، - وبحوث فی قضایا فقهیة معاصره:۲۰۶-۲۰۸ - وقاموس الفقه:۱/ ۴۹۸ - ومالی معاملات پر غرر کی اثرات: ص ۸۹ - ۹۰).

د حدیث شریف د ((قفیز الطحان)) جواب:

۱_ دا حدیث ضعیف او معلول دئ.

قال المناوي في فيض القدير: قال فی المیزان: هذا حديث منكر وهشام أبو كليب أحد رواته لايعرف، و أورده عبد الحق فی الأحكام.... وفيه هشام أبو كليب قال ابن القطان: لايعرف، والذهبي: حديثه منكر ومغلطائی: هو ثقة وجزم ابن حجر بضعف سنده. (فيض القدير:٦/ ٣٣٥/ ٩٤٩٣ - وكذا فی التلخيص الحبير:٣/ ١٤٦/ ١٢٨٧ -وميزان الاعتدال:٥/ ٤٣١).

وقال الحافظ ابن حجر رحمه الله في الدراية: حديث نهى النبي ﷺ عن قفيز الطحان. الدار قطني وأبو يعلى والبيهقي وفي إسناده ضعف. (الدراية في تخريج احاديث الهداية:۳/ ۲۰۵، باب الاجارة الفاسدة).

وفي خلاصة البدر المنير: حديث النهي عن قفيز الطحان رواه الدارقطني من رواية أبي سعيد رضي الله عنه بإسناد فيه مجهول. (خلاصة البدر المنير:۲/ ۱۰۷/ ۱۶۵۵).

قال البوصيري في اتحاف الخيرة المهرة: مدار هذه الطرق على عبد الرحمن الأفريقي وهو ضعيف. (اتحاف الخيرة المهرة:٤/ ۲٦۲/ ۳۸۲۰، باب النهي عن عسب الفحل وقفيز الطحان).

۲_ نص عام مخصوص البعض دئ يعني د عرف او تعامل په سبب د نص تخصيص سوى دئ لکه څنګه چي علامه ابو البرکات نسفي رحمه الله او علامه شامي رحمه الله ليکلي دي.

وګورئ علامه شامي رحمه الله فرمايي:

ثم اعلم أن العرف قسمان عام وخاص فالعام يثبت به الحكم العام ويصلح مخصصاً للقياس والأثر بخلاف الخاص.... قال في الذخيرة في الفصل الثامن من الإجارات في مسألة مالو دفع إلى حائك غزلاً ليسنجه بالثلث ومشايخ بلخ كنصيربن يحيى ومحمد بن سلمة وغيرهما كانوا يجيزون هذه الإجارة في الثياب لتعامل أهل بلدهم في الثياب والتعامل حجة يترك به القياس ويخص به الأثر وتجويز هذه الإجارة في الثياب للتعامل بمعنى تخصيص النص الذي رود في قفيز الطحان لأن النص ورد في قفيز الطحان لا في الحائك إلا أن الحائك نظيره فيكون وارداً فيه دلالة فمتى تركنا العمل بدلالة هذا النص في الحائك وعملنا بالنص في قفيز الطحان كان تخصيصاً لاتركاً أصلا وتخصيص النص بالتعامل جائز ألاترى

أنا جوزنا الاستصناع للتعامل ولاستصناع بيع ماليس عنده وإنه منهي عنه وتجويز الاستصناع بالتعامل تخصيص منا للنص الذي ورد في النهي عن بيع ماليس عند الإنسان لاترک للنص أصلاً لأنا عملنا بالنص في غير الاستصناع قالوا: بخلاف ما لو تعامل أهل بلدة قفيز الطحان فإنه لايجوز ولاتكون معاملتهم معتبرة لأنا لو اعتبارنا معاملتهم كان تركاً للنأصلاً وبالتعامل لايجوز ترک النص أصلاً وإنما يجوز تخصيصه ولكن مشايخنا لم يجوزوا هذا التخصيص لأن ذلک تعامل أهل بلدة واحدة.... بخلاف التعامل فی الاستصناع فإنه وجد فی البلاد كلها، انتهی كلام الذخيرة. (شرح عقود رسم المفتی، ص ٤١ –وكذا رسالة « نشر العرف فی بناء بعض الاحكام علی العرف» المندرجة فی رسائل ابن عابدين:٢/ ١١٤، سهيل)

علامه نسفي رحمة الله عليه فرمايي:

والاستحسان أنواع يكون بالأثر والإجماع والضرورة والقياس الخفي كالسلم فإن القياس يأبی جوازه لعدم المعقود عليه عند العقد إلا أنا تركناه بالنص وهو قوله عليه السلام « من أسلم منكم فليسلم فی كيل معلوم » الحديث، والاستصناع فيما فيه تعامل الناس مثل أن يأمر إنساناً بأن يخرز له خفاً بكذا ويبين صفته ومقداره ولم يذكر له أجلاً والقياس يقتضي أن لايجوز لأنه بيع معدوم لكنهم استحسنوا تركه بالإجماع لتعامل الناس فيه فإن قلت: الإجماع وقع معارضاً بالنص وهو قوله عليه السلام « لا تبع ما ليس عندک ». وأجيب بأن النص صار مخصوصاً في حق هذا الحكم بالإجماع، وفيه نظر لأن القران شرط الخصوص عندنا والإجماع ليس بمقارن ويمكن أن يجاب عنه بأن القران شرط التخصيص الأول

والنص مخصوص قبل الإجماع بالسلم فيجوز بعده بالإجماع. (منار مع شرحه لعبد اللطيف ابن الملک:۲/ ۸۱۲). والله ﷻ اعلم.

د پراپرټۍ (رهنمايي معاملات يا دلالي) يا اسټيټ ايجنټ (estate agent) (هغه څوک چي د سرايو او مځکو دلالي کوي) د هغه له پاره د خدمت مزدوري د فيصدۍ په اعتبار ولاس ته د راوړلو حکم

سوال: ايا د اسټيټ ايجنټ د دلالۍ فيس د فيصدۍ په اعتبار سره هم روا دئ؟

الجواب: د اسټيټ ايجنټ خدمت د دلالۍ په حکم کي دئ او د دلالۍ تنخوا د فيصدۍ په اعتبار سره هم روا ده.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

تتمة: قال في التاترخانية: وفي الدلال والسمسار يجب أجر المثل، وما تواضعوا عليه أن في كل عشرة دنانير كذا فذاك حرام عليهم. وفي الحاوي: سئل محمد بن سلمة عن أجرة السمسار فقال: أرجو أنه لا بأس به وإن كان في الأصل فاسداً لكثرة التعامل وكثير من هذا غير جائز، فجوزوه لحاجة الناس إليه كدخول الحمام. (فتاوى الشامي:٦/ ٦٣، سعيد).

په مالي معاملات پر غرر کي اثرات نومي کتاب کي راځي:

نوموړي (د مځکو او سرايو) په معامله کي فريقينو ته دا نه وي معلومه چي د فلاني مکان په پلورلو کي فلاني دلال څومره منډي ترنډي (تکليف) کوي او مزدوري هم مجهوله وي خو په دې صورتونو کي پيدا کېدونکی جهالت د جنګ لامل نه جوړېږي همداسي په دې زمانه کي داسي معاملې بېخي ډېري دي او نن سبا خلک وداسي معاملو ته ډېر ضرورت لري ځکه فقهاء کرامو د دې اجازه ورکړې ده. (مالی معاملات پر غرر کی اثرات:ص ۹۰).

د نوموړي مسئلې تفصيل لوړ تېر سوی دئ او تکرار ول يې د اوږد والي لامل کيږي. والله ﷻ اعلم.

د وكيل بالبيع د كمېشن (مزدورۍ) اخيستلو حكم

سوال: زيد عمر ديو بلډنګ د پلورلو له پاره وكيل بالبيع جوړ كړ او ورته وې ويل چي كم تر كم يو متر په دوولس زره د څلور فيصدي ستا تنخوا سره وپلوره خو كه دى زيات وپلوري مثلا په اتلس زره دى وپلوري نو په دې زياتو په شپږو زرو كي نيمي پيسې ستا او نيمي به زما وي دا معامله شرعاً روا ده او كه نه؟

الجواب: د فيصدۍ په اعتبار سره د سرايو او مځكو د دلالۍ معامله د خلكو د تعامل او عرف په سبب صحيح ده.

وګورئ په امداد الفتاوى كي راځي:

څنګه چي په نوموړې دلالي كي عمل او تكليف سته څكه فيصدي صحيح ده چي كله د فيصدۍ روا والى ثابت سو د دې په شرطو كي يو شرط د اجرت تعين دئ او د تعين دا هم يو صورت دئ څكه روا را معلوميږي. (امداد الفتاوى: ۳/ ۳۶۳، تحقيق بعض احكام دلال).

په امداد الاحكام كي راځي:

سوال: يو سړى زيد دئ او بل بكر دئ زيد وبكر ته وويل چي زما سره مال دئ او كه چيري ته دا مال د خپل مهارت سره پر يو چا وپلورې نو تا ته به دومره پيسې تنخوا دركم، نو داسي تنخوا اخيستل روا دي او كه نه؟

الجواب: دا صورت عالمګيري د ذخيرې څخه حرام نقل كړى دئ او علامه شامي رحمه الله د تاتار خانيې څخه حراموالى نقل كړى دئ خو د محمد بن سلمه رحمه الله څخه يې په دې كي ګنجائش نقل كړى دئ او حضرت مولانا تهانوي رحمه الله په دې صورت كي روا والى غوره كړى دئ. والجواب عن الفساد للجهالة، أن هذة الجهالة لايفضي إلى النزاع، فكانت يسيرة، وهي لايفسد الإجارة ؤالبيع.

او په اوسنی زمانه کي د دې ډېره اړتیا هم سته نو ځکه ودې ته روا ویل ډېر ښه دي. (امداد الاحکام: ۳/ ۵۸۹، حکم اجرت دلال). د دې دلیلونه تفصیل وړاندي تېر سوی دئ. هلته یې کتلای سي. والله تعالیٰ اعلم.

د دوارو خواوو څخه د دلالي د مزدوری حکم

سوال: که چیري یو دلال د رانیوونکي او پلورونکي دوارو څخه مزدوري واخلي روا ده او که نه؟

الجواب: د پلورونکي او رانیوونکي دوارو څخه مزدوري اخیستل روا دي.

وګورئ علامه خصفکي رحمة الله علیه فرمایي:

وأما الدلالة فإن باع العين بنفسه بإذن ربها فأجرته على البائع وإن سعى بينهما وباع المالك بنفسه يعتبر العرف. وفي الشامية: قوله يعتبر العرف، فتيجب الدلالة على البائع أو المشتري أو عليهما بحسب العرف، جامع الفصولين. (الدر المختار مع رد المحتار: ٤/ ٥٦٠، فصل فيما يدخل في البيع تبعاً، سعيد).

په شرح منظومة ابن وهبان کي راځي:

فائدة: نقل في العمادية عن فوائد صاحب المحيط لو سعى الدلال بينهما وباع المالك بنفسه ينظر إلى العرف إن كانت الدلالة على البائع فعليه، وإن كانت على المشتري فعليه، وإن كانت عليهما فعليهما. (شرح منظومة ابن وهبان: ٢/ ٧٨، فصل من كتاب الاجارة، الوقف المدني).

په مجمع الضمانات کي راځي:

ولو سعى الدلال بينهما، وباع المالك بنفسه، يعتبر العرف، فتجب الدلالة على البائع، أو على المشتري أو عليهما، بحسب العرف. (مجمع الضمانات: ١/ ١٥٩، النوع السابع عشر: الدلال ومن بمعناه).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

د دواړو خواوو څخه دلالي روا ده په داسي حال کي چي عرف وي اصالةً د دلالي معامله ناروا ده خو د ضرورت او عرف پر بناء فقهاوو اجازه ورکړې ده او دا اجازه د خپل عموم په سبب یو طرفه او دوه طرفه ټولو ته شامله ده. (فتاوی محمودیه:۱۶/ ٦١٧، باب اجرة الدلال والسمسار، جامعه فاروقیه).

په نظام الفتاوی کي راځي:

که چیري یو سړی د دواړو کار کوي نو جلا جلا د کار کولو پر بناء د دواړو څخه د دې ممیز عمل رواجي مزدوري اخیستلای سي. (نظام الفتاوی:۱/ ۲۹۷).

په تالیفات رشیدیه کي راځي:

سوال: یو چا ته یې وویل چي که چیري ستا سو معامله در و کړم نو دومره دلالي در څخه غواړم دا صحیح ده او که نه؟ او پلورونکي او رانیوونکي ته د دې خبر تیا ورکول ضروري ده یا د یوه سره یې تاکل کافي دي او بیا که یې د دواړو څخه خفیةً یا صراحةً وټاکي او وا یې اخلي نو څنګه ده؟

الجواب: د دلالۍ مزدوري اخیستل صحیح ده خو چل او فریب به پکښي نه وي. (تالیفات رشیدیه:ص ٤١٨).

په محمود الفتاوی کي راځي:

که چیري د دواړو خواوو څخه د اخیستلو رواج وي نو صحیح ده او که نه وو نو صحیح نه ده. (محمود الفتاوی:۳/ ۸۵).

په احسن الفتاوی کي راځي:

سوال: د دلالۍ مزدوري د دواړو خواوو څخه صحیح ده او که نه؟

الجواب: روا ده. (احسن الفتاوی:۷/ ۲۷۲). والله ﷻ اعلم.

د جمعې په ورځ د دوکان د خلاصولو د شرط حکم

سوال: علماء کرام د لاندي مسئلې په اړه څه فرمايي؟

يو سړی په شاپنګ سنټر (يو مارکېټ کي) دوکان خلاصول غواړي او د دې مارکېټ د شرطو څخه يو دا هم دئ چي د (خلاصولو او بندولو) د وختو به دی ډېر خيال ساتي او کار کونکي به هم کافران وي (دوکاندارن به يې کافران وي) او د جمعې په ورځ به هم دوکان خلاصوي دا شرط چي چلوونکي به يې کافر وي له دې کبله دئ چي د جمعې په ورځ دوکان بند نه سي د دې مسئلې په اړه د شريعت حکم څه دئ؟ د مهرباني له مخي د شريعت حکم راته بيان کړئ؟

الجواب: په دې صورت کي چي په خپل منځ کي شرطونه وتاکل سي که هغه د شريعت خلاف نه وي نو د هغو پر ځای کول لازم او ضروري دي په دې اساس د وختو خيال ساتل ضرور دي او کافر منېجر (دوکاندار) هم د شريعت خلاف نه دئ دا هم روا او صحيح ده . شريعت په تجارت کي د وکيل پر ذريعه هغه کېدونکي معاملات صحيح او نافذ منلي دي او دا ضروري نه ده چي خامخا به مسلمان وکيل وي کافر هم وکيل بالبيع جوړېدلای سي.

او د جمعې په ورځ د جمعې د لمانځه د وختو په اړه حضرت مفتي محمد شفيع صاحب په معارف القرآن کي ليکلي دي: رانيول او پلورل دواړه ممنوع دي ځکه چي دوکان خلاص سي نو رانيوونکي به راځي خو دا صورت هغه وخت ممنوع دئ چي رانيوونکو اکثريت مسلمانان وي، خو که چيري زيات رانيوونکي کافران وي لکه څنګه چي په دې هيواد کي دي نو په هغه وخت کي د کافر د دوکان خلاصول ممنوع او ناروا نه دي، ځکه سعي الی الجمعة پر مسلمان واجب ده او پر کافر نه ده همداسي فقهاوو فرمايلي دي، چي پر کومو خلکو سعي الی الجمعة واجب نه ده مثلاً مريض، مسافر، ښځي او داسي نور نو د هغو له پاره رانيول او پلورل هم ممنوع نه دي، له همدې کبله د کافر دوکان خلاصول د جمعې د لمانځه په وختو کي ممنوع نه دي او تا ته هغه ګټه هم حرامه نه ده.

د اجارې په عقد کي د شرط لګولو په اړه فقهاء فرمايي، چي داسي شرط لګول چي د عقد سره مناسب نه وي او د عقد د تقاضا خلاف نه وي نو د هغه په سبب عقد نه فاسديږي له همدې کبله د داسي عقد اجاره نه فاسديږي ځکه چي د جمعې د لمانځه په وخت کي د دوکان خلاصول د اجارې د

عقد خلاف نه دئ خو دا خبره ضروري ده چي د جمعې د لمانځه په وخت کي يو مسلمان هم په دوکان کي پاته نه سي بلکي کار کوونکي ټوله کافران وي.

وګورئ په هدايه کي راځي:

ومن استأجر أرضاً على أن يكربها ويزرعها أو يسقيها لأن الزرعة مستحقة بالعقد ولا تتأتى الزراعة إلا بالسقي والكراب ....و كل شروط هذه صفته يكون من متتضيات العقد فذكره لا يوجب الفساد . (الهداية:۳/ ۳۰۶).

وكذا تفسد الإجارة لو استاجر بشرط لايقتضيه العقد ولا يلائمه ..... بخلاف ما لو آجرها بشرط أن يحرثها ويزرعها أو يسقيها ويزرعها، فإنها لاتفسد، لأنه شرط يقتضيه العقد.... ولو شرط أن يكري أنهارها العظام أو يسرقنها بحيث يبقى أثر هذه الأفعال لرب الأرض، تفسد لما ذكرنا، فلو لم تبق، بأن شرط كري جد اولها الصغار، أو كانت المدة طويلة، لاتفسد، لأنه لنفع المستاجر، فهو شرط يقتضيه العقد. (شرح المجلة للاتاسى:۲/ ۵٤۰، تحت المادة:٤٦۰ — وكذا فى فتاوى الشامى:٦/ ٦۰، باب الاجارة الفاسدة، سعيد).

په هدايه کي راځي:

كل عقد جاز أن يعقده الإنسان بنفسه جاز أن يوكل به غيره لأن الإنسان قد يعجز عن المباشرة بنفسه على اعتبار بعض الأحوال فيحتاج إلى أن يوكل غيره فيكون بسبيل منه دفعاً للحاجة وقد صح أن النبي عليه الصلاة والسلام وكل بالشراء حكيم ابن حزام ﷺ. (الهداية:۳/ ۱۷۷).

وفي الدر المختار: وكره تحريمًا منع الصحة البيع عند الأذان الأول إلا إذا تبايعا يمشيان فلا بأس به لتعليل النهي بالإخلال بالسعي ، فإذا انتفى انتفى ، وقد خص منه من لا جمعة عليه

ذكره المصنف . وفي حاشية الطحطاوي: قوله وقد خص منه، أى من كراهية البيع عند الأذان الأول وفيه أنه لم يدخل لعدم العلة فيه حتى يخرج وقد يقال إن من لم تجب عليه الجمعة إذا تبايعا عند الأذان لا كراهة ولو سعيا بعد لأن السعي تبرع، قوله من الجمعة عليه، كالنساء والمسافرين والمرضى لعدم وجوب العسي عليهم. (الدر المختار مع الحاشية الطحطاوى:۳/ ۸۳، كوئته – وكذا فى فتاوى الشامى:۵/ ۱۰۱، سعيد).

امام ابو بكر الرازي رحمه الله په احكام القرآن كي فرمايي:

لم يتعلق النهى بمعنى في نفس العقد وإنما تعلق بمعنى في غيره وهو الإشتغال عن الصلاة وجب أن لا يمنع وقوعه وصحته كالبيع في آخر وقت صلاة يخاف فوتها إن اشتغل به وهو منهى عنه ولا يمنع ذلك صحته لأن النهى تعلق باشتغاله عن الصلاة . (احكام القرآنللجصاص:۳/ ٤٤٨).

په كفايت المفتي كي راځي:

په كومو ځايو كي چي د جمعې لمونځ روا نه دئ په داسي ځايو كي د ماپښين تر اذان وروسته په رانيولو او پلورلو كي څه حرج نه سته ځكه چي د جمعې په ورځ تر اذان وروسته د رانيولو او پلورلو د مكروه والى علت استماع خطبه ده او دا علت په ماپښين كي نه سته. (كفايت المفتى:۳/ ۲۸٤). والله تعالى اعلم.

په پيشكي د مزدورۍ اخيستلو حكم

سوال: **يو سړى ديو چا د مكان په يوه برخه كي اوسيږي مالک د مكان د كرايې څخه پر ته مياشتكي اته سوه روپۍ داوبو، برېښنا او داسي نورو له پاره اخلي او دا هم معلومه نه ده چي كرايه دار څومره كار وي همداسي د مكان خاوند پيشكي د شپږو مياشتو كرايه واخيستله، پر دي باندي نيوكه كيږي چي د اوبو، برېښنا او داسي نورو مصرف مجهول دئ او همداسي كوم وخت چي ده كرايه واخيستله هغه وخت منفعت هم معدوم وو شرعاً د دي څه حكم دئ؟**

الجواب: د شريعت د قانون په اعتبار سره د اجارې په عقد كې منفعت تر حصول وروسته يعني د مياشتې وپاى ته تر رسېدو وروسته پر كرايه دار باندې د مكان كرايه اداء كول لازمېږي خو كه چېرې د دوكان يا مكان خاوند د پيشكي كرايې غوښتنه كوي او كرايه دارېې په خپله خوښه او رغبت ومني نو دا روا او صحيح ده، همداسې كه داولې ورځې څخه يې د پيشكې كرايې شرط لګولى وي نو بيا هم وختې كرايه اخيستل روا او صحيح ده.

همداسې د برېښنا په اړه هم ويل كېدلاى سي چې د دوكان خاوند د برېښنا او اوبو ذمه واري پر خپل سر اخيستې ده او د هغه په عوض كې يې كرايه واخيستله نو دا د عقد ضمان صورت هم صحيح دئ، په هر حال په دې شيانو كې د عرف ډېر لوى دخل سته، په عرف كې چې څنګه كار كيږي هماغسې معامله روا او صحيح ده.

وګورئ په هدايه كې راځي:

الأجرة لا تجب بالعقد وتستحق بأحد معان ثلاثة إما بشرط التعجيل أو بالتجيل من غير شرط أو باستيفاء المعقود عليه .... وكذا إذا شرط التعجيل أو عجل من شرط لأن المساواة يثبت حقاً له وقد أبطله. (الهداية:۳/ ۲۹٤).

لاتلزم الأجرة بالعقد المطلق يعنى لايلزم تسليم بدل الإجارة بمجرد انعقادها حالا.

والمراد بالعقد المطلق الذي لم يذكر فيه اشتراط تعجيل الأجرة، وإنما لايلزم تسليم الأجرة حينئذٍ لأن العقد وقع على المنفعة، وهي تحدث شيئاً فشيئاً، وشأن البدل أن يكون مقابلاً للمبدل، وحيث لايمكن استيفاؤها حالاً لايلزم بدلها حالاً، إلا إذا شرطه ولو حكماً بأن عجله، لأنه صار ملتزماً له بنفسه حينئذٍ وأبطل المساواة التي اقتضاها العقد، فصح، كذا في رد المحتار. (شرح المجلة:۲/ ٥٤۹، تحت المادة:٤٦٦).

قال في الهداية: ويجوز أخذ أجرة الحمام والحجام أما الحمام فلتعارف الناس ولم تعتبر الجهالة جماع المسلمين قال عليه الصلاة والسلام: ما رآه المسلمون حسناً فهو عند الله حسن، وأما الحجام فلما روى أنه عليه الصلاة والسلام احتجم وأعطى الحجام الأجر؛ ولأنه استئجار على عمل معلوم بأجر معلوم فيقع جائزا . (الهداية: ۳/ ۳۰۳).

وقال في الهداية: ومن وكل رجلاً بالصلح عنه فصالح لم يلزم الوكيل ما صالح عنه إلا أن يضمنه .... لأنه حينئذ هو مؤاخذ بعقد الضمان لا بعقد الصلح. (الهداية: ۳/ ۲۵۰).

او په جديد معاملات کي شرعي احکام کي راځي:

په اجاره کي اصل قاعده همدا ده چي کله کار پوره سي يا هغه نوکري پوره کي هغه وخت د تنخوا مستحق ګرځي او د موجر پر ذمه تنخوا اداء کول لازميږي خو که کوم مزدور د پيشکي تنخوا شرط ولګوي يا د دوکان يا مکان خاوند د پيشکي کرايې غوښتنه وکړي او کرايه دار دا شرط ومني يا اداره يا کمپنۍ خپله وخپلو کار کوونکو ته د مياشتي په پيل کي پيشکي تنخوا اداء کړي نو دا ټول صورتونه په خپل منځ کي د دوی په خوشحالۍ سره شرعاً روا دي. (جديد معاملات کی شرعی احکام:۱/ ۲۵۳). والله ﷻ اعلم.

د لفټ (هغه زينه چي د برېښنا په وسيله پورته او کښته کيږي) د هغو د سمولو ذمه واري د مستاجر پر ذمه د لګولو حکم

سوال: موږ په يوه بلډنګ کي اوسيږو چي هلته د کرايې کوټې دي او هلته يو لفټ هم سته يو څو ورځي مخکي د لفټ يوه پرزه ماته سوه اوس د هغه د جوړولو ضرورت دئ او دا پرزه به له يو خارجي هيواد څخه راغوښتل کيږي د بلډنګ خاوند (موجر) غواړي چي کرايه دار دي د دې مصرف وزغمي که چيري په عرف کي دا پر مستاجر وي يا په کاغذاتو کي په شرائطو کي ليکل سوې وي چي پر مستاجر باندي به لازم وي نو بيا يې څه حکم دئ؟ د مهربانۍ له مخي مو خبر کړئ او دا مصرف به د شريعت په رڼا کي پر چا لازم وي؟

الجواب: د عمارت د سمولو مصرف د بلډنګ پر خاوند باندي لازم دئ خو که چیري په عرف کي پر مستاجر لازم وي نو د عرف اعتبار به کول کیږي یا په کاغذاتو کي په شرطو کي پر مستاجر لازم کړ بیا به هم پر مستاجر باندي لازم وي او په بلډنګ کي پر اوسېدونکو باندي به پر ټولو خلکو برابر وېشل کیږي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وعمارة الدار المستاجرة وتطيينها و إصلاح الميزاب وما كان من البناء على رب الدار، وكذا كل ما يخل بالسكنى. (الدر المختار:٦/ ٧٩، سعيد).

وګورئ په خلاصة الفتاوى کي راځي:

وعمارة الدار وتطيينها وإصلاح ميزابها على الآجر أما تسييل ماء الحمام وتفريغه على المستاجر، قال في المحيط: فإن شرط رب الحمام على المستاجر نقل الرماد والسرقين لايفسد العقد.... وفي النوازل: استاجر مكارياً ليحمل له الحنطة إلى مكان كذا فالجوالق والحبل على المكاري إن كان يحمله على دواب المستاجر أو على عنقه فذاك على المستاجر، قال الفقيه أبو الليث رحمه الله: المعتبر في ذلك عادات الناس في تلك البلدة ولو طلب من المكاري أن يدخل بيته فالمعتبر هو العرف. (خلاصة الفتاوى:٣/ ١٤٨، الفصل التاسع فيما على الآجر وفيها على المستاجر).

په فتاوى الشامي کي راځي:

وفي البزازية: ولو امتلأ مسيل الحمام فعلى المستأجر تفريغه ظاهراً كان أو باطناً، وفيها وتسييل ماء الحمام وتفريغه على المستأجر وإن شرط نقل الرماد والسرقين رب الحمام على المستأجر لا يفسد العقد وإن شرط على رب الحمام، فتأمل، ولعله مفرع على القياس أو مبني

الشامی:٦/ ٨٠، سعید).

په شرح مجله کي راځي:

وفی الأنقرویة عن البزازیة: خرج المستاجر من البیت وفیه تراب ظاهر أو رماد، علی المستاجر إخراجه، بخلاف البالوعة، فإنه یلزم المؤجر تفریغها استحساناً، وإن شرط علی المستاجر عند العقد جاز، وأنه موافق للعقد، أی وإن کان العرف بخلاف، لأنه حدث بفعله. فالشرط الموافق للقیاس وإن کان مخالفاً للعرف، لا یفسد العقد، تأمل. (شرح المجلة للاتاسی:٢/ ٦٢٢، المادة:٥٢٩).

په شرح مجله کي راځي:

یلزم مراعاة الشرط بقدر الإمکان، أی إمکان الشرط واستطاعته، ولایلزم مافوق الاستطاعة.... أن الشروط ثلاثة أقسام: قسم یجوز شرعا، فیه فائدة لمن اشترطه، فهذا یلزم مراعاته.... وقال فی البدائع من کتاب المضاربة: الأصل فی الشروط اعتبارها ما أمکن، وإذا کان القید مفیداً کان ممکن الاعتبار فیعتبر لقوله علیه الصلاة والسلام: « المسلمون عنه شروطهم». (شرح المجلة للاتاسی:١/ ٢٣٦، المادة:٨٣). والله ﷻ اعلم.

د مستعار شي په اجاره د ورکولو حکم

سوال: که چیري یو چا یو شی په عاریت (خواست) را وړئ او بیا یې هغه شی وبل چا ته په کرایه ورکئ نو دا په کرایه ورکول روا دي او که نه؟

الجواب: مستعار شي په کرایه ورکول روا نه دي.

وګورئ په هدایه کي راځي:

وليس للمستعير أن يؤاجر ما استعاره فإن آجره فعطب ضمن لأن الإعارة دون الإجارة والشيء لا يتضمن ما هو فوقه ولأنا لو صححناه لا يصح إلا لازماً لأنه حينئذٍ يكون بتسليط من المعير وفي وقوعه لازماً زيادة ضرر بالمعير لسد باب الاسترداد إلى انقضاء مدة الإجارة فأبطلناه . (الهداية:۳/ ۲۸۰، كتاب العارية).

په درمختار کي راځي:

ولاتوجر ولاترهن لأن الشيء لايتضمن ما فوقه. (الدر المختار:٥/ ٦٧٩).

او که يې په کرايه ورکړي نو کرايه به لازمه نه وي ځکه دا اجاره باطله ده او په باطله اجاره کي کرايه واجب نه ده.

وګورئ په درمختار کي راځي:

بخلاف الثاني وهو الباطل فإنه لا أجر فيه بالاستعمال. (الدر المختار:٦/ ٤٦).

البته که چيري مالک مزدوري ورکړي نو بيا به روا وي.

په مجله کي راځي:

وليس للمستعير أن يوجر العارية ولا أن يرهنها بدون إذن المعير. (المجلة:۳/ ۳۲٥).

«بدون إذن المعير » **له دې څخه معلوميږي چي په اجازه سره روا ده. والله ﷻ اعلم.**

په شعبان کي پر استعفاء باندي د روژي د تنخوا حکم

سوال: که چيري ښوونکی په شعبان يا رمضان کي استعفاء وکي نو ده ته به د رمضان تنخوا ورکول کيږي او که نه؟

الجواب: د مدرسې معامله د کال له پاره وي خو په عرف کي تعليمي کال مراد دئ او هغه د شعبان تر اخره فهمول کيږي نو ځکه معامله به د شعبان تر اخره وي، خو که چيري دا شرط لګول سوی وي يا عرف وو چي مدرسه کله ښوونکي ته جواب ورکي نو د رمضان تنخوا به ورکوي نو بيا يې تنخوا ورکول ضروري دي د عرف څخه پرته رخصتي د هوسايني له پاره وي، د دې له پاره چي ښوونکي د

راتلونكي كال له پاره ذهني هوساينه پيدا كي نو ځكه رمضان دراتلونكي كال سره لكول معقول خبره ده، نو ځكه تعليمي كال به د شعبان ترآخره پوري وي.

په شرح مجله كي راځي:

وفي مجمع الحقائق: العادة المطردة تنزل منزلة الشرط، حتى لو باع التاجر فى السوق شيئاً بثمن، ولم يصرحا بحلول ولا تأجيل، وكان المتعارف فيما بينهم أن البائع يأخذ من الثمن كل جمعة قدراً معلوماً، انصرف البيع إليه بلا بيان، لأن المعروف عرفاً كالمشروط شرطاً. (شرح المجلة لمحمد الاتاسى:۱/ ۹۵، المادة:۴۱).

په الاشباه والنظائر كي راځي:

واعلم أن اعتبار العادة والعرف يرجع إليه في الفقه في مسائل كثيرةٍ، حتى جعلوا ذلك أصلًا، فقالوا في الأصول في باب ما تترك به الحقيقة: تترك الحقيقة بدلالة الاستعمال والعادة، كذا ذكر فخر الإسلام....

ومنها: البطالة في المدارس، كأيام الأعياد ويوم عاشوراء، وشهر رمضان في درس الفقه لم أرها صريحةً في كلامهم، والمسألة على وجهين، فإن كانت مشروطةً لم يسقط من المعلوم شيء، وإلا فينبغي أن يلحق ببطالة القاضي، وقد اختلفوا في أخذ القاضي ما رتب له من بيت المال في يوم بطالته، فقال في المحيط: إنه يأخذ في يوم البطالة؛ لأنه يستريح لليوم الثاني، وقيل: لا يأخذ، انتهى. وفي المنية: القاضي يستحق الكفاية من بيت المال في يوم البطالة في الأصح، واختاره في منظومة ابن وهبان، وقال: إنه الأظهر (منظومة ابن وهبان:۱/ ۲۸۸، فصل من كتاب ادب القاضى) فينبغي أن يكون كذلك في المدارس؛ لأن يوم البطالة للاستراحة، وفي الحقيقة يكون للمطالعة والتحرير عند ذى الهمة. (الاشباه والنظائر:۱/ ۲۶۸-۲۷۲، القاعدة

السادسة العادة محكمة – وكذا في رد المحتار: ٤/ ٣٧٢، مطلب في استحقاق القاضي والمدرس الوظيفة في يوم البطالة، سعيد).

په امداد الاحكام کي راځي:

کله چي دا ښوونکی د شوال په مياشت کي راغلئ او کاريې ونه کړ(ښايي که دا کار نه کولو سبب د ده د خوا څخه وي او که د اداري له خوا څخه وي خو په هر حال کار نه کول ثابت سو) نو دی د رمضان د تنخوا حق نه لري.

لأن شرط الاستحقاق هو العمل في شوال ولم يوجد، وإذا فات الشرط فات المشروط بخلاف ما إذا لم يعمل بحصول الرخصة والإذن من المتولى فإنه في حكم العمل كما لايخفي. والله أعلم. (امداد الاحكام:٣/ ٥٧٤).

په امداد الفتاوى کي راځي:

تنخوا خو د کار د ورځو ده خو د رخصتي وخت تبعاً د کار د ورځو سره محلق دئ د دې له پاره چي هوساسي او د کار په ورځو کي کار وکولای سي د شعبان وپای ته په رسېدو د معزول کېدو سره به تنخوا نه ورکول کيږي او د نه معزول کېدو په صورت کي د رمضان وپای ته په رسېدو سره به تنخوا ورکول کيږي په دې شرط چي په شوال کي يې هم کار کړی وي. (امداد الفتاوى:٣/ ٣٤٨).

په فتاوى عثماني کي راځي:

د شوال په شروع کي د راتگ په شرط سره د روژې د مياشتي (ايام بطالت واستراحت) **تنخوا مشروطول اوس د عقد مفسد نه دئ ځکه دا شرط اوس معروف دئ او خپله شيخ المحدثين حضرت سهارنپوري قدس سره په فتاوى ((خليليه)) کي په خپله محاکمه کي د دې خبري تصريح کړې ده چي که دا شرط معروف وي نو مدرس به د ټولي تنخواه مستحق وي.** (فتاوى خليليه:١/ ٢٤٨).

د دې شرط معروف کېدل د څو دليلو څخه واضح دي چي لاندي ليکل سوي دي:

الف : په ديني مدرسو کي د دې شرط معروف کېدل بيان ته ضرورت نه لري چي تقريباً ټوله مدرسې په دې عمل کوي.

باء_ دا معروف شرط د فقهاوو په اند هم دئ ځکه د ایام بطالت د تنخوا حق ځکه دئ چې ...
هوساینې وروسته دوهم وار په ښه خوشحالي سره کار وکولای سي او که د رخصتی تر ورځو
وروسته د کار کولو قصد ونه لري نو د رخصتۍ د ورځو د تنخوا به څنګه حق ولري؟

ج_ دا شرط د مال وقف د ساتني او پر سم ځای د مصرفولو سره هم ډېر برابر دئ ځکه چې په مدرسو کي زکوة او د خیراتونو پیسې د طالبانو یا د ورکونکو امانت دي په دې امانت کي د احتیاط غوښتنه دا ده چې دا پیسې وریو چا ته بې عمله یا بې عوضه ورنه کړل سي نو ځکه د عمل موجودتیا ضروري ده (لکه څنګه چې د کار په ورځو کي) یا یې ګمان وکړل سي (لکه د هوسایي په ورځو کي چې په راتلونکي کي د کار قصد ولري) او که داسې نه وي نو تنخوا ورکول تر پوښتني لاندي راځي.

(از مفتي محمود اشرف عثماني صاحب مدظله).

د حضرت مولانا مفتي محمد تقی عثماني دامة برکاتهم فتوی :

په شوال کي کار کول د رمضان د رخصتي د تنخوا له پاره موقوف علیه جوړول او نه جوړول دواړي خبري روا دي د موقوف علیه نه جوړولو روا والی ښکاره دئ ځکه چې د دې حاصل دا دئ چې داجارې په عقد کي د یوې میاشتي تنخوا بې عمله تاکل سوې ده هغه ګواکي د ټول کال پر مجموعي کار یوه زیاته تنخوا ده او معلومه ده او د فریقینو په اتفاق سره روا ده او د موقوف علیه جوړولو د روا والي یوه وجه هماغه کېدلای سي چې د هغې وطرف ته حضرت مولانا خلیل احمد قدس سره، په جواب کي اشاره موجود ده.

او دوهمه وجه دا هم کېدلای سي چې د ایام بطالت (رخصتي) تنخوا د عقد د تجدید له پاره شرط کړل سوې ده یعني که چیري په شوال کي د راتلونکي کال له پاره د عقد تجدید وکړل سو نو د ایام بطالت تنخوا به هم ورکول کیږي او که داسې نه وو نو نه به وي ګواکي په دې صورت کي د اجارې عقد پر شعبان باندي پای ته ورسېدئ او په شوال کي د عقد د تجدید په وخت کي د رخصتی د ورځو تنخوا په اضافي ډول د شوال سره ورکړل سوه. (فتاوی عثمانی: ۳/ ۳٦۸، ۳۷۲-۳۷۳).

په نظام الفتاوی کي راځي:

دا صحيح ده چي د روژې رخصتي د هوسايني له پاره وي چي تر هوسايني وروسته د هغه شخص څخه کار واخيستل سي لکه په عامو مدرسو کي چي رواج دي نو په دې اساس په راتلونکي کال کي نه راتلونکو ښوونکو او کار کوونکو ته د روژې د تنخوا حق نه سته. (نظام الفتاوی: ۱/ ۳۳۲).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوی خليليه: ۱/ ۲٤٤-۲٤۸ – او فتاوی عثمانی: ۳/ ۳٦٦-۳۷٤ وقاموس الفقه: ۱/ ٤۹۷-٤۹۸ – وجديد معاملات كى شرعى احكام: ۱/ ۲۳۵ – وفتاوى محموديه: ۱۵/ ۵۲۹، جامعه فاروقيه). والله ﷻ اعلم.

په اجاره کي د وخت د معلومولو حکم

سوال: يوه سړي يوې کمپنۍ ته ځای د جوړولو له پاره (په مزدوري) ورکړ او په دې يې مکلف کړ چي په درو مياشتو کي مکان مکمل که داسي اجاره ورا ده او که نه؟

الجواب: داسي اجاره روا او صحيح ده.

وګورئ په عالمګيري کي راځي:

وفي الأصل أيضًا لو شرط على الخباز أن يخبز له هذه العشرة المخاتيم دقيقًا وشرط عليه أن يفرغ منه اليوم تجوز هذه الإجارة عندهم جميعًا، وإن ذكر الوقت والعمل كذا في الذخيرة. (الفتاوى الهندية: ٤/ ٤٢٤).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

وذكر الحاكم في المختصر ما هو إشارة إلى ذلك وقال: ألا ترى أنه لو استاجره ليعمل له هذا العمل بدرهم وشرط عليه أن يفرغ منه اليوم كان جائزاً. (فتاوى قاضى خان على هامش الهندية: ۲/ ۳۳۲).

په امداد الاحکام کي راځي:

قال فی العالمکیریه: ومما یتصل بهذا الفصل إذا جمع في عقد الإجارة بین الوقت والعمل إذا استأجر رجلًا لیعمل له عملًا الیوم إلی اللیل بدرهمٍ صباغةً أو خبزًا أو غیر ذلك فالإجارة فاسدة في قول أبي حنیفة رحمه الله وفي قولهما یجوز استحسانًا ویکون العقد علی العمل دون الیوم حتی إذا فرغ منه نصف النهار فله الأجر کاملًا، وإن لم یفرغ في الیوم فله أن یعمله في الغد.

د دې ځکه معلومه سوه چي بیان سوی صورت د امام صاحب په اند صحیح نه دئ ځکه چي کار او وخت دواړه یو ځای کړل سوي دي او د صاحبینو په اند استحساناً روا دئ او اجاره پر وخت باندي نه ده منعقد سوې بلکي پر عمل باندي منعقده ده. (امداد الاحکام: ۳/ ۵۴۱).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (درالمختار: ۶/ ۵۹، باب الاجارة الفاسدة، سعید کمپنی – وتبیین الحقائق: ۵/ ۱۳۱، مکتبة ملتان – وشرح المجله: ۲/ ۵۳۹، الماده ۴۶۰، و الفقة الحنیفی فی ثواب الجدید: ۴/ ۴۰۳). والله تعالی اعلم.

د ضرر په سبب و کرایه دار ته د جواب ورکولو حکم

سوال: د یوه سړي په کور کي د ایډز اخیستونکی مریضي ده، د همسایه و کوچنیانو ته د انتقالېدو خطره ده ایا د سرای خاوند و داسي کرایه دار ته جواب ورکولای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي ښه دا ده چي جواب ورنه کړي، خو خلک خبرول په کار دي چي مرض ور ته ونه رسیږي خو که د مودې پر پای ته رسېدو یا د ضرر غالب ګمان وو نو وهغه ته دي عذر وړاندي کړي نو د دې هم ګنجائش سته، خو که چیري د داسي مریضانو له پاره خاص ځای نه وي نو بیا دي جواب نه ورکوي ځکه هر ځای اوسېدل ده ته د غم لامل او د جواب لامل کیږي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

وفي حاشيتها لأبي السعود عن البيري: والحاصل أن كل عذر لا يمكن معه استيفاء المعقود عليه إلا بضرر يلحقه في نفسه أو ماله يثبت له حق الفسخ، قال البيري: يؤخذ منه أن الرجم الذي يقع كثيراً في البيوت ويقال إنه من الجان عذر في فسخ الإجارة لما يحصل من الضرر الخ ما ذكره، أقول: يظهر هذا لو كان الرجم لذات الدار أما لو كان لشخص مخصوص فلا

(فرع كثير الوقوع) قال في لسان الحكام: لو أظهر المستأجر في الدار الشر كشرب الخمر وأكل الربا والزنا واللواطة يؤمر بالمعروف وليس للمؤجر ولا لجيرانه أن يخرجوه فذلك لا يصير عذرا في الفسخ ولا خلاف فيه للأئمة الأربعة، وفي الجواهر: إن رأى السلطان أن يخرجه فعل .... أقول: وفي جامع الفصولين كل فعل هو سبب نقص المال أو تلفه فهو عذر لفسخه . (فتاوى الشامى:٦/ ٨١، باب فسخ الاجارة، سعيد – وكذا فى لسان الحكام، ص ٣٦٨، الفصل الثامن عشر فى الاجارة). والله ﷻ اعلم.

يوازي پر تلاوت د مزدورۍ اخيستلو حکم

سوال: د مصر ځخه چي کوم قاريان راځي هغه پر خپل تلاوت باندي مزدوري غواړي نو ايا په مزدوري ورکولو سره د هغو تلاوت اورېدل روا دي او که نه؟

الجواب: يوازي پر تلاوت مزدوري اخيستل روا نه دي، که خلکو د شرط ځخه پرته اتفاقاً يو ځه ورکړل نو هغه اخيستل روا دي، زموږ د اکابرو له فتوی ځخه همدا معلومېږي. علامه شامي د دې مسئلې په اړه مستقله رساله تصنيف کړي ده چي په رسائلو د ابن عابدين کي شامله ده.

د ناروا والي د دليلو ځخه يو ځو لاندي ليکل سوي دي:

۱ـ عبد الرحمن بن شبل، أنه سمع رسول الله ﷺ يقول: « اقرأوا القرآن، ولاتغلوا فيه، ولاتجفوا عنه، ولاتأكلوا به، ولاتستكثروا به. (رواه ابو يعلى فى مسنده، ۲/ ۱۹۵، ۱۵۱۵، مسند عبد الرحمن بن شبل الانصارى).

وبهامشه قال: اخرجه احمد (۳/ ۴۲۸، ۴۴۴) والطحاوى(۱۲/ ۲) والطبرانى فى الكبير والاوسط والبزار قال فى المجمع(۴/ ۹۵): رجاله ثقات، وذكره (۷/ ۱۶۷) ايضاً، وعزاه السيوطى فى الجامع الصغير (۱/ ۵۱) الى البيهقى ايضاً، وقال الحافظ: سنده قوى، انتهى).

ورواه ابن ابى شيبة فى مصنفه:۵/ ۲۴۰/ ۷۸۲۵، المجلس العلمى. وقال الشيخ محمد عوامة فى تعليق هذا الحديث: رواه احمد والطبرانى وابو يعلى والطحاوى والبيهقى فى الشعب وعبد الرزاق، واسناده قوى، انتهى ملخصاً).

۲ـ عن سليمان بن بريدة عن ابيه قال: قال رسول الله ﷺ: « من قرء القرآن يأكل به الناس جاء يوم القيامة ووجهه عظمة ليس عليه لحم. (رواه البيهقى فى شعب الايمان:۲/ ۵۳۲/ ۲۳۸۴).

رواه ابن ابى شيبة فى مصنفه عن زاذان مرسلاً، وقال الشيخ محمد عوامة فى تعليق هذا الحديث: وهذا له حكم الرفع، فهو مرسل بإسناد سحن، زاذان: هو الكندى، وهو تابعى صدوق، وقد رواه ابو نعيم فى الحلية (۴/ ۱۹۹، من طريق احمد بن يونس، عن الثورى به – ورواه مرفوعاً من حديث بريدة بن حصيب ﷺ: البيهقى فى « الشعب » (۲۶۲۵، ۲۳۸۴) وفى إسناده حفيد الفضل بن دكين: احمد بن ميثم بن الفضل بن دكين، ذكره ابن حبان فى المجروحين (۱/ ۱۴۸) وروى هذا الحديث وحديثاً آخر له، وقال: هذان حديثان لا أصل لهماف وذكره ابن الجوزى فى « العلل التماهية» (۱/ ۱۱۷) انتهى – (المصنف لابن ابى شيبة مع التعليق:۵/ ۲۳۸/ ۷۸۲۴).

هذا الأحاديث وإن كان في بعضها مقال، لكنه يريد بعضها بعضاً. (رسائل ابن عابدين).

وګورئ فقهيه عبارتونه.

په فتاوى شامي کي راځي:

لأن ما أجازوه، إنما أجازوه في محل الضرورة كالاستئجار لتعليم القرآن أو الفقه أو الأذان أو الإمامة خشية التعطيل لقلة رغبة الناس في الخير، ولا ضرورة في استئجار شخص يقرأ على القبر أو غيره . (فتاوى الشامي:٦/ ٦٩١، باب الوصية للاقارب وغيرهم، سعيد).

په محيط برهاني کي راځي:

وقيل : لايجوز الوصية باستئجار القاري ليقرء القرآن وإن كان القاري معيناً وهو قول أبي حنيفة. (المحيط البرهاني:٢٣/ ٣٩، الرياض، السعودية).

وفي رد المحتار: وإن القراءة لشيء من الدنيا لاتجوز. وإن الآخذ والمعطي آثمان، لأن ذلك يشبه الاستئجار على القراءة.... كما أوضحت ذلك في شفاء العليل. (رد المحتار:٢/ ٧٣، مطلب في بطلان الوصية بالختمات والتهاليل، سعيد).

خلاصه پر تلاوت مجرده باندي مزدوري اخيستل روا نه دي په متونو، فتاوا وو او شروحو ټولو کي د دې ممانعت موجود دئ، خو که چيري د داسي په ډول يو څه ورکړل سي نو د دې ګنجائش سته.

وګورئ د ترمذي شريف روايت دئ.

عن أنس بن مالك ﵁ أن رجلاً من كلاب سال رسول الله ﷺ عن عسب الفحل فنهاه، فقال: يا رسول الله! إنا نطرق الفحل فنكرم فرخص لهم في الكرامة. (رواه الترمذي، وقال هذا حديث حسن:١/ ٢٤٠).

په کفايت المفتي کي راځي:

د نصيحت مزدوري دي د اول څخه نه ټاکل کيږي او د نصيحت کونکي په ذهن کي دي هم دا خبره نه وي چي ما ته به خامخا يو څه راکول کيږي او هغه دي يوازي د خداى ﷻ له پاره نصيحت

وکي او يو څوک د احسان په ډول ورده ته يو څه پيسې ورکي نو دا پيسې ورکول روا دي. (کفایت المفتی: ۷/ ۳۱۹، دار الاشاعت).

په امداد الفتاوی کي راځي:

مسئله: د نکاح وقاضي او وکيل او دوو شاهدانو ته چي د ناوي له خوا راځي په خوشحالي د دوی د غوښتلو پرته يو شی ورکول روا دي او که نه؟

الجواب: ودې خلکو ته يو څه ورکول د دوی د غوښتلو پرته مباح دئ.

يو شی چي بل چا ته ورکول کيږي د دې څلور صورتونه دي:

۱ _ چي د متقوم شی په عوض کي لاسته راسي.

۲ _ چي يو شی د غير متقوم شی په عوض کي لاس ته راغلی وي.

۳ _ چي بې عوضه په ښه زړه لاس ته راسي.

۴ _ چي بې عوضه په خفگان لاس ته راسي.

د دريم ډول په اړه حکيم الامت رحمه الله فرمايي: دريم ډول د ډالی په سبب حلال دئ. (امداد الفتاوی: ۲/ ۲۶۵، الصراح فی اجرة النکاح).

وګورئ: دلته دا خبره هم ياد ساتل په کار دي چي کوم قاريان حضرات د بل هيواد څخه د سفر تکليف زغمي او راځي هغو ته د تګ او راتګ او د استوګني د ځای او داسي نورو مصارفو انتظام کول روا دئ او دا په اجرة علی التلاوة کي شامل نه ده، خو د تلاوت په مجلس کي پر قرآن ويلو مزدوري ورکول ناروا ده. ځيني حضرات يې د روا والي قائل دي. همداسي په درمختار کي راځي:

قلت: وكذا ينبغي أن يكون القول ببطلان الوصية لمن يقرأ عند قبره بناءً على القول بكراهة القراءة على القبور أو بعدم جواز الإجارة على الطاعات، أما على المفتى به من جوازهما فينبغي جوازها مطلقًا وتمامه في حواشي الأشباه من الوقف. (الدر المختار: ٦/ ٦٩، سعيد).

وفي حاشية الطحطاوی: والمختار جواز الاستيجار على قراءة القرآن على القبور مدة معلومة. (حاشية الطحطاوی على الدر المختار:٤/ ٣٠، كوئته).

وفي البحر الرائق: فی الحاوي للكرابيسي إذا استأجره ليختم عنده القرآن ولم يسم له أجرًا ليس له أن يأخذ أقل من خمسةٍ وأربعين درهمًا شرعًا أما إذا سمى أجرًا لزم ما سمى لكن يأثم المستأجر إذا عقد على أقل من خمسةٍ وأربعين درهمًا إلا أن يهب المستأجر ما بقي من تمام القدر أو يشترط أن يكون ثواب ما فوقه لنفسه فلا يأثم، وكذا إذا قال: اقرأ بقدر ما قدرت عليه فله من الأجر بقدر ما قرأ، وهذا يجب حفظه كما في المبسوط، أقول: وهذا في عرفهم أما في عرفنا فيجوز ذلك . (تكملة البحر الرائق:٨/ ٢٠، باب الاجارة الفاسدة، كوئته).

خو علامه شامي رحمة الله عليه دا قولونه غير مختار بللي دي همداسي علامه شامي رحمة الله عليه يوه مستقله رساله ((شفاء العليل وبل الغليل فی حكم الوصية بالختمات والتهاليل)) كي ليكلي دي، په دې رساله كي علامه شامي رحمة الله عليه پر دې مسئله مفصل بيان كړی دئ او د جواز قائلينو ته يې جواب هم وركړی دئ.

۞ د درمختار د عبارت جواب:

أقول: ليس كذلك لما في الولوالجية: لو زار قبر صديقٍ أو قريبٍ له وقرأ عنده شيئًا من القرآن فهو حسن، أما الوصية بذلك فلا معنى لها، ولا معنى أيضًا لصلة القارئ لأن ذلك يشبه استئجاره على قراءة القرآن وذلك باطل، ولم يفعله أحد من الخلفاء، وفي كونه مما أجيز الاستئجار عليه تأمل، لأن ما أجازوه إنما أجازوه في محل الضرورة كالاستئجار لتعليم القرآن أو الفقه أو الأذان أو الإمامة خشية التعطيل لقلة رغبة الناس في الخير، ولا ضرورة في استئجار شخصٍ يقرأ على القبر أو غيره . (فتاوى الشامی:٦/ ٦٩١، سعيد).

❁ د علامه سيد احمد طحطاوي د عبارت جواب:

۱ _ د علامه شامي پر بيان سوي رسالې باندي علامه سيد احمد طحطاوي تقريظ كړى دئ چي د رسالې سره طبع (چاپ) سوې ده په هغې كي تر حمد او صلاة وروسته فرمايي:

« أما بعد: فقد اطلعت على هذه الرسالة الثمنية التي هي لنفائس الصواب خزينة المسماة بـ « شفاء العليل وبل الغليل في حكم الوصية بالختمات والتهاليل » فوجدتها رفيعة الشان زاهية العرفان .... تكفلت بجمع أصح النصوص دون أضعفها..... (رسائل ابن عابدين: ص ۱۹۹).

د علامه طحطاوي د دې عبارت څخه معلوميږي چي هغه د خپل عبارت څخه رجوع كړې وه.

۲ _ علامه طحطاوي په پيل كي د دې دروا والي قائل وو خو د نورو منكراتو په سبب يې وروسته ممانعت وفرمايه.

د منكراتو څخه مثلاً د يتيمانو د مال خوړل، ډول وهل، په مجلس كي د ښځو او نارينه وو اختلاط (ګډون) د ډېر شور (رش) په سبب د خوب كونكو په خوب كي خلل اچول او داسي نورو منكراتو ته په كتو سره علامه د استئجار على القراءة څخه ممانعت فرمايلى دئ.

❁ د علامه ابن نجيم رحمه الله د عبارت جواب.

وګورئ علامه شامي رحمه الله فرمايي:

ثم رأيت العلامة الشيخ خير الدين الرملي في حاشيته على البحر رد على صاحب البحر.... حيث قال:....

أقول: المفتى به جواز الأخذ استحساناً على تعليم القرآن لا على قراءة المجردة كما صرح به في التاتار خانية حيث قال لامعنى لهذه الوصية ولصلة القارئ بقراءته لأن هذا بمنزلة

الأجرة والإجارة في ذلک باطل وهي بدعة ولم يفعلها أحد من الخلفاء وقد ذكرنا مسئلة قراءة القرآن.... (رسائل ابن عابدين:ص ١٦٨).

قال العلامة الشامي رحمه الله: ومن أقوى الدلائل على رده أيضاً عبارة الولوالجية وخزانة الفتاوى فإن فيهما التصريح ببطلان هذه الوصية مع التصريح بجواز القراءة عند القبر، فكيف يصح جعل بطلان الوصية مبنياً على القول بعدم جواز القراءة على القبر كما زعمه في البحر وإنما هو مبني على بطلان الاستئجار على القراءة الذي لم يستثنه أحمد من المتأخرين. (رسائل ابن عابدين:١٦٩).

دعدم الجواز د قائلينو عبارتونه وګورئ:

وفي الولوالجية: ولو زار قبر صديق أو قريب له وقرأ.... فهو حسن، أما الوصية في ذلک فلا معنى له.... وذلک باطل. (الفتاوى الولو الجية:٥/ ٣٣٦، بيروت).

وقال العلامة الشامي: ورأيت أيضاً النقل ببطلان هذه الوصية وأنها بدعة عن الخلاصة والمحيط السرخسي والبزازية. (رسائل ابن عابدين:ص ١٦٨).

وفي خلاصة الفتاوى: وفي النوازل: رجل أوصى لقارى القرآن يقرأ عند قبره بشيء فالوصية باطلة. (خلاصة الفتاوى:٤/ ٢٣٤، الفصل الرابع فى الدفن والكفن وما يتعلق بها).

په محيط برهاني کي راځي:

إذا أوصى أن يدفع إلى إنسان كذا من ماله كذا ليقرأ القرآن على قبره فهذه الوصية باطلة، وقيل إذا كان القاري معيناً ينبغي أن يجوز الوصية له على وجه الصلة دون الأجر، وقيل لايجوز وإن كان القاري معيناً وهو قول أبي حنيفة رحمه الله، وكان يقول: لا معنى لهذه الوصية

ولصلة القاري بقراءته لأن هذا بمنزلة الأجرة والإجارة في ذلک باطلة، وهي بدعة ولـم يفعلها أحد من الـخلفاء رضوان الله تعالى عليهم أجـمعين وقد ذكرنا مسألة قراءة القـرآن على القبور في كتاب لاستحسان. (المحيط البرهاني:٢٣/ ٣٩، الرياض، السعودية).

په فتاوى تاتار خانيه كي راځي:

إذا أوصى أن يدفع إلى إنسان كذا من ماله ليقرأ القرآن على قبره فالوصية باطلة لاتـجوز.

(الفتاوى التاتار خانية: كتا الوصايا، فى الفصل التاسع والعشرين).

وفى الطريقة الـمحمدية: (ومنها) أى من أمور مبتدعة ابتدعها الـجهلة الـمغرون لا أصل لـها فى الشريعة (الوصية) من الـميت... (بإعطاء دراهم معدودة) معلومة (لـمن يتلو) أى يقرأ (القرآن لروحه) أى لروح الـميت. (الطريقة المحمدية مع شرحه الحديقة الندية:٢/ ٧٤٢، الفصل الثالث).

وقال العلامة الشامى رحمه الله: إن القراءة في نفسها عبادة يرجى بـها الثواب وقد عرفوا الرياء بأن يراد بالعبادة غير وجهة تعالى فالقاري بـالأجرة ثوابه ما أراد القراءة لأجله وهو الـمال.

(رسائل ابن عابدين:ص ١٦٧).

علامه شامي رحمه الله موږ ورېوې مهمي خبري ته متوجه كوي هغه دا چي ځيني وختونه يو فقهي (فقيه) يو غير مفتى به مسئله نقل كوي وروسته نور خلک پر هغه مسئلي باندي د اعتماد په سبب هغه نقل كوي دا سلسله روانه وي او د نقل كونكو شمېر زيات سي حال دا چي هغه مسئله غير مفتى به وي.

په لوړ مسئله كي داسي سوي دي همداسي په شرح عقود رسم المفتى كي فرمايي:

قلت: وقد يتفق قول في نحو عشرين كتاباً من كتاب المتأخرين ويكون القول خطأ أخطأ به أول واضع له فيأتي من بعده وينقله عنه. (شرح عقود رسم المفتي:ص ٥).

په امداد الاحكام كي راځي:

پر قبرو د قران كريم تلاوت او پر هغه مزدوري اخيستل، په عالمگيري او جوهري كي يې كه څه هم دا روا ليكلي دي چي موده معلومه كړل سي او معلومه وكړل سي خو د عالمگيري او داسي نورو د دې فتوى علامه شامي رحمه الله عليه ترديد او تغليط (غندنه او غلط بلل) كړى دئ نو ځكه صحيح دا ده چي د قرآن پر تلاوت مزدوري اخيستل ناروا ده. لكونه استئجاراً للطاعة وهو لايجوز واستثناء التعليم والأذان والإمامة للضرورة ولاضرورة فيه (صرح به فى رد المحتار). (امداد الاحكام:٣/ ٥٥٧ – وكذا فى معلم الفقه ترجمه اردو مجموعةالفتاوى:٢/ ٢٤٧). والله تعالى اعلم.

د داسي اجارې حكم چي اضافت يې راتلونكي وخت ته سوى وي

سوال: اجاره كه چيري مستقبل ته منسوب كړل سوې وي مثلاً كه چيري يو سړى داسي وايي ((آجرتک هذه الدار بعد شهر)) نو دا روا ده او كه نه؟

الجواب: دا احنافو په مذهب كي دا اجاره روا او صحيح ده..

وګورئ په عالمگيري كي راځي:

إذا أضاف الإجارة إلى وقتٍ في المستقبل بأن قال : آجرتك داري هذه غدًا أو ما أشبهه فإنه جائز فلو أراد نقضها قبل مجيء ذلك الوقت فعن محمدٍ رحمه الله عليه فيه روايتان ، في روايةٍ قال لا يصح النقض ، وفي روايةٍ قال يصح ، كذا في المحيط .(الفتاوى الهندية:٤/ ٤١٠).

وفى الدر المختار: وتصح الإجارة وفسخها والمزارعة والمعاملة.... حال كون كل واحد مما ذكر مضافاً إلى الزمان المستقبل كآجرتک أو فاسختک راس الشهر صح بالإجماع. (الدر المختار:٦/ ٩٣، مسائل شتى).

وفي المحيط: إذا أضاف العقد إلى وقت في المستقبل بأن قال: أجرتك داري هذه غداً وما أشبهه، وأنه جائز بناء على الأصل الذي ذكرنا أن الإجارة تنعقد ساعة فساعة على حسب حدوث المنفعة، فالعقد في حق الحكم كالمضاف إلى وجود المنفعة فمبنى الإجارة في حق الحكم على الإضافة كيف تكون الإضافة مانعة صحة الإجارة .... وفي «فتاوى أبي الليث»: إذا قال لغيره: إذا جاء رأس الشهر فقد أجرتك هذه الدار، إذا جاء غد فقد أجرتك هذه الدار يجوز وإن كان فيه تعليقاً. (المحيط البرهاني:۹/ ۸۷، كتاب الاجارات، مكتبة رشيدية – وكذا في الشامي – وحاشية الطحطاوى على الدر:۴/ ۵۱). والله ﷻ اعلم.

د بانک د مزدورۍ حکم

سوال: يو سړی د جنوبي افريقا په يوه بانک کي کار کوي ايا داسي کار روا دئ او که نه؟ او تنخواېې حلاله ده او که حرامه ده؟ ايا په بانک کي يو ډول حلال کار پيدا کيږي او که نه؟ په يو کار وبار کي سل په سلو کي معامله سودي وي نو هلته د مزدورۍ څه حکم دئ؟ جواب په تفصيل سره را بيان کړئ؟

الجواب: د بانک هغه کار چي خاص د سودي حساب او کتاب او معاملې سره تړا ولري نو ناروا دئ او د هغه تنخوا حلاله نه ده ځکه سودي کومک دئ او د حديث شريف په فحوا (معنا) سره هيڅ ډول سودي کومک کول روا نه دئ، خو د بانک هغه اداري چي د سود سره تړا ونه لري مثلاً په بانک کي چيراستوب (پير داري)، اشپزي، ډريوري، جار وکښي او د داسي نورو مزدوري روا ده او صحيح ده او تنخواېې هم حلاله ده . د ځينو حضراتو دا خيال دئ چي نن سبا د سودي کار وبار څخه پرته نور حلال کار هم په بانک کي وي، مثلاً د برېښنا، ټليفون او داسي نور نو دا بايد روا سي، خو چي په سودي معامله ککړ نه وي بيا هم ځان ورڅخه ژغورل غوره دي.

وګورئ په حديث شريف کي راځي:

عن جابر ﷺ قال: لعن رسول الله ﷺ آكل الربا وموكله وكاتبه وشاهديه وقال هم سواء.

(رواه مسلم: كتاب المساقات والمزارعة، باب الربا:۲/ ۲۷).

په امداد المفتین کې راځي:

په حدیث شریف کې د سود په معاملو کې پر کومک کونکو هم لعنت راغلی دئ. (امداد المفتین: ۲/ ۷۰۳).

په فتاوی بینات کې راځي:

په بانک کې مزدوري کول روا نه دي همداسي د بانک تنخوا روا نه ده د دې لامل دا دئ چې په بانک کې سودي کار وبار کیږي او په بانک کې مزدور جوړېدل په سودي کار وبار کې معاون جوړېدل دي او د هغه څخه تنخوا اخیستل سود دئ او د سود څخه تنخوا اخیستل دي حال دا چې رسول الله ﷺ له سود اخیستلو، ورکولو، لیکلو، شاهدې ورکولو والا او پر ټولو کومک کونکو باندې لعنت ویلی دئ او فرمایلې یې دي چې په ګناه کې ټول سره برابر دي.

په مسلم شریف کې راځي:

وعن جابر رضي الله عنه قال: لعن رسول الله ﷺ آكل الربا وموكله وكاتبه وشاهديه وقال هم سواء. (رواه مسلم، كتاب المساقات والمزارعة، باب الربا: ۲/ ۲۷).

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ سود په خپله خوړونکی او په بل خوړونکی او د سود لیکونکی او د هغه شاهدان پر ټولو یې لعنت فرمایلی دئ او وې فرمایل، چې دا ټول په ګناه کې سره برابر دي. (فتاوی بینات: ۴/ ۷۱، په بانک د ملازمینو د تنخوا حکم).

په نظام الفتاوی کې راځي:

په بانک کې د داسې کار مزدوري کول چې روا وي روا دئ او د هغه هره مزدوري ناروا نه ده. (نظام الفتاوی: ۱/ ۱۹۳).

په فتاوی رحیمیه کې راځي:

کله چې په بانک کې ټول معامله د سودي کار وبار وي نو بیا یې د مزدورۍ قبلولو شرعاً اجازه نه شته.

وعن جابر رضي الله عنه قال: لعن رسول الله ﷺ آكل الربا وموكله وكاتبه وشاهديه وقال هم سواء.

د دې څخه ثابته سوه چي د ګناوو په کار کي کومک کول او په هغه کي يو ډول برخه اخيستل روا نه ده بلکي ګناه ده. خدای جل جلاله فرمايي:

﴿ ولا تعاونوا على الإثم والعدوان ﴾. (سورة المائده: الآية:٢).

ژباړه: او د ګناه، ظلم او زيادتي په کارو کي يو د بل کومک مه کوئ او د الله تعالی وېرېږئ بېشکه الله تعالی سخته سزا ورکونکی دئ. (فتاوی رحيميه:٩/ ٢٨٩).

په اسلام اور جديد معاشي مسائل کي راځي:

سوال: د بانک د کومو کومو ادارو د مزدورانو ګټه ناروا ده؟

جواب: په کومو ادارو کي چي د سود کار کول ضروري وي او د سود کار وبار يا ليکل، يا شاهدي ورکول. د دې په معامله کي يو ډول کومک کول دا ټوله ناروا دي او هغه معاملې چي د هغو د سود سره هيڅ تړاو نه وي لکه يو سړی چي ډرېور يا چپړاسي سي د دغو شيانو ګنجائش سته. (اسلام اور جديد معاشی مسائل:٤/ ١٣٥). **همداسي په** (فتاوی حقانيه:٦/ ٢٥٨).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

د بانک هغه کار کوونکي چي د حساب او کتاب ليکلو او ويلو او معاملې کار کوي په دې ډله کي شامل دي او په ګناه کي کومک کونکي دي ځکه دوی ته دا مزدوري روا نه ده خو تر دې د کښته درجې مزدوري لکه جارو کښي، چوکيداري او داسي نور چي د هغو تړاو د کار وبار او معاملاتو سره نه وي د نفس عمارت ساتنه او يا پر داسي نورو باندي مامور وي دا روا ده. (کتاب الفتاوی:٥/ ٣٩٢). **د زيات تفصيل له پاره وګورئ:** (کفايت المفتی:٧/ ٣٠٧-٣١٠، دار الاشاعت – وفتاوی عثمانی:٣/ ٣٩٥). والله تعالی اعلم.

د بانک د تنخوا حکم

په دې کي اصلي قاعده دا ده چي که اکثره ګټه حرامه وه نو له دې مال څخه هر شی اخيستل حرام دي، که تنخوا وي، که پيسې وي خو په بانک کي چي کومي پيسې وي هغه اکثره حرامي نه وي، په هغه کي اصلي سرمايه وي، د بانک د خاوندانو او نورو د پازيتېرز (خلکو) پسې وي او اکثريت د هغوی وي نو ځکه د مال اکثريت حرام نه وي او که چيري يو روا کار وکوي او د هغه څخه پيسې واخلي نو روا ده. (اسلام اور جديد معاشى مسائل:٤/ ١٣٦).

حضرت مفتي تقی عثماني صاحب بل ځای ليکلي دي:

دبانک د ګټي څلور لاملونه دي:

١_ اصل سرمايه.

٢_ د ډپازيرز پيسې.

٣_ د سود او حرامو کارو ګټه.

۴_ د روا کارو ګټه په دې ټولو کي يوازي درېيم حرام دئ او هغه نورو ته حرام ويلای نه سو او څنګه چي په هر بانک کي اول او دوهم لمبر اکثريت وي نو ځکه دا نه سو ويلای چي په مجموعه کي حرام غالب دي نو ځکه ديو روا کار تنخوا د دې څخه اخيستلای سي، دا يو اساس دئ چي د دې پر بناء علماوو فتوی ورکړې ده چي د بانک داسي مزدوري چي په هغه کي خپله حرام کار کول نه وي نو روا دي خو احتياط په دې کي دئ چي د دې څخه هم ځان وژغورل سي. (فتاوی عثمانی:٣/ ٣٩٥).

په امداد الاحکام کي راځي:

که چيري مزدور ته دا معلومه وي چي دا تنخوا چي ماته راکړل سوه دا د فاسدي بيعي د ثمن څخه راکړل سوه، يا د سود د ګټي څخه راکړل سوه نو د دې اخيستل صحيح نه دي او که چيري ټول سره ګډوډ وي او ده ته معلومه نه وي چي دا تنخوا د صحيحي بيعي د قېمت څخه ده او که د فاسدي بيعي څخه ده نو هغه تنخوا حلاله ده.

قال في الأشباه: غلب على ظنه أن أكثر بياعات أهل السوق لاتخلو عن الفساد، فإن كان الغالب هو الحرام تنزه عن شرائه، لكن مع هذا لو اشتراه يطيب له، قال الحموي: ووجهه أن

كون الغالب هو الحرام لايستلزم كون المشتري حراماً، لجواز كونه من الحلال المغلوب والأصل الحل. (الاشباه مع شرح الحموی:ص ۹۲).

قال الشيخ دام ظله: إذا أعطى الموجر الأجرة من المال المخلوط والأجير عالم بالخلط، فكيف يجوز له أخذها والخبث تمكن بها بالخلط، قلت: هذا على قولهما، وهو الأحوط، ولكن على قول أبي حنيفة رحمه الله فالخلط مستهلك، فإن قيل هذا يفيد ملكه لأجل استمتاعه به، قلت: عبارات الفتاوى تدل على جواز الاستمتاع أيضاً على قوله قال في فتاوى قاضي خان: إن كان غالب مال المهدى من الحلال، لابأس بأن يقبل الهدية ويأكل مالم يتبين عنده أنه حرام، لأن أموال الناس لاتخلو عن قليل حرام فيعتبر الغالب.... (امداد الاحكام:۳/ ۵۳۳). والله تعالى اعلم.

د حرام او ناروا شیانو د دوکان د مزدورۍ حکم

سوال: ایا د داسي مسلمان ګټه حلاله ده چي د کافرانو په داسي هوټلو کي کار کوي په کوم ځای کي چي شراب، خنزیر او نور حرام شیان پلورل کیږي؟

الجواب: د مسلمان ته د یوه کافر د دوکان مزدوري کول روا او صحیح دي خو په دې شرط چي مسلمان شراب یا خنزیر په کافرانو ونه خوري یا یې خپله پر مشتري (براه راست) ونه پلوري او نه یې ورڅخه رانیسي ځکه چي مباشرةً دا کار کول د مسلمان له پاره ناروا دئ.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

عن أنس بن مالك رضي الله عنه لعن رسول الله ﷺ في الخمر عشرة عاصرها ومتعصرها وشاربها وحاملها والمحمولة إليه وساقيها وبائعها وآكل ثمنها والمشتري لها والمشتراة له . (رواه الترمذی:۱/ ۳۸۰، باب ماجاء فی بیع الخمر).

حضرت انس بن مالک رضي الله عنه بیان کوي چي رسول الله ﷺ د شرابو په اړوند پر لسو کسانو لعنت فرمایلی دئ، شراب نښیتزونکي، هغه څوک چي د هغه له پاره شراب را ایستل کیږي، څښونکي، پورته کوونکي او د چا له پاره چي پورته کول کیږي، ساقي (وبل چا ته ورچښونکي)، پلورونکي، د شرابو په پلورلو د هغو قیمت خوړونکي او رانیوونکي او د چا له پاره چي رانیول کیږي.

په فتاوی عالمګیري کي راځي:

وإذا استأجر الذمي مسلمًا ليحمل له ميتةً أودمًا يجوز عندهم جميعًا .... ولو استأجر مسلمًا ليرعى له الخنازير يجب أن يكون على الخلاف كما في الخمر ولو استأجره ليبيع له ميتةً لم يجز هكذا في الذخيرة، مسلم آجر نفسه من مجوسي ليوقد له النار لابأس به كذا في الخلاصة... وسئل إبراهيم بن يوسف رحمه الله عمن آجر نفسه من النصارى ليضرب لهم الناقوس كل يومٍ بخمسةٍ ويعطى كل يومٍ خمسة دراهم في ذلك العمل وفي عملٍ آخر درهمان قال لا يؤاجر نفسه منهم ويطلب الرزق من طريقٍ آخر ، ويكره أن يؤاجر نفسه منهم لعصر العنب ليتخذوا منه خمرًا كذا في الحاوي للفتاوى . (الفتاوى الهندية:٤/ ٤٥٠ – وكذا في فتاوى قاضي خان على هامش الهندية:٢/ ٣٢٤).

په قاموس الفقه کي راځي:

څنګه چي خپله یو ناروا او خلاف شریعت کار کول صحیح نه دي همداسي په داسي کارو کي مزدوري او کومک کول هم صحیح نه دئ څکه نو په بانک، انشورنس، شراب خانو او د قحبه خانو داسي مزدوري روا نه ده چي په هغو کي یوه سړي سود، قمار، شراب یا قحبه د کار وبار لامل جوړ سي د دې وخوا ته خلک را وبولي د سود حساب او کتاب ولیکي خو چوکیداري او داسي نوري مزدوری يې کولای سي څکه چي د دې په مستقیم ډول د دغو کارو سره تړاو نه سته. (قاموس الفقه:١/ ٥٠٠، د ناروا کار ومزدوری).

په فقهي مقالات کي راځي:

د یوه مسلمان له پاره د کافر په هوټل کي مزدوري کول روا ده په دې شرط چي هغه مسلمان د شرابو ساقي یا خنزیر یا د نور حرام شیان د کافرانو ومخته د وړاندي کولو عمل ونه کړي ځکه چي شراب په بل چا چیښل یا هغه د نورو ومخ ته وړاندي کول حرام دي او د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه د فتوی څخه دا خبره هم واضحه سوه چي که چیري په منطقه کي د شرابو جوړولو یا د هغو پلورل او رانیول عام رواج وو هلته هم د هیڅ مسلمان له پاره د ګټي له پاره د شرابو کاروبار غوره کول حلال نه دئ.

(فقهی مقالات:۱/ ۲۵۰ -۲۵۲).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

کوم کار چي ناروا وي د هغه کار مزدوري هم ناروا ده، یو بل د ګټي ځای دي پیدا کړي او دغه مزدوري دي پرېږدي. (فتاوی محمودیه:۱۷/ ۱۲۱، جامعه فاروقیه).

په تالیفات رشیدیه کي راځي:

د کفارو مزدوري چي په هغه کي د شریعت خلاف نه وي صحیح ده. (تالیفات رشیدیه:ص ۴۲۰).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د شرابو پلورل او رانیول او د ساقي توب مزدوري روا نه ده او د یوه بل کار له پاره د کافر د شرابو په کاروبار کي مزدوري کولو ګنجائش سته خو په دې کي هم څو دیني خطرونه سته نو ځکه ځان ورڅخه ساتل بنه دي. (احسن الفتاوی:۷/ ۳۳۲).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (امداد الاحکام:۳/ ۵۳۳ – وفقهی مقالات:۲۵۲-۲۵۵). والله تعالی اعلم.

د فټ بال د لوبغاړي د مزدورۍ حکم

سوال: د فټ بال د لوبغاړي د مزدورۍ څه حکم دئ ځکه چي د لوبي په وخت کي یې د دوو ورنو نیمه برخه ښکاریږي؟

الجواب: د فټ بال په لوبه کي څنګه چي په عام ډول د لوبغاړو ورنونه ښکاره وي ځکه په داسي شکل ورون ښکاره کول او لوبه کول ناروا دي خو لوبغاړي پر ورون پټولو هم قدرت لري او مزدوري

یوازي د لوبي ده و د ورانه ښکار کولو نه ده، نو ځکه مزدوري یې حرامه نه ده او لوبغاړي اجیر خاص دئ ځکه هغه خپل ځان ور تسلیموي نو د مزدورۍ حق لري.

په ابو داؤد شریف په روایت کي راځي:

حدثنا عبد الله بن مسلمة عن مالكٍ عن أبی النضر عن زرعة بن عبد الرحمن بن جرهدٍ عن أبيه قال: كان جرهد هذا من أصحاب الصفة قال: جلس رسول الله ﷺ عندنا وفخذی منكشفة فقال: « أما علمت أن الفخذ عورة ». (رواه ابو داؤد: ۲/ ۵۵۷، باب النهی عن التعری، فيصل).

په مشکوة شریف کي راځي:

وعن علي رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال له: يا علي لاتبرز فخذک ولاتنظر إلى فخذ حی ولاميت. رواه ابو داؤد، وابن ماجه.

وعن محمد بن جحش رضي الله عنه قال: مر رسول الله ﷺ على معمر وفخذاه مشكوفتان قال: يا معمر غط فخذيک فإن الفخذين عورة. رواه في شرح السنة. (مشکوة شریف: ۲/ ۲۶۹، باب النظر الى المخطوبة).

په هدایه کي راځي:

والأجير الخاص الذي يستحق الأجرة بتسليم نفسه في المدة وإن لم يعمل كمن استؤجر شهراً للخدمة أو لرعي الغنم وإنما سمي أجير وحد لأنه لا يمكنه أن يعمل لغيره لأن منافعه في المدة صارت مستحقة له والأجر مقابل بالمنافع ولهذا يبقى الأجر مستحقاً وإن نقض العمل. (الهداية: ۳/ ۳۱۰، باب ضمان الاجير). والله تعالیٰ اعلم.

د فیشن ماډل د مزدورۍ حکم

سوال: د فیشن د ماډل حکم څه دئ؟ یعني کله چي نوي موډ توکران راسي د ښکاره کولو له پاره ښایستي ښځي په مزدوري راولي او په نمائش ګاه کي د خپل لڅ بدن سره د هغو توکران نمایش کوي بیا د هغه اشتهارونو چاپیږي او د هغه مزدوري اخیستل کیږي ایا دا مزدوري اخیستل روا ده او که نه؟

الجواب: د فیش ماډل مزدوري اخیستل ناروا ده ځکه د بدن د اندامو ښکاره کول د ګټي ذریعه جوړ سوې ده او د شریعت قانون دا دئ چي ښځي له سره بیا تر پایه دي پټي (په ستر) کي وي او ونورو محرمو ته د بدن د جوړ ښکارول او لڅ کېدل حرام او ناروا دي او داسي ښځي بايد د الله ﷻ د غضب څخه وبېرېږي او د داسي عمل څخه توبه کول اړين دي.

په قرآن کریم کي راځي:

﴿ يا أيها النبي قل لأزواجك وبناتك ونساء المؤمنين يدنين عليهن من جلابيبهن ﴾ . (سورة الاحزاب، الآية:۵۹).

وقال تعالى: ﴿ ولا يبدين زينتهن إلا ما ظهر منها وليضربن بخمرهن على ﴾. (سورة النور،ب الآية:۳۱).

وقال تعالى: ﴿ وقرن في بيوتكن ﴾. (سورة الاحزاب، الآية:۳۳).

وقال: ﴿ قل للمؤمنين يغضوا من أبصارهم ويحفظوا فروجهم ذلك أزكى لهم إن الله خبير بما يصنعون (۳۰) وقل للمؤمنات يغضضن من أبصارهن ﴾ . (سورة نور ۳۰-۳۱).

عن عبد الله رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: المرأة عورة فإذا خرجت استشرفها الشيطان. (رواه الترمذي:۱/ ۲۲۰، ابواب الرضاع).

عن رافع بن خديج رضي الله عنه عن رسول الله ﷺ قال: ثمن الكلب خبيث ومهر البغي خبيث وكسب الحجام خبيث . (رواه مسلم:۲/ ۱۹، باب تحريم ثمن الكلب).

وفی العیون لاتجب أجرة المغنیة وفی المنتقی امرأة نائحة أو صاحبة طبل أو صاحبة مزامیر اکتسبت مالاً إن کانت علی شرط ردته علی أربابها إن علموا وإن لم یعلموا تصدقت به وإن من غیر شرط فهو لها قال الإمام الأستاذ رحمه الله: لا یطیب والمعروف کالمشروط.

(الفتاوی البزازیة بهامش الهندیة: ۵/ ۱۲۵، العاشر فی الخظر والا باحة). والله تعالی اعلم.

د دلالۍ د مزدورۍ حکم

سوال: یو سړی موټر پلورل غواړي او یو چا دې له پاره د رانیوونکي تلاښ وکړ نو تلاښ کونکی د خپل تکلیف په عوض کي یو څه پیسې اخیستلای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي هغه د رانیوونکي پلټونکی (دلال) د خپل تکلیف تاکل سوې مزدوري اخیستلای سي او دا روا او صحیح ده.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

قال: من البزازیة إجارة السمسار والمنادي والحمامي والصکاك وما لا یقدر فیه الوقت ولا العمل تجوز. (ردالمحتار: ۶/ ۴۷).

په بل ځای کي راځي:

تتمة: قال في التاترخانیة: وفي الدلال والسمسار یجب أجر المثل، وما تواضعوا علیه أن في کل عشرة دنانیر کذا فذاك حرام علیهم. وفي الحاوي: سئل محمد بن سلمة عن أجرة السمسار فقال: أرجو أنه لا بأس به وإن کان في الأصل فاسداً لکثرة التعامل وکثیر من هذا غیر جائز، فجوزوه لحاجة الناس إلیه کدخول الحمام. (فتاوی الشامی: ۶/ ۶۳، مطلب فی اجرة الدلال، سعید).

همدا ډول وګورئ: (امداد الاحکام: ۳/ ۵۵۵، ۵۸۹ – وامداد الفتاوی: ۳/ ۳۶۳ – وفتاوی محمودیه: ۱۶/ – واحسن الفتاوی: ۷/ ۲۷۳). والله تعالی اعلم.

د اجير خاص د اوږدي مودې له پاره د درولو حکم

سوال: که چيري يو چا د کمپنۍ ويوه مزدور ته تربيه ورکړه او کاريې ور زده کړ او پر ده يې تکليف وکړ او پر ده يې پيسې ولګولې او دى يې مزدور مقرر کړ او بيا يې وده ته ووېل. چي که دي تر پنځه کاله مخکي مزدوري پرېښوله نو پر تا به دومره جرمانه وي يا به ته د قانون منګولو ته سپارل کېږې اوس هغه مزدور يو کال وروسته کار پرېښول غواړي نو پر مزدور دوى زور اچولاى سي او که نه؟

الجواب: دغه مزدور تر پنځو کالو درولو دا تدبير کېدلاى سي چي هغه مزدور د پنځو کلو له پاره دوروي مثلاً دا ورته ووايي، چي موږ ته د پنځو کالو له پاره درولى يې او د پنځو کالو تنخوا دومره ده، اوس ستا خوښه ده که غواړې چي د پنځو کالو وروسته تنخوا درکړل سي يا يې مياشتګي اخلې د داسي اجارې د ټاکلو سره مزدور تر ټاکل سوي وخت وړاندي د سخت پرته عذره مزدوري نه سي پرېښولاى، هغه به د مالک سره پر اوسېدلو باندي مجبور وي او تر مودې وړاندي به د قانوني چلن اجازه وي.

وګورئ په فتاوى بزازيه کي راځي:

لايجوز عقدها حتى يعلم البدل والمنفعة وبيان المنفعة بأحد ثلاث بيان الوقت وهو الأجل وبيان العمل والمكان. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٥/ ١١، كتاب الاجارات).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما في الأجير الخاص فلا يشترط بيان جنس المعمول فيه ونوعه وقدره وصفته ، وإنما يشترط بيان المدة فقط وبيان المدة في استئجار الظئر شرط جوازه بمنزلة استئجار العبد للخدمة لأن المعقود عليه هو الخدمة. (بدائع الصنائع:٤/ ١٨٤، كتاب الاجارة، سعيد).

په تبيين الحقائق کي راځي:

والخاص يستحق الأجر بتسليم نفسه في المدة ، وإن لم يعمل كمن استؤجر شهرًا للخدمة .... سمي أجيرًا خاصا وأجير وحِدٍ ؛ لأنه يختص به الواحد وهو المستأجر وليس له أن يعمل لغيره ؛ لأن منافعه في المدة صارت مستحقةً له والأجر مقابل بها فيستحقه ما لم يمنعه من العمل مانع . (تبيين الحقائق:٥/ ١٣٧، ملتان).

په عالمګيري کي راځي:

وأما في الأجير الخاص فلا يشترط بيان جنس المعمول فيه ونوعه وقدره وصفته ، وإنما يشترط بيان المدة فقط وبيان المدة في استئجار الظئر شرط جوازه بمنزلة استئجار العبد للخدمة (لأن المعقود عليه هو الخدمة). (الفتاوى الهندية:٤/ ٤١١). والله ﷻ اعلم.

د ناوي د برابرولو د مزدورۍ حکم

سوال: مسلمان د بدن په ښايسته کولو او د شکل په زړه راکښونکي ميدانو کي مزدوري کولای سي او که نه؟ همداسي د ناوي جوړولو مزدوري اخيستل روا دي او که نه؟

الجواب: د شريعت په چوکاټ کي د شکل او بدن ښايسته کول او هغه زړه راکښونکي جوړول او د هغه مزدوري کول روا او صحيح دي.

حضرت عائشه ﷺ فرمايي، چي کله يې زه ورسول الله ﷺ ته ور ودولمه نو زما مور زه ورېو ځو ښځو ته ور وسپارلمه هغو زما شکل او بدن سم کړ او تر هغه وروسته زه واده سوم.

عن عائشة ﷺ قالت: تزوجني النبي ﷺ وأنا بنت ست سنين فقدمنا المدينة فنزلنا في بني الحارث بن خزرجٍ .... فأتتني أمي أم رومان .... ثم أخذت شيئًا من ماءٍ فمسحت به وجهي ورأسي ثم أدخلتني الدار فإذا نسوة من الأنصار في البيت فقلن على الخير والبركة ، وعلى خير طائرٍ فأسلمتني إليهن فأصلحن من شأني فلم يرعني إلا رسول الله ﷺ ضحًى فأسلمتني إليه

وأنا يومئذٍ بنت تسع سنين. (رواه البخاري: ۱/ ۵۵۱، باب تزويج النبي ﷺ عائشة وقدومه المدينة وبنائه بها).

پہ شرح منظومه ابن وهبان كي راځي:

تكميل: بذكر إجارة الماشطة لتزيين العروس: قال في البزازية: استاجر ماشطة لتزيين العروس لا يحل لها الأجر لعدم صحة الإجارة إلا على وجه الهدية، والصوب أنه إن ذكر العمل والمدة يجوز، وألحقت ذلك في بيت فقلت:

وما حل أجر للمواشط أو نعم ۞ إذا عمل والوقت يذكر حرروا.

(شرح منظومة ابن وهبان: ۲/ ۷۸، فصل من كتاب الاجارة).

پہ فتاوى قاضي خان كي راځي:

ولو استاجر مشاطة لتزيين العروس قالوا: لا يطيب لها الأجر إلا أن يكون على وجه الهدية بغير شرط ولا تقاض، قال مولانا رحمه الله تعالى: وينبغي أن الإجارة إذا كانت مؤقتة وكان العمل معلوماً ولم تنقض التمثال والصور جازت الإجارة ويطيب لها الأجر لأن تزيين العروس مباح. (فتاوى قاضي خان بهامش الفتاوى الهندية: ۲/ ۳۲٤، باب الاجارة الفاسدة).

پہ الفقه علي المذاهب الاربعه كي راځي:

وتصح إجارة الماشطة لتزيين العروس بشرط أن يذكر العمل أو مدته في العقد. (الفقه على المذاهب الاربعة: ۳/ ۹۸، مبحث ماتجوز اجارته ومالاتجوز).

وفي الدر المختار: وجاز إجارة الماشطة لتزيين العروس إن ذكر العمل والمدة، بزازية.

وفي الشامية: قوله والمدة، عبر في الذخيرة وغيرها بأو فالو او هنا بمعناها. (الدر المختار مع رد المحتار: ٦/ ٦٣، باب الاجارة الفاسدة، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د دلال شخه د کار نه کولو په صورت کي بیر ته د پیسو اخیستلو حکم

سوال: زموږ په سیمه کي یو سړی مثلاً زید وعمر ته پنځه لکه روپۍ د کاغذاتو جوړولو له پاره ورکړي، عمر پیسې په اداره کي لوړ پوړو چارواکو ته ورکړي او هغو پیسې واخیستلې خو هیڅ کاریې ونه کئ اوس سوال دا دئ چي ایا پر عمر لازمه ده چي د زید پیسې بیر ته ورکړي او که نه؟

الجواب: که چیري زید وعمر ته پیسې ورکړي وي چي عمر به دده کار کوي او دده د کار ذمه واري یې قبوله کړې وي لکه څنګه چي په عام ډول داسي کیږي نو د کار د نه کولو په صورت کي پر عمر د بیر ته پیسو ورکولو ذمه واري راځي، مثلاً که چیري یو څوک د ډوډۍ د پخولو له پاره په مزدوری ودرول سي او ډوډۍ د تنور څخه تر را کښلو وړاندي وسوځل سي نو پر ده تاوان راځي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ولو احترق (أى الخبز) قبله (قبل إخراجه) لا أجر له ويغرم اتفاقاً لتقصيره، درر وبحر.

وفی الشامية: قوله لتقصيره أى بعدم القلع من التنور. (الدر المختار مع رد المحتار:٦/ ١٦، سعيد).

همداسي که چیري یو چا نانوای ودرا وه چي موږ ته ډوډۍ را پخه کړه او هغه ډوډي وسوځله یا یې سمه پخه نه کړه نو پر ده تاوان راځي.

قال فی الدر المختار: فإن أفسد أى الطعام الطباخ أو أحرقه أو لم ينضجه فهو ضامن للطعام. (الدر المختار:٦/ ١٧، سعيد).

همداسي که چا شیدې ورکونکي ښځه د کوچني له پاره د شیدو ورکولو په هدف مقرره کړه او مرضعې وکوچني ته د بزې شیدې ورکولې نو دا د مزدورۍ حق نه لري.

په هدایه کي راځي:

وقال فی الهداية: وإن أرضعته فی المدة بلبن شاة فلا أجر لها، لأنها لم تأت بعمل مستحق عليها، وهو الإرضاع فإن هذا إيجار وليس بإرضاع. (الهداية:٣/ ٣٠٥).

خو که عمر دا ورته ویلي وي چي د کار زه ذمه وار نه یم او یوازي د وکیل په شکل ستا پیسې تر رئیس پوري رسوم نو بیا پر عمر باندي ذمه واري نه سته.

قال فی البدائع: ومنها أی من حقوق التوكيل وأحكامها، أن المقبوض فی يد الوكيل بجهة التوكيل بالبيع والشراء وقبض الدين والعين وقضاء الدين أمانة بمنزلة الوديعة. (بدائع الصنائع:٦/ ٣٤، كتاب الوكالة، سعيد).

او كه يې صراحت ډول كړی نه وي نو بيا به عرف ته كتل كيږي او په عرف كي دومره ډېري پيسې د كار پر ذمه واري وركول كيږي څكه به عمر ذمه وار وي، خو كه عمر په حقيقت كي مجبوره وي نو زيد دي ده سره رعايت وكي. والله تعالیٰ اعلم.

د دوكان تر پرېښولو مخكي د خبر وركولو د شرط حكم

سوال: يوه سړي له زيد څخه دوكان د مياشتي په دوه زره روپۍ په كرايه ونيوئ د دوكان خاوند په معاهده كي دا وليكل چي د دوكان تر پرېښولو به درې مياشتي وړاندي خبر راكول ضروري وي او د نه خبر په صورت كي به د درو مياشتو زياته كرايه راكول ضروري وي ايا داسي شرط لګول صحيح دي او كه نه؟

الجواب: دا معامله د مالي جرمانې د قبيل څخه ده، د كومو علماوو په اند چي مالي جرمانه لګول روا دي هغه دې صورت ته روا وايي او كوم علماء چي مالي جرمانه صحيح نه ګڼي نو د هغو په اند دا صورت روا نه دئ. د مالي جرمانې تفصيل په فتاوى دار العلوم زكريا: څلورم جلد كي تېر سوی دئ.

همداسي كه پر كوم مزدور باندي شرط ولګول سي چي د مزدورۍ تر پرېښولو درې مياشتي وړاندي به موږ ته وايي او د مخالفت په صورت كي به ته د درو مياشتو تنخوا وكمپنۍ ته وركوې د دې هم هماغه جواب دئ چي وړاندي بيان سو.

همداسي كه د حكومت له خوا څخه د مزدور په حق كي داسي قانون وو چي مالک د درو مياشتو وړاندي خبرولو څخه پرته جواب نه سي وركولای د مخالفت په صورت كي به مزدور د حكومت په زور له مالكه د درو مياشتو تنخوا زياته ولاس ته راوړلای سي. د دې هم هماغه حكم دئ. والله تعالیٰ اعلم.

د کرایې د ځمکې د مالیې حکم

سوال: زید د عمر څخه یو جریب ځمکه دیوه کال په اجاره په پنځه سوه روپۍ ونیوله د دې ځمکې مالیه پر چا ده پر مالک ده او که پر کرایه دار ؟

الجواب: په معاهده کې چې کومه خبره وسوه هماغه صحیح ده، پر مالک باندې لګول یا پر کرایه دار باندې لګول په دواړو کې چې یې پر کومه یوه ولګوي صحیح ده او که پریوه هم د لګولو بیان ونه سو، نو بیا به و عرف ته کتل کیږي په عرف او عادت کې چې پر چا باندې لګول رواج وي پر هغه به ولګول سي نو صحیح به وي. خو په مزارعت کې مالیه پر مالک باندې راځي وګورئ. (فتاوی عثمانی:۳/ ۳۸۰). والله تعالی اعلم.

د مضبوط کس د یوه معلوم کار له پاره په مزدورۍ د درولو حکم

سوال: د زید یو مکان دئ چې له ډېره وخته د عمر سره په کرایه دئ عمر د دې کرایه اداء کوي او د مودې وپای ته تر رسېدو وروسته زید عمر له دې ځای څخه جوابول غواړي ځکه چې زید خپله ودې ځای ته ضرورت لري عمر ځای نه پرېږدي ایا زید ویوه بل مضبوط کس ته یوه ټاکلې مزدوري ورکولای سي چې عمر د دې ځایه څخه وباسي او که نه؟

الجواب: د مودې تر پوره کېدو وروسته د عمر په زوره اوسېدل ظلم دئ نو ځکه یو مضبوط کس ته مزدوري ورکول او عمر په زور ایستل صحیح دي . د یوه خاص روا او معلوم کار له پاره مزدور درول په شریعت کې صحیح دي. والله تعالی اعلم.

د کرایه دار څخه د ډپازټ اخیستلو حکم

سوال: ډپازټ اینبول صحیح دي او که نه؟ مثلاً یو سړی په کرایه کور غواړي او د ځای مالک دا ورته وایي، چې ته زما سره پنځوس زره پیسې ډپازټ کښېږده نو به زه ځای په کرایه درکړم اوس څه کول په کار دي؟ همداسي دا د ډپازټ پیسې قرض دي که رهن ؟ بیا په دې کې دوه شکله دي کله کله د دې په سبب په کرایه کې کمولي راځي او کله کله بیا نه راځي، مثلاً کرایه درې زره ده نو د ډپازټ په سبب دوه زره کیږي؟

الجواب: كه چيري د دپارتړ د پيسو د كارولو اجازه نه وه نو دا رهن دئ نو د دې دا ګټه ده كه چيري كرايه دار يو شي يا مكان خراب كړي يا كرايه اداء نه كي نو د دې مرهون څخه به يې كاټوي او كه يې د استعمال اجازه وركړي وي نو دا قرض دئ خو د دې په سبب په كرايه كي كموالی د سود په زمره كي راځي چي ناروا دئ.

وګورئ علامه خصكفي د رهن تعريف داسي كوي او فرمايي:

هو حبس شيء مالی أی جعل الشيء محبوساً لأن الحابس هو المرتهن بحق يمكن استيفاؤه أی أخذه منه. (الدر المختار، كتا الرهن، كوئته).

په در الاحكام كي راځي:

هو حبس المال بحق يمكن أخذه أی الحق منه أی من المال.

په جديد فقهي مسائل كي راځي:

د دپارتړ او د ضمانت په ډول وركړل سوو پيسو مسئله د فكر كولو وړ ده او په ظاهره داسي معلوميږي چي دا يو ډول رهن دئ. (جديد فقهی مسائل:۱/ ۲۱۷).

بيا د خپلي رايي په وړاندي كولو سره فرمايي، زما خيال دئ چي داسي د ضمانت د پيسو په اخيستلو كي څه تاوان نه سته او د دې د قرضو حيثيت دئ. (جديد فقهی مسائل:٤/ ۱۳۰-۱/ ۲۱۷).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (ايضاح النوا در:۲/ ۲۰ – او جديد فقهی مباحث:۷/ ۷۳۳ – وآپ كی مسائل اور ان كا حل:٦/ ۱٤۰ – ومحمود الفتاوی:۳/ ۹۰).

د قرض په صورت كي د كرايې د كمولو اجازه نه سته.

وګورئ په حديث شريف كي راځي:

وقال عليه الصلاة والسلام كل قرض جر منفعة فهو رباً. إسناده ضعيف مرفوعاً لا موقوفاً.

(اتحاف الخيرة المهرة:۳/ ۳۹۰ – و رواه الحاكم والبيهقی فی سننه الكبری). والله ﷻ اعلم.

په استاک ایکسیچینج کې د بروکرې حکم (د حصو یا شیرز د مخورې دلالۍ حکم)

سوال: په استاک ایکسیچنج کې د دلالې په حیثیت کار کول روا دي او که نه؟

الجواب: د استاک ایکسیچینج بنیاد پر دغو معاملو دئ چې یو دلال یې سر ته رسوي همداسې یو بروکر د دلال په حیثیت شیرز رانیولو او پلورلو په متعلق په کاروبار کې د شیرز پلورونکو او د حصو رانیوونکي په منځ کې د پنځه ډوله اړیکو کار کوي:

۱_ حاضره سودا، دا د رانیولو او پلورلو د دلالۍ عامه او اسانه ډول دئ چې دلال د خپلو اړیکو او معلوماتو په اساس د یو سړي څخه د شیرز قیمت اخلي یا د دې د اخیستلو له پاره په راتلونکي وخت کې یو تاریخ معلومه وي د دې له پاره د یو شیرز هولډر څخه شیرز رانیسي او ده ته یې ورسپاري او پر دغه دلالې د هغه سړي څخه معلوم عوض غواړي.

۲_ ځیني وختونه د رانیوونکي سره پیسې نه وي نو دلال د تنخوا لاس ته راوړلو له پاره د ده د طرف څخه د شیرز د قیمت ټوله یا ځیني برخه اداء کوي، د ده له پاره شیرز رانیسي او ده ته یې ورکوي بیا یو څو ورځې د رانیوونکي د قیمت د ورکولو مهلت بېله سوده وي او تر دې وروسته یې دلال د ده څخه اخلي په همدې اصطلاح کې (Sale on marqin) وایي.

۳_ دلال د رانیوونکي د تنخوا له پاره غیر مملوک شیرز هم پلوري، یوازي په دې هیله یا یقین چې وروسته به یې رانیسم چې هغه ته شارټ سیل ویل کیږي.

۴_ د دلال او رانیوونکي په منځ کې د رانیولو او پلورلو په اړه د معاملې نسبت و راتلونکي ته کیږي چې هغه ته فارورډ سیل ویل کیږي.

۵_ دلال د سټه معامله کوي چې په اصطلاح کې فیوچر سیل ورته وایي، چې وضاحت یې وړاندې تېر سوی دئ.

د دې ټولو صورتو څخه یوازې اول صورت روا دئ او په نورو څلورو صورتو کې بیعه فاسدیږي پر قمار یا سود باندې د شاملیدو په سبب ناروا دئ، نو ځکه په استاک ایکسیچنج کې که یو څوک د بروکر په حیثیت کار کوي او خپل ځان د دې معاملاتو د مرتکب کېدلو څخه ژغورلای سي چې ناروا او حرام دي نو د ده له پاره په دې اداره کې کار کول روا دي (مزدوري کول روا دي) او که ممکن نه وي نو د حصصو دلالي دې نه کوي او خپل ځان دې په حرامو کې د مبتلاء کېدلو څخه وژغوري.

په جدید فقهي مباحث کي راځي:

په اسټاک ایکسیچیج بازار کي د رانیولو او پلورلو له پاره واسطه جوړېدونکو ته بروکر ویل کیږي چي په دې وخت کي د شیرز رانیولو او پلورلو باندي پوهیږي او د رانیولو او پلورلو معاملې لیکي نو د داسي سړي حیثیت نمائنده (ایجنټ) او اجیر مشترک دئ په نورو لفظو کي بروکر ته (دلال) ویل کیږي که چیري داسي خلک د حلال کاروبار کونکي کمپنیو سره د بروکر (لاسپوځي) په حیثیت کار کوي نو دا شرعاً روا دي نو د ودی تنخوا به شرعاً حلاله وي. (جدی فقهی مباحث:٦/ ١٢٥).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (اسلام اور جدید معیشت وتجارت:ص ١١٠-١١٢ – جدید فقهی مباحث:١٦ جلد – جدید معاملات کی شرعی احکام:١/ ١٠٨ – وفتاوی عثمانی:٣/ ١٨٥). والله ﷻ اعلم.

پر شرعي علومو او طاعاتو د مزدورۍ اخیستلو حکم

سوال: دلته زموږ په هیواد پاکستان کي یوه ډله داسي خلک سته چي هغه دا عقیده لري او په خلکو کي یې مشهوره وي چي د قرآن او حدیث او نورو شرعي علومو پر تعلیم مزدوري حرامه او ناروا ده او په استدلال کي لیکل سوی آیت او حدیث شریف وړاندي کوي؟

قال الله تعالى: ﴿ ولا تشتروا بآياتي ثمنًا قليلًا ﴾. (سورة المائدة، الآية:٤٤).

وعن عبادة بن الصامت ﷺ قال: علمت ناساً من أهل الصفة الكتابة والقرآن فأهدى إلي رجل منهم قوساً فقلت: ليس بمال وأرمي بها في سبيل الله فسألت رسول الله ﷺ عنها فقال: إن سرك أن تطوق بها طوقاً من نار فاقبلها.

او نور دلیلونه هم وړاندي کوي خو عمده او مضبوط دلیلونه دغه دوه نصوص دي چي بیان سول تاسو مهرباني وکړئ پر طاعاتو د مزدورۍ اخیستلو په اړه مو د شرعي حکم څخه خبري کړئ او د دې

دليلو جوابونه هم راته بيان کړئ؟ همداسې د حديث قوس فني حيثيت بيان کړي؟ جواب په تفصيل راکړي؟

الجواب: داحنافو په مذهب کي داًئمه ثلاثه وو اصل مذهب دا دئ چي پر طاعاتو مزدوري اخيستل ناروا دي، دغو قول اکثره ارباب متونو غوره کړی دئ خو متاخرينو د ضرورت په سبب د بيت المال څخه د ښوونکو د هداياوو د قطعه کېدلو په اساس د جواز فتوی ورکړي ده نو ځکه دا زموږ په زمانه کي فتوی د تعليم او داسي نورو پر مزدوری د روا والي باندي ده، د دې څخه پرته متاخرينو نقهاوو دا فرمايلي دي، چي د امام ابوحنيفه رحمه الله او صاحبينو د عدم جواز د فتوی بنياد پر تقوی باندي دئ، يا پر سد باب دي چي قرآن د کسب او معاش او تجارت ذريعه جوړ نه سي پر شرعي علومو او طاعاتو باندي د مزدوری اخيستلو دپر دليلونه سته د ((مشت نمونۀ خروار)) په ډول موږ يو څو کتونکو ته ډالۍ کوو:

١ _ قال الله تعالى: ﴿ فإن أرضعن لكم فآتوهن أجورهن ﴾. (سورة الطلاق، الآية:٦).

والإرضاع من الطاعات، ومع هذا أمر الله تعالى بأداء أجرته إلى المرضع.

٢ _ روى ابن أبي شيبة في « المصنف» (١١/ ٢٧/ ٢١٢٢٨)، والبيهقي في « السنن الكبرى » (٦/ ١٢٤) عن الوضين بن عطاء، قال: كان بالمدينة ثلاثة معلمين يعلمون الصبيان، فكان عمر بن الخطاب رضي الله عنه يرزق كل واحد منهم خمسة عشر كل شهر.

٣ _ روى ابن سلام (١٧٣)، والمنذري في « الأوسط » (٥٦٣٤)، والبيهقي في « السنن الكبرى » (٩/ ١٣٦) بإسناد صحيح: أن عمر بن الخطاب رضي الله عنه بعث عمار بن ياسر رضي الله عنه إلى أهل الكوفة على صلاتهم وجيوشهم، وعبد الله بن مسعود رضي الله عنه على قضائهم وبيت مالهم وعثمان بن حنيف رضي الله عنه على مساحة الأرض، ثم فرض لهم في كل يوم شاة بينهم، قال: أو قال: جعل لهم في كل يوم شاة: شطرها وسواقطها لعمار رضي الله عنه، والشطر الآخر بين هذين.

٤ـ وروى ابن سلام (٦٤٥) أن عمر بن عبد العزيز رحمه الله بعث يزيد بن أبي مالك الدمشقي رحمه الله، والحارث بن يمجد الأشعري رحمه الله، يفقهان الناس في البدو، وأجرى عليهما رزقاً. فأما يزيد فقبل، وأما الحارث فأبي أن يقبل، فكتب إلى عمر بن عبد العزيز رحمه الله بذلك، فكتب عمر رحمه الله: إنا لانعلم بما صنع يزيد بأساً، وأكثر الله علينا مثل الحارث بن يمجد.

٥ـ روى أحمد (٢٢١٦) والحاكم (٢/ ١٤١)، والبيهقي في «السنن الكبرى» (٦/ ١٢٤) عن ابن عباس رضي الله عنه قال: كان ناس من الأسرى يوم بدر لم يكن لهم فداء، فجعل رسول الله ﷺ فداء هم أن يعلموا أولاد الأنصار الكتابة.

٦ـ روى البخاري (٥٧٣٦) عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه أن ناساً من أصحاب النبي ﷺ أتوا على حي من أحياء العرب فلم يقروهم، فبينماهم كذلك إذ لدغ سيد أولئك، فقالوا: هل معكم من دواء أو راقٍ؟ فقالوا: إنكم لم تقرونا ولانفعل حتى تجعلوا لنا جعلاً، فجعلوا لهم قطيعاً من الشاء، فجعل يقرأ بأم القرآن ويجمع بزاقه ويتفل، فبرأ، فأتوا بالشاء، فقالوا: لا نأخذه حتى نسأل النبي ﷺ، فسألوه، فضحك وقال: «وما أدراك أنها رقية، خذوها واضربوا لي بسهم».

لكن هذا الحديث في الرقية دون التعليم، والرقية من قبيل العلاج يجوز أخذ الأجرة بها.

٧ـ وفي رواية أخرى عن ابن عباس رضي الله عنه: .... قالوا: يا رسول الله آخذ على كتاب الله أجراً فقال رسول الله ﷺ: «إن أحق ما أخذتم عليه أجراً كتاب الله». (صحيح البخاري:٥٧٣٧).

۸- روى ابن عدى فى « الكامل » (٥/ ١٥٢) عن عائشة رضي الله عنها سألت رسول الله ﷺ عن كسب المعلمين، فقال: « إن أحق ما أخذ عليه الأجر لكتاب الله تعالى». وقال: « هو حديث منكر »/

۹- روى أحمد (٢١٨٣٦)، وأبو داؤد (٣٩٠٣)، والنسائي فى « الكبرى (١٠٨٠٤)، والبيهقي في « الشعب » (٢١٥٠)، وغيرهم عن خارجة بن الصلت عن عمه أنه مربقوم فأتوه فقالوا: إنك جئت من عند هذا الرجل بخير، فأرق لنا هذا الرجل، فأتوه برجل معتوه في القيود فرقاهم بأم القرآن ثلاثة أيام غدوة وعشية كلما ختمها جمع بزاقه ثم تفل، فكأنما أنشط من عقال، فأعطوه شيئاً، فأتى النبي ﷺ فذكره له، فقال النبي ﷺ: « كل لعمرى من أكل برقية باطل، لقد أكلت برقية حق».

١٠ – في « صحيح البخاري » : « باب رزق الحكام والعاملين عليها، وكان شريح القاضي يأخذ على القضاء أجراً. وقالت عائشة رضي الله عنها: يأكل الوصي بقدر عمالته. وأكل أبو بكر رضي الله عنه وعمر رضي الله عنه ».

١١- روى عبد الرزاق فى « المصنف » (١٥٢٨٢) عن الحاكم: أن عمر بن الخطاب رضي الله عنه رزق شريحاً وسلمان بن ربيعة الباهلي على القضاء.

١٢- روى ابن أبي شيبة فى « المصنف » (٢٢٢٢٨)، وابن المنذر فى « الأوسط » (٦٥٣٣) عن نافع قال: كان يزيد بن ثابت يأخذ على القضاء أجراً.

١٣- روى ابن أبي شيبة فى « المصنف » (٢٢٢٣٣) عن ابن أبي ليلى قال: بلغنى أن علياً رضي الله عنه رزق شريحاً خمس مئة.

۱٤ – روى ابن سعد فى « الطبقات الكبرى » (۳/ ۱۸٤) بإسناد صحيح عن ميمون الجزري قال: لما استخلف أبو بكر رضي الله عنه جعلوا له ألفين، فقال: زيدوني فإن لي عيالاً وقد شغلتموني عن التجارة، قال: فزادوه خمس مئة، قال: إما أن تكون ألفين فزادوه خمس مئة، أو كانت ألفين وخمس مئة فزادوه، أو كانت ألفين وخمس مئة فزادوه خمس مئة.

والتعليم يشبه بالخلافة والقضاء من حيث كونه عبادة نفعها متعد.

۱۵ – روى مسلم ۲٤۰۵) عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال: إني عملت على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم فعملني، وفى الحديث قصة.

والتعليم كعمل العامل في كونهما عبادة نافعة للغير.

۱٦ – روى أبو داؤد (۲۸۷٤) عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده أن رجلاً أتى النبي صلى الله عليه وسلم فقال: إني فقير ليس لي شيء ولي يتيم، قال: فقال: « كل من مال يتيمک غير مسرف ولا مبادر ولا متأثل» .

وخدمة اليتيم في تعدى النفع وعدم وجوبها على العين.

وفي أكل الوصي من مال اليتيم بالمعروف أحاديث وآثار ذكرها المفسرون في تفسير الآية :

﴿ومن كان فقيرًا فليأكل بالمعروف﴾. (سورة النساء، الآية:٦).

۱۷ – روى أبو داؤد (۲۹٤۷) عن المستورد بن شداد قال: سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول : « من كان لنا عاملاً فليكتسب زوجة، فإن لم يكن خادم فليكتسب خادماً فإن لم يكن له مسكن فليكتسب مسكناً » .

أی يجوز للوالي أن يأخذ من بيت المال قدر كفايته من النفقة والكسوة لنفسه، ولمن يلزمه نفقته، ويتخذ لنفسه منه مسكناً وخادماً.

۱۸ - روى الخطيب في « التاريخ » (۲/ ۸۱) بإسناده عن الحسن البصري أن عمر بن الخطاب رضي الله عنه وعثمان بن عفان رضي الله عنه كانا يرزقان المؤذنين والأئمة والمعلمين والقضاة.

۱۹ - روى البيهقي في « معرفة السنن والآثار » (٥/ ۳۸۲/ ٤۳۰۳) بإسناده عن إبراهيم بن سعد عن أبيه: أن عمر رضي الله عنه كتب إلى بعض عماله: أن أعط الناس على تعليم القرآن، فكتب إليه إنک كتبت إلي أن أعط الناس على تعليم القرآن فتعلمه من ليس فيه رغبة إلا في الجعل، فكتب إليه أن أعطهم على المروءة والصحابة.

وللاستزادة انظر: (تكملة عمدة الرعاية حاشية شرح الوقاية:۳/ ۳۰۱، رقم الحاشية:٦).

د عدم جواز د دلائلو جائزه:

۱ـ دآیت کریمه عبارت: ﴿ولا تشتروا بآياتي ثمنًا قليلًا﴾. **جواب:**

د بیان سوي آیت هدف دا دئ چي ((لاتأخذوا على تحريف آياتي مالاً من الناس)) **یعني د ایاتو په تحریف کولو سره پر دې له خلکو څخه مال مه غواړئ په دې کي د ایاتو پر تعلیم د مزدورۍ اخیستلو ممانعت نه دئ راغلی او د دې دلیل بل آیت کریمه دئ.**

﴿ فويل للذين يكتبون الكتاب بأيديهم ثم يقولون هذا من عند الله ليشتروا به ثمنًا قليلًا ﴾.

(سورة البقرة:۷۹).

۲ـ قال الله تعالى: ﴿ إن كثيرًا من الأحبار والرهبان ليأكلون أموال الناس بالباطل ويصدون عن سبيل الله ﴾. (سورة التوبة، الآية:۳٤).

الجواب: په دې آیت کریمه کې الله تعالی پر سود اخیستلو د هغوی مذمت کړی دئ نه پر تعلیم د مزدورۍ اخیستلو په سبب او د هغو د دې فعل بد والی الله تعالی په قرآن کریم کې ښخې دېر ځایونه بیان فرمایلي دئ چې پټ او پوشیده نه دي. «علمت ناساً من أهل الصفة الكتابة والقرآن فأهدى إلي رجل منهم قوساً»

۳_ د حدیث شریف «علمت ناساً من أهل الصفة الكتابة والقرآن فأهدى إلي رجل منهم قوساً» څیړنه.

نوموړی حدیث د درو صحابه وو څخه روایت سوی دئ. (۱) حضرت عباده بن الصامت رضي الله عنه، (۲) حضرت ابو درداء رضي الله عنه (۳) حضرت ابی ابن کعب رضي الله عنه.

أما حديث عبادة بن لصامت رضي الله عنه : فأخرجه أحمد (٢٢٦٨٩)، وابن أبي شيبة (٢١٢٣٧)، و أبو داؤد (٣٤١٦)، وابن ماجه (٢١٥٧)، والبيهقي في « السنن الكبرى » (٦/ ١٢٥)، والحاكم (٢/ ٤١) من طريق مغيرة بن زياد الموصلي، عن عبادة بن نسي، عن الأسود بن ثعلبة، عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه قال: علمت ناساً من أهل الصفة القرآن ولكتابة، فأهدى إلي رجل منهم قوساً، فقلت: ليست بمال، وأرمي عنها في سبيل الله، فسألت رسول الله ﷺ، عنها، فقال: « إن سرك أن تطوق بها طوقاً من نار فاقبلها».

قال الحاكم: « صحيح الإسناد» لكن تعقبه الذهبي بقوله: « مغيرة صالح الحديث وقد تركه ابن حبان» .

قلت: إسناده ضعيف، الأسود بن ثعلبة مجهول، مغيرة بن زياد فيه كلام، وقد خالفه بشر بن عبد الله السلمي ــ وهو حسن الحديث ــ فرواه عن عبادة بن نسى، عن جنادة بن أبي أمية، عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه.

أخرجه أحمد (٢٢٧٦٦)، وأبو داؤد (٣٤١٧)، والحاكم (٣/ ٣٥٦)، وقال: صحيح الإسناد »، ووافقه الذهبي، وصححه أيضاً أحمد شاكر في تعليقاته على « مسند الإمام أحمد » (٢٢٦٦٥).

قلت : إسناد حسن، فإن رجاله كلهم ثقات معروفون غير بشر هذا، وقد روى عنه جماعة ووثقه ابن حبانف وابن عساكر كما في تعليقات الشيخ أحمد شاكر على « مسند الإمام أحمد». وقال الحافظ فيه: صدوق» .

وأما حديث أبي الدراء: أخرجه البيهقي في « سنن الكبرى » (٦/ ص١٢٦) من طريق عثمان بن سعيد الدارمي، عن عبد الرحمن بن يحيى بن إسماعيل بن عبيد الله: حدثنا الوليد بن مسلم حدثنا سعيد بن عبد العزيز، عن إسماعيل بن عبيد الله، عن أم الدرداء، عن أبي الدرداء أن رسول الله ﷺ قال: « من أخذ قوساً على تعليم القرآن قلده الله قوساً من نار ».

قال التركماني: إسناده جيد.

وقال الحافظ فى « التخليص الحبير» (٤/ ١٤): « رواه الدارمي ـ يعني عثمان بن سعيد الدارمي، لا الدارمي المشهور صاحب السنن ــ بسند على شرط مسلم من حديث أبي الدرداء، لكن شيخه عبد الرحمن بن يحيى بن إسماعيل لم يخرج له مسلم، وقال فيه أبو حاتم: ما به باس».

وأما حديث أبي بن كعب رضي الله عنه: فأخرجه ابن ماجه (١٢٥٨)، والبيهقي فى « السنن الكبرى» (٦/ ١٢٥-١٢٦) من طريق ثور بن يزيد: حدثنا خالد ابن معدان ــ وأسقط البيهقي منه خالد بن معدان ــ حدثني عبد الرحمن، عن عطية الكلاعي، عن أبي ابن كعب رضي الله عنه قال: علمت رجلاً

القرآن، فأهدى لي قوسًا، فذكرت ذلك لرسول الله ﷺ، فقال: « إن أخذتـها أخذت قوسًا من نارٍ ». فرددتـها.

قلت: إسناده ضعيف، وفيه ثلاث عللل:

الأولى: الانقطاع بين عطية وأبي بن كعب رضي الله عنه: وقال العلائي في « المراسل »: « عطية بن قيس عن أبي بن كعب رضي الله عنه مرسل ». ذكره البوصير في « الزوائد» (٣/ ١٧). وقال البيهقي في « السنن الكبرى» (٦/ ١٢٥): «منقطع ».

الثاني: جهالة عبد الرحمن بن سلم، قال الحافظ فى « التقريب »: « مجهول ».

الثالثة: الاضطراب، قال الذهبي فى « الميزان (٢/ ٥٦٧) ،فى حديثه هذا: « إسناده مضطرب». وقال المزي فى « تهذيب الكمال » (١٧/ ١٤٧): « في إسناد حديثه اختلاف كثير». وأقره الحافظ فى « التهذيب» (٦/ ١٧٠).

ولحديث أبي رضي الله عنه طرق أخرى ذكرها الشيخ شعيب الأرنؤوط في تعليقاته على « سنن ابن ماجه » (٣/ ٢٨٧-٢٨٨) فراجعها إن شئت.

والجواب عن حديث عبادة بن الصامت رضي الله عنه:

أ- هذا الحديث منسوخ بقول النبي ﷺ: « إن أحق ما أخذتم عليه أجراً كتاب الله». (صحيح البخارى:٥٧٣٧).

وللاستزادة انظر: (معرفة السنن والآثار للامام البيهقي:٥/ ٣٨١-٣٨٢، دار الكتب العلمية بيروت).

وهذا وارد في مثل الرقية وكذلك التعليم، دون القراءة لإيصال الثواب.

والأحسن أن يقال: إن الناسخ هو: « تهادوا تحابوا » (أبو يعلى:٦١٤٨، بإسناد حسن).

وكان النبي ﷺ يقبل الهدية ويثيب عليها. (صحيح البخاری:٢٥٨٥).

وأخرج ابن حبان فی صحيحه (٤/ ٥٧٤/ ١٦٨٠) عن أبي محذورة.... أنه قال: فلما فرغ من التأذين دعاني وفأعطاني صرة فيها شيء من فضة .... الخ.

قال الشيخ شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرطهما.

ب – إذا لم تبلغ الرواية درجة الصحة وكانت مخالفة لأصول الدين فلا يعمل بها، وهذه الرواية كذلک، فإن المذكور فيها أن أحداً من أصحاب الصفة أهدى إلى عبادة بن الصامت رضي الله عنه شيئاً، وليس فيه أنه دفع الأجرة. والأصل أن الهدية لا بأس به بالاتفاق، لكن هذا الحديث ينهى عن ذلک أشد النهي.

ج – لعل منعه ﷺ عبادة بن الصامت رضي الله عنه عن قبول الهدية كان لأجل فقر المهدي وكونه مضطراً، فنبه النبي ﷺ على أنه ينبغي أن يهدي إليه، لا أن يؤخذ منه شيء.

د – ليس فی الرواية ذكر الأجرة قطعاً فلا يصح الاستدلال بها على عدم جواز أخذ الأجرة على الطاعات.

وللاستزادة انظر: (نصب الراية لأحاديث الهداية للامام جمال الدين الزيلعي:٤/ ١٣٦-١٣٨، باب الاجارة الفاسدة، بيروت).

٤ – عن عثمان بن أبي العاص رضي الله عنه قال: إن من آخر ما عهد إلي رسول الله ﷺ أن اتخذ مؤذناً لايأخذ على أذانه أجراً. (أخرجه أصحاب السنن الأربعة وحسنه الترمذی، وأخرجه الحاكم وصححه، والبيهقي فی « السنن الكبرى » (١/ ٤٢٩) وأحمد فی « مسنده » (١٦٢٧٠) والخزيمة فی « صحيحه » (٤٢٣).

تمسک به من منع الاستئجار على الأذان ولادليل فيه لجواز أنه صلى الله عليه وسلم أمره بذلک أخذاً للأفضل كذا قاله الطيبي. (التعليق الصبيح:۱/ ۲۹۹، لمولانا ادریس الکاندهلوی).

وقال الشيخ الغورغشتوي في تعليقاته على مشكاة المصابيح (۶۹): هذا محمول على الاستحباب.

وقال الإمام الترمذي رحمه الله: استحبوا للمؤذن أن يحتسب في أذانه. (جامع الترمذی:۱/ ۵۱).

۵- ذكر ابن الجوزي رحمه الله: من رواية ابن عباس رضي الله عنه مرفوعاً: «لاتستأجروا المعلمين» وفي إسناده أحمد بن عبد الله الهروي، قال: وهو دجال يضع الحديث، وهذا من صنعه، ووافقه صاحب «التنقيح» على ذلک، والله أعلم. (نصب الراية الاحاديث الهداية:۴/ ۱۳۸؟، باب الاجارة الفاسدة). والله تعالی اعلم.

د عین مستاجره مشترکه د کرایې حکم

سوال: که چیري دوه کسان ټکسي رانیسي او یو ورک سو او حاضر د ټکسی ټول قیمت اداء کړ او ورک درې میاشتي وروسته راغئ او نیمي قیمت یې اداء کړ اوس ورک سړي د درو میاشتو په ګټه کي شریک دئ او که نه؟ او که چیري حاضر دا وچلوله نو د درو میاشتو تنخوا د خپل شریک د برخي څخه لاس ته راوړلای سي او که نه؟

الجواب: کله چي حاضر د را نیوونکي غائب له خوا د وکالت په ټول قیمت اداء کي نو په مبیعه کي دواړه شریکان سول او کله چي په مبیعه کي شریکان سول نو د دې په منافعو کي به هم شریکان وي، نو ځکه هغه ورک به د درو میاشتو په ګټه کي هم شریک وي خو څنګه چي شریک موجود نه دئ او د هغه وکیل هم نه سته نو ځکه د هغه د حصې تنخوا هم اخیستلای نه سي ځکه د اجارې په عقد کي د جانبینو رضا او د عقد موجود والی ضروري دئ چي دی د چلونکي د تکلیف په مقابل کي یو څه ورکړي.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

ولو غاب أحد المشتريين فللحاضر دفع كل الثمن وقبضه وحبسه حتى ينقد شريكه.... فصار كمعير الرهن وصاحب العلو والوكيل بالشرء إذا أدى الثمن من ماله. (البحر الرائق:٦/ ١٧٥، كوئته).

په بل ځای کي راځي:

وكل واحد منهما قائم مقام صاحبه في التصرف فكان شراء أحدهما كشرائهما... (البحر الرائق:٥/ ١٧٠، كوئته).

وقال في الهداية: الإجارة عقد يرد على المنافع بعوض. (الهداية:٣/ ٢٩٣، كتاب الاجارات).

وفي الفتاوى الهندية: أما تفسيرها شرعاً فهي عقد على المنافع بعوض. (الفتاوى الهندية:٤/ ٤٠).

په احسن الفتاوی کي دیوه تفصیلي سوال په جواب کي بیان سوی دئ:

زید د خپل پلار سره پر کار کولو تنخواونه ټاکله نو دا کار کول یې تبرع ده خو پلار ته په کار ده چي د زید تکلیف ته په کتو سره د هغه مناسب کومک وکړي. (احسن الفتاوی:٦/ ٣١٩). والله ﷻ اعلم.

د عقد پرته د کرایې غوښتلو حکم

سوال: زید د عمر ځمکه د همسایه توب او یا داندیوالۍ په سبب ډېر وخت استعمال کړه او عمر پر ده باندي انکار هم ونه کاوو او نه د کرایې څه معامله وسوه بیا د عمر تر مرګ وروسته هم زید استعمالوله خو چا هیڅ نیوکه پر ونه کوله او نه یې وغوښتله خو اوس د عمر وارثانو وویل چي دا ځمکه بې اجازې کارول سوې نو ځکه د ټېرو سوو کلو کرایه دي اداء کړل سي اوس پوښتنه دا ده چي ایا پر زید د تېر سوي کلو کرایه داء کول لازم دي او که نه؟

الجواب: زید د عمر ځمکه د عاریت په ډول وکاروله او دا عرفي اجازه ده، او اوس د ځینو وارثانو کرایه غوښتل او دا دعوه کول چي بې اجازې یې کارولې ده دا بې دلیله ده او په دې سره حکم نه

ثابتیږي یعني د دې بې دلیله دعوې هیڅ اعتبار نه سته د دې ځخه پرته د اجارې هیڅ عقد سوی نه دئ په دې اساس د کرایې غوښتل هم صحیح نه دي ځکه چي د کرایې اداء کول د اجارې د عقد نتیجه او ثمره ده او دلته اجاره سوې نه ده. لاندي دلیلونه وګورئ.

په شرح مجله کي راځي:

المادة: لایجوز لأحد أن یتصرف فی مال الغیر إلا باذنه .... ثم الإذن قد یکون صریحاً.... وقد یکون دلالة. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسی:۱/ ۲٦۲، رشیدیه).

وفی المحیط البرهاني: في عاریة الواقعات: رجل أراد أن یستمد عن محبرة غیره فهذا علی ثلاثة: أوجه: الأول أن یستأذنه، وفي هذا الوجه له أن یفعل ذلك إلا أن ینهاه .

والثاني: أن یعلمه وفي هذا الوجه له ذلك أیضاً إذا لم ینهه؛ لأنه إذا لم ینهه فهو إذن له دلالة . الثالث: إذا لم یستأذنه ولم یعلمه، وإنه علی وجهین: إن کان بینهما انبساط فله أن یفعل ذلك لمکان الإذن عرفاً، وإن لم یکن بینهما انبساط لیس له أن یفعل؛ لأنه في الإذن عرفاً تودد.(المحیط البرهانی:٦/ ۱٦۳،رشیدیة).

په عالمګیري کي راځي:

أما تفسیر ها شرعاً فهو عقد علی المنافع بعوض کذا فی الهدایة. (الفتاوی الهندیة:٤/ ٤۰۹).

وفي الفقه الحنفي فی ثوبه الجدید: الإجارة فی الشرع عبارة عن العقد علی المنافع بعوض هو مال، فتملیک المنافع بعوض إجارة، وبغیر عوض إعارة. (الفقه الحنفی فی ثوبه الجدید:٤/ ۳۳۹، دار القلم، دمشق). والله ﷻ اعلم.

د بانک د ضمان جوړېدو په صورت کي د مزدورۍ حکم

سوال: زید د حسن څخه مال را وغوښتئ او بانک په منځ کي کفیل او ذمه وار سو اوس بانک د دې کفالت مزدوري غوښتلای سي او که نه؟

الجواب: په شریعت مقدس کي د کفالت عقد یو احسان دئ او له پیله د نېکۍ معامله ده پر دې باندي مزدوري اخیستل روا او صحیح نه دي، خو د کاغذاتو د لیکلو او داسي نورو د مزدورۍ اخیستلو گنجائش سته نو ځکه په پوښتل سوي صورت کي بانک پر کفالت مزدوري نه سي غوښتلای خو پر لیکلو او داسي نور کاغذي کار باندي مزدوري اخیستل روا او صحیح دي.

وگورئ په فتح القدیر کي راځي:

والكفالة عقد تبرع كالنذر لايقصد به سوى ثواب الله أو رفع الضيق عن الحبيب فلا يبالى بما التزم فى ذلک .... فكان مبناها التوسع. (فتح القدير:٦/ ٢٩٨، مكتبة الرشيدية).

قال فى رد المحتار: في المجتبى عن الفضلي تحمل الشهادة فرض على الكفاية كأدائها وإلا لضاعت الحقوق وعلى هذا الكاتب إلا أنه يجوز له أخذ الأجرة على الكتابة دون الشهادة فيمن تعينت عليه بإجماع الفقهاء وكذا من لم تتعين عليه عندنا وهو قول للشافعي وفي قول يجوز لعدم تعينه عليه شلبي. (رد المحتار:٥/ ٤٦٤، كتاب الشهادات).

وفي المبسوط للعلامة السرخسي رحمه الله: لأن الكتابة عمل معلوم وهو يتحقق من المسلم والكافر ثم الاستئجار عليه متعارف وقيل الاستئجار على الكتابة كالاستئجار على الصياغة .... أو كالاستئجار على النقش وذلك جائز إذا كان معلوماً عند أهل الصنعة. (المبسوط:١٦/ ٤٢).

والله تعالى اعلم.

د تاوان د شرط سره د یو شي په کرایه د ورکولو حکم

سوال: نن سبا ځیني کمپنۍ خلکو ته لوښی په کرایه ورکوي او دا شرط لګوي چي څومره لوښی مات سي د هغو تاوان به اخیستل کیږي په شریعت کي تاوان سته او که نه؟ که چیري د تاوان شرط ونه لګوي نو په یو څو میاشتو کي به کمپنۍ د لوی تاوان سره مخ سي او دا هم معلومه نه وي چي لوښی بې اختیاره مات سوه او که یې قصداً مات کړه؟ د مهربانۍ له مخي د شرعي حکم څخه مو خبر کړئ او لوی ثواب لاس ته راوړئ؟

الجواب: په اجاره کي پر عین مستاجره باندي قبضه د امانت قبضه وي او د فقهاوو د عبارتو څخه معلومیږي چي پر امین باندي د ضمان شرط باطل دئ خو په یو څو صورتو کي فقهاوو پر امین باندي د ضمان د شرط د جواز قول غوره کړی دئ مثلاً پر اجیر مشترک د تاون په سلسله کي ځینو فقهاوو فرمایلي دي، چي د خلکو د مالونو د ساتني په خاطر تاوان لګول اړین دي او دغه سبب (لامل) په یاد پوښتل سوي صورت کي هم ثابت دئ له همدې کبله د تاوان د شرط د جواز په اړه مفتیانو حضراتو ته فکر کول په کار دي.

وګورئ په تبیین الحقائق کي راځي:

يفسد الإجارة الشروط لأنها بمنزلة البيع أي فكل ما أفسد البيع أفسدها وأراد بالشروط شروطاً لايقتضيها العقد. (تبيين الحقائق:٥/ ١٢١، ملتان).

په الفقه الحنفی في ثوبه الجدید کي راځي:

العين المستاجرة أمانة فى يد المستاجر إن تلفت بغير تفريط لم يضمنها .... فإن شرط الموجر على المستاجر ضمان العين فالشرط فاسدلانه ينا فى مقتضى العقد... (الفقه الحنفى فى ثوبه الجديد:٤/ ٣٦١).

په الدر المختار کي راځي:

ولا تضمن بالهلاک من غیر تعد وشرط الضمان باطل کشرط عدمه فی الرهن خلافاً للجوهرة حیث جزم بصیرورتها مضمونة بشرط الضمان.... (الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٦٥٩، سعيد).

په خلاصة الفتاوي كي راځي:

ولو دفع الثياب إلى صاحب الحمام واسأجره وشرط عليه الضمان إذا تلف قال الفقيه أبو بكر: يضمن الحمامي إجماعاً وكان يقول: إنما لايجب الضمان عند أبي حنيفة رحمه الله إذا لم يشترط الضمان والفقيه أبو جعفر سوى بينهما وكان يقول بعدم الضمان قال الفقيه أبو الليث وبه آخذ ونحن نفتي به. (خلاصة الفتاوى:٣/ ١٣٧).

په شرح عقود رسم المفتى كي راځي:

والعرف في الشرع له اعتبار ۞ لذا عليه الحكم قد يدار

واعلم أن اعتبار العادة والعرف رجع إليه في مسائل كثيرة حتى جعلوا ذلک أصلاً .... ثم اعلم أن العرف قسمان عام وخاص فالعام يثبت به الحكم العام ويصلح مخصصاً للقياس والأثر.... (شرح عقود رسم المفتى:ص ٧٥-٨١). والله تعالى اعلم

د مستاجر شی پر غلا کېدو د تاوان حکم

سوال: كه چيري د كرايې شيان ورک سول يا غلا سي نو تاوان پر اينبول روا دئ او كه نه؟

الجواب: د فقهاوو د عباراتو څخه معلوميږي چي د كرايې شيان د مستاجر په قبضه كي د امانت په ډول دي، نو ځكه كه ده يې په ساتنه كي سستي كړې نه وي نو تاوان نه راځي، نو نن سبا په عامه توګه د مستاجرينو غفلت او بې پروايي په سبب داسي پېښې مخته راځي او دا معلومول هم مشكل دئ چي ايا ده كوتاهي كړې ده او كه يا؟ بيا د ډېرو خلكو حال خو داسي دئ چي د كمپنۍ شيان په مزدوري يوسي او په راوړلو (بيرته ور كولو) كي يې ډېره سستي كوي چي په دې كار سره د كمپنۍ ډېر تاوان

وي، په دې اساس تولو عوارضو ته په کتو سره استحساناً به د تاوان حکم ورکول کيږي، نو د دې گنجائش به وي او علماء بايد په دې مسئله کي فکر وکړي او د دې نظير د فقهاو په کلام کي د اجير مشترک دئ چي د صاحبينو د مذهب سره سم استحساناً پر ده تاوان لگول د خلکو د مالونو د ساتني له پاره روا دي.

وگورئ په شرح مجله کي راځي:

المأجور أمانة فى يد المستاجر إن كان عقد الإجارة صحيحاً أو لم يكن لايلزم الضمان إذا تلف المأجور فى يد المستاجر ما لم يكن بتقصيره أو تعديه أو مخالفته لمأذونيته. (شرح المجلة:٢/ ٧٠٣، المادة: ٦٠٠ - ٦٠١).

وفي الدر المختار: ولايضمن ما هلک فى يده وإن شرط عليه الضمان.... قوله ولايضمن.... وفى البدائع.... وقالا: يضمن إلا من حرق غالب أو لصوص مكابرين وهو استحسان.... وقولهما قول عمر رضي الله عنه وعلي رضي الله عنه وبه يفتى احتشاماً لعمر وعلى وصيانة لأموال الناس. (الدر المختار مع رد المحتار:٦/ ٦٥، سعيد).

وفي التبيين: لأن تضمين الأجير المشترک كان نوع استحسان عندهما صيانة لأموال الناس.... فيجب عليه الضمان بما يمكن التحرز عنه حتى لايتوانى فى حفظها وفى حاشية التبيين: حتى لايقصر في حفظها أو لايأخذ إلا بقدر ما يحفظه. (تبيين الحقائق:٥/ ١٣٨، ط: ملتان).

وفي شرح عقود رسم المفتى: فقد ظهر لک أن جمود المفتى أو القاضي على ظاهر المنقول مع ترک العرف والقرائن الواضحة والجهل بأحوال الناس يلزم منه تضييع حقوق كثيرة وظلم خلق كثيرين. (شرح عقود رسم المفتى:ص ٨١). والله تعالى اعلم.

پر اجير خاص باندي د شرط لګولو حکم

سوال: زيد ديوې کمپنۍ خاوند دئ ده وعمر ته وويل چي ته به زما د کمپنۍ مال پلورې او د تنخوا څخه پرته به په سلو کي درې فيصده تا ته زيات درکول کيږي خو شرط دا دئ چي د بل چا مال به نه ور پلورې، ايا دا معامله د شريعت په رڼا کي روايښت لري او که نه؟

الجواب: دا معامله د شريعت مقدس په رڼا کي روا او صحيح ده ځکه په دې صورت کي به عمر د اجير خاص حيثيت ولري نو ځکه دا شرط صحيح او روا دئ او بيا د تنخوا څخه پرته په سلو کي درې فيصده به وده ته د دلالۍ په توګه ورکول کيږي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

وفي الحاوي: سئل محمد بن سلمة عن أجرة السمسار فقال: أرجو أنه لا بأس به وإن كان في الأصل فاسداً لكثرة التعامل وكثير من هذا غير جائز، فجوزوه لحاجة الناس إليه كدخول الحمام. (فتاوى الشامي:٦/ ٦٣، سعيد).

د هدايې مصنف يو قانون او يوه ضابطه بيان کړې ده وګورئ:

إلا أن يكون متعارفاً لأن العرف قاضٍ على القياس ولو كان لا يقتضيه العقد ولا منفعة فيه لأحد لايفسده. (الهداية:٣/ ٥٩).

همداسي پر اجير خاص باندي د شرط لګولو په اړه وګورئ په الدر المختار کي راځي:

بأن استأجره للرعي حيث يكون مشتركاً إلا إذا شرط أن لا يخدم غيره ولايرعى لغيره فيكون خاصاً.... وليس للخاص أن يعمل لغيره. (الدر المختار:٦/ ٦٩، سعيد).

په فتاوی سراجيه کي راځي:

وشرط أن لأ يرعى مع غنمه غنماً آخر جاز. (الفتاوى السراجية:ص ٤٦٢).

په امداد الفتاوی کي راځي:

چې اجیري خاص وي د ده له پاره چې څومره وخت د دې عمل له پاره معین کېدلای سي په دې کي بل کار د اجازې پرته کول روا نه دئ او اجازه هم د صاحب عطایا د وکیل مطلق د صاحب عطاء معتبره ده. (امداد الفتاوی: ۳/ ۳۸۸). والله تعالیٰ اعلم.

پر ماشین خرابېدلو د دوهم وار جوړولو حکم

سوال: زید ماشین ومستري ته ور وړئ او مستري ورجوړ کئ تر دې وروسته یو د لس کالو ماشوم راغئ او ماشین یې چالان کئ او ماشین خراب سو اوس دوهم واریې جوړول پر مستري دي او که نه؟ او مستري د نوري زیاتي مزدوری غوښتنه کولای سي او که نه او د ماشوم پر پلار تاوان راځي او که نه؟

الجواب: کله چې زید خپل ماشین د مستري سره کېښوئ نو ماشین د مستري په ضمانت کي داخل سو او تر کومه وخت چې مستري جوړ کړی نه وي او زید ته یې ور ونه سپاري تر هغه وخته یې پر ده باندي د ساتني ذمه واري ده اوس څنګه چې د ده د خوا څخه کوتاهي وسوه چې د هغې په نتیجه که ماشوم راغلئ او دا ماشین یې خراب کړ نو اوس به پر ده دوهم وار د ماشین جوړول ضروري وي او د هغه زیاتي مزدوری غوښتنه هم کولای نه سي، خو دی ماشوم ذمه وار جوړولای سي او که چیري اوس دستي د ماشوم سره مال نه وي نو د هغه د مالداري تر وخته به انتظار کیږي خو پر پلار یې تاوان نه راځي او که مستري خپله خراب کړ نو دوهم وار جوړول به یې پر ده لازم وي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

اعلم أن الهلاك إما بفعل الأجير أو لا والأول إما بالتعدي أو لا والثاني إما أن يكون الاحتراز عنه أو لا ففي الأول بقسميه يضمن اتفاقاً وفي ثاني الثاني: لا يضمن اتفاقاً وفي أوله لا يضمن عند الإمام مطلقاً ويضمن عندهما مطلقاً، وفي البدائع : لا يضمن عنده ما هلك صنعه قبل العمل أو بعده لأنه أمانة في يده وهو القياس وقالا: يضمن إلا من حرق غالب أو لصوص

مکابرين وهو استسحان قولهما قول عمر وعلى وبه يفتى احتشاماً لعمرو على وصيانة لأموال الناس. والله اعلم. (الفتاوى الشامى:٦/ ٦٥، سعيد).

وفى الدر المختار: ثوب خاطه الخياط بأجرٍ ففتقه رجل قبل أن يقبضه رب الثوب فلا أجر له لأن الخياطة مما له أثر فلا أجر قبل التسليم كما في المبيع بل له تضمين الفائق أى قيمة خياطه لا المسمى لأنه إنما لزم بالعقد ولا عقد بينه وبين الفائق ولا يجبر على الإعادة لأنه التزم العمل ووفى به وإن كان الخياط هو الفاتق فعليه الإعادة كأنه لم يعمل فلم يوف ما التزمه من العمل فيجبر عليه لأن عقد الإجارة لازم وهل للخياط أجر التفصيل بلا خياطة الأصح لا. (الدر المختار مع رد المحتار:٦/ ١٥ – وكذا في المحيط البرهانى:٩/ ٢٣٨).

وفى المحيط البرهانى: وهذا لأنه لما أخرج الخبز من التنور فقد أتم العمل؛ لأن عمله جعل الدقيق خبزاً ومتى أخرجه من التنور صار منتفعاً به انتفاع الخبز فيتم عمله، وصار مسلماً لقيام يد المستأجر على الخبز .... فلايبرأ عن الضمان إلا بالتسليم. (المحيط البرهانى:٩/ ١٣٩، - والدر المختار:٦/ ١٤).

په شرح مجله کي راځي:

إذا أتلف صبي مال غيره يلزم الضمان من ماله وإن لم يكن له مال ينتظر إلى حال يساره ولايضمن وليه لأن الصغير وإن كان محجوراً عليه لذاته إلا أن الحجر عليه فى أقواله لا في أفعال فهو مواخذ بأفعاله فيضمن ما أتلفه من المال قال فى كتاب أحكام الصغار للأستروشنى: صبى بال على السطحى فخرج البول من الميزاب وأصاب ثوب رجل فأفسده

يغرم الصبي من ماله فإن لم يكن له مال يكون ديناً عليه يواخذ به إذا أيسر. (شرح المجلة: ۳/ ٤٥٧). والله ﷻ اعلم.

د درختو په کرايه د ورکولو حکم

سوال: که چيري يو څوک درختي په کرايه ورکړي نو دا روا ده او که نه؟ او که ناروا وي د دې له پاره د روا والي څه حيله کېدلای سي؟

الجواب: درختي په اجاره ورکول ناروا دي ځکه چي په دې کي استهلاک د عين سته او حال دا چي د اجارې هدف هغه عين پر ځای پاته کېدل او نفعه لاس ته راوړل دي، د دې د روا والي يوه حيله علماوو داسي بيان کړې ده چي اول دي مالک دا درختي په مساقات داسي ورکړي چي د زرو څخه يوه برخه د مالک او نوري ټولي برخي د مساقي او تر دې وروسته هماغه سړي ته هغه مځکه په اجرت مثلي دومره زيادت سره ورکي څومره چي يې په عقد مساوات کي کم کړی وي، شرط دا دئ چي مځکه د کښت وړ وي او همدارنګه دا حيله هغه وخت صحيح کېدلای سي کله چي مځکه او درختي د وقف يا د يتيم په مال کي نه وي.

همداسي که يو چا په د وقف يا د يتيم په مال کي دا حيله جاري کړه نو دواړه عقده باطليږي، مساقات خو ځکه چي په دې کي د يتيم او وقف ضرر دئ او اجاره ځکه چي هغه د مساقات تر بطلان وروسته وسول ګواکي پر مشغوله مځکه اجاره منعقده سوه او دا باطله ده نو ځکه په حيله کي يې د مساقات د عقد د وړاندي کولو شرط ولګاوو که چيري بالعکس کړل سي نو د مځکي اجاره باطليږي. لکونها في الارض المشغولة. (مستفاد از فتاوی عثمانی: ۳/ ۳۷۹).

همداسي د دې د روا والي بله حيله دا ده چي مځکه دي په کرايه ورکړي او د درختو د استعمال اجازي دي ورکړي او بيا د مالک د رجوع کولو د احتمال څخه د ځان ژغورلو له پاره دي په خپله اجازه سره د عقد په وخت کي داسي الفاظ ووېل سي ((كلما رجعت في الإذن تكون مأذوناً)).

وګورئ په هدايه کي راځي:

ولا يجوز بيع المراعى ولا إجارتها .... وأما الإجارة فلأنها عقدت على استهلاک عين مباح ولو عقد على استهلاک عين مملوک بأن استاجر بقرة لشرب لبنها لايجوز فهذا أولى.
(الهداية:٣/ ٥٤).

په فتاوی رشیدیه کي راځي:

د درختو اجاره صحیح نه ده ځکه اجاره پر منافعو باندي وي اعیان او زوائد خو پلورل کیږي.
(رشيديه:ص ٥٤٦).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

په اجاره کي د مستاجره شی څخه ګټه اخیستل هدف وي نه استهلاک د عین په مځکه کي کښت کول او د هغې څخه غله لاس ته راوړل خو په اجاره کي داخل دي خو د مځکي د خاوند د درختو میوه اخیستل دا په اجاره کي داخل نه دي بلکي دا خو بیعه سوله. (فتاوی محمودیه:١٦/ ٥٥٩ – وكذا في امداد الاحكام:٣/ ٥٧٥).

د حیلي دلیلونه د فقهي په کتابو کي وګورئ:

وأفاد فساد ما يقع كثيرًا من أخذ كرم الوقف أو اليتيم مساقاةً، فيستأجر أرضه الخالية من الأشجار بمبلغٍ كثيرٍ، ويساقي على أشجارها بسهمٍ من ألف سهمٍ، فالحظ ظاهر في الإجارة لا في المساقاة فمفاده فساد المساقاة بالأولى. (بالأولى).... ثم اعلم أنه حيث فسدت المساقاة بقيت الأرض مشغولةً فيلزم فساد الإجارة أيضًا كما قدمناه وإن كان الحظ والمصلحة فيها ظاهرين، فتنبه لهذه الدقيقة. وفي فتاوى الحانوتي: التنصيص في الإجارة على بياض الأرض لا يفيد الصحة حيث تقدم عقد الإجارة على عقد المساقاة، أما إذا تقدم عقد المساقاة بشروطه كانت الإجارة صحيحةً كما صرح به في البزازية .... وهذا بالنسبة إلى الوقف وأما

مساقاة المالك فلا ينظر فيها إلى المصلحة كما لو أجر بدون أجر المثل . (الدر المختار مع رد المحتار:٦/ ٨-٩، سعيد).

وفى الدر المختار : وإن استاجر الشجر إلى وقت الإدراك بطلت الإجارة ...والحيلة .... أن يشترى. وفى الشامية: قوله (وأن يشتري الخ) هذه حيلة ثانية وبيانها أن المشري إما أن يكون مما يوجد .... أو لم يوجد منه شيء .... أو يكون من بعضه دون بعض كثمر الأشجار المختلفة الأنواع .... وفي الثالث يشتري الموجود من الثمر بكل الثمن ويحل له البائع ما سيوجد لأن استئجار الأرض لا يتأتى هنا لأن الأشجار باقية على مالك البايع. ٠الدر المختار مع رد المحتار:٤/ ٥٥٨، سعيد).

قال الرافعي : (لأن استئجار الأرض....) لا يدخل لعدم تاتى إجارة الأرض هنا فإنه لو قيل بصحتها لايحل للمشتري ما سيوجد من الثمار فالعمدة فى حله هو الاحلال. (التحرير المختار:٤/ ١١٨، سعيد).

وفي الأشجار الموجود ويحل له البائع ما يوجد فإن خاف أن يرجع يقول: على أنى متى رجعت فى الإذن تكون مأذوناً فى الترك. شمنى ملخصاً.

وفي الشامية: (قوله وفى الاشجار الموجود) أى وفى ثمار الاشجار يشترى الموجود منها. (فإن خاف الخ).... وحاصله : أنه على قول محمد يمكن الرجوع هنا عن الإحلال بأن يقول: رجعت عن الإحلال المعلق وعن المنجز فيتعين حينئذ الاحتيال بالعاملة على الاشجار. (الدر المختار مع رد المحتار:٤/ ٥٥٨، سعيد).

قال الرافعي (فيتعين حينئذٍ الاحتيال ....) وفی السندی بعد ذکره عن الرحمتی نحو ما ذکره المحشی ما نصه فالحيلة عند ذلک ان يقول علی أنی کلما رجعت فی الإذن تکون أيها المشتري مأذوناً فی الترک بإذن جديد فلا يصح له رجوع عن الإذن المعلق وابطال المنجز لمراعاة لفظه کلما کما حققه أهل الأصول. (التحرير المختار: ٤/ ١١٨، سعيد).

خو د لومړی حيلي فهمول مشکل دي او عمل ورباندي ګران دئ همدا ډول که مالک درختي په کرايه ورکوي په عام ډول يې له مېوو سره تعلق نه وي حال دا چي په دغه صورت کي د مېوو سره د مالک تعلق ديوه په زړوکي د حساب څخه سته ځکه نو دوهمه حيله اسانه ده.



قال الله تعالى: ﴿ فابعثوا أحدكم بورقكم هذه إلى المدينة فلينظر أيها أزكى طعامًا فليأتكم برزقٍ منه ﴾. (سورة الكهف، الآية:۱۹).

وعن حكيم بن حزام رضي الله عنه أن النبي ﷺ بعثه ليشترى له أضحية بدرينار، فاشترى أضحية فأربح فيها دينارا، فاشترى أخرى مكانها، فجاء بالأضحية والدينار إلى رسول الله ﷺ، فقال: « ضح بالشاة وتصدق بالدينار ». (رواه الترمذی، وابو داؤد).

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: ولكنى النبي ﷺ بحفظ زكاة رمضان. (رواه البخاری).

وعن علي رضي الله عنه قال: أمرني رسول الله ﷺ أن أقوم على بدنه. (رواه الشيخان).

باب الوكالة

د وكالت د احكامو بيان

د جانبينو څخه د وكالت حكم

سوال: ايا يو سړى د پلورونكي او رانيوونكي د دواړو د خوا څخه وكيل جوړ يدلاى سي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي ډېرو فقهاوو دا نيوكه كړې ده چي يو سړى رانيوونكى او پلورونكى جوړيدلاى نه سي ځنيو فقهاوو ويلي دي، چي مؤكل د دواړو د خوا څخه وكيل جوړيدلاى سي.

وګورئ په بحرالرائق كي راځي:

قال في البزازية : الوكيل بالبيع لا يملك شراءه لنفسه لأن الواحد لا يكون مشتريًا وبائعًا فيبيعه من غيره ثم يشتريه منه وإن أمره الموكل أن يبيعه من نفسه أو أولاده الصغار أو ممن لا تقبل شهادته فباع منهم جاز . (البحر الرائق:۷/ ۱٦٦، كوئته).

په رد المحتار کي راځي:

وفي وكالة الطحاوى: لايجوز بيع الوكيل من نفسه أو ابن صغير أو عبد له غير مدبون، وإن أمره الموكل بالبيع من هؤلاء أو أجاز له ما صنع جاز. (تكملة رد المحتار:۷/ ۳۳۲، سعيد).

همداسي وكيل د دلال په شان دئ، يوازي فرق يې دا دئ چي دلال مزدوري اخلي او وكيل په مزدوري يا بې مزدوري په دواړه شكلو كي كار كوي او كله چي دلال د جانبينو څخه د مزدورۍ په اخيستلو سره كار كولاى سي نو وكيل بې مزدورۍ د جانبينو څخه په طريقه اولى سره كار كولاى سي.

د هدايه په حاشيه كي راځي:

السمسار وهي أن يوكل الرجل من الحاضر البادية فيبيع لهم ما يجلبونه... (حاشية الهداية:۲/ ۲٦٦).

په فتاوى شامي كي راځي:

فتجب الدلالة على البائع أو المشترى أو عليهما بحسب العرف، جامع الفصولين. (رد المحتار:٤/ ٥٦٠، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د وكيل د خپل ځان له پاره د رانيولو حكم

سوال: كه چيري زيد عمر وكيل بالبيع جوړ كړى وي نو عمر هغه شى خپله د خپل ځان له پاره په مثلي قيمت رانيولاى سي او كه نه؟

الجواب: د وكيل بالبيع خپله د خپل ځان له پاره د رانيولو په اړه دوه قوله دي، يو دا دئ چي ناروا دئ او دوهم قول دا دئ چي د مؤكل په اجازه روا دئ، نو ځكه په دې پوښتل سوي صورت كي كه مؤكل اجازه وركړې وي نو وكيل يې د خپل ځان له پاره رانيولاى سي.

وګورئ په فتاوى بزازيه كي راځي:

الوكيل بالبيع لايملک شراءة لنفسه لأن الواحد لا يكون مشترياً وبائعاً فيبيعه من غيره ثم يشتريه منه ..... وإن أمره الموكل أن يبيعه من نفسه أو أولاده الصغار أو ممن لايقبل له شهادته فباع منهم جاز. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٥/ ٤٧٥، الرابع فى البيع). والله تعالیٰ اعلم.

د متعين قېمت څخه په زياتو پيسو د پلورلو حکم

سوال: که چيري يو څوک وکيل بالبيع جوړ کړل سو او قېمت ور وښول سو اوس که وکيل دا په زيات قېمت پلورل غواړي نو فقها وايي چي هغه زيات قېمت به د مؤکل وي، د دې څه حيله ده چي هغه زيات قېمت وکيل لاس ته راوړي؟

الجواب: د فقهاوو ديوه قول سره سم وکيل بالبيعه يې د مؤکل په اجازه سره خپله هم رانيولای سي . ودې قول ته په کتو سره په دې پوښتل سوي صورت کي اسانه حيله دا کېدلای سي چي اول وکيل بالبيع مبيعه په متعينه قېمت خپله رانيسي او بايع ته ووايي، چي ما د خپل ځان له پاره رانيوله، په رانيولو سره وکيل د مبيعې مالک سو تر دې وروسته دې په زيات قېمت پر يو بل چا وپلوري، اوس د زياتو پيسو خپله دا اخيستلو گنجائش سته.

وگورئ په فتاوی بزازيه کي راځي:

الوكيل بالبيع لايملک شراءة لنفسه لأن الواحد لا يكون مشترياً وبائعاً فيبيعه من غيره ثم يشتريه منه ..... وإن أمره الموكل أن يبيعه من نفسه أو أولاده الصغار أو ممن لايقبل له شهادته فباع منهم جاز. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٥/ ٤٧٥، الرابع فى البيع).

په درمختار کي راځي:

لايعقد وكيل البيع والشراء مع من ترد شهادته له للتهمة وجوازه بمثل القيمة إلا من عبده ومكاتبه إلا إذا أطلق له الموكل) كبع ممن شئت فيجوز بيعه لهم بمثل القيمة اتفاقًا ....وفي

السراج لـو صرح بـهم جاز إجمـاعاً إلا أن يبيعـه مـن نفسـه وعبـده غـير الـمديون . وفي رد المحتار: قوله إلا من نفسه، وفي السراج : لو أمره بالبيع من هؤلاء فإنه يـجوز إجمـاعًا إلا أن يبيعه من نفسه أو ولده الصغير أو عبده ولا دين عليه فلا يـجوز قطعًا وإن صرح به الـموكل، الوكيل بالبيع لا يملك شراءه لنفسه .... (بزازية) كذا في البحر ، ولا يـخفى ما بينهما من المخالفة ، وذكر مثل ما في السراج في النهاية عن المبسوط ، ومثل ما في البزازية فى الذخيرة عن الطحاوى وكأن فى المسئلة قولين خلافاً لمن يدعي أنه لامخالفة بينهما. (الدر المختار مع رد المحتار:۵/ ۵۲۱-۵۲۲، سعيد - وكذا فى البحر الرائق مع الحاشية منحة الخالق:۷/ ۱۶۷، كوئته).

علامه سيد احمد طحطاوى رحمه الله فرمايي:

قوله إلا من نفسه أى وقد أمره بالبيع ممن لاتقبل شهادته له قال فى لاسراج: لو أمره بالبيع من هؤلاء فإنه يجوز إجماعاً إلا أن يبيعه من نفسه أو ولده الصغير أو عبده ولادين عليه فلا يجوز قطعاً وإن صرح به الموكل، وهذا لاينافى ما في البزازية أنه يـجوز لنفسه فإن محله إذا صرح له بالعقد من نفسه. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۳/ ۲۷۶، كوئته).

په كتاب الفقه على المذاهب الاربعه كي راځي:

.... لايجوز للوكيل أن يبيع سلعة الموكل على بيعها لنفسه ... أما إذا أذنه الموكل بأن يبيع لنفسه أو لابنه الصغير ففيه رأيان: أحدهما : أنه لا يجوز، لأن العاقد في هذه الحالة يكون واحداً، ثانيهما : انه يجوز ويظهر أن الذي يقول بعدم الجواز لعلة كون العقد واحداً لا يمنع أن يبيع الوكيل السلعة لأجنبي ثم يشتريها منه ثانياً لأنه في هذه الحالة يكون البائع غير المشتري . (كتاب الفقه على المذاهب الاربعة، مبحث الوكالة بالبيع والشراء:۳/ ۱۴۵). والله تعالى اعلم.

د شريعت په خلاف كار كي د وكالت حكم

سوال: د مسلمان وكيل له پاره روا ده چي د شريعت خلاف كار قبول كړي؟

الجواب: د شريعت په چوكاټ كي د وكالت كسب فى نفسه روا دئ خو د شريعت په خلاف كاروكي وكالت روا نه دئ . وكيل او مؤكل دواړه مكلف دي او د شريعت تابعداري پر دواړو لازمه او ضروري ده او د شريعت په خلاف كارو كي مثلاً درواغ، دوكه، خيانت، باطلي حيلي او داسي نورو څخه ځان ژغورل د امكان تر حده ضروري دئ.

د الله تعالى فرمان دئ.

﴿ ولا تكن للخائنين خصيمًا ﴾. (سورة النساء، الآية:۱۰۵).

عن عروة عن زينب بنت أم سلمة عن أم سلمة رضي الله عنها عن النبي ﷺ قال : إنما أنا بشر وإنكم تختصمون ولعل بعضكم أن يكون ألحن بحجته من بعضٍ وأقضي له على نحو ما أسمع فمن قضيت له من حق أخيه شيئًا فلا يأخذ فإنما أقطع له قطعةً من النار. (رواه البخارى:۲/ ۱۰۳۰).

په شرح عنايه كي راځي:

قال (كل عقد جاز أن يعقده الإنسان بنفسه الخ) هذه ضابطة يتبين بها مايجوز التوكيل به ومالا يجوز. (شرح العناية بهامش فتح القدير:۷/ ۵۰۱، كتاب الوكالةف دارالفكر).

وإن علم من الموكل القصد إلى الإضرار بالمدعي ليشتغل الوكيل بالحيل والأباطيل والتلبيس لايقبل منه التوكيل. (فتاوى قاضى خان:۳/ ۷).

په اعلاء السنن كي راځي:

والكلام فيما إذا كان الوكيل ألحن من الموكل وأبلغ وأهدى منه إلى وجوه الخصومات لا سيما إذا كان الموكل صالحاً يتقي عن استخراج الحيل والدعاوى الباطلة للغلبة والوكيل بضده، فلا بد أن فى وكالته ضراراً بالآخر، فلا يلزم إلا بالتزامه، ومن شاهد حال وكلاء الزمان

في إحقاقهم الباطل، وإبطالهم الحق لم يشک قط في صحة قول أبي حنفية .... وأكثر ما يقع التاخير في معرفة الحق من الباطل إنما هو من تلبيسات الو كلاء وتحيلهم على الحق ولبسهم الباطل بالصواب والفقهيه من عرف حال زمانه. (اعلاء السنن:۱۵/ ۳۲۱، كتاب الوكالة، ادارة القرآن).

په امداد الفتاوی کي راځي:

حاصل دا چي د وکالت کسب فی نفسه روا دئ خو شرط دا دئ چي صحيح مقدمې وکار وي (داسي تمهيدات وکار وي چي د شريعت خلاف نه وي). (امداد الفتاوی:۳/ ۳۲۰).

په فتاوی محموديه کي راځي:

که چيري صحيح تمهيدات پر کار واچوي او د شريعت يو خلاف کار ومخ ته پکښي راتلل نه وي نو دا وکالت روا دئ.

بل ځای بيان سوی دئ:

په کوم وکالت کي چي پر گناه باندي مزدوري اخيستل کيږي يعني د درواغو او ناحقه تمهيد تابعداري وکول سي يا د ظالم کومک وکول سي داسي وکالت او د هغه گټه ناروا ده. (فتاوی محموديه:۱۶/ ۴۵۲-۴۵۳، جامعه فاروقيه).

په آپ کي مسائل اور ان کا حل نومي کتاب کي راځي:

وکيل که چيري رښتيا درواغ او دورواغ رښتيا ثابتوي او فيس اخلي نو ښکاره ده چي دا به حلاله نه وي او که يوه سمه دعوه پر مخ بيايې نو څه داسي لامل نه سته چي د ده گټي ته حرام وويل سي. (آپ کی مسائل اور ان کا حل:۸/ ۲۷۶).

خو د ظلم د دفاع له پاره که چيري څو تمهيدات وکارول سي (ضرورت يې پيدا سي) نو د دې گنجائش سته.

په اعلاء السنن كي راځي:

ومعلوم أن الوكيل إنما يقصد عادة لاستخراج الحيل والدعوى الباطلة ليغلب وإن لم يكن الحق معه، وفي هذا إضرار بالآخر، فلا يلزم إلا بالتزامه إلا إذا كان معذوراً. (اعلاء السنن: ۱۵/ ۳۲۱، باب الوكالة بالخصومة، ادارة القرآن).

دالاشباه والنظائر د يوې قاعدې څخه هم استيناس (دليل نيول) كېدلاى سي.

إذا تعارض مفسدتان روعي أعظمهما ضرراً بارتكاب أخفهما. (الاشباه والنظائر: ۱/ ۲٦۱، تحت القاعدة الخامسة «الضرر يزال»).

همداسي د دواړو خواوو په منځ كي د صلحي او صفايې او داسي نورو له پاره د يوې حيلې او داسي نورو غوره كولو اختيار هم سته په بخاري شريف كي راځي:

عن ابن شهابٍ أن حميد بن عبد الرحمن أخبره أن أمه أم كلثومٍ بنت عقبة أخبرته أنها سمعت رسول الله ﷺ يقول: «ليس الكذاب الذي يصلح بين الناس فينمي خيرًا، أو يقول خيرًا». (رواه البخاري: ۱/ ۳۷۱۱، باب ليس الكاذب الذى يصلح بين الناس). والله ﷻ اعلم.

ووكيل بالشراء ته د يوه شي د مفت اخيستلو حكم

سوال: كه چيري يو چا زيد وكيل جوړ كړ چي وما ته له بازاره يو پسه يا بزه رانيسه او ده ته يې زر روپۍ وركړې خو بايع ووكيل ته داړيكو په سبب بزه يا پسه مفت وركړ نو اوس به وكيل زر روپۍ مؤكل ته بيرته وركوي او ايا ده ته يې داخيستلو گنجائش سته او كه نه؟ او دا يې ورته ويلي وه چي د دې قيمت زر روپۍ دئ؟

الجواب: په دې صورت كي د پلورونكي سره د وكيل داړيكو په سبب پلورونكي ثمن بيرته وركړې نو دا وكيل ته يوه ډالۍ سوه نو ځكه مؤكل ته يې وركول بيرته لازم او ضروري نه دي او له خپل ځان سره يې ايښولاى سي.

وګورئ په فتاوی ولو الوالجيه کي راځي:

رجل أمر رجلاً يشترى له جارية بألف درهم فاشتراها ثم أن البائع وهب للوكيل ألفاً فللوكيل أن يرجع على البائع بألف، لأنه لايمكن أن يجعل هذا حطاً عن الثمن، لأنه يفسد العقد فجعل هبة فيرجع. (الفتاوى الولو الجية:٤/ ٣٥٣، فصل فيما يرجع الوكيل على الموكل).

په البحر الرائق کي راځي:

وفى الواقعات الحسامية: ولو أمر رجلاً أن يشتري جارية بألف فاشتراها ثم أن البائع وهب الألف من الوكيل فللوكيل أن يرجع على الآمر. (البحر الرائق:٧/ ١٥٥، باب الوكالة بالبيع والشراء، كوئته).

په درمختار کي راځي:

ولو وهبه كل الثمن رجع بكله ولو بعضه رجع بالباقي لأنه حط. وفى الشامي: (قوله كل الثمن) أى جملة واحدة، قال فى البحر: ولو وهبه خمس مائة ثم الخمسمائة الباقية لم يرجع الوكيل على الآمر إلا بالأخرى لأن الأولى حط والثانية هبة. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:٥/ ٥١٦، باب الوكالة بالبيع والشراء، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د وکيل او دلال په منځ کي فرق

سوال: په وکيل او دلال کي څه فرق دئ؟

الجواب: د وکيل او دلال په منځ کي فرق دا دئ چي د بل چا له خوا يو سپارل سوی کار (چي بل چا ستا پر اوږو يو کار در اچولي وي) دلال يې په مزدوري کوي او وکيل يې په مزدوری يا بېله مزدوري په دواړه شکلو کي کوي.

وګورئ په دستور العلماء کي راځي:

السمسار : من يعمل للغير بالأجر بيعاً أو شراء ويقال له في العرف الدلال. (دستور العلماء:۲/ ۱۳۲).

والوكالة: .... وفي الشرع تفويض التصرف في أمر شرعي إلى غيره أي إقامة الغير مقام نفسه في التصرف ممن يملك التصرف . والوكيل : هو الذي فوض إليه التصرف بإقامة المفوض أي الموكل إياه مقام نفسه في التصرفات . (دستور العلماء:۳/ ۳۲۱).

په التعريفات الفقهيه كي راځي:

الدلال هو السمسار أى الذي يدخل بين البائع والمشتري متوسطاً لإمضاء البيع. (التعريفات الفقهية:۱/ ۲۹۳).

والوكالة، وهي شرعاً تفويض أحد أمره وإقامته مقامه ويقال لذلك الشخص موكل ولمن إقامه وكيل والأمر موكل به. (التعريفات الفقهية:۱/ ۵٤٦).

په اسلامي فقه كي راځي:

وكالت پر دوه ډوله دئ يو خاص او بل عام، د خاص هدف دا دئ چي تاريو چا ته ووېل چي ما ته په دومره پيسو موټر رانيسه يا د پلاني دعوه ته په مخه واخله (ته يې حل كه) او د عام هدف دا دئ چي ته زما د فلاني كار پوره كتنه كوه يا زما د ټولو كارونه كتنه كوه بيا د دې دواړو دوه دوه ډولونه دي يو د مزدورۍ سره وي او بل د مزدورۍ پرته.

د دواړو احكام يو ډول دي يوازي دا چي يو په معامله كي د مزدورۍ پرته د وكيل ذمه واري كيږي په مزدورۍ اخيستونكو وكيلانو كي ټوله هغه خلک شامل دي چي مزدوري اخلي يا په كمېشن باندي كار كوي . ديوه حكومت ټول مزدوان د ده وكيلان دي، نو ځكه دوى ته د خپل حكومت د قانون پر برابر كار كول په كار دي كه چيري ته په خپل ذاتي مزدوريو كار كوي نو دا به ستا وكيل ګڼل كيږي او همداسي كه چيري ته په تنخوا د ځان له پاره يو څوک وټاكې نو هغه هم ستا وكيل ګڼل كيږي نو دى به خامخا ستا د هدايت پر برابر كار كوي. (اسلامی فقه:۲/ ۷٤۷). والله ﷻ اعلم.

د مؤکل بیرته هغه شی پر وکیل د پلورلو حکم

سوال: ایا مؤکل ته روا ده چي پر مبیعه د قبضې کولو او د ثمن تر اداء کولو وروسته دوهم وار هغه مبیعه پر وکیل د مرابحې په ډول پلورلای سي او که نه؟

الجواب: دا چي مؤکل پر مبیعه باندي قبضه وکړه او ثمن يې هم اداء کړې نو اوس يې پر وکیل مرابحةً پلورل صحیح او روا دي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وفسد شراء ما باع بنفسه أو بو كيله من الذي اشتراه .... بالأقل من قدر الثمن الأول قبل نقد كل الثمن الأول وفى رد المحتار: قيد به لأن بعده لافساد. (الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٧٣، سعيد).

په حاشیه الطحطاوي کي راځي:

قوله بالأقل من قدر الثمن الأول.... وقيد بالأقل لأنه لوكان بمثله أو بأكثر منه جاز لأن الفضل فى الأكثر يحصل للمشتري والمبيع داخل في ضمانه.... وقيد بكونه قبل النقد لأنه إذا كان بعده لافساد. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:٣/ ٧٣، كوئته).

په هدایه کي راځي:

ومن اشترى جارية بألف درهم حالة أو نسيئة ثم باعها من البائع بخمس مائة قبل أن ينقد الثمن الأول لا يجور البيع الثاني، وفي فتح القدير: بمثل الثمن أو أكثر جاز ... وقيد بقوله قبل نقد الثمن لأن ما بعده يجوز بالإجماع. (الهداية مع فتح القدير:٦/ ٤٣٢، دار الفكر). والله ﷻ اعلم.

د عامه او خاصه وکالت حکم

سوال: يو چا يو څوک وکيل وټاکئ چې هغه دي د تجارت مال رانيسي کله چې دی وغواړي يو خاص ټاکلي قيمت او د سامان صفت، نوعه او داسي نوريې ورته بيان نه کړل اوس تاسي لاربنوونه راته وکړئ چې دا وکالت عامه دئ او که وکالت خاصه؟

الجواب: په دې صورت کي د سامان په اعتبار سره وکالت عامه دئ خو د قيمت ټاکلو په اعتبار سره وکالت خاصه دئ، په وکالت کي د تقييد مثال دا دئ چي ته ما ته سامان د فلاني بازار څخه رانيسه چي کوم سامان رانيسې.

وګورئ په درالمختار کي راځي:

قوله وإن عمت بأن يقول ابتع لي مارأيت لأنه فوض الأمر إلى رأيه فأي شيء يشتريه يكون ممتثلاً، درر. (رد المحتار:۵/ ۵۱۵، سعيد).

په هدايه کي راځي:

إلا أن يوكله وكالة عامة فيقول: ابتع لي ما رأيت لأنه فوض الأمر إلى رأيه فأي شيء يشتريه يكون ممتثلاً والأصل فيه أن الجهالة اليسيرة تتحمل في الوكالة كجهالة الوصف استحساناً لأن مبنى التوكيل على التوسعة لأنه استعانة . (الهداية:۳/ ۱۸۱، باب الوكالة بالبيع والشراء).

وفي الدر المختار: وبشراء دار أو عبد جاز إن سمى الموكل ثمناً يخصص نوعاً أو لا. (الدر المختار:۵/ ۵۱۵، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د وکيل د مؤکل پيسې په خپل کار کي د لګولو حکم

سوال: که چيري د يو چا سره پيسې د امانت په ډول وي، يا د يو چا سره د مسجد چنده وي يا يو څوک وکيل بقضاء الدين جوړ کړل سي يا وکيل باالشراء او وکيل هغه پيسې په خپل ضرورت کي ولګوي بيا د هغو په عوض کي نوري پيسې خاوند ته ورکي يا يې د مسجد په چنده کي کښېږدي يا د مؤکل پور (دين) اداء کړي دا روا دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې د وکيل داسي تصرف کول د مؤکل په اجازه روا دئ او د اجازې پرته روا نه دئ ځکه د وکيل سره د مؤکل پيسې د امانت په ډول دي او په امانت کې د اجازې پرته تصرف کول روا او صحيح نه دئ، همداسي د وقف په مال کې هيڅ ډول داسي تصرف روا نه دئ که يو چا داسي تصرف وکړ نو ضامن به وي، خو استحساناً که چيري وقاضي ته مرافعه مشکل وه او ده مصرف سوو پيسو عوض د مؤکل په متعين ځای کې مصرف کړئ نو د ده او د الله ﷻ په منځ کې د وبال څخه د ځان ژغورلو هيله سته او که چيري يو چا و زيد ته لس روپۍ د يو شی د رانيولو له پاره ورکړې يا يې پر اهل او عيال د مصرفو له پاره ورکړې يا يې د قرض اداء کولو له پاره ورکړې او ده د خپلو پيسو څخه پورته بيان سوي کارونه پوره کړل او د مؤکل پيسې يې د ځان سره وساتلې داسي روا او صحيح دي.

وګورئ په فتاوى قاضي خان کې راځي:

رجل جمع مالاً من الناس لينفقه في بناء المسجد وأنفق من تلک الدارهم في حاجة نفسه ثم رد بدلها في نفقة المسجد لايسعه أن يفعل ذلک وإذا فعل إن كان يعرف صاحب المال رد الضمان عليه أو يساله ليأذن له بإنفاق الضمان في المسجد، وإن لم يعرف صاحب المال يرفع الأمر إلى القاضي حتى يأمره بإنفاق ذلک في المسجد فإن لم يقدر على أن يرفع الأمر إلى القاضي، قالوا: نرجوا له في الاستحسان أن ينفق مثل ذلک من ماله في المسجد فيجوز ويخرج عن الوبال فيما بينه وبين الله تعالى وفي القضاء يكون ضامناً فيكون ذلک ديناً عليه لصاحب المال، وهو نظير ما ذكر في الأصل الوكيل بقضاء الدين إذا صرف مال الموكل في حاجة نفسه ثم قضى بمال نفسه دين الموكل يكون متبرعا في قضاء دين الموكل. (فتاوى قاضي خان:۳/ ۲۹۹).

په فتاوى بزازيه کې راځي:

الوكيل بالشراء أنفق الدراهم على نفسه ثم اشتري ما أمر بدراهم من عنده فالمشتري للوكيل لا للآمر في المختار وفي الأصل اشترى بدنانير من عنده ثم نقد دنانير الموكل فالشراء للوكيل ويضمن مال الموكل للتعدى، ولو اشترى ما أمره وسلمه إلى الموكل ثم أنفق دراهم الوكالة ونقد للبائع غيرها جاز،.... وفي النوازل أعطاه ديناراً لقضاء دينه أو الإنفاق على عياله فأمسكها وصرف دينار نفسه جاز استحساناً وفي العيون أمره بصدقة ألف وأعطاه فأنفقه وتصدق بألف من عنده لايجوز ويضمن وإن باقية عنده وتصدق بألف من عنده جاز استحساناً. (الفتاوى البزازية:۵/ ۴۸۳).

وللاستزادة انظر: (الفتاوى الهندية:۳/ ٦٤٤ – والفتاوى التاتار خانية:۵/ ۸۵٦). والله ﷻ اعلم.

وكيل د ثمن د ضامن جوړولو حكم

سوال: يو سړي زيد وكيل بالبيع جوړ كړ او ورته وې ويل چي ته دا سامان په دومره وپلوره خو دا شرط يې ولګاوو چي ته به ما ته د دې قيمت اداء كوې كه تا د رانيوونكي څخه اخيستي وي او كه يا نو ايا وكيل به د دې ذمه وار وي او كه نه؟

الجواب: داسي شرط لګول روا او صحيح نه دئ.

وګورئ په فتح القدير كي راځي:

(قوله ومن باع لرجل ثوباً) أي باع ثوباً هو لرجل بطريق الوكالة عنه في بيعه (وضمن) الوكيل (له) أي للرجل المالك (الثمن أو مضارب ضمن ثمن متاع لرب المال فالضمان باطل لأن الكفالة) وهي الضمان (التزام المطالبة والمطالبة إليهما) أي إلى الوكيل والمضارب (فيصير كل منهما ضامناً لنفسه) فيصير مطالباً مطالباً وهذا لأن حقوق العقد ترجع إليهما. (فتح القدير:۷/ ۲۱۸، دار الفكر).

په درمختار کي راځي:

ولا تصح كفالة الوكيل بالثمن للموكل فيما لو وكل ببيعه لأن حق القبض له بالإصالة فيصير ضامناً لنفسه. وفي رد المحتار: (قوله ولا تصح كفالة الوكيل بالثمن) وكذا عكسه، .... (وقوله فيما لو وكل ببيعه) الأولى أن يقول أي ثمن ما وكل ببيعه، قيد به لأن الوكيل بقبض الثمن لو كفل به يصح كما في البحر. (الدر المختار مع رد المحتار: ۵/ ۳۱۲، سعيد).

په فتح القدير کي راځي:

يجب أن يعلم أن الحقوق نوعان: حق يكون للوكيل، وحق يكون على الوكيل فالأول كقبض المبيع ومطالبة ثمن المشتري والمخاصمة في العيب والرجوع بثمنٍ مستحق، ففي هذا النوع للوكيل ولاية هذه الأمور لكن لا تجب عليه، فإن امتنع لا يجبره الموكل على هذه الأفعال؛ لأنه متبرع في العمل بل يوكل الموكل بهذه الأفعال. (فتح القدير: ۸/ ۱۶، دار الفكر).

د وکالت پر معاهده د فیس اخیستلو حکم

سوال: يو سړی واسلامي بانک ته راغئ او د معاهدې (وعدې) فارم يې ډک او دستخط يې وکړ او د وکالت پر فارم (کاغذ) د دستخط ځخه وړاندي ده هغه معاهده ختمه کړه اوس د بانک له پاره د ده ځخه فیس اخیستل روا دي او که نه؟ حال دا چي په پیل کي بانک د دې فیس هیڅ یادونه کړې نه وي؟

الجواب: په دې صورت کي دا فیس اخیستل معروف یا مشروط یا موعود دئ او د بانک د کاغذي کړني عوض دئ نو د دې اخیستل او ورکول روا دي.

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

ذكر الشرط على وجه المواعدةِ جاز البيع ويلزم الوفاء بالوعد، لأن المواعيدة قد تكون لازمة فيجعل لازمة لحاجة الناس. (فتاوى قاضى خان على هامش الهندية: ۲/ ۱۶۵).

په شرح عنایه کي راځي:

والعرف ينفي النزاع .... فلم يبق من الموانع إلا القياس على ما لاعرف فيه بجامع كونه شرطاً والعرف قاضٍ عليه. (شرح العناية:٦/ ٤٤٢، دار الفكر).

په شرح مجله کي راځي:

نقل عن جامع الفصولين أنه لو ذكر البيع بلا شرط، ثم ذكر الشرط على وجه العدة جاز البيع ولزم الوفاء بالوعد، إذ المواعيد قد تكون لازمة فيجعل لازماً لحاجة الناس .(شرح المجلة:٢/ ٦١).

په احسن الفتاوی کي راځي:

پر فریقینو د معاهدې پابندي (تابعداري پر ځای کول) ضروري ده او خلاف کوونکی فریق د معاهدې پر پوره کولو مجبوره کولای سي. (احسن الفتاوی:٦/ ٥٥٠). والله ﷻ اعلم.

پر وکیل د تابعدارۍ د شرط لګولو حکم

سوال: که چیري یو چا پر خپل وکیل دا شرط ولګاوه چي ته به یوازي زما مال پلورې نو ایا وکیل د دې سره خپل مال هم پلورلای سي او که نه؟

الجواب: وکیل بالبیع د اجیر مشترک په مثال دئ ځکه چي پر سامان پلورلو عقد سوی دئ خو کله چي مؤکل دا شرط ولګاوه چي یوازي به زما مال پلورې نو اوس د اجیر خاص په ډول سو نو ځکه اوس د اجارې په وخت کي خپل مال پلورل صحیح نه دي، خو که چیري اجیر دغه شرط قبول کړی نه وي یا خوېې قبول کړی وي خو چي د اجارې کوم وخت دئ د هغه څخه پرته یې په خپل کور کي خپل شی پلورئ نو د دې ګنجائش بیا سته او که یې دی خپله نه پلوري د ده زوی یا یې د ده بې بي پلوري نو بیا یې هم ګنجائش سته.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

الأجير المشترك من يعمل لغير واحدٍ .... والأجير الخاص يستحق الأجر بتسليم نفسه فى المدة وإن لم يعمل.... وسمي الأجير خاصا وحده ؛ لأنه يختص بالواحد وليس له أن يعمل لغيره ؛ ولأن منافعه صارت مستحقةً للغير والأجر مقابل بها فيستحقه ما لم يمنع مانع من العمل كالمرض والمطر .... وإنما يكون أجيراً خاصاً إذا شرط عليه أن لايرعى لغيره. (البحر الرائق:٢٦-٣١، كتاب الاجارة، كوئته).

الأجراء على ضربين: مشترك وخاص، فالأول من يعمل لا لواحد كالخياط ونحوه أو يعمل له عملاً غير موقت.... أو موقتاً بلا تخصيص.... والثاني وهو الأجير الخاص ويسمى أجير وحدٍ وهو من يعمل لواحدٍ عملًا مؤقتًا بالتخصيص ويستحق الأجر بتسليم نفسه في المدة وإن لم يعمل كمن استؤجر شهرًا للخدمة أو شهرًا لرعي الغنم المسمى بأجرٍ مسمى بخلاف ما لو آجر المدة بأن استأجره للرعي شهرًا حيث يكون مشتركًا إلا إذا شرط أن لا يخدم غيره ولا يرعى لغيره فيكون خاصا . وفي رد المحتار: اعلم أن الأجير للخدمة أو لرعي الغنم أنما يكون أجيراً خاصاً إذا شرط عليه أن لايخدم غيره أو لا يرعى لغيره. (قوله وليس للخاص أن يعمل لغيره) بل ولا أن يصلي النافلة، قال في التتارخانية : وفي فتاوى الفضلي وإذا استأجر رجلًا يومًا يعمل كذا فعليه أن يعمل ذلك العمل إلى تمام المدة . (الدر المختار مع رد المحتار:٦/ ٦٤، كتاب الاجارة، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د وکیل با البیع سامان په ډول د رهن ایښولو حکم

سوال: زید عمر د یو څه سامان د پلورلو له پاره وکیل بالبیع وټاکئ ایا د عمرو له پاره دا صحیح ده چي داسي ووايي چي دا سامان زه د رهن یا ضمانت په ډول د خپل فیس په مقابل کي د پلورلو تر وخته ایږدم؟

الجواب: وکیل بالبیع مبیعه د پلورلو تر وخته د ځان سره د ودیعت په ډول په مزدوری ایښولای سي خو د رهن یا ضمانت په ډول یې نه سي ایښودلای یعني دوې سودا وي (عقده) دي وکړي یوه دا چي د پلورلو تر وخته زه روزانه د دې دومره مزدوري غواړم او دوهمه سودا داسي چي تر پلورلو وروسته به وما ته د دې شی په قېمت کي دومره په سلو کي راکوې دواړي سودا وي دي ځکه جلا جلا وکړي چي د صفقه في صفقه له وبال څخه وژغورل سي بیا تر پلورلو وروسته چي څومره ورځي یې هغه شی ایښی وي دومره ورځو کرایه دي ورڅخه واخلي ځکه چي د وکیل بالبیع پر ذمه دا لازمه نه ده چي دا مبیعه په خپل دوکان کي کښېږدي نو ځکه مزدوري اخیستلای سي، خو که چیري هغه شی له منځه هلاک سو نو د یوه قول سره سم پر ده تاوان راځي.

وګورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

المودع إذا شرط الأجرة للمودع على حفظ الوديعة صح ولزم عليه. (الفتاوى الهندية: ٤/ ٣٤٢).

په بدائع الصنائع کي راځي:

المودع إذا شرط للمودع أجراً على حفظ الوديعة أن له الأجر لأن حفظ الوديعة ليس بواجب عليه فجاز شرط الأجر. (بدائع الصنائع: ٦/ ١٥١، سعيد).

په درمختار کي راځي:

وهي (الوديعة) أمانة، هذا حكمها مع وجوب الحفظ والأداء عند الطلب واستحباب قبولها، فلا تضمن بالهلاك إلا إذا كانت الوديعة بأجر. ... (الدر المختار: ٥/ ٦٦٤، سعيد).

په الاشباه والنظائر کي راځي:

وفی البزازية: لو جعل للكفيل أجراً لم يصح، وذكر الزيلعي رحمه الله أن الوديعة بالأجر مضمونة، وفي الصيرفية من أحكام الوديعة إذا استأجر المودع المودع صح. (الاشباه والنظائر: ۲/ ۳۹۹).

ومثله في تبيين الحقائق، وزاد بقوله: والمتاع في يد (أی الأجير المشترک) غير مضمون بالهلاک....بخلاف الوديعة بأجر لأن الحفظ واجب عليه مقصوداً ببدل (فيضمن). (تبيين الحقائق: ۵/ ۱۳۵، ملتان - وكذا فی مجمع الضمانات: ۱/ ۱۵۱ - وشرح المجلة: ۳/ ۲۴۲ -وفتاوی حقانیه: ۶/ ۳۹۹).

دوهم قول دا دئ چي پر مودع بالاجر باندي د هلاکېدلو په صورت کي تاوان نه راځي او ځينو علماوو همدې قول ته ترجيح ورکړې ده.

وګورئ په درالمختار کي راځي:

وأما من جرى العرف بأنه يأخذ في مقابلة حفظه أجرة يضمن، لأنه وديعة بأجرة لكن الفتوى على عدمه، سائحاني. (رد المحتار: ۵/ ۶۶۴، کتاب الايداع، سعيد).

په خلاصة الفتاوی کي راځي:

فإن شرط عليه الضمان إذا هلک يضمن في قولهم جميعاً، لأن الأجير المشترک إنما لايضمن عند أبي حنيفة رحمه الله إذا لم يشترط عليه الضمان، أما إذا شرط يضمن، قال الفقيه أبو الليث، الشرط وعدم الشرط سواء، لأنه أمين، واشتراط الضمان على الأمين باطل، وبه يفتى. (خلاصة الفتاوی: ۳/ ۱۳۷).

په امداد الاحکام کي راځي:

په وديعت بالاجر کي پر عدم ضمان باندي فتوی ده. (امداد الاحکام: ٣/ ٦٣٧ – وايضاح النوادر: ص ١٧٢).

خلاصه دا چي مودع بالاجر سره که چيري وديعت هلاک سي نو د تاوان په راتګ او نه راتګ کي اختلاف دئ او په فتوی کي يې هم اختلاف دئ لکه څنګه چي بيان سو.

د بنده فقير په خيال کله چي مالک د وديعت د ساتلو له پاره د مزدورۍ ورکولو بندوبس کړی وي او دا يې هم ورته ويلي وي چي ته يې ذمه وار يې نو بيا د تاوان فتوی ورکول کېدلای سي خاصةً بيا په دې زمانه کي چي سستي او تکاسل ېېخي عام دئ. والله تعالیٰ اعلم.

د غير مسلم وکيل بالبيع د جوړېدو حکم

سول: که يو چا خپل عيسايې مزدور د غوښو د خرڅولو له پاره وکيل جوړ کړ نو ايا دغه بيع کيږي او که نه؟ او د قيمت حکم يې څه دئ؟ او يا داسي کول روا دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د امام صاحب رحمه الله په اند بيع صحيح ده مګر مکروه تحريمي ده او ثمن يې واجب التصدق دي خو د صاحبينو په اند صحيح نه ده، البته داسي کول ګناه ده له دې څخه ځان ساتل په کار دي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

أمر المسلم ببيع خمرٍ أو خنزيرٍ أو شرائهما أي وكل ذميا أو أمر المحرم غيره أي غير المحرم ببيع صيده يعني صح ذلك عند الإمام مع أشد كراهةٍ لأن العاقد يتصرف بأهليته وانتقال الملك إلى الآمر أمر حكمي، وقالا: لا يصح، وهو الأظهر شرنبلالية عن البرهان، وفي رد المحتار: قوله ببيع خمرٍ أو خنزيرٍ أي مملوكين له بأن أسلم عليهما ومات قبل أن يزيلهما وله وارث مسلم فيرثهما، قوله يعني صح ذلك . أي التوكيل وبيع الوكيل وشراؤه، قوله مع أشد كراهةٍ أي مع كراهة التحريم، فيجب عليه أن يخلل الخمر أو يريقها ويسيب

الخنزير ، ولو وكله ببيعهما يجب عليه أن يتصدق بثمنهما نهر وغيره .... قوله أمر حكمي أي يحكم الشرع بانتقال ما ثبت للوكيل من الملك إليه فيثبت له كثبوت الملك الجبري له بموت مورثه . (الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٨٣، باب البيع الفاسد، سعيد).

وكذا في حاشية الطحطاوي على الدر المختار . وفيه أيضاً وأما في التوكيل بالبيع فعليه أن يتصدق بثنهما أفاده الحموي، قوله وانتقال الملك إلى الآمر أمر حكمي فلا يمنع بسبب الإسلام بحر. (حاشية الطحطاوی علی الدر المختار:٣/ ٧٦، کوئته – وكذا في المبسوط للامام السرخسی:١٣/ ١٣٨، ادارة القرآن).

په تبيين الحقائق كي رائحي:

قال ولو أمر ذميا بشراء خمرٍ أو بيعها صح . وهذا عند أبي حنيفة رحمه الله، .... أن الوكيل أصل النفس التصرف والموكل لحكم التصرف ألا ترى أنه يملك الخمر والخنزير بالإرث.... ثم يتصدق بثمن الخمر إن باعها الوكيل له لتمكن الخبث فيه لقوله عليه السلام إن الذى حرم بيعها حرم شرائها وأكل ثمنها. (تبين الحقائق:٤/ ٥٦، ملتان).

وفي الفتاوى الهندية: ولو وكل المسلم ذميا ببيع الخمر أو شرائه جاز في قول أبي حنيفة رحمه الله وقالا: ليجوز. (الفتاوى الهندية:٣/ ١١٥، فصل فى بيع المحرمات). والله تعالیٰ اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ وآخرون يضربون في الأرض يبتغون من فضل الله ﴾. (سورة المزمل، الآية: ۲۰).

وروى عن ابن عباس رضي الله عنهما، أنه كان سيدنا العباس بن عبد المطلب إذا دفع المال مضاربة اشترط على صاحبه أن لايسلک به بحرا ولاينزل به واديا ولايشتری به ابة ذات كبد رطبة فإن فعل ذلک ضمن فبلغ شرطه رسول الله ﷺ فآجاز شرطه. (رواه البيهقی فی الكبری، والطبرانی فی الاوسط).

وبعث رسول الله ﷺ والناس يتعاقدون المضاربة فلم ينكر عليهم. (بدائع الصنائع).

باب المضاربة

د مضاربت د احکامو بیان

په مضاربت کي د مزدور د تنخوا حکم

ډېر محترم د قدر وړ حضرت مفتي صاحب دامة برکاتهم العالیه:

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته:

د لاندي لیکل سوي خط هدف په لاندي مسئله کي د شرعي حکم معلومول دي هیله ده چي تاسو محترم به يې راته بیان کړئ او پر موږ به دا ستاسو يو نیکي او احسان وي.

سوال: خالد او راشد د مضاربت په ډول یو تجارت کوي د خالد کار (تکلیف) او ده راشد رأس المال وتاکل سو او یو زیات کار دا چي مزدوریو موټر رانیوئ په مختلفو ښارو کي مال او داسي نور پلورل يې پیل کړل اوس موږ دا پوښتنه کوو.

۱_ په پورتني صورت کي د دې مزدور تنخوا او د موټر د مصارفو ذمه وار به څوک وي؟

۲_ که چیري په تجارت کي گټه نه وسوه نو په دې صورت کي به د دوی دواړو لګښتونه څوک زغمي مهرباني وکړئ جواب کړي خدای جلّ جلاله دي په دواړو دارنیو کي ښه عوض درکړي؟

الجواب: ځان پوهول په کار دي چي د مضاربت په عقد کي د مضارب حیثیت ((کله چي دغه مالک خپل مال ور وسپاريُ)) فقط د امین دئ او کله چي په دې مال کي تصرف پیلوي نو دی د مالک له خوا وکیل سي او چي کومه گټه ولاس ته راځي په هغې کي دی هم شریک وي او د دې څخه پرته د کوم تاوان ضامن جوړولو شرط باطل دئ همداسي که چیري د عقد په وخت کي د گټمي سره په تاوان کي شریک کړل سي نو دا شرط باطل دئ او مضارب به په تاوان کي شریک نه وي. وگوريُ:

وحكمها أنه أمين بعد دفع المال إليه ووكيل عند العمل وشريک عند الربح. (البحر الرائق: ۷/ ۲٦٤، کوئته).

علامه شامي رحمة الله علیه فرمایي:

(وبطل الشرط) كشرط الخسران على المضارب. (رد المحتار: ٥/ ٦٤٨، سعيد).

نو ځکه په دې پوښتل سوي صورت کي خالد مضارب دئ او راشد رب المال یعني مالک دئ، د کاروبار له پاره چي موټر او مزدور درول سوی دئ د دې دواړو ټوله لګښتونه به د مضاربت د مال څخه اداء کیږي او پر مضارب یعني خالد باندي به شرعاً هیڅ لګښت د کار کولو څخه پرته لازم نه وي همداسي که چیري په تجارت کي گټه وسوه نو تر هر څه وړاندي به لګښونه ورڅخه ایستل کیږي تر دې وروسته به گټه د دواړو په منځ کي وېشل کیږي او مضارب به د هغو لګښتونو ذمه وار نه وي.

په البحرالرایق کي راځي:

وله الإبضاع والإيداع واستئجار العمال للأعمال واستئجار المنازل لحفظ الأموال واستئجار السفن والدواب وله أن يرهن ويرتهن لها. (البحر الرائق: ۷/ ٢٦٤، کوئته).

همدارنګه بل ځای راځي:

(فإن ربح أخذ المالك ما أنفق من رأس المال) أي ما أنفقه المضارب فإذا استوفى رأس ماله وفضل شيء اقتسماه لأن ما أنفقه يجعل كالهالك وأشار المصنف إلى أن للمضارب أن

ينفق على نفسه من مال المضاربة في السفر قبل الربح وإلى أنه لو لم يظهر ربح لا شيء على المضارب . (البحر الرائق:٧/ ٢٧٠، كوئته).

په فتاوى هنديه كي راځي:

وسبيل النفقة أن يحتسب من الربح إن كان وإن لم يكن فهي من رأس المال. (الفتاوى الهندية: ٤/ ٣١٣).

په شرح مجله كي راځي:

على كل حال يكون الضرر والخسارة على رب المال وإذا شرط كونه مشتركاً عليه وعلى المضارب فلا يعتبر ذلك الشرط، لأن هذا الشرط زائد لايوجب قطع الشركة في الربح ولا الجهالة فيه فلا يكون مفسداً ويبطل الشرط. (شرح المجلة:٤/ ٣٦٤، المادة:١٤٢٨، لمحمد خالد الاتاسى). والله ﷻ اعلم.

په مضاربت كي د دفتري كار د لګښتونو حكم

سوال: د مضاربت په عقد كي د دفتري كار لګښتونه د چا پر ذمه لازم دي؟

الجواب: د مضاربت په عقد كي مضارب د تجارت په كار كي د مالک له خوا شخصه وكيل وي نو ځكه د مضاربت ټولو لګښتونه به د راس المال څخه اداء كيږي بيا كه چيري په تجارت كي ګټه وسوه نو تر هر څه وړاندي به راس المال په پوره كيږي بيا به هغه پاته ګټه د دواړو تر منځ وېشل كيږي، او كه په تجارت كي ګټه ونه سوه نو د مزدور پر ذمه هيڅ هم لازم نه دي، خو مضارب ته به د كار بدل هم نه وركول كيږي.

وګورئ په درمختار كي راځي:

(ويملك المضارب في المطلقة) التي لم تقيد بمكانٍ أو زمانٍ أو نوعٍ (البيع .... والشراء والتوكيل بهما ، والسفر برا وبحرًا ..... والإبضاع) أي دفع المال بضاعةً.... (و يملك

الإيداع والرهن والارتهان والإجارة والاستئجار) وفي رد المحتار: قوله (والاستئجار) أي استئجار العمال للأعمال والمنازل لحفظ الأموال والسفن والدواب .... والأصل أن التصرفات في المضاربة ثلاثة أقسام: قسم هو من باب المضاربة، وتوابعها فيملكه من غير أن يقول له اعمل ما بدا لك كالتوكيل بالبيع والشراء والرهن والارتهان والاستئجار والإيداع والإبضاع والمسافرة .(الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٦٤٨، كتاب المضاربة، سعيد).

وفيه أيضاً: ويأخذ المالك قدر ما أنفقه المضارب من رأس المال إن كان ثمة ربح ، فإن استوفاه أو فضل شيء من الربح اقتسماه على الشرط ؛ لأن ما أنفقه يجعل كالهالك ، والهالك يصرف إلى الربح، وإن لم يظهر ربح فلا شيء عليه أي المضارب . وفي رد المحتار: قوله ويأخذ أى من الربح، قوله من رأس، وحاصل المسألة أنه لو دفع له ألفاً مثلاً فأنفق المضارب من رأس المال مائة وربح مائة يأخذ المالک الربح بدل المائة التي أنفقها المضارب ليستوفى المالک جمبيع رأس ماله فلو كان الربح في هذه الصورة مائتين يأخذ مائة بدل النفقة ويقتسمان المائة الثانية. (الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٦٥٨، كتاب المضاربة، سعيد).

په فتاوى قاضي خان كي راځي:

وللمضارب أن يعمل ما هو من عادات التجار وهو .... واستئجار الأجراء لحفظ المال واستئجار الدواب للحمل واستئجار المكان والسفر. (فتاوى قاضى خان بهامش الفتاوى الهندية:٣/ ١٦٦، فصل فيما يجوز للمضارب على المضاربة).

وللاستزادة انظر: (الفتاوى الهندية:٤/ ٣١٣، باب فى نفقة المضارب – والجوهرة النيرة:١/ ٣٥١ – وشرح المجلة: لمحمد خالد الاتاسى:٤/ ٣٦٣، المادة:١٤٢٧).

پر رب المال د كار د شرط لګولو حكم

سوال: كه څيري يو چا بل ته مال وركړ او د مضاربت عقد يې ورسره وكړ په دې ډول چي كومه ګټه لاس ته راځي هغه به د دواړو ترمنځ نيم په نيمه وېشل كيږي خو دا شرط يې ولګاوو چي رب المال يعني مالک به هم د مضارب سره كار كوي نو د مضاربت داسي عقد صحيح دئ او كه نه؟ او كه صحيح نه وي نو د سمولو يې څه شكل دئ؟

الجواب: په دې صورت كي د مضاربت عقد فاسد او باطل دئ ځكه چي پر مالک د كار كولو په شرط سره د مضاربت عقد باطليږي.

وګورئ په درمختار كي راځي:

واشتراط عمل رب المال مع المضارب مفسد للعقد لأنه يمنع التخلية فيمنع الصحة. (الدر المختار مع رد المحتار:۵/ ۶۵۴، كتاب المضاربة، سعيد – وشرح المجلة:۴/ ۳۳۱، المادة:۱۴۱۰).

په فتاوى قاضي خان كي راځي:

المضاربة تفسد بأشياء .... ومنها إذا شرط في المضاربة عمل رب بالمال مع المضارب لأن ذلک يمنع التخلية بين المال والمضارب. (فتاوى قاضى خان بهامش الهندية:۳/ ۱۶۱، كتاب المضاربة).

وفي الفتاوى الهندية: فإن شرطا أن يعمل رب المال مع المضارب تفسد المضاربة سواء كان المالک عاقداً أو غير عاقد. (الفتاوى الهندية:۴/ ۲۸۶، كتاب المضاربة - وبدائع الصنائع:۸۵، سعيد).

د مضاربت عقد تر فاسديدو وروسته د هغه د تصحيح يو صورت دا كيدلاى سي چي دا عقد د شركت په عقد سره تبديل كي په داسي ډول چي كه څيري راس المال مثلا لس زره روپۍ وي نو رب المال دي د دې څخه يو څه مضارب ته په قرض وركړي او مضارب دي دا پيسې په راس المال كي د

شرکت په ډول کنبېږدي چي کومه ګټه لاس ته راځي هغه به د دواړو تر منځ نیمه نیمه وېشتل کیږي او کله چي دا عقد پای ته ورسیږي نو رب المال به خپل قرض ورڅخه اخلي.

په مجله کي راځي:

لایشترط فی الشریکین شرکة عنان کون رأس مالهما متساویا بل یجوز کون رأس مال أحدهما أزید من رأس مال الآخر وکل واحد منهما لایکون مجبوراً علی إدخال جمیع نقده إلی رأس المال بل یجوز أن یعقد الشرکة علی مجموعه أو علی مقدار منه فبهذه الجملة یجوز أن یکون لهما فضلة علی رأس مالهما تصلح أن تکون رأسْ مال شرکة کنقدهما مثلاً. (مجلة مع شرحها لمحمد خالد الاتاسی:٤/ ٢٩٢، المادة:١٣٦٥).

په درمختار کي راځي:

وأما عنان.... ولذ تصلح عاماً وخاصاً ومطلقاً ومؤقتاً ومع التفاضل فی المال دون الربح وعکسه وببعض المال دون بعض. وفي رد المحتار: قوله ومع التفاضل فی المال دون الربح أی بأن یکون لأحدهما ألف وللآخر ألفان مثلاً واشترطا التساوي فی الربح. • الدر المختار مع رد المحتار:٤/ ٣١١-٣١٢، سعید – وبدائع الصنائع:٦/ ٦٢، سعید).

وفی الفقه الحنفی وأدلته: شرکة العنان لاتقتضی التساوی، فیصح التفاضل بینهما بالمال ویصح التساوي فی المال ویتفاضلان فی الربح لأن الربح تارة یستحق بالمال وتارة بالعمل بدلالة المضاربة. (الفقه الحنفی وادلته:ص ١٠٤، بیروت).

په جدید معاملات پر شرعي احکام نومي کتاب کي راځي:

دوه یا تر دوو زیات کسان که دا ډول سره شریکان وي چي د هر یو سرمایه، عمل، حقوق او ګټه برابره نه وي په دې کي هر یو د خپل شریک یوازي وکیل دئ کفیل به نه وي د مثال په ډول چي که چیري زید او عمر یو ځای شرکت کوي او زید زر روپۍ سرمایه ولګوي او عمر یو نیم زر روپۍ

سرمایه ولګوي او ګټه هم په دې مناسبت سره وټاکي نو دې ته شرکت عنان ویل کیږي. (جدید معاملات کی شرعی احکام:۲/ ۲۳). والله تعالیٰ اعلم.

د مالک د شرط لګولو پرته د کار کولو حکم

سوال: که چیري پر مالک باندي شرط کړل سوي نه وي خو هغه تبرعاً کار کوي نو د دې ګنجائش سته او که نه؟

الجواب: د مضاربت په عقد کي پر مالک باندي کار مشروط نه دئ او د دواړو په منځ کي تخلیه ده او مالک د یوه پر دي سړي په شان دئ که چیري دی تبرعاً کار کوي یعني د مضارب کومک کوي نو دا روا او صحیح ده له همدې کبله د مضاربت عقد نه فاسدیږي.

په هدایه کي راځي:

فإن دفع شيئاً من مال المضاربة إلى رب المال بضاعة فاشترى رب المال وباع فهو على المضاربة (أي لايفسد المضاربة) .... أن التخلية فيه قد تمت وصار التصرف حقاً للمضارب فيصلح رب المال وكيلاً عنه في التصرف والإيضاح توكيل منه فلا يكون استرداداً بخلاف شرط العمل عليه في الابتداء لأنه يمنع التخلية. (الهداية:۳/ ۲۶۸).

شرح عنایه کي راځي:

أن الواجب هو التخلية وقد تمت فصار التصرف حقا للمضارب، وله أن يوكل ورب المال صالح لذلك ، والإبضاع توكيل لأنه استعانة ، ولما صح استعانة المضارب بالأجنبي فرب المال أولى لكونه أشفق على المال فلا يكون استردادًا ، بخلاف شرط العمل عليه ابتداءً لأنه يمنع التخلية . فإن قيل : رب المال لا يصلح وكيلًا لأن الوكيل من يعمل في مال غيره ورب المال لا يعمل في مال غيره بل في ماله . أجيب بأن رب المل بعد التخلية صار كالأجنبي عن المال فجاز توكيله . (شرح العناية بهامش فتح القدير:۸/ ۴۷۴، دار الفكر).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ولـم يشترط عمله ثـم استعان بـه على العمـل أو دفـع الـمـال بـضاعة جـاز لأن الاستعانة لاتوجب خروج الـمـال عن يده وسواء كان الـمـالک عاقداً أو غير عاقد. (بدائع الصنائع:٦/ ٨٥، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د مالک د مزدور جوړېدولو او کار کولو حکم

سوال: د مضاربت د عقد تر منعقد کېدلو وروسته که چيري مضارب رب المال مزدور کي او تنخوا يې ورته وټاکله نو دا روا ده او که نه؟

الجواب: مالک مزدور جوړول روا نه دي، نو له دې کبله د مضاربت عقد فاسديږي خو د معاون په توګه د کار کولو ګنجائش يې سته.

په بدائع الصنائع کي راځي:

وقد قالوا في الـمضارب : إذا دفع الـمـال إلى رب الـمـال مضاربةً بالثلث فالـمضاربة الثانية فاسدة ، والـمضاربة الأولى على حالـها جائزة ، والربح بين رب الـمال وبين الـمضارب على ما شرطا في الـمضاربة الأولى ، ولا أجر لرب الـمـال .... وأما فساد الـمضاربة الثانية فلأن يد رب الـمـال يد ملكٍ ، ويد الـملك مع يد الـمضارب لا يـجتمعان ، فلا تصح الـمضاربة الثانية ، وبقيت الـمضاربة الأولى على .... لأن رب الـمـال يصير معيناً للمضارب والإعانة لاتوجب إخراج الـمـال عن يده فيبقى العقد الأول ولا أجر لـرب الـمـال لأنه عمل في ملک نفسه فلا يستحق الأجـر. (بـدائع الـصنائع:٦/ ٨٥، كتـاب المضاربة، سـعيد – وكـذا فـی شرح المجلة لمحمد الاتاسي:٤/ ٣٣١، المادة:١٤١٠). والله ﷻ اعلم.

د مضاربت په عقد کي د ګټي د متعين کولو حکم

سوال: حامد د تنخوا دار دلال په حيثيت سره کار کوي او محمود و ده ته شل لکه روپۍ ورکړي چي دى دي په دې پيسو د شرعي طريقې سره سم تجارت کوي او دا شرط يې کښېښوئ چي که په يوه کال کي تر څلور لکه روپۍ زياته ګټه وي نو هغه زياتي روپۍ به د مضارب او رب المال تر منځ (۵۰%) په حساب سره وېشل کيږي مثلاً که چيري حامد شپږ لکه روپۍ ګټه وکړي نو ده ته به يو لک ورکول کيږي خو که يې يوازي څلور لکه وګټلې نو ده ته به هيڅ نه ورکول کيږي د شيرز (برخو) په پلورلو او رانيولو کي که چيري تاوان راسي نو مالک به يې زغمي اوس د دې څه حکم دئ؟ شرعاً دا روا ده او که نه؟

الجواب: د پورتنۍ مسئلې حاصل دا دئ چي په تجارت کي چي کومه ګټه وي د دې څخه به ورب المال ته په سلو کي شل ورکول کيږي او په سلو کي تر شل که هر څومره ګټه زياته سوه په هغه کي به مالک او مضارب دواړه سره شريکان وي او فقهاوو ليکلي دي چي هغه ټول صورتونه چي په هغه کي د يوه فريق له پاره د ګټي يو څه اندازه متعين کړل سي يا د ګټي يو څه اندازه مستثنى سي ناروا ده ځکه چي امکان سته چي تر هغه معلومي اندازې زياته هيڅ ګټه لاس ته رانه سي نو يو فريق به محروم وي، همداسي ديوه له پاره د راس المال فيصدي معلومول هم ناروا دي.

وګورئ په هدايه کي راځي:

ومن شرطها: أن يكون الربح بينهما مشاعاً لا يستحق أحدهما دراهم مسماة من الربح، لأن شرط ذلك يقطع الشركة بينهما، ولا بد منها كما في عقد الشركة. وفي فتح القدير: لأن اشتراط دراهم مسماة لأحدهما يتمشى في صور متعددة مذكورة في معتبرات الفتاوى كالبدائع والذخيرة وغيرهما: منها أن شرطا أن يكون لأحدهما مائة درهم من الربح أو أقل أو أكثر والباقي للآخر، ومنها: أن شرطا لأحدهما نصف الربح أو ثلثه إلا عشرة دراهم، ومنها: أن شرطا لأحدهما نصف الربح أو ثلثه ويزاد عشرة، وفي كل ذلك تفسد المضاربة

بناء على أن كل واحد من الشروط المزبورة يقطع الشركة فى الربح لأنه ربما لايربح إلا القدر المسمى أو أقل كما صرحوا به. (الهداية مع فتح القدير:٨/ ٤٤٨، ٤٤٩، كتاب المضاربة، دار الفكر).

په شرح مجله کي راځي:

الثاني أن يكون جزءاً شايعاً قل أو كثر كالنصف أو الثلث لأن الشركة فى الربح إنما تتحقق به حتى لو شرطا لأحدهما مائة من الربح مثلاً أو مائة مع الثلث أو الثلث إلا مائة والباقي للآخر لم تجز المضاربة لأنه يؤدي إلى قطع الشركة فى الربح لجواز أن لايربح إلا ذلك القدر. زيلعى، وحاشية للشلبي. الثالث: أن يكون المشروط للمضارب مشروطاً من الربح حتى لو شرط شيئاً من رأس المال أو منه ومن الربح فسدت المضاربة كما فى الهندية عن المحيط. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسى:٤/ ٣٣، تحت المادة:١٤١١).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

المضاربة تفسد بأشياء منها إذا شرط لأحدهما من الربح ما يقطع الشركة نحو أن يجعل له دراهم مسماة مائة أو أقل أو أكثر فسدت. (فتاوى قاضى خان بهامش الهندية:٣/ ١٦١، كتاب المضاربة).

وللاستزادة انظر: (بدائع الصنائع:٦/ ٨٦، سعيد).

په جدید معاملات پر شرعي احکام نومي کتاب کي راځي:

نن سبا د شرکت یو دا صورت هم رواج سوی دئ چي یو دوکان یا کار خانې یا د داسي بل شی مالک وخپلو قریبانو ته یا شناخته وو ته وایي چي تاسي زموږ په کار وبار کي دومره پیسې شاملي کي نو هره میاشت به دومره په سلو کي درکول کیږي هغه پیسې شامل وي او هره میاشت ده ته ټاکل سوي پیسې ورکول کیږي دغه په عام ډول خلک روا کار وبار ګڼي حال دا چي په دې کي څو تاوانونه دي:

۱ _ په یوه کار وبار کي پر سرمایه ګټه متعین کول دا د قرض ورکولو او د سود لاس ته راوړلو په حکم کي داخل دي چي صریح حرام دي. (جدید معاملات کی شرعی احکام:۲/ ۲۵)

خو د مضاربت عقد صحیح او روا صورت دا دئ چي د حامد او محمود په منځ کي ګټه د فیصدی په اعتبار سره وټاکل سي مثلاً چي څومره ګټه د محمود اتیا (۸۰%) په سلو کي او حامد شل (۲۰%) په سلو کي اخلي نو دا روا او صحیح ده. والله تعالیٰ اعلم.

لګښتو نه د راس المال څخه د اخیستلو حکم

سوال: د مضاربت په عقد کي مضارب دا شرط کښېښوئ چي خوراک او څېښاک او د کور ټول لګښتونه به د راس المال څخه اخلي ایا داسي شرط لګول روا دي او که نه؟

الجواب: د مضاربت په عقد کي که چیري مضارب په خپل ښار کي اوسیږي او تجارت کوي نو په دې صورت کي د خوراک او څېښاک او د کور لګښتونه د راس المال څخه لاس ته راوړل روا او صحیح نه دي او دا ډول شرط لګول د عقد فاسدوونکی دئ، خو که چیري په بل ښار کي تجارت کوي نو د خوراک او څېښاک او د اوسېدلو هغه ضروري لګښت د راس المال څخه اخیستلای سي او تر هغه زیات اخیستل ورته روا نه دي بیا چي کله په تجارت کي ګټه وسي نو اول به راس المال په پوره کیږي تر هغه څخه وروسته به هغه ګټه د دواړو تر منځ وېشل کیږي.

وګورئ په شرح مجله کي راځي:

الثالث: أن يكون المشروط للمضارب مشروطاً من الربح حتى لو شرطا شيئاً من رأس المال أو منه فسدت المضاربة. (شرح المجلة لمحمد الاتاسی:٤/ ٣٣٣، تحت المادة:١٤١١ – وكذا فی الفتاوی الهندية:٤/ ٢٨٧).

په درمختار کي راځي:

وإذا سافر ولو يومًا فطعامه وشرابه وكسوته وركوبه وكل ما يحتاجه عادةً أي في عادة التجار بالمعروف في مالها وأن عمل فی المصر سواء ولد فيه أو اتخذه داراً فنفقته في ماله .... ويأخذ المالک قدرما أنفقه المضارب من رأس المال إن كان ثمة ربح فإن استوفاه أو

فضل شيء من الربح اقتسماه على الشرط لأن ما أنفقه يجعل كالهالك والهالك يصرف إلى الربح. وفی رد المحتار: قوله ولو يوماً لأن العلة في وجوب النفقة حبس نفسه لأجلها فعلم أنه ليس المراد بالسفر الشرعي بل المراد أن لايمكنه المبيت في منزله، فإن أمكن أنه يعود إليه في ليلة فهو كالمصر لانفقة له. (الدر المختار مع رد المحتار: ٥/ ٦٥٧، فصل فی المتفرقات، سعید).

په عالمگيري کي راځي:

إذا عمل المضارب في المصر فليست نفقته في المال وإن سافر فطعامه وشرابه وكسوته وركوبه معناه شراء وكراء في مال المضاربة فلو بقي شيء في يده بعدما قدم مصره رده في المضاربة ولو كان خروجه دون السفر إن كان بحيث يغدو ثم يروح فيبيت بأهله فهو بمنزلة السوقي في المصر وإن كان بحيث لا يبيت بأهله فنفقته في مال المضاربة كذا في الهداية. والنفقة هي ما يصرف إلى الحاجة الراتبة وهي الطعام والشراب والكسوة وفراش ينام عليه والركوب وعلف دابته كذا في محيط السرخسي .... وسبيل النفقة أن يحتسب من الربح إن كان وإن لم يكن فهي من رأس المال لأن النفقة جزء هالك والأصل في الهلاك أن ينصرف أولًا إلى الربح كذا في المحيط .... فأن ينفق من مال المضاربة شيئاً على نفسه قبل أن يشتری به فإنه يستوفى رب المال رأس ماله بكماله كذا في محيط السرخسي. (الفتاوى الهندية: ٤/ ٣١٢، باب فی نفقة المضارب).

وللاستزادة انظر: (بدائع الصنائع: ٦/ ١٠٥-١٠٧، سعيد) والله ﷻ اعلم.

د مالک له پاره میاشتانه د پیسو د ټاکلو حکم

سوال: زید وعمرو ته یو دوکان برابر کړ او ټول سرمایه د زید ده او عمرو تجارت کوي خو زید دا شرط کښېښنوئ چي که ګټه وه او که نه وه د عمرو څخه به دی لس زره روپۍ اخلي دا معامله تر کوم عقد لاندي راځي او ایا داسي عقد روا او صحیح دئ او که نه؟

الجواب: نوموړي معامله په مضاربت سره نومول کیږي او د مضاربت په عقد کي د مضارب یا رب المال له پاره میاشتکي پیسې ټاکل صحیح او روا نه دي، البته دا شرط د عقد مفسد دئ همداسي دا ټاکل سوي پیسې د سود سره د مشابهت په سبب اخیستل حرام دي.

وګورئ په هدایه کي راځي:

ومن شرطها (المضاربة) أن يكون الربح بينهما مشاعاً لا يستحق أحدهما دراهم مسماة من الربح، لأن شرط ذلك يقطع الشركة بينهما، ولا بد منها كما في عقد الشركة، فإن شرط زيادة عشرة فله أجر مثله لفساده فلعله لايربح إلا هذا القدر فيقطع الشركة فى الربح.

(الهداية:٣/ ٢٥٨، كتاب المضاربة).

شرح عنایه کي راځي:

ومن شرط المضاربة أن يكون الربح بينهما مشاعًا ، ومعناه أن لا يستحق أحدهما دراهم من الربح مسماةً، لأن شرط ذلك ينافي الشركة المشروطة لجوازها ، والمنافي لشرط جواز الشيء منافٍ له ، وإذا ثبت أحد المتنافيين انتفى الآخر كما إذا ثبت الوجود انتفى العدم .

(العناية شرح الهداية على هامش فتح القدير:٨/ ٤٤٨، دار الفكر).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ومنها أن يكون المشروط لكل واحدٍ منهما من المضارب ورب المال من الربح جزءًا شائعًا ، نصفًا أو ثلثًا أو ربعًا ، فإن شرطا عددًا مقدرًا بأن شرطا أن يكون لأحدهما مائة درهم

من الربح أو أقل أو أكثر والباقي للآخر لا يجوز ، والمضاربة فاسدة ؛ لأن المضاربة نوع من الشركة ، وهي الشركة في الربح ، وهذا شرط يوجب قطع الشركة في الربح ؛ لجواز أن لا يربح المضارب إلا هذا القدر المذكور ، فيكون ذلك لأحدهما دون الآخر ، فلا تتحقق الشركة فلايكون التصرف مضاربة. (بدائع الصنائع:٦/ ٨٥، كتاب المضاربة، سعيد).

وللاستزادة انظر: (الكفاية شرح الهداية على هامش فتح القدير:٧/ ٤١٨، مكتبة الرشيدية – وتبيين الحقائق:٥/ ٥٤، ملتان – والاختيار لتعليل المختار:٣/ ٢١ – والجوهرة النيرة:١/ ٣٥١ – والدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٦٤٨ – والفتاوى الهندية:٤/ ٢٨٧ – والبحر الرائق:٧/ ٢٦٤، كوئته – والفتاوى السراجية:ص ٥٣١ – وامداد الفتاوى:٣/ ٤٢ – واحسن الفتاوى:٧/ ٢٤٥ – وجديد معاملات كى شرعى احكام:٢/ ٢٥). والله ﷻ اعلم.

په مضاربت کي د منافعو د جهالت حکم

سوال: خالد وبکر ته یو څه پیسې ورکړي او ورته وې ویل چي د دې سره کار وبار کوه له تاسره به یو څه شی درکوم صراحةً یې یو څه معلومه نه کړل، نه د فیصدۍ په اعتبار سره او نه د عدد په اعتبار سره اوس د دې معاملې شرعاً څه حکم دئ؟

الجواب: دا د مضاربت د عقد معامله ده خو د منافعو د جهالت په سبب عقد فاسد سو په فاسد مضاربت کي مضارب ته اجرت مثل ورکول کیږي.

وګورئ په شرح مجله کي راځي:

یشترط في المضاربة كشركة العقد كون رأس المال معلوماً وتعيين حصة العاقدين من الربح جزءاً شايعاً كالنصف والثلث .... وقول هذه المادة: وتعيين حصة العاقدين من الربح الخ، يتضمن اشتراط ثلاثة أمور: الأول، أن يكون نصيب كل منهما من الربح معلوماً حتى لو كان مجهولاً بأن شرط للمضارب جزءاً أو شيئاً أو ردد بين النصف والثلث مثلاً تكون

الاتاسی:٤/ ٣٣٢، المادة:١٤١١).

په هدايه کې راځي:

وكل شرط يوجب جهالة فى الربح يفسده لاختلال مقصوده. (الهداية:٣/ ٢٥٨، كتاب المضاربة

-وكذا فى الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٦٤٨، سعيد).

د فاسد مضاربت حکم:

فتاوی قاضي خان کې راځي:

وإذا عمل المضارب فى المضاربة الفاسدة وربح كان كل الربح لرب المال وللمضارب أجر المثل تاماً لأن المضاربة إذا فسدت تبقى إجارة وفى الإجارة الفاسدة إذا عمل الأجير كان له أجر مثله تاماً. (فتاوى قاضى خان على هامش الهندية:٣/ ١٦٢).

په بدائع الصنائع کې راځي:

وأما حكم المضاربة الفاسدة .... ولا يستحق النفقة ، ولا الربح المسمى ، وإنما له أجر مثل عمله ، سواء كان في المضاربة ربح أو لم يكن ؛ لأن المضاربة الفاسدة في معنى الإجارة الفاسدة ، والأجير .... وإنما يستحق أجر المثل . (بدائع الصنائع:٦/ ١٠٨، سعيد).

په درمختار کې راځي:

إجارة فاسدة إن فسدت فلا ربح للمضارب حينئذٍ بل له أجر مثل عمله مطلقاً ربح أو لا بلا زيادة على المشروط خلافاً لمحمد والثلاثة. وفى رد المحتار: قوله مطلقًا هو ظاهر الرواية، قهستاني: قوله ربح أو لا وعن أبي يوسف رحمه الله إذا لم يربح لا أجر له وهو الصحيح لئلا تربو الفاسدة على الصحيحة سائحاني ومثله في حاشية ط عن العيني، قوله خلافًا لمحمدٍ، فيه

إشعار بأن الخلاف فيما إذا ربح ، وأما إذا لم يربح فأجر المثل بالغًا ما بلغ ؛ لأنه لا يمكن تقدير بنصف الربح المعدوم، كما في الفصولين لكن في الواقعات ما قاله أبو يوسف رحمه الله مخصوص بما إذا ربح وما قاله محمد إن له أجر المثل بالغًا ما بلغ فيما هو أعم، قهستاني . (الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٦٤٦، سعيد).

په شرح مجله کي رائحي:

استحقاق رب المال للربح بماله فيكون جميع الربح له في المضاربة الفاسدة والمضارب بمنزلة أجيره يأخذ أجر المثل لكن لايتجاوز المقدار المشروط حين العقد ولايستحق أجر المثل إن لم يكن ربح. اعتباراً بالمضاربة الصحيحة لأنهما رضيا أن يكون للعامل جزء من الربح لو حصل وبالحرمان إن لم يحصل ولو أوجبنا عليه أجراً عند عدم الربح أو زيادة على المسمى إذا ربح، لربت الفاسدة على الصحيحة. وهذا قول أبي يوسف رحمه الله وهو الصحيح كما في رد المحتار عن السايحاني ومثله في الطحطاوي عن العيني. وفي حاشية أبي السعود عن ابن الفرس: وعند محمد وهو ظاهر الرواية، أنه يجب أجر المثل مطلقاً ربح أو لم يربح زاد على المسمى أو لاهذا مانقله في الشرنبلالية عن التبيين وشرح المجمع والخلاصة، لأنه لايستحق المسمى لعدم الصحة ولم يرض بالعمل مجاناً، وأن أجر الأجير يجب بتسليم المنافع أو بتسليم العمل وقد وجد تسليم كل منهما هنا زيعلي. وقيل الخلاف بينهما فيما إذا ربح وأما لم يربح فأجر المثل بالغاً مابلغ. وقد علمت أن الصحيح ما مشت عليه المجلة في هذه المادة. (شرح المجلة، لمحمد خالد الاتاسي:٤/ ٣٦٢، المادة:١٤٢٦).

په جدید معاملات پر شرعي احکام کي راځي:
که چیري د یوه فاسد شرط څخه مضاربت فاسد سي نو د معاملې د ختمولو طریقه دا ده چي د دغه عقد څخه تر لاسه سوي ګټي به د رب المال وي او مضارب ته به اجرت مثل ورکول کیږي خو د دې اندازه تر ټاکل سوو ګټو زیاتي په کار نه دئ. همداسي که په عقد کي ګټه هم نه وي بیا به هم مضارب د اجرت حق لرونکی وي. (جدید معاملات کي شرعي احکام:۲/ ۵۱).

خلاصه دا چي کله د مضاربت عقد فاسد سي نو مضارب ته اجرت مثل ورکول په کار دي د امام محمد رحمه الله د قول مطابق چي ظاهر الروایة دئ، که ګټه یې کړې وي او که یې کړي نه وي لکه څنګه چي د بدائع الصنائع مصنف او د قاضي خان رحمه الله د عبارتو څخه معلومیږي خو د مجلې شارح محمد خالد اتاسي بیا فرمایلي دي، چي په دې ماده کي د مجلې قول صحیح دئ، یعني د ګټي نه کولو په صورت کي به اجیر ته هیڅ نه ورکول کیږي همداسي په شرحه المجله لعلي حیدر کي راځي: ۳/۴۸۴: الماده ۱۴۲۶. والله تعالی اعلم.

د مضارب له خپلي کمپنۍ سره د عقد کولو حکم

سوال: وزید ته یو چا یو لک روپۍ په مضاربت ورکړې هغه د لرګو سامان په رانیوئ اوس زید پر خپله کمپنۍ دا پلورلای سي او که نه؟

الجواب: که چیري زید د ټولي کمپنۍ مالک وي نو دده پر خپله کمپنۍ پلورل پر خپل ذات او ځان د پلورلو مترادف دي او د فتاوی بزازیې د عبارت څخه معلومیږي چي د رب المال په اجازه داسي عقد کول روا او صحیح دي او که زید د کمپنۍ یو فرد وي بیا هم د تهمت امکان سته نو ځکه په دغه صورت کي په مثلي قیمت د پلورلو اجازه سته او تر دې په کم قیمت یې پلورل صحیح نه دي، ځکه چي په دې صورت کي د رب المال تاوان دئ او مضارب ضرر رسونکی کار نه سي کولای.

وګورئ په فتاوی بزازیه کي راځي:

الوكيل بالبيع لا يملك شراءه لنفسه لأن الواحد لا يكون بائعاً ومشترياً فيبيعه من غيره ثم يشتريه منه..... وإن أمره الموكل أن يبيعه من نفسه أو أولاده الصغار أو ممن لا تقبل شهادته فباع منهم جاز. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٥/ ٤٧٥، الرابع فى البيع).

په درمختار کي راځي:

لايعقد وكيل البيع والشراء مع من ترد شهادته له للتهمة وجوازه بمثل القيمة إلا من عبد ومكاتبه إلا إذا أطلق له الموكل كـ بع ممن شئت فيجوز بيعه لهم بمثل القيمة اتفاقاً.... وفى السراج: لو صرح بهم جاز إجماعاً إلا من نفسه وطفله وعبده غير المديون. وفي رد المحتار: قوله إلا من نفسه، وفي السراج : لو أمره بالبيع من هؤلاء فإنه يجوز إجماعًا إلا أن يبيعه من نفسه أو ولده الصغير أو عبده ولا دين عليه فلا يجوز قطعًا وإن صرح به الموكل، الوكيل بالبيع لا يملك شراءه لنفسه ..... (بزازية) كذا في البحر ، ولا يخفى ما بينهما من المخالفة ، وذكر مثل ما في السراج في النهاية عن المبسوط ، ومثل ما في البزازية فى الذخيرة عن الطحاوي وكأن فى المسئلة قولين خلافاً لمن يدعي أنه لامخالفة بينهما. (الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٥٢١-٥٢٢، سعيد - وكذا فى البحر الرائق مع الحاشية منحة الخالق:٧/ ١٦٧، كوئته).

په فتاوی هنديه کي راځي:

إذا اشترى المضارب أو باع ممن لا تقبل شهادته بسبب القرابة أو الزوجية أو الملك كمكاتبه والعبد المديون فإن كان البيع والشراء بمثل القيمة جاز عندهم جميعًا وإن كان مما لا يتغابن الناس بمثله لا يجوز عندهم جميعًا وإن كان مما يتغابن الناس في مثله لم يجز

عند أبي حنيفة رحمه الله وعندهما يجوز إلا من مكاتبه وعبده المديون هكذا في المحيط

.(الفتاوى الهندية:٤/ ٢٩٤).

په فتاوی شامي کي راځي:

وليس له أن يعمل بما فيه ضرر ولا ما لايعمله التجار. (فتاوى الشامى:٥/ ٦٤٩، سعيد).

په احسن الفتاوی کي راځي:

ديوه قول سره سم د رب المال په اجازه سره مضارب د خپل ځان سره عقد کولای سي. (احسن الفتاوی:٧/ ٢٤٨). والله تعالى اعلم.

د مضارب له پاره د توليې د عقد حکم

سوال: که چيري د مضاربت عقد مطلق وي نو د مضارب له پاره دا روا ده چي د توليې عقد وکړي؟

الجواب: په مطلق مضاربت کي مضارب داسي کار نه سي کولای چي په هغه کي تاوان او ضرر وي او د تجارانو په منځ کي رواج نه وي د دې څخه پرته د تجارت په تړاو هر کار کولای سي نو ځکه به د توليې عقد هم ورته اجازه وي، البته ځيني وختونه يې اړتيا هم ليدل کيږي مثلاً دا ممکنه ده چي دا شی رانيوونکی ونه لري (وريليوکم) سوی وي يا پر رانيوونکی احسان کول غواړي ځکه چي رانيوونکي ومضارب ته ګټه رسولې وي يا به يې په راتلونکي وخت کي ورسوي خو دا کار همېشه کول په کار نه دي او کله کله يې د څه ګټي له پاره کولای سي.

وګورئ په مبسوط کي راځي:

قال رحمه الله: وإذا دفع إلى رجل مالا مضاربة ولم يقل اعمل فيه برأيك فله أن يشتري به ما بدا له من أصناف التجارة ويبيع لأنه نائب عن صاحب المال فى التجارة. (المبسوط للامام السرخسى:٢٢/ ٣٨).

په درمختار کي راځي:

(ويملک المضارب فی المطلقة) التی لم تقيد بمکان أو زمان أو نوع (البيع) ولو فاسداً (بنقد ونسيئة متعارفة والشراء والتوکيل بهما والسفر براً وبحراً).... ويملک الإيداع والرهن والارتهان والإجارة والاستئجار .... لأن کل ذلک من صنيع التجار . وفي رد المحتار: وليس له أن يعمل بما فيه ضرر ولاما لايعمله التجار. (الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٦٤٩، سعيد).

په حاشيه الطحطاوي کي راځي:

قال الصدر الشهيد رحمه الله: التصرفات في المضاربة ثلاثة أقسام: قسم هو من باب المضاربة وتوابعها فيملکها بمطلق الإيجاب وهو الإيداع والإبضاع والإجارة والاستئجار والرهن والارتهان وما أشبه ذلک الخ. (حاشية الطحطاوی علی الدر المختار:٣/ ٣٦٤، کوئته).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

وللمضارب أن يعمل ما هو من عادات التجارة وهو الاتضاع والإيداع واستئجار الأجراء لحفظ المال واستئجار الدواب للحمل، الخ. (فتاوی قاضی خان بهامش الهندية:٣/ ١٦٦). والله تعالیٰ اعلم.

د رب المال له پاره د خپل مکان د کرايې اخيستلو حکم

سوال: حامد ومحمود ته خپل يو دوکان د تجارت له پاره ورکړ او تړوله سرمايه هم د حامد ده محمود يوازې تجارت کوي حامد ومحمود ته ووېل، چي زه به خپله کرايه مياشتنانه لس زره ستا څخه اخلم بنايي که په تجارت کي گټه وي که تاوان ايا داسي عقد صحيح دئ او که نه؟

الجواب: د فقهاوو د عباراتو څخه معلومېږي چي مضارب د رب المال سره عقد منعقد کولای سي او اجاره هم يو عقد دئ نو ځکه په ياد پوښتل سوي صورت کي رب المال د مضارب څخه مياشتکي لس زره روپۍ د کرايې په ډول ولاس ته راوړل صحيح دي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ولو شرى من رب المال بألف عبداً شراه رب المال بنصفه رابح بنصفه وكذا عكسه لأنه وكيله ومنه علم جواز شراء المالک من المضارب وعكسه. وفي رد المحتار: قوله وكذا عكسه وهو ما لو كان البائع المضارب والمسألة بحالها بأن شرى رب المال بألف عبداً شراه المضارب بنصفه ورأس المال ألف فأنه يرابح بنصفه. (الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٦٥٩، سعيد – وكذا في البحر الرائق:٧/ ٢٧١، كوئته – والفتاوى الهندية:٤/ ٢٩٢ – واحسن الفتاوى:٧/ ٢٤٨). والله ﷻ اعلم.

د محدودي ذمه وارۍ حکم

سوال: که چيري يو څوک خپلي کمپنۍ ته (limited liability) په محدوده ذمه واري کي د رجسټر (منشيتوب) کار کول وغواړي نو روا دي او که نه؟ او د دې کمپنۍ شيرز رانيول روا دي او که نه؟

(limited litbility) **د تاکل سوي ذمه وارۍ لنډه پېژندنه:** د محدودي ذمه وارۍ: هدف دا دئ چي د شيرز خاوندان (Share Holders) ذمه وارۍ د هغو د لګول سوي سرمايې تر اندازې محدودي وي يعني که چيري کمپنۍ په تاوان کي ولوېږي نو د دوی زيات تاوان به دا وي چي د دوی لګول سوې سرمايه به خاوري کيږي که پر کمپنۍ پور زيات سو نو د شيرز له خاوندانو د هغو د لګول سوي سرمايې څخه د زيات غوښتنه به نه کيږي. (جديد معاملات کی شرعی احکام:٢/ ٤٢).

په اسلام او جديد معاشی مسائل کي راځي:

((تاکل سوي ذمه واره)) د نوي قانوني او معاشي اصطلاح پر برابرېو داسي شکل لري چي په هغه کي په يوه کار وبار کي هغه شريک يا شيرز هولډر خپل ځان د دې پيسو په واسطه د هغه زياتي ذمه واري څخه ژغوري چي هغه پيسې ده د محدود ذمه وارېو والا کمپنۍ يا په شراکت (partnership) کي لګولي دي که چيري په کار وبار کي تاوان راځي نو يو شيرز هولډر چي هغه زيات تاوان چي دی يې ورې هغه به دا وي چي دی به د هغه خپل راس المال څخه لاس پر ېمنځي

(ختمه به سي) خو دا تاوان د ده و اساسي بنیادو ته نه رسیږي او که چیري د کمپنۍ هغه بنیادي اساسونه د دې د (قرضونو او داسي نورو) څخه داوږو سپکولو قدرت ونه لري نو هغه قرض غوښتونکی (دائن) د شیرز هولډرز د ذاتي بنیادو څخه د هغه د خپلو پاتو قرضونو دعوه نه سي کولای. (اسلام اور جدید معاشی مسائل:۵/ ۱۷۵).؟

الجواب: په شریعت مقدس کي کمپنۍ او د هغې برخه اخیستونکي د مضاربت په عقد کي د رب المال او مضارب په شان دي ځکه چي په کمپنۍ کي برخه اخیستونکي (share Holders) په کمپنۍ کي د خپلي سرمایې په لګولو سره په ګټه کي شریک دي او کار نه کوي نو ځکه هغه د برخو خاوندان د رب المال په حکم کي دي.

(limited liability) محدودي ذمه وارۍ حکم:

د زمانې د ډېرو علماوو رایه دا ده چي د محدودي ذمه وارۍ د تصور په سبب شرکت ته فاسد نه سي ویل کېدلای، په فقه کي لمیټیډ کمپنۍ ته یو ډېر نژدې مثال سته او ((عبد ما ذون فی التجارة)) دئ دی د خپل بادار مملوک وي او ده ته د خپل بادار د خوا څخه د تجارت اجازه وي چي کوم تجارت دی کوي هغه هم د مولی مملوک وي او پر ده که چیري قرضونه واجب وي نو هغه به د غلام د قیمت تر اندازې محدود وي د دې څخه د زیات نه له غلام څخه غوښتنه کیږي او نه د مولی څخه، دلته هم د دائینینو ذمه خرابه سوه دا مثال د کمپنۍ لمیټیډ سره ځکه نژدې دئ چي لکه څنګه چي په کمپنۍ کي شیرز هولډرز ژوندي وي او ذمه یې خرابیږي همداسي دلته د مولی د ژوند په حال کي د دائینینو ذمه خرابیږي.(اسلام اور جدید معشیت او تجارت:ص ۱۰۰، مکتبة المعارف القرآن، کراچی).

په غیر سودي بینکاري نومي کتاب کي دي:

محترم استاد مولانا مفتي ولي حسن صاحب د جامعه العلوم الاسلامیه بنوري ټاون د دار الافتاء باني هم د شیرز رانیول او پلورل د دغو شرطونو سره روا ګڼل، په پاکستان کي این آئي ټي یونټ ټوله په اسټاک مارکېټ کي سرمایه لګوي او دغه ټوله کپمنۍ د محدودي ذمه وارۍ کمپنۍ دي، زموږ په دار الافتاء کي د حضرت مفتي ولي حسن صاحب فتوی موجوده ده چي په هغې کي په آئی ټی

یونټ کي سرمایه لګول روا ګڼل سوي ده او پر دې فتوی د حضرت مولانا ډاکټر عبد الرزاق سکندر مدظلهم تائیدي دستخط هم موجود دئ. (غیر سودی بینکاری: ص ۳۵۶).

همداسي بیان سوي دي:

حقیقت دا دئ چي د کمپنۍ په حیثیت د بانک ذمه واري د محدود (لمیټیډ) کېدلو په سبب په بانک کي د رب المال او مضارب چي کومي اړیکي دي او په خپل منځ کي حقونه او فرایض دي په هغه کي څه فرق نه راځي پر رب المال چي څومره ذمه واري د شریعت له خوا څخه ایښول سوې ده دغومره ذمه واري دلته مناسبه هم ده او د مضارب چي څومره ذمه واري د شریعت له خوا څخه جوړېږي هماغه ذمه واري دلته هم ده ځکه چي د مضارب قاعده دا ده چي که چیري په دې کي د مضارب د تعدي څخه پرته حقیقي تاوان راسي نو هغه پر رب المال باندي راځي او د مضارب تاوان یوازي دومره وي چي د ده تکلیف بې ځایه ولاړئ او بانک چي کله مضارب جوړ سو او ډپازیټر رب المال جوړ سي نو که چیري د بانک د څه تعدي څخه پرته څه حقیقي تاوان راځي نو د اموالو خاوندان هغه د شرعي حکم په ډول زغمي له دې کبله نه چي د بانک ذمه واري محدوده ده. (غیر سودی بینکاری: ص ۳۵۲).

په درمختار کي راځي:

وما هلک من مال المضاربة یصرف إلی الربح لأنه تبع فإن زاد الهالک علی الربح لم یضمن ولو فاسدة من عمله لأنه أمین. وفي در المحتار: قوله ولو فاسدة أي سواء کانت المضاربة صحیحة أو فاسدة وسواء کان الهلاك من عمله أو لا، قوله من عمله یعني المسلط علیه عند التجار، وأما التعدي فیظهر أنه یضمن. (الدر المختار مع رد المحتار: ۵/ ۶۵۶، سعید).

د پورتنۍ مسئلي په اړه حضرت مفتي محمد تقی فرمایلي دي او پر دې باندي د کېدونکو سوالونو یې هم جوابونه لیکلي دي د تفصیل له پاره وګورئ. (اسلام اور جدید معیشت وتجارت - واسلام اور جدید معاشی مسائل - وغیر سودی بینکاری).

اشکال او جواب:

خو یوه نیوکه بیا هم پاته ده هغه دا ده که چیري کمپنی تاواني سي نو د مضاربت تر اصولو لاندي هغه ټوله ګټه چي د عقد له پیله تر اوسه مضارب او رب المال لاس ته راوړې هغه به واپس کیږي؟

وګورئ په درمختار کي راځي:

إن قسم الربح وبقيت المضاربة ثم هلک المال أو بعضه ترادا الربح ليأخذ المالک رأس المال وما فضل بينهما وإن نقص لم يضمن. (الدر المختار: ۵/ ٦۵٦، سعيد).

د دې جواب دا دئ چي لميټيډ کمپنی د خپل شيرز هولډرز سره هر کال نوی عقد کوي تر دې وروسته به د کمپنی پر تاواني کېدو يوازي د نوي عقد هغه وروسته ګټه په دیونو کي مضمونه وي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وإن قسم الربح وفسخت المضاربة والمال في يد المضارب ثم عقداها فهلک المال لم يترادا وبقيت المضاربة لأنه عقد جديد، وهي الحيلة النافعة للمضارب. وفي رد المحتار: قوله النافعة للمضارب أي لو خاف أن يسترد منه رب المال الربح بعد القسمة بسبب هلاك ما بقي من رأس المال وعلم مما مر آنفا أنه لا يتوقف صحة الحيلة على أن يسلم المضارب رأس المال إلى رب المال وتقييد الزيلعي به اتفاقي كما نبه عليه أبو السعود. (الدر المختار مع رد المحتار: ۵/ ٦۵٦، سعيد).

خلاصه دا ده چي محدوده ذمه داري رجسټر کول او د هغه شيرز رانيول په پورتنيو شرائطو سره روا ده. والله ﷻ اعلم.

د عامل له پاره د یو څه زیات ټاکلو حکم

سوال: که چیري دوه کسان په یو کار وبار کي شریک وي یعني د دواړو سرمایه شریکه وي او د دوی څخه یو کار کوي او بل کار نه کوي او د عامل له پاره زیاته برخه وټاکل سي نو دا روا ده او که نه؟ او دا معامله د شرکت ده او که د مضاربت؟

الجواب: په دې صورت کې دا معامله په حقيقت کې د مضاربت ده چې په هغه کې د عامل له پاره يو څه زيات مثلاً اتيا په سلو کې او د زيد له پاره په سلو کې شل وټاکل سي نو د دې هدف دا سو چې پنځوس په سلو کې ګټه د عمر د خپله ماله څخه ده او په پاته پنځوس په سلو کې دېرش په سلو کې د عمر د کار په سبب او زيد ته شل په سلو کې د مال په سبب ورکول کيږي او د شرکت څخه به هدف شرکت فی الربح وي چې مضاربت دئ.

قال ابن عابدين رحمه الله في الشركة: وفي النهر اعلم أنهما إذا شرطا العمل عليهما إن تساويا مالاً وتفاوتا ربحاً جاز عند علمائنا الثلاثة رحمهم الله تعالى خلافاً لزفر رحمه الله والربح بينهما على ما شرطا وإن عمل أحدهما فقط، وإن شرطاه على أحدهما، فإن شرطا الربح بينهما بقدر رأس مالهما جاز، ويكون مال الذي لا عمل له بضاعة عند العامل له ربحه وعليه وضيعته وإن شرطا الربح للعامل أكثر من رأس ماله جاز أيضاً على الشرط ويكون مال الدافع عند العامل مضاربة ولو شرطا الربح للدافع أكثر من رأس ماله لا يصح الشرط ويكون مال الدافع عند العامل بضاعة لكل واحد منهما ربح ماله والوضيعة بينهما على قدر رأس مالهما أبداً هذا حاصل ما في العناية . ما في النهر، قلت : وحاصل ذلك كله أنه إذا تفاضلا في الربح فإن شرطا العمل عليهما سوية جاز ولو تبرع أحدهما بالعمل وكذا لو شرطا العمل على أحدهما وكان الربح للعامل بقدر رأس ماله أو أكثر ولو كان الأكثر لغير العامل أو لأقلهما عملاً لا يصح وله ربح ماله فقط، وهذا إذا كان العمل مشروطا . (رد المحتار:٤/ ٣١٢، كتاب الشركة، سعيد).

په تقريرات الرافعي کې راځي:

قوله وإن شرطاه على أحدهما فإن شرطا الربح بينهما بقدر الخ) في الدرر من كتاب المضاربة مانصه: والثالث أي من شروط المضاربة تسليمه إلى المضارب حتى لا يبقى لرب المال فيه يد لأن المال يكون أمانة عنده فلا يتم إلا بالتسليم كالوديعة بخلاف الشركة لأن المال في المضاربة من أحد الجانبين والعمل من الجانب الآخر فلا بد أن يخلص المال للعامل ليتمكن من التصرف فيه، وأما العمل في الشركة فمن الجانبين فلو شرط خلوص اليد لأحدهما لم تنعقد الشركة لانتفاء شرطها وهو العمل منهما، فظاهر مافيها ينافي مانقله المحشي ويقال في دفع المنافاة إن شرط العمل منهما شرط لتحقيق الشركة وإذا شرط على أحدهما تكون مضاربة أو بضاعة على ما ذكره المحشي تأمل، ثم أنه لاحاجة.... إلى قوله وتخصيص العمل بأحدهما يخرج المسألة عن أن تكون من مفردات مسائل الشركة بل هي حينئذٍ بضاعة إن شرط العمل على أحدهما مع التساوي في الربح ومضاربة إن شرط الفضل للعامل. (التحرير المختار على هامش در المحتار:٤/ ٧٠، سعيد).

په جديد معاملات په شرعي احكام كي راځي:

په شركت كي عمل من الجانبين شرط دئ چي دلته نه ستنه نو ځكه دا شركت نه دئ بلكي مضاربت دئ او بيا كه مال لګول د رب المال له خوا شخه د شرط په درجه كي نه وي نو هيڅ سوال نه پيدا كيږي او كه شرط كړل سوي وي بيا هم په مضاربت او شركت كي د ملايمت (مناسبت) په سبب روا دئ ځنكه چي په دې صورت كي مضاربت اصل دئ او شركت بالتبع دئ ځكه د عمل من الجانبين شرط پورته كړل سو همداسي اشتراط العمل من الجانبين سره تفاضل في الربح هم له همدې كبله روا دئ چي دا صورت د اول پر عكس په اصل كي شركت دئ او مضاربت با التبع دئ ځكه نو اشتراط العمل على الجانبين تاواني نه دئ. (اسلام اور جديد معاشى مسائل:٥/ ٤٧). والله تعالىٰ اعلم.

کمپنۍ ته د مضاربت په ډول د مال ورکولو حکم

سوال: یو سړي یوې کمپنۍ ته یو څه پیسې دیوې ټانکۍ د رانیولو له پاره ورکړې هغه کمپنۍ ټانکۍ رانیسي او خپل منیجر ته یې ورسپاري او د کمپنۍ منیجر دغه ټانکي د نورو ټانکیو سره یو ځای کي او بیا یې په کرایه ورکوي او بیا لاس ته راغلې ګټه په خپل منځ کي وېشي په دې ډول چي تقریباً پنځلس په سلو کي منېجر اخلي او پنځه په سلو کي کمپنۍ اخلي او هغه نوره ګټه د ټانکیو د خاوندانو تر منځ وېشل کیږي په شریعت کي د دې ډول سودا (عقد) ګنجائش شته او که نه؟

الجواب: دا معامله د مضاربت د عقد ده په دا ډول چي د ټانکۍ مالکان د رب المال په حکم دئ او کمپني، منېجر او داسي نور د مضارب په حکم کي دي او مال د مضاربت د نورو له مال سره یو ځای کول او تجارت په کول د رب المال د صراحةً اجازې سره یا د دې ویلو سره چي ته په خپله خوښه کار کوه روا او صحیح دي او په خپل منځ کي ګټه د فیصدۍ په اعتبار سره متعینه ده نو ځکه دا د مضاربت عقد صحیح دئ.

په عالمګیري کي راځي:

الأصل أن ما يفعله المضارب ثلاثة أنواعٍ نوع يملكه بمطلق المضاربة وهو ما يكون من باب المضاربة وتوابعها ومن جملته التوكيل بالبيع والشراء للحاجة .... ونوع لا يملكه بمطلق العقد ويملكه إذا قيل له اعمل برأيك وهو ما يحتمل أن يلتحق به فيلحق به عند وجود الدلالة وذلك مثل دفع المال مضاربةً أو شركةً إلى غيره وخلط المضاربة بماله أو بمال غيره

.(الفتاوى الهندية: ٤/ ٢٩١، باب فيما يملك المضاربمن التصرفات).

په درمختار کي راځي:

ولايملك المضاربة والشركة والخلط بمال نفسه إلا بإذن. وفي رد المحتار: قوله والخلط بمال نفسه أي أو غيره كما في البحر إلا أن تكون معاملة التجار في تلك البلاد أن المضاربين

يخلطون، ولا ينهونـهم فإن غلب التعارف بينهم في مثله وجب أن لايضمن كما في التاتار خانية. (الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٦٤٩، كتاب المضاربة، سعيد).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

وللمضارب أن يعمل ما هو من عادات التجار وهو .... واستئجار الأجراء لحفظ المال واستئجار الدواب للحمل واستئجار المكان والسفر. (فتاوى قاضى خان بهامش الفتاوى الهندية:٣/ ١٦٦، فصل فيما يجوز للمضارب على المضاربة – وكذا في البحر الرائق:٧/ ٢٦٤، كوئته).

په شرح مجله کي راځي:

الثاني أن يكون جزءاً شايعاً قل أو كثر كالنصف أو الثلث لأن الشركة فى الربح إنما تتحقق به حتى لو شرطا لأحدهما مائة من الربح مثلاً أو مائة مع الثلث أو الثلث إلا مائة والباقي للآخر لم تجز المضاربة لأنه يؤدي إلى قطع الشركة في الربح لجواز أن لايربح إلا ذلك القدر: زيعلى، وحاشية للشلبي. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسى:٤/ ٣٣٣، تحت المادة:١٤١١).

دزیات تفصیل له پاره وګوئ: (جدید معاملات کی شرعی احکام:٢/ ٢٣).

څنګه چي نن سبا په مضاربت کي د نورو له مالو سره خپل مال ګډول رواج دئ نو ځکه د اجازې ضرورت يې هم نه سته لکه څنګه چي د شامي د عبارت څخه معلومه سوه. والله ﷻ اعلم.

د مضاربت د فسخه کولو حکم

سوال: **زید او عمرو په (٢٠٠٢م) کال کي مضاربت پيل کړ، زید د رب المال برخه پنځوېشت په سلو کي او عمرو د مضارب برخه پنځه اویا په سلو کي وټاکل سوه په (٢٠٠٧م) کال کي مضارب ورب المال ته یوازي درې زره روپۍ ور کړې او ورته وې ویل چي خپل راس المال یوسه او کله چي يې د نورو ګټو غوښتنه ورڅخه وکړه نو مضارب وویل، چي کرار کرار به يې اداء کومه اوس سوال دا دئ چي مضاربت ختم سو او که نه؟ او وروسته د هغه پاتي ګټې اخيستل روا دي او که نه؟**

الجواب: په دې صورت کي رب المال ته په خبر ورکولو سره د مضاربت عقد ختمولای سي او که د مضارب سره اوس دستي پیسې موجودي نه وي نو د هغه پاته ګټو وروسته لاس ته راوړل روا دي خو که د مضارب سره پیسې وي او دی ځان دوري دوري کوي نو دا ناروا دي.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما صفة هذا العقد فهو أنه عقد غير لازمٍ ، ولكل واحدٍ منهما أعني رب المال والمضارب الفسخ ، لكن عند وجود شرطه ، وهو علم صاحبه لما ذكرنا في كتاب الشركة ، ويشترط أيضًا أن يكون رأس المال عينًا وقت الفسخ دراهم أو دنانير ، حتى لو نهى رب المال المضارب عن التصرف ، ورأس المال عروض وقت النهي ، لم يصح نهيه . (بدائع الصنائع:٦/ ١٠٩، سعيد).

په بداية المجتهد کي راځي:

أجمع العلماء على أن اللزوم ليس من موجبات عقد القراض، وإن لكل واحد منهما فسخه ما لم يشرع العامل فى القراض، واختلفوا إذا شرع العامل، فقال مالک: هو لازم .... وقال الشافعي وأبو حنيفة رحمہ اللہ: لكل واحد منهم الفسخ إذا شاء. (بداية المجتهد:٢/ ١٨١، القول فى احكام القراض، دار نشر الكتب).

په فتاوی حقانیه کي راځي:

د مضاربت په عقد کي د فریقینو څخه هر یو چي وغواړي او څنګه چي وغواړي پای ته یې رسولای سي خو د عقد د ختمولو له پاره ضروري ده چي هغه دوهم ملګری خبر کي خو د دې فسخي اطلاق هغه وخت صحيح دئ چي مال د نغدو په شکل کي وي که چیري مال (سامان) په صورت کي موجود وو نو بیا به ومضارب ته د سامان پلورلو وخت د دې له پاره ورکول کیږي چي هغه اصلي ګټه معلومه سي د کوم له پاره چي عقد سوی وو. (فتاوی حقانیه:٦/ ٣٥٤).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (اسلامی فقه:٢/ ٣٩٧). والله ﷻ اعلم.

د مضارب له پاره د تنخوا د ټاکلو حکم

سوال: یوه سړی د مضاربت په ډول په یوه دوکان کي کار کوي په دې ډول چي د ګټي څخه پنځوېشت په سلو کي دی لاس ته راوړي او پنځه اویا په سلو کي رب المال اخلي یا دیو چا سره شریک دئ نو ایا شریک او مضارب ته د هغه د برخي څخه پرته تنخوا هم ورکولای سي او که نه؟ دلته د تنخوا ورکولو رواج دئ؟

الجواب: مضارب ته د کار عوض د ګټو څخه د فیصدی په اعتبار ورکول کیږي او میاشتانه متعینه تنخوا نه سي اخیستلای، خو که چیري مضارب د تنخوا دار مزدور په حیثیت سره کار کول غواړي نو تنخوا اخیستلای سي، که چیري د تنخوا سره د منافعو څخه یو څه کم کړل سي او ورکول سي نو دا هم روا ده ځکه چي شریک اجیر هم جوړېدلای سي او که نه په دې کي د علماوو اختلاف دئ د زیاتو فقهاوو په اند دا ناروا ده، خو حضرت مفتي رشید احمد لدهیانوي صاحب اجازه ورکړي ده.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

لا أجر للشریک فی العمل بالمشترک. (رد المحتار: ٤/ ٣٢٦، سعید).

په النتف فی الفتاوی کي راځي:

لو کان طعام بین رجلین فقال احدهما لصاحبه: احمله الی الموضع کذا، ولك في نصیبي من الاجر کذا، او قال: اطحنه ولك في نصیبي کذا من الاجر، جاز ذلك في قول زفر رحمه الله، ومحمد بن صاحب رحمه الله، ولایجوز ذلك في قول ابي حنیفة رحمه الله، وابي یوسف رحمه الله، ومحمد رحمه الله. (النتف فی الفتاوی:ص ٣٤٩، کتاب الاجارة، اجارة الشریک شریکه، سعید).

مفتي رشید احمد الدهیانوي د فقهاوو د عبارتو تر نقل کولو وروسته فرمایي، د بیان سوي نصوصو څخه دا لاندي خبري ثابتیږي.

١_ د شریک په مزدوري درولو عدم جواز دیوه شرعي نص څخه ثابت نه دئ.

٢_ د حضرت امام صاحب څخه هم په دې اړه هیڅ روایت نه سته.؛

٣_ د امام محمد رحمه الله قول دئ خو د ده څخه د دې قول هیڅ علت نقل سوی نه دئ.

۴_ ځینو مشائخو چي کوم علتونه فرمایلي دي، هغه د نورو مشائخو په نظر کي مخدوش (د نه منلو وړ) دي.

۵_ علامه سعدي دا د اجارة المشاع په شان ګڼلې ده.

٦_ اجارة المشاع د ائمه اربعه وو په اجماع روا ده خو امام صاحب یې د غیر شریک څخه د بل چاله پاره ناروا ګڼي.

۷_ ائمه ثلاثه د اجارة المشاع په ډول د شریک د مزدور په حیث سره درولو پر روا والي متفق سوي دي.

۸_ د قفیز الطحان حراموالي د شرعي نص څخه د ثابتېدلو باوجود ځینو فقهاوو د تعامل په سبب د دې د جواز قول فرمایلی دئ، خو نورو فقهاوو دا له دې کبله نه دئ قبول کړی چي هغه تعامل د دوی د هیوادو سره خاص دئ او د خاص تعامل سره د شرعي نص پرېښنول روا نه دي.

۹_ د شرعي نص د پرېښولو له پاره تعامل عام شرط دئ خو د مذهب د نص د پرېښولو له پاره تعامل خاص هم کافي دئ.

۱۰_ د حنفي مذهب کېدلو له حیثیته د صاحبینو د اقوالو څخه هغه پر تعامل مبنی احکام مقدم دي.

۱۱_ د مذهب نص د خاص تعامل سره هم پرېښودل کېدلای سي او د کمپنۍ د شریکانو په مزدوري درول خو تعامل عام دئ نو ځکه په دې کي خو به په طریقه اولی سره د مذهب نص پرېښول کیږي خاصةً بیا هلته چي دا نص د امام هم نه وي بلکي قول محمد رحمه الله دئ چي د هغه څخه تعامل مقدم دئ. (احسن الفتاوی: ۷/ ۳۲۸).

قال ابن عابدين رحمه الله: فهذه النقول ونحوها دالة على اعتبار العرف الخاص وإن خالف المنصوص عليه في كتب المذهب مالم يخالف النص الشرعي .... أقول: وبما قررناه تبين لك أن ما تقدم عن الأشباه من المذهب عدم اعتبار العرف الخاص إنما هو فيما إذا عارض النص الشرعي وأما العرف الخاص إذا عارض النص المذهبي المنقول عن صاحب

المذهب فهو معتبر كما مشى عليه أصحاب المتون والشروح والفتاوى.... ليس للمفتي ولا القاضي أن يحكما بظاهر الرواية ويتركا العرف. (رسائل ابن عابدين:۲/ ۱۳۳).

وفيه أيضاً: فهذا كله وأمثال دلائل واضحة على أن المفتي ليس له الجمود على المنقول في كتب ظاهر الرواية من غير مراعاة الزمان وأهله وإلا يضيع حقوقاً كثيرة ويكون ضرره أعظم من نفعه. (رسائل ابن عابدين:۲/ ۱۳۱).

وفيه أيضاً: ولهذا ترى مشايخ المذهب خالفوا مانص عليه المجتهد في مواضع كثيرة بناها على ما كان في زمنه لعلمهم بأنه لو كان في زمنهم لقال بما قالوا به أخذاً من قواعد مذهبه.

(رسائل ابن عابدين:۲/ ۱۲۵، مكتبة محمدويه، كوئته).

په العرف والعادة کي راځي:

بيع الثمار على الأشجار.... وظاهر مذهب الحنفية بطلانه، وبه قال شمس الأئمة السرخسى، وأفتى الحلواني وأبو بكر بن الفضل من مشايخ المذهب بالجواز.... والحلواني وابن الفضل عدلا عن ظاهر المذهب للعرف، قال ابن الفضل: استحسن فيه لتعامل الناس، فإنهم تعاملوا ببيع ثمار الكرم بهذه الصفة، ولهم في ذلک عادة ظاهرة، وفي نزع الناس عن عاداتهم حرج، وكون هذا من بيع المعدوم المنهى عنه وتصريح ظاهر المذهب ببطلانه، لايمنع من صحة ما أفتوا به، لأن العرف كما علمنا يخصص الأدلة ويعدل به عن ظاهر المذهب. (العرف والعادة:ص ۱۷۲-۱۷۳).

خلاصه دا چي په معاملاتو کي د خلکو د اسانتيا په خاطر د اسانتيا خوا غوره کول په کار دي په دې شرط چي د شريعت د چوکاټه وتل پکښي نه وي او د شريک پر تنخوا ځنګه چي د خلکو تعامل هم جاري دئ نو ځکه د حضرت مفتي رشيد صاحب په قول د دې ګنجائش سته. والله ﷻ اعلم.

په تجارت کي چي گټه نه وي د فسخه کولو حکم يې؟

سوال: د دوه کسانو په منځ کي د مضاربت د عقد معامله وسوه چي ديوه به مال وي او هغه بل به کار کوي يوه په يو لک روپۍ مځکه رانيول چي پر هغه يو څو دوکانونه جوړول غواړي او بيا چي د دې څخه کومه گټه لاس ته راځي د دواړو په منځ کي به برابره وېشل کيږي او د تعمير کار به تقريباً تر يوه کاله جاري وي تر دې معاهدې تقريباً پنځه مياشتي وروسته رب المال دا بيرته ختمول غواړي په دې موده کي پر تعمير تقريباً درش زره روپۍ لگبنت راسي اوس سوال دا دئ چي که چيري مضارب دا مځکه د خپل ځان له پاره ساتي نو رب المال ته به څومره پيسې بيرته ورکوي؟

دوهم سوال دا دئ چي تر اوسه هيڅ گټه نه ده سوې نو مضارب ته به څه ورکول کيږي؟

الجواب: د مضاربت په عقد کي رب المال او مضارب په خبر ورکولو سره دواړه د فسخي کولو اختيار لري او د فسخي کولو په صورت کي د مضارب پر ذمه و رب المال ته راس المال بيرته واپس کولو ضروري دي نو ځکه په ياد صورت کي دي مضارب مځکه يا پر بل چا و پلوري يا دې دی خپله رانيسي او راس المال دي بيرته ورکړي او څنگه چي تر اوسه څه گټه لاس ته راغلې نه ده له همدې کبله مضارب ته هيڅ نه ورکول کيږي.

وگورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما صفة هذا العقد فهو أنه عقد غير لازمٍ ، ولكل واحدٍ منهما أعني رب المال والمضارب الفسخ ،لكنْ عند وجود شرطه ، وهو علم صاحبه لما ذكرنا في كتاب الشركة ، ويشترط أيضًا أن يكون رأس المال عينًا وقت الفسخ دراهم أو دنانير ، حتى لو نهى رب المال المضارب عن التصرف ، ورأس المال عروض وقت النهي ، لم يصح نهيه، وله أن يبيعها ؛ لأنه يحتاج إلى بيعها بالدراهم والدنانير ؛ ليظهر الربح ، فكان النهي والفسخ إبطالًا لحقه في التصرف ، فلا يملك ذلك . (بدائع الصنائع:٦/ ١٠٩، سعيد).

وفيه أيضاً: والثاني ، ما يستحقه المضارب بعمله في المضاربة الصحيحة وهو الربح المسمى إن كان في المضاربة ربح ....فإن لم يكن فيها ربح فلا شيء للمضارب لأن الشرط قد صح فلا يستحق إلا ما شرط وهو الربح ولم يوجد. (بدائع الصنائع:٦/ ١٠٧، سعيد).

وفيه أيضاً : ويجوز شراء رب المال من المضارب وشراء المضارب من رب المال ، وإن لم يكن في المضاربة ربح في قول أصحابنا الثلاثة . (بدائع الصنائع:٦/ ١٠١، سعيد).

په اسلامي فقه کي راځي:

كه چيري د مضاربت معاهده وكړل سوه او مضارب تر اوسه كار نه وو پيل كړى نو ټول امامان په متفق ډول سره وايي، چي په دواړو كي وهريوه ته د دې معاهدې د ماتولو اختيار سته او كه چيري يې د كار پيل كړى وي نو بيا د معاهدې ماتولو اختيار سته او كه نه؟ په دې اړه امام مالك رحمه الله فرمايي، چي اوس يوه ته د معاهدې ماتولو حق نه سته، خو امام ابو حنيفه رحمه الله او امام شافعي رحمه الله فرمايي، چي دغو دواړو خواوو ته هر وخت اختيار سته چي كله وغواړي دا معامله فسخ كړي، خو د فسخي كولو خبر وركول ضروري دئ. (اسلامى فقه:٢/ ٣٩٧).

خو كه چيري په راس المال سره د رانيول سوې مځكي قيمت پورته سو نو په دې كي د مضارب گټه ثابته سوه او اوس تر پلورلو وروسته چي كوم قيمت راسي د هغه څخه به راس المال جلا كړل سي او گټه به د دواړو تر منځ وويشل سي.

په درمختار کي راځي:

(ولا من يعتق عليه) أي المضارب (إن كان في المال ربح) .... (فإن فعل .... وقع الشراء لنفسه) وإن لم يكن ربح كما ذكرنا (صح) للمضاربة [أى الشرء] للمضاربة، فإن ظهر الربح بزيادة قيمته [أى العبد] بعد الشراء عتق عليه حظه، ولم يضمن نصيب المالك لعتقه لا بصنعه. (الدر المختار:٥/ ٦٥١، سعيد). والله تعالى اعلم.

پر مضارب د تاوان په راتلو سره د تاوان د ورکولو حکم

سوال: حامد او محمود دواړو تجارت پیل کړ او په معاهده کي يې وليکل چي پنځه لکه روپۍ به د راس المال په ډول محمود ورکوي او حامد به تجارت کوي هغه گټه چي لاس ته راسي د هغې څخه به په سلو کي پنځه اويا محمود اخلي او پنځوېشت په سلو کي به حامد اخلي که چيري څه تاوان راغی نو يوازي محمود به يې زغمي، د معاهدې سره سم د دوو کالو څخه يې تجارت کاوه يو څه وخت وړاندي يو څو کسانو د حامد څخه مال رانيوئ او ورک سول او پيسې يې اداء نه کړې اوس محمود د حامد څخه د تاوان غوښتنه کوي حال دا چي په معاهده کي د دې پر خلاف ليکل سوی دي او حامد د پوره ايمانداری سره په صحيح ډول تجارت کاوو د ده له خوا څخه څه کوتاهي راغلی نه ده، اوس شرعاً څه حکم دئ؟

الجواب: د مضاربت په عقد کي چي کوم مال مضارب د رب المال څخه اخلي په هغه کي دی امين دئ او د تصرف په لحاظ دی وکيل هم دئ يعني د سرمايه لگونکي له طرفه دی نماينده دئ او د امين په حيثيت سره د سرمايې ساتنه کول لازم او ضروري ده خو که ناڅاپه په دې سرمايه کي تاوان راسي يا ضايع سي نو مضارب د دې ذمه وار نه دئ خو که چيري دا ثبوت پيدا سي چي ده په قصد سره مال ضايع کړی دئ نو بيا به دی ذمه وار وي او همداسي که ده د رب المال د شرطو څخه سر غړونه (مخالفت) کړي وي بيا به هم ذمه وار وي.

پورتني حکم ته په کتو سره د پوښتل سوي صورت شرعي حکم دا دئ چي د تاوان تلافي اول ولاس ته په راوړل سوې گټه سره کيږي او که چيري گټه سوې نه وي يا تاوان تر گټه زيات وي او حامد په تجارت کي څه کوتاهي کړې نه وي نو حامد د تاوان ذمه وار نه دئ بلکي محمود به تاوان زغمي همداسي که چيري په معاهده کي د تاون شرط پر مضارب لگول سوی وي نو بيا هم مضارب د دې ذمه وار نه دئ او مضاربت هم نه فاسديږي بلکي شرط خپله باطليږي.

وگوري په درمختار کي راځي:

(ويملك المضارب في المطلقة) التي لم تقيد بمكان أو زمان أو نوع (البيع) ولو فاسداً (بنقد ونسيئة متعارفة) وفي رد المحتار: قوله بنقد ونسيئة ولو اختلفا فيهما فالقول للمضارب في المضاربة. (الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٦٤٨، سعيد).

په هدايه كي راځي:

وما هلک من مال المضاربة فهو من الربح، دون رأس المال، فإذا زاد الهالک على الربح فلا ضمان على المضارب لأنه أمين. (الهداية:٣/ ٢٦٦ – وكذا في الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٦٥٦، سعيد).

په هدايه كي راځي:

وغير ذلک من الشروط الفاسدة لايفسدها ويبطل الشرط كشرط الوضيعة على المضارب. (الهداية:٣/ ٢٥٨ – وكذا في الدر المختار:٥/ ٦٤٨).

په جديد معاملات پر شرعي احكام نومي كتاب كي راځي:

په نوموړي صورت كي د مضاربت عقد صحيح دئ خو ټول تاوان به يوازي د پيسو وركونكي (مضارب) پر ذمه وي او پر كار كونكي به د دې هيڅ ذمه واري نه وي.

وفي رد المحتار: قول بطل الشرط كشرط الخسران على المضارب. (جديد معاملات كى شرعى احكام:٢/ ٣٣). والله ﷻ اعلم.

پر اسلامي اصولو د ګټي ولاس ته د راوړلو طريقه

سوال: كه چيري يو بانک يا كمپنۍ د اسلامي اصولو سره سم د خلكو څخه پيسې واخلي او په دې پيسو ګټه وكړي او پيسو وركونكو ته ګټه وركړي نو د دې به څه طريقه وي؟

الجواب: كمپنۍ يا بانک دي د خلكو څخه د مضاربت په ډول پيسې واخلي او هغه پيسې اېښوونكي به د رب المال په ډول وي او كمپنۍ يا بانک به د مضارب په حيثيت سره وي خو په دې شرط چي هغه تجارت وكي او ګټه به د دوى تر منځ په خاص تناكل سوي مناسبت سره وېشل كيږي

مثلاً د رب المال له پاره څلوېښت په سلو کي او د مضارب (بانک) له پاره شپېته په سلو کي او ښکاره خبره ده چي د پیسو ایښوونکو او پیسو ورونکو یو تاریخ نه وي نو په دې کي ((الحساب الیومی)) د روزانه ګټي پر بناء حساب (Daily product Basis) پر اساس به ګټه وېشل کیږي د چا پیسي چي په بانک کي څومره ورځي وي د دغومره ورځو په حساب سره دي د ګټو څخه اوسط ورکړل سي.

وګورئ په هدایه کي راځي:

المضاربة عقد على الشركة بمال من أحد الجانبين ومراده الشركة في الربح وهو يستحق بالمال من أحد الجانبين والعمل من الجانب الآخر ولا مضاربة بدونها .(الهداية:۳/ ۲۵۷، كتاب المضاربة).

البته خو د ګټي ولاس ته په راوړلو کي به شرکت او مضاربت د لاندي لیکل سوو اساسي اصولو رعایت کول ډېر ضروري دئ.

۱_ د سرمایې په مناسبت سره د ګټي تاکلو صحیح شرعي شکل دا دئ چي کومه ګټه په حقیقت کي وي د هغې فیصدي دي وټاکل سي.

۲_ ګټه چي پر کوم مناسبت دوی غواړي په خپل منځي خوښي سره یې ټاکلای سي او د ګټي وېشل د سرمایې په اندازه ضروري نه دئ، خو کوم شریک چي د کار نه کول شرط لګولی وي د ده ګټه د ده د سرمایې په مناسبت زیاته کېدلای نه سي.

۳_ په ګټه کي خو د مختلفو شریکانو له پاره مختلف شکلونه غوره کېدلای سي، خو د تاوان په صورت کي دا ډول کول روا نه دي او تاوان به په هر حال کي د سرمایې پر اندازه وي چي د هغه څخه فقهاء داسي تعبیر کوي.

« الربح على ما اصطلحوا عليه، والو ضيعة بقدر رأس المال ».

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (اسلام اور جدید معیشت وتجارت – واسلامي فقه، جلد دوهم – واسلامي اور جدید معاشي مسائل، جلد پنجم).

اشکال او جواب:

پر ((الحساب الیومي)) باندي یوه نیوکه کیږي چي په دې ډول د ګټې وېشل تقریبي وېشل دي نه د سرمایي د حقیقي ګټي وېشل او په دې کي دا شک سته چي د زید د حقیقي ګټي یو څه برخه د عمر وخوا ته ولاړ سي؟

الجواب: د دې جواب دا دئ چي په شرکت کي د شریکانو مالونه په مشاع ډول سره ګډ وي نو له دې کبله د ګټې د وېشلو په وخت کي هغه حقیقي ګټه نه لیدل کیږي بلکي د مجموعي سرمایې څخه چي کومه مجموعي ګټه سوې وي هغه وېشل کیږي خو دا هم ممکنه ده چي د زید د سرمایې څخه هیڅ ګټه هم نه وي راغلې او ګټه یوازي د عمر د سرمایې څخه راغلې وي نو ځکه شرعاً حقیقي وېش هدف نه دئ بلکي تقریبي کفایت کوي.

د تفصیل له پاره وګورئ: (اسلام اور جدید معیشت وتجارت، از حضرت مفتي تقي صاحب عثماني).

والله ﷻ اعلم.

د مضاربت د وخت سره د مقید کولو حکم

سوال: که چیري د مضاربت په عقد کي یو چا دا ووېل چي ستا خوښه ده چي تر کومه وخته دا پیسې چلوې خو کم تر کم پنځه کاله موده او یا زیاته موده به پنځلس کاله ضروري ده ایا داسي شرط لګول روا دئ که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د مضاربت عقد د وخت سره مقیدول او دا شرط لګول روا او صحیح دئ خو د فقهاوو د کلام څخه دا معلومیږي چي د کمي مودې شرط لګول صحیح نه دئ ځکه چي تر هغه وخته وړاندي هم دی د فسخ کولو اختیار لري.

په فتاوی هندیه کي راځي:

وإن وقت للمضاربة وقتاً بعينه يتقيد به حتى يبطل العقد بمضيه. (الفتاوى الهندية: ٤/ ٢٩٨).

په اسلامي فقه کي راځي:

دوخت د معلومولو په صورت کي د دې مودې وړاى په ته رسېدو سره د دواړو شخه هريوه ته د معاملې د ختمولو اختيار دئ. (اسلامی فقه: ۲/ ۳۹۷).

په اسلام اور جديد معاشي مسائل کي راځي:

د حنفي او حنبلي مذاهبو له مخي مضاربت تر يو خاصي مودې پوره محدود کېدلای سي مثلاً يو کال، شپږ مياشتي او داسي نور چي تر هغه وروسته به بيله خبر ورکولو خپله مضاربت ختمېږي. ايا د فريقينو له خوا په مضاربت کي کمه موده هم ټاکل کېدلای سي چي تر هغه وړاندي بيا مضاربت نه سي ختمولای؟

يوه قاعده عمومًا دلته بيانيږي د هغې شخه معلوميږي چي داسي هيڅ موده نه سي متعين کېدلای او هر فرق ته چي هر وخت وغواړي هغه معاد ختمولای سي.

د فريقينو د مضاربت د ختمولو دا غير محدود اختيار په اوسنی زمانه کي ځيني مشکلات را پيدا کولای سي ځکه چي اوس زيات کار وباري تېمونه د خپلو ثمراتو په خلکو د ليدلو له پاره د يو څه وخت ضرورت لري دوی ډېر تکليفونه زغمي او خاصو کوښښو ته هم ضرورت لري نو ځکه که چيري رب المال د کار په پيل کي مضاربت ختم کړي نو دا خبره به د دوی له پاره د لوی مشکل لامل جوړه سي په خاص ډول دا به پر مضارب باندي يو ډېر سخت واری وي چي د دومره کوښښو سره سره يې هيڅ ونه ګټل نو ځکه که چيري د مضاربت په عقد کي د داخلېدو په وخت کي فريقين پر دې خبره متفق سي چي هيڅ يو فريق هم په يوه معين وخت کي د يو څو خاصو وختو شخه پر ته معامله (مضاربت) نه ختموي نو دا خبره په ښکاره د شريعت د هيڅ اصولو مخالفه نه ده، خاصةً بيا د دې حديث په رڼا کي چي په هغه کي دا راغلي دي:

المسلمون على شروطهم إلا شرطاً أحل حراماً أو حرم حلالاً. (رواه الترمذی وصححه، برقم: ۱۳۵۲، فی باب ما يذكر عن رسول الله ﷺ فی الصلح بين الناس).

د مسلمانانو په منځ کي هغه ټاکل سوي شرطونه دي پر ځای پرېښول سي پر ته د هغو شرطونو چي د حرام اجازه پکښې ورکول سوی وي يا دي يو حلال حرام کړل سي. (اسلام اور جديد معاشی مسائل: ۵/ ۴۶-۴۷، بعنوان مضاربة كو ختم كرنا). والله ﷻ اعلم

د مضاربت سره یو څو تړلي مسئلې

د مضاربت د یو څو مسئلو د پوښتلو جرئت کوم په جواب سره مو مشرف کړئ؟

۱ _ سوال: که چیري رب المال پر مضارب دا شرط ولګوي چي په نغدو کار وبار کوه نو ایا هغه په پور کار وبار کولای سي؟

الجواب: نه یې سي کولای.

په مبسوط کي راځي:

ولو دفعه إليه مضاربة على أن يشتري بالنقد ويبيع فليس له أن يشتري إلا بالنقد لأن هذا تقييد مفيد في حق رب المال. (المبسوط للامام السرخسی: ۲۲/ ٤٤، باب مايجوز للمضارب ومالايجوز). والله تعالی اعلم.

۲ _ سوال: ایا د کافر سره د مضاربت عقد کېدلای سي؟

الجواب: دا معامله ده او د معاملې له پاره د ملت اتحاد ضروري نه دئ. رسول الله ﷺ د کافرانو سره هم معاملې کړي دي.

په بدائع الصنائع کي راځي:

وإسلامه ليس بشرطٍ أصلًا فتجوز الإجارة والاستئجار من المسلم، والذمي، والحربي المستأمن لأن هذا من عقود المعاوضات فيملكه المسلم، والكافر جميعًا كالبياعات.

(بدائع الصنائع: ٤/ ١٧٦، كتاب الاجارة، سعيد). والله تعالی اعلم.

۳ _ سوال: ما و مضارب ته یو لک روپۍ د تجارت له پاره ورکړې خو هغه خپله هم تجار دئ او د نورو خلکو څخه هم مال د مضاربت په ډول اخلي ایا دا صحیح دئ، یعني د مال ګډول صحیح دي او که نه؟

الجواب: د مالک یعني رب المال په اجازه یې ورسره ګډولای سي، که چیري اجازه صراحةً نه وي نو عرفي اجازه هم کفایت کوي، ځکه چي عرف پر همدغه جاري ده.

په درمختار کي راځي:

ولايملک المضاربة والشركة والخلط بمال نفسه إلا بإذن. وفي رد المحتار: قوله والخلط بمال نفسه أي أو غيره كما في البحر إلا أن تكون معاملة التجار في تلك البلاد أن المضاربين يخلطون، ولا ينهونهم فإن غلب التعارف بينهم في مثله وجب أن لايضمن كما في التاتار خانية. (الدر المختار مع رد المحتار: ٥/ ٦٤٩، كتاب المضاربة، سعيد). والله ﷻ اعلم.

۴_ سوال: زه په ليس کي اوسېږم او د کار وبار ځای په جوهانسبرګ کي دئ او زه د زيد له خوا څخه مضارب يم د ليس څخه تر جوهانسبرګ پوري تقريباً (۲۳ – ۲۵) کېلو متره لار ده زما له پاره تل تګ (تلل) لازم دي ايا زه د موټر لګښت اخيستلای سم؟

الجواب: کله چي مضارب د خپل ښار څخه دباندي د کار وبار له پاره ځي نو لګښت، خوارک او څيښاک د عرف او عادت سره سم اخيستلای سي. د فقهاوو د عباراتو څخه معلومېږي چي که چيري شپه ته کور ته را رسېدلای سي نو نفقه او نوري د مضاربت په مال کي لازم نه دي او که داسي سفر وو چي د شپي کور ته رسېدل مشکل وو نو نفقه او نور مصارف د مضاربت د مال څخه اخيستلای سي.

وګوري: (بدائع الصنائع: ٦/ ١٠٦، ٥، سعيد - والفتاوى الهندية: ٤/ ٣١٢ -وفتاوى الشامي: ٥/ ٦٥٧). خو د دې اساس پر عرف باندي دئ او زموږ په عرف کي په عامه توګه د غرمې ډوډۍ پر مالک باندي وي او کله چي د ښاره دباندي ځي که څه هم د شپې دی وکور ته راځي همداسي د تجارت له پاره خپل موټر او داسي نور کار وي او پټرول او داسي نور هم د تجارت له مال څخه وي بلکي په ډېرو ځايو کي خو مالک خپله د کمپنی موټر ورکوي نو د دې مسئلو مدار پر عرف باندي دئ. والله ﷻ اعلم.

د ټليفون د کمپنۍ سره د مضاربت حکم

سوال: علماء کرام د لاندي مسئلې په اړه څه فرمايي:

يوه سړي ته د حکومت له خوا د ټليفون د کمپنۍ چلولو لائسنس (جواز) ورکول سوی دئ، د هغه فيس يې تقريباً شل زره ډالر اداء کړئ دغه سړي د ليسنس و لاس ته د راوړلو له پاره ډېر کوښښ وکړ او پيسې يې هم ولګولې او د تجارت چلولو له پاره يې يوه کمپنۍ پېل کړه خو د ماشينانو يا داسي نورو له پاره د ډېر پيسو اړتيا سته نو که چيري دا سړي و لسو کسانو ته ووايي، چي ستاسي څخه هريو وما ته پنځه زره ډالر را کړئ په دې شرط چي په دې تجارت کي څومره ګټه وسي د دې يو متعين فيصدي به تا ته درکړم او تر يو کال وروسته به راس المال سره د هغه ګټې اداء کيږي او دا شرط يې هم ولګاوو چي د لسو کسانو څخه به د يوه هم په تجارت کي هيڅ دخل نه وي او دا سړی به خپل خوښي سره سم تجارت کوي. اوس سوال دا دئ چي ايا دا روا ده چي د يوه کال له پاره په دې کمپنۍ کي پيسې ولګوي او تر يوه کال وروسته راس المال سره له ګټې بيرته واخلي؟

او ايا دا راس المال به مضمون وي او که نه او ايا داسي عقد روا دئ؟

الجواب: په صورت دې کي:

الف _ دا معامله د مضاربت ده او دا روا ده . د مضاربت هدف دا دئ چي د يوه سړي له خوا څخه مال او د بل د خوا څخه د کار کول وي ګټه به د شرط سره سم د فصدۍ په حساب سره وېشل کيږي خو د يوه له پاره پيسې معلومول ناروا دي، همداسي د راس المال په فيصدۍ سره اخيستل هم روا نه دي څکه چي دا د سود په حکم کي راځي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

المضاربة .... شرعاً عقد شركة في الربح بمال من جانب رب المال وعمل من جانب المضارب. وفي رد المحتار: قوله من جانب المضارب قيد به لأنه لو اشترط رب المال أن يعمل مع المضارب فسدت. (الدر المختار مع رد المحتار: ٥/ ٦٤٥، كتاب المضاربة، سعيد).

وفيه أيضاً : ومن شروطها: كون نصيب المضارب من الربح حتى لو شرط له من رأس المال أو منه ومن الربح فسدت، وفي الجلالية: كل شرط يوجب جهالة فی الربح أو يقطع الشركة فيه يفسدها وإلا بطل الشرط وصح العقد اعتباراً بالوكالة.... (ويملک المضارب فی المطلقة) التي لم تقيد بمكان أو زمان أو نوع (البيع).... (بنقد ونسيئة متعارفة والشراء والتوكيل بهما والسفر براً وبحراً). (الدر المختار:٥/ ٦٤٨، سعيد).

باء_ ديوه كال له پاره مضاربت روا دئ او ودې ته موقت مضاربت ويل كيږي . د دې تفصيل وړاندې تېر سوی دئ.

جيم _ راس المال به مضمون نه وي بلكې مضارب به په دې كې دامين په حيثيت سره كار كوي تر كومه وخته چې تعدي د ده د خوا څخه ونه كول سي كه چيرې د مضارب د تعدي څخه پر ته تاوان وسي نو تر ټولو د مخكې به د ګټې څخه تلافي كيږي بيا كه چيرې دا ګټه كافي نه وه نو د راس المال څخه به تلافي كيږي.

قول بطل الشرط كشرط الخسران على المضارب. (فتاوى الشامي:٥/ ٦٤٨، سعيد).

وفی الدر المختار: وما هلک من مال المضاربة يصرف إلى الربح لأنه تبع فإن زاد الهالک على الربح لم يضمن ولو فاسدة من عمله لأنه أمين. وفي در المحتار: قوله ولو فاسدة أي سواء كانت المضاربة صحيحة أو فاسدة، وسواء كان الهلاك من عمله أو لا، ح (قوله من عمله) يعني المسلط عليه عند التجار، وأما التعدي فيظهر أنه يضمن سائحاني.(الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ٦٥٦، سعيد). والله تعالیٰ اعلم.

د رب المال د خپل زوی د مضاربت په عقد کي د شاملولو حکم

سوال: زید وعمر ته د مضاربت په ډول یو لک روپۍ ورکړي او په خپل منځ کي یې دا پرېکړه وسوه چي په گټه کي به په سلو کي دېرش د رب المال وي او په سلو کي شپېته به د مضارب وي او د مضارب سره به د رب المال زوی د منېجر په ډول کار کوي او د ده له پاره به لس په سلو کي گټه ورکول کېږي ایا دا شکل صحیح دئ او که نه؟

الجواب: په دې پوښتل سوي صورت کي سره د فیصدۍ په اعتبار سره گټه معلوموول صحیح دي همداسي د رب المال خپل زوی منېجر ټاکل هم صحیح دي او ده ته به هم لس په سلو کي د گټي څخه ورکول کېږي ځکه چي د مضاربت په عقد کي د رب المال زوی د یوه اجنبي (پردي) سړي حیثیت لري او داجنبي له پاره د کار په عوض د گټي څخه یو څه برخه معلوموول روا او صحیح دي.

وگورئ په شرح مجله کي راځي:

وتعيين حصة العاقدين من الربح.... أن يكون جزءً شايعاً قل أو كثر كالنصف أو الثلث لأن الشركة فى الربح إنما تتحقق به. (شرح المجلة:٤/ ٣٣٣ – وكذا فى الهداية:٣/ ٢٥٨، و٢٦٤).

په الفتاوی الهندیه کي راځي:

ولو اشترط أن يعمل عبد رب المال مع المضارب .... ولو كان عبد رب المال عليه دين فاشترط له أجر عشرة دراهم كل شهر أو اشترط ذلك المكاتبه أو لابنه جاز. (الفتاوى الهندية:٤/ ٢٨٨).

وكذا لو كان مكاتب المضارب لكن بشرط أن يشترط عمله فيهما وكان المشروط للمكاتب له لا لمولاه وإن لم يشترط عمله لايجوز وعلى هذا غيره من الأجانب فتصح المضاربة.... والمرأة والولد كالأجانب هنا كذا فى النهاية. (فتاوى الشامى:٥/ ٦٥٣ – وكذا فى البحر:٧/ ٢٦٧ – والمبسوط للسرخسى:٢٢/ ٢٨ – والفتاوى الهندية:٤/ ٢٨٩). والله تعالى اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ قال لقد ظلمك بسؤال نعجتك إلى نعاجه وإن كثيرًا من الخلطاء ليبغي بعضهم على بعضٍ ﴾. (سورة ص، الآية: ٢٤).

وقال رسول الله ﷺ « يقول الله تبارک وتعالى: « أنا ثالث الشريكين مالم يخن أحدهما صاحبه فإذا خانه خرجت من بينهما». (رواه ابو داؤد، والحاكم فى المستدرک).

عن السائب بن يزيد المخزومى أنه كان شريک النبي ﷺ قبل البعثة، فجاء يوم الفتح، فقال: مرحبا بآخي وشريكي ». (رواه احمد وأبو داؤد).

كتاب الشركة

د شرط سره د تړلي احكامو بيان

بې عمله په مزدورۍ کې د شریک کېدو حکم

سوال: زید یو خیاط دئ چې په ټول ښار کې مشهور دئ دی پر یو دوکان باندي کله کله کښېني او هغه دوکان د ده تر نظرېې لاندي چلیږي، په هغه دوکان کې درې کسان د ستني کار کوي او زید هیڅ کار نه کوي د دوو درو ساعتو له پاره راځي خو چې کومه مزدوري لاس ته راځي په هغه کې دی هم برابر شریک وي ایا د زید له پاره د کار کولو پرته مزدوري اخیستل روا ده او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې د فقهاوو په اصطلاح کې د شرکت صنایع سره تعبیر کیږي او دا استحساناً روا دئ که څه هم د ظاهري شکل او صورت په اعتبار سره دا اجارې عقد دئ خو په حقیقت کې دا د شرکت عقد دئ او دا په شرکت تقبل، شرکت اعمال او شرکت ابدان سره نومول کیږي یعني د خلکو څخه کار قبول کړي او لاس ته راغلې مزدوري په خپل منځ کې ووېشل سي په دې اعتبار سره په پورتنی صورت کې د زید د کار کولو پرته په مزدورۍ کې شریکېدل روا او صحیح دي.

وګورئ په درمختار کې راځي:

وإما تقبل وتسمى شركة صنائع وأعمال وأبدان. وفي رد المحتار: والمراد عقد الشركة على التقبل والعمل ....في البحر : أن المشترك فيه إنما هو العمل، ولذا قالوا: من صور هذه الشركة أن يجلس آخر على دكانه فيطرح عليه العمل بالنصف، والقياس أن لا يجوز لأن من أحدهما العمل ومن الآخر الحانوت، واستحسن جوازها، لأن التقبل من صاحب الحانوت عمل . (الدر المختار مع رد المحتار: ٤/ ٣٢٢، مطلب في شركة التقبل، سعيد).

په بدائع الصنائع کې راځي:

ولو أن رجلًا أجلس في دكانه رجلًا يطرح عليه العمل بالنصف ، فالقياس أن لا تجوز هذه الشركة لأنها شركة العروض ؛ لأن من أحدهما العمل ومن الآخر الحانوت ، والحانوت من العروض ، وشركة العروض غير جائزة ، وفي الاستحسان جائزة ؛ لأن هذه شركة الأعمال

؛ لأنها شركة التقبل ، وتقبل العمل من صاحب الحانوت عمل ، وشركة الأعمال جائزة بلا خلافٍ بين أصحابنا ؛ لأن مبناها على الوكالة والوكالة على هذا الوجه جائزة ، بأن يوكل خياط أو قصار وكيلًا يتقبل له عمل الخياطة والقصارة ، وكذا يجوز لكل صانعٍ يعمل بأجرٍ أن يوكل وكيلًا يتقبل العمل .(بدائع الصنائع:٦/ ٦٤، كتاب الشركة، سعيد).

وللاستزادة انظر: (النتف فی الفتاوی:ص ٣٢٥، بيروت – تبيين الحقائق:٥/ ١٤٧، باب فسخ الاجارة، ملتان – وحاشية الشلبی علی التبيين:٣/ ٣٢١، ملتان).

او که چیري دا دوکان دديٍ سړي نه وي خو په ښار کي د شهرت په سبب خلک د کار له پاره ورته راځي يعني د خپل شهرت په سبب کار قبلوي او بل کار کوي او په مزدوري کي دواړه سره شريکان دي بيا هم د تعامل په سبب روا دي.

وګورئ علامه اکمل الدين بابرتی رحمه الله فرمايي:

شركة الصنائع وهي شركة التقبل ، لأن شركة التقبل أن يكون ضمان العمل عليهما وأحدهما يتولى القبول من الناس والآخر يتولى العمل لحذاقته، وهو متعارف فوجب القول بجوازها للتعامل بها قال ﷺ « ما رآه المسلمون حسنًا فهو عند الله حسن ». (العناية فی شرح الهداية علی هامش تكملة فتح القدير:٩/ ١٥٠، دار الفكر).

اشکال او جواب:

ډېرو فقهاوو د هدايې پر مصنف دانيوکه کړې ده چي شرکت صنائع د هدايې مصنف څنګه شرکت وجوه بللی دئ حال دا چي شرکت وجوه جلا عقد دئ د دې څه جواب دئ؟

الجواب: د هدايې د مصنف په اند هم نوموړې معامله د شرکت تقبل د ډلي څخه ده همداسي فرمايي:

« فهذا بو جاهته يقبل وهذا بحذاقته يعمل». (الهداية:٣/ ٣١٧، مسائل منثورة، كتاب الاجارات).

د شرکت وجوه اطلاق يې ښايې د دوو لاملو په سبب پر کړی وي:

۱_ په دې عقد کي د وجاهت ډېر لوی دخل سته بلکي پر دې موقوف دئ، همداسي وجاهت او شهرت د کار له پاره د سبب درجه لري او د دې په شان معاملو کي شرکت مقصد (هدف) هم وي.

۲_ دا معامله د شرکت وجوه سره مشابهت لري له دې حیثیته چي په دې کي د شهرت او وجاهت څخه ګټه پورته کيږي، د دې تاکید د هدايې د ځينو نسخو د دې عبارت څخه کيږي:

« لأن هذه كشركة الوجوه فى الحقيقة ».

او لکه څنګه چي په بدر المنتقى على هامش المجمع: ۲/۴۰۳، کي ليکل سوي دي.

وګورئ په شرح الوقايه کي راځي:

ففى الهداية حمله على شركة الوجوه وفيه نظر لأنه شركة الصنائع والتقبل، فكأنه صاحب الهداية أطلق شركة الوجوه عليه لأن أحدهما يقبل العمل بوجاهته وهذا العقد غير جائز قياساً... وجائز استحساناً ووجهه أن تخصيص قبول العمل بأحدهما لايدل على نفيه من الآخر فإذا عقدت شركة الصنائع ويقبل أحدهما العمل العمل ويعمل الآخر فيجوز فكذا ههنا والحاجة ماسة بمثل هذا العقد فجوزناه. (شرح الوقاية:۳/ ۳۱۳).

په تبيين الحقائق کي راځي:

وقول صاحب الهداية هذه شركة الوجوه في الحقيقة فهذا بوجاهته يقبل، وهذا بحذاقته يعمل فيه نوع إشكالٍ فإن تفسير شركة الوجوه أن يشتركا على أن يشتريا شيئًا بوجوههما ويبيعا وليس في هذه بيع ولا شراء فكيف يتصور أن تكون شركة الوجوه، وإنما هي شركة الصنائع على ما بينا. (تبين الحقائق:۵/ ۱۴۷، باب فسخ الاجارة، ملتان).

وقال فى مجمع الأنهر شرح ملتقى الأبحر جواباً عما أشكل عليه العلامة الزيلعي في شرح الكنز:

لكن يمكن التوفيق بأن مراد صاحب الهداية بشركة الوجوه ليس ما هو المصطلح عليه المار في كتاب الشركة بل مراده بها ههنا ما وقع فيه تقبل العمل بالوجاهة يرشدك إليه قوله : هذا بوجاهته يقبل ، وهذا بحذاقته يعمل ويمكن بوجهٍ آخر أنه أطلق عليه شركة الوجوه تغليبًا لجهة الوجاهة على جهة العمل لكونها سببًا تأمل . (مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر :۲/ ۴۰۲ – وكذا فی حاشية ابن عابدين:۶/ ۹۰، مسائل شتى، سعيد – ونتائج الافكار:۹/ ۱۵۱، دار الفكر).

وفی بدر المنتقى في شرح الملتقى على هامش المجمع: قوله (صح) هذا الفعل استحساناً لأنه شركة الصنائع وفي بعض نسخ الهداية أنه كشركة الوجوه (قلت) وحينئذٍ فيسقط نظر الزيلعي والعيني فتأمل. (بدر المنتقى على هامش المجمع:۲/ ۴۰۳).

وللاستزادة انظر : (البناية شرح الهداية:۳/ ۶۹۳ – نتائج الافكار:۹/ ۱۵۱، دار الفكر – ودرر الحكام شرح غرر الاحكام:۲/ ۲۴۰ – والكفاية شرح الهداية على هامش فتح القدير:۸/ ۹۰، مكتبة الرشيدية). والله ﷻ اعلم.

په ترکه کي د يوه وارث د تجارت حکم

سوال: يو سړی مړ سو ترکه لانه وه وېشل سوې چي د مرحوم دوو زامنو د پلار کار وبار جاري وساتئ او ښه گټه يې وکوله اوس د لسو کالو تر تېرېدو وروسته ترکه وېشل غواړي نو ايا ټوله وارثان به په گټه کي شريک وي يا فقط د مرحوم د مرگ په وخت چي څه وه د هغه به تقسيم کيږي؟

الجواب: د مرحوم په مال کي تر وېش څخه وړاندي چي کومه گټه سوې وه ټول وارثان به په ټول مال کي شريکان وي که څه هم دا نور وارثان د مشترک مال په تجارت کي شريکان نه وو خو په گټه کي به شريکان وي او ټول مال به د گټي سره د ټولو وارثانو تر منځ په شرعي طريقه وېشل کيږي، خو که چيري کار کونکي ته يو څه زيات د ده تر حصي ورکړل سي نو مناسبه ده، خو شرعاً لازمه نه ده.

وګورئ په الاشباه والنظائر کي راځي:

إذا عمل أحد الشريكين دون الآخر بعذرٍ أو بغيره فالربح بينهما إذا عمل أحد الشريكين .... الخ. إنما كان الربح بينهما ؛ لأن استحقاق الربح بحكم الشرط في العقد لا العمل ، كما في البزازية في آخر فصل ما يكون للشريك، وقوله بعذرٍ لا يصح تعلقه بالفعل المذكور كما هو ظاهر وليس ثم غيره يصح تعلقه به ، وحينئذٍ فالصواب أن يقول كما في البزازية : ويستوي أن يمتنع الآخر بعذرٍ أو بغير عذرٍ ؛ لأن العقد لا يرتفع بمجرد امتناعه . (الاشباه والنظائر مع غمز عيون البصائر: ۲/ ۹۷).

دلوړ بيان سوي عبارت خلاصه دا سوه چي که چيري يو شريک کار نه وکوي بيا هم وده ته د مشترک مال شخه پوره برخه ورکول کيږي بنايي که دی د کار شخه معذور وي او که نه وي.

وللاستزادة انظر : (المجلة وشرحها لمحمد خالد الاتاسی: المادة: ۱۳۹۲، ۸۳).

په ياد ولري چي دغه شرکت فقهاء په شرکت املاک سره تعبير وي.

په تبيين الحقائق کي راځي:

شركة الملك أن يملك اثنان عيناً إرثاً أو شراء.... وكل أجنبي في قسط صاحبه أی كل واحد منهما أجنبي في نصيب صاحبه حتى لايجوز له أن يتصرف فيه إلا بإذنه كما لغيره من الأجانب. (تبين الحقائق شرح الكنز الدقائق: ۳/ ۳۱۳).

شمس الائمه سرخسي رحمة الله عليه فرمايي:

فشركة الملك أن يشترك رجلان في ملك مالٍ ، وذلك نوعان : ثابت بغير فعلهما كالميراث ، وثابت بفعلهما ، وذلك بقبول الشراء ، أو الصدقة أو الوصية والحكم واحد ،

وهو أن ما يتولد من الزيادة يكون مشتركًا بينهما بقدر الملك، وكل واحدٍ منهما بمنزلة الأجنبي في التصرف في نصيب صاحبه. (المبسوط للسرخسي:۱۱/ ۱۵۱).

اشکال او جواب:

اشکال: ځيني حضرات دا فرمايي، چي ګټه يوازي د تصرف کونکو او کار کونکو سره به خاص وي او نورو وارثانو ته به د دې ګټي څخه هيڅ نه ورکول کيږي او په دليل کي د عالمګيري لاندي ليکل سوی عبارت وړاندي کوي.

لو تصرف أحد الورثة في التركة المشتركة وربح فالربح للمتصرف وحده، كذا في الفتاوى الغياثية. (الفتاوى الهندية:۲/ ۳٤٦). **د دې جواب څه دئ؟**

الجواب: لوړ بيان سوی عبارت د نورو فقهي کتابو د مخالف کېدو په سبب به د دې مطلب داوي چي ده تصرف وکړ او د مشترکو پيسو څخه يې يو څه پيسې ور واخيستلې بيا يې په دې پيسو کي تصرف وکړ نو هغه ګټه به د ده وي. په فتاوی محموديه کي هم د دې وطرف ته اشاره سوې ده. وګورئ: (۲۰/ ۳۰۹، مع التعليقات).

يا د دې جواب دا دئ چي زموږ مخورو علماوو پر دې فتوی نه ده ورکړې بلکي د اکابرو فتوی د دې خلاف ده.

وګورئ په کفايت المفتي کي رائحي:

عمر چي په مشترک مال کي تجارت او داسي نور وکړل چي کومه ګټه يې لاس ته راوړې ده او مال يې ډېر کړی دئ هغه به هم پر ټولو وارثانو وېشل کيږي او يوازي د عمر ترکه به نه ګڼل کيږي.

وعمله وتصرفه يكون تبرعاً ووجهه أنه شريك في بعضه وعامل بنت أخيه في بعضه وهي في عياله، وليس ههنا عقد ولا غصب. (كفايت المفتي:۸/ ۲٦۹، كتاب الفرائض).

همداسي دا ډول جواب بل ځای هم ليکل سوی دئ وګورئ: (کفايت المفتي:۸/ ۲۷٤، كتاب الفرائض).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

جواب: کله چي زید او عمر دواړه د دې مذکوره جائیداد رانیوونکي وي نو دواړه په نصف نصف کي شریکان دي او تر دوی وروسته به د دوی وارثان د دوی قائم مقام وي نو ځکه د وارثانو غوښتنه **شرعاً صحیح او حق ده.** في رد المحتار: قوله ولزمه نصف الثمن بناء على أن مطلق الشركة يقتضي التسوية. (فتاوی دار العلوم دیوبند: ۱/ ۵۹۷، کتاب الشرکة).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (امداد الاحکام: ۳/ ۳۹۱-۳۲۲).

او که موږ دا وایو چي د وارث تصرف د پردي په مال کي د تصرف په شان دئ او دا ناروا دئ نو د هغه جواب به هم همدا وي چي د پردي په مال کي چي کوم تصرف وکړل سي او کومه ګټه چي دي وکړي هغه د فقهاوو په اند واجب التصدق ده او کله چي یې مالک معلوم وي وهغه ته به یې رسوي او وارثان خو هغه دي معلوم دي نو ځکه به د شرعي برخو سره سم به ګټه هم د اصل مال سره وېشل کیږي.

په فتاوی شامي کي راځي:

وفي القهستاني: وله أن يؤديه إلى المالك ويحل له التناول لزوال الخبث. (فتاوی الشامي: ۶/ ۱۸۹، کتاب الغصب، سعید).

په امداد الاحکام کي راځي:

سوال: د وراثت پیسې وراندي تر وېشلو یو شریک د نورو شریکانو د خبرولو پرته یو چا ته په مضاربت ورکړې او مضارب په دې کي یو څه تصرف وکړ، مال یې رانیوي او بیا یې وپلوري او ګټه یې هم وکړه نو دا مضاربت صحیح سو او که نه؟ او چي کومه ګټه یې لاس ته راوړې ده مضارب په دې کي د نیمي حق لري او که نه؟

الجواب: کوم شریک چي په مضاربت روپۍ ورکړي دي هغه تاکل سوې ګټه د ده ملکیت خو سو او په هغه کي یوازي د ده د وراثت د خپلي برخي سره سم د ده له پاره حلاله ده او هغه نوره ګټه

كتاب الشركة والمضاربة). والله ﷻ اعلم.

د خپلي برخي د پلورلو حكم

سوال: د دوو ورونو يو سراى دئ چي د دې قيمت دوه ميليونه دئ او د يوه ورور سراى سته دئ دى كرايه غواړي او مكان پلورل نه غواړي خو د هغه بل سره ځاى نه سته هغه خپل سراى پلورل غواړي اوس به د كوم يوه خبره منل كيږي؟

الجواب: كه چيري د دواړو له پيله څخه شركت يا وارثت وو نو هر يو خپله برخه د بل داجازې پرته پلورلاى سي خو كه په بيعه كي هغه بل ته ضرر وو نو بيا خپله برخه نه سي پلورلاى لكه د عمارت يا درختي يا فصل پلورل د هغه بل شريک اجازې پرته يې پلورل روا نه دي، بناء پر دې په ياد سوي صورت كي به هم د نه پلورونكي خبره منل كيږي او د يوه شريک د اجازې پرتـه د بل شريک مكان (ځاى) نه سي پلورلاى ځكه مكان پر عمارت مشتمل دئ.

وګورئ په شرح مجله كي راځي:

الشريک مخير إن شاء باع حصته من شريكه وإن شاء باعها من أجنبي بدون إذن شريكه.... لكن في صور خلط الأموال واختلاطها التي بيناها في الأصل الأول لايسوغ لأحد الشريكين في الأموال المخلوطة أو المختلط أن يبيع حصته من آخر بدون إذن شريكه.

أما لو باعها بإذن شريكه أو باعها من شريكه جاز كما في الملتقى وغيره، والفرق أن الشركة إذا كانت بينهما من الابتداء بأن اشتريا حنطة أو ورثاها كالت كل حبة مشتركة بينهما فبيع كل منهما نصيبه شائعاً جاز من الشريک والأجنبي بخلاف ما إذا كان بالخلط أو الاختلاط، لأن كل حبة مملوكة لأحدهما بجميع أجزائها ليس للآخر فيها شركة فإذا باع نصيبه من غير إذن الشريک لايقدر على تسليمه إلا مخلوطاً بنصيب الشريک فيتوقف على

إذنه بخلاف بيعه من الشريک للقدرة على التسليم (مجمع الأنهر) قلت: ومثل الخلط والاختلاط بيع ما فيه ضرر على الشريک أو البائع أو المشتري كبيع الحصة الشائعة من البناء أو الغرس أو الغرس أو الزرع بدون الأرض وقد استوفينا الكلام على ذلک في شرح المادة: ۲۱۵. ومثله لوباع أحد الشريكين بيتاً معيناً باع من دار مشتركة أو باع نصيبه من بيت معين منها فالبيع لايجوز (درمختار) وذلک لتضرر الشريک الآخر عند القسمة إذ لو صح البيع في نصيب البائع لتعين نصيبه فيه.

فإذا وقعت القسمة للدار كان ذلک ضرراً على الشريک إذ لاسبيل إلى جمع نصيب الشريک فيه لأن نصفه للمشتري ولاجمع نصيب البائع فيه لفوات ذلک بيعه النصف وإذا سلم الأمر من ذلک انتفى ذلک وسهل طريق القسمة (خيرية من البيوع). (شرح المجلة لسليم رستم باز اللبناني:ص ۲۰۹).

وللاستزادة انظر: (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسی:۲/ ۱۰۸-۱۱۵، المادة:۲۱۵). والله ﷻ اعلم.

پر غير شرعي شيرز باندي د ګټي حکم

سوال: يو سړي په (۲۰۰۴ م) کال په اريس انويسمينټ کي د شل زرو پيسو برخي رانيولې حال دا چي دا د شرعي قانون په چوکاټ کي وو اوس د دې سړي د وينا سره سم پر شرعي قانون برابر نه دي نو شريک خپلي برخي وپلورلي او ټولي پيسې (۴۷۰۰۰) لاس ته راغلي يعني پر راس المال ګټه وسوه نو د دې شخه چي کومه ګټه پيدا سوې ده، دی هغه کار ولای سي او که نه؟

الجواب: تر کوه وخته چي کمپنی د شرعي قانون سره سم تجارت کاوه تر هغه وخته هغه ګټه حلاله او روا ده خو د کومه وخته چي يې د شرعي قانون پر خلاف تجارت پيل کړی دئ د هغه وخته دي هغه ګټه د ثواب د نيت پرته خيرات کړل سي.

په فقهي مقالات کي راځي:

د شیرز (حصو) رانیولو او پلورلو د جواز له پاره درې شرطونه دي:

۱_ اصل کار وبار حلال وي.

۲_ که چیري کمپنۍ سودي کار وبار کوي نو په کلنۍ مشوره کې دې اواز پورته کړل سي (احتجاج دې وسي).

۳_ کله چې گټه ووېشل سي هغه وخت چې څومره برخه د گټې د سودي ډپازټ څخه پیدا سوې ده هغه دې خیرات کې. (فقهی مقالات:۱/ ۱۵۱).

دزیات تفصیل له پاره وگورئ: (اسلام اور جدید معاشی مسائل:۵/ ۱۶٤). والله ﷻ اعلم.

د کمپنۍ د شیرز (برخو) د تجارت حکم

سوال: یوه کمپنۍ په لوړه کچه د شیرز تجارت کوي او څنگه چې په شیرز کې ډېرې گټې دي ځکه خلک په دې کې ډېره برخه اخلي خو په دې کې یو څو شرطونه لگول سوي دي چې د هغو په سبب ځیني علماء د دې په روا والي کې د فکر څخه کار اخلي شرطونه وگورئ:

۱_ تر درې کاله یې پر بل چا نه سي پلورلای؟

۲_ افریقایان چې هندوستانیان هم پکښې شامل دي، یوازې پر هغوی یې پلور لای سي او پر بل چا یې نه سي پلورلای؟

د دې شرطو په سبب ځیني علماء فرمایي، چې رسول الله ﷺ په بیعه کې د شرط لگولو څخه ممانعت فرمایلی دئ نو ځکه دا ناروا دئ تاسې د مهربانۍ له مخې جواب راکړئ؟

الجواب: که چیري دا کمپنۍ تجارت کوي او سودي کمپنۍ هم نه وي او دغه معامله هم سودي نه وي نو د دې شرطو په سبب ناروا نه ده ځکه د اول شرط تقاضا د معاملې قیمت دئ یعني تر درې کاله دا نه سي پلورلای چې د هغه گټه دا ده چې تر درې کاله به شراکت وي او معامله موقته ده تر دې وروسته که چیري وغواړي نو و دې پلوري او که غواړي شراکت دې غوره کړي او یا یې ختموي نو ختم دې کړي او دوهم شرط یوازې پر افریقایانو یا پر هندوستانیانو به یې پلوري په دې کې متعاقدینو ته څه گټه نه سته بلکې قومي گټه پکښې لحاظ سوې ده همداسې دا شرط د جنگ لامل نه دئ ځکه د دې هم گنجائش سته.

وګورئ په هدايه کي راځي:

ولو كان لا يقتضيه العقد ولا منفعه فيه لأحد لا يفسده وهو الظاهر من المذهب كشرط أن لا يبيع المشتري الدابة المبيعة لأنه انعدمت المطالبة فلا يؤدي إلى الربا ولا إلى المنازعة. (الهداية:۳/ ۵۹، باب البيع الفاسد).

په شرح مجله کي راځي:

و حاصل ما ذكره الفقهاء في البيع مع الشرط أن الشرط الذي يقترن به البيع إما أن يقتضيه العقد، وإما أن لايقتضيه العقد لكن يلا يمه، وإما أن لا يقتضيه العقد ولا يلايمه لكن قد جرى العرف باشتراطه، وإما أن لايقتضيه العقد ولا يلايمه ولا جرى العرف باشتراطه، لكن لامنفعة فيه لأحد، فالبيع في هذه الوجوه الأربعة صحيح والشرط معتبر في الوجوه الثلاثة الأولى منها، ويلغو فى الوجه الرابع. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسى:۲/ ۵۹، الفصل الرابع فى حق البيع بشرط).

وفيه أيضاً: البيع بشرط ليس فيه نفع لأحد المتعاقدين يصح والشرط لغو، مثلاً بيع الحيوان على أن لايبيعه المشتري لآخر أو على شرط أن يرسله فى المرعى صحيح، والشرط لغو. (شرح المجلة:۲/ ٦۵، المادة:۱۸۹).

د شركت موقته حكم:

قال فى الهندية: وإن وقتا ، هل يتوقت بالوقت المذكور ، روى بشر عن أبي يوسف رحمه الله عن أبي حنيفة رحمه الله أنه يتوقت والطحاوي ضعف هذه الرواية، وصححها غيره من المشايخ، وهو الصحيح . (الفتاوى الهندية:۲/ ۳۰۲).

وفي الهداية: المضاربة عقد على الشركة بمال من أحد الجانبين ومراده الشركة في الربح .... إن وقت للمضاربة وقتاً بعينه يبطل العقد بمضيه، لأنه توكيل فيتوقت بما وقته والتوقيت مفيد، فإنه تقييد بالزمان فصار كالتقييد بالنوع والمكان. (الهداية:۳/ ۲۵۷-۲۶۱).

په فتاوى شامي كي راځي:

وإن وقتا لذلك وقتاً بأن قال ما اشتريت اليوم فهو بيننا صح التوقيت، فما اشتراه بعد اليوم يكون للمشتري خاصة وكذا لو وقت المضاربة لأنها والشركة توكيل، والوكالة مما يتوقف . (فتاوى الشامي:٤/ ٣١٢، سعيد).

خلاصه دا چي اول شرط عقد نه فاسد وي ځكه د متعاقدينو ګټه نه سته پكښي بلكي د دې سره قومي ګټه تړلې ده او دا د فقهاوو د بيان سوي فاسدو شرائطو څخه نه ده او دوهم شرط په حقيقت كي شرط نه دئ بلكي موقت شركت دئ او د فقهاوو په اند موقت شركت روا دئ نو ځكه دا بيعه او شرط نه دئ چي د هغه ممانعت په حديث كي راغلى وي. والله تعالى اعلم.

د يوې مشتركي كمپنۍ د مزدورانو حكم

سوال: يوه مشتركه كمپنۍ ده چي د هغې څو شريكان دي، د هغې د شركانو څخه يو ګرجا (كليسايي) او د هغو د دوستانو څخه دئ او د دې مختلفي شعبي دي . د يوې شعبي كار دا دئ چي هغه د مزدورانو ټولو انتظامات كوي مثلاً خوراك، چيښناك د خواب او داسي نور بيا دغه مزدوران د يو څه پيسو په عوض كي په نورو كمپنيو كي په مزدوري لګوي، اوس موږ دا پوښتنه كوو چي د كمپنۍ د دې اداري سره معامله كول او د هغو مزدورانو په مزدوري درول روا دي او كه نه؟ په داسي حال كي چي د كمپنۍ اړيكي د كليسا سره دي خو په كوم ځاى كي چي مزدوران كار كوي هلته عبادت او داسي نور نه كوي، بلكي يوازي كار كوي؟

الجواب: كفار په مزدوري درول او په هغو كار كول روا دي ځكه چي دوى ستاسي په ځاى كي عبادت نه كوي او دا پر معصيت تعاون هم نه دئ ځكه تاسو به دوى ته د كار مزدوري وركوئ، نه د څه

بل شی ځکه نو د داسي کمپنی سره په معامله کولو کي هيڅ تاوان نه سته، خو که چيري دې کمپنی د مسلمانانو پر خلاف څه خفيه سازش جوړ کړې وي نو د دې څخه ځان ژغورل اړين دي.

وګورئ په بخاري شريف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها استأجر النبي ﷺ : وأبو بكرٍ رضي الله عنه رجلاً من بني الديل وهو من بني عبد بن عدي هاديًا خريتًا، الخريت الماهر بالهداية قد غمس حلفًا في آل العاص بن وائلٍ السهمي وهو على دين كفار قريشٍ فأمناه فدفعا إليه راحلتيهما وواعداه غار ثورٍ .... الخ . (صحيح البخاری، رقم ۲۲٦۳، باب هجرة النبي ﷺ واصحابه الی المدينة).

په عالمګيري کي راځي:

لابأس بأن يكون بين المسلم والذمي معاملة إذا كان مما لابد منه كذا فی السراجية.

(الفتاوی الهندية: ۵/ ۳۴۸، کتاب الکراهية، باب فی اهل الذمة).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وإسلامه ليس بشرط أصلاً فتجوز الإجارة والاستئجار من المسلم والذمي والحربي المستامن لأن هذا من عقود المعاوضات فيملكه المسلم والكافر جميعاً كالبياعات. الخ.

(بدائع الصنائع: ۴/ ۱۷٦، کتاب الاجارة، سعيد).

په فتاوی محموديه کي راځي:

سوال: په کافر کفن جوړول (ګنډل) څنګه دي؟

الجواب: صحيح دئ لکه څنګه چي نور معاملات صحيح دي. (فتاوی محموديه: ۱۹/ ۵۸۷، جامعه فاروقی). والله تعالیٰ اعلم.

د کمپنۍ په مخلوط کار وبار کې د برخې اخيستلو حکم

سوال: که چیري یوه کمپنۍ حرام او حلال مخلوط کار وبار کوي نو د دې سره د معاملې کولو یا پکښې د برخې اخيستلو څه حکم دئ؟

الجواب: د کمپنۍ د حصو کار وبار د لاندې شرطو سره د منلو وړ دئ.

۱_ د کمپنۍ مرکزي کار وبار د شریعت خلاف نه وي مثلاً د سود پر اساس تمویلي خدمتونه وړاندې کول یعني بانک د انشورنس کمپنیو حصې چې هغه په نورو ناروا کارو کې ملوث وي لکه هغه کمپنۍ چې هغه شراب، خنزیر، حرامې غوښې تیار وي یا یې پلوري یا په قمار او داسې نورو فحاشیو کې ملوث وي نو بیا په دې کمپنیو کې برخه اخیستل یا د دوی سره کار وبار کول ناروا دي.

۲_ که چیري د کمپنۍ مرکزي کار وبار حلال وي مثلاً د آټوموبائل، ټیکسټائل کار کوي یا داسې نور خو که هغه کمپنۍ خپلې زیاتې پیسې په سودي اکاونټ کې ایږدي یا سودي قرضونه اخلي نو پر شیرز هولډر باندې لازمه ده چې هغه د داسې معاملو پر خلاف د خپل خفګان اظهار وکړي چې د هغه ښه شکل دا دئ چې د کمپنۍ په کلنۍ عامه مشوره کې د داسې کارو پر خلاف ږغ پورته کړي.

۳_ که چیري د کمپنۍ په ګټه کې د سودي کهاتو څخه حاصل سوې یو څه ګټه هم شامله وي نو شیرز هولډر دې د اداء کړل سوو منافعو څخه په دې مناسبت د ګټې حصه خیرات کړي او شیرز هولډر دې د دې څخه کټه نه اخلي، مثلاً که چیري د کمپنۍ ټولو منافعو څخه پنځه په سلو کې د سودي کهاتو څخه لاس ته راوړې وي په دې مناسبت دې هغه ګټه پنځه په سلو کې خیرات کړي.

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (اسلام اور جدید معاشی مسائل: ۵/ ۱٦٤).

په امداد الفتاوی کې راځي:

سوال: عموماً ټولې کمپنۍ سود اخلي او ورکوي یې په دې صورت کې د هر شریک په برخه کې سودي روپۍ هم راځي نو شریک ته د کمپنۍ د خپلې برخې پر برابر ګټه اخیستل چې په هغو کې بنايي سودي روپۍ هم ګډې وي روا دي او که نه؟

الجواب: ... وفي المبسوط: يكره للمسلم أن يدفع إلى النصراني مالاً مضاربة وهو جائز في القضاء. (ص ١٢٥ ج ٢٢) وفيه أيضاً: وأبو حنيفة رحمه الله يقول: الذى ولى الصفقة هو الوكيل

والخمر مال متقوم في حقه يملک أن يشتريها لنفسه فيملک أن يشتريها لغيره وهذا لأن الممتنع ههنا بسبب الإسلام هو العقد على الخمر لا الملک فالمسلم من أهل أن يملک الخمر، ألا ترى أنه لو تخمر عصير المسلم يبقى ملكاً له ثم إذا تخلل جازله بيعه وأكله إذا مات قريبه عن خمر يملكها بالإرث فإن اعتبرنا جانب العقد فالعاقد من أهله وهو في حقوق العقد كالعاقد لنفسه وإن اعتبرنا جانب الملک فالمسلم من أهل ملک الخمر فيصح التوكيل. (ص ٢١٦ ج ١٢).

فإن قيل ذكر فى الهندية: فى باب المضاربة بين أهل الإسلام وأهل الكفر إذا دفع المسلم إلى النصراني مالاً مضاربة، بالنصف فهو جائز إلا أنه مكروه فإن اتجر فى الخمر والخنزير فربح جاز على المضاربة في قول أبي حنيفة رحمه الله وينبغي للمسلم أن يتصدق بحصته من الربح وعندهما يجوز على المضاربة، وإن أربي فاشترى درهمين بدرهم كان البيع فاسداً ولكن لايصير ضامناً لمال المضاربة والربح بينهما على الشرط. (ص ٤٠٢ ج ٥).

قلنا قوله ينبغي للمسلم أن يتصدق بحصته محمول على الورع كما هو الظاهر وإن حمل على الوجوب فهو إذا كان قد اتجر فى الخمر والخنزير ولم يتجر في غيرهما وإلا فحمله على ما سيجيئ فى المخلوط. وقوله في صورة إرباء الوكيل كان البيع فاسداً لايضرنا فإن الوكيل بالبيع كالعاقد لنفسه وفساد البيع في حق الذمي لايستلزم حرمة الربح على المسلم فإن تبدل الملک يدفع خبث الفساد وأما على قول من جوز الربا بين المسلم والكافر في دار الحرب فالأمر أوسع.

نو بيا په نوموړي صورت کي به په هغه مال مستفاد کي حراموالي نه وي حال دا چي کمپنۍ جوړونکي کافر وي خو د کفارو په کمپنيو کي شراکت مکروه دئ څنګه چي د مبسوط د قول څخه معلومه سوه او که د مسلمانانو کمپنۍ هم سودي کاروبار کوي لکه څنګه چي غالباً همداسي ده نو بيا د کفارو په کمپنيو کي د مسلمانانو تر کمپنيو څه اسانتيا سته. وګورئ:

ولنذكر بعد ذلک حكم المال لمختلط بالحرام والحلال، قال قاضي خان رحمة الله عليه:.....

فإذا خلط الوكيل دراهم الربا بعضها ببعض الدراهم التي أخذها من حلال يجوز أخذ الربح منها لكون الخلط مستهلكاً عند الإمام لاسيما إذا كان الوكيل كافراً لاسيما والتقسيم مطهر عندنا كما إذا بال البقر فى الحنطة وقت الدياسة فاقتسمها الملاک حل لكل واحد أكلها مع التيقن بكون الحنطة مختلطة بالطاهر والنجس ولكن القسمة أورثت احتمالاً في حصة كل واحد من الشركاء فحكمنا بطهارة نصيب كل واحد منهم فكذا ههنا إذا أربي الوكيل بالتجارة وخلط الدراهم بعضها ببعض ثم قسما على الشركاء يحكم بحل نصيب كل واحد منهم، والله أعلم.

وأخرج البيهقي في سننه في باب كراهية مبايعة من أكثر ماله من الربا أو ثمن المحرم من طريق شعبة عن مزاحم عن ربيع بن عبد الله أنه سمع رجلاً سأل ابن عمر أن لي جاراً يأكل الربا أو قال خبيث الكسب وربما دعاني لطعامه أفأجيبه، قال: نعم.

ومن طريق مسعر عن جواب التيمي عن الحارث بن سويد قال جاء رجل إلى عبد الله يعنى ابن مسعود رضي الله عنه فقال: إن لي جاراً لا اعلم له شيئاً إلا خبيثاً أو حراماً وأنه يدعوني فأحرج أن آتيه أو أتحرج أن لا آتيه؟ فقال: ائته أو أجبه فإنما وزره عليه، قال البيهقي: جواب التيمى غير قوي وهذا إذا لم يعلم أن الذي قدم إليه حرام، فإذا علم حراماً لم يأكله. (ج ۲/ ص ۳۳۵).

قلت: جواب التیمی وثقه ابن حبان ویعقوب بن سفیان کما فی التهذیب. (ج ۲/ ص ۱۲۱-۱۲۲). ماخوذ از (امداد الفتاوی:۳/ ۴۹٦-٤۹۸، کتاب الشرکة).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (جدید فقهی مباحث:۱٦/ ٤٥). والله ﷻ اعلم.

پر اسلامي طريقه د شراکت بنيادي اصول

سوال: محترم او مکرم جناب مفتي صاحب پر اسلامي طريقه د تجارت کولو د معاهدې لاندې تفصيل وګوره:

دوه شريکان پر اسلامي طريقه باندي تجارت کول غواړي نو دوی بايد څنګه معاهده وکړي چي صورت حال داسي وي چي يو شريک يوازي مال ورکوي او دوهم شريک د پيسو سره کار هم کوي اول شريک کلنۍ ګټه غواړي او دوهم شريک د ګټي سره سره د کار کولو مزدوري هم غواړي. اوس موږ دا پوښتنه کوو چي لاندي کارونه دي په څه ترتيب وکړل سي؟

۱ _ د شريکانو څخه هريو د جسماني کار کولو سره او نه کار کولو سره (نه کار کونکي) څومره سرمايه ولګوي؟

۲ _ يوازي ديوه شريک پر ذمه د کار کولو شرط لګول روا دي او که نه؟

۳ _ د ګټي او تاوان وېشل او ګټه دوهم وار په شراکت کي د لګولو حکم او تفصيل را ته بيان کړئ؟

۴ _ د موقته شراکت څه حکم دئ؟

۵ _ د هيواد د قانون سره سم د محصول او د اسلامي قانون سره سم د زکوة اداء کولو تفصيل څه دئ؟

٦ _ د شريکانو څخه ديوه تنخوا او د شريکانو څخه ديوه له پاره د خپل ضرورت سره سم پيسې اخيستل؟

۷ _ د شريکانو څخه ديوه له يو چا سره د قرضو وعده يعني که د تجارت له پاره قرض واخلي نو د چا له خوا څخه ګڼل کيږي؟

۸ _ د ګټو د وېشلو صورت به څنګه وي؟

٩_ د کمپنی سامان به څنګه وېشل کېږي؟

١٠_ که د شریکانو څخه یو مړ سي نو شراکت پاتېږي او که نه؟

الجواب: ١_ وشریکانو ته اختیار دئ چي په خپل منځ کي په خوښی سره چي شریک څومره سرمایه غواړي لګولای سي، یو معلومه برخه پر یوه لازمه او ضروري نه ده. الهدایه: ٢/ ٩٣.

٢_ یوازي دیوه پر ذمه د کار شرط لګول روا دي خو دا د مشارکه او مضاربة اجتماع ده د دې تفصیل. په (اسلام اور جدید معاشی مسائل: ٥/ ٤٧). کي کتلای سي او دا مسئله په لنډه توګه تر کتاب المضاربت لاندي تېره سوې ده، خو د دې څخه په ګټي په وېشلو کي فرق وي چي په راتلونکي کي به یې بیان وسي.

٣_ د ګټو د وېشلو بنیادي اصول:

الف_ د شراکت د صحیح کېدو له پاره شرط دا دئ چي د ګټي نسبت به د فیصدی په اعتبار سره ټاکل کېږي چي وهر یوه ته به څومره په سلو کي ورکول کېږي مثلاً پنځوس په سلو کي یا یوه شریک ته څلوېښت په سلو کي او بل ته شپېته په سلو کي او داسي نور.

خو یو چا ته معلومي پیسې ټاکل چي فلاني ته به میاشتانه زر روپی ورکول کېږي روا او صحیح نه دئ همداسي د سرمایې په اعتبار سره فیصدي ټاکل هم روا نه ده، مثلاً د یوه سرمایه یو لک روپی ده نو ده ته د سرمایې په سلو کي شل یعني شل زره روپی به ورکول کېږي دا روا نه دي.

قال في البدائع: الربح معلوم القدر، فإن كان مجهولًا تفسد الشركة؛ لأن الربح هو المعقود عليه، وجهالته توجب فساد العقد .... ومنها أن يكون الربح جزءًا شائعًا في الجملة، لا معينًا، فإن عينا عشرةً، أو مائةً، أو نحو ذلك كانت الشركة فاسدةً؛ لأن العقد يقتضي تحقق الشركة في الربح والتعيين يقطع الشركة لجواز أن لا يحصل من الربح إلا القدر المعين لأحدهما ..... الخ. (بدائع الصنائع: ٦/ ٥٩، سعید - وكذا فی الهداية: ٢/ ٦٣٢ - والفتاوى الهندية: ٢/ ٣٠٢).

باء _ كه چيري دوه شريكان دا وټاكي چې په سلو كي څلورمه سرمايه چې كوم شريک لګولې وي د هغه ګټه به په هماغه اندازه وي نو دا روا دي ښايي كه سرمايه نيمه نيمه وي يا ديوه دا كمه او د بل دا زياته وي او ښايې كه د دواړو شريكانو كار ټاكلی وي يا يوازي ديوه شريک له پاره كار ټاكل سوی وي.

قال فی البدائع : فنقول: إذا شرطا الربح على قدر الـمالين متساوياً أو متفاضلاً فلا شک أنه يجوز، ويكون الربح بينهما على الشرط سواء شرطا العمل عليهما أو على أحدهما . (بدائع الصنائع:٦/ ٦٢، سعيد).

جيم_ كوم شريک چې كار هم كوي ده نو هغه ته د سرمايې په حساب سره د ده له پاره زياته ګټه ټاكل صحيح دي، ښايي كه هغه بل شريک كار كوي او كه يې نه كوي، مثلاً حامد او محمود دواړو يو يو لک روپۍ ولګولې او پر محمود د كار كولو شرط هم ولګول سو نو د محمود له پاره به او يا په سلو كي ګټه ټاكل روا او صحيح وي.

په بدائع الصنائع كي راځي:

وإن كـان الـمـالان متساويين فشرطا لأحدهـمـا فـضلًا عـلى ربـحٍ ينظر: إن شرطـا العمـل عليهما جميعًا جاز ، والربح بينهما على الشرط في قول أصحابنا الثلاثة .... وإن كان الـمـالان متفاضلين ، وشرطا التساوي في الربح فهو على هذا الخلاف أن ذلك جائز عند أصحابنا الثلاثة، وكان زيادة الربح لأحدهما على قدر رأس ماله بعمله وأنه جائز. (بدائع الصنائع:٦/ ٦٢ -٦٣، سعيد - والفتاوى الهندية:٢/ ٣٢٠).

د _ له شريكانو څخه كه يو شريک كار ونه كړي د ده له پاره د ده د سرمايې د تناسب څخه زيات مقررول د جمهورو علماوو په اند روا نه دي د مثال په ډول حامد او محمود دواړو يو يو لک روپۍ ولګولې او د عمل شرط يې يوازي پر محمود كېښېښود نو د حامد له پاره د (۵۰) فيصد څخه زياته ګټه متعين كول روا نه ده.

په بدائع الصنائع کي راځي:

وإن كان المالان متساويين .... شرطا العمل على أحدهما.... وإن شرطاه على أقلهما ربحاً لم يجز، لأن الذي شرطا له الزيادة ليس له فى الزيادة مال ولاعمل ولاضمان .... (بدائع الصنائع:٦/ ٦٣، سعيد).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (اسلام اور جديد معاشى مسائل:٥/ ٤٧، مشاركة اور مضاربة كا اجتماع).

هاء _ که چیري یوه شریک زیات مال ولګوئ او د عمل شرط هم پر ده ولګول سو نو ګټه نیمه نیمه وېشل روانه دي مثلاً حامد یو لک روپۍ ولګولې او محمود یو نیم لک ولګولې او د کار کولو شرط یې هم پر محمود لګوئ نو اوس به د دواړو تر منځ پنځوس په سلو کي ګټه وېشل روانه دي.

په بدائع الصنائع کي راځي:

وإن كان المالان متفاضلين، وشرطا التساوي في الربح ....شرطا العمل على أحدهما.... وإن شرطاه على صاحب الأكثر لم يجز، لأن زيادة الربح في حق صاحب الأقل لايقابلها مال ولاعمل ولاضمان. (بدائع الصنائع:٦/ ٦٣).

۞ په شراکت کي د نقصان تاوان:

د فقهاوو اتفاق دئ چي که چیري د شراکت په کار وبار کي تاوان راسي نو پر هر شریک به تاوان د ده د سرمایې په مناسبت سره وي مثلاً حامد او محمود دواړه شریکان دي حامد شپېته په سلو کي او محمود څلوېښت په سلو کي پیسې ولګولې اوس که چیري د زرو روپیو تاوان وسو نو حامد به شپږ سوه زغمي او محمود به څلور سوه زغمي . د مصنف عبد الرزاق څخه د دې خبري تائید کیږي.

عن الشعبي عن علي رضي الله عنه فى المضاربة: الوضيعة على المال والربح على ما اصطلحوا عليه، وأما الثوري رحمة الله عليه، فذكره.... عن علي رضي الله عنه فى المضاربة أو الشريكين. (مصنف عبد الرزاق:٨/ ٢٤٨، المجلس العلمى).

په بدائع الصنائع كي راځي:

والوضيعة على قدر المالين متساوياً ومتفاضلاً، لأن الوضيعة اسم لجزء هالک من المال، فينقدر بقدر المال. (بدائع الصنائع:٦/ ٦٢، سعيد).

۞ د ګټي دوهم وار په تجارت كي د لګولو حكم:

که چيري شريکان ګټه تقسيم نه كي، بلكي هغه ګټه دوهم وار په تجارت كي ولګوي نو دا روا او صحيح ده او د دې حساب سره به د هريوه سرمايه حسابيږي، مثلاً حامد او محمود يو يو لک روپۍ په تجارت كي ولګولې د نصف فيصد پر شرط باندي او پنځوس زره ګټه وسوه او د وېشلو پر ځای يې دغه پنځوس زره په تجارت كي ولګولې نو اوس د دواړو سرمايه يو لک او پنځه وېشت زره سوه.

۴_ د موقته شراكت حكم:

د شريكانو له پاره روا ده چي خپل په منځ كي په خوشحالي سره د شراكت چي څومره موده غواړي هغه ټاكلای سي مثلاً دوه كاله، درې كاله او داسي نور...

قال فى الشامية نقلا عن الخانية: وإن وقتا لذلک (أى للشركة) وقتا بأن قال: ما اشتريت اليوم فهو بيننا صح التوقيت، فما اشتراه بعد اليوم يكون للمشتري خاصة، وكذا لو وقت المضاربة لأنها والشركة توكيل، والوكالة مما يتوقف. (فتاوى الشامى:٤/ ٣١٢، سعيد).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوى هنديه:٢/ ٣٠٢ – واسلام اور جديد معاشى مسائل:٥/ ٤٦، مضاربه كر ختم كرنا).

۵_ پر مشترکه کمپنۍ يا تجارت باندي زكوة لازم نه دئ پر هر سړي د هغه د برخي سره سم زكوة لازم دئ.

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوى دار العلوم زكريا، كتاب الزكوة).

٦_ د شريک له پاره د تنخوا ټاكلو په اړه د فقهاوو اختلاف دئ د دې تفصيل په باب المضاربة كي تير سوي دئ هلته يې كتلای سي.

خلاصه دا چي حضرت مفتي رشيد احمد په اند روا دئ. د تفصيل له پاره وګورئ: (احسن الفتاوی: ٧/ ٣٢١-٣٢٨).

٧_ که چيري يو شريک د مشترکه تجارت له پاره قرض واخلي او په خپل منځ کي دا معاهده هم وکړي چي د ضرورت په وخت کي هريو قرض اخيستلای سي نو د دې اداء کول پر دواړو لازم دي.

په بدائع الصنائع کي راځي:

ولو استقرض مالاً لزمهما جميعاً، لأنه تملک مال بالعقد، فکان کالصرف، فيثبت في حقه وحق شريکه..... (بدائع الصنائع: ٦/ ٧٢، سعيد).

٨_ د ګټو وېشلو صورت تر (دريمي شمېري) لاندي په تفصيل سره بيان سو.

٩_ د سامان د تصفيې او وېشلو طريقه:

کله چي شراکت ختم سو او وخت پوره سو يا يې د بل څه په سبب شراکت ختم (فسخ) کړ نو اوس دوه صورتونه دي:

الف _ مالونه د نغدو په شکل کي وي نو تر هر څه وړاندي به ګټه د شرط سره سم ووېشي او بيا به سرمايه د خپلو برخو سره سمه ووېشي.

باء _ مالونه د نغدو په شکل کي نه وي بلکي د سامان په شکل کي وي نو د سامان به بازاری قيمت ولګول سي او که دواړه شريکان خوشحاله وي نو سامان دي وپلوري او نغدي دي ووېشي او تر ګټې وېشلو وروسته دي د هغه لګول سوي مناسبت سره سم دي سرمايه هم ووېشي.

په اسلام اور جديد معاشي مسائل کي راځي:

هر شريک دا حق لري چي هغه بل شريک ته خبر ورکړي او شراکت ختم کړي، تر داسي خبر ورکولو وروسته به د شراکت عقد ختم تصور (فهمول) کيږي په دې صورت کي که چيري په شراکت کي د ټولو اثاثي د نغدو په شکل کي وي نو هغه به د شريکانو تر منځ د هغو د برخو سره سم وېشل کيږي او که د شراکت هغه مشترکه شی د نغدو په شکل کي نه وي نو شريکانو ته د دوو خبرو اختيار سته يا خو دي سامان وپلوري او هغه نغدي دي ووېشي يا دي سامان پر هماغه حال باندي ووېشي که چيري په دې معامله کي د شريکانو په منځ کي اختلاف وي، ځيني سامان پلورل او نغدي

وېشل (Liquidation) غواړي او ځيني هغه سامان په غير نغدي شکل کي غواړي نو موخر الذکر (د سامان پر هماغه حال وېشلو) ته به ترجيح ورکول کيږي ځکه چي د شراکت وپای ته تر رسېدو وروسته تول سامان د حصه دارانو مشترکه ملکيت دئ او په يو شی کي د مشترکه ملکيت لرونکو هر يوه ته د وېش يا د خپلي برخي جلا کولو د غوښتني حق وي او هيڅوک هم دی پر سامان پلورلو او د نغدو پر وېشلو (Liquidation) باندي نه سي مجبوره ولای خو که سامان داسي وي چي هغه نه وېشل کيږي لکه ماشين نو بيا دي هغه وپلورل سي او لاس ته راغلي نغدي پيسې دي وويشل سي.
(اسلام اور جدید معاشی مسائل:۵/ ۳۸، مشارکه ختم کرنا).

۱۰_ د شريکانو ځخه که يو مړسي نو شراکت ختميږي او که يې شريکان وغواړي نو بيا يې د نوي کولو ضرورت سته.

په هدايه کي راځي:

وإذا مات أحد الشريكين.... بطلت الشركة. (الهداية:۲/ ۶۳۵).

په اسلام اور جديد معاشي مسائل کي راځي:

که چيري د مشارکې د مودې په دوران کي د شريکان ځخه يو مړ سي نو د هغه مړي سره د شراکت معاهده ختميږي او په داسي صورت کي به د ده وارثانو ته اختيار وي که وغواړي چي د مړي بر خه يوسي او که غواړي د شرکت دغه معاهده بر قرار وساتي. (اسلام اور جدید معاشی مسائل:۵/ ۳۸).

والله ﷻ اعلم.

په خبنتو جوړولو کي د شراکت حکم

سوال: فقهاوو ليکلي دي چي د بوټو په جمع کولو کي شراکت صحيح نه دئ بلکي چي ځوک يې جمع کړي هغه يې مالک دئ که چيري داسي وي نو په احتطاب او خبنتو جوړولو کي ځه فرق دئ؟ ايا په خبنتو جوړولوکي شراکت روا دئ او که نه؟

الجواب: په احتطاب کي شراکت روا نه دئ ځکه د مباح شی په لاس ته راوړلو کي شراکت صحيح نه دئ او په خبنتو جوړولو کي د شراکت حکم دا دئ چي که چيري خاوره مملوکه وي نو شرکت روا او صحيح دئ خو که خاوره مباح او غير مملوکه وي نو بيا د احتطاب په شان دئ او هيڅ فرق يې نه

سته، یعني چي چا کار وکړ هغه په د هماغه مالک وي او که دواړه یو ځای کار وکوي او د هريوه کار معلوم نه وي نو هريوه ته به نیم نیم حاصلیږي.

په درمختار کي راځي:

لاتصح شركة في احتطاب ..... إلى قوله وطبخ آخر من طينٍ مباحٍ لتضمنها الوكالة والتوكيل في أخذ المباح لايصح (وما حصله أحدهما فله وما حصلاه معًا فلهما نصفين إن لم يعلم ما لكل. قوله من طين مباح فإن كان الطين أو النورة أو سهلة الزجاج مملوكاً فاشتركا على أن يشتريا ذلك ويطبخاه ويبيعاه جاز، وهو كشركة الوجوه، كذا في الخلاصة معزياً إلى الشافي، وتبعه البزازي والعيني والمذكور في الفتح أن هذا من شركة الصنائع والأول أظهر نهر .(الدر المختار مع رد المحتار:٤/ ٣٢٥، فصل فی الشركة الفاسدة، سعيد —وكذا فی حاشية الطحطاوی على الدر المختار:٢/ ٥٣٢، كوئته).

په فتاوی عالمګیري کي راځي:

وكذا إذا اشتركا على أن يبنيا من طينٍ غير مملوكٍ أو يطحنا آجرا ، كذا في فتح القدير ، فإن كان الطين أو النورة أو سهلة الزجاج مملوكًا واشتركا على أن يشتريا ويطحنا ويبيعا جاز وهي شركة الوجوه ، كذا في الخلاصة . (الفتاوى الهندية:٢/ ٣٣٢).

خو که چیري په یوه صنعت او کاریګري کي شراکت وکوي یعني په یو دا کار کي چي پرته د هغه فن د زده کړي کېدلای نه سي نو بیا دا شراکت د محقق ابن همام رحمه الله د قول سره سم په شراکت صنایع کي د داخلېدو په سبب یې روا والی په کار دئ مثلاً خښتي جوړول هم د مهارت کار دئ او د زده کړي پرته یې هر انسان جوړولای نه سي، همداسي د ابن ماجه د روایت څخه هم د محقق ابن همام رحمه الله د خبري تائید معلومیږي.

وګورئ په ابن ماجه شريف کي راځي:

حدثنا أبو السائب سلم بن جنادة، حدثنا أبو داود الحفري، عن سفيان، عن أبي إسحاق، عن أبي عبيدة، عن عبد الله، قال: اشتركت أنا وسعد، وعمار، يوم بدرٍ، فيما نصيب، فلم أجئ أنا ولا عمار بشيءٍ، وجاء سعد برجلين. (رواه ابن ماجه: ص ١٦٥، باب الشركة والمضاربة).

حضرت مولاناعبد الغني مجددي تر دې حديث لاندي فرمايي:

قوله اشتركت انا وسعد وعمار الخ: صورة هذه الشركة شركة التقبل وسمى شركة الصنائع والاعمال والابدان وهي ان يتفقا صانعان على ان يتقبلا الأعمال التي يمكن استحقاقها، ومنه تعليم الكتابة والقرآن والفقه على المفتي به، ويكون الكسب بينهما على ما شرطا مطلقاً في الأصح لأنه ليس بربح بل عمل فصح تقويمه كما في الدر المختار الظاهر ان هذه ليست بشركة فاسدة كاحتشاش واصطياد وسائر المباحات لأن المقاتلة من جملة الصنائع ولهذا ترى الناس يأخذون فنونها وقواعدها من اساتذة هذا الفن. (حاشية ابن ماجه: ص ١٦٥، باب الشركة والمضاربة).

په محيط برهاني کي ذکر سوی دي:

في «فتاوى أبي الليث»: رجلان اشتركا لحفظ الصبيان وتعليم القرآن، فعلى ما أخبرنا في «الفتوى»: .... تجوز هذه الشركة. (المحيط البرهاني: ٦/ ٤١١، الفصل السادس فى الشركة بالاعمال، مكتبة رشيديه – وفتاوى النوازل: ٢٢٤، كتاب الشركة، ط: آرام باغ كراچى). والله ﷻ اعلم.

د شرکت مفاوضه شرطونه او حکم

سوال: د شراکت مفاوضه څه شرطونه دي او که شرطونه نیستي سي نو شراکت څنګه پر ځای پاتیږي؟

الجواب: د مفاوضي معنا د یو وبل ته د سپارلو ده، ودې شراکت ته شراکت مفاوضه ځکه ویل کیږي چي یو شریک وبل ته خپل مال ورسپاري په دې کي د سرمایې شتون هم اړین دئ او په ګټه کي هم برابر والي شرط دئ . د دې شراکت له پاره لاندي خبري ضروري دي.

۱ _ د پیل څخه تر آخیره د دواړو د سرمایي برابر والي ضروري دئ.

۲ _ د دواړو په ګټه کي برابره برخه لرونکي کېدل.

۳ _ هر شریک ته د مال پلورلو او رانیولو تصرف کولو او قرض ورکولو به اختیار وي.

۴ _ که چیري یو شریک د خپلي ذاتي اړتیا له پاره یو شی رانیسي نو په دې کي هغه بل شریک ته به د څه ویلو حق نه وي، خو که دا شیان ده په قرض (پور) رانیولي وي نو دوکاندار ته به د هغه نورو شریکانو څخه د پور غوښتلو حق وي.

۵ _ په دې شراکت کي شریکان یو د بل وکیل، امین او کفیل وي.

۶ _ دا شراکت یوازي په مسلمانانو بالغانو کي کېدلای سي خو صاحبین یې په مسلمان او کافر دواړو کي صحیح بولي.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما بيان شرائط جواز هذه الأنواع فلجوازها شرائط : بعضها يعم الأنواع كلها : وبعضها يخص البعض دون البعض .

أما الشرائط العامة فأنواع : منها أهلية الوكالة ؛ لأن الوكالة لازمة في الكل.

ومنها ، أن يكون الربح معلوم القدر .

ومنها : أن يكون الربح جزءًا شائعًا في الجملة ، لا معينًا .

وأما الذي يخص البعض دون البعض : فيختلف، أما الشركة بالأموال فلها شروط :

منها أن يكون رأس المال من الأثمان المطلقة وهي التي لا تتعين بالتعيين في المفاوضات على كل حالٍ ، وهي الدراهم والدنانير ، عنانًا كانت الشركة أو مفاوضةً عند عامة العلماء.

ومنها: أن يكون رأس مال الشركة عينًا حاضرًا لا دينًا ، ولا مالًا غائبًا ، فإن كان لا تجوز عنانًا ، كانت أو مفاوضةً ؛ لأن المقصود من الشركة الربح وذلك بواسطة التصرف ، ولا يمكن في الدين ولا المال الغائب ، فلا يحصل المقصود .

ومنها : ما هو مختص بالمفاوضة وهو أن يكون لكل من الشريكين أهلية الكفالة ، بأن يكونا حرين عاقلين .

ومنها، المساواة في رأس المال قدرًا وهي شرط صحة المفاوضة بلا خلافٍ .

ومنها، أن لا يكون لأحد المتفاوضين ما تصح فيه الشركة ، ولا يدخل في الشركة .

ومنها المساواة في الربح في المفاوضة ، فإن شرطا التفاضل في الربح ؛ لم تكن مفاوضةً لعدم المساواة .

ومنها، العموم في المفاوضة وهو أن يكون في جميع التجارات ، ولا يختص أحدهما بتجارةٍ دون شريكه لما في الاختصاص من إبطال معنى المفاوضة وهو المساواة .

ومنها لفظ المفاوضة في شركة المفاوضة، كذا روى الحسن عن أبي حنيفة رحمه الله أنه لا تصح شركة المفاوضة إلا بلفظ المفاوضة ، وهو قول أبي يوسف رحمه الله ومحمدٍ رحمه الله .

(بدائع الصنائع:٦/ ٥٨-٦١، كتاب الشركة، سعيد).

په فتاوی سراجیه کې راځي:

لاتصح شركة المفاوضة فی الأموال حتی یکون کل واحد من الشریکین من أهل الکفالة نحو أن یکونا حرین، عاقلین بالغین متفقین فی الدین.... الخ. (الفتاوی السراجیه: ص ٣٦٨ - وکذا فی الفتاوی الهندیة: ٢/ ٣٠٨، باب ٢).

د نوموړو شرطو د مفاوضي شخه که چیري یو شرط نیستي سي نو شراکت مفاوضه په شراکت عنان سره بدلیږي.

وګورئ په شرح مجله کي راځي:

إذا فقد شرط من الشروط المذکورة في هذا الفصل علی الوجه المار تنقلب المفاوضة عناناً، مثلاً إذا دخل إلی ید واحد من المفاوضین في شرکة الأموال مال بالإرث أو بطریق الهبة، فإذاکان یصلح رأس مال للشرکة کالنقود تنقلب المفاوضة عناناً لکن إذا کان الزائد علی رأس المال لایصح رأس المال کالعروض والعقار فلا یضر بالمفاوضة. (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسی: ٤/ ٢٩٠، المادة: ١٢٦٢).

په شرح مجله کي راځي:

وفي الهندیة عن السراجیة: لو استفاد أحد المتفاوضین مالایجوز علیه عقد الشرکة بإرث أو هبة أو وصیة أو نحو ذلک ووصل إلیه، بطلت المفاوضة وصارت شرکتهما عناناً. (شرح المجلة للاتاسی: ٤/ ٢٨٧).

په درمختار کي راځي:

وکل موضع لم تصح المفاوضة لفقد شرطها ولایشترط ذلک فی العنان کان عناناً کما مر لاستجماع شرائطه. وفي رد المحتار: قوله لاستجماع شرائطه أی شرائط العنان. (الدر المختار مع رد المحتار: ٤/ ٤٩٩، سعید).

وللاستزادة انظر: (البحر الرائق:٥/ ١٧١، كوئته - فتح القدير:٦/ ١٦٤، دار الفكر - والفتاوى الهندية:٢/ ٣١١). والله ﷻ اعلم.

په سامان کي د شراکت حکم

سوال: که چيري شريکان د نغدو پر ځای په سامان کي شراکت وکوي مثلاً له زيد سره کالي دي او د عمر سره کتابونه دي او په خپل منځ کي د نيمي ګټي په شرط باندي شراکت منعقد کړي نو ايا دا روا ده او که نه؟

الجواب: فقهاء فرمايي، چي د شراکت مفاوضه او شراکت عنان له پاره چي شريکان مال جمعه کوي (يو ځای کوي) هغه به د نغدو د ډلي څخه وي مثلاً سپين يا سره زر يا هغه رواج پيسې او داسي نورو څخه د يو شی کېدل ضروري دي او په سامان کي به شراکت صحيح نه وي.

په شرح مجله کي راځي:

كون رأس المال من قبيل النقود شرط لصحة شركة الأموال سواء كانت مفاوضة أو عناناً فلا تجوز بالعروض والمكيل والموزون عندنا، لأنه يو دي إلى ربح مالم يضمن لأنه إذا باع كل واحد منهما رأس ماله وتفاضل الثمنان، فما يستحقه أحدهما من الزيادة في مال صاحبه ربح مالم يملك ومالم يضمن. (شرح المجلة، للاتاسی:٤/ ٢٦١، المادة:١٣٣٨).

خو مولانا ظفر احمد عثماني په امداد الاحکام کي د شراکت فی العروض د روا والي فتوی ورکړی ده او د ابتلای عام په سبب په دې مسئله کي د نورو امامانو پر قول په فتوی ورکولو سره نوموړی شراکت او د شراکت فی العروض د روا والي فتوی ورکول کيږي. (امداد الاحكام:٣/ ٤٤٥).

حضرت حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په ((امداد الفتاوی)) کي بيان کړي دي چي د عروضو (سامان) د شراکت په اړه که څه هم د فقهاوو اختلاف دئ خو د دې زمانې د ضرورياتو (اړتياوو) او د عامو خلکو په دې کي د اخته کېدو په سبب د امام مالک رحمه الله پر مذهب فتوی

ورکېدلای سي ځکه چي دا داوسني زمانې د مشکلاتو په حل کي ښه کومک لاس ته راتلای سي.
(شرکت اور مضاربت عصر حاضر مین: ص ٢٥٤، ادارة المعارف کراچی). والله تعالی اعلم.

د زوجينو د شراکت حکم

سوال: ما رأيكم فی الزوجة الزوج عقدا شركة بالتراضي عند عقد الزواج على أن ما حصلا وما سيحصلان في المستقبل من جميع أنواع المال ونماءه فهو بينهما نصفان هل يجوز هذه الشركة أم لا؟

جواب: الشركة فيما عندهما من الأمتعة الموجودة تصح بحيلة وتدبير ذكرها الفقهاء الكرام وهو أن يبيع كل واحد منهما نصف ماله بنصف مال الآخر وإن تفاوت قيمتهما حتى يصير المال بينهما نصفين فيكون رأس المال والربح والوضيعة بينهما نصفين كما يفهم من رد المحتار: للعلامة الشامی: (٤/ ٣٠٥، سعيد).

لكن يتحقق شركة المضاوضة بشرائط يشكل تحققها في أكثر المواقع فإن لها شرائط (١) كونهما حرين عاقلين. (٢) المساواة في قدر رأس المال قدراً. (٣) دخول جميع ما يصح فيه الشركة من الأموال فی الشركة. (٤) المساواة فی الربح. (٥) العموم أی كونها فی جميع التجارات. (٦) استعمال لفظ المفاوضة. هذا محصل ما فی البدائع: (٦/ ٩٢، سعيد).

ثم قلما توجد هذه الشرائط فلو عقدا شركة المفاوضة ولم توجد الشرائط تصير الشركة شركة عنان كما فی المجلة: إذا فقد شرط من شروط المفاوضة تنقلب المفاوضة عناناً. مجله. ومعين القضاء والمفتين: (ص ١٠١).

وإذا انعقدت الشركة عناناً فلها صور أربع :

(۱) الشركة مع تساوى المال وعمل كل واحد مع تقسيم الربح متساوياً.

(۲) تقسيم الربح متفاوتاً مع عملهما كثلثي الربح لأحدهما وهذا أيضاً يصح.

(۳) أن يعمل أحدهما دون الآخر وشرطا الحصة الزائدة للعامل فهذا أيضاً صحيح قال مالك العلماء فى بدائع الصنائع: (٦/ ٩٥، سعيد) وإن شرطا العمل على الذي شرطا له فضل الربح جاز والربح بينهما على الشرط فيستحق ربح رأس ماله بماله والفضل بعمله وإن شرطا على أقلهما ربحاً لم يجز لأن الذي شرطا له الزيادة ليس له فى الزيادة مال ولا عمل ولا ضمان.

(٤) أن يعمل أحدهما وشرطا الحصة الزائدة لغير العامل فهذا لايصح كما صرحت به عبارة الكاساني رحمة الله عليه: ثم الشركة فيما سيحصلان من المال مما لايكون من التجارة السابقة كالمال الموهوب أو الموروث لايدخل فى الشركة السابقة إلا بعقد جديد مثلاً انعقدت بينهما شركة بحيث أن لكل واحد منهما عشرة آلاف دو لار والربح متساوٍثم حصل للزوجة خمسة آلاف دولار من وراثة أبيهما و أرادت إلحاقها فى التجارة المشتركة فلها أن تقول برضاء الزوج وقبوله أن لي ثلاثة أخماس من الربح ولک خمسان من الربح ويمكن أن تقول: إني ألحق مالي بالتجارة على أن لي النصف حسب ماسبق ولک النصف.

كما فى الفتاوى الهندية: ولو شرطا العمل عليهما جميعاً صحت الشركة وإن قل رأس مال أحدهما وكثر مال الآخر واشترطا الربح بينهما على السواء أو على التفاضل فإن الربح بينهما على الشرط. (الفتاوى الهندية:٢/ ٣٢٠).

نعم لو تعاهدا في بدء التجارة أن كل مانحصله فهو بيننا كما قلنا وتعاهدنا ثم ما حصله كل واحد منهما وأدخله فی التجارة حسبما قالا وقررا يكون صحيحاً كبيع التعاطی، ويكون الربح بينهما كما قرر عند أول العقد . والله تعالیٰ اعلم.

پر يوه شريک د تاوان اچولو حکم

سوال: څو کسانو شراکت کړی دئ او په دې کي يو څه تاوان راغئ نو يوازي کار کونکي به ضامن وي او که به پر ټولو وېشل کيږي؟

الجواب: فقهاوو فرمايلي دي، چي په ګټه کي خو د کمی او زياتوالي شرط روا دئ خو که تاوان راسي نو تاوان به پر ټولو شريکانو په مشترک ډول برابر وېشل کيږي مثلاً د پنځو کسانو څخه هر يوه زره روپۍ جمع کړي دي او شراکت يې منعقد کړی او ناڅاپه زر روپۍ تاوان وسو نو يوازي يو نفر ذمه دار ټاکل صحيح نه دي، بلکي هر يو شريک به د دوو سوو روپيو ذمه وار وي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

مطلب اشتراط الربح متفاوتاً صحيح بخلاف اشتراط الخسران، قال فما كان من ربح فهو بينهما على قدر رؤوس أموالهما، وما كان من وضيعة أو تبعة فكذلك، ولـخلاف أن اشتراط الوضيعة بخلاف قدر رأس المال باطل واشتراط الربح متفاوتاً عندنا صحيح . (فتاوی الشامی: ٤/ ٣٠٥، سعيد). والله تعالیٰ اعلم.

د يوه شريک د اړتيا وړ شيان د برابرولو حکم

سوال: څو کسانو د شراکت په نيت سل روپۍ جمع کړې نو يوه سړي اتيا روپۍ جمع کړې او د اړتيا وړ توکي يې برابر کړل او شل روپۍ يې نغدي ورکړې اوس پوښتنه دا ده چي د دې سړي شراکت صحيح دئ او که پوره سل روپۍ جمعه کول ضروري دي؟

الجواب: فقهاء فرمايي، چې د شراكت منعقد کېدو له پاره راس المال نغدي کېدل ضروري دي، نو څکه کوم شریک چې لګښت کړی دئ او دارتیاوړ توکي يې برابر کړي دي د ده شركت صحيح نه سو.

وګورئ په هدايه کي راځي:

ولاينعقد الشركة إلا بالدراهم والدنانير والفلوس النافقة.... إلى قوله إن العروض لاتصح رأس مال الشركة. (الهداية:٢/ ٦٢٧).

په مبسوط کي راځي:

لايصح أن يكون رأس مال أحدهما دراهم ورأس مال الآخر عروضا، في مفاوضة ولاعنان. (المبسوط للامام السرخسي:١١/ ١٦١ – وكذا فى الفتاوى الهندية:٢/ ٣٠٦).

خو علامه شامي رحمه الله په عروضو (سامان) کي د شرکت د صحیح کېدو له پاره دا شکل بيان کړی دئ چې نوموړی سړی چې هغه دارتياوړ توکي برابر کړي دي، دی دي يو څه برخي پر نورو شريكانو وپلوري او بيا دي شركت منعقد کړي نو دا صحيح او روا دئ.

په فتاوى شامي کي راځي:

(وصحت بعرضٍ) هو المتاع غير النقدين (إن باع كل منهما نصف عرضه بنصف عرض الآخر ثم عقداها) مفاوضةً أو عنانًا ، وهذه حيلة لصحتها بالعروض، (قوله : إن باع كل منهما) لأنه بالبيع صار بينهما شركة ملكٍ حتى لا يجوز لأحدهما أن يتصرف في نصيب الآخر ثم بالعقد بعده صارت شركة عقدٍ فيجوز لكل منهما التصرف زيلعي . (قوله : بنصف عرض الآخر) وكذا لو باعه بالدراهم ثم عقد الشركة في العرض الذي باعه جاز أيضًا زيلعي، وبحر ، وقوله : الذي باعه يعني الذي باع نصفه بالدراهم . (فتاوى الشامى:٤/ ٣١٠، سعيد).

خو زموږ په زمانه کي د عامي ابتلاء په سبب حضرت تهانوي رحمه الله او حضرت مولانا ظفر احمد عثماني رحمه الله پر مالکي مذهب باندي د فتوی ورکولو ګنجائش را کښلی دئ. وګورئ: (امداد الفتاوی: ۳/ ۴۹۵ – او امداد الاحکام: ۳/ ۴۴۵). یو څه تفصیل وړاندي تېر سوی دئ. والله ﷻ اعلم.

د عقد پرته د بي بي د خاوند سره د کومک کولو حکم

سوال: که چیري بي بي د خاوند سره کار کوي او د دوی دواړو د کوښښ څخه ډېر مال جمعه سي خو څه عقد یې کړی نه وي نو په دې صورت کي به بي بي ته څه ورکول کیږي؟ همداسي که چیري ټوله سرمایه د خاوند وي او بي بي یوازي کومک وکاوه نو څه حکم یې دئ؟

الجواب: که چیري بي بي د خاوند سره کار کوي خو د دوی تر منځ څه شراکت مزدوري او داسي نور څه عقد نه وي او د دوی دواړو د کوښښ څخه ډېر مال جمعه سي نو د هغه مال په اړه د ځینو علماوو رایه دا ده چي هغه مال به ټول د خاوند وي او بي بي تبرعاً کومک کونکې ګڼل کیږي.

خو د نورو مشایخو بیا رایه دا ده چي په ټول مال کي به نیمه برخه د ښځي وي ځکه چي دلته که څه هم عقد نه سته، خو د بي بي د خاوند سره مسلسل کومک کول پر دې خبره دلالت کوي چي په نیم مال کي به د دې هم برخه وي نو ځکه ودې ته هم هغه برخه ورکول په کار دي، فقهاوو د دې صراحت کړی دئ خو شراکت مفاوضه کېدلای نه سي ځکه چي د هغه د منعقد کېدو له پاره د مفاوضه عقد ضروري دئ چي دلته نه سته.

وګورئ علامه شامي رحمه الله علیه فرمایي:

(قوله: وما حصلاه معًا فلهما نصفين ....) يعني ثم خلطاه وباعه، فيقسم الثمن على كيل أو وزن ما لكل منهما، وإن لم يكن وزنيا ولا كيليا قسم على قيمة ما كان لكل منهما، وإن لم يعرف مقدار ما كان لكل منهما صدق كل منهما واحد إلى النصف؛ لأنهما استويا في الاكتساب وكأن المكتسب في أيديهما، فالظاهر أنه بينهما نصفان، والظاهر يشهد له في ذلك، فيقبل قوله ولا يصدق على الزيادة على النصف إلا ببينةٍ؛ لأنه يدعي خلاف الظاهر. فتح.

تنبيه يؤخذ من هذا ما أفتى به في الخيرية في زوج امرأةٍ وابنها اجتمعا في دارٍ واحدةٍ وأخذ كل منهما يكتسب على حدةٍ ويجمعان كسبهما ولا يعلم التفاوت ولا التساوي ولا التمييز. فأجاب بأنه بينهما سويةً ، وكذا لو اجتمع إخوة يعملون في تركة أبيهم ونما المال فهو بينهم سويةً ، ولو اختلفوا في العمل والرأي . وقدمنا أن هذا ليس شركة مفاوضةٍ ما لم يصرحا بلفظها أو بمقتضياتها مع استيفاء شروطها ، ثم هذا في غير الابن مع أبيه ؛ لما في القنية : الأب وابنه يكتسبان في صنعةٍ واحدةٍ ولم يكن لهما شيء فالكسب كله للأب، إن كان الابن في عياله لكونه معينًا له ألا ترى لو غرس شجرةً تكون للأب ثم ذكر خلافًا في المرأة مع زوجها إذا اجتمع بعملهما أموال كثيرة ، فقيل هي للزوج وتكون المرأة معينةً له ، إلا إذا كان لها كسب على حدةٍ فهو لها ، وقيل بينهما نصفان . (فتاوى الشامى:٤/ / ٣٢٥، فصل فى الشركة الفاسدة، سعيد).

په درمختار کي راځي:

تقبل ثلاثة عملًا بلا عقد شركةٍ فعمله أحدهم فله ثلث الأجر ولا شيء للآخرين . وفى رد المحتار: قوله : ولا شيء للآخرين؛ لأنهم لما لم يكونوا شركاء كان على كل منهم ثلث العمل ؛ لأن المستحق على كل منهم ثلثه بثلث الأجر ، فإذا عمل أحدهم الكل صار متطوعًا في الثلثين فلا يستحق الأجر ، ح عن البحر . قال ابن وهبان : هذا في القضاء ، أما في الديانة فينبغي أن يوفيه بقية الأجرة لأن الظاهر من حال العامل أنه إنما عمل الجميع على الظن أن يعطيه جميع الأجرة فلا ينبغي أن يخيب ظنه. (الدر المختار مع رد المحتار: ٤/ ٣٢٩، سعيد).

په درر الحکام فی شرح مجلة الاحکام کي راځي:

أما ديانةً فيجب على المستأجر أن يدفع بقية الأجرة للعامل لأن الظاهر من حالة العامل أنه قد قام بجميع العمل على أمل أن يدفع الأجرة فلا يليق أن يخيب ظنه وأمله هذا ولا سيما أن الغالب الفقر في أحوال العمال . (الطحطاوي) . (درر الحكام فى شرح مجلة الاحكام:۳/ ۳۶۵ - وكذا فى شرح منظومة ابن وهبان:۱/ ۲۴۰، فصل من كتاب الشركة، الوقف المدنى).

په درمختار کي راځي:

وقال أبو يوسف رحمه الله: إن كان الصانع معاملًا به فله الأجر، وإلا فلا، وقيل أي وقال محمد رحمه الله إن كان الصانع معروفًا بهذه الصنعة بالأجر وقيام حاله بها أي بهذه الصنعة كان بيمينِ القول قوله بشهادة الظاهر وإلا فلا ، وبه يفتى . وفي رد المحتار: قوله بشهادة الظاهر لأنه لما فتح الدكان لأجله جرى ذلک مجرى التنصيص عليه اعتباراً لظاهر المعتاد، زيلعي . (الدر المختار مع رد المحتار:۶/ ۷۵، كتاب الاجارة، سعيد).

خلاصه دا سوه چي د دواړو د کار کولو په نتيجه کي که دېر مال لاس ته راغئ نو په هغه مال کي به خاوند او بي بي دواړه شريکان وي او نيم نيم به ورکول کيږي او دا معامله به د شراکت الصنائع په شان وي او که سرمايه او ټول مال د خاوند وي او بي بي يوازي کومک کاوه بيا به هم د ابن وهبان رحمه الله او د مجلې د شراح د قول سره سم د مزدورۍ حقداره وي مثلاً يو سري دوبي (کالي پرېوونکي) ته کالي ور وړي او په خاموشي سره يې ايږدي يا و رنگ ورکونکي ته نو ښکاره خبره ده چي دلته به مزدوري لازميږي ځکه چي د دوکان هدف کټه کول دي او مزدوري متعينه وي. والله تعالى اعلم.

د مشترک شي د قيمت د لګولو د لګښت حکم

سوال: شپږ کسان په يوه ځمکه کي شريکان دي، د هغو څخه يو خپله برخه جلا کول غواړي او س د ځمکي د قيمت لګولو ته اړتيا سته د دې له پاره چي دغه سړي ته د ده د برخي سره سم پيسې ورکړل سي نو د دې ځمکي د قيمت لګولو لګښت به څوک زغمي، يعني د قيمت لګولو لګښت به پر ټولو شريکانو برابر وېشل کيږي او که به پر هغه يوه شريک وي؟

الجواب: د مڅكي د قيمت د لګولو په لګښت كي به تولهٔ برابر شريكان وي ځكه چي په دې كي د تولو ګټه ده او هر يوه ته به د مځكي قيمت معلوم سي او څنګه چي د ويشونكي مزدوري پر تولو شريكانو برابر لازميږي همداسي به د قيمت لګولو لګښت هم پر تولو شريكانو برابر لازم وي.

وګورئ په هدايه كي راځي:

(فإن لم يفعل نصب قاسماً يقسم بالأجر) معناه بأجر على المتقاسمين، لأن النفع لهم على الخصوص، ويقدر أجر مثله كيلا يتحكم بالزيادة، والأفضل أن يرزقه من بيت المال لأنه أرفق بالناس وأبعد عن التهمة. (الهداية:٤/ ٤١١، كتاب القسمة).

په مجمع الانهر كي راځي:

فإن لم ينصب ينصب قاسمًا يقسم بين الناس بأجرٍ على المتقاسمين ؛ لأن النفع لهم على الخصوص .... يقدره أي أجر المثل له أي للقاسم القاضي لئلا يطمع في أموالهم ويتحكم بالزيادة ثم إن الأجر هو أجر المثل وليس له قدر معين وقيل يقدر الأجر بربع العشر كالزكاة ؛ لأنها عمل العامة فأشبه الزكاة كما في شرح الوقاية لابن الشيخ وهو أي أجر المثل على عدد الرءوس أي رءوس المتقاسمين عند الإمام ؛ لأن تمييز الأقل من الأكثر كتمييز الأكثر من الأقل في المشقة وعندهما على قدر السهام لأنه مؤنة الملك فيقدر بقدره وبه قال الشافعي وأحمد وأصبغ المالكي .(مجمع الانهر:٢/ ٤٨٨). والله ﷻ اعلم.

په هوټل چلوونكي كمپنۍ كي د برخي اخيستلو حكم

سوال: يوه كمپنۍ ده چي د هوټلو جوړولو او چلولو كار وبار كوي ځيني هوټلونه په شرابو پلورلو يا په نورو كميو او كوتاهيو كي ملوث دي خو نيوي په سلو كي يا تر دې زياته ګټه يې د اوطاقو كرايه او داسي نورو څخه ده او كمپنۍ مقروضه هم نه ده همداسي كه چيري شيرز هولډر نورو ته په

دې کمپنۍ کې د برخې اخیستلو ترغیب یا لمسول کوي نو هغه ته د تنخوا په بڼه یو څه د فیصدۍ په اعتبار سره ورکول کېږي ایا په داسې کمپنۍ کې د برخې اخیستلو گنجائش سته او که نه؟

الجواب: د نوموړې کمپنۍ زیاته گټه د حلالو ذرائعو څخه ده ځکه په دې کې د برخې اخیستلو گنجائش سته، خو په کلنۍ اجلاس (مشوره) کې باید د هغه کوتاهیانو په اړه یادونه وسي (اواز پورته سي).

وگورئ په اسلام اور جدید معاشی مسائل کې راځي:

د کمپنۍ د برخو کار وبار د لاندې شرطو په پام کې نیولو سره صحیح دئ:

۱_ د کمپنۍ مرکزي کار وبار د شریعت خلاف نه وي مثلاً د سود پر بناء باندې تمویلي، خدمتونه کول، یعني بانک، د انشورنس کمپنیو حصې یا د داسې کمپینو برخې چې هغه په څه نور ناروا کار وبار کې ملوث (لړلي) وي لکه هغه کمپنۍ چې شراب، خنزیر، مرداري غوښې تیار وي یا یې پلوري یا په قمار، د نائټ کلب یا فحاشي یا داسې نورو کې ملوث وي نو بیا په هغو کمپنیو کې برخه اخیستل یا هغو سره معامله کول ناروا ده.

۲_ که چیرې د کمپنۍ مرکزي کار وبار حلال وي مثلاً آټومبائل، ټیکسټائل (د ټیلفون کار وبار) یا داسې نور خو هغه کمپنۍ هغه تر اړتیا زیاته سرمایه په سودي اکاونټ کې ایږدي یا سودي قرضونه اخلي نو پر شیرز هولډر باندې لازمه ده چې هغه د داسې معاملو پر خلاف خپل خفگان ښکار کړي چې د هغه ښه شکل دا دئ چې د کمپنۍ په کلنۍ عام اجلاس (ناسته) کې د داسې کارو پر خلاف اواز (یادونه) وکړي.

۳_ که چیرې د کمپنۍ په گټه کې د سودي کهاتو څخه لاس ته راغلې یو څه گټه هم شامله وي نو شیرز هولډر ته د ورکول سوو گټو څخه دې په دې حساب سره د گټې هغه برخه خیرات کړل سي او شیرز هولډر دې د دې څخه هیڅ گټه نه اخلي مثلاً که چیرې د کمپنۍ د ټولو منافعو څخه پنځه په سلو کې د دې سودي کاتو څخه لاس ته راغلي وي نو د گټې پنځه په سلو کې دې خیرات کړل سي. (اسلام اور جدید معاشی مسائل: ۵/ ۱٦٤). والله ﷻ اعلم.

په سرکه جوړولو کي د مسلمان د شراکت حکم

سوال: یو مسلمان او یو کافر د سرکې جوړولو په یوه کار خانه کي سره شریکان دي، د سرکې جوړولو له پاره د انګورو او داسي نورو د عصیر د شرابو تر مرحلې د تېرېدلو اړتیا سته د کافر له پاره خو هیڅ پروا نه لري خو مسلمان خفه دئ چي ایا زما له پاره دا کار وبار روا دي او که نه؟

الجواب: په داسي حال کي چي شراب هدف نه دي بلکي سرکه جوړول هدف دي نو په دې کار وبار کي د مسلمان شراکت روا دئ خو دا خبره ضروري ده چي په هیڅ صورت کي شراب تر سرکې جوړولو وړاندي د چښلو له پاره ونه کارول سي.

وګوري په عالمګیري کي راځي:

ولو أمسک الخمر في بیته للتخلیل جاز ولا یأثم. (الفتاوی الهندیة:۵/ ۳۷۳، کتاب الکراهیة، فی المتفرقات).

په هدایه کي راځي:

والمسلم یحمي خمر نفسه للتخلیل. (الهدایة:۱/ ۱۹۸، کتاب الزکوة، باب فیمن یمر علی العاشر).

په بنایه کي راځي:

وللمسلم ولایة خمور نفسه حتی أن الذمي إذا سلم وله خمور کان له حفظها أو یحفظها غیره لتخللها أو یتخلل بنفسها. (النبایة فی شرح الهدایة: ۲: ۱۲۲۲).

په فتح القدیر کي راځي:

قوله تبعاً للخمر ودن العکس لأنها « أی الخمر » مالیة لأنها قبل التخمر مال وبعده کذلک بتقدیر التخلل. (فتح القدیر: ۲/ ۲۳۰، باب فیمن یمر علی العاشر، دار الفکر).

په محیط برهاني کي راځي:

ان الخمر كما يكون للشرب، وإنه معصية في حق المسلم، يكون للتخليل، وإنه مباح للكل. (المحيط البرهاني:۹/ ۱۹۰، الاستئجار على المعاصي).

او د دې په منځ کي شرابو جوړول تبعاً او ضمناً دي نه چي هدف دئ وكثير من الاشياء تثبت ضمناً لاتثبت قصداً، که چيري يو څوک په مسجد کي اعتکاف کوي نو په مسجد کي بېديږي خو دا بيدېدل قصداً نه دي او هدف عبادت دئ نو ځکه مکروه نه دئ بلکي ثواب ولاس ته راوړل دي، فقهاوو قاعده بيان کړې ده. يغتفر فى التابع مالايغتفر فى غيرها. (قواعد الفقه:ص ۱٤۲).

په شرح مجله کي دي:

که چيري يو چا قسم وکوئ چي وری به نه رانيسم او پسه يې رانيوئ نو نه حانثيږي ځکه دوړيو رانيول تبعاً دي. (شرح المجله:۱/ ۱۳۲).

يا يې دا قسم واخيستئ چي خښتي او لرګي به نه رانيسم، ځای يې رانيوي نو قسم يې نه ماتيږي ځکه خښتي او لرګي تبعاً راغلل. (شرح المجله:۱/ ۱۳۲).

محمد خالد اتاسي د شرح مجلې په شرح کي د دې قاعدې ډېر مثالونه ليکلي دي. والله ﷻ اعلم.

د شرکت سره تړلي يو څو مسئلي:

يوه سړي خپل ټولو جايداد او تجارتونه پر خپلو څلورو زامنو په زباني ډول باندي وېلوړل تر هغه وروسته څلورو زامنو هغه جائيداد او تجارتونه لاس ته راوړل او پر هغوی تر قبضې کولو څخه وروسته يې يو تجارتي شراکت جاري کړ همداسي د دې تجارتي شراکت د چلولو له پاره يې يوه د شراکت معاهده ترتيب کړله چي اوس ستاسو حضراتو وحضور ته مو سره له دې استفتاء در واستوله اوس موږ د دې لاندي خبرو پوښتنه کوو، هيله ده چي محترم به مفصل او مدلل جوابونه وليکي او دا به يې زموږ سره نيکي وي:

۱_ **سوال:** ملفوف کرده دستاويز (معاهده نامه) شرعاً معتبره ده او که نه؟

۲_ **سوال:** که چيري يوه وعده کونکي د معاهدې خلاف عمل وکوئ نو دغه مخالفت په شريعت کي مخالفت ګڼل کيږي او که نه؟

۳_ **سوال:** که چیري په معاهده نامه کي د تجارتي شرکت سرمایه یعني د هغه اندازه په څرګند ډول بیان سوې نه وي خو د یو خاص لامل په سبب د هغې یو څرګنده اندازه په کلني غونډه کي یې یادونه وسوه نو شراکت به معتبر وي او که نه؟

۴_ **سوال:** که چیري یو شریک وعده کونکی د معاهدې سره سم عمل پرېږدي حال دا چي د معاهدې په شراکت کي په خپله عمل کول مشروط وي او یو خوا ته ولاړ سي او تر پنځلسو کلو پوري داسي ورک وي نو شرعاً داسي غائب شریک په تجارت کي شریک ګڼل کیږي او که نه؟ او د ده په سبب شراکت ختمیږي او که نه؟

۵_ **سوال:** که چیري د یوه استعفاء کړل سوي شریک هغه نور شریکان د استعفاء جواب ورنه کړي نو شرعاً د داسي استعفاء اعتبار سته او که نه؟

٦_ **سوال:** شراکت په معاهده کي دا هم لیکل سوي دي چي که چیري یو شریک تحریراً د شراکت څخه د جلا کېدلو استعفاء ورکړه نو د استعفاء د تاریخ څخه شپږ میاشتي وروسته به د ده شراکت په خپله ختمیږي، ایا د دې سره سم شرکت به ختم وي او که نه؟

۷_ **سوال:** که چیري د یو شریک پر دې شکل د استعفاء سره سره شریکان د ګټي څخه د وېش په وخت کي د ده برخه ورکوي نو د ده شراکت پاتیږي او که ختم ګڼل کیږي؟

۸_ **سوال:** که چیري یو شریک استعفاء وکړه او هیڅ بل یوه ته معلومه سوې نه وي وروسته ناڅاپه د یو ځای څخه دا خط لاس ته راغئ حال دا چي یو چا وراندي کړی نه وي نو د دې اعتبار به وي او که نه؟

۹_ **سوال:** که چیري یو شریک د معاهده نامې د مخصوصي دفعي خلاف خپله استعفاء نورو شریکانو ته وړاندي کي نو دا معتبره ده او که نه؟

۱۰_ **سوال:** د یوه شریک پر مرګ د هغه اولاد د تجارت په شریکولو کي د مشوري له پاره غونډه جوړول چي په هغه کي د نورو ځیني وارثانو خوښه وي او ځیني وارثان ساکت وي له دې کبله به ټول وارثان د تجارت شریک ګڼل کیږي او که نه؟ (د دې څخه پر ته معاهده نامه او دفعات د اوږد والي له بېري څخه حذف سوي دي).

دا استفتاء د جنوبي افريقا ديو كور د خوا څخه ومختلفو دار الافتاوو ته واستول شوه او د [illegible] نه هم دا سوالونه راغلل او دغه سوالونه و دار العلوم كراچي ته هم استول سوي وه او د هغې خوا څخه هم جوابونه راغلل څنګه چې جامع او لنډوو نو زموږ دار الافتاء هغه جوابونه بنياد وګرځول.

الجواب: ۱_ په پوښتل سوي صورت كي شركت بالعروض (سامان) صحيح نه دئ خو څنګه چې په نوموړي صورت كي د نوموړي سړي زامنو ټول جايدادونه د خپل پلار څخه په مشترک ډول رانيول نو ځكه د دوى په منځ كي شركة الملک ثابت سو او د شركة الملک تر ثبوت وروسته شركة العقد په سامان كي هم صحيح دئ.

لما فى الهندية: والحيلة في جواز الشركة في العروض وكلّ ما يتعين بالتعيين أن يبيع كل واحدٍ منهما نصف ماله بنصف مال صاحبه حتى يصير مال كل واحدٍ منهما نصفين، وتحصل شركة ملكٍ بينهما، ثم يعقدان بعد ذلك عقد الشركة فيجوز بلا خلافٍ، كذا في البدائع . (الفتاوى الهندية:۲/ ۳۰۷، باب اول، فصل ۳).

نو ځكه د شركت په صحت كي د سامان په سبب څه نيوكه پاته نه سوه.

تر كومه ځايه چي د دې شركت تعلق دئ چي د عهد نامې په ضميمه كي ليكل سوي دي نو د هغې اكثره شرطونه صحيح دي خو په هغې كي يو څو شرطونه فاسد دي مثلاً هغه شرط چي په كاغذاتو كي بيان سوى دئ چي يو شريک بالواسطه يا د واسطې څخه پرته خپل څه جلا تجارت نه سي كولاى دا د شركت عنان د تقاضا خلاف دئ او د شركت مفاوضه شرطونه دلته نه سته، نو ځكه دا شرط فاسد دئ خو په شركت يې كه چيري يو فاسد شرط ولكول سي نو د دې څخه شركت نه باطليږي، بلكي يوازي هغه شرط فاسديږي او په دې باندي عمل كول ضروري نه دئ.

لما في رد المحتار: لأن الشركة لاتفسد بالشروط الفاسدة. (فتاوى الشامى:٤/ ٣١٦، ط: سعيد).

يو بل فاسد شرط هم په معاهده كي بيان سوى دئ چي د يوه شريک د وفات په صورت كي به د (۳۰) د جون څخه تر وفاته چي څومره مياشتي تيري سوي دي د هري مياشتي په مقابل كي به د

هغه اولاد ته به پنځویش پونډه میاشتانه د هغه د تجارتي برخي د قیمته اداء کیږي په انګرېزي معاهده نامه کي دا صراحت دئ چي دا پنځوېشت پونډه میاشتني روپی به د هغې ګټي قائم مقام ګڼل کیږي چي د جون د (۳۰) ځخه وروسته د وفات تر تاریخه د مرحوم په برخه کي راغلي وه. داسي یو بل شرط هم فاسد دئ که چیري یو شریک دسمبر په (۳۱) باندي شراکت ختم کړي نو دی به دومره پیسو حقداره وي چي د جون په (۳۰) کي به د ده په برخه کي راتلې، سره د یو سل او پنځوس پونډه چي د جون (۳۰) ځخه تر (۳۱) دسمبره به د ده ګټه ګڼل کیږي دا شرط هم د لوړ بیان سوي لامل په سبب فاسد دئ که چیري داسي د یوه شریک له پاره یو څه متعیني پیسې د ګټي په ډول د شرکت په اصل کي وټاکل سي نو د دې ځخه بیا شرکت فاسدیږي.

لـما فی الدر الـمختار: وتفسد باشتراط دراهم مسماة من الربح لأحدهـما لقطع الشرکة لا لأنه شرط، لعدم فسادها بالشروط. (الدر المختار مع فتاوی الشامی:٤/ ٣١٦، سعید).

خو ځنګه چي د دې معاهدې په دفعه (۵ لمبر) کي د شریکانو تر منځ د ګټي د وېشلو عامه طریقه د شریعت پر برابر ده او په دې کي د یوه فریق له پاره د څه معلومو پیسو پر ځای په ګټې او تاوان کي برابر شرکت قرار نیولی دئ او د اصل شرکت معاهده پر همدې لمبر باندي منبي ده او په (۱۱ او ۱۲) کي چي کومه طریقه بیان سوې ده هغه د (۵) لمبر سره متعارضه ده او یوازي د فسخي د شرکت په وخت کي د حساب یوه طریقې ټاکلو له پاره مقرر کړل سوې ده بلکي په انګرېزي متن کي معیني پیسې د ګټي قائم مقام سوي دي چي د هغه معنا دا ده چي ګټه خو به هماغه وي چي کوم تر (۵) لمبر لاندي ټاکل سوي ده خو دا معلومي پیسې به د هغې قائم مقام ګڼل کیږي نو ځکه د دې فاسد شرط په سبب اصل عقد شرکت نه باطلیږي خو دا شرط باطلیږي.

خلاصه دا سوه چي د معامدې هغه کاغذات چي د استفتاء سره متصل (منبتي) دي تر دې اندازې خو شرعاً معتبر دي چي د هغه په اساس شرکت صحیح دئ خو په دې کي چي کوم مفسد شرائط بیان سوي دي چي د هغو یادونه لوړ وسوه هغه شرطونه شرعاً واجب العمل نه دي.

۲_ **الجواب**: د معاهدې هغه شرطونه چي شرعاً معتبر دي د هغو مخالفت هیڅ یوه شریک ته روا نه دئ. لأن الـمسلمین علی شروطهم إلا شرطا حرم حلالاً أو أحل حراماً. (صحیح البخاری).

۳ _ الجواب: كه چيري دا خبره په معين ډول باندي معلومه وي يا يوي ځاى ليكل سوي او محفوظه وي چي څلورو ورونو چي كوم جائيدادونه رانيولي دي هغه څه شى دي؟ او چيري (پر كوم كوم ځاى) دي؟ نو بيا به د شركت په معاهده نامه كي د هغو جزوي تفصيلات او اندازه بيانول د شركت د صحيح والي له پاره ضروري نه وه د دې دوه لاملونه دي:

الف _ اول لامل دا دئ چي د شراكت د سرمايې د اندازي معلومول د عقد په وخت كي د عقد د صحيح والي له پاره ضروري نه دئ.

لما في البدائع: وأما العلم بمقدار رأس المال وقت العقد فليس بشرطٍ لجواز الشركة بالأموال عندنا، وعند الشافعي رحمه الله شرط ..... ولنا أن الجهالة لا تمنع جواز العقد لعينها بل لإفضائها إلى المنازعة، وجهالة رأس المال وقت العقد لا تفضي إلى المنازعة؛ لأنه يعلم مقداره ظاهرًا وغالبًا؛ لأن الدراهم والدنانير توزنان وقت الشراء، فيعلم مقدارها فلا يؤدي إلى جهالة مقدار الربح وقت القسمة. (بدائع الصنائع:٦/ ٦٣، سعيد).

باء _ دوهم لامل دا دئ چي په پوښتل سوي صورت كي د څلورو ورونو په منځ كي تر شركت عنان وړاندي شركت ملك قائم سوى وو لكه څنگه چي (۱۹) سوال په جواب كي ليكل سوي دي او د ټولو برخي هم برابري وي او گټه هم نو ځكه د مقدار نامعلومه كېدو په سبب دا جهالت د جنگ لامل نه جوړېدو هيڅ انديښنه نه وه د شركت فى العروض (سامان) چي كومه حيله د (۱) سوال په جواب كي بيان سوې ده د دې په سلسله كي علامه ابن همام رحمه الله ليكلي دي:

وهذا لان المانع من كون رأس مال الشركة عروضاً كل من أمرين: لزوم ربح مالم يضمن، وجهالة رأس مال كل منهما عند القسمة، وكل منهما منتف، فيكون كل ما ربحه أحدهما ما هو مضمون عليه ولا تحصل جهالة في رأس مال كل منهما، لأنه لا يحتاج الى تعرف رأس مال كل منهما عند القسمة حتى يكون ذلك بالحذر فتقع الجهالة لأنهما

مستويان في المال شريكان فيه فبالضرورة يكون كل ما يحصل من الثمن بينهما نصفان .

(فتح القدير: ٥/ ٣٩٤).

۴ _ الجواب: يوازې د کار پرېښولو او ورکېدو په سبب شرکت نه ختميږي.

لما في الهندية: وإن عمل أحدهما ولم يعمل الآخر بعذر أو بغير عذر صار كعملهما معاً، كذا في المضمرات. (الفتاوى الهندية: ٢/ ٣٢٠، كتاب الشركة، باب ٣، فصل ٢).

که چيرې نور شريکان د ده د کار پرېښولو په صورت کې د ده سره شرکت نه خوښاوه نو د هغو له پاره د ده سره صراحةً شرکت فسخه کول په کار وه.

۵ _ الجواب: په يوه طرفه ډول د شرکت فسخه کولو له پاره شرعاً ضروري نه ده چې دوهم لورئ فسخه قبوله کړي.

لما في الدر المختار: وتبطل أيضاً بإنكارها وبقوله لا أعمل معک وبفسخ أحدهما.

(شامي: ٤/ ٣٢٧، سعيد).

او په پوښتل سوي صورت کې چې کومه معاهده د شرکت ليکل سوې ده په هغې کې هم د استعفاء موثره کېدل د نورو شريکانو پر قبوليت باندې موقوف کړل سوې نه ده نو ځکه چې يوه شريک د معاهدې پر برابر استعفاء ورکړه نو د ده شراکت په معاهده کې تر بيان سوي مودې به ختم نهمول (کڼل کيږي) که نورو شريکانو استعفاء قبوله کړې وي او که يې نه وي قبوله کړې.

٦ _ الجواب: شرکت ختميږي دليل يې په (۵ لمبر) کې تېر سوی دئ.

۷ _ الجواب: مخکې تېر سول چې د معاهدې سره سم د استعفاء ورکولو څخه د مستعفي شريک شراکت ختم سو اوس دوهم وار د شريک کېدلو له پاره ضروري ده چې له ده سره له نوي سره د شرکت عقد وکړل سي نو ځکه که چيرې تر دې وروسته نورو شريکانو د دې سړي سره په ښکاره توګه دوهم وار تحريري يا زباني د شرکت عقد قائم کړی وي او پر همدې اساس هغه وده ته څلورمه برخه ورکول نو بيا به دی دوهم وار شريک کڼل کيږي او که داسې نه وي نو نه به بلل کيږي.

د دې بر عکس که چیري نوي د شرکت عقد نه وي سوی او ده ته شریکانو څلورمه برخه ورکوله نو په دې کي ډېر احتمالات سته یو دا چي شریکانو ده ته تبرعاً دا پیسې ورکولي، دوهم دا چي د شراکت د فسخه کېدو په اساس د مستعفي شریک چي د کومي برخي اداء کول پر شریکانو واجب وه دغه پیسې یې د هغې برخي په ډول ورکولې نو ځکه تر کومه وخته چي د فریقینو تر منځ د شراکت نوي عقد معاهده سوې نه وي د دې احتمالاتو په شتون کي یوازي د څلومي برخي اداء کولو ته د شرکت عقد نه سي ویل کېدلای. لان الشرکة لاتثبت با الاحتمال.

۸ _ الجواب: شرعاً هم د شرکت د فسخه کولو له پاره دا ضروري ده چي فسخه کوونکی ونورو شریکانو ته د خپلي استعفاء خبر ورکړي او د هغه د خبر ورکولو څخه پرته شرکت نه فسخه کیږي.

لما فی الدر المختار: وتبطل أیضاً بإنکارها.... وبفسخ أحدهما .... ویتوقف علی علم الآخر لأنه عزل قصدي، وفي رد المحتار: قوله لأنه عزل قصدي لأنه نوع حجر فیشترط علمه دفعاً للضرر عنه، فتح. (الدر المختار مع رد المحتار: ۴/ ۳۲۷، سعید).

او په بیان سوي معاهدې کي هم د استعفاء له پاره پر نورو شریکانو استعفاء وړاندي کول ضروري ګڼل سوي دي نو ځکه که چیري یو شریک استعفاء ولیکي او د ځان سره یې کښېږدي او وبل هیڅ شریک ته یې ورنه کړي نو د دې څخه به شرکت فسخه نه ګڼل کیږي، خو که چیري یو وخت هغه شریک استعفاء راوکښله او نورو شریکانو ته یې وړاندي کړي نو د استعفاء د وړاندي کولو له نېټې څخه شپږ میاشتي وروسته د معاهدې سره سم به شراکت فسخه کیږي.

۹ _ الجواب: دا سوال واضح نه دئ.

۱۰ _ الجواب: دا جزئیه مي صراحةً تر نظر تېره سوې نه ده خو پر متعددو نورو جزئیاتو باندي د قیاس څخه دا معلومیږي چي په دې مسئله کي د مرحوم شریک اولاد به د کار وبار شریک فهمول کیږي.

اصل خبر دا ده چې د مرحوم پر وفات باندې د هغه سره شراکت ختم سو اوس د ده پر نورو شریکانو دا لازمه سوه چې د مرحوم برخه د هغه و وارثانو ته ور کړي او که یې په کار وبار کې شریکوي نو د نورو شریکانو رضائیت شرط دئ.

لما فی الدر المختار: لایملک الشریک الشرکة إلا بإذن شریکه، جوهرة. (الدر المختار: ٤/ ٣١٧، سعید).

اوس دا دوی رضایت په عامو حالاتو کې په صریحو الفاظو سره په کار دئ. لأن الساکت لاینسب إلیه قول. (شامی: ٣/ ٦٢، سعید – والاشباه: ٢/ ٣٨٢، القاعدة الثانیة عشر، ادارة القرآن).

خو چې دوو شریکانو د دې له پاره مجلس جوړ کئ په دې کې یې د مرحوم د اولاد د شرکت جوړولو فیصله وکړه دا فیصله د ټولو شریکانو له خوا وسوه په هغه وخت کې یو شریک سره له دې چې شتون یې درلود خاموش پاته سو او پر دې یې هیڅ نیوکه ونه کړه، تر دې وروسته د مرحوم اولاد د شریک په توګه په کاروبار کې تصرف تر ډېره وخته کاوه بیا هم هغه هیڅ نیوکه ونه کړه نو دا په ټولنیزه توګه د کار کولو د رضایت د ثبوت له پاره کفایت کوي.

نظیره ما فی الأشباه: سکوته عند بیع زوجته أو قریبه عقاراً إقرار بأنه لیس له، علی ما أفتی به مشایخ سمرقند.... وفیه بعد ذلک رآه یبیع أرضاً أو داراً فتصرف فیه المشتري زماناً وهو ساکت یسقط دعواه.

تر دې لاندې علامه حموي رحمة الله علیه لیکلي:

فیه عما قبله زیادة تصرف المشتري بعد الشراء زماناً وهو ساکت فهو قید فی الأجنبي لا فی الزوجة والقریب کما یفهمه إطلاقه. (شرح الاشباه والنظائر: ١/ ٣٨٧، القاعدة الثانیة عشر، ادارة القرآن).

په نوموړي مسئلې سره د شرکت د معاهدې او د فعاتو (لمبرونو) په فتاوی عثماني دریم ټوک له ۵۷ صفحې څخه بیا تر ۷۱ صفحې پورې له تفصیله سره لیکل سوي دي هلته یې کتلای سي.

د دې يو څو سوالو جوابونه ومونږ ته د مختلفو دار الافتاوو څخه راغلي دي مثلاً دار الافتاء دار العلوم كراچي، دار الافتاء دار العلوم ديوبند او د اندونيزيا څخه د حضرت مفتي سيد عبد الرحيم صاحب جوابونه مونږ د دې ټولو سره اتفاق وكړ او يوازي د دار العلوم كراچي جوابونه مو وكتونكو ته وړاندي كړل او نور مو د اوږدوالي په سبب پرېښول. والله تعالیٰ اعلم.



عن جابر بن عبد الله ﷺ قال: قضى رسول الله ﷺ باشفعة فى كل مالم يقسم، فإذا وقعت الحدود وصرفت الطرق، فلا شفعة. (رواه البخارى).

وقال رسول الله ﷺ : « الجار أحق بشفعة جاره، ينتظر بها وإن كان غائبا، إذا كان طريقهما واحدأ ». (اخرجه اصحاب السنن).

كتاب الشفعة

د شفعي د حق د احکام بيان

سوال: په يوه مځکه کي درې وروڼه شريکان دي، ابو بکر، عمران او صفوان د هغو څخه ابو بکر خپله برخه پر عمران وپلورله ايا صفوان د شفعي دعوه کولای سي او که نه؟ او که يې کولای سي نو پر څومره برخه باندي؟

الجواب: صفوان د شفعي دعوه کولای سي، څومره برخه چي دابوبکر وه د هغې د نيمي برخي دعوه کولای سي او نوره نيمي برخه به د عمران سره پاته سي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ويملک بالأخذ بالتراضي أو بقضاء القاضي بقدر رؤوس الشفعاء لا الملک. وفی فتاوی الشامی: (قوله بقدر رؤوس الشفعاء)…. وشمل ما لوكان المشتري أحدهم وطلب معهم فيحسب واحداً منهم ويقسم المبيع بينهم كما في الوهبانية وشروحها. (الدر المختار مع رد المحتار:٦/ ٢١٩، كتاب الشفعة، سعيد).

په درر الحکام کي راځي:

صورته دار بين ثلاثةٍ وللدار جار ملاصق ، فإذا بيعت الدار واشتراها أحد الشركاء تثبت الشفعة للمشتري سواءً اشترى أصالةً أو وكالةً …. وتثبت أيضًا للشريك الآخر وفائدته أنها لا تثبت للجار ؛ لأن الشريك مقدم عليه . (درر الحكام شرح غرر الاحكام:٢/ ٢١٤).

په درمختار کي راځي:

وتثبت لمن شرى إصالة أو وكالة أو اشترى له بالوكالة، وفائدته أنه لو كان المشتري أو الموكل بالشراء شريكاً وللدار شريک آخر فلهما الشفعة، وقال الشامی: وفی القنية: اشترى الجار داراً ولها جار أخر فطلب الشفعة وكذا المشتري فهي بينهما نصفين لأنهما شفيعان،

قال ابن الشحنة: .... وعلى هذا الوجاء ثالث قسمت أثلاثاً أو رابع فأرباعاً. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:٦/ ٢٣٩، كتاب الشفعة، سعيد).

وللاستزادة انظر: (درر الحكام شرح مجلة الاحكام:٢/ ٦٧٨، المادة:١٠٠٨ – وامداد الفتاوى:٣/ ٤٣١). والله ﷻ اعلم.

د وقف په ځمکه کي د شفعي حکم

سوال: که چیري یوه ځمکه ومدرسې ته نژدې پلورل کیږي نو ایا د مدرسې مهتمم په دې ځمکه کي د شفعي دعوه کولای سي او که نه؟

الجواب: د وقف په ځمکه کي د شفعي حق نه سته او نه واقف، یا متولي د وقف د ځمکي له پاره شفعه کولای سي د شفعي د حق د شتون له پاره د ځمکي خاوند کېدل ضروري دي او د وقف هیڅ څوک مالک نه وي.

وګوري په درمختار کي راځي:

(ولاشفعة فى الوقف) ولا له، نوازل (ولا بجواره) وفى الشامية: قوله ولاشفعة فى الوقف، اى إذا بيع قال فى التجريد: مالايجوز بيعه من العقار كالاوقاف لا شفعة فى شيء من ذلک عند من يرى جواز بيع الوقف .... وقوله ولا له أي لا لقيمه ولا للموقوف عليه العدم الملک. (الدر المختار مع رد المحتار:٦/ ٢٢٣، كتاب الشفعة، سعيد).

په حاشیه الطحطاوي کي راځي:

قوله ولا له أى إذا بيعت دار بجنب دار الوقف فلا شفعة للواقف ولا يأخذها المتولي ولا الموقوف عليه أفاده فى الهندية. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:٤/ ١٢١). والله ﷻ اعلم.

که د یوه ځای دوه همسایه ګان وه نو د شفعي حکم

سوال: که چیري د یوه ځای دوه ګاونډیان وه او د ځای خاوند پر یوه ګاونډي ځای وپلورئ نو هغه بل ګاونډي د شفعي دعوه کولای سي؟

الجواب: که چیري دوه ګاونډیان د شفعي دعوه وکړي نو ځای به د راتیوونکي او دوو شفعه کونکو په منځ کي درې برخي سي او که یو ګاونډی وو نو هغه ځای به دوې برخي کیږي.

وګوري په هندیه کي راځي:

ولو أن رجلاً اشترى داراً وهو شفيعها ثم جاءه شفيع مثله قضى القاضي بنصفها. (الفتاوى الهندية:٥/ ١٧٨).

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله ثم لجار ملاصق، ولو متعدداً، والملاصق من جانب واحد ولو بشبر كالملاصق من ثلاثة جوانب فهما سواء. (فتاوى الشامي:٦/ ٢٢١، سعيد). والله ﷻ اعلم.

